تفسیر
حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری
حفظہ اللہ تعالی

جمع وترتیب: ابو زہیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ
مینگل مارکیٹ گنج - پشاور
Mob: 0301-8828402



تفسیر حکمۃ القرآن

۱۲

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالی

جمع وترتیب : ابوزھیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د كتاب نوم ———— تفسير حكمة القرآن (جلد دولسم)
د مؤلف نوم ———— الشيخ ابو محمد امين الله البشاوری حفظه الله
جمعه وترتيب ———— ابوزهير سيف الله "غفر له الله"
سنۀ طباعت ———— (١٤٣٨) هجری رجب ١٧/موافق (١٢/٤/٢٠١٧)

فن ———— تفسير
ناشر ———— مكتبه محمديه گنج پيښور
كمپوزنگ ———— الراقم ابوزهير

د ملاويدو پته

١- **مكتبه محمديه** بيرون گنج گيټ پهندو روډ منگل مارکيټ پيښور پاكستان
ولی الله : 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهير : 03075924001
٢- ايوب مكتبه واسلامی كيسټ مركز، عقب قصه خوانی پيښور۔
٣- معراج كتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پيښور۔
٤- نوروز كتب خانه صوابی اډه پاكستان۔
٥- دار الكتاب والسنة، نيو حاجی كيمپ سلطان آباد كراچی : 03002615407
٦- دينی كتب خانه تيمرگره پاكستان۔
٧- مكتبه محمديه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد خواته دكان نمبر ٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (١٤)	(٦١) **سورة الصف مدنية** (١٠٩)	رکوعاتها (٢)

سورة الصف مدني دے، په دے کښې څوارلس آيتونه او دوه رکوع دی

تفسير سورة الصف

نوم : (١) دے ته سورة الصف وائی ځکه چه په روستو آيت کښې د الله په لاره کښې د جهاد کولو دپاره د صف تړلو ذکر راغلے۔

(٢) دے ته سورة عيسیٰ (٣) او سورة الحواريين هم وائی۔

د نازليدو زمانه : ماوردیؒ ليکلی دی چه دا سورت د ټولو په نيز مدنی دے۔ او ددے قوی دليل ددے آيتونه دی چه په دے کښې مسلمانان د الله په لاره کښې په جهاد کولو باندے راپورته شوی دی، او معلومه ده چه جهاد په مدنی دور کښې شروع شوے وو۔

مناسبتونه :

١- مخکښې سورت کښې براء ت وو نو دے سورت کښې جهاد دے، د کافرانو نه د براء ت (بيزاریٔ) نتيجه دا وی چه آخر خبره جهاد ته رسيږی۔ يعنی د کافرانو سره دوستانه نۀ ده پکار بلکه د هغوی سره خو قتال کول پکار دی۔

٢- د راتلونکو درے سورتونو د يو بل سره مناسبت دا دے چه د اسلام غلبه په درے څيزونو راځی، يو په قوت سره، دويم په علم، او دريم په مال سره۔

په سورت صف کښې دا دی چه قوتِ بدنی صَرف کړئ، او په سورتِ جُمعه کښې وائی چه علم ولګوئ او په سورت منافقون کښې وائی چه مال ولګوئ۔

۳- مخکښ سورت کښې مومنانو ته په نامناسبه کارونو باندې زجر او رټنه وه او پدې سورت کښې په نامناسبه اقوالو (خبرو) باندې رټنه ده۔

٤- مخکښ سورت کښې د یهودیانو نه د براءت حکم وو نو پدې سورت کښې د یهودیانو عیبونه بیانوی۔

د سورت موضوع او مقصد

ددې سورت دوه مقصده دی (۱) یو د رسول الله ﷺ شان بیانول او بیا د هغه تابعدارئ ته ترغیب دے، یعنی رسول الله ﷺ ته ضرر مۀ ورکوئ او د هغۀ طاعت وکړئ، دا د الله تعالیٰ حق رسول دے، ﴿هُوَ الَّذِیْ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰی﴾ لکه څنګه چه حواریینو د عیسیٰ علیه السلام تابعداری کړې، دغه شان تابعداری وکړئ۔

یعنی د حواریینو په شان تابعداری وکړئ، چه هسې دعوه کوئ او تابعداری نۀ کوئ داسې مۀ کوئ، ﴿لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ﴾ لکه پدې کښې په منافقانو باندې رد دے۔

دویم غرض په کښې جهاد دے، د دواړو مقصدونو مناسبت دا دے چه د رسول الله ﷺ طاعت به منافقانو په جهاد کښې نۀ کاوۀ۔ لکه منافقان به په جهادونو کښې پټیدل۔

خلاصه :

اول کښې الله تعالیٰ خپل عظمت بیانوی، او دا ددې دپاره بیانوی چه اتباع د رسول آسانه شی، څکه چه چا د الله عظمت نۀ وی پیژندلے، د رسول الله ﷺ تابعداری ورته معمولی کار ښکاره کیږی۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ
پاکی وائی الله لره هغه څۀ چه په آسمانونو کښې دی او هغه څۀ چه په زمکه کښې
وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا .
دی او هغه زورَور حکمتونو والا دے۔ اے ایمان والو! ولے وایئ هغه خبرې
لَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۲﴾ كَبُرَ مَقْتًا
چه نۀ ئې کوئ۔ (عمل پرې نۀ کوئ)۔ لوئی دے په غصه کښې (په اعتبار د غصې سره)

عِنْدَ اللّٰهِ أَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٣﴾ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
په نيز د الله دا چه وايئ تاسو هغه خبرے چه نۀ ئے کوئ۔ يقينا الله مينه کوی
الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا
د هغه کسانو سره چه جنګ کوی په لاره د هغۀ کښ صف تړونکی
كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ﴿٤﴾
ګويا که دوی آبادے دے مضبوط کړے شوے۔

تفسیر : يعنی په آسمانونو او زمکه کښ چه څومره حيوانات، نباتات او جمادات دی، هغه ټول د خپل رب پاکی او لوئی بيانوی۔ څوك خپلے ژبے سره تسبيح لولی لکه ملائك او پيريان او انسانان، او د چا د هيئت او حالت نه ښکاره کيږی چه د هغۀ خالق د تمامو عيبونو او نقصانونو نه پاك دے، لکه آسمان او زمکه، وُنے، بوټی او غرونه او داسے نور۔ زجاجؒ وائی چه نباتات او جمادات هم د ژبے په وينا سره تسبيح لولی، ليکن مونږ په هغے نۀ پو هيږو۔

سَبَّحَ : علامه شوکانیؒ ليکی چه په بعض سورتونو کښ ئے په لفظ د ماضی [سَبَّحَ] سره، او په بعض سورتونو کښ په لفظ د مضارع (يُسَبِّحُ) سره، او په بعضو کښ په امر (سَبِّحْ) سره شروع شويده،

ددے حکمة دا ښکاره کيږی چه پدے کښ بندګانو له دا تعليم ورکول دی چه د الله بندګی په هر حال کښ بيانول پکار دی، ماضی، حال او استقبال۔

﴿ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾ يعنی الله ډير زيات قوی دے چه د آسمانونو او زمکے په هر يو شئ باندے غالبه دے، چه هيڅوك پرے غلبه نشی کولے، او هغۀ تمام موجودات د خپل معلوم حکمت مطابق منظم او مرتب کړی دی، چه د هغے نه هيڅ يو شے هم د وينښتۀ د سر برابر آوړيدلے نشی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا : ددے څه مطلب چه ولے هغه خبرے کوئ چه عمل پرے نکوئ؟ نو ددے مطلب د شان نزول نه معلوميږی۔

شان نزول

(۱) مفسرین لیکی: نَزَلَتْ فِيْمَنْ طَلَبَ الْجِهَادَ ثُمَّ فَرَّ۔ دا آیتونه د هغه چا په باره کښې نازل وو چه اول ئې جهاد غوښتو خو چه کله فرض شو نو بیا وتښتیدل۔

نو الله تعالیٰ دغه خلقو ته رټنه ورکوی چه اول د الله یو عبادت غواړی خو چه کله ئې وخت راشي، نو بیا روستو روستو کیږی، لکه دا د منافقانو طریقه ده۔

(۲) دویم: [نَزَلَتْ فِيْمَنْ يُزَكِّيْ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَزْوَةِ] یعنی پدې کښې په هغه منافقانو رد وو چه کله به د جهاد نه واپس شول نو د ځانونو تزکیه به ئې کوله او دا به ئې وئیل چه ما دومره کافران قتل کړل او ما داسې بهادری وکړه، او داسې مې ځان بچ کړو او مونږ په اسلام کښې داسې داسې قربانیانې ورکړیدی، پدې صفتونو کولو سره انسان د الله تعالیٰ د نظر نه پریوزی، او پدې کښې دروغ هم دی۔

(۳) دریم: دا د هغه منافقانو په باره کښې نازل شوې وو چه هغوی به دا دعوه کوله ﴿آمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا﴾ مونږ په الله او په رسول ایمان راوړې او مونږ به تابعداری کوو۔ لیکن بیا به ئې صحیح تابعداری نکوله او اوړیدل به۔ لکه ددې زمانې ډیر دعویدار مسلمانان هم وائی چه مونږ مسلمانان یو، الله او رسول منم لیکن بیا نهٔ مونځ کوی، نهٔ زکاة ورکوی، او نهٔ روژه نیسی۔

(٤) امام ترمذیؒ د عبد الله بن سلام رضی الله عنه نه او ابن المنذرؒ او ابن ابی حاتمؒ او نورو د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړې چه څهٔ مسلمانانو به د جهاد فرض کیدو نه مخکښې وئیل (لَوْ نَعْلَمُ أَيَّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ لَعَمِلْنَاهُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى : سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ الخ) چه که مونږ ته معلومه شي چه الله تعالیٰ ته د ټولو نه زیات کوم یو عمل خوښ دې نو مونږ به هغه وکړو، نو الله د وحی په ذریعه خپل رسول ﷺ ته خبر ورکړو چه د ټولو نه بهترین عمل په الله باندې ایمان لرل او د الله په لاره کښې جهاد کول دی۔ (الترمذی: ۳۳۰۹) صحیح الاسناد)

او کله چه جهاد فرض شو نو دغه مسلمانانو باندې جهاد کول گران اولگیدهٔ، نو دا آیت نازل شو، چه په دې کښې الله تعالیٰ دوئ ملامته کړل، ځکه چه د رشتینې ایمان غوښتنه خو داده چه مؤمن نهٔ دروغ ووائی او نهٔ وعده خلافی وکړی، څهٔ چه ووائی د هغې مطابق

عـمـل وكـړي، او كـوم نيك كـارئـے چـه نـهٔ وي كړے، هغه خپل ځان طرفته منسوب نهٔ كـړي، ځكه چه د الله په نيز د ټولو نه زياته ناخوښه خبره داده چه انسان خپل ځان طرفته د ښيـگړے داسے كار منسوب كړي چه هغهٔ نهٔ وي كړے، يا ووائي چه زهٔ به د خير فلانے كار كوم، او بيا هغه ونهٔ كړي.

او پـدے آيت كښ ضمناً دا معنيٰ هم پرته ده چه څوك يو عمل ته دعوت وركوي، او بيا پرے خپـله عمل نكوي. او دا معنىٰ نهٔ ده چه چا ته به دعوت نهٔ وركوے چه لا خپله ډيے پرے عمل نهٔ وي كړے.

يا چه خپله عمل نكوے نو بل ته به دعوت نهٔ وركوے. نهٔ بلكه په تا باندے دوه فريضے دي، يو عمل كول او بل دعوت وركول. كه يوه نهٔ كوي نو بل به نهٔ پريدي.

نـو پـدے آيت كـښ تـوبيـخ دے چه خپله عمل نكوے او بل ته دعوت وركوے. يعني تيزي وركول دي په عمل كولو سره.

حـافـظ ابـن كـثيـرؒ لـيـكـي : دا آيت دليل دے چه د مطلقِ وعدے پوره كول واجب دي. او ددے تـائيـد د صـحيـحيـنـو هـغـه حديث كوي چه د منافق درے نښے دي : كله چه وعده كـوي نـو نـهٔ ئـے پوره كوي، اوكله چه خبرے كوي نو دروغ وائي، او كله چه ورسره امانت كيښودے شي نو په هغے كښ خيانت كوي.

ابراهيـم نـخـعـيؒ وائـي : پـه قـرآن كريم كښ درے آيتونه دي چه زهٔ ئے منع كړے يم چه خـلقو ته بيان وكړم يو دا آيت، او دويم ﴿ اَتَـاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ ﴾ (بقره : ٤٤) او دريم د سورة هود (٨٨) آيت ﴿ وَمَا اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَا اَنْهَاكُمْ عَنْهُ ﴾.

كَبُرَ مَقْتًا: پـدے كښ په پنځه طريقو سره ددے زجر تاكيد ذكر دے، يو لفظ د كَبُرَ چه دا د تعجب لفظ دے مِنْ غَيْرِ لَفْظِهٖ. دويم لفظ د مَقْتًا. ځكه چه مقت سخت بغض او غضب ته وئيلے شي، او دا منصوب دے په تميـيز سره ځكه چه په كَبُرَ ضمير كښ ابهام وو، دريم عِنْدَ اللهِ. او د الله په نيز چه سبب د بُغض او غضب وي نو هغه ډير لوی جرم وي،

او څلورم اَنْ تَقُوْلُوْا : دا فاعل دے د كَبُرَ. يعني وينا بغير د عمل نه خالص مقت دے.

اِنَّ اللهَ: مـفـسـريـن لـيـكـي چه مؤمنانو وويل چه مونږ دا غواړو چه الله تعالىٰ مونږ ته خبـر راكړي چه كوم يو عمل هغهٔ ته محبوب (خوښ) دے چه مونږ هغه وكړو اگركه په هغے كښ زمونږ نفسونه او مالونه لاړ شي. نو الله تعالىٰ دا آيت نازل كړو.

او پدې آیت کښې عملًا قتال فی سبیل الله ته ترغیب دے، او مخکنی آیتونه ددے دپاره په شان د تمهید وو، او مطلب دا دے چه اے خلقو! چه تاسو د آمَنَّا (مونږ ایمان راوړے) دعوه کړیده نو اُوس ددے دپاره قتال وکړئ۔

قاشانیؒ لیکی: انسان د الله په لاره کښې هغه وخت ځان ورکوی کله چه ددهٔ په زړهٔ کښې د الله خالص محبت پروت وی، او د هغهٔ محبت د هر شئ په محبت باندے غالب شوے وی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورة البقرة په (۱٦٥) آیت کښې فرمایلی دی:

﴿وَالَّذِیْنَ آمَنُوْا أَشَدُّ حُبًّا لِلّٰهِ﴾ (ایمان والا د الله سره د هر چانه زیات محبت کوی)۔

او کله چه بنده د الله په محبت کښې دے مقام ته اُورسی، نو هغه هم ورسره محبت کوی۔ لکه د سورة المائدة په (٥٤) آیت کښې راغلی دی: ﴿یُحِبُّهُمْ وَیُحِبُّوْنَهٗ﴾

(الله دوئ سره مینه کوی، او دا خلق الله سره مینه کوی)۔ دے وجے نه د الله تعالیٰ په نیز د تولو نه محبوب عمل د هغهٔ په لاره کښې جهاد کول دی۔ (قاسمیؒ)

صَفًّا: دا مصدر دے مفعول مطلق دے، او فعل ئے پټ دے۔اَیْ یَصُفُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ صَفًّا۔ یعنی ځانونه صفونه صفونه جوړوی۔

یا دا مصدر دے په ځای د حال کښې دےاَیْ صَافِّیْنَ اَوْ مَصْفُوْفِیْنَ۔ یعنی صف تړونکی وی، یا صفونه کړے شوی وی۔

کَاَنَّهُمْ بُنْیَانٌ مَّرْصُوْصٌ: دا هم حال دے د فاعل د یُقَاتِلُوْنَ نه۔

مَّرْصُوْصٌ: اَیْ مُلْتَزَقٌ بَعْضُهٗ بِبَعْضٍ۔ یعنی هغه آبادے او دیوال چه د هغے ګټے او خختے د یو بل سره انختی وی تردے چه چودونه ئے بند شی او هموار او مضبوط شی۔

۲– مَرْصُوْصٌ بِالرَّصَاصِ۔ (فراءؒ) یعنی په قلائی او مساله باندے یو ځای شوی وی۔

۳– مبرِّدؒ وائی دا د رَصَصْتُ الْبِنَاءَ نه دے، یعنی کله چه د آبادئ خپل مینځ کښې نزدے والے او یو ځای والے راشی او داسے شی لکه یوه تېکړه۔

نو ددے نه مراد دا دے چه په جنګ کښې د کافرانو دپاره داسے صفونه تړونکی وی لکه چه یو محکم بنیاد او آبادے وی۔ او بعض وائی چه ددے نه مراد دا دے چه د دوئ نیتونه په قتال کښې یو شان برابر وی چه هغه د الله دین غالبه کول دی۔ لیکن اول غوره دے۔

او د صف تړلو داسے حالت دلالت کوی په اتحاد د مؤمنانو باندے،

او دارنګه په مضبوطوالی د قدمونو د دوئ په خپلو ځایونو باندے، او د دوستانے د

مؤمنانو د يو بل سره۔

او ددے نه بعض علماؤ دليل نيولے دے چه جهاد پياده غوره دے د جهاد نه په سورلئ باندے۔ او دا هم معلومه شوه چه هيڅ مجاهد له جائز نهٔ دی چه د امير د اجازت نه بغير او د ضرورت نه بغير د صف نه ووځی۔

او ددے نه دا هم معلومه شوه چه مسلمانان به قتال او په مونځونو کښ هم داسے جخت صفونه تړی او د يو بل نه به نفرت نهٔ کوی، او په صف د مانځه کښ به فُرجات (کولاو ځايونه) نهٔ پريدی۔

او امام بخاریؒ د نعمان بن بشير ﷺ نه روايت راوړيدے چه

(وَكَانَ اَحَدُنَا يُلْزِقُ مَنْكِبَهٗ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهٖ وَقَدَمَهٗ بِقَدَمِهٖ)۔ (بخاری: ۷۲۵)

او مونږ کښ به هر يو تن خپله اُوګه او قدم د خپل ملګری د اُوګے او قدم سره انخلولو۔

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهٖ يَا قَوْمِ لِمَ
او کله چه اُووئيل موسیٰ (عليه السلام) قوم خپل ته اے قومه زما! ولے
تُؤْذُونَنِي وَقَدْ تَّعْلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ
ضرر راکوئ ما ته او حال دا چه پوهيږئ تاسو چه يقيناً زهٔ رسول د الله يم تاسو ته
فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللهُ قُلُوبَهُمْ
نو هرکله چه هغوی کاږهٔ شول (ظاهراً) نو کاږه کړل الله تعالیٰ زړونه د دوی
وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿۵﴾
او الله هدايت نهٔ کوی قوم نافرمانو ته۔

تفسير : حافظ ابن کثيرؒ ليکلی دی : ددے آيت په ذريعه نبی کريم ﷺ له تسلی ورکړے شوے ده چه تاته د کافرانو او منافقانو له اړخه کوم تکليف رسيږی په هغے صبر کوه لکه څنګه چه موسیٰ عليه السلام د خپل قوم په ضررونو باندے صبر کړے وو۔ چنانچه نبی کريم ﷺ د عبد الله بن مسعود ﷺ نه په نقل شوی حديث کښ فرمائيلی دی، چه په

هغې کښې ذو الخويصره منافق رسول اکرم ﷺ ته د بې عدلئ نسبت وکړو. نو رسول الله ﷺ وفرمايل: (رَحِمَ اللّٰهُ مُوْسٰى قَدْ اُوْذِىَ بِاَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ).

د الله رحمت دې وي په موسیٰ باندې، هغهٔ ته ددې نه زيات ضرر ورکړې شو، خو هغهٔ صبر وکړو. (نو زهٔ به هم د هغهٔ په اقتداء کښې صبر کوم) (بخاري: ۳۱۵۰)

بيا ليکي: ددې آيت په ذريعه مومنان منع شوي دي چه دوئ د نبي کريم ﷺ د تکليف سبب جوړ شي، لکه څنګه چه الله تعالىٰ د سورتِ احزاب په (٦٩) آيت کښې فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ آذَوْا مُوْسىٰ﴾ (اې ايمان والو! تاسو د هغه خلقو غوندې مهٔ کيږئ چه هغوئ موسیٰ له تکليفونه ورکړل).

د آيت مطلب دادې چه موسیٰ عليه السلام خپل قوم ته ووېل، اې خلقو! تاسو زما په مخالفت کولو سره ماته ولې تکليف راکوئ، حال دا چه تاسو ته زما د ښکاره او واضحو معجزاتو په ذريعه يقيني علم حاصل شوې دې چه زهٔ د الله رشتينې رسول يم.

فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ: يعنې هرکله چه هغوئ په ګمراهئ او کوږ والي باندې ټينګ شو نو الله د هغوئ زړونه د حقې لارې نه واړول، او د حق د قبلولو توفيق ئې ترې واخستهٔ، ځکه چه الله تعالىٰ نافرمانه خلق د هدايت د توفيق نه محروموي.

زَاغُوا: زيغ، سَره د علم د حق نه انکار کول يا اوړېدلو ته وئيلې کيږي. او ددې زيغ يوه نښه په سورة آل عمران (٧) آيت کښې ذکر ده چه هغه د متشابهاتو پسې روانېدل دي.

زَاغُوا: اَىْ اَزَاغُوْا عَنِ اتِّبَاعِ مُوْسٰى ظَاهِرًا.

يعنې هغوي ظاهره کښې د موسیٰ ﷺ د تابعدارئ نه واوړېدل، دوئ د طاعت او د ايمان احترام ونکړو او د قتال في سبيل الله نه کاړهٔ شول نو الله هم د هغوي زړونه واړول، شکوك او شبهات او حيرانتيا او ګمراهي ئې پکښې پيدا کړه. ځکه چه دا قانون دې چه ظاهر د باطن دپاره عنوان وي، او د چا چه ظاهر خراب شي نو باطن ئې هم خرابيږي

﴿وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ﴾

ظاهره کښې خبرې نيغې او سيده برابرې کوه نو عملونه به دې برابر شي.

د چا چه ظاهر برابر نهٔ وي د هغه زړهٔ نشي برابريدې، ډير خلق وائي چه زما ګيره نشته، پيـنځې مې د ګيټو نه خکته دي، او د سنتو مخالفت کوم خو زړه مې صفا دې، نو دا خبره خطاء ده، ځکه چه زړهٔ روغ وي نو ظاهر د هغې مطابق جوړيږي.

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ
او کله چه اُووئیل عیسی څوی د مریم اے بنی اسرائیلو ! یقیناً زهٔ رسول د الله یم
إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ
تاسو ته تصدیق کونکے یم د هغه څهٔ چه مخکښ زما نه دے د تورات نه
وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ
او زیرے ورکونکے یم په یو رسول چه راځی به روستو زما نه، نوم د هغه احمد دے
فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿٦﴾
نو هر کله چه راغے هغه دوی ته په ښکاره دلیلونو اُووئیل دوی دا جادو ښکاره دے۔

تفسیر : پدے آیت کښ هم یو مقصد دا دے چه دا آخری رسول رشتینی دے ځکه چه پخوانو پیغمبرانو خپلو امتونو ته ددهٔ په راتلو زیرے ورکړیدے خاصکر عیسیٰ علیه السلام نو ددهٔ منل پکار دی، دویم پدے کښ نبی کریم ﷺ له تسلی ورکول مقصد دے، او دا بیانول دی چه بنی اسرائیلو لکه څنګه چه د موسیٰ علیه السلام نافرمانی وکړه، او د هغهٔ د ضرر سبب جوړ شو، دغه شان هغوئ د عیسیٰ علیه السلام هم نافرمانی وکړه او هغه ئے دروغژن وګڼړلو۔ نو اے نبی ! که ستا تکذیب وکړی نو لرے نهٔ ده۔

عیسیٰ علیه السلام د خپلے زمانے یهودیانو ته ووئیل : اے بنی اسرائیلو ! (یعنی د یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام اولاده) زهٔ نبی جوړ کړے شوے یم او ماله تورات راکړے شوے او ستاسو د هدایت لپاره رالیږلے شوے یم، او ما هغه دعوت راوړے دے کوم چه د تورات دعوت وو، یعنی د یو الله بندګی، او د نورو د عبادت نه انکار۔

او زما په ذریعه د تورات تصدیق په دے طریقه هم کیږی چه په تورات کښ زما د رالیږلو خبره پرته ده، او اُوس زهٔ رالیږلے شوے یم نو ثابته شوه چه تورات د الله رشتینے کتاب دے، او زهٔ تاسو ته زما نه روسته د یو راتلونکی رسول زیرے درکوم، چه د هغهٔ نوم به احمد وی۔

او کله چه زما په ذریعه د تورات تصدیق کیږی، او زهٔ د یو نوی رسول زیرے ورکوم، نو تاسو له په ما باندے ایمان راوړل پکار دی، نهٔ دا چه زهٔ دروغژن اوګڼړلے شم۔

محمد بن اسحاقؒ په خپل جیّد سند سره د رسول الله ﷺ د صحابوؓ نه روایت کړے، چه هغوئ وویل :

[یَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ ! أَخۡبِرۡنَا عَنۡ نَفۡسِكَ ؟ فَقَالَ : دَعۡوَةُ أَبِیۡ اِبۡرَاهِیۡمَ وَبُشۡرٰی عِیۡسٰی وَرَأَتۡ أُمِّیۡ حِیۡنَ حَمَلَتۡ بِیۡ أَنَّهٗ خَرَجَ مِنۡهَا نُوۡرٌ أَضَاءَ تۡ لَهٗ بُصۡرٰی وَبُصۡرٰی مِنۡ أَرۡضِ الشَّامِ]

اے د الله رسوله ! تهٔ د خپل ځان په باره کښ مونږ ته اوښایه۔ نو نبی ﷺ وفرمایل : زهٔ د خپل پلار ابراهیم دعاء او د عیسٰی علیه السلام زیرے یم، او کله چه زما مور امیدواره شوه نو هغے په خوب کښ اولیدل چه د هغے د بدن نه یوه رڼړا راووته چه هغے د شام د بُصریٰ محلونه روښانه کړل۔ (مسند الشامیین رقم : ١٤٥٥) والحاکم (٣٥٦٦) باسناد صحیح)

دلته علامه قاسمیؒ او صاحب د فتح البیان او رازیؒ وغیره د انجیلونو او تورات عبارتونه راوړیدی چه په هغے کښ د رسول الله ﷺ صفتونه او په هغه باندے زیرے او د هغهٔ د صحابه کرامو تذکرے شویدی۔

په انجیل یوحنا، باب (١٤) کښ راغلی دی :

((زهٔ د پلار نه طلب کوم، نو هغه به تاسو ته یو [فارقلیط] درکړی))۔

صاحب د اظهار الحق (علامه رحمت الله کیرانویؒ) لیکلی دی چه د [فارقلیط] معنیٰ مُحمد یا احمد ده۔ اوَ په اصل کښ بیرکلوط وو، بیا عربی کښ فارقلیط شو۔

او صاحب د فتح البیان لیکی چه فارقلیط یونانی لفظ دے چه معنیٰ ئے ده شافع (سفارش کونکے)، واسطه، تسلی ورکونکے، شرافت والا او دا ټولے معانی د محمد او احمد سره لازمے دی۔

او په انجیلِ برناباس کښ د نبی کریم ﷺ ښائسته ذکر په صفا عبارتونو کښ راغلے دے او وئیلی ئے دی چه محمد به د الله رسول وی۔

عبد الله بن سلام رضی الله عنه وفرمایل : په تورات کښ د محمد (ﷺ) صفت ذکر شوے او عیسیٰ علیه السلام به د هغهٔ سره یو ځای خخیږی۔

ابوداود المدنیؒ فرمائی : په کوټه د عائشه رضی الله عنها کښ د یو قبر په اندازه ځای پاتے دے۔ (ترمذی)

او د کعب الاحبارؒ نه نقل دی چه حوارپینو عیسیٰ ﷺ ته وویل : اے د الله رسوله :
(هَلْ بَعْدَنَا مِنْ اُمَّةٍ ؟) آیا زمونږ نه روستو به بل امت راځی؟ وے فرمایل :
[نَعَمْ، يَأْتِي بَعْدَكُمْ اُمَّةٌ حُكَمَاءُ عُلَمَاءُ اَبْرَارٌ اَتْقِيَاءُ، كَأَنَّهُمْ فِي الْفِقْهِ اَنْبِيَاءُ، يَرْضَوْنَ مِنَ اللّٰهِ بِالْيَسِيْرِ مِنَ الرِّزْقِ، وَيَرْضَى اللّٰهُ مِنْهُمْ بِالْيَسِيْرِ مِنَ الْعَمَلِ، انتهیٰ]۔

آؤ، ستاسو نه روستو به یو داسے امت راځی چه هغوی به حُکماء (حکمتونو والا) وی، علماء (په دین به پو هه) وی، نیکان او متقیان به وی او په فقاهت (پو هه) کښ به د انبیاؤ په شان وی۔ د الله نه به په لږ رزق راضی کیږی او الله به د دوی نه په لږ عمل راضی کیږی۔

یهودیانو د عیسیٰ ﷺ د تمامو معجزاتو لیدلو کتلو باوجود هغه دروغژن وګنړلو، او وے وئیل چه دا چه زمونږ مخے ته څۀ پیش کوی ښکاره جادو دے۔

بعضِ مفسرینو په ﴿ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ کښ ضمیر نبی کریم ﷺ ته راجع کړے دے، په دے صورت کښ به معنیٰ دا شی چه کله نبی کریم ﷺ د مکے کافرانو مخے ته د خپل نبوت او د قرآن کریم د رشتین والی دلائل پیش کړل نو هغوئ ووئیل چه دا خو ښکاره جادو دے، چه ددے په ذریعه محمد (ﷺ) په مونږ جادو کول غواړی، لکه څنګه چه فرعون موسیٰ ته، او بنی اسرائیلو عیسیٰ ﷺ ته وئیلی وو۔

فائده: د رسول الله ﷺ په انجیل کښ احمد نوم ذکر شو او په قرآن کریم کښ (محمد) ذکر شویدے، ددے حکمة دا دے چه احمد معنیٰ ده اَحْمَدُ الْحَامِدِيْنَ لِلّٰهِ تَعَالٰى۔

یعنی د ټولو خلقو نه د الله تعالیٰ ډیر صفتونه کونکے۔ ټولو انبیاؤ د الله حمد ویونکی وو لیکن آخری نبی د ټولو نه زیات حمد کونکے دے۔ او د محمد معنیٰ ده صفت کړے شوے/ یا هغه چه بار بارئے حمد وئیلے کیږی۔ نو هرکله چه رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ ډیر صفتونه وکړل نو خلقو له پکار دی چه ددهٔ حمد او صفتونه وکړی۔

یا د احمد لنډه معنیٰ ده ډیر حمد کونکے د خپل رب۔

بعض علماء وائی چه په انجیل کښ ئے آسمانی نوم ذکر دے ځکه چه په آسمان کښ ورته احمد وئیلے کیدو نو په قیامت کښ به هم دهٔ ته الله تعالیٰ خپل حمدونه ورزده کړی۔

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰى
او څوك دے لوئی ظالم د هغه چا نه چه جوړوی په الله باندے دروغ او دا رابللے شی
إِلَى الْإِسْلَامِ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧﴾ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِؤُا نُوْرَ
اسلام ته او الله هدایت نۀ کوی قوم ظالمانو ته. اراده لری دوی چه مړه کړی رنړا
اللهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨﴾ هُوَ
د الله په خُلو خپلو سره، او الله پوره کونکے د رنړا خپلے دے اګرکه بد ئے ګافران. خاص الله
الَّذِيْ أَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ
هغه ذات دے چه راوے لیږلو رسول خپل په هدایت او حق دین باندے
لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿٩﴾
دے دپاره چه غالبه ئے کړی په دینو ټولو باندے اګرکه بد ئے ګنړی مشرکان.

تفسیر : په دے آیتِ کریمه کښ د یهودو او نصاراو په کفر او شرك باندے سخت رد شوے دے، چه الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ له د اسلام پشان حق دین ورکړو او دنیا ته ئے را اولیږۀ، چه هغۀ حق او باطل واضحه کړو، اُوس که څوك ددے نه سترګے پټوی، او په الله دروغ تړی نو ددۀ نه به لوی ظالم څوك وی، لکه څنګه چه د قریشو د مشرکانو حال دے چه هغوئ الله لره څوی او شریك ګنړی، او د هغۀ حرام کړی څیزونه حلالوی، او حلال کړی څیزونه ئے حراموی، او وائی چه که د الله خوښه نۀ وے نو مونږ به د بُتانو عبادت نۀ وے کړے. دارنګه قرآن ته جادو، او نبی کریم ﷺ ته جادوګر وائی.

دارنګه الله فرمائی : محمد ﷺ زما رسول دے او دوی وائی چه دا رسول نۀ دے، نو دا د دوئ دروغ شو په الله باندے.

وَهُوَ يُدْعٰى إِلَى الْإِسْلَامِ: د اسلام نه مراد دین توحید دے. یا ددے نه مراد د محمد رسول الله ﷺ اتباع ده. یا ټول دین اسلام مراد دے، او مطلب دا دے چه هرکله یو انسان ته د یو داسے دین دعوت ورکړے کیږی چه هغه د ټولو دینونه غوره دین وی، او په هغے

کښې د دنیا او د آخرت سعادت او نیکبختي وي، نو هغۀ له پکار دي چه په هیڅا باندې دروغ جوړ نکړي، پاتې لا دا چه هغه په الله باندې دروغ ووائي۔ نو پدې قید ذکر کولو کښې د داسې انسان ډیر لوی قباحت او بدي ذکر ده۔

او دا دعوت یهود، نصاراؤ، مشرکانو او منافقانو ته ورکړې کیږي۔

او علامه قاسمیؒ فرمائي: چه دا د مخکښې آیت دپاره تتمّه هم جوړیږي، او پدې کښې به د بني اسرائیلو لوی قباحت ذکروي چه هغوي عیسیٰ علیه السلام باندې بهتانونه تړلي وو او هغوي ته دعوت اسلام ته ورکړې کیدو، او اسلام د پخوانو دینونو نوم هم وو لیکن هغوي بدل کړې وو۔ او ددې په عموم کښې به د هر هغه چا بدئ ته اشاره وي چه د هغوي په شان کار کوي۔

او دا آیت د روستنو آیتونو دپاره یوه مقدّمه هم ده۔

وَاللّٰهُ لَا یَهۡدِی الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِیۡنَ: الله تعالیٰ داسې ظالمانو ته هدایت نۀ کوي کوم چه د واضح او ښکاره حق نه انکار کوي۔

یُرِیۡدُوۡنَ لِیُطۡفِئُوۡا: پدې آیت کښې د مخکنو ذکرشوو کافرانو یهود او نصاراؤ د ظلم او په الله تعالیٰ باندې د دروغو جوړولو یو شکل ذکر دې چه کوشش کوي چه اسلام ختم کړي۔

یعني دا خلق د الله تعالیٰ ډیوه په خپلو پوکو سره مړه کول غواړي، قرآن کریم ته جادو، او زما نبي ﷺ ته جادوګر وائي، نو پو هه شئ چه دا د کافرانو د خواهش باوجود د دوئ خام خیالي ده، د الله رڼا د شمع غونته په پوکو سره نشي مړه کیدې، دا خو هغه رڼا ده چه دا به الله تعالیٰ په ټوله دنیا کښې خوروي۔

په خوله باندې د الله تعالیٰ رڼا مړه کولو کښې د دوی ضعفُ الحیله ته اشاره ده، ځکه چه بلب یا نمر په پوکو باندې مړ کول خپل ځان ستړې کول دي، او د هغې رڼا ته هیڅ ضرر نۀ رسیږي۔ نو د دوئ ټول طاقت او حیلې او چلونه د پوکي په شان دي۔

نُوۡرَ اللّٰهِ: د نور نه مراد د اسلام رڼا ده۔

بِاَفۡوَاهِهِمۡ: ددې نه مراد بې دلیله خبرې، او کمزوري شبهات او شکونه دي۔

مُتِمُّ نُوۡرِهٖ: یعني الله تعالیٰ خپله رڼا پوره کونکې دې، د قرآن په نازلولو سره، او د دوئ په شکونو او شبهاتو زائله کولو سره، او د دوئ په بدي بیانولو سره۔ او په اطرافو او

ښارونو کښې په خورولو سره.
او پدې کښې اشاره ده چه د نور د پوره کيدو نه مخکښې (يعنې د قرآن د نازليدو او د اسلام د پوره کيدو نه مخکښې) د هيچا قدرت نهٔ وو چه دا ئې ختم کړې يا ئې نيمګړې کړې وې.
وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ : كفر كښې معنىٰ د پټولو او ظلمت (تيارې) ده، نو دا د نُور مقابل دې يعنې ظلمت او تيارو والا خلق رڼړا نهٔ خوښوي.
پدې کښې اشاره ده چه کافرانو خپل فطرت خراب کړيدې، رڼړا پرې بده لګی لکه د خاپيرك په شان.
هُوَ الَّذِيْ أَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ : دا د مُتِمُّ نُوْرِهٖ تشريح ده، يعنې الله به څنګه خپله رڼړا پوره کوي نو فرمائي چه ما رسول په هدايت ورکولو سره او حق دين ورکولو سره راوليږلو دې دپاره چه دا په ټولو دينونو غالبه کړم.
بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ : ددې معاني په سورة التوبه کښې ذکر شوې وې، چه د هُدىٰ نه مراد علم نافع او دين الحق نه مراد عمل صالح دې.
يا كتاب او سنت مراد دي، يا قرآن او توحيد يا عقيده او احكام مرا دي.
لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ : د اظهار نه مراد غالبه كول دي او د غلبې معنىٰ دا ده چه په حجت سره به هم دين اسلام په ټولو دينونو غالبه وي، نو داسې غلبه په هره زمانه کښې شويده. د اسلام نه هيڅ يو دين په حجت او دليل سره غالبه نهٔ دې.
او كله به داسې وي چه نور دينونه به كمزوري وي او دين اسلام به پرې حاكم وي، لكه په زمانه د خلفاءِ راشدينو رضوان الله عليهم اجمعين کښې چه يهود او نصارىٰ ذليله شو او د دين اسلام حکومت د ډيرې اوږدې زمانې پورې وچليدو.
او يا به داسې غلبه وي چه د دين اسلام نه علاوه به په مخ د زمكه هيڅ دين پاتې نشي لكه دا به په زمانه د نزول د عيسىٰ ؑ کښې کيږي.
دې کښې بعض مفسرينو وئيلي دي چه اظهار كله په معنىٰ د اطلاع او اعلام (خبرولو) سره دې، او مطلب دا دې چه الله خپل رسول او قرآن راوليږل ددې دپاره چه ددې په وجه خلق د ټولو سماوي او غير سماوي دينونو نه خبر کړي چه كوم حق او كوم باطل دې، او په هغوي کښې څه څه وو ؟. لكه قرآن كريم د ټولو دينونو بحث كړيدې.

اول قول غوره دے۔

وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ:

فائده : هرکله چه هدی او دین حق توحید دے او د توحید نه انکار ته شرك وائی، نو ددے آیت اختتام ئے په المشرکون سره وکړو او نُور الله نه مراد اسلام وو او هغه د الله تعالیٰ لوی نعمت وو، او د نعمت انکار ته کفر وائی۔ دارنګه د اسلام نه انکار ته کفر وائی نو پدے وجه ئے د هغے په اختتام کښ (الْكَافِرُوْنَ) لفظ راوړو۔

فائده۲: په سورة فتح (۲۸) آیت کښ ﴿ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴾ ذکر وو او په سورتِ توبه او دے آیت کښ ﴿ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴾ ذکر کړو۔

وجه دا ده چه په سورتِ فتح کښ رد وو په عوامو مشرکانو باندے چه هغوی د رسول الله ﷺ په رسالت باندے شهادت نهٔ کولو بلکه د صلح حدیبیه په عهدنامه کښ ئے د (رسول الله) د لفظ نه انکار کولو، نو ددے وجه نه الله تعالیٰ وفرمایل چه د رسول الله ﷺ په رسالت باندے زما ګواهي کافي ده۔

او په سورتِ توبه او دے سورت کښ په اهل کتابو باندے رد وو چه هغوی د توحید په ځای د شرك نه دین جوړ کړے وو، او د رسول الله ﷺ نه د مخالفت کولو لوی سبب ئے د هغهٔ د توحید بیان او د شرك رد وو۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ أَلِيْمٍ ﴿۱۰﴾
اے ایمان والو! آیا اُوښایم تاسو ته داسے تجارت چه بچ کړی تاسو د عذاب دردناك نه۔
تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
ایمان به راوړئ تاسو په الله او په رسول د هغهٔ باندے او جهاد به کوئ په لاره د الله کښ
بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾
په مالونو خپلو او نفسونو خپلو، دا غوره ده تاسو لره که تاسو پو هیږئ۔
يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ
ویه بخي تاسو ته ګناهونه ستاسو او داخل به کړی تاسو لره جنتونو ته چه بهیږی به

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ
لاندې د هغې نه ولې، او کورونه د اُوسېدو مزېدار و ته په جنتونو د همېشوالي کښې
ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ وَأُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا نَصْرٌ
دا کامیابي لويه ده. او (درېه کړي) بل نعمت چه خوښوئ ئې تاسو هغه، مدد دې
مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳﴾
د طرف د الله نه او فتح نزدې، او زېرې ورکړه مؤمنانو ته.

تفسیر: اُوس جهاد ته ترغیب ورکوی په درې فائدو ذکر کولو سره، یو دا چه د دردناك عذاب نه به نجات درکړي، دویم د گناهونو معاف کیدل، او دریم جنتونو ته داخلول دي.
دا ترغیب ولې ورکوی؟ نو ددې وجه دا ده چه اسلام به پخپله نهٔ غالبه کیږي چه خلق به پراتهٔ وي او پخپله به اسلام پرې غالبه شي، نهٔ، بلکه ددې د غلبې دپاره به کوشش کوي او د کوشش طریقه د دین دعوت او بیا جهاد دې، او جهاد بغیر د ایمان نه صحیح نهٔ دې نو پدې وجه ئې دلته هم ایمان او جهاد یو ځای کړل.
بله وجه دا هم ده چه د جهاد په وجه ایمان جوړیږي او د ایمان د تازه کولو سبب جهاد دې. او جهاد نهٔ تمامیږي مگر په ایمان. لکه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د منافقانو جهاد له هیڅ فائده نهٔ وه.
دا وجه ده چه بې ایمانه خلق چه جهادونه کوي نو د فائدې په ځای فسادونه ډیر کوي.
مسلمانان په معمولي خبره وژل او په هغوی باندې بدگماني کولو کښې واقع کیږي.
پدې وجه په آیت کښې ډیر ناشنا کار شویدې چه یو ئې د (لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ) سره تعلق دې. او ورسره د آخرت فائده ده، لکه دا د قرآن طریقه وي چه په یوه خبره باندې دوه مقصدونو ته اشاره کوي.
هَلْ أَدُلُّكُمْ: په (هَلْ) حرف استفهام راوړو کښې مقصد د مخاطبینو پوره متوجه کول دي.
تِجَارَةٍ: د تجارت لفظ ئې پدې وجه راوړو چه عثمان بن مظعون ﷛ فرمایلي وو چه الله

ته کوم تجارت ډیر محبوب دے؟ نو جواب د سوال موافق راوړے شو۔
یا پدے کښې ترغیب دے ځکه چه انسانی طبیعتونه په تجارت باندے ډیر خوشحالیږی ځکه چه په تجارت کښې د ګټے امید وی او په سورت توبه (۱۱۱) آیت کښې ئے د اشتراء په لفظ سره ذکر کړے وو۔
نو په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د نیکو اعمالو تشبیه د تجارتی مالونو سره ورکړے، ځکه لکه څنګه چه د تجارت نه نفع حاصلیږی، دغه شان نیك اعمال جنت ته د داخلیدو او د اُور د عذاب نه د نجات سبب وی۔
تُنۡجِيۡكُمۡ: پدے کښې د دنیاوی او د اُخروی تجارت فرق ته اشاره ده، یعنی په دے تجارت کښې ضرور ګټه شته او ابدی ګټه ده، او د تاوان هیڅ امکان پکښې نشته او دنیاوی تجارت کښې خو کله نا کله تاوان هم وی۔
عَذَابٍ اَلِيۡمٍ: پدے کښې اشاره ده چه مونږ ته د الله دردناك عذابونه متوجه دی نو د هغے نه ځان بچ کولو اسباب اختیارول پکار دی۔
ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ: دا د جهاد څلورمه اجمالی فائده ده چه پدے سره انسان ته دینی او دنیاوی خیرونه ملاویږی۔
اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ: ددے شرط دا مطلب نۀ دے چه که یو تن نۀ پو هیږی نو بیا به په دغه کارونو کښې خیر نۀ وی، بلکه ددے مطلب دا دے چه که تا کښې پو هه وی نو پدے کښې سوچ وکړه، پدے کښې خیر شته، او که ته نۀ پو هیږے نو هم خیر شته لیکن کله چه یو تن نۀ پو هیږی نو بیا د هغه شی طالب (طلبګار) نۀ جوړیږی، ځکه چه اَلنَّاسُ اَعۡدَاءٌ لِمَا جَهِلُوۡا قانون دے۔ (یعنی خلق د هغه شی دشمنان وی چه په پرے نۀ پو هیږی)
يَغۡفِرۡ لَكُمۡ : دا مجزوم دے په سبب د پټ شرط سره یعنی اِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتُجَاهِدُوۡا۔
که تاسو ایمان راوړو او جهاد مو وکړو۔ نو بخنه به درته وکړی۔ د جهاد ډیرے فائدے دی دلته بعض ذکر دی۔
تُؤۡمِنُوۡنَ: دا د تجارت تفسیر او تشریح ده۔ یعنی د خرڅونکو (چه مؤمنان دی) د طرفنه ایمان او جهاد بالمال والنفس دے۔
یعنی که تاسو په الله او د هغۀ په رسول حقیقی ایمان اولرئ، او د الله په لاره کښې د خپلو مالونو او د خپلو ځانونو په ذریعه جهاد اوکړئ، نو ستاسو دا کار به د انجام او عاقبت په

اعتبار سره ستاسو دپاره ډیر نفعمن وی۔
یَغْفِرْ لَكُمْ: یعنی الله تعالیٰ به ستاسو ګناهونه معاف کړی، او تاسو به هغه جنتونو ته ننباسی چه د هغے لاندے به نهرونه بهیږی، او بلند او بالا مکانونه به درکړی چه په هغے کښې به تاسو همیشه دپاره اوسیږئ۔ او په حقیقت کښې د یو انسان همدا د ټولو نه لویه کامیابی ده چه ددهٔ رب ددهٔ ګناهونه معاف کړی او جنت ته ئے ننباسی۔
وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً: دلته او سورت توبه کښې ئے مَسَاكِن ذکر کړیدی، ددے فائده مونږ په تفسیر د سورت توبه کښې ذکر کړے چه په جهاد کښې خپل کورونه پریخودلے کیږی نو الله تعالیٰ د کورونو تذکره پکښې خصوصی وکړه۔
طَيِّبَةً: (مزیدار) یعنی داسے مَسَاكِن (کورونه) چه د ژوند د خوشحالئ ټول اسباب پکښې پوره وی۔
جَنَّاتِ عَدْنٍ: عدن اقامت (وسیدو) ته وئیلے شی۔ یعنی د وسیدو جنتونه به وی۔ پدے کښې اشاره ده چه د مزو حاصلولو دپاره به د جنت نه بهر وتلو ته ضرورت نهٔ راځی۔ لکه دنیا کښې یو تن د خپل کلی نه بهر د مزے حاصلولو دپاره ځی۔
وَأُخْرَىٰ: دا د جهاد پنځمه فائده ده، دنیوی۔
او وَأُخْرَىٰ عطف دے په تِجَارَةٍ باندے یا فعل ئے پټ دے (وَيُؤْتِكُمْ أُخْرَىٰ) او دربه کړی تاسو ته یو بل نعمت۔
یا تقدیر داسے دے (وَلَكُمْ نِعْمَةٌ أُخْرَىٰ) او ستاسو دپاره به بل نعمت وی۔
تُحِبُّونَهَا: دا ورسره ځکه وائی چه انسان جلتباز دے، دنیاوی فائدے باندے ډیر خوشحاله وی۔
یا تُحِبُّونَهَا کښې د الله مدد او د حق فتح ته اشاره ده، نو دا دلیل دے چه صحابه کرامؓ د الله په نصرت او د حق په غلبے او فتح باندے خوشحالیدل۔
او پدے کښې اشاره ده چه د صحیح جهاد سره به فتح او نصرتِ الٰهیه ضرور راځی کله چه انسان د ایمان د وجه نه جهاد کوی۔
وَفَتْحٌ قَرِيبٌ: یعنی الله تعالیٰ به مکه فتح کړی، او د هغے نه پس به د هغے خوا او شا نور ښارونه او علاقے هم فتح کړی، او د الله نُصرت او تائید به دوئ سره وی۔
صاحب د محاسن التنزیل لیکی: (۱۳) آیت دلیل دے چه دا سورت د مکے د فتح نه

څۀ ورځے مخکښې نازل شوے وو، او مقصد مومنان د دوئ د دشمنانو خِلاف په جنگ باندے راپورته کول، د دوئ همت ډېرول، او د جهاد په میدان کښې د ثابت قدم اوسیدو نصیحت کول دی۔

دے وجے نه د آیت په آخر کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته ووئیل چه تۀ مومنانو له زیرے ورکړه چه الله تعالیٰ د دوئ سره چه کومه وعده کړے ده هغه به خامخا پوره کیږی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُوْنُوْا أَنْصَارَ اللهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ
اے ایمان والو! شئ مدد کونکی د دین د الله تعالیٰ لکه چه وئیلی وو عیسیٰ ځوی
مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّيْنَ مَنْ أَنْصَارِىْ
د مریم حوارینو (مخلصو ملګرو) ته څوك دی ما سره مدد کونکی (دپاره د
إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ فَآمَنَتْ طَّائِفَةٌ
نزدیکیدو) الله ته ووېل حوارینو مونږ مددګار د دین د الله یو نو ایمان راوړو یوے ډلے
مِّنْ بَنِىْ إِسْرَائِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا
د بنی اسرائیلو نه (نصاریٰ) او کفر وکړو بلے ډلے (یهودو) نو مضبوط کړل مونږ
الَّذِيْنَ آمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوْا ظَاهِرِيْنَ ﴿١٤﴾
هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو په دشمنانو د دوی باندے نو اُوګرځیدل دوی غالبه۔

تفسیر: مخکښې ترغیب وو جهاد ته په ذکر د فوائدو سره، اُوس ترغیب دے قتال ته په بله طریقه سره چه هغه اِقْتِدَاء بِالْحَوَارِيِّيْن ده۔ یعنی د حوارینو اقتداء وکړئ چه هغوی قتال کړے وو۔

نو الله تعالیٰ په دے آیتِ کریمه کښې خپلو مومنانو بندګانو ته حکم ورکړے چه دوئ په هر حال کښې د خپلو ځانونو، مالونو، اقوالو او افعالو په ذریعه د هغه حق دین مدد وکړی کوم چه الله تعالیٰ د خپل طاعت او بندګئ دپاره نازل کړے دے۔

او کوم چه د عیسیٰ علیه السلام حوارینو د هغۀ په آواز باندے لبیك ووئیلو، الله طرفته د

دعـوت پـه كـار كښې ئې د هغهٔ سره ملګرتيا وكړه، او د هغهٔ نه ئې د خپلو ځانونو قربانولو وعـده وكـړه، دغـه شـان دوئ دِي هـم د الله او د هـغـهٔ د رسـول سـره پـه هره طريقه باندې د ملګرتيا دپاره تيار اوسيږي.

مَنْ اَنْصَارِیْٓ اِلَی اللّٰهِ: اَیْ ذَاهِبًا اِلَی اللّٰهِ ـ يـعـنـي ما سره څوك مدد كوي چه تلونكې وي الله ته، يعني د هغه د رضا حاصلونكې وي.

حـافظ ابن كـثيرؒ ليكي چه كله حوارينو عيسیٰ عليه السلام تـه ووئيل چه ستا دعوت خلقو ته د رسـولـو دپاره مـونـږ ستـا مدد كوو، نو هغهٔ هغوئ لره د اسرائيلو او يونانيانو خواته د توحيد په دعوت سره وليږل. زمونږ رسول ﷺ به هم د حج په ورځو كښې داسې وئيل چه څـوك دې چـه ماله پناه راكړي، دې دپاره چه زهٔ د خپـل رب پيغام خلقو ته اورسوم، ځكه چه قريشو زهٔ ددې كار نه منع كړې يم.

چنانچه الله د هغهٔ د مدد دپاره د مدينې د اَوس او خزرج والو زړونه مسخر كړل، هغوئ د هـغـهٔ په لاس بيعت اوكړو، د هغهٔ مدد ئې اوكړو، او وې وئيل چه كه تاسو هجرت اوكړئ او مدينې ته راشئ نو مونږ به په هره طريقه ستا دفاع كوو.

او كله چه نبي ﷺ د نـورو مهاجرينو سره هجرت وكړو او هلته اورسيدهٔ نو هغوئ خپله وعـده پـوره كړه. دې وجې نه الله او د هغهٔ رسول هغوئ له د ((انصارو)) لـقب وركړو چه د هغوئ نوم جوړ شو.

لِلْحَوَارِيّٖنَ: حـواري د حُـور نـه دې، سپـيـن والـي تـه وئيلې كيږي لكـه حُوْرٌ عِيْنٌ ـ نو حواري سپين زړې مخلص راز دار دوست ته وئيلې كيږي.

فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ بَنِیْٓ اِسْرَآئِيْلَ: خـطـيـب شـربـيـنـيؒ ليكي چه دلته تقدير دې، يعني حـوارييـنـو په بني اسرائيلو كښې دعوت شروع كړو نو بني اسرائيل د دعوت په وجه دوه ډلې شـول، چا ايمان راوړو نو هغوی ته نصاریٰ وئيل كيدل، او چا كفر وكړو نو هغوی ته يهـود وئيل كيدل. بيا د عيسیٰ عليه السلام آسـمـان تـه د پـورته كيدو نه پس نصاریٰ مختلف شول، چا ووئيل چه عيسیٰ عليه السلام بعينه الله دې. دا يعقوبيه ډله وه،

او چا ووئيل چه د الله ځوی دې (العياذ بالله) او دا نسطوريه ډله وه،

او څـوك پـه تـثـليـث باندې قائل شول او دوئ ملكانيه ډله وه، او څوك په توحيد باندې كلك وو، او دا به ئې وئيل چه عيسیٰ عليه السلام د الله بنده او د هغهٔ رسول دې.

او په هغوی کښې هم دریے ډلے پیدا شوے، مجاهدین، دعوت کونکی او دا دواړه یهودیانو قتل کړلے، او دریمه ډله راهبان وو چه د هغے ذکر د سورة حدید په آخر کښې تیر شو۔
فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا : یعنی مونږ ایمان والا ډلے سره د هغوئ د دشمنانو یعنی یهودو او بُت پرستو رومیانو په مقابله کښې مدد اوکړو، او هغوئ ته غلبه ملاؤ شوه۔
او دا په روستو زمانه کښې مراد ده ځکه چه اول کښې نصارئ د یهودو د لاسه مغلوب وو مگر روستو زمانه کښې بیرته الله تعالیٰ نصاراؤ ته غلبه ورکړه، او تر د رسول الله ﷺ د زمانے پورے د نصاراؤ حکومتونه راروان وو۔
فَأَيَّدْنَا : دا تائید یو په قتال سره وو، او بل تائید په حجت سره هم دے، او دریم تائید په بعثت د آخری نبی کریم ﷺ سره وو، چه ډیرو نصاراو اسلام راوړو او د رسول الله ﷺ په وجه مضبوط شو۔
او د تاریخ د پانړو نه معلومیږی چه کله نصاراؤ کښې ایمان موجود وو نو الله تعالیٰ به غلبه ورکوله لیکن کله چه به د صحیح دین نه اوړیدل نو بیا به پرے نور کافران مسلط کیدل او دغسے زمونږ د امت حال هم راروان دے۔
مفسرین لیکی چه په دے کښې مومنانو له د دوئ د رب له اړخه د نُصرت او تائید او د فتح او کامیابئ زیرے ورکړے شوے، لیکن شرط دادے چه دوئ د حق دین د اُوچتوالی دپاره متحد شی او کوشش وکړی، او د نزاع او اختلاف نه بیخی لرے شی۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورة الصف

۱- پدے کښې په مخالفت د قول او د عمل باندے رد وشو۔
۲- دا قانون پکښې ذکر شو چه ظاهر عنوان د باطن دے۔
۳- د تجارت تذکره پکښې وشوه۔
٤- د حوارینو جهاد پکښې ذکر شو۔

ختم شو سورة الصف په مدد د رب العالمین سره په یوم السبت ۱٤۳۷ هـ شعبان ۲۸/ موافق ۲۰۱٦/٦/٤۔ اسریت کالام۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (١١)	(٦٢) **سورة الجمعة مدنية** (١١٠)	رکوعاتها (٢)

- سورۀ الجمعه مدنی دے، په دے کښې یوولس آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة الجمعة

نوم : د (٩) آیت ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْآ إِذَا نُوْدِىَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللهِ﴾ نه اخستے شوے۔

فضیلت :

مسلمؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ او ابن ماجهؒ او داسے نورو د ابو هریره ﷺ نه روایت کړی دی چه نبی کریم ﷺ به د جُمعے په مانځه کښې په اول رکعت کښې سورة الجمعه او دویم کښې المنافقون لوستلو۔ (مسلم : ٢٠٦٣)

مناسبت :

١- مخکښې یو مناسبت ذکر شو چه مخکښې سورت کښې د الله د دین مدد په قوتِ بدنی سره وو او دلته په قوتِ علمی سره دے۔

٢- بل مناسبت دا دے چه مخکښې دا ذکر شو چه د الله رسول ﷺ ته ضرر مه ورکوئ نو دلته بیان د عظمتِ شان د رسول الله ﷺ دے۔

٣- مخکښې د یهودیانو د زړونو زیغ ذکر شو نو دلته د دغه زیغ آثار بیانیږی۔

٤- مخکښې سورت کښې ترغیب وو جهاد ته، نو په دے سورت کښې زجر دے مانعینو د جهاد ته۔

٥- مخکښې سورت کښې د قتال د صفونو ذکر وو، نو دلته د جُمعے د مانځه ذکر دے چه

په هغې کښې د صفونو د جوړولو طريقه زده کيږي۔

٦- مخکښې سورت کښې د عمل په پريخودو زجر وو نو دلته وائي چه څوك په علم عمل نکوي نو د هغه مثال خو د خر په شان دے۔

دعوى او مقصد د سورت

١- بَيَانُ شَانِ الرَّسُوْلِ ﷺ وَاحْتِيَاجُ النَّاسِ اِلَيْهِ۔

د رسول الله ﷺ عظمتِ شان او ټول انسانان هغه ته په طاعت او په هدايت او جنت ته په داخليدو کښې او د الله د رضا په حاصليدو کښې محتاج دي۔

نو ورسره به دا خبره ملګرے کوي چه (فَلَا يَجُوْزُ الْاِعْرَاضُ عَنْهُ) نو ددے نبي نه اعراض مهٔ کوئ او ددهٔ د سنتو نه مخ مهٔ اړوئ بلکه دا کلك راونيسئ۔

دا موضوع د اول او د آخر د سورت نه معلوميږي۔

٢- زمونږ شيخ محترم (رستمي رحمه الباري) ليکي چه ددے سورت موضوع ده :

رد په درے دعوو د يهوديانو، سرهٔ د رد د شرك في العلم او في التصرف نه۔

دے کښې چه چا د توحيد بيان يا د مباهلے موضوع ګرځولے ده، نو دا ورسره پوره سمون نهٔ خوري۔

د سورت شان نزول :

د رسول الله ﷺ په ابتدائي زمانه کښې به د جُمعے په ورځ اول مونځ کيدو بيا به خطبه وئيل کيده لکه د اخترونو په شان۔ نو بعض نوي مسلمانانو ته د شريعت بعض احکام معلوم نهٔ وو، نو دحية الكلبي د شام نه د بنجاري سامان راوړو او د بنجاريانو د عادت مطابق ئے خلقو ته يو ډول ووهلو چه هغوي خبر کړي چه د تجارت سامان راورسيدو، که څوك ئے اخلي نو حاضر دِے شي،

نو په يوه موقعه کښې رسول الله ﷺ د جُمعے په خطبه کښې لګيا دے چه په دغه وخت دحيه راورسيدو او ډول ئے ووهلو، نو عام ملګري د رسول الله ﷺ نه پاڅيدل د مسجد نه ووتل دے دپاره چه څه سامان ترے واخلي، رسول الله ﷺ ورته ګوري، او هيڅ ورته نهٔ وائي چه کينئ، دے کښې حکمة وو څکه چه رسول الله ﷺ به په موقعه او محل باندے بيان کولو چه کله به بيان اثر کولو، پدے کښې مشران صحابه کرامؓ پاتے شول او رسولُ الله ﷺ

بيان ختم كړو،

نو الله تعالىٰ دا سورت نازل كړو، او مؤمنانو ته ئې ادب وركړو چه د جُمعے ورځ ده، تاسو باندے ددے نبي خطبه آوريدل ضروري دي،

نو په اول كښ ئې خپله لوئي بيان كړه چه د هغه لوي الله خبره خو آوريدل پكار دي، او بل دا چه دا د الله رسول دے، عام سړے نۀ دے، بيا په دے رسول كښ شپږ كمالات وګوره او په يهودو باندے د وَهُم دفع كولو دپاره رد كوي، او بيا ورته فرمائي چه په تاسو مرګ راروان دے د هغے دپاره تيارے وكړئ،

بيا ئې د جُمعے آداب راوړي چه د جُمعے په ورځ د رسول الله ﷺ بيان شروع وي نو ددے نه مۀ آوړئ، دين ډير قيمتي شے دے، تجارت او لهوياتو پسے آوريدل مناسب نۀ دي، او رزق د الله سره دے، تۀ دين غوره كړه الله به درله فراخه رزق دركړي۔ د رزق خپل وختونه شته، د جُمعے مونځ چه وشو بيا د الله فضل (رزق) طلب كوئ۔

او بيا هم د الله د ذكر نه غفلت مۀ كوئ۔ د دين په وخت كښ د دنيا كار مۀ كوئ، ولے د دنيا دپاره بل وخت نشته؟!۔

خلاصه د سورت :

په اول كښ ذكر د توحيد دے په ذكر د تسبيح سره بيا د رسول الله ﷺ رشتين والے په درے آيتونو كښ، بيا رد دے په اوله دعوه د يهوديانو باندے چه په فخر سره ئې ويل چه مونږ علماء يو او تاسو اميان يئ،

د هغے جواب په (٥) آيت كښ دے چه بے عمله عالم خو په شان د خر وي۔ دويم رد دے په دويمه دعوه باندے، دوي فخر كولو چه مونږ د الله اولياء يو نو په درے آيتونو كښ په دعوت د مباهلے سره دوي ته جواب شوے۔

دريم دوي د يوم السبت په وجه فخر كولو نو د هغے جواب ورته وشو په ذكر د عظمت د ورځے د جُمعے په خطبے او مانځه سره، بيا ترغيب دے حلال كسب ته روستو د فارغ كيدو د مانځه د جمعے نه او ترغيب دے آوريدو د خطبے ته او په دغه وخت كښ د دنيا مال او تجارت پريخودل۔

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي
پاکی وائی الله لره هغه څۀ چه په آسمانونو کښې دی او هغه څۀ چه په
الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿۱﴾
زمکه کښې دی بادشاه دے، ډیر پاك دے، زورور دے، حکمتونو والا دے۔
هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ
خاص الله هغه ذات دے چه راوے لیږلو په امیانو (اَن پړو) کښې رسول د جنس د دوی نه
يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ
لولی په دوی باندے آیتونه د هغۀ او پاکوی دوی لره او خودنه کوی دوی ته
الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿۲﴾
د کتاب او د سنت اګرکه وو دوی مخکښې په ګمراهئ ښکاره کښې۔

تفسیر: ددے آیت تفسیر مخکښې سورت کښې بیان شو۔ د الله صفتونه ئے راوړل دپاره د اظهار د عظمت د الله تعالیٰ او دپاره د تمهید د روستو خبرے چه دا رسول داسے لوی الله رالیږلے دے نو ددۀ خبره وړه مۀ ګڼړئ۔

الْمَلِكِ: پدے کښې اشاره ده چه الله ملك (بادشاه) دے نو د رعیت (چه دا امت دے) د اصلاح دپاره ئے آخری رسول راولیږلو۔

او **الْقُدُّوسِ**: کښې اشاره ده چه د مشرکانو د بدو نسبتونو نه الله تعالیٰ پاك دے، په بندګانو کښې چه څنګه تصرف کوی نو په هغۀ به اعتراض نۀ وی۔

الْعَزِيزِ: هغه زور دے په هغۀ څوك غالب نشی راتللے۔

الْحَكِيمِ: هغه چه کوم کار کوی په هغے کښې ډیر حکمتونه وی چه کله به د بندګانو ذهن ور رسیږی او کله نۀ۔

هُوَ الَّذِي: پدے آیت کښې د رسول الله ﷺ عظمتِ شان بیانیږی او دا چه د بندګانو دۀ ته ډیر زیات احتیاج دے، دا څومره قیمتی انسان دے چه ددۀ د رالیږلو نه مخکښې عرب په

گمراهۍ کښې پراتهٔ وو۔
فِي الْأُمِّيِّينَ: د ابن عباس ﷺ وینا ده چه د [أُمِّيُّونَ] نـه مراد تمام عرب دی۔ برابره خبره ده کـه هـغـوئ لیـکـل لـوسـتـل پیـژنـدلـے شـی او که نهٔ، ځکه چه د قرآن کریم نه مخکښې هغوئ ته هیڅ آسمانی کتاب نهٔ دے ورکړے شوے۔ او د نبی کریم ﷺ (نالوستے) کیدل د هـغـهٔ د نبـوت د رشتیـن والـی دلیـل وو۔ الله تعالیٰ امتِ محمدیه ته خپل اِحسان یادوی فـرمـائـی چه هغهٔ عربو دپاره (چه هغوئ اَن پړهـ، نالوستی وو) د همدوئ نه یو نالوستے نبـی را اولیـږلـو، چه هغه د نالوست کیدو باوجود د الله آیتونه لولی او دوئ ته ئے آوروی، د هـغـوئ بـدنـونـه ئـے د گـنـدگـیـو او خیـرونـه، او د هغوئ روحونه ئے د غلطو عقائدو او خبیثو اخلاقو نه پاکول، او هغوئ له ئے د قرآن او سنت تعلیم ورکولو۔
پدے آیت کښې اول د رسول الله ﷺ درے صفتونه ذکر دی، بیا د هغهٔ درے کارونه۔ اول فِي الْأُمِّيِّينَ: دا لفظ صریح نص دے پدے خبره چه نبی کریم ﷺ عربی دے، نو څوك چه د هغهٔ په عربیت کښې شك وکړی یا انکار وکړی نو کافر کیږی۔
رَسُولًا مِّنْهُمْ: یـعـنـی رسول دے او د جنس د دوئ نه دے، یعنی بشر دے او دا هم صریح نـص دے پـه رسالت او بشریت د نبی کریم ﷺ بانـدے نـو ددے نه انکار یا پدے کښې شك کول هم کفر دے لکه دا خبره تفسیر روح المعانی نقل کړیده۔
اُوس د هغهٔ درے کارونه بیانوی:
يَتْلُوْ عَلَيْهِمْ: د تـلاوت د آیتـونو نه مراد د قرآن کریم بیان او قرآن ته دعوت ورکول دی نو دا مرتبه د دعوت او د تبلیغ ده، او نصاب ددے آیتونه د قرآن کریم دی۔
دویم کار: ویزکیهم: ددے نـه مـراد د اعمالو او اخلاقو طریقه خودل، او د هغے اوقات، مـقـادیـر، کیفیات او هیئات خودل، او دا مرتبه د عمل کولو او د عمل خودلو ده چه هغه مـقـصـد د دعـوت او د تـعـلیـم دے، نو ددے وجه نه ئے تزکیه په مینځ د دعوت او د تعلیم کښې ذکر کړه چه دا اصل مقصد دے، او دیته علم التزکیه او علم الاخلاق وئیلے کیږی۔
او دے تـه د تـصـوف او د صـوفیـت نـوم کـیـخـودل صـحـیح نهٔ دی ځکه چه شرعی نوم پریخودل او غیر منقول نوم استعمالول د شریعت خلاف کار دے۔
دریـم کـار: وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ: د قـرآن او د حـدیـث خـودنه کول۔ دا مرتبه د تعلیم او د تدریس ده او نصاب د هغے قرآن کریم او حدیث د رسول الله ﷺ دی۔

وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ : يعنې د عربو خلق د نبی کريم ﷺ د راليږلو نه مخکښې په ډيره لويه ګمراهئ کښې پراته وو، د بتانو عبادت به ئې کولو، او د اُوچتو اخلاقو او ښائسته آدابو نه بيخي بې برخې شوي وو، دې وجې نه هغوئ د يو نبي په ذريعه هدايت او رهنمائي ته سخت محتاج وو۔ په دغه وخت کښې الله تعالىٰ په دوئ مهرباني وکړه او نبی کريم ﷺ ئې را اوليږهٔ۔

او دا ښکاره دليل دې چه بغير د ايمان او د تابعدارئ د رسول نه ټولې لارې د ګمراهئ دي۔ دارنګه د هرې ګمراهئ نه د نجات ذريعه صرف تابعداري د قرآن او د سنت د نبی کريم ﷺ ده۔

حافظ ابن کثيرؒ ليکي چه په عربو کښې د نبی کريم ﷺ پيدا کيدل، ددې خبرې منافي نهٔ دي چه هغه ټولې دنيا والو دپاره نبي جوړيدو سره راليږلې شوې وو، لکه څنګه چه الله تعالىٰ د سورة الاعراف په (۱۵۸) آيت کښې فرمايلي دي :

﴿ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ﴾ (اې زما نبي ! تهٔ اُووايه چه اې خلقو ! زهٔ تاسو ټولو دپاره د الله رسول يم)۔

او د سورتِ انعام په (۱۹) آيت کښې ئې فرمايلي دي : ﴿ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْ بَلَغَ ﴾ (دې دپاره چه زهٔ ددې قرآن په ذريعه تاسو او هغه ټول خلق د الله نه اُويروم چه هغوئ ته زما پيغام اُورسي)۔

وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا
او په نورو کسانو کښې (ئې راليږلې دې) چه د دوي (يعني اميانو) نه دي چه لا نهٔ دي
يَلْحَقُوْا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾
پيوسته شوي د دوي سره (په مرتبه او زمانه کښې) او هغه زورور حکمتونو والا دې۔
ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۴﴾
دا فضل د الله دې ورکوي ئې چا له چه اُوغواړي او الله خاوند د فضل لوئي دې۔

تفسير : په دې آيت کښې [آخَرِيْنَ] د دويم آيت په [الْاُمِّيّٖنَ] کلمه باندې عطف دې۔

(۱) یعنی الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ د هغه عربو دپاره نبی جوړ کړو او را وې ولیږلو کوم چه د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښې موجود وو، او هغه عربو دپاره هم چه هغوئ د صحابه کرامؓ نه پس قیامته پورې پیدا کیږی۔

(۲) بعضِ مفسرینو د ﴿وَآخَرِينَ مِنْهُمْ﴾ نه مراد عجم اخستی دی کوم چه په اسلام کښې داخل شول او قیامته پورې داخلیږی، او وئیلی ئې دی چه عجمی مسلمانان اگرچه عرب نهٔ وو، لیکن اسلام راوړو نه پس د همدوئ نه شول، او یو امت جوړ شو۔

الله تعالیٰ د سورتِ توبه په (۷۱) آیت کښې فرمایلی دی: ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ (مومنان سړی او مومنانې ښځې د یو بل دوستان وی)۔

امام احمدؒ او بخاریؒ او مسلمؒ او نورو د ابو هریره ؓ نه روایت کړی دی چه مونږ د نبی کریم ﷺ خواته ناست وو چه سورۂ الجمعه نازل شو۔ نبی ﷺ چه کله خلقو ته لوستل شروع کړل او ﴿وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ﴾ ته اورسیدلو، نو ما تپوس وکړو چه اې د الله رسوله! دا کوم خلق دی چه لا اوسه پورې مونږ سره ملاؤ شوی نهٔ دی، نو نبی ﷺ خپل لاس د سلمان فارسی ؓ په بدن باندې کیښودلو او وې فرمایل چه:

(وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ لَوْكَانَ الْإِيْمَانُ بِالثُّرَيَّا لَنَالَهٗ رِجَالٌ مِنْ هٰؤُلَاءِ)

په هغه ذات مې دِې قسَم وی چه د هغهٔ په لاس کښې زما ساه ده، که چرې ایمان په ثُریا (ستورو) کښې هم وی، نو دا به ددهٔ د قوم نه څهٔ خلق بیامومی۔

بخاری: (۴۸۹۷) والترمذی (۳۳۱۰)

او پدې کښې لوی زیرې دې د هغه ټولو محدثینو او فقهاؤ دپاره چه هغوی عجم وو او د الله تعالیٰ د دین خدمت ئې کړیدې په راجمع کولو د حدیثونو او د هغې په تشریحاتو۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی: دا آیت دلیل دې چه دا سورت مدنی دې، او رسول الله ﷺ تمامو انسانانو دپاره نبی رالیږلې شوې دې۔

او پدې کښې اشاره ده چه د رسول الله ﷺ رالیږلو ته عرب هم محتاج وو، او دارنگه د ټولې دنیا انسانان ځکه چه ددهٔ نه بغیر جنت ته او د الله رضا ته نشی رسیدلې، دا هر څهٔ د هغه په تابعدارئ سره حاصلیږی۔

او دا آیت ښکاره دلیل دې په ختم نبوت باندې ځکه چه الله تعالیٰ دلته د آخری نبی رالیږل په دوه قسمه خلقو کښې وخودل، یو عرب او دویم (آخرین) نور خلق یعنی عجم

نو رسول الله ﷺ تر قیامته پورے د عربو او عجمو نبی دے، د هغهٔ نه روستو بل هیڅ نبی نشی راتللے، که څوك ئے دعوه کوی سو چه دروغجن به وی۔ د نمر راختلو نه روستو شمعے او ډیوے او بیټرئ ته ضرورت نهٔ وی۔

۲- یا وَآخَرِيْنَ عطف دے په ضمیر د (وَيُعَلِّمُهُمْ) باندے څکه چه د روستنو خلقو مُعلم هم په اصل کښې رسول الله ﷺ دے اګرکه په واسطه سره ذے۔ اوله توجیه غوره ده۔

لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ: ١- فِي الزَّمَانِ۔ په زمانه کښې هم د هغوی پورے نهٔ دی پیوسته شوی۔ ٢- فِي الْفَضْلِ۔ په فضیلت کښې د هغوی سره نهٔ دی پیوسته شوی۔

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ: یعنی د نبی کریم ﷺ رالیږل، د هغهٔ او د هغهٔ د امت دپاره عظیم نعمت وو، چه دے سره الله تعالیٰ هغه کامیاب کړو او د هغے په ذریعه الله تعالیٰ د هغهٔ امت له عزت او شرافت ور اوبخښلو۔

صاحب د محاسن التنزیل لیکی چه د مدینے یهودو ته د نبی کریم ﷺ د نبی کیدو پوره یقین وو، لیکن صرف د حسد او عناد د وجے نه ئے انکار وکړو چه دا عزت او شرافت د هغوئ په ځای عربو ته ولے ملاؤ شو۔

مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا
مثال د هغه کسانو چه بار کړے شوے وو په هغوی باندے تورات بیا ئے پورته نکړو
كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ
هغے لره، پشان د مثال د خر دے چه پورته کوی کتابونه بد دے مثال د قوم هغو
كَذَّبُوْا بِآيَاتِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظَّالِمِيْنَ ﴿٥﴾
چه دروغژن ئے اُوګنړل آیتونه د الله او الله هدایت نهٔ کوی قوم ظالمانو ته۔

تفسیر: دلته په یهودیانو باندے رد کوی پدے کښې دوه فائدو ته اشاره کوی، یو پدے کښې تحذیر دے مونږ ته چه یهودیانو ته الله تعالیٰ تورات ورکړو او هغوی پرے عمل ونکړو، نو الله تر ے ښنګه خرهٔ جوړ کړل، نو دغه شان ناسو ته هم الله تعالیٰ ښکلے رسول راولیږلو که تاسو د هغهٔ تابعداری ونکړه نو دغه شان به شئ۔

خوك چه د نبی کریم ﷺ تابعداری نۀ کوی هغه د خرۀ سره مشابه دے، ددے وجه نه رسول الله ﷺ به هم دا خبره په مثال کښې ورکوله :

[مَثَلُ الَّذِیْ یَتَکَلَّمُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ یَخْطُبُ كَمَثَلِ الْحِمَارِ یَحْمِلُ اَسْفَارًا]

مثال د هغه سړی چه د امام د خطبے په دوران کښې خبرے کوی دا په شان د خر دے چه کتابونه ئے بار کړی وی۔

(احمد : ۲۰۳۳ اسناده فيه مجالد وقد تكلم عليه من قبل حفظه، وقال الحافظ فى الفتح : وله شاهد قوى عن ابن عمر موقوفا۔ (فتح البارى ۲/۴۸۱) وقال البوصيرى: وله شواهد (اتحاف الخيرة المهرة ۲/۲۸۶) وقال ابن كثير اسناده حسن وله شواهد (ارشاد الفقيه ۱/۱۰۲).

دا تشبیه رسول الله ﷺ ددے آیت نه اخستے ده۔ نو اے ایمان والو ! د یهودو د حال نه ځان وساتئ چه د انبیاؤ تابعداری نۀ کوی۔

(۲) دویم دا آیت جواب د سوال دے چه تاسو مونږ ته څنګه ګمراهان وایئ ﴿ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴾ حال دا چه یهودیان موجود دی چه دوئ علماء دی او د الله کتاب تورات ورکړے شوے وو، نو کارخانے د علم موجود دی، بیا دوی څنګه په ګمراهئ کښې شول ؟ او دارنګه هرکله چه داسے علماء موجود دی،

نو بیا د رسول الله ﷺ رالیږلو ته څه ضرورت وو ؟ یا یهودیانو وویل چه تاسو اُمیین یئ او مونږ علماء او اهل کتاب یو نو مونږ ستاسو نه غوره یو، لهذا مونږ باندے لازم نۀ ده چه په رسول اُمی باندے ایمان راوړو،

نو الله جواب ورکړو چه د یهودیانو حیثیت خو دغه دے چه هسے کتاب ورته ورکړے شویدے لیکن په هغے ئے ځان نۀ دے پوهه کړے، او د هغے مطابق هیڅ عمل نکوی نو دوئ خو د خرو مشابه دی، هیڅ غوره والے ورله نشته۔

د یهودو نه اُوسه پورے هدایت نۀ وو خوَر شوے بلکه یهود دنیا پرست خلق وو، خلقو ته ئے دین نۀ بیانولو بلکه د هغوی نه به ئے مالونه جمع کول۔

حُمِّلُوا التَّوْرٰةَ : (بار کړے شوے وو په دوی باندے تورات) اَیْ كُلِّفُوْا بِالْعَمَلِ بِهَا۔ یعنی دوئ د تورات په عمل باندے مکلف کړے شوی وو۔

لَمْ یَحْمِلُوْهَا : (هغه ئے پورته نکړو) اَیْ لَمْ یَعْمَلُوْا بِهَا ۔ یعنی عمل ئے ونکړو په هغے باندے۔

كَمَثَلِ الْحِمَارِ : يهوديانو تورات اولوستلو او هغه ئې ياد كړو، ليكن په هغې باندې ئې پوره عمل ونهٔ كړو، په دې طريقه چه په هغې كښې د نبي كريم ﷺ د پيغمبرئ خبر وركړې شوې وو، د هغهٔ علامات بيان شوي وو، او په هغهٔ باندې د ايمان راوړو تاكيد شوې وو، او دوئ ته كامل يقين وو چه هغه د الله تعالىٰ رشتينې نبي دې، ليكن خالص د حسد او عناد د وجې نه ئې ايمان رانهٔ وړو، دې وجې نه الله تعالىٰ هغوئ د خرهٔ سره مشابه كړل چه د هغوئ په شاګانو باندې د علومو او فنونو لوى لوى كتابونه بار شوي وو، چه ددې بوج خو خرهٔ محسوسوي، او ددې لاندې دباوېږي، ليكن په دې كښې د پرتو حقائقو او معارفو نه بې برخې او په دې باندې د عمل كولو نه محروم وي۔

أَسْفَارًا: جمع د سِفْرٌ ده، لوى كتاب ته وئيلې شي۔ او سفر ورته ځكه وائي چه سفر كښې معنىٰ د ښكاره والي ده، او كتاب هم مقاصد راښكاره كوي كله چه ولوستلې شي۔

ميمون بن مهرانؒ وائي : خر پدې نهٔ پو هيږي چه په دهٔ باندې كتابونه بار شويدي او كه ګندګي، نو دغه شان يهوديان هم دي۔ (چه د خپل علم هيڅ قدر نهٔ پيژني) نو هر هغه څوك چه په خپل علم باندې عمل نكوي نو دا د هغهٔ مثال دې۔

مفسرين ليكي : وَهٰذَا الْمَثَلُ يَلْحَقُ مَنْ لَّمْ يَفْهَمْ مَعَانِيَ الْقُرْآنِ وَلَمْ يَعْمَلْ بِمَا فِيهِ وَاَعْرَضَ عَنْهُ اِعْرَاضَ مَنْ لَّايُحْتَاجُ اِلَيْهِ۔

او دا مثال هر هغه چا ته هم رسيږي چه د قرآن كريم په معانيو باندې ځان نهٔ پو هه كوي، او پدې كښې په موجودو احكامو عمل نكوي، او ددې نه د هغه چا په شان مخ اړوي چه هغه ورته هيڅ حاجت نهٔ ګڼړي۔

ددې وجه نه ميمون بن مهرانؒ به فرمايل :

[يَا اَهْلَ الْقُرْآنِ! اِتَّبِعُوا الْقُرْآنَ قَبْلَ اَنْ يَّتَّبِعَكُمْ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ]

اې قرآن والو ! د قرآن تابعداري وكړئ مخكښې ددې نه چه قرآن تاسو پسې شي۔ (يعنې ستاسو بدى بيان كړي) بيا ئې دا آيت ولوستلو۔ (فتح البيان)

امام ابن القيم رحمه الله په خپل كتاب [اعلام الموقعين] كښې ددې آيت تفسير بيانوي ليكي :

[وَهٰذَا الْمَثَلُ وَاِنْ كَانَ قَدْ ضُرِبَ لِلْيَهُوْدِ فَهُوَ مُتَنَاوِلٌ مِنْ حَيْثُ الْمَعْنٰى لِمَنْ حَمَلَ الْقُرْآنَ فَتَرَكَ الْعَمَلَ بِهٖ، وَلَمْ يُؤَدِّ حَقَّهٗ، وَلَمْ يَرْعَهٗ حَقَّ رِعَايَتِهٖ]

چه دا مثال اګر چه د یهودو دپاره بیان شوے، لیکن دا په هر هغه حاملِ قرآن باندے چسپانیږی چه هغه حفظ د قرآن کوی، (ختمونه ئے کوی لیکن هیڅ تدبر او فکر پکښې نهٔ کوی،) او په دے باندے عمل نهٔ کوی، او ددے پوره حق نهٔ اداء کوی۔ او ددے لائق رعایت نهٔ کوی (یعنی پدے باندے فیصلے نهٔ کوی او ددے په مطلب ځان نهٔ پو هه کوی)

بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ: یعنی کومو یهودو چه د الله د آیتونو تکذیب کړے دے، د هغوئ ډیر زیات خراب مثال دے، یعنی د دوئ حال د هغه خرو پشان دے چه په هغوئ باندے کتابونه بار شوی وی۔

الْقَوْمَ الظَّالِمِيْنَ: پدے کښې اشاره ده چه داسے عالمان خو ظالمان دی او د توفیق د هدایت نه محروم دی۔

قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْا إِنْ زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاءَ لِلّٰهِ
اُووایه! اے هغه کسانو چه یهودیان دی که ګمان کوئ تاسو چه تاسو دوستان د الله یئ
مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ ﴿٦﴾
سوئ د نورو خلقو نه نو آرزو وکړئ د مرګ که چرته تاسو رشتینی یئ۔
وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ
او دوی به آرزو د مرګ اُونکړی هیچرے په سبب د هغے عملونو چه لیږلی دی
أَيْدِيْهِمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالظَّالِمِيْنَ ﴿٧﴾ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ
لاسونو د دوی او الله پو هه دے په ظالمانو۔ تهٔ اُووایه ! یقیناً هغه مرګ
تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَإِنَّهٗ مُلَاقِيْكُمْ
چه تیخته کوئ تاسو د هغهٔ نه نو یقیناً هغه ملاویدونکے دے ستاسو سره
ثُمَّ تُرَدُّوْنَ إِلٰى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ
بیا به واپس کړے شئ تاسو هغه ذات ته چه پو هه دے په هر پټ او ښکاره باندے

فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾
پس خبر به درکړي تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسير : دا په دويمه دعوىٰ د يهوديانو باندے رد دے چه دوى وئيلى وو چه مونږ د الله خامن او دوستان يو، او د هغهٔ محبوبان يو۔ لکه څنګه چه د سورهٔ المائده په (۱۸) آيت کښې راغلى دى : ﴿ نَحْنُ أَبْنَاءُ اللهِ وَأَحِبَّاؤُهُ ﴾ بيا تاسو زمونږ بدى ولے بيانوئ او د خرو سره مو مشابه کوئ ؟۔ نو الله تعالىٰ په دوئ باندے رد کوى په دعوت ورکولو مباهلے ته۔
يعنى د دوئ دعوه د نبى کريم ﷺ په ژبه دروغجنه ثابتوى چه که تاسو ځانونو ته رشتينى وايئ چه تاسو د الله دوستان يئ او مؤمنان په باطله ګنړئ،
نو راځئ چه مباهله وکړو، چه څوك په حقه دى او څوك په باطله، او په دروغجنه ډله باندے د مرګ ښيرے وکړو۔
ليکن يهوديان دے کار ته هيڅکله تيار نشول، نو معلومه شوه چه دوئ په باطله وو۔
او ددے دويم تفسير دا دے چه که ستاسو ګمان رشتينے وى، نو د الله مخے ته خپله آرزو څرګنده کړئ دے دپاره چه هغه تاسو ډير زر آخرت ته اُورسوى، او په جنت کښې مو داخل کړى دے دپاره چه د دنيا او ددے د غمونو نه نجات بيامومئ۔ ليکن يهودو ته ځان معلوم دے چه مونږ د مرګ سره سمدست اُور ته روان يو نو ځکه د مرګ آرزو څه چه د مرګ نوم هم په خوله نهٔ اخلى۔ او ددے آيت تفسير مَا لَهَا او مَا عَلَيْهَا خبرے د سورة البقره په آيت کښې ذکر شويدى۔

شان نزول

مُقاتل بن سليمانؒ په خپل تفسير کښې نقل کړيدى چه نبى کريم ﷺ د مدينے يهوديانو ته د اسلام دعوت دپاره خط وليکلو نو د مدينے يهوديانو د خيبر يهوديانو ته خط وليکلو چه محمد ګمان کوى چه دے نبى دے، او دے مونږ او تاسو ته خپل دين طرفته دعوت راکوى نو که تاسو ددهٔ تابعدارى غواړئ نو مونږ ته ددے وضاحت وليکئ او که داسے نهٔ وى نو تاسو او مونږ په يو دين (يوه خبره) باندے يو چه په محمد به ايمان نهٔ لرو۔ او نهٔ به ئے تابعدارى کوو۔ نو پدے کښې د خيبر يهوديان په غضب کښې راغلل او د مدينے يهوديانو ته ئے ډير ناکاره خط وليکلو او دا ئے پکښې وليکل :

((ابراهیم (علیه السلام) صدیق او نبی وو، او د هغهٔ نه روستو اسحاق (علیه السلام) صدیق نبی وو، او د اسحاق نه روستو یعقوب (علیه السلام) صدیق نبی وو او د یعقوب دولس ځامن وو او د هر یو ځوی نه د انسانانو لوی امت پیدا شوے، بیا د دوی نه روستو موسی علیه السلام راغلے، او د موسیٰ نه روستو عزیر علیه السلام وو نو موسیٰ علیه السلام به تورات د تختو نه لوستلو او عزیر علیه السلام به په یادو لوستلو او که هغه د الله ځوی نهٔ وے (العیاذ بالله) او د هغهٔ نبی او صفی (غوره بنده) نهٔ وے نو دا کمال به ئے ورته نهٔ ورکولے۔

نو مونږ او تاسو د هغهٔ د خاندان نه یو او د هغه چا د خاندان نه یو چه الله تعالیٰ خپل خلیل جوړ کړے وو او د هغه چا د خاندان نه یو چه الله ورسره خبرے کړیدی نو مونږ په نبوت او رسالت باندے د محمد (صلی الله علیه وسلم) نه ډیر حقدار یو، او په جزائر العرب کښ کله انبیاء راغلی دی ؟ مونږ هیڅکله نهٔ دی آوریدلی چه د عربو نه یو نبی راغلے وی سویٰ ددے سړی نه چه تاسو پرے گمان لرئ۔ سره ددے نه چه مونږ ددهٔ تذکره په تورات کښ موندهٔ کوو، نو که تاسو ددهٔ پسے روان شوئ نو ذلیله او بے عزته به مو کړی حال دا چه مونږ د الله ځامن او د هغهٔ محبوبان یو۔ نو دا آیت نازل شو او الله تعالیٰ خپل نبی ته وفرمایل : (قل یا ایها الذین هادوا)) الخ۔

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُ : الله تعالیٰ خبر ورکړے دے چه دوئ د خپل مرگ آرزو هیڅ کله نهٔ کوی، ځکه چه دوئ ته معلومه ده چه دوئ کوم گناهونه کړی دی هغه جهنم ته رسوونکی دی، او الله د دوئ د جرمونو نه زیات خبر دے۔

په سورت بقره کښ د دوی نه نفی د مباهلے په ډیر تاکید سره کړیده چه (لَنْ) حرف ئے راوړو ځکه چه هلته د جنت دعویٰ دوئ په تاکید د (لَنْ) سره کړے وه، نو جواب د تاکید هم په تاکید سره مناسب وی۔

قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ : نو اُوس ترغیب ورکوی چه هرکله چه تاسو مباهله نشئ کولے، او د مرگ نه یریږئ نو د مرگ نه خو خلاصیدے نشئ، یعنی که د مباهلے د نهٔ کولو د وجه نه په تاسو فی الحال مرگ رانغے خو یوه ورځ به دربانده ضرور راځی، نو د هغے دپاره تیارے وکړئ په تابعداریٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے،

او پدے کښ په یهودو ځکه رد کوی چه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری نهٔ کوله، او د هغهٔ په خلاف ئے ځانونه غوره گڼړل۔

او پدے آیتونو کښې دے ته هم اشاره ده چه یهود هم د رسول الله ﷺ راتللو ته محتاج دی، دوئ چه د غوره والی کومے دعوے کوی دا ټولے غلطے دی۔

تَفِرُّوْنَ مِنْهُ: د مرګ نه خو هر سړے تیختنه کوی، خو داسے تیختنه کول چه د الله حکم پرے مات کړی ناروا ده۔ لکه دے کښې دا هم داخلیږی چه یو تن د قتال د میدان نه د مرګ د یرے د وجه نه تیختنه کوی، او بیا جهاد نهٔ کوی، یا یوه علاقه کښې طاعون بیماری خوره شویده او دے د مرګ د یرے نه د هغه کلی نه تیختنه کوی۔

فَاِنَّهٗ مُلَاقِيْكُمْ: یعنی تاسو خو د مرګ نه تیختنه کوئ او هغه خو ستاسو مخے ته راتلونکے دے، نو د هغهٔ نه تیختنه کول هیڅ فائده نهٔ ورکوی۔

ثُمَّ تُرَدُّوْنَ: یعنی بیا به د قیامت په ورځ د الله مخامخ اُودرولے شئ، چه هغه به تاسو ته ستاسو د ناکاره کوبیو خبر درکوی، او د هغے پوره پوره بدله به درکوی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا
اے ایمان والو ! کله چه آواز اُوکړے شی دپاره د مانځه د ورځے د جُمعے نو جلتئ وکړئ
إِلَى ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
ذکر د الله (خطبے) ته او پریدئ سوداګری (اخستل خرڅول) دا غوره ده تاسو لره
إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩﴾ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ
که تاسو پو هیږئ۔ پس کله چه ادا کړے شی مونځ نو خوارهٔ شئ په زمکه کښې
وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٠﴾
او اُولټوئ د فضل د الله نه او یادوئ الله ډیر، دے دپاره چه کامیاب شئ۔
وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوْا إِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَائِمًا
او کله چه اُووینی دوی تجارت یا تماشه واوری هغے ته او پریدی تا لره ولاړ
قُلْ مَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ
تهٔ اُووایه ! هغه څهٔ چه د الله سره دی غوره دی د تماشو او د تجارت نه (او هغه په

وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱﴾

عبادت حاصليږي) او الله تعالىٰ غوره دے د رزق وركونكو نه.

تفسير: ربط :

۱- مخكښ د رسول الله ﷺ عظمتِ شان او د يهوديانو بدى بيان شوه، نو اُوس فرمائى چه دا نبى كوم بيان تاسو ته كوى نو دا هم سپك او معمولى مهٔ گنړئ، بلكه ددهٔ بيان ته غوږ كيږدئ. خاصكر د جُمعے په ورځ ددے خصوصيت دے. ځكه چه پدے كښ هدايت دے.

۲- دا رد دے په دريمه دعوه د يهوديانو چه دوى فخر كولو چه زمونږ دپاره د خالى د ورځے تعظيم شته، او تاسو د هغے تعظيم نهٔ كوئ؟

حاصل د رد دا دے چه زمونږ دپاره د يوے ورځے تعظيم شته چه هغه د جُمعے ورځ ده، او دا د الله تعالىٰ د طرفنه انتخاب دے، او ستاسو ورځ د خالى خو ستاسو خپل انتخاب دے، او بيا دربانده الله تعالىٰ د هغے تعظيم فرض كړو لكه په سورة نحل (۱۲٤) آيت كښ ذكر شويدى.

۳- فخر الدين رازيؒ فرمائى : يهوديانو د دنيا د خوندونو نه د برخور كيدو دپاره منډے وهلے، او مومنانو هم اخستل او خرڅول د دنيا د سازو سامان حاصلولو دپاره كول، دے وجے نه الله تعالىٰ دوئ له تنبيه وركړه چه كله دوئ د جُمعے اذان واورى، نو د الله د ياد يعنى د مانځه دپاره دِے جلتى وكړى چه دا د آخرت سامان دے، دے دپاره چه د يهودو د مشابهت نه بچ شى.

مفسرينو ليكلى دى چه بعضِ مدينے والا به په (بقيع الزبير) كښ د جُمعے د اذان كيدو نه پس هم په اخستلو او خرڅولو كښ مشغول پاتے كيدل، نو الله تعالىٰ مسلمانانو ته حكم وكړو چه دوئ د جُمعے د مانځه خاص اهتمام وكړى، او د اذان كيدو نه پس خپل كارو بار پريدى، او جومات طرفته روان شى، دے دپاره چه د خطبے او د مانځه د فضائلو او بركاتو نه نفعمن شى او د زياتى تاكيد په توگه ئے وفرمايل چه د دنيا د كارو بار په پريښودلو او د جُمعے د مانځه دپاره په تللو كښ ستاسو دپاره هره ښيگړه ده، كاش تاسو دا خبره اوپيژنئ.

د دویم اذانَ ایجاد

نُودِیَ لِلصَّلٰوةِ: ددے نه مراد اذان د جُمعے دے کله چه امام په منبر باندے د خطبے دپاره کینی، ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښں ددے نه سویٰ بل اذان نهٔ وو، بیا ابوبکر او عمر او علی رضی الله عنهم په کوفه کښں په همدے طریقه روان وو، تردے چه کله د عثمان بن عفان دور خلافت راغلو او خلق زیات شو او کورونه وړاندے شول، نو هغه په زَوْرَاء بازار کښں بل اذان زیات کړو، نو کله چه به خلقو هغه اذان واوریدو نو هغوی به مسجد طرفته راروان شول تردے چه کله به خطیب په منبر باندے کیناستو نو دویم اذان به ئے وکړو۔

دا اذان د ضرورت په وخت باندے یو خلیفه راشد شروع کړے وو، دے ته بدعت وئیل صحیح نهٔ دی ځکه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی:

[عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ مِنْ بَعْدِيْ]

(ابو داود فی السنة باب ٥ والترمذی فی العلم باب ١٦)

لیکن د کوم ضرورت په بنیاد چه شروع شوے وو نو د هغه ضرورت رعایت ضروری دے، اُوس کله چه هغه ضرورت ختم دے، خلقو سره گینتیے، موبائلے شته، وختونه پیژندلے شی، دارنگه لاوډ سپیکرے موجودے دی، نو د رسول الله ﷺ او ابوبکر او عمر او علی رضی الله عنهم سنت باندے عمل کول ډیر لائق دی۔

لهذا کوم خلق چه پدے زمانه کښں اول اذان کوی او هیڅ ضرورت ورته نشته، نو دوی نه د رسول الله ﷺ سنت او د خلفاءِ راشدینو سنت پاتے کیږی ځکه چه هغه ضرورت پدے زمانه کښں ختم دے، البته که داسے زمانه راشی چه د خلقو نه گینتیے موبائلے، او لاوډ سپیکرے ختمے شی، نو بیا به د عثمان رضی الله عنه په دے طریقه عمل کولے شی۔

مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ: مِنْ په معنیٰ د فِیْ سره دے، لیکن په حرف د مِنْ راوړو کښں اشاره ده چه د ورځے د جُمعے په بعض حصه کښں دا اذان دے چه هغه وخت د ظهر دے، د ټولے ورځے د جُمعے اذانونه مراد نهٔ دی۔

فَاسْعَوْا: یعنی کوشش وکړئ/ لاړ شئ د الله ذکر ته چه هغه د جُمعے مونځ او خطبه ده۔ په سعی سره ئے تعبیر وکړو، او سعی په اصل کښں منډے وهلو ته وئیلے شی، او

مانځه ته د راتللو په وخت کښ د منډې وهلو نه په حديث کښ منع راغلې ده، نو ددې نه مراد کوشش او اهتمام دې، يعنې د جُمعې د ورځې اهتمام به کولې شي، سهار نه به غسل کوي، صفائي به کوي، خوشبوئي به لګوي، او بيا به وختي مانځه ته ځي، او امام ته به نزدې کيني۔

څوك چه د جُمعې د ورځې اهتمام نۀ کوي بلکه نا وخته خطبې له راروان وي، په دکانونو يا خوبونو کښ مشغول وي، نو دې په (فَاسْعَوْا) امر باندې عمل کونکې نۀ دې۔

او حسن بصريؒ وائي چه دې ته سعي بِالْقَلْبِ وَالنِّيَّة وئيلې کيږي۔ لکه چه په سورة اسراء (١٩) او سورة نجم (٣٩) او سورة الليل (٤) آيت کښ راغلې دي۔ يعنې په زړۀ او نيت سره منډه وهه۔

وَذَرُوا الْبَيْعَ : د بيع نه مراد سوداګري ده، نو اخستل خرڅول دواړو ته شامل دې۔

هرکله چه د خطبې په وخت کښ خرڅول ناروا دي، نو اخستل به خامخا ناروا وي، دارنګه که دکاندار او سوداګر سامان بند کړي نو اخستونکي به خود بخود بند شي۔

او پدې کښ هر هغه شے هم داخليږي چه تا د جُمعې د مانځه او خطبې نه غافل کوي، نو هغه به حرام وي لکه روستوئې تعميم کړيدې، ﴿وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا﴾۔

لهو ډير عام لفظ دې، پدې کښ خوب، دکانداري، هسې ګرزيدل، کرکټ، ډاکټري، داخليږي، دا هر څه د جُمعې د خطبې په وخت کښ حرام دي۔

د جُمعې مونځ هر ځاى کيږي۔

فائده : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خطاب ټولو مؤمنانو ته دې، لږ وي که ډير۔ په ښارونو کښ وي او که په کلو او باندو کښ وي۔ نو دا آيت ښکاره دليل دې چه د جُمعې مونځ دپاره هغه شرطونه ضروري نۀ دي کوم چه فقهاء کرامو په خپلو اجتهاداتو سره ذکر کړيدي چه مصر جامع به وي، او خاص عدد به وي او امام اعظم به وي، او حمام وغيره به وي، او لوهاران او ترکاڼان او قصابان به وي بلکه د جُمعې مونځ په هر ځاى کښ کيږي، کلې وي او که بانده او که ښار وي۔ دوه کسان وي او که درې کسان او که ډير وي، دې ټولو ته دا خطاب متوجه دې۔

علامه شوکانيؒ ليکي : د الله په کتاب او په سنت د رسول الله ﷺ کښ هيڅ يو حرف

نشته چه دلالت وکړي په صحت د هغه شروطو کومو چه دے علماؤ ذکر کړيدی، بلکه دا ټول د علماؤ آراء دی چه هيڅ صحيح دليل ورسره نشته. آه.
البته د احنافو محققينو هم دا رأيه غوره کړيده چه د جُمعے مونځ په هر ځای کښې کيږي، علامه آلوسیؒ پدے باندے کتاب ليکلے دے.
فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ: اُوس الله تعالیٰ د ايمان والو سره نور احسان کوی، د دنيا د کارونو اجازه ورکوی، او په دينی او دنياوی معاملاتو کښې د دوئ رهنمائی کوی، فرمائی چه کله تاسو د مانځه نه فارغ شئ نو په خپل کاروبار کښې لګيا شئ، او د رزق تالاش کولو دپاره هر ممکن کوشش کوئ، او په هر حال کښې الله يادوئ چه هغهٔ ستاسو په هر قدم باندے لاربښوونه کړے ده، هيڅ کله د هغهٔ د ياد نه غافله کيږئ مهٔ، ځکه د هرے کاميابئ راز په همدے کښې دے.
وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللهِ: فضل الله يواځے دنيا طلب کولو ته نهٔ وائی بلکه دا تجارت، د بيمار عيادت کول، ملاقات د ورور مسلمان، او طلب د علم او د جنازے حاضريدو ټولو ته شامل دے. دارنګه په نيك عمل کولو او د ګناهونو نه ځان ساتلو کښې چه د الله سره کوم اجرونه دی هغه طلب کړئ.
وَاذْكُرُوا اللهَ: علماؤ ليکلی دی چه د جُمعے د مانځه نه روستو د ذکر زيات اهتمام پکار دے ددے آيت د وجه نه. سعيد بن جبيرؒ به د جُمعے د مانځه نه روستو بيا د جُمعے د مازيګر نه تر مابنامه پورے د الله په ذکر کښې مشغول وو، او هيچا سره به ئے فضول خبرے نهٔ کولے. د الله ددے امر تعظيم به ئے کولو. او پدے کښې د جُمعے د مازيګر وخت اهتمام ته هم اشاره ده.

وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا: شان نزول

ددے آيتِ کريمه د نازليدو د سبب په باره کښې بخاریؒ او مسلمؒ اونورو د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روايت کړے دے چه يو ځل نبی کريم ﷺ د جُمعے خطبه ورکوله چه يوے تجارتی قافلے د خوراك څښاك سامان بار کړے وو، او مدينے ته را اورسيده.
صحابه کرام رضی الله عنهم چه کله خبر شول نو يو يو د جومات نه بهر وتل تردے چه صرف دولس سړی پاتے شول، چه په هغے کښې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم وو، نو

دا آیت نازل شو۔ رسول الله ﷺ وفرمایل :

[لَوْ تَتَابَعْتُمْ حَتّٰى لَا يَبْقٰى مِنْكُمْ اَحَدٌ لَسَالَ بِكُمُ الْوَادِيْ نَارًا]

که تاسو ټول وتلی وے نو په تاسو به دا کنده د اُور نه روانه شوے وے۔

(مسند ابی یعلی : ١٩٧٩/٣/٤٦٨) باسناد صحیح وشعب الایمان ٣/١٠٧/٣٠١٩) باسناد حسن مرسل)

ابوداوُدّ په [کتاب المراسیل] کښې د مقاتل بن حیانؒ نه روایت کړی دی چه د مدنی ژوند په شروع کښې نبی کریم ﷺ د جُمعے مونځ د دواړو اخترونو غونته د خطبے نه مخکښې کولو، یو ځل داسے اوشو چه رسول الله ﷺ د جُمعے د مانځه نه پس خطبه ورکوله چه یو سړے جومات ته راغے، او وے وئیل چه دِحیَه بن خلیفه تجارتی مال راوړے دے، دے آوریدو سره خلق یو یو د جومات نه بهر را اووتل، صرف یو څو کسه پاتے شول۔

د قافلے د راتلو نه پس د صحابه کرامؓ نه چه کومه غلطی اوشوه، په دے باندے الله تعالیٰ دوئ ملامته کړل او یو شکایتی انداز کښې ئے د دوئ تربیت وکړو چه کله دا خلق څۀ تجارتی قافله یا د لهو او لعب سامان اُووینی، نو تیزئ سره دے طرفته ورمنډه کړی او تا په منبر باندے ولاړ یواځے پریدی۔ تۀ دوئ ته اُووایه چه ستا د خطبے د آوریدو او ددے نه د نفع حاصلولو چه کوم اجر او ثواب دے، هغه د لهو او لعب او تجارتی نفع نه ډیر زیات بهتر دے۔ او تۀ دوئ ته دا هم اووایه چه الله تعالیٰ د هر چانه بهتر روزی ورکونکے دے، دے وجے نه دوئ له د هغه خیر او برکت حاصلولو کوشش کول پکار دی کوم چه د الله سره دے، او د روزئ معامله الله ته حواله کول پکار دی۔

اِنْفَضُّوا اِلَيْهَا : ١- تَفَرَّقُوْا خَارِجِيْنَ اِلَيْهَا۔ یعنی دوی خوارۀ شی چه وتونکی وی هغے ته۔ ٢- مبردؒ وائی : مَالُوْا اِلَيْهَا۔ هغے ته ورمائل /کاږۀ شی۔

وَتَرَكُوْكَ قَائِمًا : دا دلیل دے چه خطیب به خطبه په ولاړه وائی، او همدا د سُنت نبوی نه ثابت دے۔ جناب کعب بن عجره ؓ مسجد ته راغلو او عبد الرحمن بن ام الحکم په ناسته خطبه وئیله نو.وے فرمایل :

[اُنْظُرُوْا اِلٰى هٰذَا الْخَبِيْثِ يَخْطُبُ قَاعِدًا وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى ﴿ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوَا نِ انْفَضُّوْا اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَائِمًا﴾]۔

(دے خبیث ته وګورئ چه په ناسته باندے (د جُمعے) خطبه وائی، او حال دا چه الله

فرمائی: او کله چه دوی وینی یو تجارت یا تماشه نو لاړ شی هغې ته او تا لره ولاړ پریدی۔ (صحیح مسلم: ۲۰۳۸)

مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ: د الله سره اجر ځکه د لهو او تجارت نه بهتر دے چه هغه یقینی او همیشه دے، په خلاف د لهو او د تجارت نه چه د لهو فائده یقینی نهٔ ده، او د تجارت فائده همیشه نهٔ ده۔ لهو، تماشے او هر مشغوله کونکی شی ته وئیلے شی۔

وبالله التوفیق

امتیازات د سورة الجمعه :

١- د رسول الله ﷺ رالیږلو ته د ټولو خلقو ضرورت بیان شو۔

٢- د یهودیانو په درے دعوو باندے رد وشو۔

٣- د یهودو سره د مباهلے اعلان وشو۔

٤- د جُمعے د مانځه اذان، آداب او احکام بیان شول۔

ختم شو تفسیر د سورة الجمعه په ٢٩ شعبان ١٤٣٧ هـ موافق: ٥/٦/٢٠١٦ء

یوم الاحد بجه: ١٠:٠٠



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (۱۱)	(٦٣) **سورة المنافقون مدنية** (١٠٤)	رکوعاتها (٢)

سورة المنافقون مدنی دے، په دے کښې یولس آیتونه او دوه رکوع دي.

تفسیر سورة المنافقون

نوم : دے سورت تـه سورة المنافقون وائی، ځکه چه ټول بحث په کښې د منافقانو نه شویدے.

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکلی چه دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے. ابن مردویهؒ او بیهقیؒ د ابن عباس ﷺ نـه روایت کړی دی چه سورۀ المنافقون په مدینه کښې نازل شوے وو. مفسرینو لیکلی دی چه دا سورت په شعبان (٥) هجری کال کښې د غزوۀ بنی المصطلق نه په واپسئ کښې په لاره یا مدینے ته د رسیدو نه پس نازل شوے وو.

مناسبتونه

١ - مخکښې د دین ترقی په قوت د علم سره ذکر شوه، اُوس د دین ترقی په مال باندے ذکر کیږی. لکه مخکښې ذکر شو.

٢ - اَلَّذِيْنَ يَنْفَضُّوْنَ عَنِ الرَّسُوْلِ هُمُ الْمُنَافِقُوْنَ فَلَا يَجُوْزُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ التَّشَبُّهُ بِهِمْ. د رسول الله ﷺ نه چه څوك اوړی هغه منافق وی، نو اے مؤمنه ! تهٔ د هغوی سره تشبیه مهٔ کوه.

مقصد د سورت

اَلزَّجْرُ لِلْمُنَافِقِيْنَ بِاَوْصَافِهِمُ الْخَبِيْثَةِ وَتَحْذِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ ذٰلِكَ .

منافقانو ته د هغوی په ناکاره صفتونو باندے رټنه بیانیږی، او مؤمنانو ته د هغے نه یره ورکوی چه د هغے نه ځان وساتی.

اوله ركوع كښې د منافقانو بد صفتونه او هغوى ته رټنې او دويمه ركوع كښې مؤمنان د هغوى نه يره ول دى۔

منافقانو كښې درې بد صفتونه دى په آخر كښې راځى۔

د سورت شان نزول

ددې سورت د تفسير پيژندلو نه مخكښې، د سورت شان نزول پيژندل ضرورى دى، چه د امام بخارىؒ، ابن اسحاقؒ او د ابن جريرؒ د روايتونو په مدد سره دلته ليكلې كيږى۔

د نبى ﷺ د هجرت نه مخكښې د اَوس او خزرج قبائل د خپلو اُوږدو جنگونو نه تنگ راغلل، او آخر په دې خبره متفق شو چه د خزرج قبيلې مشهور سردار عبد الله بن اُبى ابن سلول خپل بادشاه جوړ كړى، او ددهٔ په قيادت او سردارئ كښې ټول په يوځاى د آرام زندگى تيره كړى، ليكن كله چه د مدينې مسلمانانو د هجرت نه وړاندې د نبى كريم ﷺ په لاس بيعت وكړو چه تاريخ دا د بيعتِ عقبه په نوم پيژنى، د كوم نه پس چه هغوئ نبى ﷺ ته مدينې ته د راتلو دعوت وركړو، او هغه مدينې ته راغې، او تمام انصارِ مدينه د هغهٔ نه گير چاپيره راجمع شول، او د عبد الله بن اُبى خوب نيمگړې پاتې شو،

نو ددهٔ په زړهٔ كښې د نبى ﷺ او د اسلام خِلاف دشمنى پريوته۔ دې وجې نه اگركه دهٔ د حالاتو د تقاضې مطابق په ظاهره كښې اسلام قبول كړو، ليكن په پټه باندې د يهوديانو او كافرانو سره ملاؤ شو، او د نبى كريم ﷺ او د اسلام خلاف سازشونه به ئې كول۔

د بدر د غزا نه پس چه كله د بنى قينقاع يهودو د ښكاره بې لوظئ د وجې نه نبى ﷺ په هغوئ باندې حمله اوكړه نو دا كس د هغوئ د حمايت دپاره اودريدهٔ۔

د اُحُد د غزا په موقع هم دهٔ ښكاره غدارى اوكړه، او عينِ وقت كښې ئې خپل درې سوه سوارهٔ واخستل او د ميدانِ جنگ نه واپس لاړ۔

په (٤) هجرى كال چه كله نبى كريم ﷺ په بنى نضيرو (يهوديانو) ورروخاتهٔ، او د دوئ علاقه ئې محاصره كړه، نو دهٔ دغه يهوديانو ته پيغام اوليږلو چه تاسو مضبوط اوسيږئ، مونږ تاسو سره يو، اوكه د مدينې نه د وتلو نوبت راغې نو مونږ به هم تاسو سره اوځو۔

دې واقعاتو نه پس د مدينې عامو مسلمانانو ته ددهٔ د منافق كيدو يقين راغلې وو، ليكن

د حالاتو تقاضا دا وه چه دا اونۀ چیرلے شی، دے دپاره چه د نبی کریم ﷺ او د صحابه کرامو داخلی دشمنانو سره نښتته اُونشی، او خارجی دشمنانو ته په مدینه باندے د حملے کولو موقعه ملاؤ نشی۔

په شعبان (۵) هجری کال کښې چه کله د بنی المصطلق غزا اُوشوه، نو عبد الله بن اُبی هم د منافقانو د یوے ډلے سره مجبورًا شریك شوے وو۔ نبی کریم ﷺ په دے غزا کښې په کافرانو باندے د فتح حاصلولو نه پس د [المریسیع] نومے کوهی خواته پړاؤ اچولے وو، د عمر بن خطاب ﷺ د خادم جَهْجَاهِ غِفَاری ﷺ او د سِنان بن وَبْرَه جُهنی حلیف بنی عوف بن الخزرج ﷺ ترمینځه جګړه اوشوه، دواړو د کوهی نه اُوبه راویستلے نو جهجاه مهاجر ډیر خوش طبع وو، نو د خوش طبعیٔ د وجه نه ئے سنان انصاری ته په کناتو کښې لته ورکړه، هغه غصه شو چه تا زمایے عزتی وکړه نو جګړه شوه او خبره زیاته شوه۔

جُهنی انصارو ته آواز اوکړو، او جهجاه مهاجرینو ته۔ دواړه ډلے نزدے وه چه انختی وے نو پدے کښې رسول الله ﷺ خبر شو او موقعے ته ورسیدو نو وے فرمایل: (دَعُوْهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ) دا بد بویه کلمه مۀ استعمالوئ چه په خپل قوم تعصب کوئ او خپلو قومیانو ته آوازونه کوئ۔ بلکه تاسو ټول د یوے کلمے ورونه یئ۔

نو دواړو ډلو خپل مینځ کښې خپیمانه شول چه دا خو د شیطان وسوسه وه، او یو بل ته ئے د محبت غاړے ورکړے۔

عبد الله بن اُبی خبر شو، او ذ موقعے نه د فائدے پورته کولو لپاره ئے انصارو او منافقانو ته ووئیل چه آیا دوی اُوس دا کار کریدے، دا هر څۀ ستاسو خپل عمل دے۔ تاسو دے خلقو له په خپل ملك کښې ځای ورکړو، په دوئ مو خپل مالونه تقسیم کړل، تردے چه اوس دا خلق مضبوطیدو سره خپله زمونږ خِلاف جوړ شو۔ زمونږه او د قریشو ددے کنګالانو په حالت باندے دا متل صادق شو چه پخوانو عربو وئیلے دے:

(سَمِّنْ كَلْبَكَ يَأْكُلْكَ)

((خپل سپی له خوراك ښبناك ورکړه چاق ئے کړه دے دپاره چه تا اوخوری))۔

تاسو د دوئ نه لاس بند کړئ، یعنی په دوئ باندے خرچ بند کړئ، نو دوئ به پریشانه شی۔ قسم په الله! مدینے ته چه واپس شو نو په مونږ کښې چه څوك عزت والا دے هغه به ذلیل لره اوباسی۔

زید بن ارقم صحابی ﷺ چه یو ورو کے هلك وو، هغهٔ دا ټولے خبرے واوریدے، رسول الله ﷺ خواته راغے او ټولے ئے ورته اوکړے۔ عمر بن خطاب ﷺ هلته موجود وو، هغهٔ نبی ﷺ ته وویل چه تهٔ معاذ بن جبل ته حکم اوکړه چه هغه عبد الله بن اُبی اووژنی۔ نبی ﷺ وفرمایل: عُمر! داسے نهٔ دی کول پکار دے دپاره چه خلق دا اونهٔ وائی چه محمد (ﷺ) خپل ملګری وژنی۔

عبد الله بن اُبیّ ته چه کله معلومه شوه چه نبیٰ کریم ﷺ ته ددهٔ د فتنے اچولو پته لګیدلے ده، نو په منډه باندے د هغهٔ خواته راغے او سراسر دروغ ئے وویل چه ما دا خبره نهٔ ده کړے۔ او قسمونه ئے وکړل او دومره چالاکی ئے وکړه چه رسول الله ﷺ د زید بن ارقم تکذیب وکړو، چه کیدے شی تهٔ به غلط شوے ئے۔

پدے کښ زید بن ارقم ﷺ ډیر زیات غمجن شو چه رسول الله ﷺ زما تکذیب وکړو نو تر قیامته پورے به زما څوك تصدیق نکوی، دروغجن به راته وائی۔ ترهٔ ورته وویل چه تا ولے رسول الله ﷺ دا خبرے کولے، چه اُوس پریشانه شوے۔ نو زید وائی چه زهٔ دومره پریشانه شوم چه آسمان او زمکه راباندے یو شول تردے چه مونږ مدینے ته راغلو نو الله دا آیتونه نازل کړل، او ما پسے رسول الله ﷺ جواب راولیږلو چه دلته راشه او وے فرمایل: يَا زَيْدُ قَدْ صَدَّقَ اللّٰهُ أُذُنَكَ۔ اے زیده! الله ستا د غوږ تصدیق وکړو۔

دے واقعے نه پس رسول الله ﷺ هلته نه فوراً روان شو، په لاره کښ چه کله نبی ﷺ اُسید بن حضیر ﷺ ته دا خبره اُوښودله، نو هغهٔ ووئیل: اے د الله رسوله! قسَم په الله! که چرے تهٔ غواړے نو هغه د مدینے نه اوباسه۔ قسَم په الله! هغه ذلیل دے، او تاسو عزت والا ئے۔ (صحیح بخاری فی التفسیر: ۴۹۰۳ وغیره)

په مزه مزه دا خبره په تمامو انصارو کښ خوره شوه، او په دوئ کښ د عبد الله بن اُبیّ په خِلاف سخته غصه پیدا شوه۔ چنانچه کله چه دا قافله مدینے ته داخلیدله نو د عبد الله بن اُبیّ ځوی چه د هغهٔ نوم هم عبد الله ﷺ وو، توره را اوښکله او د پلار مخے ته راغے، وے وئیل: تا وئیلی وو چه مدینے ته رسیدو سره به عزت والا ذلیله اوباسی، اُوس به تاته معلومه شی چه عزت ستا دے او که د الله او د هغهٔ د رسول دے۔ قسَم په الله! تهٔ مدینے ته داخلیدے نشے ترڅو چه رسول الله ﷺ تاته اجازت درنهٔ کړی۔

رسول الله ﷺ ته چه کله خبر اوشو نو هغهٔ صحابو ته ووئیل: عبد الله ته اُووایه چه

خپل پلار کورته پریدی۔
بیا عبد الله ﷺ وفرمایل: هرکله چه د الله د رسول ﷺ امر دے نو زهٔ کورته لاړ شه۔
او په روایت د ترمذیؒ کښې دي: څوی ورته وویل:
[وَاللهِ لَا تَنْفَلِتُ حَتّٰی تُقِرَّ اَنَّكَ الذَّلِيْلُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْعَزِيْزُ فَفَعَلَ]
قسم په الله تهٔ کورته نشے تللے تردے چه دا اقرار وکړے چه تهٔ ذلیله ئے او رسول الله ﷺ عزیز دے نو هغه دا کار وکړو۔ (ترمذی: ۳۳۱۵) صحیح)
د ابن اسحاقؒ د روایت مطابق د رسول الله ﷺ مدینے ته د رسیدو نه پس دا سورت نازل شو، چه په دے کښې الله تعالیٰ د منافقانو او د دوئ د سردار عبد الله بن اُبیّ ابن سلول حالات بیان کړل، او د هغوئ د نفاق نه ئے پرده لرے کړه۔
اوس راشئ، چه ددے سورت تفسیر وګورو:

إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ
کله چه راشي تا ته منافقان وائی دوی ګواهی کوو مونږ چه یقیناً تهٔ خامخا رسول
اللهِ وَاللهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ وَاللهُ يَشْهَدُ
د الله ئے، او الله پوهیږی چه یقیناً تهٔ خامخا رسول د هغه ئے او الله ګواهی ورکوی
إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَكَاذِبُوْنَ ﴿۱﴾
چه یقیناً منافقان خامخا دروغژن دی۔

تفسیر: یعنی اے زما نبی! کله چه عبد الله بن اُبیّ ابن سلول او نور منافقان ستا مجلس ته راځی، نو په خپلو ژبو سره د خپل اسلام اظهار کوی، او تا ته د دهوکے درکولو دپاره وائی: مونږ ګواهی کوو چه تهٔ د الله رسول ئے۔ الله تعالیٰ اووئیل: الله پیژنی چه تهٔ د هغهٔ رسول ئے، برابره خبره ده که منافقان ددے ګواهی ورکوی یا نهٔ ورکوی، او الله ګواهی ورکوی چه منافقان په خپله ګواهئ کښې دروغژن دی، د دوئ باطن د دوئ د ظاهر مطابق نهٔ دے۔
وَاللهُ يَعْلَمُ: دا جمله مینځ کښې ځکه وائی که روستو جمله ورسره ملاؤ کړی نو بیا د

(اِنَّكَ لَرَسُوْلُ الله) تکذیب راځي۔

اِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَكَاذِبُوْنَ: ١- فِي الْبَيَانِ۔ د دغه خبرے په بیان کښې دروغجن دی۔

٢- او دپاسه ئے پرے قسمونه هم وکړل نو په دغه قسمونو کښې دروغجن دی۔

٣- فِيْ تَسْمِيَةِ قَوْلِهِمْ شَهَادَةً۔

پدے کښې دروغجن دی چه خپلے دروغجنے خبرے ته ئے د شهادت نوم ورکړو، ځکه چه شهادت خو دے ته وائی چه د خولے خبره او د زړه تصدیق برابر وی او دوی (اِنَّكَ لَرَسُوْلُ الله) په خوله وائی لیکن په زړه کښې ئے دا خبره نشته۔ نو په واقع کښې د زړهٔ او خوله لاره ئے برابره نهٔ ده۔

٤- فِي الْمَشْهُوْدِ بِهٖ فِيْ زَعْمِهِمْ:

دوی په خپل زعم کښې دروغجن دی، یعنی د دوی په نیز هم (اِنَّكَ لَرَسُوْلُ الله) د واقع نه خلاف دے، او خلاف د واقع نه دروغ وی۔ یعنی د دوی په عقیده کښې هم دا خبره ده چه مونږ چه اِنَّكَ لَرَسُوْلُ الله وایو نو دا دروغ دی۔ (تلخیص)

اِتَّخَذُوْا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللهِ اِنَّهُمْ
دوی نیولی دی قسمونه خپل ډهال نو (خلق) منع کوی د لارے د الله نه یقیناً دوی
سَاءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ آمَنُوْا ثُمَّ
بد دی هغه عملونه چه دوی ئے کوی۔ دا پدے وجه چه دوی ایمان راوړو بیا ئے
كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٣﴾ وَاِذَا
کفر اُوکړو نو مهر اُووهلے شو په زړونو د دوی نو دوی نهٔ پو هیږی۔ او کله چه
رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا
اُووینے تهٔ دوی لره تعجب کښې به اچوی تا لره بدنونه د دوی او که دوی خبرے کوی،
تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ط
تهٔ به غوږ ایږدے خبرو د دوی ته، گویا که دوی لرگی دی تکیه کړے شوی،

يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ
گمان کوی د هرے چغے په ځان باندے، هم دوی دشمنان دی، نو ځان اوساته د دوی نه،
قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٤﴾
هلاك دِے کړی دوی لره الله تعالیٰ، کوم طرف ته اړولے کیږی.

تفسیر: د دوی نور عیبونه بیانیږی: دوئ خپل دروغژن قسمونه ډهال جوړ کړے دے چه ددے په ذریعه دوئ خپل ځان او خپل اهل او عیال د قید او قتل او د مؤمنانو د زورنے نه بچ کوی. خپله د زړۀ نه په اسلام باندے عمل نۀ کوی، او د مدینے په معاشره کښ د اسلام او د نبی کریم ﷺ خِلاف شکوك او شبهات خوروی، او خلق په اسلام کښ د داخلیدو نه بندوی، او څوك چه په اسلام کښ داخل شوی دی، هغوئ جهاد ته د تلو او د نیکئ د نورو کارونو نه منع کوی.

خلقو ته دا ښکاره کوی چه دوی مسلمانان دی، او د هغوی خیر خواه دی، نو ددے په وجه خپله هم د الله د لارے نه واوړیدل او نور خلق ئے هم منع کړل.

حقیقت دادے چه د دوئ دا ټول کارونه ډیر زیات خطرناك دی.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ: یعنی د دوی بد عمل او دروغ وئیلو سبب د دوی منافقت دے چه اول خو ئے په الله باندے د ایمان راوړو په ژبه باندے اقرار وکړو، بیا په شك او شبهه کښ اخته شول او منافقان جوړ شول. او ددے نفاق اولنئ سزا دوئ له الله دا ورکړه چه د دوئ په زړونو ئے مهر ولګولو، ددے نه ئے د فهم او تدبر صلاحیت واخستۀ، او د دوئ زړونو طرفته تلونکے ټولے لارے ئے بندے کړے.

آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا: یعنی دوئ اول کښ ایمان په ژبه راښکاره کړو بیا ئے د کفر کارونه وکړل نو مرتد شول، نو الله تعالیٰ د دوئ په زړونو مهر ووهلو نو دوی ئے د هدایت نه محروم کړل. یا ددے نه مراد کثرت او تکرار دے، یعنی هر وخت کښ ایمان ښکاره کوی، نو بیا د کفر کار کوی.

فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ: دوئ په خبره نۀ پو هیږی نو ځکه دروغ هم وائی، دروغو قسمونه هم کوی او بد عملونه هم کوی، او خلق هم د الله د لارے نه اړوی.

یا دا چه هر کله چه په دوی باندې مهر وو هل شو نو دوئ د فقاهت نه محروم شو۔ فقاهت د حق او د باطل ترمینځ د تمییز کولو علم ته وئیلې شي۔

وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ: پدې کښې د منافقانو پنځه صفات ذکر کیږي۔

تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ: یعنې د دوئ بدنونه غټ غټ دي، او ښائسته او صحت والا دي۔

عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : ابن سلول جسیم (لوی جسم والا) روغ رمټ، فصیح او چالاکې ژبې والا وو، او ددهٔ څه منافقان ملګري هم دغه شان وو، او دوئ د مدینې رؤساء مشران خلق وو، دوی به د نبی کریم ﷺ مجلس ته حاضریدل، او په هغې کښې به ئې دیوالونو ته تکیه لګولې وه، او نبی کریم ﷺ او نور حاضرین به د دوئ شکلونو ته کتل نو تعجب به ئې کولو۔

او پدې کښې اشاره ده چه دوئ هر وخت د بدن په اصلاح کښې او په قسم قِسم خوراکونو کښې مشغول دي، روحاني غذاء ته توجه نهٔ کوي۔

یا دا چه د دوئ خو ظاهري شکل او شباهت ډیر مزیدار دے لیکن انتهائي ضعیف، بزدله او حریصان او بے صبره دي۔ (ابن کثیرؒ)

وَإِنْ يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ: یعنې د دنیا په خبرو کښې ډیر فصیح بلیغ دي، آوریدونکو کښې کشش پیدا کوي، لکه په سورة بقره (٢٠٤) آیت کښې ذکر دي، او د قَوْلِهِمْ نه مراد د دنیا د څیزونو په باره کښې خبرې کول دي څکه چه ﴿يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ (سورة الروم: ٧) د دنیا په ظاهر باندې ډیر ښه پو هیږي۔

كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُسَنَّدَةٌ: (ګویا که دوی تکیه کړې شوي لرګي دي)۔ یعنې دوئ د پو هې او سوچ او د هر قِسم روحاني فائدې نه داسې خالي دي لکه هغه لرګي چه هغه دیوال ته لګولو سره اُودرولې شي، نهٔ دا په څهٔ آبادئ کښې لګیدلي وي، او نهٔ بل کوم شئ کښې استعمال شوي وي، یعنې خالص بیکاره وي۔

داسې لرګې دننه ډډ وي (یعنې مینځ ئې تش وي) کمزورې وي، او یو طرف ئې لوند او بل طرف ئې اُوچ وي، د آبادئ او د فائدې د څیزونو جوړولو دپاره صلاحیت نهٔ لري، او ظاهر کښې غټ ښائسته ښکاره کیږي، بعینه همدا حال د منافقانو د جسمونو دے چه دا د حقیقي روح او د ژوند نه خالي دي، او هیڅ فائده پکښې نشته۔

اَیْ اِنَّهُمْ اَشْبَاحٌ بِلَا اَرْوَاحٍ وَاَجْسَامٌ بِلَا اَحْلَامٍ۔

دوی هسے جثے دی بغیر د روحونو نه، او بدنونه دی بغیر د عقلونو نه۔

د دوئ تشبیه ئے د لرگو سره د ډیرو وجو نه ورکړیده او ټولے وجے صحیح دی۔

(۱) یو تشبیه په قِلَّةُ الۡفَهۡم کښ ده۔ لرگے په څه نۀ پو هیږی نو دوئ هم دغه شان ناپو هه او بے عقله خلق دے۔ (۲) تشبیه په عَدَمُ الۡاِنۡتِفَاع کښ ده۔ دغه لرگی نه فائده نشی اخستے کیدے نو دغه شان د منافقانو نه هیڅ فائده نۀ ملاویږی۔

(۳) اَلۡاِتِّکَاءِ فِیۡ مَجۡلِسِ الرَّسُوۡلِ ۔ د رسول الله ﷺ په مجلس کښ به د تکیه په طریقه بے ادبه وران او غافل او متکبرانه انداز کښ کیناستل۔

ددے نه معلومه شوه چه په دینی مجالسو کښ داسے ناسته د منافقت ناسته ده، ددے نه یره پکار ده۔ بلکه ادب نه کار اخستل پکار دی۔

(٤) تشبیه په عَدَمُ الۡعِبَادَةُ او عَدَمُ الۡخُشُوۡع کښ ده۔ یعنی دوی هسے لرگی دی چه د الله هیڅ بندگی او هغۀ ته په کښ هیڅ خشوع نشته، وچ لرگی دی۔

یَحۡسَبُوۡنَ کُلَّ صَیۡحَةٍ عَلَیۡهِمۡ : پدے کښ اشاره ده چه سره د غټ والی د بدنونو او د چالاکئ د زړیے نه ډیر بزدل دی۔ (یعنی گمان کوی په هره چغه باندے چه دا په مونږ باندے ده)

صَیۡحَةٍ: نه مراد اعلان دے، یعنی کله په معاشره یا معسکر کښ د ورك شوی شی اعلان وشی چه دا به چا اخستے وی، نو دوی گمان کوی چه دا به مونږ یادوی، ځکه چه غل ته خپل ځان معلوم وی۔ پښتانۀ وائی : ((د غل په گیره خس وی))۔

دوئ هره خبره په ځان راړوی ځکه چه په زړۀ کښ تګ دے، د مؤمن په زړه کښ دا نۀ تیریږی ځکه چه هغه د زړه نه صفا وی، نو وائی چه ما باندے به خلك ولے داسے غلط گمان کوی۔

۲- د صیحه نه مراد آیتونه او وحی هم ده، یعنی دوئ هر وخت یریږی چه پته نشته کله الله تعالیٰ په خپل نبی باندے وحی نازلوی، او د دوئ پرده لرے کوی، د دوئ د قید او قتل حکم به ورکوی، او د دوئ مالونه او د دوئ اولاد به هغوئ دپاره حلال جوړوی، ددے وجے نه په هر آواز باندے د دوئ غوږونه لك ځك شی، او بیدار اودریږی چه چرته د دوئ په باره کښ د الله حکم خو نۀ دے راغلے۔ او دا داسے جامع لفظ دے چه په هره موقعه کښ

د منافق د حال سره مناسب دے۔ که په بیان کښې یوه اصلاحي خبره وشي، نو دوئ وائي چه دا مونږ یادوي۔ که د کافرانو بدی ذکر کیږي، نو دوئ وائي چه مونږ یادوي۔

هُمُ الْعَدُوُّ : اُوس الله خپل نبي ﷺ ته فرمائي : چه دا منافقان ستا پاخهٔ دشمنان دي، ځکه چه دوي هغه خبرے رابنکاره کوي چه کومے ئے په زړه کښې نهٔ وي۔ دا خلق د زړهٔ نه ستا د دشمنانو ملګري دي، او هر وخت په انتظار کښې وي چه کله به په تا او مسلمانانو باندے مصیبت نازلیږي۔

فَاحْذَرْهُمْ : یعني د دوئ په باره کښې په هوښیارتیا او بچاؤ کښې وسیږه چرته دوي ستا نه فرصت مونده نکړي، یا ستا په رازونو باندے خبر نشي ځکه چه دوئ ستا د دشمنانو کفارو جاسوسان دي۔

قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ : اُوس ورته ښیرے کوي : یعني الله تعالیٰ دِے دوئ تباه کړي۔ او په دوي دِے لعنت وکړي۔

أَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ : یعني د ایمان د دلیلونو نه روستو دوي د حقے لارے نه څنګه لرے روان دي، قرآن نازلیږي، رسول الله ﷺ خلقو ته تعلیم ورکوي، او د دعوتي کوششونو ښهٔ آثار د مومنانو په اقوالو او افعالو او اخلاقو او فکرونو باندے ښکاره کیږي، لیکن د زړهٔ دے ړندو ته هیڅ هم په نظر نهٔ راځي۔

وَإِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ
او کله چه اُووئیلے شي دوي ته راشئ چه بخنه اُوغواړي تاسو لره رسول د الله،
لَوَّوْا رُؤُوْسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٥﴾
تاؤ کړي سرونه خپل او وینے به تهٔ دوي لره چه اوړي به او دوي ځان لوئي ګنړونکي
سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ
وي۔ برابره ده په دوي باندے بخنه غواړے تهٔ دوي لره او که بخنه نهٔ غواړے دوي لره
لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفَاسِقِيْنَ ﴿٦﴾
هیچرے بخنه نهٔ کوي الله تعالیٰ دوي ته یقیناً الله هدایت نهٔ کوي قوم نافرمانو ته۔

تفسير : د ذکر شوي واقعې نه روستو او ددې آيتونو د نازليدو نه روستو څۀ خلقو عبد الله بن اُبَیّ له مشوره ورکړه چه د رسول الله ﷺ خواته لاړ شه، معافي اوغواړه او نبي ﷺ ته درخواست اوکړه هغه به تا دپاره د الله نه د مغفرت دعاء اوکړي، نو هغۀ کبر او غرور سره خپل څټ تاؤ کړو او وې وئيل چه:

[أَمَرْتُمُوْنِيْ أَنْ أُوْمِنَ فَآمَنْتُ، وَأَمَرْتُمُوْنِيْ أَنْ أُعْطِيَ زَكَاةَ مَالِيْ فَأَعْطَيْتُ، فَمَا بَقِيَ إِلَّا أَنْ أَسْجُدَ لِمُحَمَّدٍ] ((تاسو خلقو ماته د ايمان راوړو اُووئيل، ما ايمان راوړو، د زکاة ورکولو مو راته اووئيل، ما زکاة ورکړو، اُوس خو محمد ته صرف سجده کول پاتې دي))

(ابن جرير الطبري: ٣٤٤٧٥)

نو لاندينى څلور آيتونه نازل شول، چه په دې کښې د منافقانو د سردار او د هغۀ پشان د نورو منافقانو حال بيان شوې دې.

تَعَالَوْا : دا د عُلُو نه ماخوذ دې په هغه ځاى کښې استعماليږي چه ترقئ او اُوچتوالي طرفته دعوت وي، نو د رسول الله ﷺ مجلس ته راتلل او د هغه دعا او استغفار غوښتل لويه مرتبه حاصلول دي. يعني پورته راشئ د خپلې غلطئ نه اُوچتې مرتبې ته.

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ: لَیّ مخ او څټ تاوول دي په طريقه د نفرت او سرکشئ سره.

يَصُدُّوْنَ : يعنې مخ اړوي/ اعراض کوي د وينا د دغه ويونکي نه. يا اعراض کوي د رسول الله ﷺ نه.

سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ : الله وفرمايل: چه دا خلق د بخنې د غوښتلو لائق نۀ دي. اګرکه د دوئ خپلوان يا رسول الله ﷺ دا غواړي چه دوئ دپاره بخنه وغواړي.

لَنْ يَّغْفِرَ اللهُ لَهُمْ: يعنې ترڅو چه دوئ په منافقت باندې وي نو الله ورته بخنه نۀ کوي، او کله ئې چه د خپل فسق او نفاق نه توبه کړه نو بيا ورته الله تعالىٰ بخنه کوي.

الْفَاسِقِيْنَ: کامل نافرمان چه د الله او د رسول د طاعت نه وتونکي وي، او په خپل فسق باندې هميش والې کوي، فاسقانو کښې منافقان په طريق اولىٰ سره داخل دي، خاصکر عبد الله بن اُبَیّ خو هغه دروغژن دې چه ددۀ د رګ رګ نه نِفاق او شرارت راوځي.

هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ
دا هغه کسان دي چه وائي دوى خرچ مۀ کوئ په هغه چا چه د رسول الله (ﷺ) سره

حَتّٰى يَنْفَضُّوْا وَ لِلّٰهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ
دی تردے چه خوارۀ به شی (ددۀ نه) او خاص الله لره خزانے د آسمانونو او د زمکے دی
وَلٰـكِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٧﴾ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ
لیکن منافقان نۀ پو هیږی۔ وائی دوی که چرته واپس شو مونږ مدینے ته
لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ وَ لِلّٰهِ الْعِزَّةُ
خامخا اُوباسی به عزتمند ددے نه ذلیل لره او خاص الله لره عزت دے
وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰـكِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٨﴾
او رسول د هغۀ لره او مؤمنانو لره لیکن منافقان نۀ پو هیږی۔

تفسیر : د دوئ د فسق/ یا د الله تعالیٰ د هدایت نه د محرومیدو یو علت دا دے چه دوئ داسے گنده خبرے کړیدی۔

يَقُوْلُوْنَ: یعنی دوئ خپلو انصارو مخلصو مسلمانانو ته ووېل کوم چه د دوی سره په ظاهره کښې په قومیت کښې ملگری وو او د دوئ په منافقت باندے خبر نۀ وو۔

يَقُوْلُوْنَ ئے مضارع راوړه اشاره ده چه د دوی دا وینا صرف یو ځل نۀ وه بلکه په آینده کښې هم وخت په وخت دوی داسے غلطے خبرے کوی۔

لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ : یعنی د مکے په دے فقیرانو باندے خرچ کول بند کړئ تردے چه دوی ددۀ نه خوارۀ شی، او خپل وطن ته لاړ شی، او په خپلو مخکنو کارونو کښې مصروف شی۔

نو الله تعالیٰ دا منافقان رټی او فرمائی چه د آسمانونو او زمکے د خزانو مالك خو الله دے، هم هغه چه چاته غواړی روزی ورکوی،، بیا دا منافقان څنگه دعویٰ کوی چه که دوئ په صحابه کرامو باندے خرچ ونۀ کړی، نو ټول به د لوږے نه پریشانه شی، او د محمد (ﷺ) د خوانه به تیتو پره شی۔

حقیقت دا دے چه د منافقت د بیمارئ د وجے نه د منافقانو په ذهن کښې دا خبره نۀ راځی چه په اصل کښې عزت او غلبه او سربلندی خو د الله، د هغۀ د رسول، او د مومنانو

دپاره دے، لیکن منافقان د خپلے کور مغزئ په سبب ددے حقیقت د موندلو نه کوتاه دی۔ د منافقانو او د کفارو دا گمان دے چه گنے رزق مونږ ورکوو، او مؤمنان به د رزق د تنګئ د وجه نه رسول الله ﷺ او ایمان پریدی۔

هُمُ الَّذِيْنَ : مخکښ آیت کښ ئے د دوئ بخل بیان کړو نو دلته وائی چه دوئ مال سبب د عزت گنړی۔

لَـئِنْ رَّجَعْنَا: دا واقعه د غزوه د بنی المصطلق نه په واپسئ کښ راغلے وه چه دے ته غزوه د مریسیع هم وائی۔

لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ : همیشه منافقان معیار د عزت نهٔ پیژنی، اهل حقو ته ذلیله وائی، او ځانونو ته عزتمند وائی، حال دا چه د هغه د حق دین دشمنان وی او بیا هم ځان دپاره عزت غواړی۔

دلته د دوئ مقصد د اَعَز نه عبد الله بن اُبی ابن سلول وو چه دا مالداره وو او د اذل نه مراد ئے رسول الله ﷺ وو، او دا صریح کفر دے۔

وَ لِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ : یعنی عزت د الله په اختیار کښ دے، او هغه متصف په عزت دے، او دارنګه رسول الله ﷺ او مؤمنان متصف بِالْعِزَّةُ دی۔ دوی ته الله تعالیٰ ورکړیدے۔ د ایمان د فوائدو نه یو دا ده چه انسان ته عزت ملاویږی۔

ددے وجه نه اهل علم فرمائی : (بِقَدْرِ اِيْمَانِكَ تَعْتَزُّ) د خپل ایمان په اندازه به تهٔ عزتمن کیږے، څومره چه دِے ایمان وی هغومره به عزتمن ئے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ
اے ایمان والو! غافله دِے نهٔ کړی تاسو لره مالونه ستاسو او نهٔ اولاد ستاسو د ذکر د الله
وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ﴿٩﴾ وَأَنْفِقُوْا مِنْ مَّا
نه او چا چه وکړو دا کار نو دا کسان هم دوی تاوان والا دی۔ او خرچ کړئ د هغے
رَزَقْنَاكُمْ مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ
مالونو نه چه درکړی مونږ تاسو ته مخکښ ددے نه چه راشی یو تن ستاسو ته مرگ

فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِيْ إِلٰى أَجَلٍ قَرِيْبٍ فَأَصَّدَّقَ
نو وائي به اے ربه زما ! ولے نۀ روستو کوے ما تر نیتے نزدے پورے نو زۀ به صدقه
وَأَكُنْ مِّنَ الصَّالِحِيْنَ ﴿١٠﴾ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا
وکړم او شم به د نیکانو نه۔ او هیچرے نۀ روستو کوی الله تعالیٰ هیڅ نفس لره
إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١١﴾
کله چه راشي نیټه د هغے، او الله خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر : اُوس ایمان والو ته تحذیر دے د صفاتو د منافقانو نه۔ چه د منافقانو د مشابهت نه ځانونه وساتئ، د منافقانو درے جدا صفتونه دی، یو د الله د ذکر نه غفلت او دویم بخل، او دریم د آخرت نه غفلت۔

ربط :

په مخکنو آیتونو کښ د منافقانو د هغه خرابو عادتونو او خویونو ذکر اوشو چه د هغے په نتیجه کښ دا خلق د الله د یاد نه غافله شوی وو، او اوس مومنانو ته وائي چه ګورئ، تاسو د هغوئ پشان نشئ، او د خپل مال او دولت او د اولاد په ړوند محبت کښ داسے نشئ چه د الله د یاد نه غافله شئ، چه دا په دنیا او آخرت کښ د هر تاوان او تباهئ اولنے سبب دے۔

لَا تُلْهِكُمْ : اِلْهَاء دے ته وائي چه د انسان زړه مشغوله شي۔ او شغل دے ته وائي چه انسان کاروبار هم کوی او الله هم ورته یاد وی، دا ناروا نۀ دے۔

او دا دلیل دے چه د دنیا د مالونو قباحت فِيْ نَفْسِهَا نشته بلکه په هغه وخت به ددے قباحت وی چه د الله د ذکر او د دین نه مانع وګرځي۔

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ: د بعضو په نیز ددے نه مراد فرائض دی، (حسن بصریؒ)

او بعض وائي : جهاد دے۔ او بعض وائي : قرآن مراد دے۔ بعض وائي : طاعت دے۔

غوره دا ده چه دلته اِدَامَةُ الذِّكْر (یعني همیشوالے د ذکر) مراد دے۔

دلته مفسرینو لیکلي دی : اَللّٰهُ اَكْرَمُ مِنْ اَنْ يَّبْتَلِيَ بِالنِّفَاقِ قَلْبًا ذَاكِرًا لِلّٰهِ۔

الله ددے نه ډیر عزتمن دے چه داسے زړه په منافقت باندے اخته کړی چه هغه الله

یادونکے وی۔
وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ: دا اشاره ده ترك د ذكر الله ته په سبب د مال او اولاد سره۔
الْخَاسِرُوْنَ: د تاوان وجه دا ده چه دوئ د لوی الله نه محروم شول، او باقی لره ئے تباه کړو په فانی څیز سره، او عمر (رأس المال) ئے تباه شو۔
وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنَاكُمْ: د منافقانو بل خصلت دا دے چه دوئ د الله دپاره مال نهٔ لګوی۔ نو الله ایمان والو ته فرمائی چه تاسو مالونه ولګوئ مخکښ ددے نه چه تاسو له مرګ راشی، او تاسو د افسوس ورغوی مروړئ، او هغه وخت نهٔ پوره کیدونکے آرزو کوئ، او وایئ چه اے ربه ! تهٔ ماله لږ شان مهلت راکه دے دپاره چه صدقه خیرات اوکړم او د نیکو کارونو کونکو نه جوړ شم۔ دے کښ فرضی زکاة او نفلی صدقات ټول داخل دی۔ خو ظاهر پدے کښ نفلی انفاق دے، مؤمن پدے سره د منافق نه جدا کیږی۔
لولا: لولا استفهامیه دے، یا لو تمنائیه دے او لا زائد دے۔
فَاَصَّدَّقَ: دلته جمله شرطیه پټه ده اَیْ اِنْ اَخَّرْتَنِیْ فَاَصَّدَّقَ ۔ که تا ما ته مهلت راکړو نو زهٔ به خیرات وکړم۔ اَصَّدَّقُ په اصل کښ اَتَصَدَّقُ دے۔ تاء په صاد سره بدله شوه او صاد په صاد کښ مدغم شو۔او اصدق منصوب دے ځکه چه دا جواب تمنی دے او پدے کښ ان ناصبه مقدر راځی۔ ای فان اصدق۔ او پدے ادغام کښ اشاره ده مبالغه کولو ته په صدقه کولو کښ۔یعنی زهٔ به ډیرے صدقے وکړم۔
وَاَكُنْ: دا مجزوم دے عطف دے په محل د (اَصَّدَّق) باندے ځکه چه هغه محلًا خبر د (ان اخبرتنی) دے۔ او جزاء د شرط مجزوم وی۔
مِّنَ الصَّالِحِيْنَ: ددے نه مراد بعض وائی چه مونځ کونکی دی، ظاهر دا ده چه ددے نه مراد نور نیك اعمال دی سوئ د صدقے نه۔ ایمان راوړل، اتباع د سنت کول، د ګناهونو نه توبه ویستل وغیره۔
فائده : مفسر الکیا هرّاسیؒ لیکلی دی : ﴿ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِیَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ ﴾ الآیة دلیل دے چه زکاة د واجبیدو نه پس اداء کول ضروری دی۔
ترمذیؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړے چه چا سره مال وی او هغه حج نهٔ کوی، یا د زکاة واجبیدو نه پس هغه نهٔ اداء کوی، نو هغه به د مرګ په وخت دنیا ته د دوباره واپس کیدو آرزو کوی۔ بیا ئے دا آیت اولوستلو۔ وبالله التوفیق۔

فائده ۲: عبد الله بن عباس ﷺ به وئیل چه هر شے زۀ د قرآن نه معلوموم۔ چا ورته وویل چه د رسول الله ﷺ مرګ د کوم آیت نه معلوم دے؟،
نو هغه وفرمایل چه ددے آیت د سورة المنافقون نه، ځکه چه دلته دا ذکر دی چه د چا نیته پوره شی نو الله تعالیٰ ئے نۀ روستو کوی، او دا درے شپیتم سورت دے، او روستو ترے تغابن ذکر دے، او تغابن معنیٰ ده لوی تاوان نو ما چه وکتل نو پته ولګیده چه غټ تاوان د رسول الله ﷺ مرګ دے، نو پدے کښې د رسول الله ﷺ حالانو ته اشاره ده۔

امتیازات د سورة المنافقون

۱- د منافقانو ګنړ صفتونه۔
۲- مؤمنانو ته تحذیر د صفاتو د منافقانو نه۔
۳- د عبد الله بن ابی ابن سلول منافقانه رویه۔

ختم شو تفسیر د سورة المنافقون په اوله شپه د رمضان ۱۴۳۷ هـ۔ ۶/جون/۲۰۱۶)



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (۱۸)	(٦٤) **سورة التغابن مدنية** (۱۰۸)	رکوعاتها (۲)

سورة تغابن مدني دے، په دے کښې اتلس آيتونه او دوه رکوع دی۔

تفسير سورة التغابن

نوم : دے ته سورة التغابن وائی ۔ د تغابن معنیٰ ده تاوان ښکاره کیدل۔ او دا د قیامت نوم هم دے نو په دغه ورځ به د خلقو تاوان راښکاره شی۔

د نازليدو زمانه : د اکثرو په نیز دا سورت مدنی دے۔ البته ضحاكؒ وائی چه دا مکی دے، او د کلبی وینا ده چه ددے څۀ آيتونه مکی او څۀ مدنی دی۔

نحاسؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت کړے چه سورة التغابن په مکه کښې نازل شوے وو، صرف آخری څو آيتونه د عوف بن مالك اشجعی ﷺ په باره کښې په مدینه کښې نازل شوی وو۔ هغۀ نبی کریم ﷺ ته د خپل ځان سره د خپل اهل او عیال د بد چلنئ ذکر وکړو، نو ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ﴾ نه تر سورت آخره پورے نازل شو۔

مناسبت :

۱– مخکښې د منافقانو بد صفات ذکر شول، نو دلته وائی چه د قیامت په ورځ به ددے خلقو تغابن (نقصان) راښکاره شی۔

۲– د مخکښې سورت په آخر کښې ئے مرګ ذکر کړو، نو دلته وائی چه که څوك کفر کښې مړ شو نو لوی تاوان به ئے راښکاره شی۔

۳– دارنګه مخکښې سورتونو کښې په یهودیانو او منافقانو باندے رد وو، نو پدے

سورت کښې په مشرکینو او په منکرینو د بعث بعد الموت باندې رد دے۔

٤- مخکښې سورت کښې د منافقانو انکار د رسول الله ﷺ نه ذکر شو په طریقه د منافقت سره، نو پدې سورت کښې ترغیب دے ایمان بالرسول ﷺ ته۔

٥- مخکښې سورت کښې ئے وفرمایل: ﴿لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَا اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ﴾۔ نو پدې سورت کښې د هغې علت ذکر کوی په ﴿اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ﴾ او ﴿اِنَّمَا اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ﴾ سره۔

موضوع او مقصد د سورت

اِظْهَارُ غَبْنِ الْكُفَّارِ بِالْكُفْرِ وَفَلَاحُ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالْاِيْمَانِ۔

په کفر کولو سره د کافرانو د تاوان رابنکاره کول، او په ایمان سره د مؤمنانو کامیابی ذکر کوی۔

دا وجه ده پدې سورت کښې د کفر او ایمان لفظ ډیر ذکر دے۔ په اوله رکوع کښې په کفر باندې ردونه ذکر دی، او په دویمه رکوع کښې مؤمنانو ته آداب ذکر دی دپاره د کامیابئ د هغوی۔

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ
پاکی وائی الله لره هغه څۀ چه په آسمانونو او هغه څۀ چه په زمکه کښې دی،
لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
خاص هغۀ لره بادشاهی ده، او خاص هغۀ لره ستاینه ده او هغه په هر شی باندې
قَدِيْرٌ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ
قادر دے۔ خاص الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے یئ تاسو نو بعض ستاسو نه
كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
کافر دی او بعض ستاسو نه مؤمن دی، او الله په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ

بَصِيرٌ ﴿٢﴾ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ
ليدونکے دے۔ پيدا کړی ئے دی آسمانونه او زمکه په حق سره او شکل ئے درکړے
فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿٣﴾
تاسو ته نو ښائسته کړی ئے دی شکلونه ستاسو او خاص هغهٔ ته ورګرځيدل دی۔
يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا
پو هيږی په هغه څهٔ چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی او پو هيږی په هغه څهٔ
تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ وَاللهُ عَلِيمٌ
چه تاسو ئے پټوئ او هغه څهٔ چه تاسو ئے ښکاره کوئ او الله پو هه دے
بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤﴾
په هغه خبرو چه سينو کښې دی۔

تفسیر: په ابتدائی آيتونو کښې د الله عظمت ولے ذکر کوی؟ نو :
اَلْعَظَمَةُ لِرَدِّ الْكُفْرِ وَلِجَلْبِ الْإِيْمَانِ ۔ يعنی د الله عظمت ددے دپاره ذکر کوی چه کفر رد کړی، او د خلقو ايمان راخکاری، يعنی دومره لوی الله دِے موجود وی او بندګان په هغه باندے کفر کوی، او ايمان دِے پرے نهٔ راوړی۔
لَهُ الْمُلْكُ: پوره او ټوله بادشاهی د دنيا او د آخرت خاص الله تعالیٰ لرهِ ده، نو دا دليل دے چه په الله تعالیٰ کښې هيڅ صفت د نقصان نشته۔
وَلَهُ الْحَمْدُ : د کمال ټول صفتونه خاص هغهٔ لره ثابت دی، او هغه ئے مستحق دے څکه چه هغه د ټولو نعمتونو ورکونکے دے نو د حمد لائق دے۔
او تسبيح بيانول د هغهٔ حق دے څکه چه هغهٔ کښې هيڅ قِسم عجز او مجبوری نشته بلکه په هر شی باندے کامل قدرت لرونکے دے۔
داسے صفاتو کښې تدبر کولو سره د بنده د الله تعالیٰ سره محبت پيدا کيږی۔
هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ : (۱) مفسر ابو السعودؒ ددے تفسير دا بيان کړے چه الله

تعالیٰ انسانان د تهولو نه په ښهٔ شکل کښ پیدا کړل، په دوئ کښ ئے د علمي او عملي کمالاتو قبلولو صلاحیت کیښودهٔ، په دوئ کښ بعضو د خپل پیدائش د تقاضے خِلاف د حقے کلمے نه انکار اوکړو او کفر ئے غوره کړو، او بعضو د خپل پیدائش د تقاضے مطابق په الله باندے د ایمان لاره اختیار کړه، او په دے باندے روان شو۔

د دوئ د پیدائش تقاضا دا وه چه دوئ ټولو صرف ایمان اختیار کړے وے، او د خپل خالق او مُوجِد د پیدائش د نعمت او د هغهٔ د نورو نعمتونو شکرئے اداء کولے، لیکن دوئ داسے اونهٔ کړل، بلکه په مختلفو ډلو او ګروپونو کښ تقسیم شول۔

(۲) بعض وائی : دلته کفر او ایمان تقدیری مراد دی، یعنی الله تعالیٰ په تقدیر کښ څوك کافر مقرر کړیدے او څوك مؤمن۔ نو خالق او تقدیر کونکے الله تعالیٰ دے، او د کفر او د ایمان کسب کونکے بنده دے۔ اول تفسیر غوره دے۔

فَمِنۡكُمۡ كَافِرٌ : مفسرین لیکی : د مومن نه مخکښ کافر ځکه ذکر شوے دے چه په مکی زندګئ کښ د کافرانو اکثریت وو، او دے وجے نه هم چه د زجر او رټنے مقام ددے تقاضا کوی۔

او بله دا چه په انسانانو کښ اکثر انکار کونکی وی۔ ﴿ وَأَكۡثَرُهُمُ الۡكَافِرُوۡنَ﴾ (النحل : ۸۳)

بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ : یعنی اے خلقو ! الله ستاسو د اعمالو نه ښهٔ خبر دے، یوه ذره هم د هغهٔ نه پټه نهٔ ده، او هغه به خامخا تاسو ته ستاسو د دغه اعمالو مطابق بدله درکوی۔

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالۡأَرۡضَ : الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه د یو خاص غرض او مقصد دپاره پیدا کړی، دائے بے مقصده نهٔ دی پیدا کړی۔

او دا د الله د معرفت دپاره پیدا شویدی، د کفر دپاره نهٔ دی پیدا شوی۔

وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ: یعنی انسانان ئے د تهولو نه په ښائسته شکل او صورت کښ پیدا کړی دی، دوئ له ئے انتهائی درمیانه مزاج ورکړے، د عقل، د خبرو طاقت، د آوریدو طاقت سره ئے پرے پیرزو وکړه، او په مخلوقاتو کښ د تصرف کولو او ددے نه د فائدے حاصلولو صلاحیت ئے ورکړو۔ نو دا ښائسته شکل او صورت بندګان ولے د غیر الله دپاره استعمال کړی او الله ته پرے سجده نهٔ کوی۔

الله تعالیٰ همدا مقصد د سورتِ غافر په (٦٤) آیت کښ داسے فرمائیلے دے :

﴿ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ ﴾

(اوهغهٔ ستاسو شکل او صورت جوړ کړو، نو تاسو له ئې ډیر ښهٔ صورت درکړو، او د روزئ په توګه ئې تاسو له عُمده څیزونه درکړل).

او د سورتِ تین په (٤) آیت کښې ئې فرمایلي دي:

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾

(مونږ انسان په ډیر زیات ښائسته شکل او صورت کښې پیدا کړے). انسان دا ارمان نهٔ کوي چه ددهٔ صورت دې د نورو حیواناتو د شکلونو په شان شوے وے.

فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ: حُسن په اعتبار د باطن او د ظاهر دواړو سره وي، او جمال صرف په ظاهر کښې وي نو په انسان کښې باطني او معنوي صفات او تناسب د اندامونو او سیده قد وقامت داسے دے چه په نور مخلوق کښې نشته.

بعض حکماؤ وئیلي دي چه د دوه څیزونو هیڅ انتهاء نشته، یو جمال (ښائست) او بیان. او بل تصویر او تخطیط او تشکیل.

وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ : یعني په هر صورت کښې د قیامت په ورځ هغهٔ طرفته واپس کیدل دي، دے دپاره چه هغه دوئ ته د نیکو او بدو اعمالو بدله ورکړي. نو بندګانو له پکار دي چه په خپل حسن او صورت باندے تکبر ونکړي بلکه آخرت دِے رایاد کړي.

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ: دا بل دلیل دے، مخکښې صفات د تصرف بیان شو اُوس صفت د علم بیانیږي، او د علم درے کلیات ئې ذکر کړیدي چه هر یو کلي په بے شماره جزئیاتو باندے مشتمل دے.

اول مَا فِي السَّمٰوَاتِ، او دویم مَا تُسِرُّوْنَ او دریم ذَاتِ الصُّدُوْر.

او هر یو د بل نه اخص دے. او دا ئې راجمع کړل پدے کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ علم په جزئیاتو او کلیاتو احاطه کونکے دے، هیڅ شے د هغهٔ د علم نه بهر نشته.

عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ : یعني الله تعالیٰ د سینو په خبرو پوهه دے نو دے وجے نه بندګانو له پکار دي چه دوئ خپل باطن د بدو اخلاقو نه پاك ساتي، او هغه ښائسته اخلاق اختیار کړي چه هغے سره الله خوشحالیږي.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ
آيا نۀ دے راغلے تاسو ته خبر د هغه کسانو چه کفرئے کړیدے مخکښ
فَذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٥﴾ ذٰلِكَ
نو اُوڅکله دوی سزا د کار د دوی او دوی لره عذاب دردناك دے۔ دا پدے وجه
بِأَنَّهُ كَانَتْ تَأْتِيهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالُوا
چه بیشکه دوی ته راتلل رسولان د دوی په ښکاره دلیلونو نو اُووئیل دوی
أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوْا
آیا بندګان دی چه لاره ښائی مونږ ته نو کفرئے اُوکړو او مخ ئے واړولو،
وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٦﴾
او بے پرواهی ښکاره الله تعالیٰ، او الله بے حاجته ستائیلے شویدے۔

تفسیر : اُوس په کفر کولو باندے تخویف دنیوی ذکر کوی۔ چه کفر دومره قبیحه ګناه ده چه پدے سره الله تعالیٰ ډیر انسانان تباه کړیدی۔

آیا تاسو ته د هغوی د هلاکت خبرونه نۀ دی راغلی لکه د نوح علیه السلام عادیان، ثمودیان او د لوط علیه السلام قومونه، څنګه الله تعالیٰ د زمکے نه د هغوئ وجود ختم کړو، او کله چه قیامت راشی نو هغه به هغوئ له دردناك عذاب ورکوی۔

وَبَالَ أَمْرِهِمْ: وبال په اصل کښ ثقل او شدت ته وئیلے کیږی۔ دلته ترے سزا مراد ده، او سزا نه ئے په وبال سره تعبیر وکړو، اشاره ده چه دا سزا داسے محسوس کیده لکه یو درون شے چه محسوس کیږی۔

ذٰلِكَ بِأَنَّهُ: یعنی دا هر څۀ دوئ سره څکه اوشو چه دوئ ته به د الله تعالیٰ پیغمبران په ښکاره او واضحو نښو سره راتلل، نو په تکبر کښ به راغلل او هغه به ئے دروغژن وګڼړل، او هغوئ پورے به ئے د توقو کولو په توګه وئیل چه اوګورئ دوئ ! دا زمونږ غونته انسانان دی، او دعویٰ کوی چه دوئ زمونږ هادی او لارښود دی۔

بیا بـه هـغـوئ د الله د حق پیـغـام، دین او رسول نه انکار اوکړو، او د سرکشئ لاره به ئے اختیـار کـړه، نو الله به هم د دوئ د ایمان او د دوئ د بندګئ نه بے نیازی ښکاره کړه او دوئ بـه ئے هلاك کړل۔ ځکه چه الله تعالیٰ د خپلو تمامو مخلوقاتو او د خپلو بندګانو د ایمان او عـمـل نـه بیـخـی بے نیازه دے، هـغـه د هیـڅ یـو شئ محتاج نهٔ دے، او هر شے د هغهٔ محتاج دے۔

او د تـمـامـو حـمـدونـو او ثناء هغه یواځے حقدار دے، او هر مخلوق په هر حال کښ او په هره طریقه باندے د هغهٔ تعریف بیانوی۔

أَبَشَرٌ: دا اِسم جـنـس دے مـفـرد او جمع دواړو دپاره استعمالیږی، دلته ئے ورته ضمیر د جمع راجع کړیدے۔

فَكَفَرُوا: اَیْ بِالْقَلْبِ۔ یعنی په زړهٔ سره ئے په پیغمبرانو باندے کفر وکړو۔

وَتَوَلَّوْا: اَیْ عَمَلاً۔ او پـه عـمـلـی طـور سره د هغوی نه واوړیدل، د هغوی تابعداری ئے ونکړه۔ او د هغوی په تعلیماتو او بیّناتو کښ ئے هیڅ سوچ ونکړو۔

وَّاسْتَغْنَى اللهُ: اَیْ اَظْهَرَ غِنَاهُ عَنْ اِیْمَانِهِمْ۔ الله خپله غنا (بے نیازی) راښکاره کړه د دوئ د ایمان نه۔

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا قُلْ بَلٰى
ګمان کوی کافران چه هیچرے به دوی راپورته نکړے شی تهٔ ورته اُووایه ! ولے نهٔ
وَرَبِّىْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ
قسم مے دے په رب زما خامخا تاسو به راپورته کولے شئ بیا به خبر درکړے شی تاسو
بِمَا عَمِلْتُمْ وَذٰلِكَ عَلَى اللهِ يَسِيْرٌ ﴿۷﴾
ته په هغه عملونو چه تاسو کړیدی او دا کار په الله باندے آسان دے۔
فَاٰمِنُوْا بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِىْٓ اَنْزَلْنَا
پس ایمان راوړئ په الله او په رسول د هغهٔ او په هغه رنړا چه رالیږلے ده مونږ

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٨﴾
او الله په هغه عملونو چه تاسو ئے كوئ خبردار دے۔

تفسير : پدے آيت كښې زجر دے په انكار د بعث بعد الموت باندے۔ او دا د (فَكَفَرُوْا) كښې د كفر يو صورت دے۔

الله تعالىٰ د كافرانو د كبر او عناد او د دوئ ددے باطل گمان رد كړے دے چه دوئ به دوباره ژوندى نۀ كړے شي۔

او بعض مفسرين وائي چه دا د عاص بن وائل سهمي په باره كښې نازل وو چه د خباب بن الارت رضي الله عنه د قرض نه ئے انكار وكړو او كله چه هغۀ په آخرت سره ويرولو نو عاص ووېل چه اول خو دوباره ژوندى كيدل نشته او كه بالفرض زۀ دوباره ژوندے شوم نو هلته به ستا قرض ادا كړم۔ (مسخرے ئے كولے)۔ لكه چه ددے تفصيل د سورة مريم په آيت (٧٧) كښې ذكر شويدے۔ (قرطبي)

زَعَمَ : زعم اكثر په باطل او دروغو كښې استعماليږي، او په گمان باندے خبره كول، او د علم دعوه كولو دپاره استعماليږي۔

قاضي شُرَيْحٌ وائي: [لِكُلِّ شَيْءٍ كُنْيَةٌ وَكُنْيَةُ الْكَذِبِ زَعَمُوْا] د هر شي كنيت وي او د دروغو كنيت زَعَمُوْا لفظ دے۔ (قرطبي ومفاتيح الغيب والتحرير)

او كله په معنىٰ د نفس قول سره استعماليږي۔

خو كله چه ددے په فاعل باندے يقين نۀ وي، او بے دليله بل چا ته نسبت كوي، نو په هغه وخت كښې به دا كلمه استعمالول منع وي، لكه په روايت د ابوداود كښې دي :

(بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ زَعَمُوْا) (ابوداود : ٤٩٧٢) وصحيح الجامع : ٢٨٤٦)

(د سړي ناكاره سورلى زَعَمُوْا لفظ دے)۔ يعني لكه چه يو تن په سورلئ سره مقصد ته رسيږي نو دغه شان يو تن د خپل كلام نه مخكښې زَعَمُوْا لفظ استعمال كړي پدے سره خپل حاجت ته ځان رسوي، نو رسول الله ﷺ حكم وكړو چه كومه خبره نقل كوئ نو په هغے كښې تثبت او احتياط وكړئ او ترڅو پورے چه يوه خبره او حديث دِے د ثقه (معتمد) انسان نه نۀ وي آوريدلے نو همداسے ئے مۀ نقل كوه۔ (الباني في الصحيحة)

قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ : دا په قرآن كريم كښې ځلورم ځاى دے چه د الله تعالىٰ په ربوبيت قسم

شویدے دپاره د اثبات د بعث۔ الله خپل نبی ته حکم وکړو چه د دوئ د باطل گمان رد وکړي، او د هغوئ په دل او دماغو کښې ددے خبرے اچولو کوشش وکړي چه قیامت به خامخا راځي، او دوئ به دوباره خامخا پورته کیږي، او دوئ له به د دوئ د کړو خبر ورکړے شي۔ او دا کار کول الله تعالیٰ ته نهایتِ آسان دي۔

اولنے آیت د سورتِ یونس (۵۳) ﴿وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ قُلْ إِيْ وَرَبِّيْ إِنَّهُ لَحَقٌّ﴾ دے چه ددے ترجمه ده (او دوئ تانه تپوس کوي چه آیا د آخرت عذاب واقعي حق دے۔ تهٔ اووایه چه هاؤ ! قسم دے زما په رب باندے، هغه واقعي رشتینے دے)۔

او دویم آیت د سورة مریم (۶۸) ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِيْنَ﴾

او قسم دے په رب ستا چه خامخا به دوي راجمع کړم او شیطانان هم۔

او دریم د سورتِ سبا (۳) ﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَأْتِيْنَا السَّاعَةُ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَأْتِيَنَّكُمْ﴾ دے، چه ددے ترجمه ده : (او کافران وائي چه په مونږ به قیامت نهٔ راځي، تهٔ اووایه چه هاؤ ! په رب مے دے قسَم وی ! هغه به په تاسو خامخا راځي)۔

او څلورم دا ځای شو۔

فَآمِنُوْا: هرکله چه د قیامت راتلل، د تمامو انسانانو دوباره ژوندی کیدل، او جزاء او سزا یقیني ده، نو څه کول پکار دي؟ نو الله تعالیٰ ایمان ته ترغیب ورکوی چه د نقصان او تاوان نه بچ شي۔

نو اے خلقو ! ستاسو دپاره په همدے کښې ښیګړه ده چه په الله، د هغهٔ په رسول، او په قرآن کریم ایمان راوړئ چه دا کامله رڼا ده چه دا رڼا به د کفر او ناپوهئ تِیَرے بیخي ختمے کړي، او ددے په دولت سره به انسان په نیغه لاره بیغمه روان وی چه دهٔ لره به دا جنتِ الفردوس ته اُورسوی۔

وَالنُّوْرِ الَّذِيْ: ددے نه مراد ټوله وحی او خصوصًا قرآن کریم دے چه ددے په ذریعه د تیارو د گمراهئ او د جهل نه خلاصے حاصلیږي۔

او دلته ئے په قیامت باندے ایمان ذکر نکړو ځکه چه قرآن کریم باندے ایمان راوړو سره په قیامت او جزاء او سزا باندے هم ایمان راځي۔

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ
په هغه ورځ جمع به کړي تاسو ورځ د جمع کولو ته دا ورځ د نقصان ښکاره کيدو ده
وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُكَفِّرْ
او چا چه ايمان راوړو په الله باندے او عمل ئے وکړو د سنت مطابق نو وبه رژوی
عَنْهُ سَيِّئَاتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ
د هغۀ نه گناهونه د هغۀ او داخل به ئے کړي جنتونو ته چه بهيږي به
مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٩﴾
لاندے د هغے نه ولے هميشه به وي په هغے کښ هميشه، دا کاميابی لويه ده۔
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ
او هغه کسان چه کفر ئے کړيدے او دروغژن گنړي آيتونه زمونږ دا کسان اُور والا دی
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٠﴾
هميشه به وي پدے کښ او بد دے ځائے د ورگرځيدو۔

تفسیر : اُوس د قيامت د ورځے زياتی تفصيل کوی، او ددے تعلق د پورتنو دواړو آيتونو سره دے چه په هغے کښ دا بيان شو چه د قيامت په ورځ به انسان له د هغۀ د اعمالو خبر ورکړے کيږی۔ نو فرمائی چه په دے ورځ به الله تعالیٰ تمام انسانان راجمع کړی کوم چه د انسانيت د پيدائش نه واخله تر دنيا ختميدو پورے په دنيا کښ موندلے کيږی۔ يعنی د ايمان او د نيك اعمالو پوره فائده به په قيامت کښ راښکاره کيږی۔

يَوْمَ: دا منصوب دے په (اُذْكُرْ) سره۔

لِيَوْمِ الْجَمْعِ : دا د قيامت د ورځے يو نوم دے ځکه چه پدے ورځ کښ به ټول اولين او آخرين تمام انسانان او پيريان او زمکے او آسمانونو والا او انبياء عليهم السلام او د هغوی امتونه، او ظالمان او مظلومين، او ټول اعمال جمع کيږی لکه دا صفت ئے په

سورۃ هود (۱۰۳) او سورۃ الواقعه (۵۰) آیت کښې ذکر دے۔
يَوْمُ التَّغَابُنِ: دا د غَبن نه ماخوذ دے، په لغت کښې د قیمت نقصان ته وئیلے کیږي، کله چه یو انسان یو قیمتي شے په کم قیمت خرخ کړي نو خلق وائي: فلاني غبن وکړو۔ یعنی دا ورځ ده د نقصان ورکولو۔ نو د تغابن معنیٰ ده :
اَیْ یَتَغَابَنُ فِیْهِ السُّعَدَاءُ الْاَشْقِیَاءَ بِاِیْرَاثِ مَنَازِلِهِمْ ۔ نیك بخته خلق به بدبختانو ته نقصان ورکړي، پدے طریقه چه د جهنمیانو دپاره په جنت کښې کوم مقامات مقرر شوي وو هغه به ترے جنتیان واخلي۔ نو نقصان به ورکړي۔ (القرطبي، والطبري)
۲- دویم تغابن کښې معنیٰ د اظهار ده۔ یعنی دا ورځ ده د تاوان راښکاره کیدو۔
اَیْ یَظْهَرُ فِیْهِ غَبْنُ الْکَافِرِ وَیَظْهَرُ غَبْنُ الْمُؤْمِنِ غَیْرِ الْمُحْسِنِ۔
پدے ورځ به د کافر غبن راښکاره شي چه د ایمان نه محروم شو او د مؤمن چه مُحسن نهٔ وي د هغه غبن به پکښې راښکاره شي چه ولے ئے اُوچتے درجے ونهٔ گټلے۔
(قرطبي وغیره)
حکمة: ذلك یوم التغابن: د قیامت ورځے ته ئے صرف د تغابن ورځ ووئیله ؟ (لکه چه د مبتداء او خبر د تعریف نه حصر فهمیږي) وجه دا ده چه د آخرت نقصان کامل نقصان دے، چه د هغے جبیره او تدارك نهٔ کیږي او دنیا کښې اگرکه نقصانونه شته لیکن هغه کامل نقصان نهٔ دے، د هغے تدارك کیدے شي۔
فائده: امام قرطبيؒ د حسن او قتادهؒ نه نقل کړیدي چه هغوي وئیلي دي: مونږ ته رارسیدلي دي چه تغابن به په درے قسمه خلقو کښې وي۔
(۱) یو هغه سړے چه علم ئے زدهٔ کړیدے او بل ته ئے بیان کړیدے لیکن خپله ئے پرے عمل نهٔ دے کړے نو دے پدے سره بد بخته شو۔ او چا چه ددهٔ نه زده کړیدے هغه پرے عمل وکړو نو هغهٔ پرے نجات ومندو۔
(۲) هغه سړے چه مال ئے د مختلفو لارو نه پیدا کړو بیا ددهٔ نه د هغے سوال کیږي مگر دے پرے بخل کوي او د خپل رب په طاعت کښې د مال په وجه کوتاهي کوي او په هغے کښې خیر خیگړه نهٔ کوي، او وارث ته ئے پریدي چه په هغهٔ باندے ددے حساب (هم) نهٔ وي مگر هغهٔ پدے مال کښې د الله تعالیٰ طاعت وکړي۔
(۳) هغه سړے چه د هغهٔ یو غلام وي نو هغه د خپل رب طاعت وکړي نو نیك بخته

شي او مالك ئې د رب نافرماني وکړي نو بد بخته شي۔ (تفسير القرطبي)

وَمَنْ يُؤْمِنْ : اُوس وائي چه د غبن نه به څنګه بچ کيږو ؟ نو الله ترغيب ايمان او عمل صالح ته ورکوي چه پدې سره بچاؤ راځي، ددې وجه نه دے ته ئې فوز عظيم وئيلے دے۔

د نبي کريم ﷺ يو صحيح حديث دے :

[لَا يَدْخُلُ اَحَدٌ الْجَنَّةَ اِلَّا أُرِیَ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ لَوْ أَسَاءَ لِيَزْدَادَ شُكْرًا، وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ اِلَّا أُرِیَ مَقْعَدَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ لَوْ أَحْسَنَ لِيَكُوْنَ عَلَيْهِ حَسْرَةً] (بخاری : ٦٥٦٩)

چه کله يو بنده جنت ته داخل کړے شي نو هغهٔ ته به په جهنم کښې د هغهٔ هغه مخصوص ځائے اوښودلے شي، چه په دے کښې که هغهٔ بد عملونه کولے نو داخليدلو به، دے دپاره چه د الله زياتي شکر اداء کړي۔

او کله چه کوم بنده جهنم ته داخل کړے شي نو دهٔ ته به په جنت کښې ددهٔ مخصوص ځائے اوښودلے شي چه په دے کښې به دے که دهٔ ښهٔ اعمال کولے نو داخليدلو به، دے دپاره چه ددهٔ افسوس او نا اميدي نوره هم زياته شي۔

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا : پدے آيت کښې د قيامت په ورځ د کافرانو د شقاوت او بدبختئ سبب بيان شوے چه کوم خلق په دنيا کښې د کفر لاره غوره کړي، او د الله آيتونه د کبر او عناد د وجے نه دروغژن ګڼړي، په آخرت کښې به د دوئ د اُوسيدو ځاى جهنم وي۔

حکمة : وَمَنْ يُؤْمِنْ ئې په صيغه د مضارع سره او (كَفَرُوْا) ئې په صيغه د ماضي سره ذکر کړو، ددے وجه دا ده چه اول ئې يوم التغابن ذکر کړو،

او اصل تغابن والا خو کافران دي، نو د هغے نه د نجات دپاره ايمان راوړل او عمل صالح کول دي، نو کفر مخکښې دے، او ايمان او عمل صالح روستو حاصليږي، نو تقدير د عبارت داسے دے :

(وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا)

چا چه ايمان راوړو د هغه کسانو نه چه کفرئے کړيدے۔

او د وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا مطلب دا دے (وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ مِنْهُمْ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ) چا چه د دوئ نه ايمان نهٔ دے راوړے نو دغه کسان اُور والا دي۔

مَا أَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ وَمَنْ يُّؤْمِنْ

نۀ رسیږی هیڅ مصیبت مګر په حکم (تقدیر) د الله تعالیٰ سره او چا چه ایمان راوړو

بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾

په الله باندے کلك به کړی زړۀ د هغۀ، او الله په هر شی باندے پو هه دے۔

وَأَطِيْعُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ

او تابعداری کوئ د الله او تابعداری کوئ د رسول نو که چرته اُوګرځیدئ تاسو

فَإِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾ اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ

نو یقیناً په رسول زمونږ رسول ښکاره دی۔ الله تعالیٰ چه دے نشته حقدار د بندګئ

إِلَّا هُوَ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾

سویٰ د هغۀ نه او خاص په الله باندےدے ځان اُوسپاری مؤمنان۔

تفسیر : پدے آیتونو کښ مؤمنانو ته آداب ورکوی چه کله مصیبت راشی، نو دا د الله په اذن سره راغلے وی، نو په الله توکل کوئ، صبر نه کار اخلئ۔

او تقدیر ته اشاره ده چه په تقدیر ایمان ولرئ چه مصیبتونه درته آسان شی۔

او دا د (فَآمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ) سره متعلق دے په طریقه د جواب د سوال سره۔

سوال دا دے چه په توحید و اتباع د قرآن او سنت کښ ډیر مصیبتونه راځی، نو د هغے علاج څه دے؟

حاصل د **جواب** دا دے چه هر مصیبت د الله تعالیٰ د طرفنه مقرر وی، نو هرکله چه په چا باندے مضیبت راشی، نو دا عقیده دِے وساتی چه دا د الله تعالیٰ په تقدیر سره دے، نو پدے سره به د هغۀ زړۀ مضبوط شی او په هدایت باندے به کلك شی۔

شان نزول

څینو مفسرینو ددے آیتِ کریمه د نازلیدو سبب د مکے د کافرانو دا وینا بیان کړے دے :

[لَوْ كَانَ مَا عَلَيْهِ الْمُسْلِمُوْنَ حَقًّا لَصَانَهُمُ اللّٰهُ عَنِ الْمَصَائِبِ فِي الدُّنْيَا فَبَيَّنَ اللّٰهُ تَعَالٰى أَنَّ مَا

أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِيْ نَفْسٍ أَوْ مَالٍ أَوْ قَوْلٍ أَوْ فِعْلٍ، يَقْتَضِيْ هَمًّا أَوْ يُوجِبُ عِقَابًا عَاجِلًا أَوْ آجِلًا فَبِعِلْمِ اللّٰهِ وَقَضَائِهِ] (قرطبی)

چه که د مسلمانانو دین حق وے، نو الله تعالیٰ به دوئ په دنیوی مصیبتونو نۀ اخته کولے۔ الله تعالیٰ د دوئ په جواب کښې وفرمایل چه که مصیبت هر څنګه وی، په نفس کښې وی یا په مال کښې یا په وینا او عمل کښې وی او د هغے په وجه غم راځی یا په جلتئ یا په تاخیر سره سزا راځی نو دا هر یو انسان ته د الله په حکم او د هغهٔ په مشیت (او ارادے) سره رسیږی، په دے باره کښې نیکان او بدان ټول برابر دی، لیکن کوم مومن بنده چه په دے خبره یقین لری چه دۀ ته چه کوم مصیبت اورسیدهٔ، هغه د الله تقدیر او د هغهٔ د مشیت مطابق دے، الله تعالیٰ ددهٔ ایمان زیاتوی، او دۀ ته د زړهٔ سکون ورکوی، او د قیامت په ورځ به دۀ له لوی اجر ورکوی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورتِ زمر په (۱۰) آیت کښې فرمایلی دی:

﴿ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُوْنَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾

(صبر کونکو له به بے حسابه اجر ورکړے کیږی)۔

لیکن کوم بنده چه د صبر لمنه پریدی، د الله په تقدیر راضی نۀ وی، او جزع فزع کوی، الله تعالیٰ دا ددهٔ نفس ته حواله کوی، او د قیامت په ورځ به دۀ له هیڅ بنه بدله نۀ ملاویږی۔

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ: یعنی لکه څنګه چه د ایمان فائده په آخرت کښې شته، نو دغه شان په دنیا کښې هم شته هغه دا چه الله تعالیٰ ئے زړهٔ ته هدایت کوی۔

دلته د هدایت د زړهٔ نه څه مراد دے؟

۱ - نو ابن قُتیبهٔ او کلبیؒ وائی: اِذَا ابْتُلِيَ صَبَرَ، وَاِذَا اُنْعِمَ عَلَيْهِ شَكَرَ وَاِذَا ظُلِمَ غَفَرَ۔ کله چه په دۀ باندے مصیبت راشی صبر کوی، او کله چه پرے نعمت وکړے شی، شکر کوی، او کله چه پرے ظلم وکړے شی معافی کوی۔

۲ - سعید بن جبیرؒ وائی: د مصیبت د راتللو په وخت کښې به اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن وائی۔

۳ - ابن عباس رضی الله عنه وائی: [يَهْدِ قَلْبَهُ لِلْيَقِيْنِ، فَيَعْلَمُ اَنَّ مَا اَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ، وَمَا اَخْطَأَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيْبَهُ] - یعنی زړهٔ ته به ئے د یقین هدایت وکړی، نو دا یقین به ئے جوړ شی چه

کوم مصیبت دۀ ته ورسیدو نو دا نۀ خطاء کیدو، او کوم چه نۀ دے رسیدلے نو هغه دۀ ته نۀ رسیدو۔ یعنی د الله تعالیٰ په تقدیر به ئے یقین پیدا شي۔

٤- یَهْدِ قَلْبَهٗ اِلَی اِتِّبَاعِ السُّنَّةِ۔ (ابو عثمان الحیریؒ)

ددۀ زړه ته به هدایت وکړی اتباع د سنت ته۔

٥- علقمہؒ او ابن مسعود ﷺ وائی :

هُوَ الرَّجُلُ تُصِیْبُهٗ مُصِیْبَةٌ فَیَعْلَمُ اَنَّهَا مِنَ اللّٰهِ فَیُسَلِّمُ لَهَا وَیَرْضٰی۔

یو سړی ته مصیبت ورسیږی نو دا یقین وکړی چه دا د الله د طرفنه دے نو هغے ته غاړه کیږدی او د الله نه راضی شي۔ یعنی د الله په تقدیر باندے راضی کیدل او د مصیبت په وخت کښې په ایمان باندے زړه کلك کیدل مراد دی۔

٦- یَهْدِ قَلْبَهٗ اِلَی الْعَمَلِ بِمُقْتَضٰی اِیْمَانِهٖ وَیَشْرَحُهٗ لِلْاِزْدِیَادِ مِنَ الطَّاعَةِ وَالْخَیْرِ۔

یعنی الله تعالیٰ به ئے د ایمان د تقاضا مطابق عمل طرفته زړۀ مائل کړی۔ او زړۀ به ئے ډیرو عبادتونو او خیرونو کولو ته کولاؤ کړی۔ (قاسمیؒ)

٧- خطیب شربینیؒ وئیلی دی چه کله زړۀ په هدایت باندے پوخ شی نو د هغۀ نه هر باطل اعتقاد او بدعت او خبیث صفات زائل شي۔

نو اول ادب دا شو چه په تقدیر باندے ایمان راوړی۔

وَاَطِیْعُوا اللّٰهَ : دا دویم ادب دے چه د الله او د رسول طاعت به کوی۔ او د الله د رسول په اطاعت سره په بنده باندے مصیبتونه آسانیږی۔

اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ : یعنی مخکښې آیت کښې چه الله تعالیٰ د خپل اطاعت او د خپل رسول د اطاعت حکم ورکړے دے، دا هغه الله دے چه د هغۀ نه سوئ هیڅوك د بندګئ لائق نشته دے، دے وجے نه مومنانو له په هر حال کښې صرف په همدے قادرِ مطلق باندے بهروسه کول پکار دی۔

په توکل باندے ځکه حکم کوی چه پدے سره هر قسم مصیبت آسانیږی، او په باب د دعوت کښې توکل ته انتهائی زیات ضرورت وی۔

الْمُؤْمِنُوْنَ : لفظ د مؤمنون ئے راوړو پدے کښې اشاره ده چه د توکل او د ایمان ترمینځ تلازم دے، ایمان چه پکښې وی نو توکل به وی، او چه توکل وی نو ایمان به وی۔

د ایمان لویه شعبه توکل دے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا
اے ایمان والو! یقیناً بعض د بیبیانو ستاسو نه او د اولادو ستاسو نه دشمنان دی
لَّكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ وَإِنْ تَعْفُوا
ستاسو دپاره نو ځان بچ اُوساتئ د دوی نه او که چرته معاف کوئ تاسو (خطائی د
وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللهَ غَفُورٌ
هغوی) او مخ اړوئ (د ملامته کولو نه) او بخنه کوئ نو یقیناً الله بخونکے
رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ط
رحم کونکے دے۔ یقیناً مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دے،
وَاللهُ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾
او الله چه دے خاص د هغهٔ سره اجر لوئی دے۔

تفسیر : دا بل ادب دے۔

شان نزول

د ابن عباس ﷺ نه ددے آیت په باره کښې یو تن تپوس وکړو نو هغهٔ وفرمایل :
[هؤُلَاءِ رِجَالٌ أَسْلَمُوا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ وَأَرَادُوا أَنْ يَّأْتُوا النَّبِيَّ ﷺ فَأَبَى أَزْوَاجُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ أَنْ يَّدَعُوهُمْ أَنْ يَّأْتُوا رَسُولَ اللهِ ﷺ]

دا آیت د بعض هغه مؤمنانو په باره کښې نازل شوے وو چه په مکه کښې ئے اسلام راوړو نو رسول الله ﷺ ته ئے د هجرت اراده وکړه، بیا د دوئ ښځو او بال بچ دوئ لره د هجرت کولو نه منع کړل۔ چه تاسو ځئ مونږ چا ته پریدئ، نو د هغوی د وجه نه په مکه کښې پاتے شول (لکه ډیر کرته زنانه سړی لره د جهاد، علم او نورو اُوچتو مرتبو نه منع کوی)
[فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللهِ ﷺ رَأَوُا النَّاسَ قَدْ فَقِهُوا فِي الدِّينِ هَمُّوا أَنْ يُّعَاقِبُوهُمْ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا الخ﴾]۔

(الترمذی : ٣٣١٧ سورة التغابن، باسناد حسن والطبرانی والحاکم وصححه)

کله چه دوئ مدینے ته راغلل نو وے کتل چه دلته مؤمنانو ډیرے دینی فائدے حاصلے کړے وے، علمونه ئے زده کړی وو، جهادونه ئے کړی وو، او د هجرت په شان لوی فضیلت ئے حاصل کړے وو، او دوی ددے خیرونو نه محروم شوی وو، نو دوی اراده وکړه چه خپلو ښځو او بچو له سزا ورکړی چه د دوئ په وجه ترے ډیر خیرونه او نیك اعمال پاتے شوی وو۔ نو الله تعالیٰ دغه مسلمانانو ته حکم وکړو چه ستاسو دا ښځے او بچی ستاسو دشمنان دی چه تاسو ئے د خیر نه محروم کړی یئ، آینده کښ د دوی سره په هوښیارتیا ژوند تیروئ چه د الله د مرضئ د کارونو نه مو منع نکړی، لیکن اُوس چه څه شویدی نو دوئ معاف کړئ۔

او دا عام قانون دے چه مؤمن چه د ایمان کار کوی نو ډیر کرته ښځه او بچی د هغے دپاره مانع گرځی، نو الله فرمائی چه دا ډیے ستا دپاره مانع ونهٔ گرځی، که وگرځی نو معاف ئے کړئ د الله دپاره لیکن خپله کوشش کوه، هغوی ته ردے بدے مهٔ وایه بلکه ځان هوښیار کړه۔

نو دا هم مسلمانانو ته ډیر ښه ادب شو۔

(۲) قتادهٔ وائی چه دے کښ هغه اولاد او ښځے هم داخل دی چه د اسلام نه ئے منع کوی او دوی کفار وی نو د دوی نه یره وکړئ۔

(۳) عطاء بن یسارؒ وائی: ټول سورت په مکه کښ نازل دے سویٔ ددے آیتونو نه چه دا د عوف بن مالك اشجعی ﷺ په باره کښ په مدینه کښ نازل شوی وو۔

[كَانَ ذَا أَهْلٍ وَوَلَدٍ، فَكَانَ إِذَا أَرَادَ الْغَزْوَ بَكَوْا إِلَيْهِ وَرَقَّقُوهُ، فَقَالُوا: إِلَى مَنْ تَدَعُنَا؟ فَيَرِقُّ وَيُقِيمُ فَنَزَلَتْ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ الخ ﴾]

دے د اهل او اولادو والا وو نو کله چه به دهٔ د جهاد ته د تللو اراده وکړه نو هغوی به ورته ژړا شروع کړه او دے به ئے نرم کړو او دا به ئے ورته وویل: چه تهٔ مونږ چا ته پریدے؟ نو دے به نرم شو او پاتے به شو۔ نو دا آیت نازل شو۔ (ابن جریر الطبری: ۳٤٥۱۷)

عَدُوًّا لَّكُمْ: د بچو او ښځے سره دشمنی عداوة د بغض نهٔ دے بلکه دیته عَدَاوَةُ الْمَحَبَّة وائی۔ یعنی د هغوی د ډیر محبت په وجه هغوی ستاسو دپاره دشمنان گرځی چه د خیرونو او د دینی کارونو نه مو پاتے کوی۔ دے ته بعض هوښیاران خوږ دشمن وائی۔

فَاحْذَرُوهُمْ: یعنی د دوئ سره په احتیاط ژوند تیر کړه او د دوئ د شر نه ځان وساته،

هسے نۀ چه د خیر نه مو محروم کړي۔

مجاهدؒ وائی : [إِنَّهُمَا يَحْمِلَانِهِ عَلٰى قَطِيْعَةِ رَحِمِهٖ، وَعَلٰى مَعْصِيَةِ رَبِّهٖ، فَلَا يَسْتَطِيْعُ مَعَ حُبِّهٖ إِلَّا أَنْ يَّقْطَعَهٗ] (ابن جرير الطبرى : ٣٤٥١٨)

دا دواړه دۀ لره په رشتے قطع کولو باندے راپورته کوی، او د رب په نافرمانئ باندے، نو دے د هغوی د محبت سره بله چاره نۀ لری مگر دا چه رشته به قطع کوی۔ نو ددے خبرے احتیاط ورله پکار دے۔

وَإِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا : اَىْ بَعْدَ مَا هَاجَرْتُمْ ۔ یعنی اُوس چه دِے هجرت وکړو نو ددے نه روستو په مخکنئ گناه باندے بچو او ښځو ته سزا مۀ ورکوه۔ ځکه که اُوس دوی ته سزا ورکړے شی، نو هیڅ فائده پکښ نشته، او اُوس به دِے کورنئ خرابه شی، هسے هم ستا نه جهاد او هجرت پاتے شو خو آینده کښ خپل ځان هوښیار کړه۔

د عفو او صفح او مغفرت فرقونه

تَعْفُوْا: عفو دے ته وائی چه گناه د زړۀ نه وباسی، ورانه ئے کړی۔

او صفح دے ته وائی چه د مخ نه ئے ورانه کړی، وران او په غصه ورته ونۀ گوری۔

او مغفرت دے ته وائی چه د خولے نه هغه وباسی، او هغه ورته بار بار نۀ ذکر کوی۔ او نۀ ئے خلقو ته ښکاره کوی۔

❁ یا بنده د غصے په اول کښ سزا ورکول غواړی په وهلو سره، نو هغے دپاره ئے عفو ذکر کړه، او که عملی سزا نۀ ورکوی نو بیا په خوله سره هغه ملامته کوی، او کنځل او بد رد وائی نو د هغے دپاره ئے صفح ذکر کړه،

او دریم که ملامته کول نۀ کوی، نو بیا د هغه گناه نورو ته ښکاره کوی، نو د هغے دپاره ئے په مغفرت باندے حکم وکړو چه دے کښ معنیٰ د پټوالی ده۔

او دا آداب ددے دپاره بیانوی چه یو خو پدے کښ خوش اخلاقی ده چه د مؤمن سره مناسب ده، او دویم پدے کښ د کورنئ نه فساد ختمیږی۔

إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ : دا بل ادب دے۔ یعنی ستاسو مالونه او اولاد امتحان دے۔

١- يَحْمِلُهٗ عَلٰى قَطِيْعَةِ الرَّحِمِ وَغَيْرِهَا ۔ چه پدے سره په دۀ باندے خپلولی کټ کوی، د

مالونو او د بچو په وجه ځومره کورنو کښې تکبر او لوئی خبرې او د يو بل سره جنګ جګړې پیدا کیږي۔ ډیر خلق د بچو په وجه جهنم ته لاړ شی۔

۲- يَحْمِلُهُ عَلٰى تَرْكِ الْعِبَادَةِ۔ مال او اولاد د عبادت د پریخودو سبب جوړیږي۔ تاسو وګورئ ځومره خلق د مالونو او د تجارتونو په وجه د ډیرو عبادتونو بلکه فرائضو نه محروم دي، فرض مونځ د جمعې سره کولو ته هم وزګار نۀ وي، ټول عمر ئې دا کار وي، دا ځومره لویه فتنه ده۔

د مال او بچو په وجه انسان حرامو ته لاس اچوي، د الله حقوق منع کوي، په لویو لویو ګناهونو کښې اخته کیږي، پردی مالونه غصب کوي، سودونه کوي۔

او دلته ئې (مِنْ) ذکر نکړو لکه مخکښې ئې (مِنْ اَزْوَاجِكُمْ) ذکر کړې وو، وجه دا ده چه مال او اولاد د فتنې نه خالي نۀ دي، زړه پدې دواړو باندې ضرور مشغوله کیږي، ډیر خلق به تاسو وینئ چه د مونځونو په وختونو کښې به ئې بچي په غیږ کښې نیولی وي، او دکاندارته به روان وي چه هغوی له ځیزونه واخلي، او دا فکر ئې نۀ وي چه دا خو د جمعې وخت دې۔ ځومره لویه فتنه شوه۔

او مال ئې په اولاد باندې مخکښې ذکر کړو ځکه چه د مال فتنه زیاته ده، رسول الله ﷺ فرمائي: [لِكُلِّ اُمَّةٍ فِتْنَةٌ وَفِتْنَةُ اُمَّتِي الْمَالُ]

(الترمذی (٢٣٣٦) والحاکم وابن حبان والصحیحة : ٥٩٤)

د هر امت یو فتنه (امتحان) وي او زما د امت فتنه مال دې۔

او دلته ئې ښځه په فتنه کښې ذکر نکړه ځکه چه په بعض اوقاتو کښې ښځه د انسان دپاره د نیکئ او د آخرت د کارونو مددګاره جوړیږي، نیکیو ته ئې راخکاږي۔

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا
نو اُویریږئ د الله نه ځومره چه طاقت وي ستاسو او واورئ خبره او تابعداري کوئ
وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ
او خرچ کوی دا به خیر وي تاسو لره او ځوك چه بچ کړې شو د بخل د خپل نفس نه

فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٦﴾ إِنْ تُقْرِضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا
نو دا کسان هم دوی کامیاب دی۔ که چرته تاسو قرض ورکوئ الله ته قرض ښائسته
يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللهُ شَكُوْرٌ
نو دوچنده به ئے کړی تاسو لره او بخنه به درته وکړی او الله قبلونکے (د عمل) دے،
حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾
صبرناك دے۔ پوهه دے په هر پټ او په ښکاره، زورور دے، حکمتونو والا دے۔

تفسیر : فَاتَّقُوا اللهَ : اُوس ورته دا فرمائی چه تاسو ته چه د الله او د رسول د اطاعت حکم شویدے، او د مال او د اولاد د فتنے نه یره ولے شوئ یئ نو الله‌تعالیٰ ښتاسو نه ستاسو د طاقت نه د زیات یرېدو او د نیك عمل مطالبه نهٔ کوی، بلکه تاسو ته د افراط او تفریط نه بچ کیدو سره د اعتدال لارے اختیارولو حکم درکوی۔

نو اے خلقو ! تاسو چه څومره طاقت لرئ هغومره د الله نه ویریږئ، او د الله اوامر په ښے طریقے سره اُوپیژنئ، او په هغے عمل کوئ، او الله چه تاسو له کوم مال او دولت درکړے، د هغے نه د هغهٔ په لاره کښ خرچ کوئ، په همدے کښ تاسو له خیر او کامیابی ده۔

او یاد ساتئ چه په آخرت کښ کامیابی موندونکی صرف هغه خلق دی چه الله تعالیٰ هغوئ د مال او دولت د سخت لالچ، د هغے د بندگئ او د بُخل د بیمارئ نه بچ کړے وی، چه ددے په نتیجه کښ هغه د الله ورکړے مال د هغهٔ په لاره کښ د خرچ کولو نه ډډه نهٔ کوی۔

په مخکښ آیت کښ اسباب د فتنے ذکر شو چه هغه د گمراهئ اسباب دی، اُوس د هدایت او د دین کارونه ذکر کوی، چه هغه څلور اوامر دی۔

فَاتَّقُوا اللهَ : دا اول امر دے۔ الله تعالیٰ په دوه ځایونو کښ (مَا اسْتَطَعْتُمْ) وئیلے دے، یو په سورة الانفال (٦٠) آیت کښ ﴿وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾

د کافرانو دپاره په وسلو تیارولو کښ،

او بل د تقویٰ په باره کښ، معلومیږی چه دا دواړه څیزونه ډیر ضروری دی۔ نو څومره چه دِے وسه کیږی د الله په حکمونو عمل کوه۔

او دا آیت په اسلام کښې قاعده کلیه ده، او ددې سره هغه حدیث ملګرې کړه :
(وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ)
کله چه زهٔ تاسو ته د يو يې خبرې حکم وکړم نو په هغې باندې د خپل وس مطابق عمل کوئ۔ (صحیح بخاری : ۷۲۸۸)
ددې ډیر مثالونه دی، تقوی دا ده چه مونځ به په ولاړه کوې، که په ولاړه دې وس نهٔ وی نو په ناسته، او که په ناسته وس نهٔ وی نو په ملاسته او په اشاره سره کوه۔
اودس وکړه که اودس باندې طاقت نهٔ وی، نو تیمم وکړه، که فاقد الطهورین وی، نو همداسې مونځ کوه، جامې واچوه، که جامې نهٔ وی نو په بربنډه ئې وکړه۔
نو هر هغه واجب عمل چه د هغې د کولو نه بنده عاجزه شی، دا کار کول ددهٔ نه ساقطیږی، او د کوم عمل په بعضِ حصه چه دې قادر وی، او د بعضِ د کولو نه عاجز پاتې شی، نو هغه به صرف د خپل طاقت او قدرت مطابق د عمل مکلف وی، او باقی به ددهٔ نه ساقط وی۔ لکه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی : (زهٔ چه کله تاسو ته د يو کار حکم اوکړم نو د خپل طاقت موافق په هغې عمل کوئ)۔
وَاسْمَعُوا: دا دویم امر دې په دې کښې علم حاصلولو ته اشاره ده۔
وَأَطِيعُوا: پدې کښې په علم باندې عمل کولو ته اشاره ده۔
وَأَنفِقُوا: څلورم امر۔ په انفاق سره د انسان محبت د دین سره زیاتیږی، او په دین باندې کلکیږی۔
وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ : یعنی څوك چه د خپل نفس د بخل نه وساتلې شو پدې طریقه چه خپل مال د الله تعالیٰ د رضا په ځایونو کښې لګوی، او د الله تعالیٰ دغه مخکنی حکمونو باندې عمل کوی، او نفس ئې ددې نه مانع نهٔ ګرځی نو دا انسان کامیاب دې۔
إِنْ تُقْرِضُوا اللَّهَ: مخکښې ئې په انفاق باندې حکم وکړو نو اُوس انفاق ته ترغیب ورکوی، او انفاق ته ئې د قرض نوم کیخودو دپاره د ترغیب۔
یعنی تاسو چه د الله تعالیٰ په لاره کښې کوم حلال مال هم خرچ کوئ ګویا کښې تاسو الله له قرض ورکوئ، چه هغه به څو چنده زیاتولو سره بیرته تاسو ته واپس کړې شی، او زیاتی په دې به ستاسو ګناهونه هم معاف کړې شی۔
ځکه چه هغه [شکور] دې، د خپلو بندګانو د لږ عمل په عوض کښې ډیر زیات اجر

ورکوی، او هغه [حلیم] دے، په گنا هونو باندے زر نیوکه نهٔ کوی، بلکه د تویے مهلت ورکوی، او هغه د پټو او ښکاره تمامو اعمالو خبر لری،

دے وجے نه د خیر ښیگړے هیڅ یو عمل د هغهٔ په نیز ضائع کیږی نهٔ۔ او هغه ډیر زیات زبردست او لوی حکمتونو والا دے، په هغهٔ باندے هیڅوك غالبه کیدے نشی، او د هغهٔ تمام امرونه او منع کړی څیزونه د حکمت نه ډك دی چه په هغے صرف هغه پوهیږی۔

عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ : دا صفتونه دپاره د تحذیر دی د گناهونو کولو نه چه د الله نه هیڅ څیز پټ نشته۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورت تغابن

۱- د انسانانو دوه ډلو ته تقسیم چه یو کافر او بل مؤمنان۔

۲- د بعث بعد الموت په اثبات باندے په رب قسم وکړے شو۔

۳- د قیامت ورځے ته د تغابن ورځ ووئیلے شوه۔

٤- د بیبیانو او د اولاد او د مال په باره کښ ښکلے آداب بیان شول۔

ختم شو تفسیر د سورة التغابن په اوله ورځ د رمضان ۱٤۳۷ هـ موافق (٦/٦/۲۰۱٦)۔ یوم الاثنین۔ کالام۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

آیاتها (۱۲)	(٦٥) **سورة الطلاق مكية** (٩٩)	رکوعاتها (۲)

سورة الطلاق مدنی دے په دے کښ دولس آیتونه او دوه رکوع دی۔

تفسیر سورة الطلاق

نوم : په (۱) آیت کښ دوه ځله د طلاقو لفظ راغلے، او د ټول سورت موضوع د طلاقو احکام دی، دے وجے نه ددے نوم (سُوْرَةُ الطَّلَاق) کیښودل شوے۔
عبد الله بن مسعود ﷺ دیته سُوْرَةُ النِّسَاءِ الْقُصْرٰی ((وړوکے سورتِ نساء)) هم وئیلے دے۔ (بخاری : ٤٥٣٢)

مناسبت

۱- مخکښ سورت کښ د بعض اَزواجو عداوت ذکر وشو نو پدے سورت کښ په وخت د ضرورت کښ د هغوی د مفارقت شرعی طریقه ذکر کوی۔
۲- مخکښ سورت کښ امر وو په تقوی باندے، نو پدے سورت کښ د تقوی پنځه فائدے ذکر کوی۔
۳- مخکښ سورت کښ هم مؤمنانو ته آداب ذکر وو نو پدے سورت کښ هم ورته داسے آداب او احکام راوړی چه په هغے سره د دوی د کورنۍ خاندانی زندګی برابرېږی۔

موضوع د سورت

۱- تَصْحِيْحُ نِظَامِ الْاُسْرَةِ وَفَوَائِدُ التَّقْوٰى وَاَحْكَامُ الطَّلَاقِ وَالْعِدَّةِ۔ یعنی د کورنۍ نظام برابرول، او د تقوی فائدے او د طلاق او عدت احکام۔
او دا تصحیح ددے نه معلومېږی چه الله تعالیٰ طلاق او تقوی جمع کړیدی، یعنی که کورنۍ ډېر جوړه کړه او تقوی درکښ راغله، ښځه او خاوند دواړه د یو بل حقوق ادا کوی

نو طلاق به نۀ واقع کیږی، او که طلاق واقع هم شی خو چه تقویٰ درکښې وی نو بیا به هم ستاسو پروګرام ښۀ کیږی۔ الله به درله نظام جوړوی۔

په سورت کښې ئے په تقویٰ باندے ډیر زور ورکړیدے، ددے نه معلومیږی چه په کور کښې اکثر انسانان تقویٰ نۀ کوی، اکثر انسانان د خپلو ښځو او بچو او رعیت حقوق نۀ ادا کوی او کور کښې انتشارونه پیدا کوی۔

دغه شان ښځه هم د خاوند حقوق بربادوی نو نظام به نۀ جوړیږی، دا وجه ده په اکثرو کورونو کښې شرونه وی ځکه چه تقویٰ نۀ وی۔

۲– زمونږ شیخ محترم (رستمیؒ) فرمائی : پدے سورت کښې امر دے په رعایت د حدودِ شرعیه ؤ سره عمومًا او په معامله د طلاق او د عدت د زنانو کښې خصوصًا، او دا معنیٰ د تقویٰ ده چه د هغے پنځه فوائد ئے ذکر کړیدی او حدودِ شرعیه په دیارلس اوامرو سره او په درے نواهیو سره ذکر شویدی۔

د سورت اوله رکوع په احکامو د طلاقو او په تقویٰ باندے روانه ده، او دویمه رکوع کښې ئے تهول ترغیب تقویٰ ته ورکړیدے۔

آخری آیت کښې د الله د علم او د قدرت ذکر دے، په هغے کښې حکمة دے چه د دغه علیم او قدیر الله تعالیٰ نه یره پکار ده۔

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ
اے نبی ! کله چه طلاقوئ تاسو ښځے نو طلاق ورکوئ دوی ته په اول د عدت د دوی
وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ لَا تُخْرِجُوهُنَّ
کښې او اُوشمارئ عدت لره او اُویریږئ د الله نه چه رب ستاسو دے، مۀ اُوباسئ دوی
مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ
لره د کورونو خپلو نه او نۀ به اُوځی دوی مګر دا چه راتلل وکړی په بی حیائی
مُبَيِّنَةٍ وَتِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللّٰهِ فَقَدْ
ښکاره باندے او دا پولے د الله دی او څوك چه واوړیدو د پولو د الله نه، نو یقیناً

ظَلَمَ نَفْسَهٗ لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ
دۀ ظلم اُوکړو په ځان خپل باندے، نۀ پو هیږې نفس کیدے شی
اللّٰهَ یُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ﴿۱﴾
چه الله به راپیدا کړی روستو ددے نه یوه خبره۔

تفسیر : یَا أَیُّهَا النَّبِیُّ : دے ته خطاب التَّلْوِیْن وائی۔ (رنګارنګ خطاب) یعنی اے زما نبی ! او اے امته ! تاسو چه کله طلاق ورکوئ۔ الخ۔ ځکه چه دا حکم د رسول الله ﷺ او د ټول امت ترمینځ شریك دے۔

پدے آیت کښ اته جملے دی، او په هره جمله کښ ډیر احکام او شرعی حکمتونه دی۔

طلاق ورکول جائز کار دے، دا د ضرورت په وجه واقع کیږی، نو الله فرمائی چه کله ضرورت راشی طلاق ورکړئ لیکن د حدودو حفاظت وکړئ،

په طلاقو کښ اکثر د حدودو حفاظت نۀ کیږی، خلق درے طلاقه په یو ځل ورکوی، ښځه سمدست شړی، په حالت د حیض کښ هم طلاق ورکوی، د جماع نه روستو طلاق ورکوی۔

حال دا چه شرعی طلاق دا دی چه طلاق به هله ورکولے شی چه انسان په هوش کښ وی، په طهر کښ به طلاق ورکوی، حیض به نۀ وی، او په دغه طهر کښ به ئے جماع نۀ وی کړی۔ یعنی یو ځل به ئے حیض راشی بیا چه د حیض نه پاکه شوه نو دغه وخت کښ به طلاق ورکړی، دے دپاره چه پته ولګی چه ستا د ښځے سره سمه ورانه ده ځکه چه ستا ورته ښه ضرورت هم شته او بیا هم ورسره نزدیکت نۀ کوے، نو ستا طلاق ورکولو ته ضرورت دے۔

بلـه دا چه د طلاقو نه روستو به هغه ستا کور کښ درے حیضه یا درے میاشتے ناسته وی دے دپاره چه ستا ورته بیرته زړه وشی نو رجوع به وکړے او کورنئ برابره کړے۔

فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ : (یعنی د عدت دپاره) نو لام د عاقبت دے، یعنی طلاق چه ورکړئ نو عاقبت به دا شی چه هغوی به عدت تیروی۔

یا لام په معنیٰ د قُبُل سره دے اَیْ فِیْ قُبُلِ عِدَّتِهِنَّ ۔ یعنی د عدت په ابتداء کښ طلاق

ورکړئ. او د عدت ابتداء دا ده چه ښځه د حیض نه پاکه شوه او غسل ئے وکړو نو بیا به طلاق ورکولے شي. نو د عدت نه مراد دلته طهر دے.

یا لام په معنیٰ د توقیت سره دے. یعنی په وخت د عدت کښې طلاق ورکړئ.

شان نزول

(۱) ځینو مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت نازل شویدے په باره د طلاق د عبد الله بن عمر ﷛ کښې چه هغهٔ خپلے ښځے ته په حالت د حیض کښې یو طلاق ورکړو نو رسول الله ﷺ ورته حکم وکړو چه رجوع ورته وکړی بیا دِے ئے ځان سره وساتی، تردے چه پاکه شي بیا ئے حیض راشي بیا پاکه شي نو بیا که طلاق ورکول غواړی نو په حالت د طهر کښې دِے ورکړی مخکښې د جماع کولو نه، نو دا هغه عدت دے چه الله تعالیٰ امر کړیدے چه ددے دپاره دِے زنانو ته طلاق ورکړے شي. (قرطبی) وصحیح مسلم (۱٤۷۱۹)

(۲) ابن ابی حاتمؒ وغیره د انس بن مالك ﷛ نه روایت کړی دی چه نبی کریم ﷺ حفصے رضی الله عنها له طلاق ورکړو، نو هغه خپلے مور پلار کره لاړه، بیا دا آیت نازل شو، او نبی ﷺ ته ووئیلے شو چه [لَا تُطَلِّقْهَا فَاِنَّهَا صَوَّامَةٌ قَوَّامَةٌ وَاِنَّهَا زَوْجَتُكَ فِي الْجَنَّةِ]

هغه حفصه واپس واخلی، ځکه چه هغه روژه داره او تهجد گذاره ده، او په جنت کښې به ستا د ښځو نه وی.

هیثمیؒ په مجمع الزوائد (۲٤۸/۹) کښې لیکلی دی چه دا حدیث بزار او ابو یعلیٰ روایت کړے، او د ابو یعلیٰ د سند روایان د صحیح بخاری راویان دی.

(صحیح الجامع : ۵۱٤۳) والصحیحة ۱۷/۵) یرتقی الی درجة الحسن)

امام قرطبیؒ وائی : پدے کښې ډیره صحیح خبره دا ده چه دا ابتدائی شرعی حکم دے او خاص سبب د نزول ته محتاج نهٔ دے.

په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ اول نبی کریم ﷺ او بیا د هغهٔ امت مخاطب کړے او فرمایلی ئے دی چه اے مسلمانانو ! کله چه تاسو د څهٔ ضروری خبرے د وجے نه خپلو ښځو له طلاق ورکول وغواړئ، نو په دے باره کښې د الله د اوامرو لحاظ ساتلو نه بغیر فورًا طلاق مهٔ ورکوئ، بلکه د مشروعے طریقے مطابق طلاق ورکوئ،

یعنی په داسے [طهر] کښې طلاق ورکوئ چه په هغے کښې تاسو د هغوئ سره کور والے

نهٔ وی کړې، دې دپاره چه د هغوئ د عدت موده واضحه او معلومه پاتې شي۔ ځکه که تاسو هغوئ له د حیض په حالت کښې طلاق ورکړئ، نو دا حیض به په عدت کښې نهٔ شمارلې کیږي، او د هغوئ د عدت زمانه به اُوږده شي۔

دغه شان که تاسو هغوئ له په داسې (طهر) کښې طلاق ورکړئ، چه په هغې کښې مو هغوئ سره کوروالې کړې وي، نو کیدې شي چه حمل نښتې وي، او معلومه به نشي چه ددې د عدت دپاره به د حیض اعتبار وي یا د ماشوم د پیدا کیدو۔

د طلاق اقسام

حافظ ابن کثیرؒ فرمائي: ددې آیت نه فقهاؤ د طلاق اقسام راخستي دي چه سنت طلاق دا دې چه په داسې حال کښې طلاق ورکړي چه د حیض نه پاکه وي، او جماع ئې ورسره نهٔ وي کړي لکه مخکښې بیان شو۔ یا حامله وي چه حمل ئې ښکاره شوې وي۔

او بدعت دا دې چه طلاق ورکړي په حالت د حیض کښې، یا په طهر کښې چه جماع ئې ورسره کړې وي، او نهٔ پوهیږي چه حامله ده او که نهٔ ده؟۔

او دریم قسم طلاق نهٔ سنت دې او نهٔ بدعت دې چه هغه طلاق د ماشومې یا د هغه بوډئ چه نا امیده وي۔ یا غیر مدخول بِهَا وي یعني لا اوسه پورې د خپل خاوند سره ملاؤ شوې نهٔ وي۔ (ابن کثیرؒ)

د طلاق بدعي د واقع کیدو په باره کښې اختلاف

د طلاقِ بدعي په باره کښې د علمائے اسلام دوه رائې دي: د جمهورو خیال دې چه طلاق واقع کیږي، او د شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ، د هغهٔ د شاګرد امام ابن القیمؒ او د اکثرو محدثینوؒ رائې داده چه طلاق بدعي حرام دي، او واقع کیږي نهٔ۔

دارنګه د دوئ رائې دا هم ده چه که یو کس په یو مجلس کښې درې طلاقه ورکړي نو صرف یو به واقع کیږي، ځکه لکه څنګه چه په حیض کښې او په داسې (طهر) کښې طلاق ورکول ناجائز دي چه په هغې کښې خاوند کوروالې کړې وي، او طلاق نهٔ واقع کیږي، دغه شان د یو مجلس درې طلاقه هم حرام دي دې وجې نه صرف یو واقع کیږي، باقي دوه طلاقه به بیکاره ګڼړلې شي۔

او ددے تفصیل په کتابونو د حدیث کښ ذکر کیږی۔ او ((امین الفتاوی)) وګورئ۔

وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ: دا بل حکم دے، یعنی اے مسلمانانو! د خپلو طلاق کړو ښځو د عدت زمانه په صحیح طریقے سره یاده لرئ، که چرے زنانه داسے وی چه د هغے حیض راځی نو د درے حیضونو په ذریعه، اوکه حیض ئے بند شوے وی نو د میاشتو د شمارے په ذریعه، یا که حامله وی نو د زیګون په ذریعه۔ ځکه چه ددے په ذریعه د الله تعالیٰ د حق، د طلاق ورکونکی د حق، او د هغه سړی د حق حفاظت کیږی کوم چه دے ښځے سره آینده وادهٔ کول غواړی۔

دارنګه د طلاقے شوے ښځے د نان او نفقے حفاظت کیږی۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ: او اے مسلمانانو! په خپلو تمامو کارونو کښ د الله نه یریږئ چه هغه ستاسو رب دے،

لَا تُخْرِجُوْهُنَّ: دا بل حکم دے۔ یعنی هغه طلاقے شوے ښځے د خپلو کورونو نه په اُوخکلو باندے مهٔ مجبوروئ، په کومو کښ چه د طلاق په وخت هغوئ دیره وے، ځکه چه د عدت په زمانه کښ د هغے د استوګنے ذمه داری په خاوند باندے ده، او دے ښځو له هم جائز نهٔ دی چه دوئ د دغه ځای نه اوځی او بل چرته لاړے شی، ځکه چه د عدت په زمانه کښ دوئ د خاوند په نکاح کښ باقی پاتے کیږی۔

بُيُوْتِهِنَّ: زنانو ته ئے نسبت د کورونو وکړو ځکه چه دوئ پکښ وسیږی۔ یعنی هغه کورونه چه دوئ پکښ وسیدلے۔

إِلَّا أَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ: (۱) البته که طلاقه شوے ښځه د زنا، یا د بل کوم داسے خراب قول یا فعل ارتکاب وکړی چه هغه د کور والو د ذلت او رسوائی سبب وی، نو په داسے صورت کښ به ددے کور نه د هغے ویستل جائز وی، ځکه چه شریعت په خاوند باندے د هغے د استوګنے ذمه واری پدے وجه واجب کړے وه چه ښځه به د خاوند رعایت کوی، (ابن مسعود رضی الله عنه)

(۲) او کله چه هغے په خپله داسے حرکت اوکړو چه هغه د خاوند او د هغهٔ د خاندان دپاره د پریشانئ سبب جوړ شو، مثلاً د خاوند اهل ته په خبرو او کارونو سره تکلیف ورکوی، نو د هغه ځائے نه ددے اوخکل جائز شو۔ (ابی بن کعب وابن عباس رضی الله عنهم)

که ښځه زنا وکړی نو بیا به د کور نه د حد قائمولو دپاره راویستلے شی او بیرته به

کورته واپس کړلې شي۔ (ابن عباس ﷺ)
(۳) عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : د ښځې د عدت نه مخکښې د خاوند د کور نه بغير د اجازت نه وتل خپله فاحشه بيّنه ده، نو که داسې زنانه چه په عدت کښې روانه وه، او د عدت تيريدو نه مخکښې ووتله نو دا مجرمه ده، او ددې جرم سزا به دا ورکولې شي چه د خاوند کور نه ويستل ئې جائز شو۔
که چرې طلاقه کړې ښځه بائنه ده، نو ددې دپاره استوګنه واجب نۀ ده، ځکه چه استوګنه د نان او نفقې تابع ده۔ او نفقه د مطلقه رجعيه دپاره ده، نۀ د بائنې دپاره۔
وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ: يعني دا پورته چه کوم احکام بيان شوي دي، دا د الله تعالیٰ حدونه دي، د هغې نه ستاسو دپاره تجاوز کول جائز نۀ دي، او ددې ښکاره بيان باوجود که يو کس ددې حدونو نه تجاوز کوي نو هغه په خپل ځان ظلم کوي، او په جلتئ يا تاخير سره د الله تعالیٰ د سزا حقدار جوړيږي۔
لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَمْرًا : لَا تَدْرِیْ کښې ضمير نفس ته راجع دې۔ يعني اې مسلمانانو ! تاسو ته معلومه نۀ ده د عدت د زمانې سره متعلق چه کوم احکام پورته بيان کړې شول، په هغې کښې الله تعالیٰ څۀ حکمتونه پټ ايښې دي، کيدې شي چه د خاوند په زړۀ کښې الله تعالیٰ طلاقې شوې ښځې سره دوباره محبت واچوي، او هغه واپس کړي او د سر نه عُمده ازدواجي ژوندګې تيرول شروع کړي۔
کيدې شي چه د طلاقو سبب د ښځې د طرفنه راغلې وي، او د عدت په زمانه کښې هغه سبب ختم شي، او خاوند هغه واپس واخلي۔ نو ځکه دا حکم وشو چه د عدت په وخت کښې به ښځه د خاوند په کور کښې وي۔ نو د (امرًا) نه مراد رجوع شوه۔
او يو ښکاره حکمت دا هم دې چه د عدت د مودې ختميدو پورې يقين کيږي چه د ښځې رحِم د طلاق ورکونکې خاوند د بچي نه پاك او صفا دې۔
بَعْدَ ذٰلِكَ: ذلك اشاره ده يو طلاق يا دوه طلاقو ته۔
او دا آيت دليل دې چه درې طلاقه په يو ځل ورکول ظلم دې، او ددې حکمت خلاف دې کوم چه دلته ذکر شو۔

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ
نو کله چه نزدے شی نیتے خپلے ته نو ویے ساتئ د ځان سره په ښه طریقه
أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَىْ عَدْلٍ
یا جدا کړئ دوی لره په ښه طریقه او ګواهان جوړ کړئ دوه کسان خاوندان د عدل
مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ۚ ذٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ
ستاسو نه او اُودروئ ګواهی د الله دپاره دا (حکم) نصیحت کیدے شی پدے سره
مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَن يَتَّقِ اللّٰهَ
هغه چا ته چه ایمان لری په الله او په ورځ روستنئ او هغه څوك چه اُویریدو د الله نه
يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ
وُبه ګرځوی دهٔ لره لاره د نجات۔ او رزق به ورکړی دهٔ ته د هغه ځائے نه چه دے به ئے
لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللّٰهَ
ګمان نهٔ کوی او چا چه ځان اُوسپارلو په الله باندے نو هغه ورله کافی دے۔ یقیناً الله
بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾
رسونکے دے کار لره (خپل ځائے ته) یقیناً ګرځولے دہ الله تعالیٰ هر شی لره اندازه۔

تفسیر: اُوس پدے آیت کښې نور څلور امرونه ذکر کیږی۔

بَلَغْنَ: بلوغ دلته نزدے والی ته وائی۔ یعنی د طلاقے شوے ښځے د عدت موده چه کله ختمیدو ته نزدے شی، نو خاوند دِے هغه د هغے د تمامو حقونو سره واپس کړی، یا دِے د هغے حقوقو اداء کولو سره په غیر د اختلاف او جګړے پیدا کولو نه او هغے دپاره د مشکلاتو د پیدا کولو نه بغیر، هغه دِے په خپل حال باندے پریدی، تردے چه د هغے عدت تیر شی، او بائنه (جدا) شی او خپلو خپلوانو خواته لاړه شی۔

پدے واپس کولو یا پریخودو کښې د ښځے رضا شرط نهٔ دے۔

بِمَعْرُوْفٍ : یعنی ددے نه مراد د ښځې حقوق ادا کول، نفقه، جامې، اُوسیدل او ښه ژوند تیرول دی.

بِمَعْرُوْفٍ : ددے نه مراد دا دے چه د زورنے او بد رد او کنځلے کولو نه بغیر دِے رخصت کړی.

وَأَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ : دا بل حکم دے چه طلاق ورکونکے دِے د رجوع کولو او د همیشه دپاره ذ پریښودلو، دواړو حالتونو کښې دوه دیندار او امانتدار مسلمانان ګواه جوړ کړی، دے دپاره چه آینده کښې د اختلاف او جګړو دروازه بنده شی.

د اهل علمو پدے دواړو حالتونو کښې د ګواهانو نیولو حکم کښې اختلاف کړیدے،

(۱) اکثر اهل علم وائی چه دا حکم د وجوب دپاره نهٔ دے، البته که څوك پدے دواړو حالتونو کښې ګواه ونهٔ ونیسی نو دا به خلافِ سنت وی.

لکه د عمران بن حصین ﷺ نه د داسے سړی په باره کښې تپوس وشو چه هغه طلاق ورکړی وو او ګواه ئے نهٔ وو نیولے او رجوع ئے کړے وه او ګواه ئے نهٔ وو نیولے.

نو هغه وفرمایل :

[بِئْسَمَا صَنَعَ، طَلَّقَ فِیْ بِدْعَةٍ وَارْتَجَعَ فِیْ غَیْرِ سُنَّةٍ، فَیُشْهِدُ عَلٰی طَلَاقِهٖ وَعَلٰی مُرَاجَعَتِهٖ وَیَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ]

دهٔ طلاق په بدعت کښې ورکړل او رجوع ئے د سنت نه په غیر وکړه. نو دے دِے په طلاقو او رجوع دواړو باندے ګواه ونیسی او بیا دِے د الله نه بخنه وغواړی.

. ابن ماجه (۲۰۲۵) باسناد صحیح (الطبرانی فی الکبیر : ۱٤۸۳۳) واللفظ له)

(۲) او علامه قاسمیؒ وائی چه ظاهر دا ده چه دا حکم هم د وجوب دپاره دے، ځکه چه ددے سورت ټول اوامر د وجوب دپاره دی، او د وجوب نه هیڅ مانع نشته، او دا یو قول د امام شافعیؒ دے. او همدا قول حق دے.

ابن عباس ﷺ وائی : که خاوند خپله طلاقه شوے ښځه واپس اخلی، نو اُوس به دهٔ سره دوه طلاقه باقی پاتے شی، او که هغه واپس نهٔ اخلی، او د هغے عدت تیر شی، نو هغه به د یو طلاق نه پس بائنه (جدا) شی، او اُوس دهٔ له اختیار دے، که غواړی نو همدے سره دِے دوباره وادهٔ اوکړی، یاکه غواړی نو بلے سره دِے وادهٔ وکړی.

وَأَقِیْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ : دا بل حکم دے او دا ګواهانو ته دے. یعنی د رجوع یا طلاقو په

باره کښې چه کومه ګواهي هم وي، ګواهان دې هغه صرف د الله د رضاء دپاره اداء کړي، د خاوند یا مُطلقې له خاطره دِې په دې کښې هیڅ بدلون نهٔ پیدا کوي۔ کله سړے غلط وائی نو ګواهان به پرې رد کوي او کله ښځه غلط وائی نو ګواهان به ئې اصلاح کوي۔
او ددې یو صورت دا دے چه یو تن یوې ښځې ته طلاق ورکړو، دوه درې ورځې پس سړې د ښځې په نا خبرئ کښې دوه کسان ګواهان ونیول چه ما ښځې ته رجوع وکړه، پدې کښې درې میاشتې تیرې شوې، سړې خپلې ښځې ته راغلو، ښځې ورسره جګړه واچوله چه زهٔ طلاقه شوې یم، او زما عدت تیر شویدے نو دے وخت کښې به ګواهان صحیح ګواهي ورکړي چه دې ښځې ته زمونږ په مخامخ رجوع شویده۔
ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ: اُوس الله تعالیٰ دے مخکنو احکامو باندے عمل کولو ته ترغیب ورکوی چه په دے تهولو احکامو باندے هغه کس عمل کوی چه هغه په الله او د آخرت په ورځ ایمان لری، ځکه چه د الله تعالیٰ د عذاب نه صرف همدا انسان یریږی، دے وجے نه هغه د هغهٔ نافرمانی نهٔ کوی۔
وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ: یعنی کوم خلق چه د الله تعالیٰ د عذاب او سزا نه یریږی او د الله تعالیٰ عظمت ئې په زړهٔ کښې وی نو هغه د هغهٔ د اوامرو پابندی کوی، د منع شوو کارونو نه ځان ساتی، او د هغهٔ د حدودو لحاظ کوی، نو الله تعالیٰ به هغهٔ دپاره د سختیو او محنتونو نه د وتلو دپاره لارے جوړوی، او هغهٔ دپاره د داسے ځی نه د روزئ بندوبست کوی چه هغه ددهٔ په وَهُم او ګمان کښې هم نهٔ وی۔
مفسرین لیکی چه د آیت مفهوم عام دے، چه په دے کښې د سنت مطابق طلاق ورکونکے سړے په طریقه اولیٰ سره داخل دے چه الله تعالیٰ به ددهٔ په زړهٔ کښې یا خو د طلاقې شوې ښځې د واپس اخستو خبره واچوی، یا د عدت تیریدو نه پس به هغهٔ دپاره د هغې سره د دوباره وادهٔ کولو ګنجائش باقی پریدی۔
او دا مطلب دے چه څوك د الله نه ویریدو او سنت طریقې سره ئې طلاق ورکړل، او عدت والا زنانه ته ئې ضرر ورنکړو، او هغه ئې د کور نه ونهٔ شړله او ګواهان ئې ونیول نو الله به دهٔ لره د زنانو په باره کښې د غمونو او مشقتونو کښې د واقع کیدو نه لاره راوباسی او خلاصے به ورکړی۔ (فتح البیان)
عبد الله بن عباس ﷺ ته یو تن راغے چه ما ښځې له سل طلاقه ورکړیدی، نو هغه وَرته

وفرمایل : [مَا اتَّقَیْتَ اللّٰهَ فَیَجْعَلُ لَكَ مَخْرَجًا] تهٔ د الله نه نهٔ یې یریدلې نو تا له هیڅ مخرج نشته۔ نو درې طلاقه واقع شو او اُوه نوی طلاقونو سره تا د الله د کتاب پورې توقې کړېدی۔ (سنن الدارقطنی : ۳۹۲۶) والکبیر للطبرانی (۱۰۹۹٤)

د عمر فاروق رضی الله عنه په شان فتویٰ یې ورکړه۔ څکه چه دغسې شخص ته همدا فتویٰ ورکول پکار دی۔

یَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا : ١ – ابن عباس رضی الله عنه وائی : یُنْجِیهِ مِنْ كُلِّ كَرْبٍ فِي الدُّنْیَا وَالآخِرَةِ ۔ دې به په دنیا او په آخرت کښې د هر غم او پریشانئ نه بچ کړی۔

٢ – کلبیؒ وائی : وَمَنْ یَتَّقِ اللّٰهَ بِالصَّبْرِ عِنْدَ الْمُصِیبَةِ یَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا مِنَ النَّارِ إِلَى الْجَنَّةِ۔

څوك چه د الله نه یریږی د مصیبت په وخت کښې، نو الله به ورله د اُور نه جنت ته لاره کولاوه کړی۔

٣ – حسن بصریؒ وائی : مَخْرَجًا مِمَّا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ۔

یعنی څوك چه تقوىٰ اختیاروی نو الله به یې په منهیاتو او حرامو کښې نهٔ اخته کوی، او لاره د وتلو به ورله ورکوی۔ یعنی څوك چه تقوىٰ کوی نو الله به ورله په دین کښې مخرج (لاره) پیدا کوی، تهٔ که د الله د حکم لحاظ ساتې نو الله به درته لاره پیدا کوی، لکه مثلاً یو تن وائی چه زهٔ به حرامه نهٔ خورم نو الله به ورله ضرور حلاله پیدا کوی۔

داسې مهٔ وایه چه په حلالو باندې رزق نهٔ پیدا کیږی۔ لکه شیطان دا خبره په ډیرو ناپوهو کښې خوره کړېده۔ یو سخت ځای کښې تهٔ عزم وکړې چه زهٔ به په سنت عمل کوم نو الله به درله موقعه درکوی۔ سخت احکام به درته آسانوی۔

ابوذر رضی الله عنه ته رسول الله ﷺ وفرمایل : اې ابوذره [لَوْ اَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ اَخَذُوا بِهَا لَكَفَتْهُمْ] که ټول خلق پدې آیت باندې عمل وکړی نو دا به ورله کافی شی۔

(ابن ماجه: (٤٢٢٠) ابن حبان : ٦٦٦٩) والحاکم : (۳۸۱۹) وصححه ووافقه الذهبیؒ وهو کما قالا)

مَخْرَجًا کښې اشاره ده چه تکلیفونه او مصیبتونه به وریاندې راځی لیکن د هغې نه راوتل او د هغې د ناکاره آثارونه به نجات مومی، څکه چه خروج مخکښې دخول غواړی۔

وَمَنْ یَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهُ: پدې کښې زنانه او سړی دواړو ته اشاره ده چه په ټولو

کارونو کښې په الله باندې بهروسه او توکل وکړئ، هغهٔ ته ځان وسپارئ او د هغهٔ فرائض او واجبات مهٔ ضائع کوئ، نو الله به مو په هر حال کښې حفاظت او مدد وکړي. کله ښځه وائي چه زهٔ طلاقه شوم نو د کوم ځای نه به خوراك کوم، او سړے به وائي چه ښکلې ښځه رانه لاړه نو الله فرمائي: ما باندې توکل وکړه زهٔ به دِې کافي شم.

إِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ أَمْرِهٖ : دا د توکل دپاره په طریقه د علت دے. په الله باندې ځکه بهروسه پکار ده چه هغه خپل کارونه په هر حال کښې سر ته رسونکے دے. الله تعالیٰ لره هیڅوك عاجزه کولے نشي.

او الله تعالیٰ د هر یو کار ځای او زمانه مقرر کړے ده، چه د هغې نه هغه مخکښې یا روستو کیدے نشي، او نهٔ په هغې کښې کمے یا زیاتے کیدے شي دے وجے نه مومن له د هغهٔ په تقدیر باندې راضي اوسیدل پکار دي.

دا ورسره ځکه وائي: پدے کښې دفع تو هم د تَعْجِيْلُ الْكِفَايَةُ ده. یعني یو تن به ووائي چه الله به زما کله کافي کیږي، زهٔ هر څه اُوس غواړم،

نو الله فرمائي چه د هر شي دپاره اندازه او وخت مقرر دے، جلتي مهٔ کوه، الله به ئے درته در رسوی.

وَاللَّائِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَائِكُمْ إِنِ
او هغه زنانه چه نا اُمیده شویدی د حیض نه د ښځو ستاسو نه که چرته
ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِيْ لَمْ يَحِضْنَ
شك وی ستاسو نو عدت د دوی درے میاشتے دی او هغه زنانه چه حائضے نهٔ دی
وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَّضَعْنَ
(هم دغه شان دی) او حمل والا زنانه نیته د عدت د هغوی دا ده چه اُوزیگوی
حَمْلَهُنَّ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ أَمْرِهٖ يُسْرًا ﴿٤﴾
حمل خپل او هغه څوك چه اُویریدو د الله نه وبه گرځوی دهٔ لره د کار دده نه آسانی.

ذٰلِكَ أَمْرُ اللّٰهِ أَنْزَلَهٗ إِلَيْكُمْ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ

دا حکم د الله تعالیٰ دے نازل کړے ئے دے تاسو ته او څوك چه اُویریدو د الله نه

يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗ أَجْرًا ﴿٥﴾

وبه رژوی ددهٔ نه گناهونه ددهٔ او لوئی به کړی دهٔ لره اجر۔

تفسیر : اُوس د عدت احکام راوړی۔

په دے آیتِ کریمه کښ د بوډئ، نابالغه، او حاملو (امیدوارو) ښځو عدت بیان شوے دے چه د کومو ښځو حیض بند شوے وی، د دوئ عدت درے میاشتے دے،

او کومے چه نابالغه وی (وخته لا نهٔ وی رسیدلے) د هغوئ عدت هم درے میاشتے دے، او د امیدواره ښځو عدت زیگون دے۔ برابره ده چه طلاقه کړے شوی وی یا خاوند ترے وفات شوے وی، او لږ وخت روستو ئے ولادت وشی، یا ډیر وخت روستو۔ او دلته هم چونکه د حمل په وجه حیض بند شویدے پدے وجه په عدت کښ حمل د حیض په ځای باندے قائم کړے شو۔

بخاریؒ او مسلمؒ د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت راوړیدے چه سُبیعه اسلمیه د خپل خاوند د مرگ نه صرف څلویښت ورځے روسته ماشوم اُوزیگولو، نو نبی کریم ﷺ د هغے د وادهٔ اجازت ورکړو۔ (بخاری : ۳۹۹۰) مسلم : ۳۷۹۶)

إِنِ ارْتَبْتُمْ: یعنی که ستاسو شك وی د هغے په عدت کښ او د هغے په اندازه کښ۔

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ: یعنی څوك چه په طلاقو او په نورو کارونو کښ د الله تعالیٰ د احکامو پابندی کوی، الله هغهٔ دپاره آسانی پیدا کوی۔ هر کار به ورته آسان کړی، د عدت او د طلاق او عتاق مسئلے به ورته آسانے کړی۔

يُسْرًا : دا عام دے د مَخْرَجًا نه، د دنیا او د آخرت آسانتیا ته شامل دے، نو دا د مخکنو دواړو فائدو په نسبت لویه فائده ده۔

ذٰلِكَ أَمْرُ اللّٰهِ: دا تاکید دے دپاره د عمل کولو په تیر شوو احکامو، او د تقویٰ نورے دوه فائدے ذکر کوی۔

ذٰلِكَ:اشاره ده قرآن ته۔ یا مخکنو ټولو احکام ته اشاره ده، طلاق، عدت، رجوع،

شهادات او تقویٰ۔

أَمْرُ اللّٰهِ: د امر نه مراد قانون او حکم دے، برابره ده چه په صیغه د امر سره وی یا په صیغه د نهی سره۔

أَنْزَلَهُ إِلَيْكُمْ: یعنی دا احکام الله تعالیٰ ددے دپاره نازل کړی دی چه بندګان په دے باندے عمل وکړی۔ او څوك چه د الله نه یریږی، الله د هغهٔ ګناهونه معاف کوی، او هغهٔ له لوی اجر ورکوی، یعنی جنت ته ئے ننباسی۔

وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا : دائے په صیغه د مضارع سره ذکر کړو اشاره ده چه څومره تقویٰ زیاتیږی نو دومره به اجر او ثواب عظیم ورکړے کیږی۔

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُجْدِكُمْ
اُوسوئ دوی لره په هغه ځائے کښ چه اُوسیږئ تاسو د طاقت ستاسو نه
وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ
او ضرر مهٔ ورکوئ دوی ته دے دپاره چه تنګی راولئ تاسو په دوی باندے
وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ
او که چرته وی دوی حمل والا نو خرچ کوئ په دوی باندے تردے چه اُوزیګوی
حَمْلَهُنَّ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ
حمل خپل نو که چرته دوی تے ورکوی (بچو ته) ستاسو دپاره نو ورکوئ دوی ته
أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ وَإِنْ
مزدوری د دوی او جرګے (مشورے) کوئ په مینځ خپل کښ په ښه طریقه او که چرته
تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرٰى ﴿٦﴾
سخت کوئ تاسو (یو بل سره) نو زردے چه تے به ورکړی دهٔ ته بله زنانه۔

لِيُنفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ
خرچ دِے اُوکړی خاوند د فراخئ د فراخئ خپلے نه او هغه څوك چه تنګ شویدے
عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللهُ
په هغهٔ باندے رزق د هغهٔ، نو خرچ دِے کړی د هغے نه چه ورکړے وی دهٔ ته الله تعالیٰ،
لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا
تکلیف نهٔ ورکوی الله تعالیٰ یو نفس لره مګر د هغے چه طاقت ئے ورکړیدے،
سَيَجْعَلُ اللهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾
زردے چه وُبه ګرځوی الله تعالیٰ روستو د تنګئ نه آسانی۔

تفسیر : اُوس د مطلقات رجعیه ؤ زنانو حکم بیانوی۔

مُطلقه په دوه قسمه ده (۱) مطلقه رجعی،

(۲) مطلقه مُغلظه۔ چه یو طلاق ورکړے شی بیا ورته رجوع شوی وی بیا طلاق ورکړی او څه موده روستو بیا دریم طلاق ورکړی نو د دریم طلاق نه روستو د دغه زنانه دپاره په خاوند باندے نهٔ سکنیٰ (کور) وی او نهٔ نفقه۔

او مطلقه رجعیه چه یو طلاق ورکړے شوے وی، یا دوه ورکړے شوی وی نو د هغے دپاره د عدت په دوران کښې سکنیٰ او نفقه دواړه په خاوند باندے لازم دی۔

نو په دے آیت کښې د رجعی طلاقے شوے ښځے د کوره ویستلو نه منع راغلے ده۔

دلته الله تعالیٰ ددے حکم زیاتې تفصیل بیانوی فرمائی چه هغه په داسے کور کښې ساتئ چه په هغے کښې د هغے د حیثیت ښځے او سړی اُوسیږی، او هغه د استوګنے، نان نفقے او نورو کارونو کښې پریشانه کوئ مهٔ، دے دپاره چه هغه تنګه شی او د کور په پریښودلو مجبوره کړے شی۔

او دا حکم د حاملے او غیر حاملے دواړه قِسمه مطلقه رجعیه دپاره دے، یعنی تر څو پورے چه د عدت زمانه ختمه شوے نهٔ وی، هغوئ د هغوئ د کورونو نه اُوخکل جائز نهٔ دی۔

اوکه طلاقے شوے ښځے له دریم طلاق ورکړے شوے وی، او هغه حامله ده، نو هغے له به استوګنه او نان او نفقه ورکول وی ترڅو چه هغے ماشوم زیږولے نۀ وی۔

د ماشوم د زیږولو نه پس دواړو (مور پلار) له اختیار دے، که غواړی نو دغه مور دے په مقرر اجرت باندے ماشوم له پئ ورکوی، او که غواړی نو پلار دِے د بلے کومے ښځے نه دا کار واخلی۔

او په دے باره کښې الله تعالیٰ مور پلار ته نصیحت کړے چه د مشورے کولو په وخت دِے دواړه یو بل ته د معافی کولو او د ماشوم د خیر خواهئ نیت اوکړی دے دپاره چه ماشوم د موره جدا نشی، او پلار باندے د هغۀ د طاقت نه زیات بوج وانۀ چولے شی۔

او که د پئ ورکولو د اجرت په باره کښې دواړه په یوه خبره باندے متفق نشول نو بیا دِے پلار د بلے کومے دائی انتظام وکړی، او مور دِے په پئ ورکولو باندے مجبوروی نۀ، مفسرینو لیکلی دی چه په دے کښې مور دپاره یو قِسم ملامتیا ده چه دے د مور کیدو باوجود د ماشوم له خاطره په اجرت کښې کمی برداشت نۀ کړه، نو بیا به ددے نه ماشوم اخستے کیږی، او بلے دائی ته به حواله کیږی۔ او پلار دپاره هم ملامتیا ده، دۀ د پلار کیدو باوجود د خپل بچی له خاطره په اجرت کښې اضافه اونۀ کړه، نو ددے انجام به داشی چه ماشوم به د خپلے مور نه جدا شی، او دائی خواته به لاړ شی۔

مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ : مِنْ د تبعیض دپاره دے یعنی مکان د وسیدو۔ یا مِنْ زائده دے، یا مِنْ ابتدائیه دے، یعنی د هغه طریقے نه چه تاسو څنګه وسیږئ۔

مِّن وُجْدِكُمْ: ددے نه مراد د خاوند قدرتِ مالیه دے که په طریقه د ملکیت سره وی، یا په اجرت سره وی۔

وَلَا تُضَارُّوهُنَّ: یعنی زنانه به ددے دپاره نۀ تنګه وی چه هغه ددے کور نه لاړه شی او دۀ ته نفقه او کور بچت شی۔ ابوالضحیٰ وائی : ددے نه مراد دا دے چه طلاق ورکړی خو کله چه د هغے د عدت دوه ورځے پاتے شی، نو بیرته ورته رجوع وکړی بیا ورله طلاق ورکړی او دغه شان سلسله جاری وساتی۔

فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ: حامله زنانه چه طلاقه کړے شی نو په خاوند باندے د هغے نفقه او سُکنیٰ واجب ده، او دا اجماعی مسئله ده۔ او هرچه حامله ده چه خاوند ئے وفات شوے وی نو ددے په نفقه او سکنیٰ کښې اختلاف دے :

(۱) علی، ابن عمر، ابن مسعود رضی الله عنهم، شُریحؒ، نخعیؒ، شعبیؒ، حمادؒ، ابن ابی لیلیٰؒ او سفیانؒ او د هغهٔ شاگردان وائی : په هغې باندې به د ټول مال د خاوند نه تر ولادت پورې نفقه کولے شي.

(۲) ابن عباس، ابن الزبیر، جابر بن عبد الله رضی الله عنهم، مالكؒ، شافعیؒ او ابو حنیفةؒ او د هغهٔ شاګردان وائی چه پدې زنانه باندې به صرف ددې د برخې د میراث نه انفاق کولے شی، او همدا قول حق دے ځکه چه په سنتِ مُطهره کښې ددې دپاره ډیر دلائل موجود دی.

ابن عباس ﷺ پدې آیت کښې فرمائی: دا حکم د هغه زنانه دے چه خاوند ورته طلاق ورکړی او هغه حامله وی نو الله حکم وکړو چه دے ته به سکنیٰ ورکوی او نفقه هم، تردې چه بچے راوړی او که تے ورکوی نو تردې چه هغه د تی نه پریکړی.

فَإِنۡ أَرۡضَعۡنَ لَكُمۡ: یعنی که دے میندو ستاسو دپاره ستاسو اولاد ته تے ورکولو او اجرت ئے نهٔ غوختلو نو خیر وخلاص او که دوی په اجرت سره تے ورکولو نو بیا تاسو دوی ته د دویٔ د تے ورکولو مزدوری ورکړئ.

وَأۡتَمِرُواْ بَيۡنَكُم بِمَعۡرُوفٖ : اِئۡتِمَار مشورے ته وائی. یعنی خپل مینځ کښې د ماشوم د فائدے دپاره مشوره کویٔ.

مقاتلؒ وائی : ددے معنیٰ داده : چه مور او پلار دِے په معلوم اجرت باندے راضی شی، او هر یو دِے د بل سرهٔ سختی نهٔ کوی. نو خاوند له پکار دی چه پوره اجرت ورکړی، او ښځے له پکار دی چه دومره زیات اجرت ونهٔ غواړی چه خاوند تنګ کړی.

وَإِن تَعَاسَرۡتُمۡ: یعنی که تاسو د بچی او د رضاعت د مزدورئ په باره کښې د یو بل سره سختی کویٔ نو بیا به بله زنانه تے ورکړی.

او که بله دائی نهٔ ملاویده نو بیا به همدا مور په اجرت قبلولو باندے مجبوره کولے شي، او بچی ته به تے ورکوی دے دپاره چه د بچی حق ضائع نهٔ شی.

لِيُنفِقۡ: په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د طلاقے شوے پیٔ ورکونکے مور په باره کښې پلار ته حکم کړے چه که هغهٔ مالدار دے، نو د ماشوم په مور باندے د مال په خرچ کولو کښې دِے د بُخل نه کار نهٔ اخلی، بلکه په مور او بچی دواړو دِے په فراخه زړهٔ سره خرچ کوی، اوکه لاس ئے تنګ وی نو د خپل حال موافق دِے خرچ کوی. نفقه وی یا بل یو

عمل وي، الله تعالیٰ هیڅوك د هغهٔ د طاقت نه زیات نهٔ مکلف کوی۔
سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا: پدے کښ الله تعالیٰ تنگ لاسو ته زیرے ورکړے چه هغه به د دوئ پریشانی او تنگ حالی ډیر زر لرے کړی، لکه الله تعالیٰ فرمایلی دی: ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ (بیشکه تنگدستئ سره آسانی ده)۔
دا د الله قانون دے چه کله هم یو کار گران شی چه د برداشت نه وځی نو الله آسانی رالیږی، گرمی چه سخته یے برداشه شی نو سمدست باران شروع شی۔
مفسرین لیکی چه الله تعالیٰ خپله دا وعده صحابه کرامو سره رشتیا اُوښودله چه د دوئ د تنگ دستئ لرے کولو دپاره الله دوئ ته جزیرة العرب او روم او فارس فتح کړل، او د روم او فارس د خزانو مالکان ئے جوړ کړل۔
البته عامو مسلمانانو دپاره الله د تقویٰ شرط لگولے، لکه چه په (۳/۲) آیتونو کښ تیر شو چه څوك د الله نه یریږی، الله هغهٔ دپاره لارے اوباسی، او د هغه ځی نه ورله روزی ورکوی چه هغه ددهٔ په شان او گمان کښ هم نهٔ وی۔
او په (٤) آیت کښ ئے وفرمایل: څوك چه د الله نه یریږی، الله د هغهٔ معاملات آسان جوړوی۔ (فتح البیان)

وَكَأَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِ
او ډیر د کلو والو نه نافرمانی ئے اُوکړه د حکم د رب خپل نه او د رسولانو د هغهٔ نه
فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا
نو حساب اُوکړو مونږ د هغوی سره حساب سخت او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته
عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ أَمْرِهَا
عذاب بد (ناشنا)۔ نو اُوڅکولو هغوی سزا د کار خپل او وو انجام د کار د هغوی
خُسْرًا ﴿٩﴾ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فَاتَّقُوا اللّٰهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ
تاوان۔ تیار کړیدے الله دوی لره عذاب سخت نو اُویریږئ د الله نه اے عقل والو!

الَّذِيْنَ آمَنُوْا قَدْ أَنْزَلَ اللهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿۱۰﴾

هغه کسانو چه ایمان ئے راوړیدے یقیناً رالیږلے دے مونږ تاسو ته ذکر (یاداشت)

تفسیر : پدے رکوع کښ ترغیب دے تقویٰ ته. او تخویف دنیوی او اُخروی دے چه د الله تعالیٰ د احکامو او اَوامرو رعایت کوئ، او ددے د مخالفت نه ویریږئ ګنے د پخوانو قومونو غونته به هلاك شئ.

فرمائی چه په تیرو شوو زمانو کښ ډیرو قومونو د خپل رب د احکامو نافرمانی کړے، نو الله د هغوئ د عملونو هغوئ سره سخت حساب وکړو، او هغوئ ئے په بدترین عذاب باندے اخته کړل، او د خسارے او هلاکت او بربادئ نه سویٰ هغوئ ته هیڅ هم ملاؤ نشو، ځکه چه په جنت او د هغے په نعمتونو باندے هغوئ د دنیا سپك سازومان له ترجیح ورکړه.

فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيْدًا : دلته د حساب شدید نه مراد دنیاوی سزا ده، یعنی الله تعالیٰ وفرمایل چه د دوی دا عملونه ډیر ناکاره دی، د سزا مستحق دی، نو الله پرے عذاب راوستو. نو دلته حساب په بخنه نۀ کولو سره دے، او په عذاب ورکولو سره دے. او هرچه د آخرت حساب دے نو هغه جدا دے.

عَذَابًا نُكْرًا : یعنی ناشنا عذاب په دنیا کښ په لوږه، قحط، قتلونو، خسف (په زمکه ننویستلو) او شکلونو مسخ کولو، او کلی اپوته کولو سره.

وَبَالَ أَمْرِهَا: یعنی د خپل کفر او شرك او د رسالت دا نکار او تکذیب انجام ئے وڅکلو.

أَعَدَّ اللهُ لَهُمْ: دا تخویف اُخروی دے.

فَاتَّقُوا اللهَ: نو هرکله چه الله تعالیٰ پخوانی د مخالفت په وجه هلاك کړل، نو اے د الله عقلمندو بندګانو ! تاسو د الله نه ویریږئ، او د الله نه په یریدو سره ژوند تیر کړئ، او د هغهٔ د اوامرو پابندی وکړئ. الله ته د خپلو حکمونو پابندی ډیره خوښه ده.

يَا أُولِي الْأَلْبَابِ : دا هغه خلق دی چه د هغوی عقلونه د مقابلے د وَهم نه او د شکونو او شبهاتو نه محفوظ دی. او د هغوی صفات په سورة آل عمران (۱۹۰) او سورة الزمر (۱۸) آیت کښ ذکر دی.

الَّذِيْنَ آمَنُوْا: دا صفت دے، یا عطف بیان دے یا بدل دے د اُولی الاَلباب نه.

او پدیے کښې اشاره ده چه ایمان او تقویٰ والا صحیح عقل والا خلق دی۔

قَدْ أَنْزَلَ اللّٰهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا: ددیے نه مراد قرآن کریم دیے، او پدیے کښې تاکید دیے چه اے مؤمنانو! غفلت ونکړئ ځکه چه تاسو سره د تذکیر کتاب موجود دیے۔

رَّسُوْلًا يَّتْلُوْ عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللّٰهِ مُبَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَ
رسول دیے چه لولی په تاسو آیتونه د الله، وضاحت کونکی دیے دپاره چه اُوباسی
الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ
الله هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدیے او عملونه ئے کړیدی نیك د تیارو نه
إِلَى النُّوْرِ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ
رڼړا ته او چا چه ایمان راوړو په الله او عمل ئے اُوکړو نیك داخل به ئے کړی دهٔ لره
جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا ط
جنتونو ته چه بهیږی به لاندیے د هغیے نه نهرونه همیشه به وی په هغیے کښې همیشه
قَدْ أَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ﴿۱۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ
یقیناً الله ښائسته کړیدیے دهٔ لره رزق۔ الله هغه ذات دیے چه پیدا کړی ئے دی
سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَّمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ
اُوه آسمانونه او د زمکے نه پشان د هغوی، نازلیږی حکم د هغه په مینځ د دوی کښې
لِتَعْلَمُوْا أَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ
دیے دپاره چه تاسو پوهه شئ چه بیشکه الله په هر شی باندیے قدرت لرونکے دیے
وَأَنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾
او یقیناً الله راګیر کړیدیے هر شے په علم خپل کښې۔

تفسیر: رَّسُوْلًا: ددیے په نصب (زور) کښې ډیر اقوال دی:

(۱) يو دا چه دا بدل دے د (ذِكْرًا) نه او رسول ته ئے ذكر مُبَالغَةً ووئيلو، يعنى صاحب د ذكر دے۔ ليكن ددے سره د اَنْزَلَ اللهُ لفظ سمون نهٔ خورى۔

(۲) دويم دا چه ذِكْرًا مصدر دے او رَسُوْلًا د هغے مفعول دے۔ اَیْ ذِكْرَ رَسُوْلٍ۔ يعنى الله تاسو ته راليږلے دے ذكر د رسول الله ﷺ په قرآن كښ۔ نو په دے كښ به د رسول الله ﷺ رشتين والى ته اشاره وى۔

(۳) غوره دا ده چه د رَسُوْلًا نه مخكښ (اَرْسَلَ) پټ دے۔ او دا قول زجاجؒ غوره كړيدے۔ هغه فرمائى: انزال د ذكر دليل دے چه دلته اَرْسَلَ پټ دے۔ يعنى راليږلے ئے دے رسول۔ نو په دے كښ قرآن او حديث دواړو ته اشاره شوه۔

(٤) بعض وائى : دا منصوب دے په اِغراء سره، أَیْ اِتَّبِعُوْا وَالْزَمُوْا رَسُوْلًا۔

تابعدارى وكړئ د رسول۔ او لازم شئ د رسول سره۔

لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ: ضمير د يُخْرِجَ رسول ته راجع دے، يا آيَاتٍ مُبَيِّنَاتٍ ته په تاويل د قرآن، يا د ذكر سره، يا الله تعالىٰ ته راجع دے۔

او په دے كښ مقصد مسلمانانو ته د الله تعالىٰ لوى احسان رايادول دى چه هغهٔ د دوئ د هدايت دپاره قرآن كريم نازل كړو، او نبى كريم ﷺ ئے را اوليږلو چه هغه د قرآن كريم د ښكاره آيتونو تلاوت كوى، د هغے معنىٰ او مفهوم بيانوى، او په صراط مستقيم باندے د تلو دعوت وركوى، دے دپاره چه ايمان راوړونكى او نيك عمل كونكى د كفر او شرك او د گناهونو د تيارو نه اوباسى او د اسلام رڼا ته ئے راولى۔

مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ : **سوال** دا دے چه ايمان او عمل صالح والا خو د تيارو نه وتلى دى نو بيا د هغوى د اخراج څه معنىٰ ده ؟

(۱) جواب دا دے چه ددے نه مراد هغه كسان دى چه هغوى لا تر اُوسه ايمان نهٔ دے راوړے او الله ورله په تقدير كښ ايمان ليكلے دے۔ او اراده د ايمان او عمل صالح لرى۔

(۲) ښهٔ جواب دا دے چه هر مؤمن ته وخت په وخت په ژوند كښ تيارے رامخے ته كيږى، كله شكوك او شبهات او شيطانى وسوسے راځى، او كله د يوے خبرے معلومات نهٔ لرى، مخے ته ئے تيارهٔ وى، كله د يقين، او كله د عمل كمزورى وى، نو ددے كتاب او سنت په وجه ئے الله تعالىٰ د دغه تيارو نه راوباسى او په نيغه لاره ئے روانوى، او يقين او عمل ئے مضبوطيږى۔

قَدْ أَحْسَنَ اللهُ لَهُ رِزْقاً: دا یا په جنت کښې مراد دے، د احسان نه مراد وسعت (فراخی) او مزیدار والے دے، او د رزق نه مراد د جنت رزق دے۔ یعنی الله ورله ښائسته رزق او نهٔ ختمیدونکی نعمتونه تیار کړیدی۔

یا دا دنیاوی زیرے دے، یعنی په دنیا کښې ورله الله تعالیٰ ښائسته رزق ورکوی د تقویٰ او ایمان په وجه لکه چه په (۳) آیت کښې ذکر شو۔

اَللهُ الَّذِیْ: په دے آخری آیت کښې الله تعالیٰ خپل تعارف بیانوی، دلیل عقلی دے په توحید او تصرف د الله تعالیٰ باندے، یو الله خالق دے، هغه متصرف دے،

په دے کښې غرض دا دے چه انسانان د الله په قدرت او علم باندے پوهه شی، کائنات الله تعالیٰ د دے دپاره روان کړیدی چه الله تعالیٰ بندګانو ته خپل ځان ورښائی، او دا د دے دپاره چه د الله تعظیم وشی، او بندګان د هغهٔ عبادت وکړی، نو د دوئ فائده به هم وشی۔ زړونه به ئے د الله د محبت نه ډک شی، نیك كارونه به وكړی نو جنت ته به داخل شی۔

ربط د آیت

په دے کښې بیان د عظمت د رب دے دپاره د تقویٰ کولو، نو هغه انسان تقویٰ نهٔ کوی چه د الله شان ئے نهٔ وی پیژندلے، کوم شاګرد چه د خپل استاذ شان وپیژنی، نو بیا د هغهٔ سره ډیر په ادب باندے ژوند تیروی۔ نو دغه شان نبی کریم ﷺ چه چا نهٔ وی پیژندلے نو خبره ئے نهٔ منی، او نهٔ پرے اثر کوی، او چه الله ئے نهٔ وی پیژندلے نو خبره ئے نهٔ منی۔

دویم په دے سورت کښې د ښځے او د خاوند ترمینځ د اختلافاتو خبره ذکر شوه ځکه چه طلاق د اختلاف د وجه نه راځی،

نو الله خپل عظمت بیانوی چه ستاسو رب دومره لوی دے، او لوئی د الله سره لائقه ده، ستاسو سره لائقه نهٔ ده، نو په یو بل باندے لوئی مهٔ کوئ او د یو بل حقوق ادا کړئ۔ او ښځه او خاوند یو بل لره په ځان باندے نعمت وګنړئ۔

الله فرمائی: الله هغه ذات دے چه اووه آسمانونه، اووهٔ زمکے او د دے ترمینځه تمام مخلوقات ئے پیدا کړل، دینی احکام او شریعتونه ئے نازل کړل، او د پوره کائناتو چلولو دپاره ئے ضابطے او قوانین جوړ کړل،

او د دے ټولو مقصد دا دے چه د هغهٔ بندګان هغه وپیژنی، او په دے خبره یقین وکړی

چه د هغهٔ علم او د هغهٔ عظیم قدرت د تمامو څیزونو نه راتاؤ دے۔ او ددے علم او یقین نتیجه به دا وی چه تمام انسانان صرف د هغهٔ بندګی وکړی، صرف هغهٔ سره محبت وکړی او د هغهٔ د حقونو په اداء کولو کښې هرګز کوتاهی ونکړی۔

وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ: دے کښې چا غلط تفسیر کړیدے چه ددے نه اُوه برَ اعظم مراد دی۔ حال دا چه دا اُوه واړه بر اعظم یوه زمکه ده۔

بعض وائی : ددے نه اُوه کواکب سیاره مراد دی۔ لکه عطارد، مریخ، زهره، شمس، قمر، مشتری، زحل۔ دا خبره هم صحیح نهٔ ده۔

صحیح دا ده چه ددے نه مراد اُوه زمکے دی، او دا اُوه زمکے حقیقةً دی لکه د بخاری په روایت کښې هم راغلی دی :

[مَنْ اَخَذَ شِبْرًا طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ اَرَضِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]

(بخاری : ٢٤٥٢)

چا چه پردۍ زمکه یو لویشت قبضه کړه د قیامت په ورځ به دهٔ ته اُوه زمکے په غاړه کښې واچولے شی۔ ددے نه هم معلومیږی چه زمکے اُوه دی۔

بیا دا خبرے اسرائیلی دی چه په هره زمکه کښې مخلوق دے. او د هغوی دپاره ددے زمکے په شان انبیاء علیهم السلام دی، لکه دا خبره په بعض روایاتو کښې راغلی دی،

حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : ددے خبرو هیڅ ثبوت د رسول الله ﷺ نه په صحیح سند نشته، نو دا به په خپل قائل باندے مردود وی۔

او په البدایه والنهایه کښې لیکی چه دا خبره چه ابن عباسؓ ته منسوب ده نو کیدے شی چه هغه د اسرائیلیاتو نه اخستی وی۔ لکه دا خبره علامه سخاویؒ په ((المقاصد الحسنة)) کښې هم ذکر کړیده۔

او ابوحیانؒ په البحر المحیط کښې لیکی چه دا بیشکه موضوع روایت دے، او د واقدیؒ کذاب نه نقل دے۔

او ددے په مقابله کښې د حاکمؒ (صاحب مستدرك) تصحیح له هیڅ اعتبار نشته، او امام نوویؒ وئیلی دی چه دا روایت ثابت نهٔ دے۔

بیا ددے زمکو ترمینځ کوم مخلوق دے؟ نو دے باره کښې صحیح خبره دا ده چه مونږ دپاره صرف دا عقیده ساتل کافی دی چه آسمانونه هم اُوه دی او زمکے هم اُوه دی، او

باقي علم الله ته سپارلے شویدے،

او الله تعالىٰ ددے په معلومولو مونږ نهٔ یو مکلف کړی، او نهٔ ئے په معلومات کښې څه فائده شته۔ الله به په زمکو کښې بخارات، معدنیات، او پاره او وسپنے او اُوبهٔ او چینے پیدا کړی وی۔

يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ: یعنی د دوی ترمینځ د الله تعالىٰ امر چلیږی، د آسمان نه بارانونه راځی، زلزلے او طوفانونه راځی، او ددے ترمینځ د هغهٔ قوانین چلیږی۔ دلته د امر نه مراد قدری امرونه دی۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورت

۱- د عدت او د طلاقو مسئلے۔
۲- په تقوىٰ باندے امرونه او د هغے فوائد۔
۳- د اُوه زمکو تذکره۔

ختم شو تفسیر د سورة الطلاق په فضل د علیم او قدیر په ۲ رمضان ۱۴۳۷ هـ



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

آیاتها (۱۲)	(٦٦) **سورة التحریم مدنیة** (۱۰۷)	رکوعاتها (۲)

سورة التحریم مدني دے، په دے کښې دولس آیتونه او دوه رکوع دي

تفسیر سورة التحریم

نوم : ددے سورت ډیر نومونه دي (۱) سورة التحریم، (۲) سورة اَلۡمُتَحَرِّم (۳) سُوۡرَةُ لِمَ تُحَرِّم (٤) سُوۡرَةُ النَّبِیِّ (٥) او سُوۡرَةُ النِّسَاء۔

د نازلیدو زمانه : قرطبيؒ وائي چه د ټولو په نیز دا سورت مدني دے۔ نحاسؒ او ابن مردویهؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړي دي چه سورة التحریم په مدینه کښې نازل شوے۔

د سورت موضوع او مقصود

حُقُوۡقُ الزَّوۡجَیۡنِ وَتَرۡبِیَةُ الۡاَوۡلَادِ۔ د ښځے او د خاوند د یو بل حقوق ادا کول، او د اولادو تربیت کول۔ او دا خبره چه په زواج سره نجات د عذاب نه نهٔ راځي۔

په مثال کښې رسول الله ﷺ او د هغهٔ بیبیانے ذکر دي، د مشر د کور احوال د اُمت د تربیت دپاره ذکر دي۔

مناسبت

۱- طلاق ولے واقع کیږي؟ نو وجه دا ده چه ښځه او خاوند د یو بل حقوق نهٔ ادا کوي۔ دلته هم راځي ﴿عَسٰی رَبُّهٗۤ اِنۡ طَلَّقَكُنَّ﴾ یعني اے بیبیانو د نبي! ددے نبي حقوق ادا کړئ نو طلاق به نهٔ درکوي۔

۲- مخکښې سورت کښې احکام د جدائي د ښځے او د خاوند ذکر شو، نو اُوس پدے سورت کښې هغه احکام راوړي چه په هغے سره د ښځے او د خاوند ترمینځ جوړ راځي۔

۳- په مخکښې سورت کښې عظمتِ شان د رسول الله ﷺ ذکر شو نو دلته عتاب ذکر کوی هغه چا ته چه د هغۀ د خفګان کار کوی۔

ټول سورت د یو خاص واقعے سره متعلق دے، لیکن د قرآن طریقه دا ده چه د جزئی واقعے نه کلی قانون جوړوی۔

شان نزول

ددے سورت په شانِ نزول کښې دوه قِسمه حدیثونه راغلی۔

❁ یو حدیث د انس بن مالك ﷺ نه نقل دے چه نبی کریم ﷺ د حفصے رضی الله عنها د نمبر په ورځ د هغے په کور کښې د خپلے وینزے ماریه قبطیه سره کور والے اوکړو۔ دغه وخت حفصه خپل پلار کره تلے وه۔ واپس راتلو نه پس کله چه هغے ته ددے اندازه اُوشوه نو هغے نبی کریم ﷺ ته ووئیل چه یا رسول الله! تا زما د نمبر په ورځ زما په کور کښې هغه کار کړے دے چه هغه بلے کومے ښځے سره تا هیڅ کله نۀ دے کړے۔

نو هغۀ ووئیل: آیا تۀ دا نۀ خوښوے چه زۀ به هیڅ کله هم د هغے خواله نۀ ورځم۔ (د وینزے په کور والی کښې حق نۀ وی نو ځکه داسے قسم کوی)

حفصے ووئیل: هاؤ! نو نبی ﷺ ماریه په ځان حرامه کړه، او وے وئیل چه دا خبره هیچا ته مۀ ښایه، (دے دپاره چه ماریه خفه نشی) لیکن حفصے رضی الله عنها عائشے رضی الله عنها ته حال ووئیلو، نو الله تعالیٰ نبی ﷺ ته ددے خبر ورکړو، او دا آیت نازل شو۔ حفصے رضی الله عنها تپوس وکړو اے د الله رسوله! تاسو ته چا حال ووئیلو؟ وے فرمایل: ما ته الله خبر راکړو۔

(قرطبی، وابن جریر، والمعجم الاوسط (۱۳/۳) وفی اسناده ضعف، وقال فی مجمع الزوائد: اسماعیل بن عمرو البجلی ضعیف والضحاك بن مزاحم لم یسمع من ابن عباس وبقیة رجاله ثقات) ولکن رواه النسائی (۳۹۵۹) باسناد صحیح کما قال الحافظ فی فتح الباری (۲۸۸/۹) (اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَتْ لَهٗ اَمَةٌ یَطَؤُهَا فَلَمْ تَزَلْ بِهٖ حَفْصَةُ وَعَائِشَةُ حَتّٰی حَرَّمَهَا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی هٰذِهِ الْآیَةَ یَا اَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ) وصححه الصنعانی فی سبل السلام والشوکانی فی الدراری المضیة (۲۲۵)

❁ دویمه واقعه د شاتو ښنبکلو ده۔

بخاریؒ او مسلمؒ د عائشے رضی الله عنها نه یو حدیث راوړیدے چه د هغے خلاصه دا ده

چه د رسول الله ﷺ عـادت مبارکـه دا وو چـه شپے به ئے په نمبر وار د بيبيانو سره تيره ولے مـګر مازيګر وخت به ئے د ټولو بيبيانو ملاقات کولو ځکه چه د بيبيانو ضرورت وی، د کـور حال احـوال معلوم کړی، نو رسول الله ﷺ بـه د زينـب بـنت جحش رضی الله عنها خواته ډيره پورے پاتے کيدو، پدے وجه چه هغے به ورله د شاتو شربت جوړولو، او په هغے به وخت لګيدو،

دے وجے نـه عـائشے او حـفـصے رضی الله عنهما خپلو کښ دا فيصله وکړه چه په مونږ دواړو کښ چه د چا خواته رسول الله ﷺ مخکښ راغے، هغهٔ ته دِے اووائی چه ستا د خُلے نه د (مغافير) بُوئے راځی، آيا تا مغافير خوړلی دی۔

(مغافير يو خوږ کند دے چه هغه د (عُرفط) نومے وُنے نه راځی، او بدبويه وی)۔

چـنانچه دغسے اُوشوه، کله چه هغه په دغه دواړو کښ د يوے خواته لاړ نو هغے دغسے اُووئيـل۔ نو نبی ﷺ اووئيـل چه نـهٔ، مـا د زينـب بـنت جحش خواته شات ځښلی دی۔ کيـدے شـی چـه د شاتو مچئ دغه بوټے خوړلے وی، اوس به هيڅ کله زهٔ هغه اونهٔ ځکم، ما قسَم خوړلے دے۔

(او دا ځکه چه رسول الله ﷺ بـه بـد بـوئی ډيره بده ګنړله، او ددے نه دا هم معلومه شوه چه خپلے ښځے ته ځان ښائسته کول او بد بوئی زائل کول هم ضروری دی)

بيـا ئے هغـوی ته ووئيل چه تاسو هيچاته دا خبره مهٔ کوئ۔ (ځکه چه که زينب ددے نه خبره شی نو هغه به خفه شی)

ليـکـن کـلـه چـهِ عـائشه رضی الله عنها د حفصے رضی الله عنها سره بيا ملاؤ شوه، نو هـغے يو بل ته حال ووئيلو چه رسول الله ﷺ خـو پـه ځان باندے شات حرام کړل، نو پدے موقعه کښ دا آيتونه نازل شو، او خپـل نبی ته ئے وفرمايل :

چـه پـه ځان بـانـدے حـلال څيزونـه ولے حراموے؟، په ځان باندے ولے سختی راولے؟، او بيبيـانـو تـه ئے ادب بيان کړو چه د رسول الله ﷺ راز ښـکـاره کـول مناسب نهٔ وو، نو پدے وجه ئے هغوی ته ئے بار بار د توبے دعوت ورکړو۔

او هغوی ته ئے زورنه ورکړه که تاسو ددے نبی سره ښه ژوند نهٔ تيروئ نو دے به تاسو لره طـلاق درکـړی، او الله تـعـالیٰ بـه ورتـه نـورے بيبيانے ورکړی، ددے رسول تاسو ته حاجت نشتـه بـلـکه ستاسو ضرورت دهٔ ته دے۔ د قيامت په ورځ به ددهٔ سره ملګری شئ۔ ﴿ يَوْمَ

لَا يُخْزِى اللهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ﴾ (مَعَهُ) لفظ راوړو کښې همدې ته اشاره ده چه ددۀ ملګرتیا غوره کړئ چه د قیامت د شرمونو نه محفوظ شئ۔

بیا ئې د آسیه او د لوط او نوح علیهما السلام د ښځو واقعات راوړیدی، پدې کښې د امت د ښځو تربیت دې۔ لکه روستو راځي۔

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ
اے نبی ! ولې حراموې هغه څۀ چه حلال کړیدی الله تا لره، لټوې تۀ رضا
أَزْوَاجِكَ وَاللهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱﴾ قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ
د بیبیانو خپلو او الله بخونکې رحم کونکې دے۔ یقیناً مقرر کړیدی الله تعالیٰ تاسو لره
تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ وَاللهُ مَوْلَاكُمْ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿۲﴾
کولاوول د قسمونو ستاسو او الله دوست ستاسو دے او هغه پوهه حکمتونو والا دے

تفسیر :يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ: علامه قاسمیؒ لیکی چه دا خطاب د تلطف او شفقت دے، چه ولې د بیبیانو د وجه نه ځان په تکلیف کښې اچوې۔

او شربینیؒ وئیلی دی چه دا تنبیه ده چه ستا د شان سره دا کار مناسب نۀ دے،

تُحَرِّمُ: دلته د تحریم نه مراد په قسم سره په ځان باندې بندول دی۔

مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ: مطلب دا دے چه الله تعالیٰ یو شے جائز کړیدے نو بنده په ځان باندې ولې هغه بند کړي، الله تعالیٰ دا څیزونه ددې دپاره حلال کړیدی چه بندګان ئې استعمال کړي، ددې وجه نه رسول الله ﷺ ته چه به کوم جائز څیزونه مخې ته راتلل، نو هغه به ئې خوړل، غوښه، شهد وغیره، او دا خو دا د صوفیاؤ طریقه ده چه وائی غوښه مۀ خورئ، شات مۀ خورئ، او ښۀ شے مۀ خورئ ځکه چه دا د بزرګئ خلاف دی۔ دا د رسول الله ﷺ د سنت خلاف دی۔

بله دا چه پدې سره د بیبیانو د رضا دپاره نورو ته تکلیف رسیږی، لکه په دغه واقعه کښې زینب رضی الله عنها او ماریه رضی الله عنها ته۔

تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ : پدې کښې اشاره ده چه د خپلو بیبیانو رضا کولو کوشش

ښـه کار دے لیکن داسے حد پورے د هغے رضا کولو کوشش کول چه د هغے په وجه جائز شے حرام کړے شي مناسب نهٔ دی۔

نـو په آیتِ کریمه کښې نبی کریم ﷺ او مسـلمانانو له تعلیم ورکړے شوے چه الله تعالیٰ کـوم شے حـلال کـړے دے، هیڅوك دا حق نشته چه هغه د چا د خوښې له خاطره په خپل ځان باندے حرام کړی۔

پـه آیت کـښې ددے خبـرے هـم پـه ډاګـه بیان شوے دے چه الله تعالیٰ د خپـل رسول ددے لـغزش نـه درګـذر (مـعافی) وکړه، په هغهٔ ئے رحم وکړو، او مسلمانانو دپاره ئے یو شرعی حـکـم نازل کړو چه که یو کس په یوه خبره باندے قسَم اوخوری نو ددے کفاره څهٔ ده، چه ددے تفصیل د سورۂ المائده په (۸۹) آیت کښې راغلے دے:

﴿ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ﴾

(ددے کـفـاره لسـو مـحـتـاجـانو باندے خوراك خورول دی د درمیانه درجے چه کوم تاسو خپـل کـور والـو بـانـدے خـوروئ، یا هغوئ له جامے ورکول، یو غلام یا یوه وینزه آزادول دی، او د چـا وس چـه نـهٔ کـیـږی هغه دِے درے ورځے روژے اونیسی، دا ستاسو د قسَمونو کفار ده، کله چه تاسو قسَم اوخورئ)۔

دے وجے نـه کـوم کـس چـه هـم یـو حلال شے په خپل ځان حرام کړی، برابره خبره ده که هغـه د خـوراك څښـاك شے وی، یـا کومه وینزه وی، یا د کوم کار د کولو یا نهٔ کولو قسَم اُوخوری، بیا قسَم ماتول غواړی، په دهٔ به مذکوره کفاره واجبه وی۔

فَرَضَ اللهُ: یعنی الله مقرر کړیده۔

تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ : پرانستل د قسمونو ستاسو په کفاره ورکولو سره۔

وَاللهُ مَوْلَاكُمْ : یـعـنـی الله تـعـالیٰ سـتـاسـو مـولیٰ دے، په دینی او دنیوی کارونو کښې ستـاسـو عُـمده تربیت کول غواړی، او تاسو د خرابو خبرو نه لرے ساتل غواړی، دے وجے نـه هـغـهٔ دِ قسَم کـفـاره اداء کـول واجـب کـړیدی، دے دپاره چه ستاسو ذمه واری ددے نه فـارغـه شی۔ او الله ډیـر زیات پوهه او ډیر لوئے حکمتونو والا دے، دے وجے نه هغهٔ داسے احکام واجب کړی دی چه هغه ستاسو د حالاتو مناسب، او تاسو له فائده مند دی۔

وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا
او کله چه پټه اوکړه نبي (ﷺ) بعض بیبیانو خپلو ته (حفصې ته) یوه خبره
فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللهُ
نو هرکله چه خبر ورکړو هغې (عائشې ته) په هغې سره، او خبر ورکړو الله نبي لره
عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ
په هغې باندې نو (نبي) اُوخودله بعض د هغه خبرې او مخ ئې واړولو د بعضې نه
فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ
نو هرکله چه نبي خبر ورکړې هغې ته په خبره اُووئیل هغې چا خبر درکړیدې تا ته
هَٰذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ﴿٣﴾
ددې، اُووئیل هغهٔ، خبر راکړیدې ما ته پوهه خبردار ذات۔

تفسیر: اُوس هغه مخکنئ واقعې ته اشاره ورکوی۔

بَعْضِ أَزْوَاجِهِ: د ډیرو مفسرینو خیال دے چه دلته د بعضِ زوجاتو نه مراد حفصه رضی الله عنها ده۔ او د [حَدِيثًا] نه مراد ماریه قبطیه رضی الله عنها ده۔

یا د بعض ازواجو نه عائشه رضی الله عنها مراد ده، او حدیث نه شات په خپل ځان باندې حرامول مراد دی۔ نبی کریم ﷺ حفصې رضی الله عنها ته وئیلی وو چه د ماریه د حرامولو (یا د شاتو د حرامولو) کومه خبره چه ما تاته کړې ده، هغه بل چاته مهٔ کوه، لیکن هغې دا خبره عائشې رضی الله عنها ته وکړه، او الله تعالیٰ خپل نبی ته خبر ورکړو چه ستا راز، راز پاتې نشو، حفصې عائشې (رضی الله عنها) ته وئیلې دې۔

نو رسول الله ﷺ حفصې رضی الله عنها ته څهٔ خبره ښکاره کړه، او څهٔ ئې د هغې د خیال ساتلو سره ونهٔ ښودله۔

وَأَظْهَرَهُ اللهُ: یعنی الله خبر کړو خپل نبی لره په دغه خبره۔

عَرَّفَ بَعْضَهُ: ددې نه معلومیږی چه د اوچتو اخلاقو تقاضاً دا ده چه بنده په هره خبره

پوره نکته چینی ونکړی۔ په هره خبره بانـدے ښځے ته گوریدلو سره د هغے ژوند تنگیږی۔

په بعض خبرو باندے به درگذر کوے، او بعضو باندے به غلے کیږے۔

او ددے نـه دا هـم مـعـلـومـه شوه چه ښځے یا دوست له جائز نهٔ دی چه د خاوند او دوست رازونه خوارهٔ کړی۔

مَنْ أَنْبَأَكَ هٰذَا: حفصے د نبی ﷺ نـه تپوس وکړو چه تـالـه چا خبر درکړے دے چه ما عائشے ته خبره ښودلے ده؟ نو نبی ﷺ وفـرمایل : ماله هغه علیم او خبیر ذات خبر راکړے چه د هغـهٔ نـه هیـڅ خبره پټه نهٔ پاتے کیږی۔ دا دلیل دے چه د صحابه کرامو او د ازواج مطهراتو دا عقیده وه چه نبی کریم ﷺ حاضر او ناظر او غیب دان نهٔ دے۔

او نَبَّأَنِیَ نـه مـعـلـومـه شوه چه رسول الله ﷺ په عـلـم راوستـو کښ د الله تعالیٰ وحی ته محتاج وو۔

الْعَلِیْمُ: ظاهری خبرو باندے هم علم لری، او الخبیر : په باطنی خبرو هم خبردار دے۔

نَبَّأَنِیَ الْعَلِیْمُ الْخَبِیْرُ : پـدے آیت کښ بله فائده د الله د علم او د قدرت بیان دے، چه رب هغـه ذات دے چـه د هـغـهٔ نـه هیـڅ یوه خبره نهٔ پټیږی، دوه زنانه پټے خبرے کوی نو الله هغه هم آوریدلی دی، او خپل نبی ته ئے خبر ورکړیدے۔

رسول الله ﷺ د خپلے یوے بی بی سره پټه خبره کړیده. هغه هم الله آوریدلے ده۔ نو د الله په باره کښ دا عقیده ولرئ۔

نـو دا د ښځے او خـاونـد دپاره فـائـده منه خبره ده چه ښځه دا عقیده وساتی چه که زما خـاونـد زمـا پـه کـور کـښ نشتـه هم الله تعالیٰ ما وینی، غټ مالك مے موجود دے۔ زهٔ به ورانے نکوم، دغه شان سړے ډے هم دا خیال وکړی۔

إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا
که چرته توبه اُوباسئ تاسو دواړه نو یقیناً مائله شویدی زړونه ستاسو
وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلَاهُ
او که چرته تاسو یو بل سره مدد کوئ په خلاف دهٔ نو یقیناً الله مددگار دهٔ دے

وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمَلَائِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴿٤﴾ عَسَىٰ
او جبریل (ﷺ) او نیکان مؤمنان او ملائك روستو ددیے نه مددگار دی۔ امید دیے
رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ
د رب د نبی (ﷺ) نه که چرته تاسو (دیے) طلاقے کړی نو بدل کښں به ورکړی دۀ ته
أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ مُسْلِمَاتٍ مُؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ
بیبیانے غوره ستاسو نه مسلمانانے، ایمان لرونکے، تابعداری کونکے،
تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا ﴿٥﴾
توبه ویستونکے، بندگی کونکے، روژے نیونکے، کونډے او جینکئ۔

تفسیر : اُوس الله تعالىٰ دواړو ته خطاب کوی، فرمائی چه تاسو دواړو د رسول الله ﷺ هغه ادب او احترام ونۀ کړو کوم چه د هغۀ حق دیے، تاسو له ددیے گناه نه توبه کول پکار دی دیے دپاره چه الله تعالىٰ ستاسو توبه قبوله کړی، اوکه چریے تاسو دواړه په یوه داسے خبره باندیے اتفاق کوئ کومه چه د نبی کریم ﷺ د تکلیف باعث وی، نو پوهه شئ ! چه د نبی مولىٰ الله دیے، او جبریل دیے، او نیکان ایماندار دی، او ددیے ټولو نه پس ملائك د هغۀ د مدد دپاره هر وخت تیار دی۔

دیے وجے نه هیڅوك د هغۀ یو ویښتۀ هم خرابولے نشی۔ تاسو دواړه خو ښځے یئ، د الله، جبریل او ملائکو په مقابله کښں ستاسو څۀ حیثیت کیدیے شی؟۔

مفسرین لیکی چه په دیے آیت کښں د نبی کریم ﷺ د عظیم ترین شرافت او عزت بیان، او د هغوئ د مذکوره دواړو ښځو دپاره تنبیه او دهمکی ده۔

فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا : دا د صَوْغ نه دیے، مائل کیدو او جوړیدلو ته وئیلے کیږی، که په ښه طریقه وی او که په بدیے طریقے سره وی، او زیغ همیشه په بده طریقه کښں استعمالیږی۔

بیا ددیے دوه مطلبه دی، یو دا چه ستاسو زړونه مائل شویدی تویے ته۔ او دلته به جزاء پټه وی، اَیْ اِنْ تَتُوْبَا اِلَی اللّٰهِ فَتَوْبَتُکُمَا مَقْبُوْلَةٌ لِاَنَّهٗ قَدْ صَغَتْ قُلُوْبُکُمَا اِلَی التَّوْبَةِ وَاِلَی اللّٰهِ۔

کـه تاسـو الله تـه توبه وباسئ نو ستاسو توبه مقبوله ده ځکه چه ستاسو د دواړو زړونه تـوبے او الله تـعـالیٰ ته مائل شویدی۔ او توبے دپاره جوړ شویدی۔ نو پدے کښې هغوی ته ترغیب دے چه په جلتئ سره توبه وباسی۔

دویم مطلب دا دے چه ستاسو زړونه کاږه شوی او اوړیدلی دی د خالص محبت د رسول الله ﷺ نـه ځکـه چـه هغـه کـوم شے بد ګنړی (راز ښکاره کول) هغـه تاسو تـه خوښ شویدی۔ نو ستاسو دپاره د توبے سبب موجود دے۔

د عربیت قانون

قُلُوُبُكُمَا : د عـربیت یـو قانون دا دے چه کله تثنیه بلے تثنیے ته مضاف کولو کښې ثقل ګنړی، نو د اول تثنیه نه جمع جوړه کړی نو دا افصح کلام دے، او اِفراد هم جائز او فصیح دے۔ او تثنیه راوړل صرف جائز دی۔ او ددے مثال : ﴿ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا ﴾ دے۔ (مائده: ۳۸)

وَإِنْ تَـظَاهَرَا عَلَيْهِ : تـظـاهـر د یـو بـل ملا تړل او ملا تینګول او مدد کول دی، او عَلیٰ کلمه د ضرر دپاره ده، یعنی د هغهٔ په خلاف او د هغهٔ د ایذاء (ضرر) ورکولو دپاره۔

د بیبیانو هیڅکله اراده د ضرر نهٔ وه پدے وجه ئے دا په اِنْ (فرضی طریقے) سره ذکر کړو۔

وَجِبُرِيُلُ : غوره دا ده چه دا مبتداء ده، او روستو پرے عطف دے، او ظهیر ددے خبر دے، او هغه جنس دے په معنیٰ د جمع سره۔ او مفرد ئے پدے وجه ذکر کړو چه د دوئ په مینځ کښې پوره اتحاد او اتفاق دے ګویا که یو دی۔

وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ: ددے نه مراد ټول صحابه کرامؓ دی۔

بـعـض وائـی : هـغـه خـوك چـه د نـفاق نـه بـری وی۔ او صالح المؤمنین په اصل کښې صَالِحُوْا الْمُؤْمِنِيْن دے، په خط کښې واو حذف شویدے او اصل کښې مراد دے۔

یا صـالـح اسم جـنـس دے ټـول مـؤمـنان سابقین او روستنی ټول پکښې داخل دی۔ چه هغوی اکرام د رسول الله ﷺ کوی، او په هغهٔ باندے درود وائی او د هغهٔ د سنت تابعداری کوی۔

او پـه صالح المؤمنین کښې پټه اشاره ده چه زما ددے نبی دوستان به هغه خوك وی چه هغـوی کـښې صـلاحیـت وی، او کـه چا کـښې صـلاحیت او نیکی نهٔ وی نو هغه د نبی دوست نشی کیدے، هسے په دعوه باندے کار نهٔ کیږی۔

(جبريل) ئے مخکښې ذکر کړو ځکه چه هغه به هر وخت دے نبي کريم ﷺ ته وحي راوړله په اذن د الله تعالىٰ سره، او وروستو مؤمنين ذکر کړل چه هغوی دغه وحي لولي او اَتباع (تابعدار) د رسول الله ﷺ دي، او نور ملائك ئے روستو ذكر كړل ځكه چه د هغوی د نبي كريم ﷺ د جبريل عليه السلام او د صالح المؤمنين نه تعلق كم دے۔

ظَهِيرٌ: مددګار۔ واحديّ وائي: دا هغه واحد لفظ دے چه په معنىٰ د جمع سره دے، لكه ﴿ وَحَسُنَ اُولٰئِكَ رَفِيْقًا ﴾۔

ابوعلي الفارسيّ ليكي چه فعيل وزن د كثرت دپاره هم استعماليږي۔ لكه ﴿ وَلَا يَسْأَلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا ﴾۔ (المعارج: ١٠)

سوال دا دے چه يواځے د الله تعالىٰ مدد كافي دے، نو جبريل عليه السلام او ملائك او نيكان مؤمنان ئے ولے ورسره ملګري كړل؟

جواب دا دے چه پدے كښې د مؤمنانو د زړونو خوشحالول مقصد دے۔

دويم پدے كښې د نبي كريم ﷺ توقير او عزت كول دي، او دريم پدے كښې د رسول الله ﷺ معجزات ښكاره كول دي۔ چه د هغهٔ مدد له به دا تول خلق راپورته كوي لكه په بدر او حنين كښې ئے ملائك راليږلي وو۔ (فتح البيان)

عَسٰى رَبُّهٗ: په دے آيتِ كريمه كښې حفصے، عائشے او نورو امهات المؤمنين ته نوره دهمكي وركړے شوے ده، او هغوئ ويرولے شوي دي چه كه تاسو زما نبي له تكليف وركوئ نو ممكنه ده چه هغه تاسو ټولو له طلاق دركړي، او د هغهٔ رب ستاسو په بدله كښې هغهٔ له ستاسو نه ښے ښځے وركړي،

ليكن الله تعالىٰ په هغوئ باندے مهرباني وكړه، او ددے آيت د نازليدو نه پس تمامو امهات المؤمنين نبي كريم ﷺ راضي كړو، د هغهٔ انتهائي درجه ادب او احترام ئے اوكړو، او بهترينے مسلمانے ښځے جوړے شوے، دے وجے نه رسول الله ﷺ هغوئ له طلاق ورنهٔ كړو، بلكه هغه چه ترڅو پورے په دنيا كښې وو، هغه ټولے د هغهٔ ښځے پاتے شوے، او په آخرت كښې به هم د هغوئ بيبيانے وي۔

علامه قرطبيّ ليكي چه الله تعالىٰ پوهيدو چه رسول الله ﷺ دوي ته طلاق نهٔ وركوي ليكن د خپل قدرت نه ئے خبرے كړے چه كه بالفرض دے تاسو له طلاق دركړي نو ستاسو نه به ورته غوره وركړي۔

هر کله چه هغه طلاقے نکړے معلومیږی چه د هغوی نه په دنیا کښې غوره بیبیانے نورے نهٔ وے ځکه ئے خپل نبی ﷺ ته ورنکړے۔

مُسْلِمَاتٍ: پدے صفاتو ذکر کولو کښې ټولو بیبیانو د نبی کریم ﷺ او د ټول امت زنانو ته ترغیب دے چه تاسو ځان کښې دا صفات پیدا کړئ۔

دا د قرآن د دعوت طریقه ده چه په اشاره کښې دعوت کوی۔

او دا شپږ صفتونه د کمال عبدیت دی په انسان کښې، نارینه وی او که زنانه۔

او روستنی (ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا) صفت د عبدیت سره تعلق نهٔ لری، اشاره ده چه هغه صفت ځان له سبب د کمال او د افضلیت نهٔ دے، ځکه چه بعض ثیبه زنانه د نیك عمل او عقیدے په سبب د جاهلے باکرے (ځوانے) نه ښه وی۔

مُسْلِمَاتٍ : یعنی د الله تعالیٰ د حکمونو تابعدارے به وی۔ اسلام نه مراد په اخلاص سره پوره انقیاد (تابعداری) کول دی۔

او د تصدیق دپاره پوره اخلاص شرط دے، پدے وجه ئے اسلام د ایمان نه مخکښې راوړو۔

مُؤْمِنَاتٍ: په الله تعالیٰ او په ملائکو او کتابونو او رسولانو باندے او تقدیر د خیر او شر باندے به تصدیق کونکی وی۔

قَانِتَاتٍ: ددے نه مراد طاعت د الله تعالیٰ او د رسول دے په پوره اطاعت سره۔ یا د خاوند پوره تابعدارے به وی۔ یا قنوت په معنیٰ د خشوع او عاجزئ سره دے۔ یعنی الله تعالیٰ ته به عاجزی کونکی وی۔

بعض وائی : قنوت نه مراد مُصَلِّيَاتٍ بِاللَّيْلِ دی۔ یعنی د شپے الله تعالیٰ ته ودریدونکے مونځ کونکے۔ کومے زنانه کښې چه قنوت وی نو د هغے د خاوند سره ورانے نهٔ راځی، عاجزَی په زنانه کښې ډیر ښکلے صفت دے۔

تَائِبَاتٍ : یعنی الله تعالیٰ ته به ډیرے تویے وباسی، برابره ده چه گناه ئے کړی وی او که نهٔ۔

یا : رَاجِعَاتٍ إِلَى اللهِ وَإِلَى أَمْرِ رَسُوْلِهِ ﷺ عَنِ الْهَفَوَاتِ وَالزَّلَّاتِ۔

یعنی راواپس کیدونکی به وی الله تعالیٰ ته، او د هغهٔ د رسول امر ته د بیهوده خبرو او لغزشونو نه۔

او پدے سورت کښې ترغیب تویے ته زیات دے نو ځکه ئے دا لفظ راوړو۔

عَابِدَاتٍ : (یعنی ډیر عبادتونه کونکی به وی)۔ پدے کښې اشاره ده چه مخکنی صفتونه د خپل طبیعت په وجه سره، یا د ریاء په وجه یا د نفاق په طریقه سره نهٔ کوی بلکه د الله تعالیٰ د عبدیت په سبب سره ئے کوی۔

کومه زنانه کښې چه عبادت نهٔ وی نو هغے کښې ورانے زیات وی، د کبر نه ډکه وی، عبادت انسان کښې نرمی پیدا کوی۔

سَائِحَاتٍ : سیاحت په اصل کښې په زمکه کښې گرزیدل دی. دلته ددے درے معانی دی، روژه نیونکے، هجرت کونکے، د طاعت دپاره گرزیدونکے۔

علامه قاسمیؒ لیکی چه د سیر فی الارض کوم حکم چه د سړو په حق کښې ذکر دے لکه په سورة حج (٤٦) او سورة غافر (٢١) او سورة روم (٩) آیت کښې دغه د زنانو دپاره هم مشروع دے۔

ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا : ثیبات جمع د ثَيِّبَةٌ ده، کوندے ته وائی، د ثَوْب نه دے رجوع ته وئیلے شی، او دا هم د خاوند د مرگ یا طلاق نه پس خپل مور او پلار کره واپس شی۔

او نبی کریم ﷺ له الله تعالیٰ دواړه قسمه بیبیانے ورکړے وے۔

وجه دا ده چه ثیبات کښې عقل او تجربه زیاته وی او حمل زر اخلی۔ او باکره مزیداره او زړه خوشحالونکے او ډیرے لوبے او مستی کونکی وی غالباً۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ
اے ایمان والو! بچ کړئ ځانونه خپل او اهل خپل د اُور نه، خشاك د هغے به خلق وی
وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ
او کانړی، په هغے باندے ملائك دی سخت طبیعت والا، طاقتور،
لَا يَعْصُونَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا
نافرمانی نهٔ کوی د الله نه د هغے چه امر ئے کړے وی دوی ته، او کوی دوی هغه څه
يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ إِنَّمَا
چه دوی ته حکم ورکیدے شی۔ اے کافرانو! بهانے مهٔ کوئ نن ورځ یقیناً

تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٧﴾

بدله درکولے شي تاسو ته د هغے عملونو چه تاسو ئے کوئ۔

تفسیر: اُوس عام قانون بیانوی چه اے ایمان والو ! د خپلو ښځو او اولاد تربیت وکړئ، دوی ته ادب ورکړئ، دوی ته اخلاق وښایئ، دا د زنانو په تاسو باندے حق دے۔ او پدے کښں هغه چا ته یره او تخویف ورکول چه د رسول الله ﷺ خلاف کوی۔

ربط

نو مخکښں د خاوندانو حقوق وو چه زنانه به ځان کښں ښکلے صفات پیدا کوی نو اُوس د ښځو حقوق په سړو باندے ذکر کیږی۔

یعنی خپل ځانونه او خپل خاندان والا د هغه عظیم اوخطرناك اُور نه بچ کړئ چه د هغے خشاك به انسانان او د کانړو هغه بتان وی چه په دنیا کښں بُت پرستانو د هغے عبادت کړے وو۔

او ددے نه د بچ کیدو صورت دادے چه دوئ د هغه گناهونو نه توبه کړی کوم چه د الله تعالیٰ د ناراضگئ او د آخرت د عذاب سبب جوړیږی، او د هغهٔ اوامر په ځائے کړی، او د منع شوو څیزونو نه بچ شی۔

او اهل او عیال د جهنم د اُور نه په دے طریقه بچ کیدلے شی چه هغوئ له د اسلام تعلیم ورکړی او په دے باندے په عمل کولو هغوئ مجبوره کړی۔

د انسان دپاره ددے خطرناك اور نه د بچاؤ صورت همدا دے چه هغه خپل د اسلام او شریعت پابند جوړ شی، او د خپل لاس لاندے خلق هم په دے باندے په عمل کولو مجبوره کړی۔

قُوْا أَنْفُسَكُمْ: علی بن ابی طالب رضی الله عنه فرمائی : عَلِّمُوْا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمُ الْخَيْرَ۔

یعنی خپلو ځانونو او خپلو ښځو او بچو ته د خیر تعلیم ورکړئ۔

د خیر تعلیم دا دے چه هغوی ته دین وښائی، اخلاق او آداب وښائی۔

ددے آیت نه ثابته شوه چه په خاوند او د کور په مشر باندے دا فرض دی چه کور والو ته به د دین تعلیم ورکوی، او د هغوی تربیت به کوی۔

لیکن افسوس ! چه زمونږ کورونه د دین د خیر نه خالی وران پراتهٔ دی، او د دنیا د

خواهش پوره کولو سامانونو هیڅ کمے نشته، تی، وی، کیبل او کمپیوټر او فیس بوك خو زمونږ ژوند جوړ شویدے۔ داسے کورونه به څنګه جوړ شي؟!!۔

وَقُودُهَا النَّاسُ : د اُور دا صفت بیان کړے شو چه ددے خشاك به انسان او کاڼړی وی، نو ددے نه مقصد د همکی ورکول او ویرول دی، دے دپاره چه بنده ددے د هیبتناکئ تصور وکړی او د خپل رب طاعت او بندګئ طرفته مائله شی، او د جرمونو او ګناهونو نه پرهیز وکړی۔

عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ : الله تعالیٰ وفرمایل چه کوم ملائك د جهنم داروغه ګان او پهره دار دی هغه انتهائی درجه تریو تندی او سخت نیوونکی دی، د هغوئ آوازونه به کریهه وی، او د هغوئ شکلونه به انتهائی بدشکله وی، هغوئ به د خپل قوت او زور په ذریعه جهنمیان ذلیله او رسوا کوی، او د دوئ په باره کښ به د الله تعالیٰ د اوامرو په نافذ کولو کښ د ذرے هومره نرمی او روسته والے نهٔ کوی۔

هغه ملائك به د خپل رب انتهائی درجه فرمانبردار او خبره منونکے وی، او هغوئ ته چه کوم حکم کیږی د هغے په کولو کښ به هیڅ کله تاخیر نهٔ کوی۔

غِلَاظٌ شِدَادٌ: ١-غِلَاظٌ عَلٰى اَهْلِ النَّارِ شِدَادٌ عَلَيْهِمْ لَايَرْحَمُوْنَهُمْ۔

په اُور والو باندے به سختی کونکی وی او هغوی لره به سخت رانیونکی وی چه هیڅ رحم به پرے نهٔ کوی۔ ځکه چه دوی الله تعالیٰ د خپل غضب نه پیدا کړیدی، او دوی ته ئے د مخلوق عذاب ورکول خوښ کړیدی۔

٢- غِلَاظُ الْاَقْوَالِ شِدَادُ الْاَفْعَالِ۔ سختو خبرو والا به وی او سختو کارونو والا به وی۔

٣- غِلَاظُ الْاَجْسَامِ وَالشِّدَادُ الْاَقْوِيَاءُ۔

بدنونه ئے غټ او پیړ او سخت دی، او قوی دی چه د چا وس پرے نهٔ کیږی چه ځانونه ترے خلاص کړی۔

٤- غِلَاظُ الْقُلُوْبِ شِدَادُ الْاَبْدَانِ۔ سخت زړی او سخت بدنی دی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : اُوس کافرانو ته د هغوی په کفر او نافرمانئ باندے تخویف (یره) ورکوی۔

دا جواب د یو وَهم دے، که څوك ووائی چه د ملائکو نه خو نشی بچ کیدے، لیکن کیدے شی چه الله تعالیٰ ته عذرونه پیش کړی، او هغه ورله عذرونه قبول کړی، نو پدے

آیت کښې ئې جواب وکړو۔

مناسبت:

د قیامت په ورځ د کافر عذر نشته او نهٔ قبلیږي، نو دغه شان اے مؤمنه! که تا د کافر په شان نافرمانی شروع کړه، نو بیا به ستا عذر هم نهٔ وي، ځکه چه تهٔ پوهه کړے شوے ئې، نو په کافر باندے رد کوي د مؤمن د یرولو دپاره۔

د قیامت په ورځ به اُور والو ته رټنه ورکړے کیږي او هغوئ ته به وئیلے کیږي چه اے کافرانو! اُوس به ستاسو هیڅ عذر د قبلیدو وړ نهٔ وي، د عذر کولو وخت په دنیا کښې وو چه هغه تیر شو، او اُوس به هیڅ کله واپس رانشي۔

دا خو د قیامت ساعت دے چرته چه بندګانو ته د دوئ د عملونو بدله ورکولے کیږي۔ او تاسو په دنیا کښې د الله نه انکار وکړو، د هغهٔ آیتونه مو دروغژن وګڼړل، او د هغهٔ د رسولانو اومومنانو خلاف مو جنګ وکړو، دے وجے نه ستاسو انجام معلوم دے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا تُوْبُوْا إِلَى اللهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا عَسٰى
اے ایمان والو! توبه اُوباسئ الله ته توبه د اخلاص والا (د خیر خواهئ والا) امید دے
رَبُّكُمْ أَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ
چه رب ستاسو وُبه ورژوي ستاسو نه ګناهونه ستاسو او داخل به کړي تاسو لره
جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يَوْمَ لَا يُخْزِيْ اللهُ
جنتونو ته چه بهیږي به لاندے د هغے نه نهرونه په هغه ورځ چه نهٔ به شرموي الله
النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى
نبی (خپل) لره او هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدے د هغهٔ سره، رڼړا د دوی به منډے
بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا أَتْمِمْ
وهي مخے د دوی ته او ښي طرفونو د دوی ته، وائی به دوی اے ربه زمونږ! پوره کړه

لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٨﴾

مونږ لره رڼرا زمونږ او بخنه وکړه مونږ ته یقیناً ته په هر شي قدرت لرونکے ئے۔

تفسیر: اُوس بیا ترغیب دے توبے ته، ځکه چه ګناه د هر مؤمن نه کیدے شي۔ الله تعالیٰ ایمان والو ته فرمائی: د خپلو ټولو ګناهونو نه په رشتینے زړهٔ سره داسے توبه وباسئ چه په هغے کښې د رب العالمین سره دا لوظ او وعده وی چه مونږ به هیڅ کله هم دغه ګناهونه نهٔ کوو۔

تَوْبَةً نَّصُوْحًا: یعنی د خیر خواهۍ والا توبه۔ اَیْ تَوْبَةً تَنْصَحُوْنَ بِهَا اَنْفُسَكُمْ۔ داسے توبه چه په هغے سره تاسو د خپلو ځانونو خیر خواهی وکړئ۔

توبه دوه قسمه ده (۱) غیر نصوحا توبه، چه هسے د خولے توبه وباسی او بد عمل نهٔ پریدی، نهٔ بد اخلاقی او نهٔ بے ادبی او نهٔ ګناه پریدی، بلکه همغه شان خاوند سره بد اخلاقی کوی، هغه ترے په عذاب دے۔

(۲) دویم توبه نصوحا ده چه بنده پکښې د ځان خیر خواهی وکړی۔

توبه نصوحا دے ته وائی: ۱- اَلنَّدَمُ عَلٰى مَا فَعَلَ۔ په مخکنو ګناهونو خپیمانه کیدل۔

۲- وَالْاِقْلَاعُ عَنِ الذَّنْبِ۔ فی الحال ګناه پریخودل۔

۳- وَالْعَزْمُ عَلٰى اَنْ لَّا يَعُوْدَ۔ او دا کلك عزم کول چه بیا به ورته نهٔ راواپس کیږی،

او دارنګه که د بنده حق ئے برباد کړے وی نو د بنده نه معافی غوختل (لکه ښځه د خاوند نه معافی وغواړی)

۵- وَاَنْ يَّكُوْنَ ذٰلِكَ لِلّٰهِ۔ او دا توبه به د الله دپاره وی، داسے نهٔ چه مصیبت پرے راشی او د هغے نه د یرے په وجه زر توبه وباسی،

٦- او بل شرط دا دے (مُفَارَقَةُ سَيِّءِ الْخُلَّانِ) چه د غلطو ملګرو او د بد اخلاقه ښځو نه جدا کیدل ځکه چه هغه درته بیا وسوسے اچوی۔

عَسٰى رَبُّكُمْ: په داسے توبه باندے الله تعالیٰ دا وعده وکړه چه هغه به د دوئ ګناهونه معاف کړی، او دوئ به په هغه ورځ خپلو جنتونو ته ننباسی کله به چه الله په خپل فضل او کرم سره خپل نبی (ﷺ) او مومنان ونهٔ شرموی، په هغه ورځ به د مومنانو رڼرا د دوئ د لاربنودنے دپاره د دوئ مخے ته او د دوئ ښی اړخ ته منډے وهی۔

او کله چه دوئ د منافقانو رنړا مړه کيدونکے ووينی، نو د خپل رب نه به دعاء کوی او وائی به چه اے زمونږه ربه! زمونږه رنړا باقی اوساته او هغه نوره زياته کړه۔
نو الله تعالیٰ به د دوئ دعاء قبوله کړی، او دوئ به د دوئ د رنړا په رهنمايئ کښې په خپل ګاونډ کښې جنتِ نعيم ته اورسوی۔
عسىٰ کښې معنیٰ دا ده چه د الله نه اُميد وساتئ۔
لَا يُخْزِیْ : دے نه معلومه شوه چه په آخرت کښې به هر نبی او د هغه د تابعدارو مؤمنانو نه سوئ به ټول خلق شرميدلی ولاړ وی۔
وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ : مَعَهٗ کښې فائده دا ده چه بنده څومره د نبی سره نزدے وی، نو د شرم نه وړاندے وی، او چه څومره د نبی د ملګرتيا او د هغهٔ د سنتو نه وړاندے کيږی، نو شرمونو ـه نه نزدے کيږی۔ نو مَعَهٗ کښې اول ټول صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين داخل شول چه دا ډير بختور خلق وو چه د رسول الله ﷺ معيت او ملګرتيا ورته په نصيب شوه۔
بيا په اتفاق د علماؤ سره (كُلُّ مَنِ اتَّبَعَ الرَّسُوْلَ ﷺ وَاَحَبَّهٗ) پکښې داخل دے، يعنی هر هغه څوك چه د رسول الله ﷺ صحيح تابعداری وکړی او د هغهٔ سره مينه ولری، نو هغه به د رسول الله ﷺ په قيامت کښې ملګرے وی۔
نُوْرُهُمْ: دلته نُور په درے اسبابو کښې دے، اتباع، ايمان او توبه۔
يَقُوْلُوْنَ: دا به په هغه وخت کښې وائی چه الله تعالیٰ د منافقانو رنړا مړه کړی۔

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ
اے نبی! جهاد کوه د کافرانو او منافقانو سره او سختی کوه په دوی باندے
وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٩﴾
او ځائے د اُوسيدو د دوی جهنم دے او بد ځائے د ورګرځيدو دے۔

تفسير : اُوس الله تعالیٰ د کافرانو او د منافقانو په خلاف د جهاد کولو او په هغوئ باندے د سختی کولو حکم کريدے۔

ربط

سوال دا دے چه مخکښ خبره د عائشے او حفصے رضی الله عنهما شروع ده او سمدستی الله تعالیٰ د منافقانو او کافرانو سره د جهاد حکم کوی، نو ددے څه مناسبت دے؟ - **جواب** دا دے چه پدے کښ ډیرے فائدے دی :

(۱) یو دا چه کله د رسول الله ﷺ په کورنئ کښ دا معمولی شان حالات رامخے ته شول نو منافقان خبر شول، نو پدے خوشحاله شول چه ښه دے چه د نبی په کورنئ کښ اختلافات پیدا شول، نو الله فرمائی چه دے کافرانو او منافقانو له سزا ورکول پکار دی۔

(۲) پدے کښ د حفصه او عائشه رضی الله عنهما تربیت دے، د هغوی دا گمان وو چه نبی کریم ﷺ نرم انسان دے، مونږ ته څه نهٔ وائی که څه وکړو، که ددهٔ راز هم افشاء کړو نو دومره نقصان به نهٔ وی،

نو الله تعالیٰ دوی ته تنبیه ورکوی چه دا پیغمبر اگرکه نرم هم دے خو ما هغه ته د غِلظت (سختی کولو) حکم هم کړیدے، نو چرته تاسو ددهٔ د نرمئ نه بده فائده وانخلئ۔

(۳) پدے کښ په منافقانو باندے هم رد دے چه رسول الله ﷺ ئے اُذُن (د هرے خبرے آوریدونکے) یعنی نرم گڼرلو چه مونږ سره به سختی نهٔ کوی، نو الله تعالیٰ هغوی ته اشاره ورکوی چه دا نبی اگرکه نرم دے لیکن ما ورته د سختئ حکم هم کړیدے نو داسے سختی به درسره وکړی چه بیا به خپیمانه یئ۔

جَاهِدِ الْكُفَّارَ : د جهاد دا حکم د ژبے، د قلم او د تورے او نیزے د ټولو په ذریعه جهاد کولو ته شامل دے۔ د جهاد اولنئ مرتبه په حکمت او پوهے او نرمے طریقے سره د الله تعالیٰ خبره د خلقو مخامخ پیش کول دی، دوئ د دلائلو په ذریعه قائل کول دی۔

او که چرے دا طریقه کاږ ورنهٔ کړی، او دشمنان د اسلامی دین خلاف جنگ ته تیار شی، نو وسله اُوچتول واجب کیږی، او د جنگ په میدان کښ به هغوئ له ماتے ورکول او اسلام غالب کول ضروری وی۔

وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ: ددے سختئ ترتیب په سورة توبه کښ ذکر شویدے۔ یعنی د منافقانو بد صفات ذکر کول، دوئ ته زورنه ورکول او په دوئ باندے شرعی حدود قائمول دی۔

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَأَةَ نُوْحٍ وَامْرَأَةَ
بيان کړيدے الله تعالىٰ مثال دپاره د کافرانو د ښځے د نوح (علیه السلام) او د ښځے
لُوْطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا
د لوط (علیه السلام)، وے دواړه لاندے (يعنى په نكاح كښ) د دوه بندګانو د بندګانو زمونږ
صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا
نه چه نيكان وو نو دواړو خيانت اُوكړو د هغوى سره نو هغوى دواړو دفع نكړو
عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ
د دوى دواړو نه د عذاب د الله نه هيڅ شے او اُووئيلے شو داخل شئ دواړه اُور ته
مَعَ الدَّاخِلِيْنَ ﴿١٠﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ
سره د داخليدونكو نه۔ او بيان كړيدے الله تعالىٰ مثال دپاره د هغه كسانو
آمَنُوا امْرَأَةَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ
چه ايمان ئے راوړيدے د ښځے د فرعون كله چه اُووئيل دے اے ربه زما ! جوړ كړه
لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ
ما لره ستا په خوا كښ كور په جنت كښ او بچ اُوساته ما لره د فرعون نه
وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١١﴾
او د عمل د هغۀ نه او بچ اُوساته ما لره د قوم ظالمانو نه۔

تفسير: دوه مثالونه راوړى اول مثال د كافرانو دے، او دويم د مؤمنانو، او دواړه مثالونه اول د حفصے او د عائشے رضى الله عنهما سره هم لګى۔
پدے دواړو مثالونو كښ الله تعالىٰ دے دواړو بيبيانو ته تنبيه وركړيده چه د محمد رسول الله ﷺ په نكاح كښ راتللو سره تاسو كاميابيدے نشئ كله چه په تاسو كښ ايمان

او تقویٰ نهٔ وی، مثال ئے د نوح او لوط علیهما السلام ښځے دی چه خاوندان ئے اُوچت پیغمبران دی لیکن دوی جهنمیانے دی، ځکه چه بے ایمانه خیانتګرے وے نو الله هلاکے کړے۔ نو د نبی کریم ﷺ نبوت تاسو له فائده نهٔ درکوی کله چه تاسو کښې ایمان نهٔ وی۔ ددے برعکس لکه یو خاوند ډیر ناکاره وی او ښځه ئے اُوچته مسلمانه ده، نو د خاوند ناکاره والے ښځے له ضرر نهٔ ورکوی۔

دغه شان یوه ښځه ده چه پیغله ده، هیڅ خاوند ئے نهٔ دے کړے نو هغے له پیغلتوب ضرر نهٔ ورکوی کله چه هغے کښې ایمان او تقویٰ موجوده وی۔

اُوس دواړه مثالونه د ټولو مؤمنانو سړو او ښځو سره هم لګی، مُخَالَطَةُ الْكَافِرِيْنَ لَا يَضُرُّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَنْفَعُ الْكَافِرِيْنَ) اول مثال د کافرانو دے چه مخالطَت (شریك وسیدل) د کافرانو د مسلمانانو سره دوی ته فائده نهٔ ورکوی، نو کافر له د مسلمان ایمان فائده نهٔ ورکوی، دا مهٔ وایه چه زما پلار یا ځوی مسلمان دے، زهٔ به د هغه په وجه بچ شم، او جنت ته به داخل شم، نهٔ بلکه خپل ایمان به راوړے او نیك عمل به کوے۔

د ایمان نه مخکښې پلار او بچی یو بل ته فائده نشی ورکولے لکه بعض خلقو به دا وئیل چه زمونږ خپل خپلوان ښهٔ خلق دی، مونږ به د هغوی په وجه جنت ته لاړ شو۔

(دویم): بعض زنانه د کافرانو په نکاح کښې وے لکه زینب رضی الله عنها د ابو العاص بن ربیع په نکاح کښې وه چه دے لا په اسلام مشرف شوے نهٔ وو، او داسے نورے زنانه، نو الله تعالیٰ ورته فرمائی چه که تاسو د کافرانو په نکاح کښې یئ هم تاسو ته د هغهٔ کفر ضرر نهٔ درکوی، لکه فرعون او د هغهٔ بی بی آسیه (رضی الله عنها) واخله چه د فرعونٰ کفر د آسیه ایمان ته هیڅ ضرر ورنکړو۔

دغه شان یوه ښځه ده چه هغے بیخی خاوند نهٔ دے کړے او ایمان پکښې موجود دے، نو ایمان دومره اُوچت دولت دے چه هغے له ایمان فائده ورکوی لکه مریم رضی الله عنها ته وکوره۔

امْرَأَةَ نُوحٍ وَامْرَأَةَ لُوطٍ: دلته ئے (زَوْجَه) لفظ ذکر نکړو ځکه د دوئ د خاوندانو سره په عقیده کښې موافقت نهٔ وو، صرف نکاح وه، او زوجه غالباً په هغه مقام کښې ذکر کیږی چه د ښځے او د خاوند موافقت وی۔

تَحْتَ: دے لفظ کښې اشاره ده چه زنانه به د خاوند نه ځان خکته ګنړی۔

او پدے لفظ کښې دے ته هم اشاره ده چه ددے دواړو زنانو د خپلو خاوندانو سره ډیر جوخت تعلق وو، همیشه به ئے د هغوی عبادتونه او نیکیانے لیدلے لیکن بد بخته وے، د هغوی نه ئے هیڅ عبرت او نصیحت وانخستو۔

عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ : په عبدین او صالحین لفظ کښې اشاره ده چه د انبیاء علیهم السلام کمال هم دا دے چه په هغوی کښې د الله تعالیٰ پوره عبدیت او پوره صلاحیت او د الله تعالیٰ اطاعت موجود وی۔

او دلته ئے ضمیر راجع نکړو بلکه ددے دواړو پیغمبرانو دا دوه صفتونه ئے ذکر کړل، پدے کښې یو ددے پیغمبرانو شرافت او فضیلت ذکر کول دی۔

او دویم پدے کښې مقصد مثال ته اشاره ده چه انسان ته عادةً صرف د خپل ځان عبادت او صلاحیت (نیکی) فائده ورکوی، نۀ د بل چا نیکی او صلاحیت، اګرکه دغه بل څوك په اعلیٰ مراتبو د صلاح او نیکئ کښې وی او الله ته ډیر قریب وی۔ (فتح البیان)

فَخَانَتَاهُمَا: یعنی دے دواړو د هغه دواړو سره خیانت وکړو اَیْ بِالْكُفْرِ وَالْعِصْيَانِ۔ په کفر کولو سره، او د هغو په مخالفت کولو سره۔

(أَوْ فَخَانَتَاهُمَا اَیْ فِي الْإِيْمَانِ، لَمْ تُوَافِقَاهُمَا عَلَى الْإِيْمَانِ وَلَا صَدَّقَتَاهُمَا فِي الرِّسَالَةِ)

یعنی هغوی سره ئے په ایمان کښې خیانت وکړو چه دواړو د هغوی سره په ایمان کښې موافقت ونکړو او نۀ ئے په رسالت کښې د هغوی تصدیق وکړو۔

او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه (مَا بَغَتِ امْرَأَةُ نَبِيٍّ قَطُّ) د هیڅ نبی ښځے زنا نۀ ده کړے۔ (ابن ابی حاتم، ابن المنذر، ابو الشیخ، ابن عساکر) واحکام القرآن لابن العربی)

او د ابن عباسؓ نه دا هم روایت دے چه (د نوح علیه السلام د ښځے خیانت دا وو چه خلقو ته به ئے وئیل چه دے لیونے دے، او د لوط علیه السلام د ښځے خیانت دا وو چه قوم ته به ئے د لوط علیه السلام میلمانۀ خودل (دے دپاره چه هغوی ئے بیعزتی وکړی) دغه د دواړو خیانت وو)۔

بعض وائی : د دواړو خیانت په نفاق سره وو، او بعض وائی په چغلی کولو سره وو۔

بعض وائی چه کله به لوط علیه السلام کره میلمانۀ راغلل نو د هغه ښځے به لوړے رانبکاره کړو دے دپاره چه قوم ته پته ولګی چه لوط علیه السلام کره میلمانۀ راغلی دی۔

(فتح البیان والقرطبی وتفسیر عبد الرزاق الصنعانی: ۱۲۳٤)

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللهِ شَيْئًا: یعنی د الله تعالیٰ د عذاب نه ئې هیڅ شې دفع نکړو.
علامه قرطبیؒ لیکی : (فِيهِ تَنْبِيهٌ عَلَى اَنَّ الْعَذَابَ يُدْفَعُ بِالطَّاعَةِ لَا بِالْوَسِيلَةِ)
پدې کښې دا تنبیه ده چه د الله تعالیٰ عذاب په طاعت سره دفع کیږی، په وسیلو نیولو سره نهٔ دفع کیږی، او رد دې په مشرکانو باندې چه هغوی به ویل چه نبی کریم ﷺ زمونږ رشته دار او قومی دې، هغه به زمونږ دپاره سَفارش کوی.
الله وفرمایل چه د محمد ﷺ شفاعت د مکې کافرانو ته فائده نهٔ ورکوی اګرکه ددهٔ خپلوان دی.
وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ: دا قول د الله تعالیٰ او د ملائکو د طرف نه دې؛ ددې وجه نه فاعل ذکر کولو ته ضرورت نشته.
مَعَ الدَّاخِلِينَ: یعنی لکه څنګه چه پردی نور مشرکان اُور ته داخلیږی، او د انبیاء علیهم السلام سفارش ورته فائده نهٔ ورکوی، نو دغسې ددې دواړو ښځو حال هم دغه شان شو چه د دوئ انبیاؤ علیهم السلام ته نسبت او قرب دوی ته فائده ورنکړه.
او پدې کښې په یهودیانو باندې هم رد دې چه هغوی به په خپلو پلارانو نیکونو فخر کولو، او دا به ئې وئیل چه زمونږ پلاران نیکو نه انبیاء (علیهم السلام) تیر شویدی هغوی به مونږ د اُور نه بچ کوی.
وَضَرَبَ اللهُ: دا دویم مثال دې چه الله تعالیٰ ئې د مؤمنانو د پوهې دپاره ذکر کوی چه اې مؤمنه ! (نارینه وی او که زنانه) کله چه تا کښې ایمان موجود وی نو د مشرك سره خپلولی او نکاح وغیره تا ته هیڅ ضرر نهٔ درکوی.
اُوس هم ډیرې زنانه شته چه خاوند ئې چرسی پوډری وی، مونځ نکوی، نکاح ئې ورسره ماته ده، لیکن هغه غریبه ترې نشی تللې نو مجبوره ده نو کله چه دا نیك عمله وی نو د خاوند بد عملی ورته ضرر نهٔ ورکوی.
(او مشرك ته خور لور ورکول صحیح نهٔ دی لیکن که په جاهلیت کښې ورکړې شوی وی او زنانه موحده وی، مجبوره وی نو د مشرك خاوند شرك ورته ضرر نهٔ ورکوی).
امْرَأَةَ فِرْعَوْنَ: ددې نوم آسیه بنت مزاحم وو. بعض وائی : دا اسرائیلیه وه، او د موسیٰ علیه السلام د پلار خور (ترور) وه.
او بعض وائی : د فرعون د ترهٔ لور وه. او دا د عمالقهؤ نه وه، او د ډیر رشتینی فراست

مالکه وه، په موسیٰ ؑ باندے ئے ایمان راوړے وو نو فرعون په هغې باندے ظلمونه شروع کړل.
(همیشه دپاره د غټو کافرانو د طرف نه په کمزورو مظلومانو ډیر زیات ظلم شوید ے).

قصه :

هرکله چه الله تعالیٰ موسیٰ ؑ ته نبوت ورکړو نو د فرعون لور وه او د هغې یوه ماشطه (سر ګمنزونکے خدمتګاره) وه، د هغې دوه درے بچي وو، نو هغې په موسیٰ ؑ باندے پټ ایمان راوړو (او همیشه په انبیاؤ علیهم السلام باندے کمزورو خلقو ایمان راوړید ے لکه په مکه کښې زِنِّیرے، او ام عمارے رضی الله عنهما ایمان راوړے وو)
نو یوه ورځ د سر ګمنزولو په وخت د هغې د سر نه ګمنز پریوته نو هغه ئے راواخسته او بسم الله ئے ووئیله نو جینئ ورته په تعجب سره وکتل چه بسم الله دِے څنګه ووئیله او ورته ئے ووئیل : (اَلَكِ رَبٌّ غَيْرَ وَالِدِیْ؟) آیا ستا دپاره زما د پلار نه علاوه بل رب شته؟) نو هغې ووئیل : آؤ، زما رب او ستا د پلار رب او د ټول عالَم رب یو الله دے.
هغې ووئیل : دا خبره زۀ پلار ته وکړم؟ هغې ووئیل : وکړه، لور ئے فرعون ته ددے د ایمان خبر ورکړو چه په موسیٰ ؑ ئے ایمان راوړید ے. هغه راطلب کړه، ورته ئے ووئیل : آیا تا ایمان راوړید ے؟ هغې ووئیل : آؤ، ما په الله او په رسول ایمان راوړید ے، فرعون ورته دهمکی ورکړه او ردے بدے ئے ورته ووئیلے چه ایمان پریده، ورته ئے ووئیل : زۀ به دِے مړه کړم او بچے به دِے هم مړۀ کړم، هغې ووئیل :
دا هر څه دِے وشي خو زۀ ایمان نۀ پریدم (الله مضبوطه کړه) نو پدے وخت کښې فرعون د وسپنے یو کړائی راوړو او هغه ئے انتهائي ګرم کړو، او دے ته ئے ووئیل چه اُوس ایمان پریده ګنے دے کړائی ته دِے اول بچي بیا تا غورزوم؟
نو هغې ورته ووئیل چه زما یو سوال ومنه. هغه دا چه کله دِے مونږ مړۀ کړو نو ما او زما بچي به په یو ځای خخوے، نو نمبر په نمبرئے د هغې بچي وغورزول کله چه آخری بچے پاتے شو چه هغه تے رودلو نو دا د هغۀ د وجه نه لږ شان روستو شوه، نو هغه ورته آواز وکړو :
(يَا أُمَّهُ، اِقْتَحِمِیْ فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا اَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ فَاقْتَحَمَتْ)

اے مورے! رانـنوزۀ څکه چه د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه ډیر آسان دے، نو آخرئے هغه هم وغورزوله، بیائے هغه جثے راواخستے او په یو ځای ئے خخے کړے۔

حدیث کښ دی: رسول الله ﷺ چه کله معراج ته لاړو نو په جنت کښ ګرزیدو نو یوه ناشنا خوشبوئی پرے راغله، تپوس ئے وکړو اے جبریله! دا څنګه ناشنا خوشبوئی ده؟ وے وئیل: دا خو د ماشطے د قبر خوشبوئی ده، هغه تپوس وکړو چه ماشطه څوك ده؟ نو جبریل ﷺ ورته په دغه شپه کښ دا قصه بیان کړه۔

(اخرجه احمد ١/٣١٠) وابن حبان (٣٧/٣٦) والطبرانی (١٢٢٧٩) قال السیوطی فی الخصائص (١/٣٩٩) سنده صحیح، وقال ابن کثیر: اسناده لا بأس به، وقال الذهبی فی العلو (٨٤) هذا حدیث حسن الاسناد، وصحح اسناده العلامة احمد شاکر فی تعلیقه علی المسند (٤/٢٩٥) وقال الارنووط فی تخریج المسند (٣١/٥/٣٠، رقم: ٢٨٢١) اسناده حسن، وقال الالبانی فی اسناده ضعف، لاختلاط عطاء بن السائب وما قیل من سماع حماد منه قبل اختلاطه فقد قیل ایضا: انه سمع منه بعد الاختلاط کما هو مبین فی (التهذیب) انتهیٰ۔ ولکن قال ابن کیال الشافعی: استثنی الجمهور روایة حماد بن سلمة عنه ایضا قاله ابن معین وابوداود والطحاوی وحمزة الکنانی کما ذکر ابن عدی فی الکامل عن ابن معین وقال الطحاوی: وانما حدیث عطاء الذی کان منه قبل تغیره یؤخذ من اربعة لا من سواهم وهم شعبة وسفیان الثوری وحماد بن سلمة وحماد بن زید وقال حمزة بن محمد الکنانی فی امالیه: حماد بن سلمة قدیم السماع من عطاء، وقال عبد الحق فی الاحکام ان حماد بن سلمة سمع منه بعد الاختلاط کما قاله العقیلی، قال الابناسی وقد تعقب الحافظ ابو عبد الله محمد بن ابی بکر بن المواق کلام عبد الحق یعنی الذی ذکرناه وقال لا نعلم من قاله غیر العقیلی)، راجع (الکواکب النیرات فی معرفة المختلطین من الرواة الثقات ١/٣٢٥/٣٢٦) لابن کیال۔

دا خبرے او حالات چه کله د فرعون ښځے (آسیه بنت مزاحم) ولیدلے نو هغے هم ایمان راوړو، نو فرعون ورته وویل چه ایمان پریده، هغے انکار وکړو نو دۀ ورله سزاګانے شروع کړے، ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: چه فرعون د هغے په لاسونو او خپو باندے څلور میخونه ټك وهل، (او لوی لوی کمرے به ئے ورله په خیټه کیخودے او په نمر کښ به ئے اچوله)۔

او چه کله به ئے دا په نمر کښ واچوله او خلق به ترے جدا شول نو ملائکو به په خپلو وزرو سره پدے باندے سورے کولو۔ او دے به د الله نه دا دعاء وکړه:

(رَبِّ ابْنِ لِیْ عِنْدَکَ بَیْتًا فِی الْجَنَّةِ الخ) چه زما ربه ! ته زما دپاره په جنت کښې یو کور جوړ کړه، او ما د فرعون، د هغهٔ د بدو اعمالو او د هر ظالم د فتنې اوآزمائش نه محفوظه اوساته۔ [فَکَشَفَ لَهَا عَنْ بَیْتِهَا فِی الْجَنَّةِ] نو الله تعالیٰ د هغې دعاء قبوله کړه۔ نو الله تعالیٰ هغې ته د جنت کور راښکاره کړو۔

(اخرجه ابو یعلی فی مسنده (٤/١٥٢١/١٥٢٢) واسناده صحیح (حسین سلیم اسد) والبیهقی فی شعب الایمان (٢/٢٤٤/١٦٣٧) والسلسلة الصحیحة (٦/٣٥/) (٢٥٠٨)

(دا د هغې کرامت وو چه په داسې سخت وخت کښې الله تعالیٰ ناشنا مددونه رالیږی لکه د خبیب ﷺ په لاس کښې به د جنت انګور ښکاره کیدل کله چه هغه قید کړے شوے وو۔

او پدے تکلیفونو تکلیفونو کښې د هغې روح الله تعالیٰ ته ورسیدو، او الله تعالیٰ د فرعون د فتنو نه محفوظه وساتله او د ایمان سره جنت ته ورسیده۔

او د داسې لوئی کافرانو نه لوی لوی ظلمونه راښکاره کیږی لکه فرعون د آسیه او ماشطې سره ظلمونه وکړل، او ابوجهل سمیه رضی الله عنها او یاسر ؓ شهیدان کړل، او دا ددې دپاره چه په آخرت کښې ئے الله تعالیٰ لوی عذاب ته بوځی چه د چا پرے رحم رانشی۔

عِنْدَکَ بَیْتًا فِی الْجَنَّةِ: علماء فرمائی : (اِخْتَارَتِ الْجَارَ قَبْلَ الدَّارِ) آسیه رضی الله عنها د ځان دپاره د کور نه مخکښې ګاونډی غوره کړو۔ ځکه ئے عِنْدَکَ مخکښې راوړو۔

او داسې دعاء د ډیر محبت د وجه نه کیږی چه اے الله ! ستا په خوا کښې ما ته په جنت کښې کور راکړه، چه ستا تعلق پکښې وی۔

وَنَجِّنِیْ مِنْ فِرْعَوْنَ: یعنی د فرعون د مجلس او د نکاح نه۔

وَعَمَلِهٖ: یعنی د فرعون د کفر او شرك /او ظلم او سزا نه مے خلاصه کړه۔

د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه د عمل نه مراد ددهٔ ډله او جماعت دے۔ (چه هغوی به هم د فرعون په حکم دے ته سزا ورکوله)۔

مفسرین لیکی : پدے آیت کښې دا خبره ثابته شوه چه د الله تعالیٰ پورے پناهی طلب کول او هغهٔ ته التجاء او زاری کول، او د فتنو او امتحاناتو او مصیبتونو نه د خلاصئ سوال کول، د نیکانو خلقو طریقه ده، او کوم خلق چه په آخرت ایمان لری د هغوی عادت دے۔

وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا
او (مثال د) مریم لور د عمران (علیه السلام) هغه زنانه چه ساتلے ئے وو عورت خپل
فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ
نو پوکے وکړو مونږ په هغے کښ د روح زمونږ نه او تصدیق کړے وو هغے د کلمو
رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ ﴿۱۲﴾
د رب خپل او د کتابونو د هغهٔ او وه دا د تابعداری کونکو نه۔

تفسیر : دا عطف دے په (امْرَأَتَ فِرْعَوْنَ) باندے، یعنی الله د ایمان والو دپاره د مریم لور د عمران مثال هم بیان کړے دے، چه هغے د زنا او بدکارئ نه خپله شرمګاه ساتلے وه، او د عفت او پاکدامنئ اعلیٰ ترین مثال جوړیدو سره په دنیا کښ اوسیدله۔

پدے کښ یو مقصد مخکښ بیان شو چه که یوه زنانه بے خاونده وی خو چه کله هغه په دین باندے عمل کونکی وی نو هغے ته هیڅ ضرر نشته۔

نو پدے کښ د دریم قسم زنانو ذکر دے، او مخکنی مثالونو کښ دوه قسمه زنانه ذکر شوے۔ لکه دا خبره حافظ ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین کښ تفصیلًا ذکر کړیده۔

او دویم دا چه یهودیانو په مریم علیها السلام باندے طعنونه لګول، لیکن هرکله چه هغه پاکدامنه وه، او په کلماتو د الله تعالیٰ یقین کونکے وه، نو د دشمنانو طعنونو هغے ته هیڅ ضرر ورنکړو، د الله په نیز د هغے په درجه کښ هیڅ نقصان رانغے۔

دارنګه مؤمن صالح داعی الی الله باندے که د دین دشمنان طعنونه او بهتانونه لګوی خو چه د هغه لمن پاکه وی، او په کتاب د الله باندے کلك وی نو هغه ته هیڅ ضرر او نقصان نشي رسولے۔

أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا: یعنی محفوظ ئے ساتلے وو عورت خپل د بے حیائی او د سرو نه۔

فَنَفَخْنَا فِيهِ: دا ضمیر فرج ته راجع دے، او په فرج کښ د روح پوکلو مطلب دا نهٔ دے چه د هغے سره بے حیائی وشی بلکه د هغه روح پوکلو طریقه دا وه چه جبریل (علیه السلام) د

هغې په ګریوان کښې پوك کړو، نو هغه خکته لاړو او د عورت په لاره دننه رحم ته ورسیدو نو د هغې اثر د هغې په بدن کښې دننه سرایت وکړو، چه ددې په اثر سره عیسٰی علیه السلام پیدا شو۔

فـنـفخنا کښې الله تعالیٰ ځان ته نسبت وکړو ځکه چه جبریل علیه السلام د الله په امر سره هغه پو کلې وو۔

رُّوحِنَا: کښې اضافت د تشریف دپاره دې، یعنی هغه روح چه مونږ پیدا کړې وو۔

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا: صَدَّقَتْ کښې یقین ته اشاره ده، او قَانِتِيْنَ کښې عمل ته۔ یعنی مریم رضی الله عنها د خپل رب له اړخه د نازل شوو صحیفو او کتابونو تصدیق وکړو، د هغې علم ئې حاصل کړو، او د هغې مطابق ئې عمل وکړو، دې وجې نه الله تعالیٰ د هغې ددې صفتونو په ذکر کولو سره د هغې صفت اوکړو۔

دارنګه وې فرمایل چه هغه د الله ډیره نیکه بندئ وه، هر وخت به د خپل رب په بندګئ کښې مشغوله وه، او هر دم کښې به د خپل رب لپاره په هغې باندې د خشوع او خضوع کیفیت راتلو۔

د کلمات او کتب ترمینځ فرق

کـلـمـات تـقـدیر تـه وائـی، یعـنـی د الله پـه قدری وعدو بـاندې، او کتب نـه مراد د الله شریعتونه دی۔ یعنی د الله په وعدو او قدری فیصلو باندې هم یقین کونکې وه، او د هغې منلو ته تیاره وه، او دغه شان د هغهٔ شریعت ئې هم منلې وو، او دا د انسان کمال دې، چه د الله دواړه قسمه فیصلې ومنی، او د الله په تقدیر باندې راضی شی۔

یا کـلـمـاتـو کـښې د الله تعالیٰ په وعدو باندې یقین مراد دې او په کتبه کښې اشاره ده چه هغه عـمـل کونکې وه د الله تعالیٰ په شریعت باندې، او دا د انسان کمال دې چه یقین ئې هم مضبوط وی او ورسره عملونه هم کوی۔

مِنَ الْقَانِتِيْنَ: (مِنَ الْقَانِتَاتِ) ئې ونهٔ وئیل، پدې کښې تغلیب شویدې، یعنی سړو له ئې په ښځو غلبه ورکړه، پدې کښې اشاره ده چه د مریم رضی الله عنها قنوت (عبادتونه) د سړو په شان کامل وو۔

یا دلته قوم لفظ پټ دې، یعنی دا د هغه قوم نه وه چه هغوی به الله ته عاجزی کوله، او د الله پـه بـنـدګـئ کښې به مصروف وو ځکه چه دا د هارون علیه السلام د اولاد نـه وه چه په بنی

اسرائیلو کښې په تقوىٰ او قنوت سره مشهور وو.
نو په مریم علیها السلام کښې قوتِ علمي، قوت ایماني او قوت عملي درې واړه کامل وو.
مِنَ الْقَانِتِيْنَ: یعنی الله ته عاجزی کونکے وه/ او د طاعت کونکو نه وه د خپل رب.
په صحیحینو کښې د ابو موسىٰ اشعری ﷺ نه نقل دی، نبی کریم ﷺ وفرمایل:
[كَمُلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيْرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا آسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ وَمَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَخَدِيْجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ، وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيْدِ عَلٰى سَائِرِ الطَّعَامِ]
(بخاری فی الانبیاء باب ۳۲، وفضائل اصحاب النبی ﷺ باب ۳۰، والاطعمة باب ۲۵ ومسلم فی فضائل الصحابة حدیث : (۷۰)
چه په سړو کښې ډیر خلق کمال ته رسیدلی دی، لیکن په ښځو کښې صرف درې ښځې کمال ته رسیدلی : د فرعون ښځه آسیه، مریم بنت عمران او خدیجه بنت خویلد، (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُنَّ) او د عائشې فضیلت په ښځو باندې داسې دې لکه د ثرید (ماتې کړې روټئ) فضیلت د خوراکونو په تمامو قِسمونو باندې. وبالله التوفیق.

امتیازات د سورة التحریم

۱- پدې سورت کښې خصوصی واقعات د حفصې او عائشې رضی الله عنهما ذکر شوه.
۲- ترغیب توبې ته ورکړې شو.
۳- واقعه د ښځې د نوح او لوط علیهما السلام او د آسیه او مریم په کښې ذکر شول.

ختم شو تفسیر د سورة التحریم په رحمت د ارحم الراحمین رمضان (۳) ۱٤۳۷ هـ موافق (۲۰۱۶/٦/۸ جون) د چارشنبې (بدھ) ورځ. بجه : ۱۰:۲۰)
اسریت کالام.



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۳۰)	(٦٧) **سورة الملک مکیة**	رکوعاتها (۲)

سورة الملك مکی دے، په دے کښې دیرش آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة الملك

نوم : ددے سورت هم ډیر نومونه دی :

(۱) سُوۡرَةُ الۡمُلۡك

(۲) سورة تَبَارَك،

(۳) الواقعه،

(٤) اَلۡمُنۡجِيَه (د عذاب قبر نه نجات ورکونکے سورت)

(٥) اَلۡمَانِعَه۔

(٦) اَلۡمَنَّاعَة (یعنی هغه سورت چه منع کونکے دے عذابونو د الله تعالیٰ لره ددے لوستونکو نه)

(۷) اَلۡمُجَادِلَةُ۔ (جګړه او بحث کونکے سورت)

فضائل :

حافظ ابن کثیرؒ او امام شوکانیؒ او نورو ددے سورت د فضیلت په حقله ګڼ روایتونه نقل کړی دی۔ یو حدیث امام احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ او ابن ماجهؒ او نورو د ابو هریره ﷺ نه روایت کړے دے : [إِنَّ سُوۡرَةً مِنَ الۡقُرۡآنِ ثَلَاثُوۡنَ آيَةً شَفَعَتۡ لِرَجُلٍ حَتّٰى غُفِرَ لَهٗ وَهِيَ سُوۡرَةُ تَبَارَكَ الَّذِيۡ بِيَدِهِ الۡمُلۡكُ]

چه د الله په کتاب کښې یو سورت دے چه په هغے کښې دیرش آیتونه دی، دے یو سړی

لپاره سفارش وکړو، تردے چه هغه اوبخښلے شو۔ (ترمذی : ۲۸۹۱) واسناده حسن)

یو بل حدیث ترمذیؒ د جابر رضی الله عنه نه روایت کړے چه

[اِنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ لَا یَنَامُ حَتّٰی یَقْرَأَ الٓمٓ تَنْزِیْلَ وَتَبَارَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ]

نبی کریم ﷺ به د شپے تر خو پورے [الٓمٓ تَنْزِیْلَ] او [تَبَارَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ] نهٔ وو لوستلے، نهٔ به اُودهٔ کیدهٔ۔ (ترمذی : ۳۴۰۵ واسناده صحیح)

نور روایات هم شته لیکن په هغے کښې کلام دے۔ د قبر د عذاب نه د بچ کیدو ډیر ذرائع دی چه یو په هغے کښې تبارك الذی هره شپه لوستل دی۔

مناسبت :

۱- مخکښې د رسول الله ﷺ اتباع ذکر شوه چه د هغهٔ مخالفت مهٔ کوئ، نو دلته د الله عظمتِ شان بیانیږی۔ او قرآن کریم عمومی طور سره د الله تعالیٰ او د رسول شان او عظمت بیانوی۔ گویا که مخکښې سورت کښې رسالت وو او دلته توحید دے۔

۲- دارنگه مخکښې سورت کښې د انسانو په یو بل باندے حقوق ذکر شول، نو په دے سورت کښې د الله تعالیٰ حقوق ذکر کوی چه هغه توحید فی البرکات والاسماء والصفات دے، او ایمان په رسول او په قرآن او په بعث بعد الموت باندے۔

۳- مخکښې سورت کښې د جهنم د اُور هیبت بیان شو په یوه طریقه سره نو دلته بیا هیبت ذکر کوی په بله طریقه سره۔

موضوع د سورت

۱- زمونږ شیخ محترم رستمیؒ فرمائی چه دعوی د سورت اثبات د توحید فی البرکات دے په عقلی دلیلونو سره، او په ذکر د اسماء او صفاتِ الهیه ؤ سره چه دولس دلیلونه دی، او لس اسماء دی۔ (یعنی الله د خپلو برکاتو تذکره کړیده چه ما دا دا کارونه کړیدی نو ما سره پدے کښې هیڅوك شریك نشته)۔

۲- ظاهر دا ده چه پدے سورت کښې بَیَانُ مَعْرِفَةِ اللهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دے۔ یعنی الله تعالیٰ بندگانو ته خپل تعارف کړیدے په صورت د مُنعم او مُبَارك کښې۔ ددے تعارف په نتیجه کښې دوه خبرے ملگرے کړے شویدی، او بیا د هغے سره دوه نورے۔

اوله خبره : بعض انسانان (کافران) او شیطانان دی چه دومره لوی الله تعالیٰ موجود دے

او دوی ئے نۀ پیژنی۔ نو د دوی نتیجه به اُور د جهنم وی۔ چا چه الله نۀ دے پیژندلے د هغوی صفات به راوړی، او اُور به ورله نتیجه ذکر کړی، د دوی یو صفت دے اَلْکُفْرُ بِاللهِ۔ په الله کافر دی، دویم صفت: تَکْذِیْبُ الرُّسُل۔ د الله پیغمبران دروغجن ګڼل۔
دریم صفت: اَلْغَفْلَةُ وَعَدَمُ الْاِصْغَاءِ اِلٰی کِتَابِ اللّٰهِ۔ ځان غافل کول او د الله کتاب ته غوږ نۀ نیول، په هغې هیڅ پرواه نۀ کول۔ (وَقَالُوْا لَوْ کُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ) کښ ذکر دے۔
څلورم مرض: اَلْعُتُوُّ وَالنَّفْرَةُ عَنِ اللّٰهِ تَعَالٰی۔ د الله د حدودو نه تجاوز او د الله تعالیٰ نه نفرت کول۔ پنځم: عدم شکر۔ (د الله شکر نکول)۔
شپږم: اَلْاِسْتِعْجَالُ بِالْعَذَاب۔ د الله عذابونه په جلتئ غوختل۔ دا صفتونه په انسان کښ ولے پیدا کیږی؟ نو دا د الله د نۀ پیژندلو د وجه نه۔ ددے برعکس د هغه کسانو حال بیان شوے چه چا الله پیژندلے دے پدے دولسو دلیلونو سره نو د هغوی مدح او صفت به کوی، او الله تعالیٰ د هغوی عملونه بیانوی، یعنی چه چا الله وپیژندلو نو څه به وشی؟ نو هغه دا چه په دوی کښ به ښکلے صفات پیدا شی:
(۱) احسن عمل به پکښ راشی۔ د الله دپاره به ښکلے ښکلے عملونه کوی، لوی لوی قربانیانے به ورکوی۔
(۲) اَلْیَقْظَةُ۔ دا بندګان به ویښ وی، د هغۀ دلائلو ته به ګوری او د هغې نه به فائده اخلی۔
(۳) دریم: اَلْخَشْیَةُ: دا هغه خلق دے چه د خپل رب نه یریږی، (د الله د پیژندلو سره د الله نه یره پیدا کیږی)۔
(٤) اَلشُّکْرُ۔ د دغه الله شکر به کوی۔
(٥) الایمان۔ په الله باندے به ایمان راوړی۔
(٦) په آخره کښ به فرمائی: (التوکل) بیا به په الله باندے ځان سپاری، توکل بغیر د معرفت نه نۀ کیږی۔
نو دے سورت کښ د الله تعالیٰ معرفت ذکر دے سره د عظمت د هغۀ نه، او د بندګانو نه دا مطالبه کوی چه دومره لوی الله ستاسو په سرونو موجود دے، نو دا کارونه وکړئ او ددے بل جانب نه ځانونه وساتئ۔
که دا نیك اعمال مو وکړل الله تعالیٰ به جنتونه درکړی، او که کفر مو وکړو نو اُور مو

ځای دے۔

ګویا که پدے سورت کښې الله تعالیٰ خپل ځان بندګانو ته رانبکاره کړیدے، او دا سورت د انسان زړه خپل لوی الله طرفته بوځی۔

او چا چه الله تعالیٰ ته توجه کړیده نو د هغوی صفتونه او نیکه بدله ذکر کوی، او چا چه د دغه الله نه مخ اړولے دے، نو د هغوی بدی او سزا بیانیږی۔

یعنی د الله د تعارف سره بعض خلق متوجه کیږی او بعض خلق مخ اړوی۔ سورت به پداسے طرز روان وی۔

تَبَارَكَ الَّذِیْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰی
برکت ورکونکے دے هغه ذات چه په لاس د هغهٔ کښې بادشاهی ده، او هغه په
كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱﴾ الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ
هر شی باندے پوره قدرت لرونکے دے۔ هغه ذات دے چه پیدا کړے ئے دے مرګ
وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ
او ژوند، دے دپاره چه امتحان اُوکړی په تاسو چه کوم یو ستاسو نه ښائسته
عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ﴿۲﴾
عمل والا دے، او هغه زورور دے، بخونکے دے۔

تفسیر: په دے آیتِ کریمه الله تعالیٰ خپل عظمت او کبریائی بیان کړے، او خپل ذات ئے د ملك او بادشاهئ، قدرت او علم اوحکمت غوندته صفتونو سره متصف کړے دے۔ الله وفرمایل چه هغه الله عظمت او لویئ والا دے، د هغهٔ خیر او برکت عام او د هغهٔ احسان تمامو مخلوقاتو ته شامل دے۔

تَبَارَكَ: د برکت یوه معنیٰ ده تَعَالٰی وَتَعَاظَمَ - الله تعالیٰ اُوچت او لوی دے۔ یا الله د خیر والا دے۔ یا د هر خیر او نفع پیدا کونکے او ورکونکے دے۔

دارنګه برکت زیادت او نمو ته وائی۔ یعنی الله په څیزونو کښې زیاتوالے او ترقی اچوی، چه لږ شے وی هغے کښې ډیر خیر واچوی، لږ وخت وی په هغے کښې ډیر کار وکړے شی۔

لړ عمر ډير عمل، لږ مال ډير بركت. او د باب تفاعل صيغه د مبالغې دپاره ده.

او دا دليل دے چه په څيزونو كښې خيرونه اچونكے صرف الله دے، او ددے كلمے استعمال د الله نه سوئ بل چا دپاره شرعاً منع دے، نو پدے كښې رد دے په هغه چا چه مالك د نفع او د ضرر او خير وركونكے او اولاد او مالونو كښې بركت اچونكے د الله تعالىٰ نه سوئ انبياء عليهم السلام، اولياء وغيره ګڼړی نو دا خلق مشركان دی.

الَّذِیْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ: د هغهٔ د لوئی والی يو دليل دادے چه هم هغه د ښكته او پورته عالَم شهنشاه دے، هم هغه دا تول پيدا كړی، او هم هغه يواځے په دوئ كښې واك چلوی.

بِيَدِهِ: يد د الله تعالىٰ حقيقی صفت دے چه په غير د تمثيل او تشبيه نه او بغير د تاويل نه په قدرت او نعمت سره به منلے شی. او څوك چه د الله يد حقيقی نهٔ منی او ددے تاويل په قدرت، يا قبضه يا نعمت سره كوی، نو دا په حقيقت كښې د الله ددے ښكلے صفت نه انكار كوی، او دا د سلفو صالحينو د عقيدے خلاف عقيده ده.

وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ: كله يو تن بادشاه وی ليكن قادر نهٔ وی، ځان سره شريكان نيسی، وزراء او خادمان، دے دپاره چه ملك په شريكه وچلوی، يواځے ئے نشی چلولے نو الله فرمائی چه زما په لاس كښې داسے بادشاهی ده چه زما وزراء او مشيرانو او اسنبليانو ته ضرورت نشته. او دا دويم دليل دے.

الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ: د هغهٔ د لوئے والی دريم دليل دادے چه هغهٔ مرګ او ژوند پيدا كړے، هم هغه چه چاله غواړی ژوند وركوی او چه چاله غواړی وژنی ئے، هغهٔ نه سوئ بل هيڅوك په دے قادر نهٔ دے. هغهٔ انسانانو له ژوند وركړے او دنيا ته ئے راليږلی دی، او دوئ له ئے خبر وركړے چه دوئ به مړهٔ كيږی، او ددے فانی كور نه به كوچ كوی، او د آخرت كور به آبادوی. نو څوك چه په دے فناء كيدونكی كور كښې د الله امرونه په ځائے كوی، او د منع كړو څيزونو نه ځان ساتی، هغهٔ له به الله تعالىٰ په دواړو جهانو كښې ښه بدله وركوی، او څوك چه دلته د خپلو خواهشاتو غلام جوړيدو سره ژوندے پاتے كيږی او د الله امرونه شاته ګذاروی، هغهٔ ته به بدترينه بدله ملاويږی.

الْمَوْتَ: موت ئے مقدم كړو ځكه چه دا قهر ته زيات نزدے دے، يعنی پدے كښې په انسان باندے زور زيات دے. بله دا چه مرګ (يعنی نشتوالے) د انسان مقدم دے.

بله دا چه موت په دنيا كښې مراد دے، او حياة په آخرت كښې. ظاهر دا ده چه دواړه په

دنیا کښې مراد دی ځکه چه په آخرت کښې په ژوند باندې امتحان نشته۔ بلکه مرګ او ژوند ئې په دنیا کښې پیدا کړیدی چه اې انسانه ! ته به مرې، لږه زندګی مې درکړیده پدې کښې ځانله د آخرت دپاره ګټه وکړه۔

او د خلق الموت نه معلومه شوه چه مرګ وجودی شې دې، ځکه چه خلق ورپورې متعلق شویدې، پدې وجه د قیامت په ورځ به مرګ د ګډ په شکل راوستې شی، او د جنتیانو او د جهنمیانو ترمینځ به ذبح کړې شی۔

او حیاة به د اَس په شکل راځی، دنیا به د اِمْرَأَةٌ شَوْهَاء (بدرنګې ښځې) په شان، او قرآن به (كَالرَّجُلِ الشَّاحِبِ) لکه د خوار سړی په شان، او عمل صالح به (كَالرَّجُلِ حَسَنِ الْوَجْهِ) لکه د ښائسته مخی سړی په شان، او سورة البقره او آل عمران به د مارغانو د سیل په شان راځی۔

لِيَبْلُوَكُمْ: داسې په سورة هود (۷) آیت او سورة کهف (۷) آیت کښې ذکر شویدی۔

سوال دا دې چه الله خو په هر شی پوهه دې او ابتلاء او امتحان خو ددې دپاره اخستې کیږی چه د اَفرادو فرق معلوم شی؟

(۱) **جواب** دا دې چه ابتلاء د بلاء نه دې، حقیقت معلومولو ته وئیلې شی، نو معنیٰ دا ده چه ویه ښائی تاسو ته حقیقت د عملونو ستاسو لکه چه په سورة یونس (۳۰) آیت ذکر دی۔ ﴿ هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَا اَسْلَفَتْ ﴾ او په دنیا کښې هر انسان ګمان کوی چه زما عمل ښائسته دې، لیکن دا حقیقت به د آخرت په ورځ ښکاره شی۔

(۲) **جواب** عامو مفسرینو ذکر کړیدې چه د ابتلاء نه مراد داسې معامله ده چه مشابه ده د ابتلاء سره، او په دنیا کښې ژوند او ویره د مرګ ئې پدې وجه پیدا کړه چه ستاسو سره معامله د امتحان وکړی چه تاسو کښې کوم یو ښائسته عمل کوئ۔

أَحْسَنُ عَمَلاً: دا د الله د معرفت نتیجه ده چه څوك خپل رب لره وپیژنی نو هغه دپاره به ضرور ښائسته عمل کوی، ښکلې سجدې به ورته لګوی، مال به د هغهٔ دپاره لګوی، مجاهده به د هغهٔ دپاره کوی، د هغهٔ کتاب به په شوق سره لولی۔

فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائی : اَحْسَنُ عَمَلًا نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ مونږ ته داسې نهٔ دی وئیلی (اَكْثَرُ عَمَلًا) چه یواځې ډیر عملونه وکړئ، بلکه د ښائسته عمل کولو مطالبه ئې کړیده ځکه چه دا د رب د عظمت تقاضا ده، نو د الله د اُلو هیت تقاضا دا

ده چه زمونږ د بدن نه همیشه دپاره ښائسته عمل راووځی.
د ښائسته عمل تشریح په سورة هود (۷) آیت کښې ذکر شویده، چه اخلاص پکښې وی او د پیغمبر په طریقه وی. که یو عمل کښې اخلاص نۀ وی بلکه شرك جلی یا خفی (ریاء) وی، یا مخالفت د سنت وی په طریقه د بدعت او په رواج سره وی یا فسق او فجور سره وی نو هغه عمل به برباد وی.
وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْغَفُوْرُ : پدې دوه صفتونو کښې تخویف او بشارت دواړه دی، که انسان احسن عمل والا وی، او د هغۀ نه څه نا څه گناهونه کیږی او الله ته رجوع کوی، د گناهونو نه توبه وباسی نو الله تعالیٰ به ورته بخنه کوی، او که ناکاره عمل والا وی نو الله تعالیٰ ډیر زیات زوره ور دے، ددۀ په سزا ورکولو قادر دے او هیڅوك منع کونکے نشته.

الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا مَّا تَرٰی
هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی اُووه آسمانونه لاندے باندے (قت په قت) نۀ وینے
فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰی مِنْ فُطُوْرٍ ﴿۳﴾
تۀ په پیدائش د رحمٰن کښې هیڅ فرق، نو اُوگرځوه سترگے آیا تۀ وینے څه چاودونه.
ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَیْنِ یَنْقَلِبْ اِلَیْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِیْرٌ ﴿٤﴾
بیا اُوگرځوه سترگے دوه ځله (بار بار) راواپس به شی تا ته نظر ذلیله او هغه به ستړے وی.

تفسیر : دا بل دلیل دے چه پدے کښې الله تعالیٰ جَمَالُ الْخَلَائِق (د مخلوقاتو ښائست) بیانوی چه دا د رب العالمین په جمال باندے دلیل دے. د آسمان څلور حالات ئے ذکر کړیدی : ۱- اُوه دی، ۲- طباق دی. ۳- تفاوت پکښې نشته. ٤- فطور پکښې نشته.
سَبْعَ سَمَاوَاتٍ: اُوه آسمانونه ئے پیدا کړل د خپل حکمة د تقاضے مطابق.
بعض وائی : اول آسمان ئے د فلانی څیز نه او دویم د فلانی نه او دریم د فلانی نه پیدا کړے، نو دے باندے هیڅ دلیل د کتاب او سنت مطهره نه نشته. (فتح البیان)
طِبَاقًا : طبقے طبقے،/ لاندے باندے،/ یعنی په مینځ کښې ئے کولاو والے ورکړو، او په هغے کښې ئے مخلوق اُوه وسول لکه دے ته سبع طرائق هم وائی. یعنی اُوه لارے.
هر آسمان د بل دپاره د قُبے په شکل دے، او د دنیا آسمان په زمکه باندے د قبے په شکل

دے۔ بناء پدے باندے طباق جمعه د طبق یا طبقة ده۔
یا طباق مصدر د باب مفاعلے دے۔ یعنی یو بل سره موافق۔ او حمل مبالغةً دے۔ اَیْ ذَاتُ طِبَاقٍ۔ موافقت والا۔
علامه بقاعیؒ وائی : اُوه آسمانو نه د یو بل سره داسے مطابق (موافق) دی چه د پورته آسمان هر جزء مطابق دے د هر جزء د لاندینی آسمان سره او هیڅ جزء د پورتنی د لاندینی نه بهر نهٔ دے۔ (فتح البیان)
مَّا تَرٰی : اُوس د آسمانونو جمال بیانوی۔ ❁ یعنی تهٔ د الله پیدائش کښې آسمانونو لره هیڅ عیب او نقصان نهٔ وینے۔
❁ یا هر پیدائش د الله مراد دے۔ نو ټولو مخلوقاتو کښې هیڅ نقصان نشته۔
مِنۡ تَفَاوُتٍ: تفاوت دلته عیب او نقصان او چودونو او کوږ والی او تناقض ته وائی۔ او مِنْ د تاکید د نفی دپاره دے۔ یعنی آسمانونه نیغ برابر جوړ دی چه د خپل خالق په وجود باندے دلالت کوی۔
او د تفاوت مطلب دا نهٔ دے چه د الله تعالیٰ په مخلوق کښې فرق نشته، ټول یو شان دی، بلکه مطلب دا دے چه هر مخلوق ته چه کوم شکل او صورت او صفت ورکړے شویدے نو پدے اعتبار سره په هغے کښې هیڅ عیب نشته۔ لکه د انسان شکل وګوره که دا څوك بدلوی نو بدرنګیږی به، غر ته چه الله کوم شکل ورکړیدے که دا څوك بدلوی نو بدرنګیږی به، لکه د غر نه څوك ډیره کږ جوړوی، یا ترے د دیوال شکل جوړوی نو خوند به نهٔ کوی۔ بیا به پکښې هغه فائدے نهٔ وی کوم چه پکښې الله تعالیٰ اُوس ایخودی دی۔
دغه شان د آسمان رنګ واخله، دغه شان مار لړم، غوا، میخه، خر، سپے واخله۔
فَارۡجِعِ الۡبَصَرَ : پدے کښې الله تعالیٰ د آسمان عظمت بیانوی ځکه چه دا د الله تعالیٰ په عظمت باندے واضح دلیل دے۔
یعنی اے مخاطبه ! خپل نظر ډیر تاؤ راتاؤ کړه او آسمان ته وګوره چه آیا تا ته پدے کښې کوم چاودونه او کوم مات ځای ښکاری۔
فُطُوۡرٍ : چودونه او کمزورے کیدل، او څیرې کیدل۔ فطور جمع د فَطْرٌ ده، (قاموس محیط)

مجاهدؒ او ضحاکؒ وائی : اَلصُّدُوْعُ وَالشُّقُوْقُ۔ چاودونه او څیری کیدل۔
قتادةؒ وائی : (مِنْ خَلَلٍ) څه نقصان۔ ابن عباس ﷺ وائی : (اَلْوَهْیُ) کمزورے کیدل۔
د مخلوق د ډیر کمال او قوت د وجه نه د بعض فلاسفهٔ دا عقیده جوړه شوه چه عالَم به همیشه وی، او هیڅکله به نهٔ ماتیږی، نو د قیامت نه منکر شول۔ دا د کفر عقیده ده ځکه چه اُوس پکښې چاودونه او نقصان او خلل نشته لیکن الله چه کله اراده وکړه چه هغه ئے پیدا کونکے دے نو هغه به ئے مات رامات کړی۔
ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ: دا د ما قبل تاکید دے۔
كَرَّتَيْنِ: دا تثنیه د کثرت دپاره ده، او داسے مطلب نهٔ دے چه دوه ځله ئے واړه وه، یعنی که هر څو مره ځله بیا بیا نظر وکړے نو فطور (چودونه) نشے معلومولے۔
بعض وائی : چه دوباره ئے په نظر کولو باندے حکم وکړو ځکه چه کله نا کله انسان په یو ځل کتلو سره یو شے پوره په نظر رالاندے نکړی او د هغے عیب ئے په نظر رانشی نو الله ورته فرمائی : چه بیا بیا وګوره خو عیب نشے پیدا کولے۔
بعض وائی : اول ځل نظر ددے دپاره دے چه د آسمانونو حسن (ښائست) او د هغے استواء (برابروالے) وینی، او دویم نظر ددے دپاره دے چه د هغے ستوری په سیر او انتهاء کښې وینی۔ نو په هیڅ یو شی کښې به ورته عیب ښکاره نشی۔
خَاسِاً : د خَسْءٌ نه دے، سپی شړل او کُوړے کولو ته وئیلے شی چه مقصد ئے حاصل نشی۔ یعنی ستا نظر به د سپی په شان واپس شی خو مقصد ته به ونهٔ رسی چه هغه عیب معلومول دی۔ او خاسِءُ ذلیل او عاجز ته هم وائی۔
وَهُوَ حَسِيْرٌ: یعنی نظر به ډِے ستړے ستومانه وی۔
مقصد د آیت دا دے چه د الله مخلوق ډیر کمال والا دے، نو دغه ذات پیدا کونکے به څومره کمال والا وی، تهٔ خپل کمال ته وګوره، ستا نفس الله تعالیٰ څومره ښکلے پیدا کړیدے نو رب به ډِے څومره ښکلے وی، ستا خبرے څومره خوږے دی، نو ستا د رب خبرے به څومره خوږے وی، ستا رنګ څومره ښائسته دے، نو د الله مخ بهٔ څومره ښائسته وی، مخلوق کښې چه کوم کمال او جمال دے نو په خالق کښې به ئے خامخا په اعلیٰ درجه سره موجود وی۔
په مخلوق کښې چه کوم کمال او جمال وی، او د الله سره هغه لائق وی نو په الله کښې به

په اعلیٰ درجه هغه کمال او جمال وی لکه خبرے د انسان کمال دے، نو په الله کښ به په طریق اولیٰ کمال وی۔ انسان ډِیے غصے والا وی، او د الله تعالیٰ ډِیے نهٔ وی، انسان ډِیے رحمت حقیقی لری او الله تعالیٰ ډِیے ئے نهٔ لری، داسے نشی کیدے۔

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنَاهَا
او یقیناً ښائسته کړیدے مونږ آسمان نزدے په ډیوو (چراغونو) سره او گرځولی دی
رُجُوْمًا لِّلشَّيَاطِيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ﴿٥﴾
مونږ هغه ویشتونکی د شیطانانو او تیار کړیدے مونږ دوی دپاره عذاب د اُور بل کړے شوی۔

تفسیر: دا د الله تعالیٰ د تعارف بل عقلی دلیل دے چه په سماوی برکاتو باندے مشتمل دے۔ او هغه دا دی چه الله آسمان په ستورو سره ښائسته کړیدے۔ او پدے سره شیطانان ویشتلے کیږی دے دپاره چه وحی د تلبیس د کاهنانو نه محفوظ شی، نو دا دینی او ظاهری او باطنی برکات دی۔ مخکښ ئے وویل چه آسمان کښ هیڅ عیب نشته نو اُوس وائی چه پدے کښ کمالات دی۔

بِمَصَابِيْحَ: جمع د مِصْبَاحْ ده، چراغ (ډیوے) ته وائی۔ ددے ستورو نه رنړا راخیژی، دے وجے نه دیته [مَصَابِيْح] (ډیوے) وئیلے کیږی، یعنی لکه څنگه چه د چراغ نه رنړا ملاویږی، دغه شان دا ستوری هم رنړا ورکوی۔

شوکانیؒ لیکی چه بعضِ ستوری د دنیا د آسمان نه پورته آسمان کښ وی، لیکن هغه داسے په نظر راځی لکه چه هغه د دنیا په آسمان کښ وی، ځکه چه اجرامِ سماویه (آسمانی جسمونه) دومره صاف او شفاف دی چه په پورتنو آسمانونو کښ د موجود ستورو رنړا د هغے نه لاندے پورے را اوځی۔

وَجَعَلْنَاهَا رُجُوماً: او د بعضِ ستورو په ذریعه هغه شیطانان ویشتلے کیږی چه هغوئ په پټه باندے د ملائکو د کلام آوریدو په کوشش د دنیا آسمان ته نزدے کیدل غواړی۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه شیطانان د هغه ستورو په ذریعه نهٔ ویشتلے کېږی کوم چه

په آسمانونو کښې ثابت دي، بلکه د هغې نه شغلې راخیژي چه هغه شیطانانو پسې ورځي۔ (لکه﴿ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ﴾ (صافات : ۱۰) کښې ورته اشاره ده)

نو دا منافات ددې سره نهٔ لري چه دا زینت هم دې او شیطانانو پسې ویشتلې کیږي هم، ځکه چه کله ویشتلې شي نو ختم شي نو بیا ئې زینت والې ختم شو۔ لکه دا خبره ابوعلي الفارسيؒ یو سائل ته په جواب کښې کړې وه چه ددې نه یوه حصه راجدا کولې شي او نور ستورې په خپل مدار کښې باقي وي۔ (قرطبیؒ)

قتادهٔؒ وائي چه الله تعالیٰ د ستورو د پیدائش درې فائدې ښودلې دي : دا آسمانونو ته ډول وربخښي، ددې په ذریعه شیطانان ویشتلې کیږي، او هغه په اوچه او سمندر کښې د سفر کونکو لپاره د لارې د ښنو کار ورکوي۔ نو چا چه ددې نه نور مطلبونه واخستل (دا ئې معبود جوړ کړل) نو دهٔ تکلف وکړو په هغه کار کښې چه علم ئې ورسره نشته، او زیاتې او ظلم ئې وکړو۔ انتهیٰ۔ (ابن کثیرؒ)

الله تعالیٰ د سورتِ صافات د (٦) آیت نه تر (۱۰) آیته پورې فرمایلي دي : ﴿ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنۡيَا بِزِيۡنَةِ ۨالۡـكَوَاكِبِ وَحِفۡظًا مِّنۡ كُلِّ شَيۡطٰنٍ مَّارِدٍ لَا يَسَّمَّعُوۡنَ اِلَى الۡمَلَاِ الۡاَعۡلٰى وَيُقۡذَفُوۡنَ مِنۡ كُلِّ جَانِبٍ، دُحُوۡرًا وَّلَهُمۡ عَذَابٌ وَّاصِبٌ اِلَّا مَنۡ خَطِفَ الۡخَطۡفَةَ فَاَتۡبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ﴾ (بیشکه مونږ د دنیا آسمان د ستورو په ذریعه ښائسته کړې دې، او دا مو د هر شریر شیطان نه (د دنیا د آسمان) د حفاظت ذریعه جوړه کړې ده، دا شیطانان د عالَم بالا خبرو آوریدو ته غوږ هم نشي کیښودلې، او د هر طرف نه دوئ د (اُور په شغلو سره) ویشتلې کیږي، لرې شړلو دپاره، او (د قیامت په ورځ به) دوئ له همیشه عذاب وي مګر هغه شیطان چه هغه کوم خبر اوتښتوي نو یوه بلیدونکې شغله هغهٔ پسې روستو لګیږي)۔

فوائد او علوم:

۱- پدې کښې اشاره ده چه بره عالَم داسې دې چه په هغې کښې شري مخلوق نشته، او نهٔ شري مخلوق د هغې خوا ته ورتللې شي۔

۲- دویم دا چه د الله تعالیٰ نور مخلوق دې چه هغې ته شیطانان وائي هغوی خپل رب لره نهٔ پیژني، په دغه لوی الله باندې کفر کوي، او د هغهٔ نه بغاوت کوي، پکار خو دا وه چه د خپل رب طاعت ئې کولې۔ او په انسانانو کښې دوه قسمه دي، منونکي او نهٔ

منونکی۔
۳- پدے کښې بله اشاره دا ده چه رسول الله ﷺ حق نبی دے، وحی ورته ملائکو راوړیده چه هلته شیطانان نشی ختلے۔
٤- بل د کافرانو دپاره مقتدیٰ بیانوی چه کافرانو پدے لوی الله کفر وکړو نو د شیطان ملګری شول، هغه شیطانان چه الله تعالیٰ ئے بره نهٔ پریدی، کمزورے، د شر نه ډك مخلوق دے۔
ځکه اُوس روستو (وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا) سره خبره د معرفت نه نقمت (سزا ورکولو) ته راکاږی۔
رُجُوماً: جمع د رَجْم ده او رجم مصدر دے مضاف ئے محذوف دے، اَیْ ذَاتُ رُجُوْمٍ یعنی د ویشتلو والا۔ او مصدر ئے جمع راوړے ده اشاره ده چه ویشتل په ډیر قسمه دی۔ یا مصدر په معنیٰ د مفعول دے اَیْ مَرْجُوْمًا بِهَا۔ یعنی چه ویشتل کیدے شی پدے سره۔
لِّلشَّيَاطِيْنِ: ددے نه مراد هغه شیطانان دی د جناتو نه چه کاهنانو ته د ملائکو خبرے راوړی او دروغ ورسره یو ځای کوی لکه په حدیث کښې راغلی دی۔
وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ: یعنی په دنیا کښې خو په شغلو ویشتلے کیږی او په آخرت کښې د دوی دپاره لمبه د اُور او سخت سوزونکے اُور تیار شویدے

وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَبِئْسَ
او دپاره د هغه کسانو چه کفر ئے کړیدے په رب خپل عذاب د جهنم دے او بد دے
الْمَصِيْرُ ﴿٦﴾ إِذَا أُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا
ځائے د ورګرځیدو۔ کله چه ګوزار کړے شی دوی په هغے کښې وابه وری هغے لره
شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ ﴿٧﴾ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ كُلَّمَا
هینړار او هغه به جوش وهی۔ نزدے ده چه اُوچوی د وجے د غصے نه، هرکله چه
أُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا
وغورزولے شی پدے کښې یوه ډله تپوس به کوی د دوی نه خزانچیان د جهنم

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ﴿٨﴾ قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَآءَ نَا
آیا نهٔ وو راغلې تاسو ته يره درکونکې۔ وُبه وائي دوی، آؤ ولے نهٔ، يقيناً راغلې وو مونږ
نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ
ته يره ورکونکے نو دروغژن اُوګنړلو مونږ (هغه) او مونږ ووئيل نهٔ دے نازل کړے
اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ ﴿٩﴾
الله تعالىٰ هيڅ شے، نهٔ يئ تاسو مګر په ګمراهئ لويه کښې۔

تفسير: اُوس وائي چه کوم کافران چه په دنيا کښې د دوئ پيروی کوی، هغوئ لپاره هم الله د جهنم عذاب تيار کړے، او جهنم ډير زيات خرابه استوګنه ده چه په دے کښې به جهنميان انتهائی درجه ذلت او رسوايئ سره مخامخ شی۔

إِذَا أُلْقُوا: جهنميان (چه احسن عمل والا نهٔ دی) چه کله جهنم کښې اُوغورزولے شی، نو د هغې به ډير زيات خطرناك آواز واوری د خرهٔ د آواز په شان، او د هغې اُور به د جهنميانو جسمونو سره داسے جوشيږی لکه په کټوئ کښې چه غوختيدونکے اُوبهٔ خوټ کيږی۔

شَهِيقًا: دا اَقْبَحُ صَوْتِ الْحِمَار ته وئيلے شی۔ يعنی دا د خر ډير ناکاره آواز دے۔ او ددے نه د اُور والو رمباړے مراد نهٔ دی، وجه دا ده چه دوی خو لا اُور ته نهٔ دی غورزيدلی۔ او جهنم ته الله تعالىٰ احساس ورکړيدے چه رمباړے هم وهی او غصه هم کوی۔ او دا رمباړے به ډيرے هيبتناکے وی، يا د جهنم دا رمباړے به د هغوی د طلب کولو دپاره وی۔

وَهِيَ تَفُورُ: دا د فَارَتِ الْقِدْرُ نه دے يعنی داسے به خوټ کيږی لکه د کټوئ په شان۔ يا د سخت ګرموالی د وجه نه يا د سختے غصے د وجه نه۔

تَكَادُ تَمَيَّزُ: اَیْ تَتَقَطَّعُ۔ نزدے ده چه وچوی۔ يعنی د جهنم حالت به د کافرانو خِلاف د سخت غيظ اوغضب نه داسے وی لکه چه دا ماتيدو را ماتيدو سره ټکړے ټکړے کيږی نو بيا د هغه کافرانو به څهٔ حال وی چه هغوئ ددے غصه ناك جهنم په ګرفت کښې وی۔

او دا د جهنم غيرت دے چه د الله تعالىٰ دپاره ئے کوی چه ولے د الله بندګان دی او د هغه نه ئے سرکشی کړيده او د هغه بندګی ئے پريخے ده۔

كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ : هرکله چه یوه ډله په جهنم کښې واچولے شي نو د جهنم داروغه ګان به د دوئ نه د زجر او رټنې په توګه تپوس وکړي :

آیا تاسو ته څوك ویرونکے نۀ وو راغلے چه نن تاسو په دے جهنم کښې اوغورزولے شوئ ؟ نو هغوئ به جواب ورکړي، هاؤ، مونږ ته ویرونکي خامخا راغلي وو، لیکن مونږ د الله رسولان دروغژن وګڼړل، او د هغوئ دعوت مو رد کړو او ومو وئیل چه الله د خپل اړخه هیڅ یو شے د انسانانو د هدایت لپاره نۀ دے نازل کړے. او تاسو په ډیره لویه ګمراهئ کښې اخته یئ.

مفسرین لیکي چه دوئ د خپلے زمانے نبي دروغژن وګڼړلو او مخکښې تمام انبیاء علیهم السلام او کتابونه ئے هم دروغژن وګڼړل، او په دے بانده ئے اکتفاء ونۀ کړه، بلکه ټول رسولان ئے په لویه ګمراهئ بانده تورن کړل.

نَذِيرٌ : یره ورکونکي نه مراد رسولان علیهم السلام او د هغوی نائبان دي، او دا دلیل دے چه الله تعالیٰ بغیر د رسول رالیږلو او د نائب د هغۀ نه عذاب نۀ ورکوي. او دلیل دے چه کافران ښه پوهه شوی وو چه جنت او جهنم حق دے لیکن بیا ئے هم ایمان نۀ راوړو.

وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ : دا په تکذیب کښې ډیره مبالغه ده. او دا د ډیر ضد او عناد د وجه نه کیږي چه د حقائقو نه انکار وکړي. لکه داسے خبره د کافرانو په سورة انعام (۹۱) او سورة یٰس (۱۵) آیت کښې ذکر شویده.

إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ : دا هم قول د کافرانو دے د زیات تکذیب دپاره یعنی مونږ رسولانو ته وئیلي وو چه تاسو ګمراهان یئ.

یا دا قول د ملائکو دے جهنم والو ته چه تاسو چه د انبیاؤ او کتابونو نه انکار کولو نو تاسو خو ډیر لوی ګمراهان وئ.

وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ
او وُبه وائي دوی کچرته مونږ آوریدلے (خبرے د قرآن او حدیث) یا مونږ سوچ کولے
مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١٠﴾ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا
نۀ به وے مونږ په اُور والو کښې. نو دوی اقرار اُوکړو په ګناه خپله پس هلاکت دِے

لِأَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿۱۱﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ
وی دپاره د اُور والو۔ یقیناً هغه کسان چه یریږی د رب خپل نه
بِالْغَيْبِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّأَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۲﴾
په حال د نۀ لیدو کښې، دوی لره بخنه ده او اجر لوئی دے۔

تفسیر: اُوس د هغوی خپیمانتیا او افسوس ښکاره کوی په داسے وخت کښې چه فائده به نۀ ورکوی۔ جهنمیان به اقرار اوکړی چه مونږ د رُشد او هدایت ټولے لارے خپله په خپل ځان باندے بندے کړے وے، نۀ مونږ د الله نازل کړی آیتونه په غور سره واوریدل، او نۀ مو خپل عقل په کار واچولو او د هغے د پیژندلو کوشش مو وکړو، او په دنیا کښې داسے بیغمه ګرځیدو، او ګناهونه به مو کول لکه چه مونږ له مرګ نۀ راځیة او مونږ به د الله مخے ته حاضریږو نۀ، ارمان چه مونږ داسے نۀ وے کړی۔

لیکن ددے اقرار او ارمان به هغوئ ته هیڅ فائده اونۀ رسی، او اعلان به وکړے شی چه جهنمیان د الله د رحمت نه لرے کړے شو، اُوس دوئ لپاره هیڅ خیر نشته۔

لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ: پدے کښې د اُور نه د بچ کیدو دوه سببونه ذکر دی:

(۱) سَمَاعُ كِتَابِ اللّٰهِ وَسُنَّةِ رَسُوْلِهٖ۔ قرآن او حدیث آوریدل۔

(۲) اَلتَّعَقُّلُ فِيْهِمَا ۔ بیا پدے خبرو کښې سوچ او فکر کول چه دا خو حقے دی، عقل او آوریدونکی خلق الله تعالیٰ اُور ته نۀ بوځی، ﴿ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ﴾ عقلمند سړے الله پیژنی، پیغمبران او کتابونه پیژنی او په آخرت باندے ئے نظر لګی۔

نَسْمَعُ: اَیْ كَلَامَ الرُّسُلِ وَكِتَابَ اللّٰهِ ۔ که مونږ آوریدلے خبرے د رسولانو او کتاب د الله تعالیٰ۔ (شربینیؒ وغیره)

أَوْ نَعْقِلُ: یا مونږ سوچ کولے په هغه خبرو کښې۔ (اَوْ) د شك دپاره نۀ دے بلکه د تنویع دپاره دے، یعنی عقل او سمع د یو بل سره لازم ملزوم دی، ځکه چه څوك خبره آوری او عقل پکښې نۀ وی، نو څه فائده به ورکړی، او چه عقل وی او د الله خبرے آوری نۀ نو یواځے په عقل کامیابی نۀ ملاویږی۔ نو دواړه خبرے ضروری دی، نو (اَوْ) د مانعة الخلو دپاره دے، جمع ئے جائز ده۔

بیا یے (اَو) څکه راوړیدے چه انسانان دوه قسمه دی (۱) چا باندے سماع غالبه وی، چه خبره واوری نو هله پرے پو هیږی، خپل سوچ دومره نشی کولے۔
(۲) او بعضو باندے سوچ او فکر غالب وی او آوریدل نے کم وی۔ خپل سوچ ئے زیات وی۔
نو ددے وجه نه کوم انسانان چه په دنیا کښں د قرآن او حدیث خبرے نۀ آوری او نۀ دے له وخت ورکوی، او نۀ ئے خپل سوچ شته چه په قرآن یا د الله تعالی په دلائلو کښں سوچ وکړی، نۀ په خپل پیدائش کښں او نۀ د آسمان او د زمکے په پیدائش کښں، بلکه د خپل مقصد نه خبر نۀ وی چه مونږ څه له پیدا یو، صرف خوراك څكاك او شهوات د هغوی مقصد وی نو دغه خلق اُور ته روان دی۔
تنبیه : ددے (نَسْمَعُ) نه چه چا د تقلید د اثبات خبره کړیده چه که مونږ د مجتهدینو خبره آوریدلے، (اَوْ نَعْقِلُ) یا خپله مجتهدین وے، مطلب ئے دا دے چه مقلدین او مجتهدین به جنت ته ځی او څوك چه د قرآن او حدیث پسے روان دی او تقلید نۀ کوی نو هغه ټول جهنمیان دی، دا د دوی دعوت دے، نو دا د الله تعالیٰ د کتاب یقینی تحریف دے، حال دا چه پدے آیت کښں خو په تقلید باندے رد دے،
هغه دا چه دوی د خپل پلار نیکه د روند تقلید په وجه جهنم ته لاړل، او د قرآن او حدیث آوریدل او په هغے کښں سوچ کول ئے پریخی وو۔ لکه همدا ددے آیت د ظاهر نه معلومیږی۔ سوچ پکښں وکړه۔
نو دلته د نَسْمَعُ نه مراد کلام د رسولانو او مَا اَنْزَلَ الله آوریدل دی۔ دلیل پرے مخکښں ﴿وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللهُ﴾ او ﴿قَدْ جَاءَ نَا نَذِيْرٌ﴾ دے۔
د آیت تفسیر به د سیاق سباق مطابق کولے شی۔
او بله دا چه په سلفو صالحینو کښں هیچا دغه استدلال او تفسیر نۀ دے کړے، او دا قانون دے چه هر هغه تفسیر چه د سلفو صالحینو خلاف وی نو هغه تحریف وی۔
فَسُحْقاً: دا ښیرے دی، یعنی هلاکت دِے وی جهنمیانو لره۔ الله ورته ښیرے کړیدی۔
سحق په اصل کښں سولول د یو شی دی تردے چه ختم شی، بیا استعمالیږی په معنیٰ د لرے کیدو د رحمت د الله تعالیٰ نه۔ او په معنیٰ د لعنت سره۔
اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم: د مخکنو خلقو برعکس هغه بندګان ذکر کوی چه هغوی

الله پیژندلے دے، د هغهٔ عظمت ئے په زړه کښې راغلے دے، بیا د هغه نه یریدلی دی، او نیك عمل ئے کړیدے. خشیت هغه خوف دے چه د تعظیم سره وی. او په خشیت کښې علم هم وی لکه ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾ پرے دلیل دے.

بِالْغَيْبِ: یعنی چه الله ئے نهٔ دے لیدلے او بیا هم د هغهٔ نه یریږی.

یا په داسے حال کښې چه دوی غائب وی د خلقو نه.

وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ ط إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ
او (که) پټوئ تاسو خبره خپله یا ښکاره کوئ هغه، یقیناً هغه پو هه دے په هغه
الصُّدُورِ ﴿١٣﴾ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ
خبرو چه په سینو کښې دی. آیا نهٔ پو هیږی هغه ذات چه پیدائش ئے کړیدے
وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴿١٤﴾ هُوَ الَّذِي جَعَلَ
او هغه باریك څیزونه وینی، خبردار دے. خاص هغه داسے ذات دے چه ګرځولے ئے ده
لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا
تاسو لره زمکه تابع (دپاره د فائدو) نو ګرځئ په لارو د هغے کښې او خورئ
مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ ﴿١٥﴾
د رزق د الله تعالیٰ نه، او خاص هغه ته وړپاڅیدل دی.

تفسیر: وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د خپل علم بیان کوی ځکه چه پدے سره خشیت په بنده کښې پیدا کیږی.

نو فرمائی چه هغه په زړونو کښې پټے خبرے پیژنی، هیڅ یو شے د هغهٔ نه پټ نهٔ دے، دے وجے نه هغهٔ ته پټ او ښکاره یو شان دی، هغه خو هغه نیتونه او ارادے هم پیژنی کوم چه په سینو کښې پټے وی نو بیا به هغه اقوال او افعال څنګه نهٔ پیژنی چه هغه آوریدلے کیدے او لیدلے کیدے شی.

نو هرکله چه الله په هر حال د بنده باندے خبردار او پو هه دے، نو بیا د دغه لوی ذات نه یره پکار ده. او هغه به د نیك عمل بدله ورکوی، د هغهٔ د علم نه د هیچا نیك عمل نهٔ

غائبیږی۔
وَاَسِرُّوا: دا جمله انشائیه ده په معنیٰ د خبریه سره، دلیل پرے (اَوْ) کلمه ده چه دا دلالت په اختیار او په برابر والی باندے کوی۔
قَوْلَكُمْ: دا عام دے د خیر قول وی او که د شر، مخاطبین مؤمنان وی او که کافران۔ نو پدے کښې تخویف او تسلی دواړه ده لکه مخکښې ورته اشاره وشوه۔
اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ: پدے آیت کښې د الله تعالیٰ د معرفت بل دلیل دے۔
۱- مَنْ خَلَقَ فاعل د يَعْلَمُ دے۔ یعنی آیا هغه ذات به نۀ پوهیږی چه هغه پیدائش کړیدے؟۔ آیا هغه به په خپل مخلوق نۀ پوهیږی؟ ولے نۀ۔
۲- یا يَعْلَمُ کښې ضمیر الله ته راجع دے، او مَنْ خَلَقَ ئے مفعول دے۔ یعنی آیا الله نۀ پوهیږی په هغه مخلوق چه الله پیدا کړیدے۔
اول ترکیب غوره دے، ځکه چه په هغے سره دا خبره ثابتیږی چه الله تعالیٰ د افعالو د عبادو هم خالق دے۔ نو الله د بندګانو په ذواتو هم پوهیږی او د هغوی په افعالو هم۔ او دا ټول د الله تعالیٰ مخلوق دے۔
او دویم ترکیب سره نفی د خلق د افعالو راځی د الله تعالیٰ نه۔
اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ: یعنی هغه خو د خپلو بندګانو په زړونو کښې پټے خبرے هم پیژنی، او د دوئ د تمامو اعمالو پوره خبر لری۔
هُوَ الَّذِی: پدے آیت کښې دا احسان بیانوی چه الله تعالیٰ تاسو ته په زمکه کښې دوه څیزونه درکړیدی، یو ژوند او بل خوراك، خو ددے په نتیجه کښې به قیامت راځی، نو پدے کښې پټ دعوت دے چه الله تعالیٰ تاسو په دنیا کښې هسے چکرو له نۀ ئے پیدا کړی او نه ئے خوراك له بلکه تاسو ئے د احسن عمل دپاره پیدا کړے یئ، نو خوراك کوئ او په دنیا کښې ګرځئ او نیك عمل کوئ ځکه چه الله تعالیٰ ته ستا ورتلل دی، او دا د الله تعالیٰ تعارف هم دے۔ او احسن عمل ته ترغیب هم دے۔
فرمائی چه الله تعالیٰ تاسو لره زمکه نرمه جوړه کړے، او په دے کښې ئے آسانے لارے جوړے کړی دی، دے دپاره چه انسان په آسانئ سره خپل ضرورتونه پوره کړی، دے وجے نه انسان په زمکه کښې بوټی کری، کورونه جوړوی، پټی کری، او په لاره باندے ځی، او لرے او اوږدو علاقو، ښارونو او ملکونو ته رسیږی۔ دے وجے نه الله تعالیٰ وفرمایل چه

اے خلقو ! تاسو د رزق تالاش کولو او د نورو ضرورتونو پوره کولو دپاره په زمکه باندے جوړو شوو لارو باندے ځئ، او په دے کښ چه کومه روزی هغهٔ تاسو له پیدا کړے ده، هغه حاصله کړئ، او د هغے نه فائده پورته کړئ۔

ذَلُوْلًا: ذلول هغه څیز ته وئیلے شی چه د فائدے اخستو دپاره آسان او تابع وی، هیڅ انکار پکښ نهٔ وی، نو زمکه هم داسے ده، د فصلونو، او کروندو او چینو، نهرونو او کوهیانو کنستو دپاره صالحه ده، نهٔ ډیره سخته ده او نهٔ ډیره نرمه، او تینګه کړے شویده په غرونو سره۔

مَنَاكِبِهَا: دا جمع د مَنْكِب ده، اُوګے او اړخ ته وائی، نو زمکه ئے د یوے اُوښے سره مشابه کړه چه د هغے دپاره اُوګے وی، او مراد ترینه سُبُلَهَا وَجِبَالَهَا وَاَطْرَافَهَا دی، یعنی ددے لارے او غرونه او اطراف۔

او پدے کښ اشاره ده سفر کولو ته په زمکه کښ دپاره د تجارت او د طلب د علم او دپاره د دعوت۔ او دارنګه ګرزیدل دپاره د دلیل نیولو په وحدانیت د الله تعالیٰ او د هغهٔ په وجود او عظیم قدرت باندے۔ لکه د ﴿قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ﴾ په شان۔

وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ: شهابؒ وئیلی دی چه ددے نه مراد د رزق د حصول کوشش کول او د هغے دپاره اسباب لټول دی، او رزق خوراك، څښاك او لباس ټولو ته شامل دے، لیکن لویه فائده خوراك دے ددے وجه نه ئے د خوراك تخصیص وکړو۔

وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ: پدے کښ د غفلت نه بیدارول او نیك عمل ته دعوت دے چه په رزق طلب کولو کښ د دوباره ژوند (آخرت) نه غافل نشئ۔ خاص ستاسو هغه ته ورپورته کیدل دی، نو هغه به تاسو سره ستاسو په عملونو حساب کوی، او تاسو نه به د هغه د نعمتونو د شکر تپوس کیږی۔ نو د الله د نعمتونو په شکر کښ مبالغه وکړه۔

ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ
آیا تاسو په امن یئ د هغه الله نه چه په بره طرف کښ دے چه خخ به کړی تاسو لره
الْاَرْضَ فَاِذَا هِىَ تَمُوْرُ ﴿١٦﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ
په زمکه کښ نو ناڅاپه به هغه خوزیږی۔ آیا په امن یئ (نهٔ یریږئ) د هغه ذات نه

فِي السَّمَآءِ أَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُوْنَ
چه په بره په طرف کښې دے چه رابه ولیږی په تاسو باندے باران د کانړو نو زردے چه پته
كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ
به اُولګی تاسو ته چه څرنګ دی یرول زما. او یقینًا دروغژن ګنړلے دے (حق لره)
الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿١٨﴾
هغه کسانو چه مخکښې وو د دوی نه نو څرنګ وو عذاب زما (دوی لره).

تفسیر: راتلونکی درے آیتونو کښې دنیوی تخویف دے کافرانو او ټولو مجرمانو ته څوك چه د الله نه بغاوت کوی په کفر او شرك او ګناهونو سره، نو الله داسے مجرمانو ته درے دهمکیانے ورکړیدی، دوه فی الحال او یو د مخکښے زمانے.

اوله دهمکی د زمکے په عذاب سره ده، او دویمه په آسمانی عذاب سره، او دریمه هغه نمونے د عذاب چه په تیر شوی مکذبینو راغلی وو.

ءَاَمِنتُم: اوله دهمکی دا ده چه آیا تاسو ددے نه په امن کښې یئ او هیڅ خطره مو نشته چه الله تعالیٰ تاسو ستاسو د کفر وجه نه هلاك او برباد کړی او ټول به مو په زمکه کښې ننباسی.

مَّن فِي السَّمَاءِ : السماء نه مراد جهت د عُلُو دے. یعنی هغه ذات چه په بره طرف کښې دے چه هغه عرش دے.

او قرطبیؒ وئیلی دی چه فِیْ په معنیٰ د فَوْق او عَلیٰ هم صحیح دے. لکه (فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ) معنیٰ دا نۀ ده چه په زمکه دننه ننوزئ وګرځئ بلکه معنیٰ دا ده چه د زمکے دپاسه وګرځی. او ﴿وَلَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ﴾ ددے معنیٰ ده (عَلٰی جُذُوْعِ النَّخْلِ) څکه چه په سولئ باندے خیژول په ونه کښې دننه نۀ وی، بلکه د هغے دپاسه وی. نو دا تاویل نۀ دے، او دا او نور ډیر نصوص دلالت کوی په علو او اُوچتوالی د الله تعالیٰ باندے، ددے نه انکار نۀ کوی مګر ملحد یا جاهل مُعَانِد (عنادګر / ضدی) آه.

نو پدے کښې دے تاویلونو ته هیڅ ضرورت نشته چه (مَنْ هُوَ خَالِقٌ فِی السَّمَاءِ) (هغه څوك چه هغه پیدا کونکے دے په آسمان کښې) یا (مَنْ تَصَرُّفُهٗ فِی السَّمَاءِ) (هغه څوك چه

د هغه تصرف په آسمان کښې دے) يا (مَنْ قُدْرَتُهٗ فِي السَّمَاءِ) (چه د هغهٔ قدرت په آسمان کښې دے) پدے کښې د الله د استواء علی العرش صفتْ نه انکار راځی۔

او پدے کښې اشاره ده چه هغه ډير اُوچت ذات دے نو د خکته خلقو په عذاب باندے ضرور قدرت لري په داسے طريقه چه په زمکه کښې ئے ورننباسی په شان د قارون۔

فَإِذَا هِيَ تَمُورُ: اَیْ تَضْطَرِبُ وَتَتَحَرَّكُ بِكُمْ عَلٰی خِلَافِ مَا كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ السُّكُوْنِ وَالْاِطْمِئْنَانِ) يعنی ناگهانه هغه به خوزيږی او حرکت به کوی، خپل سکون او اطمينان به ئے ختم شی۔ يعنی کله چه انسانان په زمکه ننباسی نو زمکه به پرے خوزيږی خوزيږی تردے چه هغه به پرے پورته شی او دوی به ترے خکته اسفل السافلين ته راخکلے شی۔ او کله چه زمکه نهٔ خوزيږی، نو بيا پکښې ځای په ځای ولاړ وی۔ او تمور : د مَوْر نه دے چورليدو ته هم وائی۔

او داسے خسفونه الله تعالیٰ ډير کړيدی، لکه قارون ئے په زمکه ننويستو، او يهوديان ئے داخل کړيدی او زمونږ په زمانه کښې هم ډير انسانان په زمکه ننويستے شويدی د الله د بغاوت د وجه نه، زمکے او کورونه او بلډنگونه زمکے راخکلی دی۔

أَمْ أَمِنتُم: اُوس په آسمانی عذاب سره دهمکی ذکر کوی۔

حَاصِباً: کانړی ويشتونکی ته وائی يعنی داسے سيلئ يا باران يا وريځه يا بل څيز چه کانړی به ولی لکه څنگه ئے چه په قوم د لوط عليه السلام باندے ويشتلی وو، لکه په سورة قمر (۳٤) آيت کښې دی يا په شان د اصحاب الفيل۔

كَيْفَ نَذِيْرِ: دا په زير د راء سره دے، او ياء د متکلم د وقف د وجه نه حذف شويده۔ اَیْ نَذِيْرِیْ۔ يعنی زما يره ورکول دوی ته۔ دغه شان نکير لفظ هم دے۔

نَذِيْر: يا مصدر دے يعنی يره ول زما دوی لره۔ يا نذير نه مراد يره ورکونکے دے چه هغه محمد ﷺ دے۔ يعنی تاسو به وپيژنئ ددهٔ صدق (رشتينوالے او د خپل تکذيب انجام)

او په ياء حذف کولو کښې اشاره ده چه پدے خلقو باندے به داسے عذاب راشی چه د دوی عاقبت به خراب کړی۔

مگر دا خو د الله تعالیٰ لطف او کرم او د هغهٔ رحمت او مهربانی او انتهائی حلم او بردباری ده چه سره د گناهونو نه د بندگانو نه عذابونه لرے کوی، او دوی له د توبے ويستلو موقعه ورکوی۔ نو اے بندگانو ! ددے موقعے نه فائده واخلئ۔

وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ: دا بله دهمکی ده چه د مخکنو دهمکیانو تاکید دے، یعنی د موجوده دور کافرانو نه مخکښ هم کله چه یو کافر قوم الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول دروغژن گڼرلے، نو الله تعالیٰ د هغوئ کفر او تکذیب قبول نهٔ کړو، او هغه ئے هلاك کړو۔ دے وجے نه اے هغه خلقو ! چه تاسو د خپل رب نافرمانی کوئ، او د کفر په لاره روان یئ تاسو د خپل کفر او سرکشئ نه بند شئ، چرته تاسو د الله عذاب په خپل گرفت کښ وانخلی۔ دغسے عذابونه الله ډیرو قومونو ته ورکړیدی۔ دا مهٔ وایئ چه مونږ باندے به عذابونه نهٔ راځی۔

كَذَّبَ: یعنی د پیغمبرانو او د الله تعالیٰ او د هغهٔ د کتابونو تکذیب ئے کړیدے۔

نَكِيْرِ: یعنی زما عذاب دوی لره۔ نو الله دغه شان تاسو سره هم کولے شی۔

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَّيَقْبِضْنَ
آیا نهٔ گوری دوی مارغانو ته دپاسه د دوی نه وزرے خورونکی او بندوی هغه،
مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمٰنُ إِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ
نهٔ دی ایسار کړی دے لره مگر رحمٰن ذات، یقیناً هغه په هر شی باندے
بَصِيْرٌ ﴿۱۹﴾ أَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ
لیدونکے دے۔ بلکه څوك دے هغه چه هغه لښکر (فوج) شی تاسو لره
يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ إِنِ الْكَافِرُوْنَ إِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿۲۰﴾
چه مدد اُوکړی ستاسو سوئ د رحمن ذات نه، نهٔ دی کافران مگر په دهوکه کښ۔
أَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهٗ
بلکه څوك دے هغه ذات چه رزق درکړی تاسو ته که چرے بند کړی هغه رزق خپل
بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿۲۱﴾
بلکه دوی ورننوتی دی په سرکشئ (په تجاوز) او په نفرت کښ۔

تفسیر: دا د قرآن کریم عادت دے چه کله عذاب ذکر کړی نو بیا دلیل راوړی پدے

کښې اشاره وی (اِظْهَارُ قُدْرَةِ اللّٰه) ته، يعنی الله قادر دے په عذاب ستاسو۔
نو پدے آيتونو کښې د الله تعارف هم دے، او اظهار د قدرت د الله تعالیٰ دے په عذاب باندے، او د الله مهربانی هم پکښې ذکر ده، او په هغه مشرکانو باندے رد هم ذکر شويدے چه هغوی به د الله د ((رحمٰن)) صفت نه انکار کولو، په هغوئ باندے رد شوے دے چه دا مرغئ چه د دوئ په سرونو باندے په فضاء کښې خپلے وزرے خورے کړے ګرځی، او کله هغه راغونډوی هم، په دواړو حالتونو کښې دوئ په فضاء کښې څوك بند ساتی؟
يقينًا هغه ((رحمٰن)) ذات دے، چه د هغهٔ رحمت هر يو شے پټ کړے دے تردے چه هغه مرغئ چه لوی جسمونه لری چه هغه په فضاء کښې لامبو وهی هغوئ هم د راغورزيدو او ټکړے ټکړے کيدو نه د هغهٔ رحمت بچ ساتلی دی۔
أَوَلَمْ يَرَوْا : يعنی دوی له مارغانو ته کتل پکار دی چه پدے سره د الله تعالیٰ عظيم قدرت او د هغهٔ مهربانی وپيژنی۔
الطَّيْرِ : ددے نه مراد جنس دے چه ګڼړو مارغانو ته شامل دے ددے وجه نه ئے روستو ورته ضمير د جمع راجع کړيدے۔
صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ : دا دوه حالتونه ذکر دی، يعنی کله وزرے خورونکی وی او کله ئے رابنده وی۔ او صَافَّاتٍ ئے اسم راوړو او يَقْبِضْنَ ئے فعل راوړو او عطف د فعل په اسم باندے په فصيح کلام کښې جائز دے کله چه په فعل کښې معنیٰ د اسم مراد وی، او اول ئے اسم راوړو ځکه چه د مارغانو په هوا کښې د وزرو خورول ډير وخت وی، او بندول کله کله وی۔
او ددے مارغانو واړه واړه زړونه دی ليکن الله تعالیٰ په هوا کښې رابند کړيدی۔
مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمٰنُ : يعنی صرف او صرف رحمن ذات دے چه دا ئے په هوا کښې رابند کړی، راتينګ کړيدی، هيڅ تيل او مشينری نشته چه هغے سره رابند شوی وی۔ د الله په قدرت باندے رابند دی۔ او پدے حصر کښې ښکاره دليل دے چه هيڅوك نبی، ولی، ملائك، جنات وغيره ددے وس او اختيار نهٔ لری۔
داسے آيت په سورت نحل (٧٩) آيت کښې هم ذکر دے ليکن هلته صرف تذکير د نعمت مقصد وو او رد وو په شرك باندے پدے وجه ئے هلته ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ﴾ وئيلے وو۔ او پدے سورت کښې تفصيلی حالات د مارغانو ذکر کول مقصد دے ځکه چه دا ټول

د الله تعالىٰ د طرفنه بركات دى، او د هغۀ د تعارف دليلونه دى۔

أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِىْ: مشركان چه شرك كوى او د قبرونو او باباګانو نه غوښتنے كوى، او د الله نه مخ اړوى نو د دوى دوه اميدونه وى، يو دا چه دا باباګان به دوى سره د مصيبت په وخت كښې مدد او نصرت كوى، او دويم د روزۍ اميد ئے وى چه دوى به د دوى په رزق كښې فراخى راولى۔

نو الله دلته دواړه خبرے رد كوى چه دا دواړه د الله تعالىٰ نه سوىٰ د هيچا په اختيار او قدرت كښې نشته۔ نو بيا بنده څنګه د هغه الله نه اعراض وكړى۔ هر ځاى كښې بنده مدد ته محتاج دے، كه بنده پاڅيږى، كه اُوده كيږى، په خوراك او څكاك او ګرزيدو او خبرو كښې د الله تعالىٰ مدد ته محتاج دے، نو دا مددونه مونږ سره بل څوك كوى؟ نشته، نو پكار ده چه د دغه الله سره ډيره مينه وشى، كه يو انسان تا سره په يوه موقعه كښې مدد وكړو نو ډير محبت به دِے ورسره پيدا شى، او د هغه احسان به هيڅ كله نۀ هيروے او الله تا سره هر وخت مدد كوى، او هغه دِے هير كړيدے۔

بل د رزق په مسئله كښې انسان ډير فكرمند وى، نو الله فرمائى چه تا ته رزق دركونكے خو زۀ يم او بيا دِے هم ما نه مخ اړولے دے۔ نو پدے كښې د الله تعالىٰ تعارف هم دے، او پدے كښې جَلْبُ الْعَمَلِ الصَّالِحِ مِنَ الْعَبْدِ هم دے۔ يعنى الله تعالىٰ بنده لره خپل ځان ته متوجه كوى او د هغه نه د نيك عمل مطالبه كوى۔

أَمَّنْ: دا په اصل كښې اَمْ مَنْ دے، استفهام دپاره د الزام د حجت او دپاره د زجر او توبيخ دے، او مَنْ مبتداء ده او هٰذَا ئے خبر دے۔

هذا كښې اشاره ده هغه معبود من دون الله ته چه د مشرك په ذهن كښې هر وخت حاضر وى په شان د محسوس نو ځكه ئے ورته په هذا سره اشاره كړيده۔

الَّذِىْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ: دا جمله بدل دے د هٰذا نه۔ يا موصول سره د صلے نه صفت د هٰذا دے۔

جُنْدٌ: نه مراد لښكر او حفاظت كونكے، مدد كونكے، سپاهى، فوجى څوكيدار دے۔ يعنى چه ستاسو په عقيده كښې هغه ستاسو مددګار جوړ شى۔

يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ: يعنى كه الله په تاسو باندے مصيبتونه راوستل غواړى نو آيا دا معبودان ستاسو نه دغه مصيبت لرے كولے شى او څه بركت دركولے

شی؟۔ دا خو صرف یواځې هغه رحمٰن ذات دے چه هر وخت ستاسو مدد کولے شی۔
دلته وقف دے، کافران به غلی شی نو الله فرمائی :
اِنِ الْكٰفِرُوْنَ: حقیقت دادے چه شیطان کافران په دهوکه کښې غورزولی دی، هغهٔ د دوئ په نظرونو کښې شرکی اعمال ښائسته کړی، او په دے دهوکه کښې ئے اخته کړی دی چه د مرګ نه پس، نهٔ څهٔ بل ژوند شته او نهٔ حساب کتاب، او که بالفرض بل کوم ژوند وی نو د دوئ معبودان به د الله په حضور کښې د دوئ سفارشی جوړیږی، او دوئ له به نجات ورکوی۔
اَمَّنْ هٰذَا الَّذِیْ یَرْزُقُكُمْ: په دے آیت کښې همدے سرکشانو ته وئیلے کیږی چه که الله تعالیٰ تاسو نه باران بند کړی، او په تاسو باندے د خپلے روزئ دروازے بندے کړی، نو تاسو له به اُویهٔ څوك درکړی، او روزی به څوك درکړی۔
د مخلوق حال خو دادے چه هغوئ خپلو ځانونو ته د روزئ ورکولو قدرت نهٔ لری نو نورو ته به ئے څنګه اورسوی۔ بلکه که الله تعالیٰ د سړی په مرئ کښې یوه نوړئ اُونخلوی او د تیریدو قوت ترے واخلی نو که ټوله دنیا راجمع شی هغه به معدے ته کوزه نکړی۔
اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ: ددے جواب پټ دے (اَیْ فَمَنْ یَّرْزُقُكُمْ غَیْرَهٗ) یعنی بیا د الله نه سویٰ بل څوك دے چه تاسو ته رزق درکړی۔
بَلْ لَّجُّوْا : دلته تقدیر دے، یعنی دے سرکشانو ته ددے آیتونو نه هیڅ فائده نهٔ رسیږی، بلکه د دوئ تکبر نور هم زیاتیږی، او د حق نه نور هم لرے وځی، او په دے عقیده باندے ټینګ ولاړ دی چه د دودئ معبودان به دوئ د مصیبتونو نه بچ کوی، او دوئ له به روزی ورکوی۔
لَجُّوْا: د لَجاج نه دے، په یو شی کښې په زور سره ننوتو ته وائی سره ددے نه چه د هغے نه ډیر موانع (منع کونکی) هم وی، نو مطلب دا شو چه د مشرکانو دپاره ډیر منع کونکی دلیلونه شته، لیکن دوی زور کوی او په سرکشئ کښې ننوزی چه دے ته هټ دهرمی وائی۔
دارنګه : لجاج په ضد او عناد کښې اُوږدوالے او په هغے باندے مضبوط کیدل دی۔
عُتُوٌّ: عناد/ او طغیان دے۔ (یعنی سرکشی چه د حد نه ورتیره شی)

وَنُفُوْرٍ: نفرت او د حق نه تختيدل د وجه د تكبر نه، او حق او اهل حق سپك گنړل دی۔
عتو په عمل سره ده چه سركشي كوی، او نفرت په زړه كښ دے۔
د رزق په مقابله كښ پكار دا وه چه بنده د الله تعالىٰ د حدودو پابندی كړے وے، چه الله ما له رزق راكوی، نو زهٔ به ئے بندگی ولے نهٔ كوم، او د نفرت په مقابله كښ اِقبال دے، پكار دا ده چه الله ته ئے توجه كړے وے۔

أَفَمَنْ يَمْشِیْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖ
آيا پس هغه څوك چه روان وی پړمخے (التهه) په مخ خپل باندے
أَهْدٰى أَمَّنْ يَمْشِیْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾
ډير هدايت والا دے يا هغه څوك چه روان وی برابر په لاره نيغه۔

تفسير : اُوس دوه ډلے ذكر كيږی، يو هغه دی چه الله پيژنی، او بل هغه دے چه الله نهٔ پيژنی نو الله تعالىٰ د دواړو ترمينځ فرق بيانوی چه دواړه هيڅكله نشی برابريدے۔
يَمْشِیْ مُكِبًّا : او پدے آيت كښ تمثيل دے د سالكينو او د مسلكونو۔ اول سالك (په لاره تلونكے) هغه دے چه سر او مخ ئے خكته كړيدے، مخامخ نهٔ گوری او روان وی او لاره ئے هم كږه وی، نو د كندے او ازغو او كاڼو نه نشی بچ كيدے، بلكه په يوه كنده كښ به وغورزيږی، او خپل مقصد ته هرگز نشی رسيدلے، په لاره كښ به ئے ډير خنډونه ووهی۔
او دويم سالك (تلونكے) هغه دے چه سر او مخ ئے اُوچت كړے او ملا ئے هم سيده ده، او لاره ئے هم سيده مقصد ته رسيدونكے ده، نو دا شخص خپل مقصد ته په آسانه رسيدونكے دے۔
نو اول مثال د مشرك گمراه مقلد دے چه د مشرانو ړوند تقليد كوی او سرئے خكته كړے وی، يعنی دليل ته نهٔ گوری، او نهٔ په دليل والو پسے روان وی، او مسلك ئے هم د حق نه خلاف دے۔ نو دے به ضرور د هلاكت په كنده كښ غورزيږی ځكه چه ځان ئے په زوره گمراه كړو، الله ته ئے مخ پورته نهٔ كړو۔
او دويم مثال د موحد مُتَّبِع د دليل دے چه هغه په تحقيق او په دليل باندے عمل كوی

او مسلك ئې هم په صحيح دليلونو سره ثابت دے، او خپلو تولو اقوالو او اعمالو كښې د حق تابعداری كوی، نو دا دواړه يو شان نشی كيدے۔ اول شخص يقيناً گمراه دے، او دويم شخص يقيناً هدايت والا دے۔ او همدا حالت د دواړو ډلو به په قيامت كښې هم وی لكه چه حال د كافر په سورة اسراء (۹۷) آيت او سورة فرقان (۳٤) آيت كښې ذكر دے۔

بعض وائی : دا دواړه د آخرت سره لگی : (يعنی ثوك چه اُور طرفته په مخ باندے راپورته كړے شی او د سَوِيًّا نه مراد دا چه په خپلو قدمونو سره جنت طرفته راپورته كړے شی۔ دا دواړه نشی برابريدے، نو كافر او مشرك د الله مخالف به اُور ته روان وی، او مؤمن نيك عمل والا به سيده جنت ته روان وی۔ (معالم التنزيل)

قتادةَ وائی : ددے نه مراد هغه كافر دے چه په دنيا كښې د الله تعالىٰ په معاصيو (مخالفتونو) كښې سركوزے روان دے، (توبه نهٔ وباسی) نو الله به ئې د قيامت په ورځ حشر په مخ سره وكړی۔ ظاهر دا ده چه دا دواړه مثالونه دی۔

قُلۡ هُوَ الَّذِیۡۤ اَنۡشَاَكُمۡ وَجَعَلَ لَكُمُ
ووايه !هغه ذات داسے دے چه پيدا كړی يئ تاسو او گرځولی ئې دی تاسو لره
السَّمۡعَ وَالۡاَبۡصَارَ وَالۡاَفۡـِٕدَةَ قَلِيۡلًا مَّا تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۲۳﴾ قُلۡ هُوَ الَّذِیۡ
غوږونه او سترگے او زړونه، ډير لږ شكر كوئ تاسو۔ تهٔ اُووايه الله هغه ذات دے
ذَرَاَكُمۡ فِی الۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۲٤﴾
چه خوارهٔ كړی يئ تاسو په زمكه كښې او خاص هغهٔ ته به ورجمع كړے شئ۔
وَيَقُوۡلُوۡنَ مَتٰى هٰذَا الۡوَعۡدُ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۵﴾ قُلۡ
او وائی دوی كله به وی دا وعده (د قيامت) كه چرته تاسو رشتينی يئ۔ تهٔ اُووايه
اِنَّمَا الۡعِلۡمُ عِنۡدَ اللّٰهِ وَاِنَّمَاۤ اَنَا نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۲٦﴾
يقيناً علم (ددے) د الله سره دے، او يقيناً زهٔ يره دركونكے ښكاره يم۔

تفسير : په دے آيتِ كريمه كښې بيا د الله تعالىٰ د تعارف بيان دے۔ يعنی همدغه الله تعالىٰ يوائے حقيقی معبود دے، دے وجے نه بندگانو له صرف ددهٔ عبادت كول پكار دی

او هم ددۀ شکر په ځائے راوړل پکار دی۔ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم ورکړے چه خلقو ته ووایه چه یواځے الله تعالیٰ دوئ پیدا کړی دی، د دوئ په پیدائش کښې هیڅوك د هغۀ مدد ګار نۀ وو، او نۀ هغۀ ته د چا د مدد ضرورت وو۔ هم هغۀ د دوئ غوږونه، سترګے او زړونه پیدا کړی چه دا د دوئ د جسمونو اهم ترین اندامونه دی، او دوئ ئے د ټولو نه په ښائسته شکل او صورت کښې پیدا کړی دی۔

ددے نعمتونو غوښتنه دا وه چه خلق د دغه حقیقی انعام کونکی شکر ګذار جوړ شوی وے. لیکن په دوئ کښې ډیر کم خلق د خپل رب شکر ګذار دی۔

قَلِیْلًا مَّا تَشْکُرُوْنَ: اَیْ قَلِیْلًا شُکْرُکُمْ۔ یعنی ستاسو شکر ډیر کم دے. یا په تاسو کښې لږ خلق شکر ګذار دی۔

قُلْ هُوَ الَّذِیْ : دا بل دلیل دے چه الله تعالیٰ ستاسو نسل زیات کړو او تاسو ئے په زمکه کښې خوارۀ کړئ او تاسو له ئے قِسما قِسم نعمتونه درکړل چه د هغے نه تاسو په خپل ژوند کښې فائده اخلئ، او کله چه ستاسو د دنیوی ژوند ورځے شپے پوره شی نو هغه تاسو ددے ځی نه پورته کوی، او بیا د قیامت په ورځ به مو ژوندی کړی او خپلے مخے ته به مو اُودروی۔

نو مطلب دا شو چه الله تاسو خوارۀ کړی یئ د یو مقصد دپاره او بیرته به درنه تپوس کوی۔ او هغه مقصد د الله شکر او د هغه معرفت او اَحْسن عمل کول دی۔

وَیَقُوْلُوْنَ: لیکن د مرګ نه پس د دوباره ژوند نه انکار کونکو، انبیاء علیهم السلام لره دروغژن ګنړونکو به وئیل چه که ستاسو خبره رشتینے ده، نو لږ مونږ ته هم د هغے د راتلو وخت اُوښایئ۔ ګویا که د قیامت راتلو وخت ښودل د کافرانو په نیز د انبیاؤ د رشتین والی دلیل وو۔

صَادِقِیْنَ : یعنی که تاسو رشتینی یئ پدے خبره کښې چه (وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ)۔ الله ته ورجمع کیدل دی۔

قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللهِ: الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته ووئیل چه دوئ ته اووایه چه ددے د راتلو وخت خو صرف الله ته معلوم دے۔ او ددے خبرے علم د الله نه سویٰ بل هیچا ته نۀ کیدل ددے خبرے دلیل نۀ دے چه خبره رشتینے نۀ ده۔ خبره یقیناً رشتینے ده، او د قیامت په راتلو کښې هیڅ شك او شبهه نشته، او الله تعالیٰ په خپل عزتمند کتاب کښې ددے

ډیرے نښے او دلائل بیان کړی دی، چه په هغے کښې د غور او فکر کونکو په زړونو کښې ددے د رشتین والی په باره کښې هیڅ شك او شبهه باقی نۀ پاتے کیږی۔

نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ: یعنی زۀ خو صرف ددے دپاره راغلے یم چه تاسو د آخرت په ورځ یروم، زما د دنیا بل څه مقصد نشته چه ښځه، کورونه او جائیدادونه راجمع کوم، ما په باره کښې دا گمان مۀ کوئ، او د قیامت د ورځے متعین کول د الله تعالیٰ کار دے، هغه زما ذمه واری نۀ ده۔

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيْئَتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
نو هرکله چه دوی اُووینی دے (ورځے) لره نزدے نو بد به کړے شی مخونه د کافرانو
وَقِيْلَ هٰذَا الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿۲۷﴾
او ویه وئیلے شی (دوی ته) دا هغه ورځ ده چه تاسو به دا غوختله۔

تفسیر : دا جواب دے په طریقه د تخویف سره۔ د قرآن طریقه همیشه دا وی چه اجمالی طریقے سره جواب کوی او تخویف بیانوی۔ نو مخکښې اجمالی جواب په تفویض سره وو، او دلته تخویف ورکوی چه دغه ورځ به نزدے راشی، کافران به ئے وینی چه مخونه به ئے پکښې ډیر بد شوی وی۔

یعنی د دغه ورځے راتلل خو یقینی دی لیکن کافران دِے د خپل ځان غم وکړی د هغوی حالت به پکښې ډیر بد وی۔

فَلَمَّا رَأَوْهُ: یعنی کافران او مشرکان په دنیا کښې قیامت او مرگ نه پس ژوندی کیدل دروغژن گنړی، کله چه واقعی قیامت راشی، او دوئ د دوباره ژوندی کیدو نه پس په میدانِ محشر کښې جمع کړے شی، او جهنم خپلو سترگو سره اُووینی، په دے وخت کښې به د دوئ سترگے کړاغے راوځی،

مخونه به ئے د سختے ویرے دو جه نه تور شی، او ملائك به دوئ ته د زجر او رټنے په توگه اُووائی چه همدا هغه جهنم دے چه دا به تاسو دروغژن گنړلو او وئیل به مو چه د قیامت هیڅ حقیقت نشته، اوس تاسو دا خپلو سترگو سره اولیدلو، او تاسو له ددے نه د خلاصون هیڅ صورت باقی نۀ دے پاتے شوے۔

سِیْئَتْ: دا د سَاءَ نه دے په معنیٰ د غم سره۔ یعنی غمجن او خفه به شی۔

❁ یا په معنیٰ د بد شکله کیدو سره دے۔

❁ یا په معنیٰ د (اِسْوَدَّتْ) سره دے، یعنی تك تور به شی۔

وَقِیْلَ: یعنی د توبیخ او زورنے په طریقه به دوی ته ملائك ووائی۔ یا به ورته بلسان الحال ووئیلے شی۔

تَدَّعُوْنَ: یعنی چه تاسو به غوښتله چه کله به راځی۔ په طریقه د استهزاء او تیوقو سره۔ نو تَدَّعُوْنَ باب افتعال دے د دعاء نه دے۔

یا تدعون د اِدّعاء نه دے، په دروغجن طلب او دعوه کښں استعمالیږی۔ یعنی تاسو به ددے ورځے په باره کښں دروغجنے دعوے کولے او باطلے خبرے به مو کولے۔ (زجاجؒ)

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ أَوْ رَحِمَنَا
ووایه ! خبر راکړئ که چرته هلاك کړی ما لره الله او هغه څوك چه ما سره دی یا رحم
فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكَافِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾
وکړی په مونږ باندے، نو څوك دے چه بچ به کړی کافرانو لره د عذاب دردناك نه۔

تفسیر: پدے آیت کښں (۱) یو مقصد دا دے: (اَلْکَافِرُ مُعَذَّبٌ عَلٰی کُلِّ حَالٍ) کافر ته به الله تعالیٰ په هر حال کښں عذاب ورکوی،

نو مطلب دا شو چه تاسو اے کافرانو ! قیامت او عذابونه خه له په جلتئ سره غواړئ بلکه د خپل عذاب غم وکړئ، او زمونږ غم مۀ کوئ چه په مونږ اعتراض کوئ چه تاسو دروغ وایئ او دا خبره مو رشتینی نۀ ده چه قیامت به راځی، او عمل مو غلط دے، بلکه تاسو د خپل ځان غم وکړئ، کافر له به الله تعالیٰ عذاب ورکوی په سبب د کفر، مونږ سره ئے چه هر څه وکړل۔ مونږ په ځای پریدئ۔ مونږ نه عذابونه مۀ غواړئ۔

مطلب دا شو: خبر راکړئ که الله تعالیٰ مونږ هلاکوی یا راباندے رحم کوی نو دے سره ستاسو کار نشته، خو (فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكَافِرِيْنَ) تاسو باندے د کفر په وجه یقینی عذاب راتلونکے دے، تاسو به د عذاب نه څوك خلاصوی، نو زمونږ په باره کښں فکر مۀ کوئ چه دوی به دروغ وائی یا به رشتیا وائی۔ بلکه د خپل کفر غم وکړئ۔

او دا په اصل کښې جواب وو ددے قول د منکرینو چه (اِنَّهٗ سَیَهْلِكُ قَبْلَنَا) دا نبی او مؤمنان به مړهٔ شی نو مونږ به ترے خلاص شو نو الله فرمائی : که دا پیغمبر مړ کیږی او که نهٔ خو تاسو په هیڅ حال کښې د الله د عذاب نه نشئ خلاصیدے۔

ددے مثال داسے دے چه یو سړے چا ته وائی چه تهٔ ما ته په باطله وائے، نو زهٔ که په باطل یم او که په حق ما پریده، خو ستا عقیده غلطه ده، تهٔ خو به خامخا اُور ته ځے، مشرك ئے، د حق مخالف ئے، که زهٔ په غلطه یم او که په صحیح خو تهٔ اُور ته روان ئے، د خپل ځان غم وکړه۔ او دا د دعوت یو ښکلے طریقه وی چه مخاطب خپل جرمونو ته متوجه کړے شی۔

(۲) تفسیر : دویم غرض پدے آیت کښې دا هم جوړیږی :

نَحْنُ مَعَ اِیْمَانِنَا خَائِفُوْنَ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَهٗ۔

یعنی مونږ سره د ایمان نه د الله د عذابونو نه یریږو او د هغه د رحم اُمیدوار یو (فَمَنْ یُّجِیْرُکُمْ مَعَ کُفْرِکُمْ وَعَدَمِ خَوْفِکُمْ) نو تاسو خو کافریئ نو تاسو به د کفر سره څوك خلاصوی، یعنی مونږ کښې ایمان دے او یریږو او تاسو کښې کفر موجود دے او د الله د عذابونه نهٔ یریږئ نو تاسو به د الله د عذابونو نه څوك بچ کړی۔

اَهْلَکَنِیَ : اهلاك نه مراد یا عذاب دے، یا مرګ دے لکه دواړه خبرے په تفسیر کښې واضح شوے۔

اَوْ رَحِمَنَا : د رحم نه مراد د عذاب نه بچاؤ دے، یا ددے نه مراد مهلت او د مرګ روستو والے دے۔

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ آمَنَّا بِهٖ
تهٔ اُووایه ! دغه ذات بے حده مهربان دے، ایمان راوړیدے مونږ په هغهٔ باندے
وَعَلَیْهِ تَوَكَّلْنَا فَسَتَعْلَمُوْنَ
او خاص هغهٔ ته ځان سپارلے دے مونږ نو زردے چه تاسو ته به پته اُولګی
مَنْ هُوَ فِیْ ضَلَالٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲۹﴾ قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ
چه څوك دے په ګمراهئ ښکاره کښې۔ تهٔ اُووایه ! خبر راکړئ که چرته اُوګرځی

مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّأْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿۳۰﴾
اُوبه ستاسو اُوچے نو څوك دے چه رابه ولی تاسو ته اُوبه روانے. (چینه دارے).

تفسیر : اُوس سوال پیدا شو چه آیا په نبی ﷺ او په ابوبکر او عمر رضی الله عنهما او ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم باندے دا خطر شته چه په هغوی عذاب راشی دا خو ډیره سخته خبره شوه؟ نو اُوس الله تعالیٰ د هغوی د تسلیٔ دپاره د امید خبره راوړی.

هُوَ الرَّحْمٰنُ: یعنی دغه الله تعالیٰ بیحده مهربان دے هسے بے جرمه چاته عذابونه نهٔ ورکوی.

آمَنَّا بِهٖ: او مونږ پرے ایمان راوړے، او دا قانون دے چه څوك په مهربان ذات ایمان راوړی نو هغهٔ ته الله تعالیٰ هیڅ نهٔ وائی، عذابونه نهٔ ورکوی.

وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا: سوال پیدا شو چه د انجام د خرابیدو خطره خو شته؟ نو فرمائی چه په دغه الله تعالیٰ مونږ ځان سپارلے دے (دا توکل فی الخاتمه دے)

او څوك چه الله ته ځان وسپاری نو الله ئے نهٔ خرابوی، او نهٔ ورته عذاب ورکوی، او نهٔ ورله خاتمه خرابوی. نو مونږ امید لرو چه په مونږ به دغه مهربان ذات رحم کوی، او د عذابونو نه به مو خلاصوی. ځکه چه کله د الله تعالیٰ مهربانی او د انسان ایمان او توکل جمع شی، نو بیا د الله عذاب نهٔ وی.

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِیْ ضَلٰلٍ: یعنی تاسو ته به په دنیا او په آخرت کښ پته ولګی چه ښکاره ګمراه څوك دے. او دا پته د عذاب د راتللو په وخت کښ لګیږی.

قُلْ اَرَاَیْتُمْ: دا هم دلیل اعترافی سکوتی دے، او په دے کښ تخویف ذکر دے په ذکر د عذاب سره چه هغه اُوبه وچیدل دی.

د آیت مطلب دا دے چه الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ په ژبه مشرکانو ته دا خبره ښودلے چه تمام نعمتونه بندګانو له د دغه یواځے ذات له خوا ملاؤ شوی دی، خاصکر اوبهٔ چه ددے په ذریعه الله تعالیٰ تمام ژوندی څیزونه پیدا کړی دی.

که چرے الله تعالیٰ دا اوبهٔ د زمکے آخری تل ته اُورسوی، نو د هغهٔ نه سویٰ څوك دے چه هغه تاسو له صفا او شفافے اوبهٔ درکړی؟ اُوبه ډیر لوی نعمت دے، او د هر شی ورته ډیر ضرورت دے، نو ځکه ئے دا ذکر کړے.

نوجواب معلوم دے چه هیڅوك نشته۔ او كله چه خبره داسے ده نو بیا تاسو ولے الله پریدئ او د نورو عبادت كوئ، ولے بل څوك د هغهٔ سره شریكان جوړوئ، او د هغهٔ د نعمتونو ناشكری كوئ ؟!۔ پكار دا ده چه ددے اُوبو په مقابله كښ انسان ډیره بندگی وكړی۔ نو پدے تپوس كښ مقصد دا دے چه الله تعالیٰ مشركان په خپلو بعض نعمتونو چه په دوی باندے ئے كړیدی اقراری جوړ كړی او دوی ته ددے نعمتونو سره د دوی د كفر او عناد او كبر قباحت وښائی۔

غَوْرًا: چه په زمكه كښ داسے ډوب او اُوچے شی چه په زمكه كنستو سره بیا نهٔ راوځی، او ددے نه د چینو، كوهیانو او نهرونو اُوبهٔ مراد دی۔

بِمَاءٍ مَّعِیْنٍ: ١- معین د عَیْن نه دے، یعنی هغه اُوبهٔ چه په زمكه ښكاره روانے وی چه سترگے ئے وینی۔

٢- یا معین د مَعْن نه دے، ډیر والی ته وائی۔

٣- قتادهٔ او ضحاكؒ وائی جاری اُوبه۔

٤- خوږے اُوبه۔ (ابن عباسؓ)

دلته مفسرینو لیكلی دی (لكه شربینی، فتح البیان وغیره) چه د بعض متجبرانو (مشركانو) په خوا كښ دا آیت ولوستلے شو نو هغه گودالہ او تبرگے راواخستو او وے وئیل: (تَأْتِیْ بِهِ الْفُؤُوْسُ وَالْمَعَاوِلُ) اُوبه به تبرگی (بیلچے) او كودالے راولی۔

نو الله د هغهٔ د سترگو اُوبه ختمے كړے او ړوند شو۔ نو بیا ورته ووئیل شو چه اُوس به د كوم ځای نه دے ته اُوبه راولے۔ نعوذ بالله من الجرأة علی الله وعلی آیاته۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورت

١- پدے سورت كښ د الله تعالیٰ تعارف او د هغے دوه نتیجے بیان شوے۔

٢- د الله تعالیٰ گڼړ نعمتونه او بركات ذكر شول۔

٣- او مثال د مشرك او مؤمن موحد بیان شو۔

ختم شو تفسیر د سورة الملك په بركت د رحمن سره په رمضان (٤) موافق ٩ جون۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آياتها (٥٢)	سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ (٦٨)	ركوعاتها (٢)

سورة القلم مكی دے، په دے کښې دوه پنځوس آيتونه او دوه ركوع دی

تفسير سورة القلم

نوم : د اولنی آيت : ﴿ نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴾ نه اخستے شوے۔ دے سورت ته [سورة نٓ] او [سورة الْقَلَم] دواړه وئيلے كيږی۔

مناسبت :

١- مخکښې د الله تعالىٰ تعارف وو نو دلته د رسول الله ﷺ شان بيانيږی۔

٢- مخکښې شكر ته ترغيب وو نو دلته د ناشكرو حال بيانوی۔

٣- مخكښې سورت كښې د الله تعالىٰ د توحيد اثبات وو په دليلونو سره، نو په دے سورت كښې ترغيب او تيزی وركوی په دعوت كولو باندے توحيد طرفته۔

٤- مخكښې ئے ووئيل : (فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكَافِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْم) كافران د عذاب نه نشی خلاصيدے (تخويف دنيوی وو) نو دلته د هغے مثال كښې د باغ والو واقعه راوړی۔

موضوع د سورت :

١- بَيَانُ شَانِ الرَّسُوْلِ ﷺ وَعَظَمَتِهٖ وَكَمَالِهٖ۔

د رسول الله ﷺ د شان او عظمت او كمال بيان دے۔ هغه په دے طريقه چه (اِنَّهٗ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْم) د رسول الله ﷺ اخلاق ډير اُوچت دی۔ (وَاِنَّهٗ مُخْلِصٌ فِیْ دَعْوَتِهٖ) دے په خپل دعوت كښې په اخلاص روان دے۔ او دهٔ په مقابل كښې چه دهٔ كوم دشمنان دی، نو د هغوی ناكاره صفات او بد اخلاقی او دنيا پرستی بيانوی۔ نو د نبی په

خلاف کښې چه څوك ودریږي، هغه غټ بد اخلاقه او دنیا پرست دے۔ او ناشکره دے۔
ورسره دا خبره بیانوي چه (وَاِنَّهٗ نِعْمَةٌ يَجِبُ شُكْرُهَا) رسول الله ﷺ یو لوی نعمت دے چه ددهٔ شکر واجب دے۔ واقعه د باغ والو به هم ددے مقصد دپاره راوړي چه هغوی ته الله باغ نعمت ورکړے وو نو هغوی ناشکري وکړه، نو دغه شان مکے والو ته الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ورکړے وو نو دوی پرے ناشکري وکړه۔
او دا د مشرکانو ددے وینا په رد کښې نازل شوے وو چه هغوی رسول الله ﷺ ته د لیونتوب نسبت کولو څکه چه شپه او ورځ لګیا دے او نهٔ سترے کیږي۔ نو په اول د سورت کښې هم ورته الله فرمائي: چه ﴿مَا اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ﴾ تهٔ د خپل رب په نعمت باندے لیونے نهٔ ئے۔
او په آخر کښې هم وائي ﴿لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ﴾۔ نو الله د دوی په خلاف د رسول الله ﷺ ښکلے صفات ذکر کړل چه دهٔ باندے خو الله تعالیٰ د ښکلے صفاتو باران کړیدے بلکه ددهٔ د دشمنانو ناکاره اخلاق واوری۔ او ددے سره به نور متعلقات هم بیانیږي۔

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴿۱﴾
الله پوهه دے ددے په مطلب۔ قسم دے په قلم او په هغه څه چه لیکي ئے دوی۔
مَا اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ﴿۲﴾
نهٔ ئے تهٔ په نعمت د رب ستا لیونے۔

تفسیر: قرآن کریم کښې د موجودو نورو حروفو مقطعاتو غوندته (نٓ) حرف هم یو حرفِ مُقَطع دے، چه ددے حقیقي معنیٰ او مفهوم صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے۔
او تاویلي تفسیرونه پکښې مفسرینو دا کړیدی:
(۱) ضحاكؒ نه نقل دی چه (ن) دوات او تختيؒ ته وائي۔
(۲) بعض وائي چه (ن) یو ماهي دے د زمکو لاندے چه په هغې باندے زمکے ولاړے دی۔ لیکن ددے هیڅ صحیح دلیل نشته۔ او د ابن مردویهؒ مرفوع روایت پکښې ضعیف دے۔ (۳) عطاءؒ او ابو العالیهؒ وائي: نون د نصر او ناصر نه دے۔

او محمد بن کعب وائی : ن نصرت ته وائی، نو الله قسم کړیدے چه د مؤمنانو سره به خپل نصرت (مدد) کوی۔

(٤) بعض وائی : ددے سورت نوم دے۔

(٥) بعض وائی : د قرآن نوم دے۔

(٦) صحیح دا ده چه ددے نه مقصد عربو خلقو ته چیلنج (د مقابلے دعوت) ورکول دی چه دا قرآن هم د هغه حروفو نه جوړ شوے دے چه د هغے نه ستاسو کلام جوړیږی۔ نو که چرے دا قرآن د کوم انسان کلام دے نو تاسو هم ددے پشان کلام راوړئ۔

وَالْقَلَمِ: په دے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ په هغه قلم باندے قسَم خوړلے چه هغه الله اول پیدا کړو، او هغهٔ ته ئے د لیکلو حکم وکړو نو هغهٔ ووئیل چه څهٔ اولیکم ؟ الله تعالیٰ وفرمایل : څهٔ چه قیامته پورے کیدونکی دی هغه ټول اولیکه۔

وَمَا يَسْطُرُونَ: دارنګه الله تعالیٰ په هغه ټولو شیانو قسَم خوړلے چه هغه ملائك د لوحِ محفوظ نه نقل کوی او لیکی ئے، او د بندګانو په هغه تمامو اعمالو ئے هم قسَم خوړلے چه هغه د الله عزتمن ملائك یعنی [كِرَامًا كَاتِبِيْن] ئے لیکی۔

دارنګه يَسْطُرُوْنَ کښ ضمیر انسانانو ته هم راجع دے، یعنی د قلم خاوندان چه څه لیکی۔ (وَمَا) ددے نه مراد یا کاتبان دی، یا ددے نه مراد هغه څیزونه دی چه کاتبان ئے لیکی۔

د قلم په باره کښ هم غوره دا ده چه دا جنس دے، ټول قلمونه مراد دی، او قلمونه شل قِسمونه دی لکه تفسیر عزیزی او تفسیر احسن الکلام کښ ذکر دی چه قلم د تقدیر، قلم د اهل النجوم، قلم د اهل التاریخ، قلم د ملاءِ اعلیٰ۔ قلم د کرامًا کاتبین۔ قلم د فقهاؤ، قلم د اطباؤ، قلم د قُضاتو، قلم د مفتیانو، قلم د اهل الفرائضو، قلم د اهل حسابو، قلم د حکماؤ، قلم د اهل الفصاحة والبلاغة، قلم د شاعرانو، قلم د اهل عربیه ؤ، قلم د اُمَراؤ، قلم د تاجرانو، قلم د مُعَلمینو وغیره۔

مناسبت د قلم او د جواب قسم دا دے

چه د رسول الله ﷺ په خبرو کښ او په دهٔ باندے نازل شوی کتاب کښ دومره علمونه دی چه عام قلمونه او قلمونو والا په هغے باندے ستړی شو خو د هغے علمونه نهٔ ختمیږی،

نو که چرته دا لیونے وے نو د لیونی خو دماغ خراب وی، خبرو کښ ئے هیڅ کمال نهٔ وی، نو دا ټولو قلمونو والا ګواه دی چه دا نبی رشتینی او پوره عقل والا دے، ددهٔ د خبرو نه ټولـه دنیا فائده اخلی، سائنسدانان، قاضیان، مفتیان، اهل تاریخ، مفسرین او محدثین او اصحاب المملکة (بادشاهان) او سیاست والا ترے فائدے اخلی۔

الله تعالیٰ قَسَم خوری او نبی کریم ﷺ ته وائی چه واقعی تاله ستا رب د نبوت نعمت درکړے، او په تا باندے ئے وحی نازلـه کړے، چه ددے د اثر په وجه خلق په اسلام کښ داخلیږی۔ کافران او مشرکان خالص د خپل حسد د وجے نه تا ته لیونے وائی، تهٔ لیونے نهٔ ئے، بلکه عظیم الشان نبی ئے، او د اسلام دعوت خلقو ته رسولو کښ چه کوم تکلیف اوچتوے، او ددے چه کومه عملی نمونه تهٔ د خپل کردار په ذریعه پیش کوے، ددے اجر او ثواب به همیشه تا ته ملاویږی۔

بِنِعْمَةِ رَبِّكَ: ۱ – یو مطلب دا دے چه الله په تا باندے احسان وکړو چه تهٔ ئے لیونے جوړ نکړے۔

۲ – یا نعمت نه مراد قرآن او د هغے بیانول او نبوت دے۔ یعنی د قرآن او د نبوت په وجه تهٔ لیونے نهٔ ئے، بلکه دا خو په تا باندے د الله نعمتونه دی۔ د کافرانو خبره غلطه ده چه وائی ﴿ یَا اَیُّهَا الَّذِیْ نُزِّلَ عَلَیْهِ الذِّکْرُ اِنَّکَ لَمَجْنُوْنٌ﴾ (الحجر: ٦)۔

اے هغه سړیه چه په هغه باندے قرآن نازل شویدے، یقیناً تهٔ خو خامخا لیونے ئے۔

وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ﴿٣﴾ وَإِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴿٤﴾
او یقیناً تا لره خامخا اجر دے چه نهٔ به قطع کیږی۔ او یقیناً تهٔ په اخلاقو لوئی ئے۔

تفسیر : وَإِنَّ لَكَ لَأَجْراً : پدے کښ اشاره ده چه تهٔ داعی ئے، او په داعی باندے به سختے راځی لیکن الله تعالیٰ ورله ډیر اجر ورکوی۔

غَیْرَ مَمْنُوْنٍ : اَیْ غَیْرَ مُنْقَطِعٍ۔ نهٔ ختمیدونکے اجر دے۔ د رسول الله ﷺ اجر ولے نهٔ قطع کیږی؟ وجه دا ده چه هغه داعی دے، په امت کښ چه څوك کوم نیك عمل کوی، نو د هغے اجر رسول الله ﷺ ته رسیږی۔ (مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً) قانون دے۔

پدے وجه محققینو علماؤ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ ته ایصال ثواب صحیح نهٔ دے، ډیر خلق په اختر کښ د هغهٔ دپاره ګډان حلالوی، او څوك دولسمه کوی، دا ټول خلافِ

سنت عملونه دي۔

وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ : د رسول الله ﷺ اخلاقو ته چه الله تعالیٰ لوی وائی نو واقعی چه ډیر اُوچت اخلاق پکښې موجود وو، جمال د ظاهر او باطن ورته نصیب شوے وو۔

امام مسلمؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړیدے چه د هغے نه تپوس وشو چه د رسول الله ﷺ اخلاق څنګه وو؟ نو هغے وفرمایل : د نبی کریم ﷺ اخلاق قرآن وو۔

یعنی د هغهٔ اخلاق هغه وو چه د هغے ګواهی قرآن ورکړے ده۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی : ددے مطلب دا دے چه په قرآن کریم کښې کوم اوامر او نواهی ذکر شویدی، نو په هغے باندے عمل کول د هغه خُلق او عادت وو، نو د مؤمنانو چه کوم ښکلے صفت په قرآن کریم کښې ذکر شویدے هغه په رسول الله ﷺ کښې په درجه اکمل موجود وو، خشوع، حیاء، کرم، توکل، د الله محبت، د مخلوق سره احسان، شجاعت، صفح، حلم او هر ښائسته خوئی۔

او د مؤمنانو ټول صفات کوم چه په سورة احزاب (۳۵) او سورة مؤمنون (۱) نه تر (۹) او (۵۷) نه تر (۶۱) پورے، او سورة معارج کښې د (۲۲) نه تر (۳٤) پورے ذکر شویدی۔

مفسرین لیکی چه نبی کریم ﷺ د انتهائی اوچتو اخلاقو، بلند کردار، پوره فصاحت او کامل عقل مالك وو، هغه د هر عیب نه پاك او په هر خوبئ سره متصف وو، او کوم کس چه دے صفاتو سره متصف وی، هغهٔ ته لیونے او پاګل وئیل خپله د لیونتوب خبره ده۔

د رسول الله ﷺ اخلاق ولے اُوچت وو؟ یو خو د الله فضل او مهربانی وه۔

او دویم : (لِاَنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ هِمَّةٌ سِوَى اللّٰه) ۔ څکه چه د هغهٔ د الله تعالیٰ نه سویٰ بل هیڅ همت او فکر نهٔ وو، نهٔ ئے د ښځے فکر وو، او نهٔ د مال او نهٔ د راحت، صرف د الله فکر ئے وو چه هغه به څنګه راضی شی، او د هغهٔ دین او بندګی به په دنیا کښې څنګه عامه شی، او د چا چه همت اُوچت وی نو د هغهٔ اخلاق هم اُوچتیږی۔

او چه همت ئے ښکته وی نو بیا به ئے اخلاق هم خکته وی او په وړو وړو خبرو به جګړے کوی۔

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ﴿٥﴾ بِأَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ﴿٦﴾
نو زردے چه ته به ووینے او دوی به ووینی۔ چه په کوم یو ستاسو باندے لیونتوب دے۔
إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهِ وَهُوَ
یقیناً رب ستا ښه پو هه دے په هغه چا چه گمراه کیږی د لارے د هغهٔ نه او هغه ښهٔ
أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٧﴾ فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٨﴾
پو هه دے په هدایت والو باندے۔ نو خبره مهٔ منه د تکذیب کونکو۔ (د دروغژن
وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ﴿٩﴾
گنړونکو) (حق لره)۔ خوښوی دوی که چرے ته سست شے نو دوی به (هم) سست شی۔

تفسير : پدے کښ تسلی ده رسول الله ﷺ ته چه ته د خپلو شریفو اخلاقو سره د دعوت په لاره کښ مخ په وړاندے ځه، او په دے لاره کښ چه کوم تکلیف راشی هغه برداشت کوه۔ ډیر زر هغه ورځ راتلونکے ده چه تاته او هغه خلقو ته به معلومه شی چه هغوئ تا په لیونتوب سره تورن کوی چه لیونے او فتنه کښ پریوتے څوك دے !۔

فَسَتُبْصِرُ: سین دپاره د قرب دے، یعنی په دنیا کښ یا په آخرت کښ به ته وینے۔

قتادهؒ او مقاتلؒ وائی : دا مکے مشرکانو ته د بدر د ورځے په عذاب باندے وعید وو۔

د ستبصر او یبصرون مفعول پټ دے۔ اَیْ سَتُبْصِرُ عَاقِبَةَ عَمَلِكَ وَيُبْصِرُوْنَ عَاقِبَةَ عَمَلِهِمْ۔

زر دے چه ته به د خپل عمل انجام وینے او دوی به هم د خپلو عملونو انجام وینی۔ او د بِاَيِّكُمْ نه مخکښ (سَتَعْلَمُوْنَ) پټ دے۔ (یعنی زر دے چه تاسو ته پته ولگیږی)

بِأَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ : دے کښ ډیر تفسیرونه دی :

(۱) باء زیاتی ده، او مفتون مجنون (لیونی) ته وئیلے شی۔ لکه ددے معنیٰ مخکښ وشوه۔

(۲) یا مفتون مصدر دے په وزن د مفعول لکه د مَیْسُوْر، مَعْسُوْر، مَعْقُوْل په شان په معنیٰ د فتنے سره، او باء په خپل ځای ده، او د فتنے نه مراد جنون (لیونتوب)، یا گمراهی ده۔ یعنی چه په کوم یو ستاسو باندے فتنه (لیونتوب او گمراهی) ده۔

(ابن کثیرؒ وفتح البیان)

(۳) فراءؒ او مجاهدؒ وائی چه باء په معنیٰ د فِیْ سره دے،

اَیْ فِیْ اَیِّکُمُ الْمَفْتُوْنُ فِی الْفَرِیْقِ الَّذِیْ اَنْتَ فِیْهِ اَمْ فِی الْفَرِیْقِ الْآخَرِ۔

یعنی په کومه یوه ډله کښې مجنون دے۔ ستا په ډله کښې یا د کفارو په ډله کښې۔

پدے کښې تعریض دے په ابوجهل او ولید بن مغیره وغیره باندے۔

(٤) او مفتون مُعَذَّب ته هم وئیلے کیږی، یعنی پته به ولګی چه په چا به عذاب راځی۔

حکمة : دلته ئے مفتون ووئیل او مجنون ئے ونهٔ وئیل، پدے کښې حکمة دا دے چه مجنون خاص دے او مفتون عام دے، مفتون هغے ته هم وائی چه د هغه په اقوالو او افعالو کښې اضطراب او پریشانی وی، نو اګرکه بعض مشرکان په منزله د لیونو باندے نهٔ وو مګر په فتنه د اضطراب د اقوالو او افعالو کښې ضرور اخته وو لکه ابوجهل او ولید بن مغیره او د دوی په شان نور چه عوام به ئے راتیزول چه ددے نبی په باره کښې مختلف اقوال وکړی۔ (التحریر والتنویر)

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ: په دے آیت کښې الله تعالیٰ نبی ﷺ له تسلی ورکړے چه تهٔ دعوت کوه (لکه مَا اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ نه معلومیږی) دوه ډلے به جوړیږی، څوك به هدایت والا وی او څوك ګمراهان، او د دعوت په لاره کښې چه تا ته کوم تکلیف اورسی، په هغے باندے صبر کوه۔ دارنګه په دے کښې مشرکانو لپاره دهمکی ده چه هغوئ تا دروغژن ګنړی۔

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ : مشرکانو په قسماقسم طریقو سره کوشش کولو چه رسول الله ﷺ د توحید د بیانولو نه بند کړی لکه اُوس هم د ټولو کفارو او اهل بدعو طریقه ده چه حق دعوت بندول غواړی) نو الله خپل نبی ته نصیحت کوی چه هر کله دا خبره واضحه شوه چه تهٔ په حقه ئے، او ستا قوم د کفر او شرك په کندو کښې سرګردانه اوسی، نو ستا دپاره دا خبره په هیڅ طریقه مناسب نهٔ ده چه د الله، د هغهٔ د رسول او د اسلامی دین دروغژن ګنړونکو خبره اُومنے، هغوئ خو آرزو کوی چه تهٔ د دوئ د معبودانو عیب تالاش نکړے، او د دوئ بے وسی بیان نهٔ کړے ددے دپاره چه دوئ هم تاته کنځل نهٔ کوی او ضرر نهٔ درکوی۔

اَلْمُكَذِّبِيْن: یعنی ددے خلقو تابعداری مهٔ کوه چه د هغوی دا ناکاره صفات دی۔ د حق تکذیب کوی چه هغه الله او رسول دے۔

وَدُّوا لَوُ تُدُهِنُ فَیُدُهِنُونَ: دا قانون دے چه کله تا حق کللك بیانولو نو باطل به هم په جوش کښې راځی، او چه کله ته سست شوے نو باطل به هم سستیږی۔ ځکه چه د هغوی مطلب صرف دنیا ده، بعض خلق وائی : ما ډیر حکمت نه کار واخستو او حال دا چه حق ئے پټ کړے وی، کللك حق ئے نهٔ وی بیان کړے۔

تُدُهِنُ: اِدُهان : مُلَایَنة (نرمی) مُسَامَحَة (چشم پوشی) مُدَارات (نرمی) کول دی۔

مبرّدٌ وئیلی دی : ادهان او مداهنت خیانت کول او ظاهرول د هغه خبرے دی چه د باطن نه مخالف وی۔

بعض علماء وائی چه نرم والے په کلام او په طریقه کښې که د خیر وی او که د شر، خو په شر کښې ئے استعمال ډیر دے۔

نو ادهان او مداهنت دے ته وائی چه د حق او د توحید په مسئله کښې داسے نرمی وکړی چه په شرك رد نهٔ کوی، او حق پټ کړی چه کافرن او مشرکان به هم مخالفت نکوی، مقابلے به نهٔ کوی، کنځل او رد بد به ورته نهٔ وائی او دے ته پدے زمانه کښې ډیر خلق اتحاد او حکمت وائی۔ مګر دا غلطی ده۔ (احسن الکلام)

فَیُدُهِنُونَ: یعنی کافران او مشرکان او د حق مخالفین به هم نرمی شروع کړی، هغه دا چه ددهٔ مخالفت به نهٔ کوی او مقابلے ته به نهٔ راوځی او کنځل او بد رد به ورته نهٔ وائی۔

وَلَا تُطِعُ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾ هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ
او خبره مهٔ منه د هر ډیر قسم خور، سپك۔ چه عیب لګونکے، وړونکے دے چغلئ لره
م بِنَمِیُمٍ ﴿١١﴾ مَنَّاعٍ لِّلْخَيُرِ مُعْتَدٍ أَثِیُمٍ﴿١٢﴾ عُتُلٍّ
ډیر منع کونکے دے خیر لره، زیاتے کونکے دے، ګناهګار دے۔ سخت ژبے (سخت
بَعُدَ ذٰلِكَ زَنِیُمٍ﴿١٣﴾
زړے) روستو ددے نه حرامی هم دے۔ (په شر مشهور دے) (رذیل کارونه کونکے دے)
أَنُ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِیُنَ ﴿١٤﴾ إِذَا تُتُلٰی عَلَیُهِ
(بے نسبه دے)۔ پدے وجه چه دے مال او ځامنو والا دے۔ کله چه لوستلے شی په دهٔ

آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۵﴾
باندے آیتونه زمونږ وائی دے (دا) قصے د پخوانو دی۔

تفسیر: ربط :

مخکښ د عامو کافرانو د خبرے منلو نه منع وشوه، اُوس په خاصه توګه د مکے د ځینے لویو شریانو د خبرے نهٔ منلو نصیحت کیږی، لکه ولید بن مغیره۔ دا صفات دده وو، او بعض وائی چه دا د اخنس بن شریق وو۔ ظاهر دا ده چه په دغه ټولو کافرانو کښ دغه مرضونه وو۔ د دوی ئے لس بد صفات ذکر کړیدی۔

وَلَا تُطِعْ: اَیْ فِیْ تَرْكِ الدَّعْوَةِ وَفِی الْاِتِّصَافِ بِتِلْكَ الصِّفَاتِ الذَّمِیْمَةِ۔ یعنی د دعوت په پریخودو او د دغه بدو صفاتو په اختیارولو کښ۔

اے زما نبی! تهٔ د هر هغه انسان خبره مهٔ منه چه هغه د باطل د غالب کولو لپاره ډیر ډیر قسمونه خوری، او هغه سپك او عاجز او بدکارے دے، همیشه د نورو عیبونه تالاش کوی، د خلقو ترمینځه د اختلاف پیدا کولو لپاره چغلی کوی، ډیر زیات بخیل دے، یا خلق په اسلام کښ د داخلیدو نه منع کوی، د خلقو په ځانونو او د دوئ په مال او دولت باندے زیاتے کوی، یعنی د ظلم او زیاتی غوښتونکے دے، او کثرت سره ګناه کوی، سخت طبیعت والا، سختی کونکے او بدخویه دے، او دے تمامو صفتونو سره سره هغه قریشی هم نهٔ دے، بلکه دوئ طرفته منسوب کړے شوے دے۔

حَلَّافٍ: مبالغه ده په حالِف کښ یعنی ډیر قسم خور په باطله باندے۔

مَّهِینٍ : سپك او ذلیله۔ مهانة په رأی او تمییز کښ کموالی ته وئیلے شی۔ او دا دواړه صفتونه یو ځای ذکر کولو کښ اشاره ده چه دا د یو بل سره لازم ملزوم دی، ځوك چه غلط ډیر قسمونه خوری هغه ذلیله وی۔

هَمَّازٍ: عیب ویونکے د حق پرستو مخامخ او پشی شا۔ همز او لمز چه جدا جدا ذکر شی نو بیا یو شان وی او چه یو ځای ذکر شی، نو بیا ئے فرق کیږی لکه په سورة همزه کښ به راشی۔ ان شاء الله۔

دلته د همّاز نه مراد: غیبت کونکے، بدنامے لګونکے، طعنونه کونکے دے۔

مَّشَّاءٍ بِنَمِیْمٍ: دا څلورم صفت دے، یعنی ډیر ورونکے دے چغلئ لره۔ یعنی یو بل ته

خبره وړی دپاره د فساد او ورانے راوستو۔ او دۀ ته نَمَّام او قَتَّات هم وئیلے شی۔ او په مَشَّاء لفظ کښ مبالغه ده، یعنی ګرزیدل ئے همیشه د فساد دپاره دی۔

او په روایت د بخاری او مسلم کښ دی چه نَمَّام جنت ته نشی داخلیدے۔

او په بل روایت د بخاری او مسلم کښ دی چه په یو شخص باندے عذاب قبر ددے وجه نه وو چه هغه به چغلخوری کوله، او الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته د هغۀ حال ښکاره کړو۔

او دا دوه صفتونه په هغه چا کښ راځی چه ډیر سپك شی، او د خپل نفس قدر ورسره نۀ وی۔ نو عیبونه لګول او چغلی د هغۀ کار شی۔

مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ: ۱- یعنی ځان هم د خیر نه منع کوی. لکه اسلام، قرآن کښ نۀ داخلیږی۔

۲- یا بخیل دے مال په صحیح ځای کښ نۀ خرچ کوی، یا خپل اهل او قبیله ئے د اسلام نه منع کړیده۔ حسنؒ وائی: خلقو ته وائی چه څوك چه په دین د محمد ﷺ کښ داخلِ شو نو زۀ به ورته هیڅکله هیڅ فائده نۀ ورکوم۔

مُعْتَدٍ: د الله تعالیٰ د حدودو نه تجاوز کونکے دے۔ یا ظلم کونکے دے۔

أَثِيمٍ: ډیر ګناهګار دے۔

عُتُلٍّ: بد زبانه دے، ۱- واحدیؒ وائی: اکثر مفسرین وائی:

(هُوَ الشَّدِیْدُ الْخُلُقِ الْفَاحِشُ الْخُلُقِ)۔ سخت بد اخلاقه او ناکاره اخلاقو والا)

۲- فراءؒ وائی: هُوَ الشَّدِیْدُ الْخُصُوْمَةِ فِی الْبَاطِلِ۔ په باطل کښ سخت جګړه کونکے۔

۳- هُوَ الْغَلِیْظُ الْجَافِیْ فِی الطَّبْعِ۔ (زجاجؒ)۔

سخت بدن او زړۀ والا، سخت خویه، بے وفاء۔

٤- هُوَ الْاَکُوْلُ الْمَنُوْعُ۔ (اللیثؒ)۔ ډیر خوراکی، د بل نه منع کونکے۔

٥- یَعْتِلُ النَّاسَ اَیْ یَحْمِلُهُمْ وَیَجُرُّهُمْ اِلٰی مَا یَکْرَهُوْنَ۔

په خلقو باندے ناکاره کارونه کونکے لکه جیل او وهل ټکول۔

٦- اَلْفَاحِشُ اللَّئِیْمُ۔ بے حیاء رذیل / کمینه۔

۷- اَلْاَکُوْلُ الشَّرُوْبُ الشَّدِیْدُ فِیْ کُفْرِهٖ۔ ډیر خوراکی، ډیر څکاکی چه په کفر کښ سخت وی۔

۷- ښه معنیٰ ئے ده: اَلْغَلِیْظُ الْجِسْمِ الْقَاسِیُ الْقَلْبِ بَعِیْدُ الْفَهْمِ کَثِیْرُ الْجَهْلِ۔

سخت بدن والا، سخت زړه والا، په خبره نهٔ پو هیدونکے، ډیر ناپو هه۔ نو ددهٔ ژبه ډیره ورانه استعمالیږی نو ځکه ورته بد زبانه وئیلے کیږی۔

بَعْدَ ذٰلِكَ: یعنی روستو د دغه مخکنو صفاتو نه۔

زَنِیْم: ۱- مَعْرُوْف بِالشَّرِّ۔ په شرونو باندے مشهور۔ (سعید بن جبیرؒ)

۲- قَبِیْحُ الْاَفْعَال۔ (بد عمله انسان) (د دواړو حاصل یو دے)۔

۳- مَاْبُوْن۔ عمل قوم لوط والا۔ اُبنه یوه بیماری ده چه د یو تن په مقعد کښ خارخ ولګی چه هغه صرف په عمل قوم لوط سره سړیږی۔

٤- اَلظَّلُوْمُ۔ ډیر ظلم کونکے۔

٥- دَعِیٌّ مُلْصَقٌ مُسْتَلْحَقٌ بِالْقَوْمِ۔ بے نسبه چه پلار ئے نهٔ وی معلوم۔ یعنی د قریشو د قوم نه نهٔ دے او د هغوی سره ئے ځان په زوره پیوسته کولو۔ ګویا که ولدِ زنا دے۔ دا معانی قرطبیؒ، معالم التنزیل او شربینیؒ او فتح البیان ذکر کړیدی۔

څوك چه د رسول الله ﷺ پسے خبرے کوی، لیونے ورته وائی نو الله تعالیٰ ورته داسے ردیے بدیے وائی۔ او دا قانون دے چه څوك د رسول الله ﷺ او د هغه د سنتو په خلاف وډریږی نو داسے بد صفات به پکښ راځی۔

اَنْ کَانَ: (۱) دا متعلق دے د لَا تُطِعْ سره یعنی جاهلان خلق د داسے موصوف او د داسے صفاتِ قبیحه ؤ والا سړی اطاعت او تابعداری د هغه د مالداریٔ د وجه نه کوی لیکن تهٔ د هغه د طاعت نه ځان ساته۔

(۲) پدے کښ لام تعلیلی پټ دے، اَیْ لِاَنْ کَانَ، او دا علت دے د روستو لسم صفت دپاره (اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِ) یعنی د قرآن مخالفت د وجه د سرمایه داریٔ او د تکبر نه کوی۔

(۳) دا د مخکنو ټولو صفتونو دپاره سبب دے۔ یعنی دا ناکاره صفات پکښ د مالداریٔ او د غرور نه پیدا شویدی۔

اِذَا تُتْلٰی: یعنی د مال او مرتبے او اولاد غرور د الله د آیتونو په دروغژن ګنړلو او په دے تور لګولو باندے راپارولے دے چه دا قرآن د تیرو شوو قومونو صرف قیصے او حکایات دي۔

اَسَاطِیْرُ: جمع د اُسْطُوْرَةٌ ده، هغه قصے چه لیکلے شوی وی او اکثر دروغ وی۔

سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ﴿١٦﴾ إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ
زردے چه وُبه داغو دهٔ لره په خرټم (پوزه) باندے۔ يقيناً مونږ ازميښت کوو په دوی
كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوْا
باندے لکه چه ازميښت کړے وو مونږ په باغ والو باندے کله چه هغوی قسم وکړو
لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِيْنَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ﴿١٨﴾
چه خامخا پريکوی به هغه په وخت د صبا کښې۔ او نهٔ ئے جدا کولو (حق د مسکين)
فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ
(يا ان شاء الله ئے نهٔ وئيله)۔ نو راغے په هغے باندے د شپے راتلونکے عذاب (اُوګرځيدو
مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُوْنَ ﴿١٩﴾
په هغے باندے يو ګرځيدونکے عذاب) د طرف د رب ستا نه او دوی اُودهٔ وو۔

تفسير : اُوس دهٔ تـه سزا بيانيږی۔ فرمائی : مونږ به ددهٔ په تندی او پوزه باندے داسے لـويـه نښـه اولـګـوو چـه تر څو پورے دا ژوندے وی ددے نښے په ذريعه به پيژندلے کيږی، لـکـه چـه هغه کس وی چه د هغهٔ پوزه پريکړے شوے وی، څوك چه هم هغهٔ ته ګوری د هغهٔ د بدشکلئ نه متاثره کيږی۔

عَلَى الْخُرْطُوْمِ : دا پـوزے او خـرټم ته وئيلے شی، دلتـه الله تعالیٰ وليد بن مغيره مشابه کـړو د يـو فـيـل او خـنـزيـر او ګـيـدړ سـره چه غټ خرټم لری۔ خرطوم ددے درے واړو دپاره استعماليږی۔

سَنَسِمُهٗ : دا داغ لـګـول به په کوم ځای کښې وی؟ نو (۱) يو په ميدان د محشر کښې چه ټول خلق به ورته ګوری۔

مـقـاتـلؒ وائـی : مـونږ به ددهٔ پوزه توره کړو او دا په هغه وخت چه کله اُور ته داخليږی۔ يعنی الله به په دے ورځ ددهٔ په تندی باندے يو داسے بدشکله نښه پيدا کوی چه هغه به د نـورو کافرانو نه بيخی جدا پيژندلے کيږی، ځکه چه دهٔ په دنيا کښې د نبی کريم ﷺ سره د تمامو کافرانو نه زياته دشمنی کوله۔

(۲) فِي النَّارِ۔ په اُور د جهنم کښې۔

(۳) یا به په دنیا کښې پرے عذاب راولي او پوزه به ورله ذلیله کړي۔او سین د استقبال قریب دپاره دے نو په دنیا کښې دغه شان وشوه چه د بدر په ورځ د ولید پوزه زخمي شوه او عار او شرم ورباندے همیشه دپاره پاتے شو۔

(٤) ابن جریرؒ وئیلي دي چه دا مجاز دے، او مراد دا دے چه د دغه سړي حال به خلقو ته په دنیا او آخرت کښې ښکاره شي، او هغه د ذلت حال دے لکه چه داغ په پوزه باندے پوره ښکاره کیږي۔

(٥) قرطبیؒ د قتادهٔ نه نقل کړیدي : (سَنُلْحِقُ بِهٖ شَیْئًا لَایُفَارِقُهٗ) چه په دغه سړي باندے به شرم او عار پیوسته شي لکه چه د چا په پوزه ښکاره داغ وي چه نهٔ ترے جدا کیږي۔

(٦) ابو العالیهٔ او مجاهدؒ وائي : (نُسَوِّدُ وَجْهَهٗ، فَنَجْعَلُ لَهٗ عَلَمًا فِي الآخِرَةِ یُعْرَفُ بِهٖ وَهُوَ سَوَادُ الْوَجْهِ) یعنې مونږ به ددهٔ مخ تور کړو نو ددهٔ دپاره به داسے نښه جوړه کړو چه په هغې به پیژندلے شي چه هغه توروالے د مخ دے۔ (بغوی)

إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ : پدے کښې د قریشو مشرکانو د ناشکرئ بیان دے، او دغه صفات د یو تن نهٔ وو پدے وجه ئے دلته ضمیر د جمع راوړو۔

كَمَا بَلَوْنَا: دا تشبیه په څه کښې ده ؟

(۱) یو فِي كُفْرِ النِّعْمَةِ۔ (د نعمتونو په ناشکرئ کښې) چه باغ والا ناشکره وو نو دغه شان دوی هم ناشکره شول، هغوی ته الله تعالیٰ دنیا ورکړے وه او دوی ته ئے لوی نعمت د دین ورکړو چه هغه د محمد رسول الله ﷺ دوی ته راتلل وو، که قریشو او نورو کفارو دا منلے وے نو ډیره لویه ګټه به ئے کړے وے۔

(۲) یا دا تشبیه ده په اِصَابَةُ الْبَلِیَّةِ وَالْقَحْط کښې (یعنې د مصیبت او قحط په رسیدو کښې) یعنې په مکے والو باندے الله تعالیٰ په لوږه او قحط سره امتحان وکړو څکه چه رسول الله ﷺ دوی ته ښیرے وکړے تردے چه دوی مردارے او هډوکي وخوړل۔ لکه څنګه چه په باغ والو باندے امتحان راغے د باغ په سوزیدو سره، لیکن باغ والو خو بیرته توبه ویستله مګر د مکے مشرکانو هیڅ توبه ونهٔ ویستله۔

اشاره ده چه څوك د نعمت ناشکري کوي نو الله تعالیٰ به ئے ترے واخلي او محروم به ئے پریدي۔

الله فرمائی : مونږ مکے والو له خپل نعمتونه ورکولو سره دوئ باندے آزمائش کول وغوښتل، دوئ له مو د دوئ د خواهش مطابق مال او دولت، اولاد او اوږد عمر ورکړو، او دوئ مو په خپل حال پریښودل، په دے وجه نۀ چه ګنے دوئ زمونږ خوښ بندګان وو، بلکه د دوئ رسئ مو دوئ ته ورسسته کړه، او دوئ ته ددے احساس هم اونشو، او په کفر او عناد کښ مخکښ وړاندے لاړل، لکه د اهلِ کتابو یا د حبشو هغه خلق چه هغوئ د خپل پلار د مړینے نه پس د یو باغ وارثان شول.

کله چه د هغے میوه پخه شوه، نو دوئ په خپلو کښ فیصله اوکړه چه دوئ به سهر وختی ځی او د هر چا د بیداریدو نه مخکښ به ددے میوه پریکوی، دے دپاره چه هیڅ فقیر او مسکین رانشی او دوئ نه صدقه اونۀ غواړی. دوئ په دے ګمان کښ مبتلا شول چه اوس د باغ د میوے حاصلول یقینی شے ګرځیدلے، هیڅ یو شے ددے په لاره کښ رکاوټ نۀ دے،

او دا خبره تړے هیره شوه چه د الله د مرضئ نه بغیر هغوئ په هیڅ شئ باندے قادر نۀ دی، دوئ ان شاء الله اونۀ وئیله چه که الله اوغواړی نو مونږ به د خپل باغ میوه پریکړو. چنانچه د الله تعالىٰ یو عذاب شپے د شپے په دے باغ باندے نازل شو، او ټول باغ اوسوزیدۀ او د تیارے شپے پشان تور او ایره شو، او هیڅ هم باقی پاتے نشول.

أَصْحَابَ الْجَنَّةِ: دا یو باغ وو په زمکه د یمن کښ چه د صنعاء نه دوه فرسخه (یعنی اته میله) وړاندے دے، او دا واقعه د عیسىٰ ﷺ د پورته کیدو نه لږه زمانه روستو راغلے ده کله چه په یمن کښ نصرانیت لا نۀ وو خور شوے.

بعض وائی : دا د حبشو نه څه کسان وو. (التحریر)

دا باغ د یو نیك سړی وو چه پدے کښ به فصلونه او انګور او کجورے کیدلے نو کله چه به د هغے میوه وشوه نو دۀ به راوشوکوله او دا به ئے درے حصے کړه، یوه حصه به ئے کورته یوړه، او یوه حصه به ئے خرڅه کړه، او په باغ به ئے خرچه کړه، او یوه حصه به ئے مسکینانو ته د الله په نامه ورکړه نو الله به دا باغ ډیر مزیدار ساتلو.

دا صالح سړے چه کله وفات شو نو ددۀ بچی اکثر بد اخلاقه، ناکاره وو، نو دوی وویل چه مونږ د پلار په شان کار پدے باغ کښ نشو کولے، هغه خو کم عقل وو، چه مسکینانو ته به ئے خوراکونه ورکول ځکه چه مال لږ دے او اهل وعیال زیات دے،

صدقے او زکاۃ ورکولو ته تیار نهٔ یو۔

بیا ئے وویل چه مسکینان خو عادت دی، هغه خو د باغ د شوکولو وخت ته څان رارسوی نو څه به کوو؟ که نهٔ ئے ورکوو شرم دے، نو علاج دا دے چه د شپے به لاړ شو او باغ به راوشوکوو، مسکینان چه نمر خاته خبرېږی مونږ به توله میوه کورته رارسولی وی۔ نو دوی بخیلان وو او د الله په نوم ئے څه نهٔ ورکول او د الله په مخلوق ئے شفقت نهٔ کولو۔ لکه همدغه مرضونه د مکے په مشرکانو کښې هم وو۔

نو د دوی د ورتللو نه مخکښې مخکښې الله تعالیٰ په دغه باغ باندے اُور راولیږلو چه ټول باغ ئے وسوزیدو، تك تور میدان ترے جوړ شو، دوی چه ورغلل نو حیران شو وے ویل چه مونږ نه لاره خطاء شوه نو نیك سړی پکښې وویل چه لاره مو نهٔ ده خطاء کړے بلکه د الله عذاب درباندے راغلے دے۔

آیا ما تاسو ته نهٔ وو وئیلی چه ان شاء الله ووایئ او د الله حق مهٔ خورئ او دا ګناه مهٔ کوئ، نو هغوی ټول په خپل دے عمل باندے خپیمانه شول او الله ته ئے توبه ویستله۔ او دا عذاب د دوئ دپاره د خیر ذریعه وګرزیده۔

عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : الله تعالیٰ دوی ته د رشتینی توبے په وجه ددے باغ په بدل کښې داسے مزیدار باغ د انګورو ورکړو چه د هغے نوم الحیوان وو۔

(يَحْمِلُ الْبَغَلُ مِنْهَا عُنْقُوْدًا وَاحِدًا)

یو عنقود (غونچك/خوشه) د انګورو به یو قچر وړله۔ (په توبے سره الله تعالیٰ بیرته زاړه نعمتونه راواپس کوی)۔ (البحر المحیط ۳۱۳/۸ والبغوی والقرطبی)

إِذْ أَقْسَمُوا: یعنی په دوی کښې اکثرو قسم وکړو۔ سوئ د یو غوره ورور نه۔

ابن عاشورؒ لیکی : چه دوی قسمونه ددے دپاره وکړل چه دوی په څان باندے دا عمل ضروری کړی، او ددے وجه دا ښکاره کیږی چه په دوی کښې یو تن د دوی په موافقت کښې شکی وو، نو دوی هغه څان سره د قسم په زور شریکول غوښتل۔ لکه د روستو (قَالَ اَوْسَطُهُمْ) نه معلومیږی۔

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِيْنَ: صرم د فصل او میوے پریکولو ته وئیلے شی، او صرم هغه کوری ته وئیلے کیږی چه د چیلئ او سخی (د پئ رودونکی بچی) په خوله باندے تړلے کیږی دے دپاره چه د مور نه پئ نه روی۔

او صرماء: هغه صحراء ته وائی چه اُوبه پکښې وچې شوی وی، او هغه اُوبنې ته وائی چه پئ ترینه وچ شوی وی، نو پدې لفظ کښې معنی د منع پرته ده. او اشاره ده چه د دوی دا پریکول په وخت د صبا کښې په نیت د منع کولو سره وو د مسکینانو نه.

مُصۡبِحِیۡنَ: دَاخِلِیۡنَ فِیۡ وَقۡتِ الصَّبَاحِ.

یعنی په داسې حال کښې په وخت د صبا کښې داخلیدونکی وی.

وَلَا یَسۡتَثۡنُوۡنَ: ١- ددې مشهوره معنی دا ده چه دوی ان شاء الله نهٔ وئیله په خپل قسم کښې، نو ځکه الله په خپل قسم کښې حانث کړل. (ابن کثیرؒ).

ابن عاشورؒ وائی: دوی د خپل ځانونو د قوت په وجه په غرور کښې راغلی وو کله چه به ئې د یو کار د کولو عزم کولو نو د هغې څه مانع به ئې په زړه کښې نهٔ تیریدو.

(التحریر والتنویر)

٢- عکرمهٔؒ وائی: نهٔ ئې جدا کولو حق د مسکینانو. (یا دوی عزم وکړو چه ټول به پریکوو او لږ به هم ترې نهٔ پریدو- ابن عاشورؒ)

٣- لَا یَثۡنُوۡنَ عَزۡمَهُمۡ عَنِ الۡحِرۡمَانِ. دوی خپل عزم او اراده د مسکینانو د محرومولو نه نهٔ اړوله. (فتح البیان)

٤- ابو صالحؒ وائی: چه سبحان الله ئې نهٔ وئیله.

فَطَافَ عَلَیۡهَا طَآئِفٌ: طائف، اَلۡاَمۡرُ اللَّیۡلِیُّ ته وئیلې شی، یعنی د شپې چه کوم عذاب راځی هغې ته طائف وائی. او عَلٰی کښې د تسلط او نزول معنیٰ ده، یعنی د هر طرف نه پرې دغه عذاب راغلو چه هیڅ ئې پرینخودل.

فَأَصۡبَحَتۡ كَالصَّرِیۡمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوۡا مُصۡبِحِیۡنَ ﴿٢١﴾
نو اُوګرځیدو باغ پشان د ایرو. نو آوازونه ئې اُوکړل یو بل ته د صبا په وخت کښې.
أَنِ اغۡدُوۡا عَلٰی حَرۡثِكُمۡ إِنۡ كُنۡتُمۡ صَارِمِیۡنَ ﴿٢٢﴾ فَانۡطَلَقُوۡا
چه سحر وختی لاړ شئ پټی خپل ته که چرته تاسو پرې کونکی یئ. نو لاړل دوی
وَهُمۡ یَتَخَافَتُوۡنَ ﴿٢٣﴾ أَنۡ لَّا یَدۡخُلَنَّهَا الۡیَوۡمَ عَلَیۡكُمۡ
او دوی پټې پټې خبرې کولې. (هسې نه) چه داخل نشی دې باغ ته نن په تاسو باندې

مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَاَوْهَا
مسکین۔ او سحر وختی لاړل په غصے سره ځان ئے قادر گنړلو۔ نو هرکله چه دوی
قَالُوْا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾
اُولیدو باغ وے وئیل یقیناً مونږ خامخا لاره خطا کونکی یو۔ بلکه مونږ محرومه کړے شو۔

تفسیر : فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ: صریم ۱ – رماد (تورو ایرو) ته وئیلے شي۔

او صریم د اضدادو نه دے، ورځ او شپے دواړو ته وئیلے شي۔

۲– نهار تـه هـم وئیلے شي یعنی داسے صفا شو لکه د سپینے ورځے په شان۔ اخفش ئے داسے معنیٰ کوی : وګرزیده په شان د پریکړے شوے صبا د شپے نه۔

۳– كَاللَّيْلِ الْمُظْلِمِ۔ لکه د تورے شپے په شان۔

٤– كَالرَّمْلَةِ لَا يَنْبُتُ عَلَيْهَا شَيْءٌ يُّنْتَفَعُ بِهٖ۔ (مؤرج)

په شان د میدان د شګو چه په هغے باندے فائده مند شے نۀ زرغونیږی۔

٥– یا صریم هغه اُونه ده چه د هغے نه میوے پریکړے شی یا فصل لَوْ کړے شی۔

فَتَنَادَوْا: د باغ د انجام نه ناخبره، دوئ یو بل ته سهر وختی آواز اوکړو، او وے وئیل چه کـه تـاسـو د خپل باغ میوه حاصلول غواړئ نو زر زر هلته لاړ شئ۔ نو دغه خلقو خپلو کښ پټے پټے خبرے کولے او روان وو، دے دپاره چه کوم فقیر او محتاج پو هه نشی او دوئ پـورے اونـۀ نښـلـی ځـنـګـه چـه د دوئ د پـلار په زمانه کښ به کیدل۔ یعنی د دوئ نیت خراب شو، دوئ په دے مال سره د الله تعالیٰ حق اداء کول ونۀ غوښتل۔

اَنِ اغْدُوْا: وختی لاړ شئ۔

عَلٰى حَرْثِكُمْ: پـه دے لفظ کښ اشاره ده چه دوی وئیل چه کرونده مونږ کړے ده، مونږ پـکښ مـحـنت کړیدے، دا هر څه خو زمونږ دی نو په دے کښ د الله تعالیٰ حصه په مونږ باندے واجب نۀ ده۔

فَانْطَلَقُوْا : کـلـه چـه راجـمـع شو نو اُوس باغ ته روانیږی په داسے طریقه چه مسکینان ترے خبر نشی، لکه چه غلا له ځی۔

اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا : دا تـفسیر د تـخافت (پټے خبرے) کولو دے۔ یعنی دوی دا خبره پټه

کولـه۔ یـا لام اجلیـه پټ دے، او دا د پټهو خبرو کولو علت دے۔ او مطلب دا دے چه مسکین له د داخلیدو موقعه او قدرت ورنکړئ اګرکه هغه به داخلیدل غواړی۔
وَغَدَوْا: یعنی دا خلق باغ طرفته په تیزئ، غصه او په دے پخه اراده لاړل چه فقیرانو ته به هیڅ کله ورکړه نهٔ کوئ۔ دوئ د خپل خیال مطابق د پلار د مرینے نه پس په دے خبره قادر شوی وو چه ددے نه به د الله په نوم هیڅ برخه نهٔ اوخکلے کیږی۔
عَلٰی حَرْدٍ: دا ډیرو معانو ته شامل دے۔ ١- اَلْغَضَبُ۔ ٢- وَالْمَنْعُ ٣- وَالْقَصْدُ۔
یعنی په غصه سره، په منع کولو سره، په قصد او اراده کولو سره۔
٤- عَلٰی حَاجَةٍ وَفَاقَةٍ۔ دوی په خپل حاجت او فاقے سره لاړل۔
٥- بعض وائی : حرد اِنفراد (ځانله کیدو) ته وائی۔
٦- او بعض وائی چه دا د باغ نوم وو یا د هغه مکان نوم وو۔ مخکنی ټول اقوال صحیح دی۔
قَادِرِیْنَ: د قدر نه دے، اندازے ته وائی۔ ١- یعنی دوی اندازه لګونکی وو د خپل کار په خپل ګمان۔ (یعنی چه دومره وخت کښ به ئے راپریکړو) (الفرآءؒ)
٢- یا قادرین : ځان قدرت والا ګنړونکی وو۔ (قتادهؒ)
٣- د قدر نه دے تنګئ ته وائی۔ اَیْ مُضَیِّقِیْنَ عَلَی الْمَسَاکِیْنِ۔ یعنی په مسکینانو باندے تنګی راوستونکی وو۔
فَلَمَّا رَأَوْهَا : کله چه دوئ باغ سوے وموندلو، نو یو بل ته ئے ووئیل چه دا زمونږ باغ نهٔ دے، مونږ لاره ورکه کړه او بل خوا ته لاړو، لیکن حقیقت کله بدلیدے شی، د دوئ یقین راغے چه د دوئ باغ سوزیدلے دے، اُوس دوئ ته فورًا دا احساس اوشو چه زمونږ د بد نیتئ او د مسکینانو د حق نهٔ ورکولو د بدے ارادے په وجه الله تعالیٰ مونږ د خپل نعمت نه محرومه کړو، او زمونږ د باغ دا حال
زمونږ پلار به د الله د شکر په توګه هر کال د باغ د میوے نه د فقیرانو حق اوخکلو، او په هغوئ به ئے تقسیمولو، نو الله تعالیٰ د هغهٔ د باغ حفاظت کولو۔
لَضَالُّوْنَ : یعنی دوی د ډیرے حیرانتیا او تعجب د وجه نه دا خبره بعیده ګنړله چه د دوی باغ دے په داسے حال وی۔ نو وے وئیل چه مونږ لاره خطاء کړه۔
بَلْ نَحْنُ : بیا ئے د سوچ نه روستو یقین راغے چه مونږ محرومه شو په سبب د دغه

گناه۔

قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا
وویل غوره د دوی نه آیا نۀ وو وئیلی ما تاسو ته ولې پاکی نۀ وایئ (د الله)۔ وویل
سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى
دوی پاکی ده رب زمونږ لره یقیناً مونږ ظالمان یو۔ نو رامخامخ شو بعض د دوی په
بَعْضٍ يَتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَالُوْا يَا وَيْلَنَا إِنَّا
بعضو باندې یو بل ئې ملامته کول۔ اُووئیل دوی هائے افسوس دے یقیناً مونږ
كُنَّا طَاغِيْنَ ﴿٣١﴾ عَسٰى رَبُّنَا أَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَا
سرکشان وو۔ امید دے چه رب زمونږ به په بدل کښې راکړی مونږ ته غوره د دے نه
إِنَّا إِلٰى رَبِّنَا رَاغِبُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ
یقیناً مونږ رب خپل ته رغبت (مینه) کونکی یو۔ دغسې عذاب وی (په ناشکرو)
وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾
او خامخا عذاب د آخرت ډیر لوئی دے که چرته دوی پو هیږی۔

تفسیر : په دے ورونو کښې چه کوم زیات صاحبِ تقویٰ او صاحبِ عقل وو، خپلو نورو ورونو ته مخاطب شو، وے وئیل : ما تاسو تولو ته نصیحت کړے وو چه تاسو د خپلې بد نیتئ نه توبه کړئ، د الله د یاد نه غافله مۀ جوړیږئ، او د هغۀ حق مۀ هیروئ، او یاد لرئ چه الله د مجرمانو نه په بدلے اخستلو باندے په پوره توګه قادر دے۔

چنانچه تولو د خپلې غلطئ اقرار اوکړو، د الله په حضور کښې ئے توبه کړه، او وے وئیل چه زمونږ رب د تمامو عیبونو او نقصانونو نه پاك دے، مونږ په خپلو ځانونو ظلم کړے۔ دے نه پس ئے یو بل ملامته کول چه که مونږ مسکینانو لره د دوئ د حق نه د محروم کولو بد نیت نۀ وے کړے، او د الله قدرت هیرولو سره مو د خپل قدرت اظهار نۀ وے کړے، نو نن به مو دا ورځ نۀ وے لیدلے۔ هائے افسوس چه مونږ په غفلت او ناپو هئ

کښې د الله د حدودو نه تجاوز کړے وو۔
اَوْسَطُهُمْ: اوسط په معنیٰ د غوره دے د دوی نه په عقل او رأی کښې۔
اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ : دا دلیل دے چه دغه یو ورور دوی ته د تسبیح وئیلو دعوت ورکړے وو لیکن دوی هغه ونهٔ منلو مګر بیا هغه هم د دوی نه براء ت ونکړو نو د هغه په حصه باندے هم عذاب راغے۔
لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ : د تسبیح نه مراد ان شاء الله وئیل دی۔ او دے ته ئے تسبیح ووئیله ځکه چه په ان شاء الله کښې د الله تعظیم او د هغهٔ اقرار دے۔
مجاهدؒ او ابو صالحؒ وائی : چه د هغوی ان شاء الله تسبیح وه۔ یعنی الله پاك دے ددے نه چه د هغهٔ په بادشاهیٔ کښې هغه کار وشی چه د هغهٔ اراده نهٔ وی۔
او بعض مفسرین وائی چه تسبیح نه مراد الله تعالیٰ پاك ګڼړل دی د شریکانو نه نو دوی د توحید فی البرکات نه انکار کونکی وو نو د شرك په وجه سره په دوی باندے دا عذاب راغے۔
قَالُوْا سُبْحَانَ رَبِّنَا: اُوس ئے د الله پاکی ووئیله۔ یعنی الله تعالیٰ د هر قسم شریك او نسبت د ظلم نه پاك دے۔
كُنَّا ظَالِمِيْنَ: یعنی الله چه زمونږ باغ هلاك کړو نو هغه په مونږ ظلم نهٔ دے کړے بلکه مونږ د خپلو ځانو سره ظلم کړیدے۔ دوی د خپل جرم اقرار وکړو او د خپل جرم اقرار کول توبه ده، لیکن اُوس فائده نهٔ ورکوی، کله چه مجرم راګیر شی البته په آینده کښې فائده ورکوی۔
فَاَقْبَلَ : پدے کښې د دوی ډیرے عاجزیٔ او خضوع کولو ته اشاره ده په توبه کولو سره ځکه چه هریو د دوی نه د جرم اقرار وکړو۔
يَتَلَاوَمُوْنَ: یعنی یو بل ئے ملامته کول چه تا مشوره راکړے وه چه مسکینان به منع کوو۔ او د دویٔ ډیرے عاجزیٔ ته اشاره ده په توبه کولو سره۔ ځکه چه هریو د جرم اقرار وکړو۔
قَالُوْا يَا وَيْلَنَا: دا نوره مبالغه ده په اقرار د جرم او په توبه کولو کښې۔ یعنی یو بل ته ئے ووئیل چه یو بل څه له ملامته کوو، خو دا ټول کارونه په مونږ کښې وو۔ باغ خو هلاك شو خو پدے خفه یو چه د الله نافرمانی او سرکشی مو ولے کړیده۔

د طغيان او ظلم فرقونه

طَاغِيْنَ: فرق د طغيان او ظلم دا دے چه ظلم شرك او نورو گنا هونو كولو ته وائى، او طغيان د مسكينانو حق منع كولو ته وائى۔

❀ يا ظلم دا دے چه د مسكينانو حق ئے خوړلو، او طغيان دا دے چه د الله د امر نه اَوړيدلى وو۔ او ان شاء الله ئے نهٔ وئيله۔

❀ يا ظلم دا دے چه خپل حق مو تباه كړو او طغيان دا دے چه د مسكينانو حق مو هم ختم كړو۔

يا ظلم دا دے چه مونږ د مسكينانو حق منع كولو، او طغيان دا دے چه د الله ددے نعمت ناشكري مو كوله۔

عَسَى رَبُّنَا أَن يُبْدِلَنَا: كله چهٔ دوئ د خپلے گناه نه توبه كړه او آينده لپاره ئے الله سره وعده وكړه چه بيا به داسے غلطى نهٔ كوى، نو د خپل رب نه ئے ښهٔ اميد وكړو، او وے وئيل چه الله به مونږه د خپل رحمت نه محرومه نهٔ كړى، او ددے نه به ښهٔ باغ مونږ له راكړى۔ مونږ د خپل رب نه همدا اميد لرو۔

عَسَى رَبُّنَا: دا جمله خبريه ده ليكن مقصد په كښې دعا كول دى، او دے نه معلوميږى چه توبه د آينده دپاره ډيره فائده وركوى چه الله تعالىٰ زاړه نعمتونه بيرته راواپس كوى۔

او پدے كښې دعوت دے تويے ته چه هسے ارمانونه او افسوسونه څه له كوئ بلكه علاج موجود دے، راشئ توبه وباسئ الله به مو گناه معاف كړى۔

پدے كښې دعوت دے قريشو ته چه اُوس هم دوى ته موقعه شته چه د خپلے سركشئ نه توبه وباسى۔

رَاغِبُوْنَ: يعنى الله تعالىٰ ته په زړه باندے رجوع كوو او بيا عمل كوو۔ او هركله چه دوى په دے توبه كښې رشتينى وو نو الله ورته غوره باغ وركړو۔

او ابو خالد اليمانيؒ وائى: زهٔ دغه باغ ته ننوتم نو ما په هغے كښې هر يو غونچك داسے وليدو لكه يو ولاړ تور انسان۔ (التحرير والقرطبى وفتح البيان)

كَذَٰلِكَ الْعَذَابُ: ١ – اَىْ سَيُنْزِلُ عَلٰى هٰؤُلَاءِ۔

يعنى دغه شان عذاب به پدے موجوده كافرانو ناشكرو باندے هم راوليږى، قحطونه او

پریشانئ به پرے راولی۔
۲- کَذٰلِكَ الْعَذَابُ لِمَنْ عَصَانِیْ ۔ دغه رنګ عذابونه زۀ ورکوم هغه چا ته چه زما نافرمانی کوي۔
وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ : یعني عذاب د مکے والو صرف په دنیا کښ نۀ دے بلکه چه توبه نۀ وباسی نو په آخرت کښ هم عذاب دے۔
یا عام دے لکه څنګه چه باغ والو ته په دنیا کښ عذاب ورکړے شو چه باغ ئے هلاك شو نو که څوك داسے عمل کوي، او توبه نۀ وباسی نو د هغوی دپاره په دنیا کښ هم عذاب دے او په آخرت کښ هم۔
لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ: لو شرطیه دے جزاء پټه ده۔ اَیْ لَمَا عَصَوْا رَبَّهُمْ۔ یعنی دوی به د خپل رب عصیان نۀ کولے۔
❁ اودے قصے نه دا خبره ثابتیږی چه زکاة او عشر ورکول واجب دی،
❁ او ورسره مسکینانو ته د خپل فصل او باغ نه څه نا څه برخه ورکول ضروری دی، که دا نۀ وی الله تعالیٰ سزا ورکوی۔ دا بیا د نعمت ناشکری ده۔
❁ او دا دلیل دے چه څوك د کال د پوره کیدو نه مخکښ د نصاب نه څه شے کم کړی دے دپاره چه د زکاة نه وتښتی نو دا ناروا ده۔
نو کوم خلق چه د زکاة د ادا کولو نه ځان په حیلو سره بچ کوی لکه بعض علماؤ حیلے د اسقاطِ زکاة یا اسقاطِ شفعه دپاره لیکلے دی نو دا غلطے دی، د الله حکمونه د ځان نه اړول دی۔ (قاسمیؒ وابن عاشورؒ)

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿٣٤﴾ أَفَنَجْعَلُ
یقیناً متقیانو دپاره په نیز د رب د دوی جنتونه د نعمتونو دی۔ آیا ګرځوو به مونږ
الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ لَكُمْ
مسلمانان پشان د مجرمانو۔ څه وجه ده تاسو لره څنګه فیصله کوئ۔ آیا تاسو لره
كِتَابٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا
کتاب شته چه په هغے کښ لوستل کوئ۔ یقیناً تاسو لره په هغے کښ خامخا هغه

تَخَيَّرُوْنَ ﴿۳۸﴾ أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ عَلَيْنَا
څه دي چه تاسو ئې خوښوئ۔ آیا تاسو لره شته قسمونه په مونږ باندې چه
بَالِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا
رسیدونکي وي تر ورځې د قیامت پورې چه یقیناً تاسو لره خامخا هغه څه دي
تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۹﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿۴۰﴾
چه تاسو ئې فیصله کوئ۔ تپوس وکړه د دوی نه چه کوم یو د دوی پدې خبره ذمه وار دے۔

تفسیر: کله چه د کافرانو او سرکشانو د قیامت په ورځ هغه انجام شو کوم چه پورته بیان شو، نو اوس د قرآن کریم د عامې قاعدې مطابق د نیکانو او پرهیزګارانو انجام بیانولے شي، او دوی ته زیرے ورکوي او دا خبره بیانوي چه که دے کافرانو سره مالونه دي نو تاسو له الله تعالیٰ جنتونه درکوي۔

دارنګه دلته په هغه مشرکانو باندې رد هم شوے چه هغوئ به په غریبانانو مسلمانانو پورې توقې کولې او خپل ځان له د دروغو تسلي ورکولو لپاره به ئې وئیلې چه که بالفرض قیامت راشي نو زمونږ الله به مونږ له په قیامت کښې هم ددے وګو او بربنډو نه ښهٔ حالت کښې ساتي، لکه څنګه چه هغهٔ مونږ له دلته مال او دولت راکړے دے۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه د الله نه یریدونکو مسلمانانو ته به د قیامت په ورځ د دوئ د رب سره داسې جنتونه ملاویږي چه په هغې کښې به سراسر نعمتونه وي۔

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ: هرکله چه متقیانو ته د الله تعالیٰ د طرفنه د جنتونو اعلان وشو نو هغوی د کمزورو مؤمنانو پورې استهزاء (توقې) شروع کړې، استهزاء ئې دا وه چه اول خو جنتونه نشته، دا هسې دوکه ده، بیا به ئې دا وئیل چه که آخرت راشي نو دا بلال او صهیب او عمار (رضي الله عنهم) به جنت ته ځي او مونږ به نهٔ ځو، دا نشي کیدے، بلکه (لَنَدْخُلَنَّ قَبْلَهُمْ) مونږ به ضرور د دوی نه مخکښې جنتونو ته روان یو۔ ځکه چه مونږ الله ته ګران او محبوب یو چه دنیا ئې راکړیده نو جنت ته به هم راکوي۔

او دوی به دلته هم غریبانان وي، او هلته به هم دغه شان غریبانان وي۔ نو دا د دوئ د غرور او تکبر خبرې وې۔

نو دلته الله تعالیٰ په دوی باندې څلور ردونه کوي چه دا نظریه ستاسو غلطه ده، او دا تاسو هسې خوب وینئ، هیڅ حقیقت ئې نشته. ځکه چه ستاسو صفاتو کښې فرق دې چرته مسلم او چرته مجرم دواړه نشي برابریدې، نو الله دواړه څنګه جنت ته بوځي، بله وجه دا ده چه آیا تاسو سره کوم کتاب شته چه په هغې کښې الله لیکلي وي چه مشرکان به الله تعالیٰ سره د شرك نه جنت ته بوځي. یا که کتاب نهٔ وي نو آیا الله کوم ځای کښې وعده کړیده چه الله رب العالمین به قسم سره وئیلی وي چه قسم په الله اې قریشو مشرکانو! تاسو جنتیان یئ او دا قسم الله نهٔ ماتوي، پابندي پرې کوي.

څلورمه وجه: آیا ستاسو د کوم معبود دا طاقت شته چه هرکله الله تعالیٰ مسلمانان جنت ته بوځي او هغه تاسو راکاړي او جنت ته مو بوځي، لکه څنګه چه الله طاقتور ذات دې نو ستاسو معبودانو کښې هم دغه شان طاقت وي.

مطلب دا شو چه د جنت د داخلیدو دا څلور لارې دی:

(۱) یا خو د مسلمان په شان صفت ځان کښې پیدا کړئ.

(۲) یا به الله خپل کتاب کښې دا خبره لیکلی وي.

(۳) یا به الله تا سره لوظ کړې وي،

(٤) یا به ستاسو طاقتور معبود وي چه تاسو په زوره جنت ته بوځي. او تاسو کښې دا تولې خبرې نشته، دا لا څه چه قیامت کښې به دومره پریشانه شئ چه تاسو به سجدې ته راوبللې شئ نو د سجدې طاقت به نهٔ لرئ.

اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِیۡنَ: پدې کښې هغه قاعده ده چه الله تعالیٰ جمع بین المتناقضین نهٔ کوي ځکه چه اسلام او جرم کښې تناقض دې ځکه چه مجرم کافر دې او مسلم د کافر متناقض دې، نو هرکله چه اسلام او کفر نهٔ جمع کیږي نو دغه شان ددې نتیجه هم یوه نشي کیدې چه هغه جنت دې.

مَا لَکُمۡ کَیۡفَ تَحۡکُمُوۡنَ: یعنی دا خو ډیره غلطه فیصله ده چه زهٔ مسلم او مجرم یو شان کړم، او دواړه جنت ته داخل کړم، ددې خو مطلب دا جوړیږي چه الله ته به تور او سپین، دوست او دشمن، ښه او بد یو شان ښکاره کیږي، پدې کښې خو الله تعالیٰ ته ډیر سخت د عیبونو نسبت راځي، نهٔ بلکه الله ته ښهٔ ډیر ښهٔ ښکاره کیږي، او کفرئې ډیر بدی شي چه دومره انسانانو ته ښه ډیر ښه او بد ډیر بد نهٔ ښکاره کیږي. الله د دواړو

ترمینځ ډیر تمییز کوی۔

اَمْ لَكُمْ كِتَابٌ: یعنی ستاسو کوم کتاب شته چه تاسو د هغے درس کوئ۔

تَدْرُسُونَ: دا کنایه ده ددے نه چه څوك د یو کتاب درس کوی نو په هغے باندے ښه پو هه شوے وی۔

اِنَّ لَكُمْ: یعنی په هغه کتاب کښې دا خبره وی چه خامخا ستاسو دپاره به هغه شے وی او تاسو ته به درکولے شی چه تاسو ئے ځان له غوره کوئ چه هغه جنت دے۔

تَخَيَّرُونَ: اَیْ تَخْتَارُوْنَهٗ لِاَنْفُسِكُمْ۔ یعنی چه تاسو ئے ځان له غوره کوئ۔

اَمْ لَكُمْ اَیْمَانٌ عَلَیْنَا بَالِغَةٌ: د عربو عادت به دا وو چه کله به ئے وعده کوله نو په هغے کښې به ئے قسم کولو چه قسم په الله دا کار به کوم۔ ایمان کنایه ده د وعدے نه۔ خو هغے سره قسم ملگرے دے۔

اَمْ عَلَیْنَا: اَیْ هَلْ حَلَفْنَا لَكُمْ۔ یعنی آیا مونږ تاسو ته چرته قسم کړیدے او لوظ مے درسره کړیدے۔

بَالِغَةٌ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ: قسمونه دوه قسمه دی (۱) یو هغه قسم دے چه انسان ئے وکړی او بیرته ئے مات کړی، او د هغے کفاره ورکړی،

(۲) او بعض هغه قسم وی چه انسان ئے هیڅکله نهٔ ماتوی۔ نو الله فرمائی چه آیا ما داسے قسم کړیدے چه زهٔ ئے نهٔ ماتوم۔ [لَا نَخْرُجُ مِنْهَا وَلَا نَتَحَلَّلُ مِنْهَا اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ] چه نهٔ به ددے قسم نه وځم او نهٔ به ترے ځان حلالوم تر قیامته پورے لکه انسان د قسم نه په کفارے ورکولو سره وځی۔

اِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ: یعنی چه وی به ستاسو دپاره هغه شے چه تاسو ئے فیصله کوئ نو پدے کښې د نفی معنیٰ ده، یعنی داسے هیڅکله نشته۔ تهٔ خو به دا فیصله کوے چه الله ما سره لوظ کړیدے لیکن دا د الله د طرفنه هیڅکله نشته۔ او دا فیصله ستا غلطه ده۔

سَلْهُمْ: که دوی ووائی چه دا قسمونه مونږ سره الله تعالیٰ کړیدی نو الله خپل نبی ته فرمائی: تهٔ د دوی نه تپوس وکړه چه کوم یو ددوی نه پدے قسم باندے ذمه وار دے، چه هغه ذمه واری واخلی چه زهٔ به ئے درته وښایم چه الله په فلانی ځای کښې قسم کړیدے راشه دا وگوره۔ نو هغه ځای مونږ ته وښایئ۔ آیا دے انسان الله لیدلے دے، یا ئے د الله

خبرے آوریدلی دی، هغه دِے وښائی۔ دا یو هم نشته۔ نو کیدے شی چه د دوی په باباگانو او باطلو معبودانو باندے توکل وی نو الله هغه هم رد کوی فرمائی :

اَمۡ لَهُمۡ شُرَكَآءُ فَلۡيَاۡتُوۡا بِشُرَكَآئِهِمۡ اِنۡ كَانُوۡا صٰدِقِيۡنَ ﴿٤١﴾
آیا دوی لره شریکان شته نو راوړے ولی شریکان خپل که چرته رشتینی یئ۔
يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَنۡ سَاقٍ وَّيُدۡعَوۡنَ اِلَى السُّجُوۡدِ
په کومه ورځ چه لرے به کړے شی پرده د پنډئ نه او را وبه بللے شی سجدے ته
فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ ﴿٤٢﴾ خَاشِعَةً اَبۡصَارُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٌ
نو طاقت به نهٔ لری۔ ذلیله به وی سترگے د دوی، پټ کړی به وی دوی لره ذلت
وَقَدۡ كَانُوۡا يُدۡعَوۡنَ اِلَى السُّجُوۡدِ وَهُمۡ سٰلِمُوۡنَ ﴿٤٣﴾
(دپاسه به راغلے وی په دوی ذلت) او یقیناً وو دوی چه رابللے به شو سجدے ته او دوی به روغ وو۔

تفسیر: اَمۡ لَهُمۡ شُرَكَآء : آیا د دوی لره معبودان شته (شرکاء د معبودانو دپاره نوم گرځیدلے دے ځکه ئے نسبت یو ته هم نهٔ دے کړے نهٔ الله ته او نهٔ مشرکانو ته) او ددے سره دا مراد دے : [يُدۡخِلُوۡنَهُمُ الۡجَنَّةَ] یعنی آیا داسے شرکاء شته چه دوی جنت ته بوځی، لکه ځنگه چه دوی ئے وائی۔

فَلۡيَاۡتُوۡا بِشُرَكَآئِهِمۡ : یعنی په دنیا کښ دِے خپل معبودان راولی چه هغوی اقرار وکړی یا دِے په آخرت کښ راولی بلکه د آخرت خوډیره هیبتی ورځ ده، چه په دوی باندے به رپ ربے لگیدلے وی، نو په هغه ورځ د دوی جنت ته داخلیدل نا ممکن دی۔

يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَنۡ سَاقٍ: مخکښ د مشرکانو دلیل رد کړے شو نو اُوس دوی ته تخویف بیانوی۔ (یعنی په هغه ورځ چه پرده به لرے کړے شی د پونډئ نه)

د اکثرو اهل علمو په نیز باندے کشف الساق کنایه ده د شدت نه۔

لکه عرب وائی : كَشَفَتِ الۡحَرۡبُ عَنۡ سَاقِهَا۔ اَیۡ اِشۡتَدَّتۡ۔

جنگ د خپلے پونډئ نه پرده لرے کړه یعنی سخت شو۔ لکه ځنگه چه سخته ډیره

شي نو خلق پينځے بډے كړى او منډه وهى۔

نو دلته مطلب دا دے چه كله سخت شدت او هول (يره) راشي په قيامت كښې۔ په قيامت كښې ډير هيبتى احوال راځى۔ او مطلب دا دے چه په تاسو باندے هيبتى احوال راتلونكى دى، جنتونه ستاسو دپاره نشته۔

او په حديث د بخارى كښې چه كوم كشف الساق راغلے دے نو هغه د متشابهاتو نه دے۔ په حديث د بخارى كښې دى : چه كله د قيامت ورځ شي نو الله به انسانانو ته حكم وكړى چه چا په دنيا كښې د چا عبادت كړے وى نو هغه دِے د خپل معبود پسے روان شي نو يهود او نصارىٰ او مشركان به اُور ته وغورزولے شى، نو دا امت به پاتے شي چه په دے كښې به منافقان هم وى۔ نو الله به ورته په يو صورت كښې راشى چه د خپل صورت نه ئے علاوه دے، ورته به ووائى چه زهٔ ستاسو رب يم، نو دوى به د الله پورے پناهى طلب كړى، الله به ورته وفرمائى چه آيا تاسو الله پيژنئ؟ ستاسو او د الله ترمينځ څه نخه شته؟ نو دوى به ووائى چه آؤ، ساق (پونډئ) ده۔

(فَيَكْشِفُ عَنْ سَاقِهٖ فَيَسْجُدُ لَهٗ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَيَبْقٰى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلّٰهِ رِيَاءً وَسُمْعَةً فَيَذْهَبُ كَيْمَا يَسْجُدَ فَيَعُوْدُ ظَهْرُهٗ طَبَقًا وَاحِدًا)

نو الله به پرده لرے كړى د پنډئ خپلے نه نو هغهٔ ته به هر مؤمن په سجده پريوزى او پاتے به شي هغه خوك چه الله دپاره ئے په رياء او سمعت سره سجده كوله نو دے به شروع شي چه سجده وكړى نو ددهٔ ملا به يو طبق جوړ شي۔ (د سجدے طاقت به نهٔ لرى)

(بخارى : ٧٤٣٩) و (٤٩١٩)

دا حديث امام بخارىؒ په كتاب التفسير كښې او امام مسلمؒ په كتاب الايمان كښې د ابو سعيد خدرى ﷺ نه روايت كړے دے۔

نو دلته د الله د پونډئ حقيقت الله تعالىٰ ته معلوم دے، او دا د الله صفت دے چه بنده ئے پوره كيفيت نشى بيانولے، نو مونږ به ددے په ظاهر باندے ايمان لرو، او ددے تاويل به نهٔ كوو، او همدا د سلف صالحينوؒ مذهب دے۔

معلومه شوه چه منافقان به هم سجده كول غواړى ليكن ملا به ئے يوه تخته شي چه نهٔ به شي ځكته كيدے۔ نو دلته په آيت كښې اگركه رد په مشركانو دے ليكن د دوئ ورونه (منافقان) يادوى، كه نهٔ وى مشرك ته خو د سجدے توفيق نهٔ ملاويږى هغه خو

مخکښ نه اُورته غورزیدلے دے، او منافق خو لا په میدان د محشر کښې دے نو هغه ته به توفیق نهٔ ملاویږی نو مطلب دا شو چه اے مشرکانو ! په قیامت کښې به په تاسو باندے به بیحده هیبت راځی، تاسو اُور والا یئ، خو ستاسو په ورونو منافقانو باندے داسے حالت راځی چه سجده به نشی کولے او مؤمنان به صرف الله ته سجده کولے شی۔ نو دلته صرف د آخرت یو حالت ذکر کول دی دپاره د رد کولو د وینا د مشرکانو چه تاسو د جنت طمع کوئ خو آخرت کښې داسے سخت حالات راروان دی۔

وَيُدْعَوْنَ: دلته رابللو نه مراد د مؤمنانو او منافقانو رابلل دی۔ او دا بعیده نهٔ ده چه مشرکان په یو ځای کښې وی او د حجت قائمولو دپاره هغوی ته هم د سجدے کولو حکم وکړی او هغوی ئے نشی کولے خو د حدیث په بناء دلته منافقان ذکر شویدی۔

او منافقان سجدے ته رابلل د توبیخ په طریقه دی۔

فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ: په قیامت کښې الله تعالیٰ د کافر او منافق او د مؤمن د تمیز دپاره دا کار کوی چه دوی سجدے ته رابلی۔

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ: یعنی په دے ورځ به د سرو او ښځو منافقانو نظرونه د سختے ویرے له کبله لاندے ښکته شوی وی، او دوئ به د ذلت او رسوائی د بوج لاندے ټیټ ټیټ روان وی۔ دا خلق چه کله په دنیا کښې تندرست وو، او دوئ ته به د سجدے لپاره اوویل شو نو د کفر او سخت تکبر له وجے به د دوئ څټونه د الله مخے ته نهٔ ښکته کیدل۔

وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ: کعب الاحبارؒ وائی :

[واللّٰهِ مَا نَزَلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ اِلَّا فِي الَّذِيْنَ يَتَخَلَّفُوْنَ عَنِ الْجَمَاعَاتِ]

قسم په الله دا آیت د هغه خلقو په باره کښې نازل دے چه د جَمعے مونځونو نه روستو پاتے کیږی۔ یعنی چه دوی به د قیامت په ورځ د سجدے کولو طاقت نهٔ لری۔

فَذَرْنِیْ وَمَنْ یُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ
نو پریږده ما او هغه څوك چه دروغژن ګڼړی دا خبر زردے چه په آرام آرام سره به را
مِّنْ حَیْثُ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاُمْلِیْ لَهُمْ اِنَّ
نیسو دوی د هغه ځائے نه چه دوی به نۀ پو هیږی۔ او مهلت ورکوم دوی ته یقیناً
كَیْدِیْ مَتِیْنٌ ﴿٤٥﴾ اَمْ تَسْئَلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ
تدبیر زما مضبوط دے۔ آیا غواړے تۀ د دوی نه مزدوری نو دوی د وجے د تاوان نه
مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَیْبُ فَهُمْ یَكْتُبُوْنَ ﴿٤٧﴾
درانۀ کړے شویدی۔ آیا دوی سره پو هه د غیبو ده پس چه دوی لیکل کوی (د هغے نه)۔

تفسیر : هر کله چه د مکے د مشرکانو په حق کښ هیڅ د همکئ کار ورنۀ کړو، نو الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته وفرمایل چه کوم خلق دا قرآن دروغژن ګڼړی د دوئ معامله تۀ ماته پریده، ماته معلومه ده چه دوئ سره څۀ کول پکار دی، او زۀ د دوئ نه په هره طریقه د بدلے اخستو قدرت لرم۔

فَذَرْنِیْ: اُوس مکذبینو ته دهمکی ده، چه دا خلق ما ته پریده۔

ذرنی معنیٰ ده : (كِلْهُمْ اِلَیَّ وَلَا تُشْغِلْ بِهِمْ فِكْرَكَ) یعنی دا خلق ما ته پریده، او په دوی باندے خپل فکر مۀ مشغولوه، زۀ به ورسره ګورم، او تۀ خپل کار جاری وساته۔

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ: یعنی مونږ د دوئ رسئ ورسستوو، او دوئ له صحت او عافیت ورکوو او نور ډیر نعمتونه ورکوو، او دوئ په مزه مزه د هلاکت کندے ته رسوو، او دوئ ته به ددے احساس هم نۀ وی۔

د استدراج معنیٰ په سورة الاعراف او سورة المؤمنون کښ تیره شویده چه دے ته وائی چه یو تن د الله نافرمانی کوی او الله ورله نعمتونه ورکوی نو دا داسے دے لکه د ماشومانو دام چه مرغانو ته ئے کیږدی او هغوی ته دانے واچوی، او مقصد پکښ د هغۀ په چل کښ رانیول وی۔ په حدیث کښ دی :

[اِذَا رَاَیْتَ اللّٰهَ یُعْطِی الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْیَا عَلٰی مَعَاصِیْهِ مَا یُحِبُّ فَاِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ]

(احمد : ۱۷۳٤۹) حدیث حسن)

کله چه تهٔ الله وینے چه بنده ته د هغه د ګناهونو سره نعمتونه ورکوی نو پو هه شه چه دا استدراج (په آرام آرام رانیول) دی، لکه یو تن چه څاروی ته خوراك ورکوی، او هغه څرېوی دے دپاره چه هغه ذبح کړی۔ نو الله ئے هم عذابونو دپاره بنهٔ تیاروی۔

وَأُمْلِيْ لَهُمْ: یعنی دا استدراج د دوئ دپاره د اکرام د وجه نه نهٔ دے بلکه دا خو یو مهلت ورکول دی چه په هغے سره به ئے ګناهونه نور هم زیات شی۔ یعنی زهٔ به د دوئ رسئ ډیره ورسسته کړم، دوئ له په عذاب ورکولو کښ تادی نهٔ کوم، تردے پورے چه دوئ په دے کچه خیال کښ آخته شی چه دوئ د الله خوښ بندګان دی ځکه خو هغهٔ دوئ له دومره ډیر نعمتونه ورکړی دی۔ په دے وخت کښ زهٔ دوئ په خپل سخت ګرفت کښ راولم۔ او دا به د دوئ خِلاف د الله داسے سخت ترین تدبیر وی چه هغه به دوئ برداشت نهٔ کړی۔

أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْراً: اُوس مشرکانو ته په بل انداز باندے د رسول الله ﷺ اخلاص او حقانیت بیانوی، او هغوی ته زجر او رټنه ده چه دا خلق چه انکار کوی نو کیدے شی چه تهٔ به د دوی نه څه مزدوری او عوض غواړے چه دوی به د هغے بوج نشی برداشت کولے، او ددے په وجه به ستا د دعوت قبلولو نه یریږی؟ داسے څه خبره خو نشته، تهٔ خو د دوی دپاره مخلص ئے۔ نو بیا ولے دا خلق ستا خبره نهٔ منی۔

أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ: ۱- یا به دوی انکار پدے وجه کوی چه دوئ سره به د غیبو علم وی، لوحِ محفوظ به د دوئ مخے ته پرانستے پروت وی، او د علمِ غیب تمامے پردے به دوئ لپاره اوچتے شوی وی، چه د هغے نه دوئ استفاده کوی او خپله پیژنی چه د الله په نیز د دوئ مقام د ایمان والو نه اُوچت او پورته دے، او دوئ ته په تا باندے د نازله شوے وحی او دین ضرورت نشته۔ یا په علم غیب کښ ئے دا خبره لیکلی وی چه دوی جنتیان دی نو بیا به دوی هم ترے څانله خپله دا خبره رانقل کړی وی او په کتابونو کښ به ئے لیکلی وی چه دوی جنتیان دی۔

۲- یا د غیب نه مراد وحی ده نو معنیٰ دا ده چه آیا د دوی سره وحی شته چه د هغے نه دوی د خپلو ځانونو دپاره دین لیکی چه زمونږ شرکی دین حق دے، او دا وحی د قرآن صحیح نهٔ ده۔ او پدے کښ اشاره ده چه دا یوه وحی د رسول الله ﷺ خو موجوده ده، خو

آیا د دوی سره بله وحی شته چه هغوی پرے د قرآن مقابله وکړی، دا هم نشته، نو بیا دوی ولے انکار کوی، حاصل دا چه نهٔ د دوی سره دنیوی مانع شته او نهٔ دینی۔

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ إِذْ نَادٰى
نو صبره کوه فیصلے د رب خپل ته او مهٔ کیږه پشان د ماهی والا کله چه هغهٔ آواز
وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿٤٨﴾ لَوْلَا أَنْ تَدَارَكَهٗ
اُوکړو او هغه د غم نه ډك وو۔ كه چرته نهٔ وے لاندے کړے (نهٔ وے رانیولے) دهٔ لره
نِعْمَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ
نعمت د طرف د رب ددهٔ نه خامخا گوزار شوے به وے په میدان کښ او دے به
مَذْمُوْمٌ ﴿٤٩﴾ فَاجْتَبَاهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٥٠﴾
بدحالے وے۔ نو غوره کړو دهٔ لره رب ددهٔ نو وے گرځولو دهٔ لره د نیکانو نه۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ خپل نبی ته ادب بیانوی او تسلی ورکوی چه تهٔ د خپل دعوت سره مخ په وړاندے ځه، د دویٔ د کفر او عناد او د دویٔ د دروغژن گنړلو پرواه مهٔ کوه، او د دعوت او د تبلیغ په مصیبتونو باندے صبر کوه۔

او د مهی والا یعنی یونس بن متیٰ علیه السلام غونته مهٔ کیږه، چه هغه د خپل قوم د تکلیفونو رسولو نه تنگ راغے، او د الله حکم ته ئے صبر ونکړو، او بغیر د اجازت د الله تعالیٰ نه د خپل قوم نه ووتو، هجرت ئے وکړو او هغوی ئے پریخودل، نو الله پرے امتحان راوستو چه مهی وخوړو۔

او کله چه مهی ښوے تیر کړو، او د غم او خفگان د وجے نه د هغهٔ زړهٔ ډك شو، د مهی په خیټه کښ هغهٔ خپل رب ته آواز وکړو او وے وئیل : ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ﴾ (زما ربه! تا نه سویٰ بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، تهٔ د هر عیب او نقصان نه پاك ئے، او بیشکه زهٔ په خپل ځان باندے د ظلم کونکو نه ووم)۔

نو الله تعالیٰ د هغهٔ توبه قبوله کړه او په هغهٔ باندے د رحم کولو دپاره ئے مهی ته حکم وکړو چه هغه د سمندر غاړے ته واچوی، دے وجے نه مهی داسے وکړل، په داسے حال کښ

چه هغه د خپل رب مقبول او ستائیلے شوے بنده وو۔

مَكْظُوْمٌ: د کظم نه دے بندولو ته وئیلے شی، لکه ﴿ اَلْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ ﴾ بیا مکظوم نه مراد دلته مَحْبُوْس دے یعنی بند شوے په خیټه د مهی کښ۔

یا د غم نه داسے ډك چه د خوشحالئ لارے ئے بندے شی۔ او غم ئے یو پدے وجه وو چه د الله د اجازت نه بغیر وتلے وو، او بل په ډیر تنگ ځای کښ وو۔

لَوْلَآ اَنْ تَدٰرَكَهٗ : که چرے د الله رحمت د هغهٔ شاملِ حال نهٔ وے، او الله د هغهٔ توبه قبوله کړے نهٔ وے، نو مهی به هغه په کوم وران ځائے باندے ارتولے وے، په داسے حال کښ چه هغه به د خپلے غلطئ له وجے د ملامتیا وړ او بد حالے وے۔

نِعْمَةٌ: نکره دپاره د عظمت ده، یعنی لوی نعمت۔

بِالْعَرَآءِ: عراء یو شاړ میدان او ډاگے ته وائی۔

مَذْمُوْمٌ: یعنی که د الله نعمت نهٔ وے نو په بد حالت کښ به غورزولے شوے وے۔

په اول کښ ئے هم (مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ) وویل او په آخر کښ ئے هم (نِعْمَة) ذکر کړو اشاره ده چه اے زما نبی! تا کښ چه دا ښکلے صفات او اخلاق پیدا شویدی نو دا به د الله تعالیٰ احسان او نعمت گڼړے۔

فَاجْتَبٰهُ: هغه ئے غوره کړو (۱) یو غوره والے د هغهٔ په حفاظت کولو سره وو۔

(۲) دویم اجتباء د مَعَالِي الامور (اُوچتو کارونو) دپاره وه چه هغه الله طرفته دعوت کول وو۔

فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ : یونس علیه السلام خو د مخکښ نه د نیکانو نه وو، نو دلته معنیٰ دا ده چه الله ورله توبه قبوله کړه، او آینده دپاره ئے د گناه نه محفوظ وساتلو، او نیکی ئے ورله نوره هم زیاته کړه، او توفیق د صبرئے ورکړو، او د هغهٔ قوم لره ئے توفیق د ایمان ورکړو، او وحی ورته دوباره شورو شوه۔

وَإِنْ يَكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ
او یقیناً نزدے دی هغه کسان چه کافران دی چه وخویوی تا لره (اُورسوی تا ته
بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُوْلُوْنَ إِنَّهٗ
مصیبت) په نظرونو خپلو سره هرکله چه واوریدو دوی قرآن او وائی دوی یقیناً دے

لَمَجْنُونٌ ﴿۵۱﴾ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿۵۲﴾
خامخا لیونے دے۔ او نۀ دے دا مګر یاداشت دے دپاره د مخلوقاتو۔

تفسیر : اُوس بیا کافرانو ته چه د رسول الله ﷺ په شان د نعمت ناشکره دی، رټنه ورکړے کیږی۔ آیت کښې دوه تفسیرونه دی (۱) اِنۡ مُخَفَّفُ مِنَ الۡمُثَقَّل دے اَیۡ وَاِنَّهٗ۔ یعنی شان دا دے چه کافران نزدے دی چه تا په خپلو سترګو سره وښیوی۔
زَلَقَ بِالۡاَبۡصَار یو نظر بازئ ته وائی۔ د قریشو کافرانو به چه کله قرآن آوریدو نو هغه به ئے نشو برداشت کولے، او ډیر بد به ئے ګنړلو، او هغه ته به ئے ډیر د دشمنئ او بغض او نفرت په نظر سره کتل، نو دوی سلا مشوره وکړه چه دۀ دپاره د عربو نظر بازان خلق راولو چه دۀ باندے نظر واچوی چه په کور کښې پروت وی، او مونږ ته هر وخت بیانونه نۀ کوی چه ترے بیغمه شو (لکه ډیر کرته داعیانو د حق باندے خلق داسے کار کوی چه څوك ئے د نظره کړی او څوك پرے جادو وکړی)
نو دے له ئے څه کسان راوستل چه هغوی به رسول الله ﷺ ته نیغ نیغ کتل دے دپاره چه هغه د نظره کړی لیکن رسول الله ﷺ ترے الله تعالیٰ محفوظ وساتلو ځکه چه هغه به شرعی اذکار لوستل، که الله تعالیٰ د هغۀ حفاظت نۀ کولے نو هغه به د هغوئ د بد نظر د وجے نه بیمار شوے وے، لیکن د الله فضل همیشه په هغۀ باندے کیدلو۔ مشرکانو به وئیلے چه محمد لیونے شوے دے، ځکه داسے ګډے وډے خبرے کوی۔
نو دا دلیل دے چه نظر لګیدل حق دی لکه چه بخاری او مسلم د ابو هریره ﷛ نه په مرفوع روایت کښې ذکر کړیدی (اَلۡعَیۡنُ حَقٌّ) سترګے لګیدل حق دی۔
(بخاری : ۵۷٤۰ ومسلم : ۵۸۳۰)
او دا یو قسم بیماری ده، د مبتدعینو کومے ډلے چه ددے نه انکار کوی د هغوی سره هیڅ دلیل نشته، او د هغوی انکار لره هیڅ اعتبار نشته۔
ابن قُتیبَہؒ په مختلف الحدیث کښې لیکلی دی چه د نظر د لګیدو وجه دا ده چه د بعض سړی په سترګو کښې الله تعالیٰ څه جراثیم کیخودلے وی، هرکله چه هغه خپلے سترګے څه ځیز ته مخامخ کړی او د هغه ځیز نه خوشحالی او تعجب ښکاره کړی، نو دا جراثیم هغه بنده یا ځیز ته اُورسیږی او هغه بنده بیمار شی یا هغه ځیز متأثره شی نو

معلومه شوه چه د نظر لګیدو عقیده لرل صرف تعبّد نهٔ دے بلکه د علم طب سره په اعتبار د اسباب محسوسه هم مناسبت لری۔

رسول الله ﷺ فرمائی : [لَوْ كَانَ شَیْءٌ سَابِقَ الْقَدَرِ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ] که یو شے د تقدیر نه مخکښ کیدلے نو نظر به ترے مخکښ شوے وے۔ (یعنی نظر هم په تقدیر او په اذن د الله تعالیٰ سره اثر کوی) او د نظر د لګیدو نه پس ددے دپاره دم طلب کول هم جائز دی لکه امام ابن ماجه په باب من استرقی من العین کښ د اسماء بنت عمیس رضی الله عنها روایت راوړیدے چه هغے د رسول الله ﷺ نه اجازت طلب کړو وے فرمایل :

(يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تَسْرَعُ اِلَيْهِمُ الْعَيْنُ أَفَأَسْتَرْقِیْ لَهُمْ ؟ قَالَ نَعَمْ)

چه د جعفر بن ابی طالب ﷛ اولادو ته نظر لګیږی آیا زهٔ ددے دپاره دم طلب کړم؟ وے فرمایل : آؤ۔ او بیائے دغه مخکښنے قول ذکر کړو (لَوْ كَانَ شَیْءٌ)۔

(سنن ابن ماجه : ۳۵۱۰) باسناد صحیح)

او د نظر نه د حفاظت دپاره په احادیثو کښ شرعی اذکار نقل دی لکه آخری درے سورتونه لوستل۔ او په صحیح مسلم کښ ذکر دی :

[بِسْمِ اللّٰهِ اَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ شَیْءٍ يُؤْذِيْكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ اَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اَللّٰهُ يَشْفِيْكَ بِاسْمِ اللّٰهِ اَرْقِيْكَ]۔ (مسلم : ۵۸۲۹)

او حسن بصریؒ وائی چه دا آیت هم د نظر د لګیدو دپاره دم دے۔

ماوردیؒ ذکر کړیدی چه په عربو کښ په بنو اسدو کښ نظربازان زیات وو۔

نو د لَيُزْلِقُوْنَكَ معنیٰ دا ده چه تا خوئے کړی په نظر بازیٔ کولو سره۔ او په کور کښ دِے ښملوی۔ او زلق اصل کښ دے ته وائی چه یو انسان ختو کښ روان وی نو ناڅاپه راپرے وځی۔

(۲) دویم تفسیر : زیاته ظاهره دا ده چه زلق بالابصار معنیٰ دا ده چه تهٔ چه کله قرآن تلاوت کوے نو کافران تا ته تیز او نیغ ګوری۔

[اَیْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرًا شَدِيْدًا بِالْعَدَاوَةِ وَالْبُغْضَاءِ يَكَادُ يُسْقِطُكَ]

یعنی په سخت بد نظر درته ګوری او دا غواړی چه تا د هغه ځای نه خوئے کړی کوم ځای چه الله تعالیٰ تهٔ د حق بیان ته ودرولے ئے، نو دوی نهٔ غواړی چه تهٔ دوی ته د الله دا کتاب بیان کړے کوم کښ چه د دوی دپاره ذکر (یاداشت) او عبرت پروت دے بلکه د سختے

دشمنۍ او بغض او نفرت د وجه نه تا ته لیونے وائي۔

نـو پدے آیت کښې الله تعالیٰ د مشرکانو د قرآن او د رسول الله ﷺ سره سخته دشمني او د هغـوی د خبرو او د عمل ترمینځ تعارض او تناقض ذکر کړیدے، چه هغه نبي چه دوی تـه ذکـر (د عبـرت) او عـقـل نـه ډکے خبرے بیانوی لیکن دوی هغۀ ته د بے عقلو او لیونو نسبت کـوی۔ حـقـائق په دوی باندے پټ شویدی او دماغ ئے اوړیدلی دی، ورځ ورته شپه ښکاره کیږی۔ او سپین ورته تور۔ او دا تفسیر ابن قتیبهٔ غوره کړیدے۔

او دا تـفسیـر خـکه غوره دے چه دلته الله تعالیٰ (لَـمَّا سَمِعُوا الذِّکْرَ) لفظ وئیلے دے، او د دوی نظر بازی خو یو اځے د بیان د رسول الله ﷺ په وخت نۀ وه، هغه خو بل وخت کښې هم کیـدے شـوه، او دلتـه وائـي چـه کـلـه دوی قـرآن آوری نـو دوی تـا تـه بد بد ګوری۔ نو مـعـلـومیږی چـه دلتـه بـد کتل مراد دی اګرکه نظر بازی به هم پکښې داخلیږی۔ یعني دوی قرآن نشي برداشت کولے۔

وَمَـا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِيْنَ: الله تـعـالیٰ په کافرانو رد کوی چه محمد (ﷺ) هیڅکله لیـونے نـۀ دے بـلـکه هغه خو د الله نبي او رسول دے، هغه الله دے له رالیږلے دے چه هغه تمامو انسانانو او پیریانو ته د الله آخری پیغام اورسوی۔

او د لیـونـو کـلام خـو داسے هیڅکله نشي کیدے چه د ټول عالَم دپاره مفید وی۔ کلام کـښې چـه کـلـه کمال او جزالت وی او هر چا ته ئے فائده رسیږی، نو هغه د لیونو خبرے نۀ وی بلکه هغه د ډیرو غټو عقلاؤ وی بلکه هغه خو د الله تعالیٰ کلام دے چه د مخلوقاتو رب دے، یو نبي هم داسے کتاب نشي جوړولے۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورة القلم

۱- الله تعالیٰ قرآن کریم ته ترغیب ورکړو۔

۲- د رسول الله ﷺ صفات او کمالات او خلق عظیم او شرافت ئے بیان کړو۔

۳- د رسول الله ﷺ د مخالفینو کافرانو ډیر بد صفات ئے بیان کړل۔

٤- د اصحاب الجنة (باغ والو) واقعه پدے سورت کښې ده۔

ختم شو تفسیر د سورة القلم په رحم د رب العالمین په (٦) رمضان ١٤٣٧ هـ موافق (١١/٦/٢٠١٦)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

آیاتها (٥٢)	(٦٩) سُوۡرَةُ الۡحَاقَّةِ مَکِّیَّةٌ	رکوعاتها (٢)

سورة الحاقه مکی دے، په دے کښې دوه پنځوس آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة الحاقه

نوم : دے سورت ته سورة الحاقه وائی، او دا د قیامت د نومونو یو نوم دے۔ د قیامت هیبت ته په کښې اشاره ده۔ بعضو ددے نوم [اَلسِّلۡسِلَة] او [الدَّاعِیَة] هم ذکر کړیدے۔

د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکلی دی چه د ټولو په نیز دا سورت مکی دے۔ ابن مردویهؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس ﷺ نه همدا نقل کړی دی۔

مناسبت

١- مخکښې د رسول الله ﷺ شان بیان شو، نو دلته فرمائی چه دے شاعر، ساحر او کاهن نهٔ دے، که بالفرض دے دغه وے او په ما باندے ئے دروغ جوړ کړی وے، نو ما ستاسو نه مخکښې وژلو۔ نو دلته د رسول الله ﷺ صدق (رشتینوالے) بیانیږی۔

٢- مخکښې د رسول الله ﷺ شان او صدق ذکر شو نو دلته د هغهٔ منکرینو ته تخویف دنیوی او اُخروی ذکر کوی۔

٣- مخکښې سورت کښې درے اصول ذکر شول توحید، رسالت او قرآن۔ نو دلته څلورم اصل ذکر کوی چه هغه اثبات د قیامت دے۔

٤- مخکښې سورت کښې د تخویف یوه نمونه (واقعه د باغ والو) ذکر شوه، نو دلته د تخویف دنیوی پنځه نمونے ذکر کوی۔

د سورت مقصد

۱ – اَلتَّخْوِیْفُ بِیَوْمِ الْقِیَامَة ـ الله تعالیٰ د قیامت په راتللو سره خلقو ته یره ورکوی۔ او دا یره په څلورو طریقو سره ورکړې شویده

(۱) یو بِذِکْرِ اسْمِهَا۔

د قیامت په نومونو سره چه الحاقه، القارعه، الواقعه دی۔

(۲) دویم بِذِکْرِ عَذَابِ مُکَذِّبِیْهَا ـ څوك چه قیامت نهٔ منی الله تعالیٰ هغوی ته په دنیا کښې عذابونه ورکړیدی۔ دا تر دولس آیت پورې راځی۔

(۳) دریم : بِذِکْرِ اَهْوَالِ یَوْمِ الْقِیَامَةِ ـ د قیامت د ورځې یرې او هیبتونه چه آسمان ماتیدل او زمکه شلیدل او غرونه روانیدل وغیره۔

(٤) بِذِکْرِ جَزَاءِ الْاَعْمَال ـ د عملونو په جزاء او سزا ذکر کولو سره۔ او همدا مقصودی ټکے دے۔ چه تاسو چه دنیا کښې کوم عملونه کړیدی نو اُوس راشئ ددے جزاء او سزا وګورئ۔ نو تر (۲٤) آیت پورې د نیك عمله انسان حال، او بیا د بد عمله (یعنی کافر او مشرك) انسان ناکاره حال۔

اوله رکوع ئے د آخرت په باره کښې ده، او دویمه رکوع ئے د رسول ﷺ او د قرآن کریم د حقانیت په باره کښې ده۔

او دے سورت کښې هم د سورة الواقعه په شان کار شویدے چه قرآن او قیامت ئے جمع کړیدی، او په سورة القیامة او سورة المدثر او سورة التکویر کښې به بیا جمع کیږی۔ ګویا که اول بندګان ویروی بیا ورته وائی چه قرآن حق کتاب دے دا اُومنئ چه د دغه هیبتونو نه محفوظ شئ۔ او دارنګه برعکس، روستو ئے قرآن بیان کړو چه دا مخکښې چه کومے خبرے د آخرت ذکر شوے دا حقے دی۔

په آخره جمله کښې به ترغیب ذکر کړی چه ددے خبرو نه متقیان فائده اخلی۔

او په توحید باندے ئے ختموی۔ نو ګویا که سورت کښې دوه خبرے شوے د آخرت یره او د قرآن کریم او د نبی ﷺ رشتینوالے۔

اَلْحَاقَّةُ ﴿۱﴾ مَا الْحَاقَّةُ ﴿۲﴾ وَمَا اَدْرَاكَ مَا
ثابتيدونكے ورځ، څه ده ثابتيدونكے ورځ۔ او څه پوهه كړے ئے ته چه څه ده
الْحَاقَّةُ ﴿۳﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ ﴿٤﴾
ثابتيدونكے ورځ۔ تكذيب كړے وو ثموديانو او عاديانو په هغه ورځ چه كړنگونكے ده
فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾
(زړونو لره)۔ پس هر چه ثموديان دى نو هلاك كړے شول په سخته چغه۔

تفسير : په اول آيت كښې د قيامت اثبات دے په صفت د الحاقه سره درے كرته نو اشاره ده زيات هيبت د هغے ته۔ د [اَلْحَاقَّةُ] نه مراد د قيامت ورځ ده، د حق نه ماخوذ دے ثبوت ته وئيلے شى، حاقه ورته د ډيرو وجو نه وائى :

(۱) لِتَحَقُّقِهَا۔ ځكه چه دا يقينى ثابتيدونكے ورځ ده۔

(۲) لِاِبْدَاءِ حَقَائِقِ الْاُمُوْرِ فِيْهَا۔ په دغه ورځ به د كارونو حقيقتونه راښكاره شى۔ ټول رازونه به پكښې راښكاره شى۔ يا تمام غيبى خبرونه به په دغه ورځ ثابت او واقع شى لكه بعث، حشر، حساب كتاب، ميزان او صراط وغيره۔

(۳) لِاَنَّهَا اَحَقَّتْ لِكُلِّ اَحَدٍ جَزَاءَ عَمَلِهٖ۔ ځكه چه دے ورځے هر چا دپاره جزاء د عمل ثابته كړيده۔ چا لره جنت او چا لره جهنم۔

مَا الْحَاقَّةُ: پدے تپوس كښې تهويل (يره ول) او تعظيم مقصد دے۔ يعنى حاقه څه شے دے۔ يعنى حاقه كومه لويه ورځ ده۔ دا خو ډيره لويه ورځ ده چه د هغے په باره كښې تپوس كيږى۔

تركيب : الحاقة مبتداء او مَا په معنىٰ د اَىُّ شَىْءٍ سره مبتداء ثانى او اَلْحَاقَةُ ئے خبر دے، مبتداء ثانى سره د خبر نه خبر شو دپاره د اولے مبتداء۔

وَمَا اَدْرَاكَ: مفسرينو ليكلى دى چه عرب كله د مخاطب په زړهٔ كښې د يوے ضرورى خبرے شوق پيدا كول غواړى، نو اول هغه په مجمل توگه ذكر كوى، بيا د هغے تفصيل بيانوى، دے دپاره چه اول د هغهٔ په ذهن كښې دا خبره كينى چه د كوم څيز چه ذكر كيږى هغه يو قابلِ اهتمام شے دے، بيا د هغے تفصيلى ذكر اوكړے شى دے دپاره چه د هغے

تصور د هغهٔ په زړهٔ او دماغو کښې په ښې طریقې سره کینی۔ دلته هم د قیامت ذکر اول په اجمالي توګه او بیا په تفصیلي توګه د همدې مقصد دپاره راغلې دې۔

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ: دلته هم ما استفهامیه ده، او دویم ځل تپوس کول کنایه ده ددې نه چه خلقو لره په خپل علم کښې د حاقې حقیقت راګیرول متعذر (مشکل) دی ځکه چه کوم یو شے د مالوف حد نه بهر شوے وی، هغه په آسانتیا سره ذهن ته نهٔ راځی، نو د هغې د پوهې په باره کښې تپوسونه کوی، نو استفهام او تعظیم د یو بل سره لازم وی۔ (التحریر)

د مَا الْحَاقَّةُ: معنیٰ ده : اَیْ لَا تَبْلُغُهُ الْاَفْكَارُ۔ یعنی حاقه څه شے دے، دا خو یو داسے شے دے چه دے ته فکرونه نهٔ وررسیږی۔ ددے حاصل دا وی چه که زهٔ تا ته بیان هم وکړم چه قیامت داسے داسے دے، نو بیا هم ستا په زړهٔ کښې د هغې هیبت پوره رانشي (لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ) خبر د لیدو په شان نهٔ وی، تا چه ترڅو پورے پخپله دغه ورځ نهٔ وی لیدلې، نو تهٔ د هغې هیبت او حقیقت باندے نهٔ پو هیږے۔

نو پدے کښې ترغیب دے چه د آخرت ورځ ډیره هیبتی ده، ددے نه یره وکړئ، د الله تعالیٰ د حساب نه ویریږئ۔

وَمَا أَدْرَاكَ: یحیی بن سلامؒ او سفیان بن عیینهٌ نه روایت دے چه کوم ځای په قرآن کښې وَمَا أَدْرَاكَ ذکر دے، نو وروسته د هغې علم ورکړے شوے وی، او کوم ځای چه (وَمَا يُدْرِيكَ) ذکر دے نو د هغې علم ئے نهٔ دے ورکړے۔

كَذَّبَتْ ثَمُودُ: د قیامت د اثبات نه روستو اُوس د تخویف دنیوی نمونے ذکر کوی۔

د قیامت ورځ ولے حقه ده ؟ نو د هغې دلیل او وجه بیانوی چه د قیامت دروغجن ګڼرونکو ته الله تعالیٰ په دنیا کښې عذاب ورکړیدے، که قیامت حق نهٔ وے نو مکذبینو ته به الله تعالیٰ عذاب نهٔ ورکولے لکه دا استدلال په سورة هود (۱۰۳) آیت کښې ذکر شوے ﴿ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَآيَةً لِمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ﴾

د قریشو د کافرانو غوندے ثمودیانو او عادیانو هم د قیامت ورځ دروغژنه ګڼړلې وه، نو د قوم ثمود خلق د یوے سختے چغې په ذریعه هلاك کړے شول۔ دا قوم د شام او حجاز ترمینځه په (حِجر) نومے علاقه کښې آباد وو، چه دا نن صبا د مدائنِ صالح په نوم پیژندلې شی، چه دا د سعودی عرب د (الْعُلا) ښار نه صرف څو میله فاصلې باندے دے۔

بِالْقَارِعَةِ: ((القارعة)) هم د قیامت نوم دے، ځکه چه دا به د خپلو خطرو په ذریعه خلق اُوشاربی او د دوئ په زړونو باندے به لړزه راخوره کړی، او زړونه به ورله وټکوی۔
د بعض مفسرینو (مبرّد) خیال دے چه ددے نه مراد قرآن کریم دے، ځکه چه نبی کریم ﷺ د قرآن په آیتونو لوستلو سره خلق یرول، او دوئ به ئے د غفلت د خوب نه را ویښول۔
او بعض وائی چه دا د قُرعے نه دے۔ خځنړی او قرعه اندازی کولو ته وئیلے شی۔ نو دا ورځ هم قرعه کونکے ده، چه پدے سره به بعض خلق پورته کوی، او بعض به ښکته کوی۔ (فتح البیان) لیکن اولنئ معنیٰ غوره ده۔
بِالطَّاغِیَةِ: دے نه مراد هغه تیزه صیحه (چغه) ده چه د حد نه بهر شوے وه۔ چه هغه د جبریل علیه السلام چغه وه۔ ❁ بعض وائی :ددے نه زلزله مراد ده۔
❁ بعض وائی : باء سببیه ده او طاغیه نه مراد طغیان دے۔ یعنی دوی د خپلے سرکشئ په وجه هلاك شول۔ ❁یا طاغیه هغه شخص وو چه هغه اُوښه هلاکه کړے وه، او ټول قوم په هغه راضی وو نو دغه قوم ددهٔ په وجه هلاك شول۔
لیکن اول مطلب غوره دے۔
دلته ثمودیان مخکښ ذکر شول اګرکه زمانه ئے د عادیانو نه روستو وه ځکه چه د دوی علاقے او کورونه قریشو ته نزدے وو، او د نزدے نه عبرت زر اخستے کیږی۔
او بله دا چه د دوی هلاکت په صیحه سره وو او هغه د نفخ فی الصور سره زیات مشابه دے۔ نو ګویا که دا هم د قیامت تصویر وو۔ (فتح البیان)

وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾
او هرچه عادیان وو نو هلاك کړے شول په هوا تیزه سره چه د حد نه تیریدونکے وه۔
سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا
وے چلوله (روانه ئے کړه) په دوی باندے اُووه شپے او اته ورځے سپیرے (پرله پسے)
فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ
نو لیدل تا دغه قوم لره په هغے کښ پرمخے پراتهٔ، ګویا که دا تنے د کجوری دی

خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرٰى لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾
راپریوتونکی(راغورزیدلی)۔ نو آیا وینے تۀ دوی لره یو نفس باقی پاتے کیدونکے۔

تفسیر: او قومِ عاد د یو سختے یخے او تیزے تُندے هواء په ذریعه هلاك کړے شول، دا خلق په (أحقاف) کښې آباد وو چه دا د عُمان او حضرموت (یمن) ترمینځه شګلنه علاقه ده۔

صَرْصَرٍ: دا د صِرٌّ نه دے، برد (یخنئ او ګلیء) ته وائی،

۱- یعنی شَدِیْدَةُ الْبَرْدِ۔ سخته یخه وه۔

۲- شَدِیْدَةُ الصَّوْتِ۔ سخت آواز والا وه۔

۳- شَدِیْدَةُ السَّمُوْمِ۔ په سختئ سره په مساماتو (رګونو) کښې ننوتونکې وه۔ (مجاهدؒ)

عَاتِيَةٍ: (۱) عتو د حد نه تجاوز ته وئیلے شی۔ یعنی د حد نه زیاته وه په الوتلو کښې۔

(۲) یا د عادیانو د طاقت نه ورتیره وه چه هغوی ترینه په هیڅ شان سره نشو بچ کیدے۔

(۳) یا عَتَتْ عَلٰی خُزَّانِهَا۔ د ملائکو د قابو نه ورتیره شوے وه کوم چه په هواګانو باندے مقرر دی۔

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: هیڅ هواء یا اُوبۀ الله نۀ دی رالیږلی مګر په اندازه سره مګر په ورځ د عادیانو او په ورځ د قوم نوح، د نوح علیه السلام د طوفان د خپلو خزانه کونکو ملائکو د قابو نه تیروتے وو، نو د هغوی په هغے باندے هیڅ طاقت د راواپس کولو نۀ وو۔ بیا ئے ولوستل (اِنَّا لَمَّا طَغَی الْمَاءُ) الحاقه: ۱۱)

او هرچه د عادیانو ورځ وه نو هواء د خپلو خزانه کونکو ملائکو نه بے قابو شوه نو د هغوی پرے هیڅ چاره نۀ وه بیا ئے ولوستل (بِرِیْحٍ صَرْصَرٍ عَاتِیَةٍ)۔

۲- د ابن عباس رضی الله عنه نه یو روایت دا دے چه عَاتِیَةٍ اَیْ غَالِبَةٍ۔ یعنی غالبه وه۔

روایاتو نه معلومیږی چه په عادیانو باندے عذاب نازلونکی ملائك ته حکم وشو چه د یوے ګوتمے په اندازه هواء راخوشے کړی مګر هغے هواء دومره تیروتنه وکړه چه د دروازو د اړخونو نه هغه ووتله۔ (فتح البیان، ابن ابی حاتمؒ)

سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ: اَیْ سَلَّطَهَا/ وَاَرْسَلَهَا۔

یعنی الله مقرر کړې وه او دې ئې رالیږلې وه. یعنی الله تعالیٰ دا سیلئ په دوئ باندې اووهٔ شپې او اتهٔ ورځو پورې تابع کړې وه، چه هغه مسلسله چلیدله، او دوئ ئې د بیخ او بنیاد نه ختمول.

چنانچه د دوئ د لاشونو داسې ډهیرې اولګیدهٔ لکه د کهجورو ډډې وُنې چه د ویخ نه اوخکلې شي او په زمکه باندې غورزیدلې پرتې وی. لکه د سورهٔ القمر په (۲۰) آیت کښې راغلی دی: ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴾ (ګویا که دوئ د ویخ نه د پریکړې شوو کهجورو تنې دی).

سَبْعَ لَيَالٍ: بقاعیؒ وئیلی دی چه دا هواء د چارشنبې (بدھ) ورځې د سهار نه شروع وه تر بلې چارشنبې مازیګر پورې روانه وه، او دا د شوال د میاشتې آخری اته ورځې وې.

ابن جریرؒ وئیلی دی چه دوی اُوه شپې او اَته ورځې د هواء په عذاب کښې ژوندی وو خو کله چه د اتمې ورځې مازیګر شو نو ټول مړهٔ شول او هواء پورته کړل او دریاب ته ئې ګوزار کړل.

حُسُوماً : پدې کښې ډیر اقوال دی، پرلہ پسې/، د ویخ نه ویستونکې/ پریکونکې، همیشه/ سپیرې او بې خیره وې د دوی په باره کښې.

او دا منصوب دې په حالیت باندې یا مفعول مطلق دې د فعل محذوف دپاره، یا مفعول لهٔ دې.

صَرْعَى: جمع د صَرِيْعْ ده، په زمکه باندې پرمخې غورزولې شوی، یعنی مړهٔ پراتهٔ وو.

أَعْجَازُ: د جمع د عَجُز ده، د تنې لاندینئ حصې ته وئیلې شي. یعنی دوی په غټ والی کښې د کجورو د موندانو په شان وو.

خَاوِيَةٍ : خالی/ ذَدِ. چه مینځ ئې وینو او چینجو خوړلې وی.

❁ یا سَاقِطَةٌ (پریوتلې په زمکه باندې). ❁ یا بَالِيَةٌ. زاړهٔ.

یحییٰ بن سلامؒ وائی : په (خَاوِيَة) کلمه کښې اشاره ده چه د دوئ بدنونه د دوئ د روحونو نه داسې خالی وو څنګه چه د کهجورې ډډې وُنې وی.

فَهَلْ تَرَى لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ : اَیْ نَفْسٌ بَاقِيَةٌ. یعنی یو نفس پاتې کیدونکې.

یعنی دغه شان الله تعالیٰ همیشه لپاره دا قوم ختم کړو، او د دوئ یو کس هم باقی پاتې نشو. دنیا نه د دوئ نسل ختم شو.

وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ
او راغلے وو فرعون او هغه خوك چه مخكښ وو دهٔ نه او هغه كلی چه اُلټه كړے
بِالْخَاطِئَةِ ﴿٩﴾ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ
شویدی په غټه گناه سره۔ نو نافرمانی اُوكړه دوی د رسول د رب خپل نه
فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ إِنَّا لَمَّا
نو رانیول هغه دوی لره په رانیولو اُوچتو سره، (سختو سره)۔ یقیناً مونږ هركله چه
طَغَى الْمَآءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ ﴿١١﴾
د حد نه تیرے شوے اُوبهٔ (نو) سوارهٔ كړیٔ تاسو مونږ په كشتیٔ كښ۔ دے دپاره چه
لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِيَهَا أُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿١٢﴾
وګرځوو مونږ كشتیٔ تاسو لره نصیحت، او یاد كړی دے لره غوږونه یادونكی۔

تفسیر: وَجَآءَ فِرْعَوْنُ: د عادیانو اوثمودیانو غونته په دے سرزمین باندے بل سركشه قوم هم تیر شوے دے۔ د مِصر په ملك كښ فرعون پیدا شو۔ چه دهٔ د هدایت لپاره الله تعالیٰ موسیٰ بن عمران علیه السلام په ډیرو معجزاتو سره را اولیږهٔ، لیكن هغهٔ د كفر لاره اختیار كړه، او د مصر د فرعون نه مخكښ هم داسے قومونه موندلے شوی وو چه هغویٔ د خپلے زمانے رسولان دروغژن اوګڼړل۔

او د قومِ لوط كلی اوموندلے شول چه د هغویٔ اوسیدونكو ګناهونه كړی وو نو الله پرے كلی الټه كړل۔ دے تمامو كافرو قومونو د خپل رب رسولان دروغژن وګڼړل، نو الله تعالیٰ دویٔ سخت را اونیول۔

بِالْخَاطِئَةِ: ددے موصوف پټ دے، اَیْ بِالْاَفْعَالِ الْخَاطِئَةِ۔ یعنی د ګناه كارونه۔ یا مفرد نه مراد جنس دے، یعنی ډیر ګناهونه د كفر او د شرك او د مخالفت د رسول او د انكار د آخرت او د نارینه استعمالول او نور خبائث۔

رَسُوْلَ: دا جنس دے مراد ترے ډیر رسولان دی۔ اشاره ده چه دغه خلقو په تكذیب او په ګناهونو كولو كښ صرف د عقل خلاف نهٔ وو كړے بلكه د نقل او د وحی نه هم

عاصیان وو۔

رسول لفظ ځکه راوړی چه دے سورت کښې روستو د رسول د صدق موضوع ده۔ نو اشاره ده چه ددے رسول (محمد رسول الله ﷺ) مخالفت سبب د هلاکت دے۔

رَّابِيَةً: اَیْ زَائِدًا عَلٰی عَذَابِ الْاُمَمِ۔ یعنی زیات عذاب د دوی په نورو عذابونو باندے ځکه چه د دوی جرمونه هم د نورو نه زیات وو۔

❁ یا رابیة په معنیٰ د سختو رانیولو سره۔ (مجاهدؒ)۔

إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاء : پنځمه نمونه د عذاب ذکر کیږی، په دے کافرو او سرکشه خلقو کښې د قومِ نوح خلق هم وو، چه الله تعالیٰ هغوئ په سمندر کښې ډوب کړل۔ کله چه د طوفان اوبۀ هر اړخ نه راخورے شوے، او په ښکته او پورته زمکه کښې فرق پاتے نشو، نو الله تعالیٰ نوح ته حکم وکړو چه هغه او د هغۀ مسلمانان ملګری په کشتئ کښې سوارۀ شی۔ چنانچه په کشتئ کښې د سورو خلقو نه سویٰ ټول هلاك شول، او کشتئ د باقی پاتے خلقو لپاره د عبرت او نصیحت سبب جوړه شوه چه الله تعالیٰ څنګه د خپلو رسولانو مدد کوی، او خپل دشمنان تباه کوی۔

دارنګه دا واقعه د هر عقل او هوش والا په زړۀ او دماغو کښې همیشه لپاره ثبت شوه، او دوئ ته معلومه شوه چه الله نه د سرکشی کونکی قوم انجام څنګه وی۔

طَغَى الْمَآءُ: یعنی د حد د عامو اوبو نه ورتیرے شوے۔

یا د ملائکو د قابو نه ورتیرے شوے تردے پورے چه غرونه پکښې پټ شول۔

لِنَجْعَلَهَا: ضمیر کشتئ ته راجع دے په اعتبار د امثالو د هغے کشتئ سره۔

یا دغه واقعے ته راجع دے، یعنی غرق کول د منکرینو او نجات د مؤمنانو۔

تَذْكِرَةً : یعنی په روستنو کشتیو لیدو سره د نوح علیه السلام کشتئ یادیږی۔ او عبرت حاصلیږی۔ نو دا د الله تعالیٰ د عظیم قدرت دلیل دے۔

وَتَعِيَهَا أُذُنٌ وَاعِيَةٌ: او ددے دپاره چه یاده کړی دے کشتئ یا دے واقعے لره هغه غوږونه چه یادونکی دی۔

أُذُنٌ وَاعِيَةٌ: ١ – اَیِ الْاُذُنُ الْمُعْتَبِرَةُ۔ یعنی هغه غوږونه چه عبرت اخستونکی وی۔

بعض غوږونه خبرے آوری لیکن یادوی ئے نهٔ۔

٢– هغه غوږونه چه خبره آوری او په هغے ځان پوهه کوی، او محفوظ ئے ساتی، او

عمل وربانديے کوی۔
تَعِيَهَا د وَعْیٌ نه دیے، او وعی په نفس کښې د یو شي حفظ او یادولو ته وئیلے شي۔ او اِیْعَاءُ یو شے په لوخی کښې محفوظ کول دی۔

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ
نو کله چه پوکے اُوکړیے شي په شپیلئ کښې پوکے یو۔ او پورته کړیے شي زمکه
وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿۱٤﴾
او غرونه نو اُوبه ټکولے شي په ټکولو په یو ځل۔ (نو اُوبه جنګولے شي په جنګیدو
فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱٥﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِيَ
یو) نو په دغه ورځ به واقع شي واقع کیدونکے آفت۔ او وبه چوی آسمان نو هغه به
يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ﴿۱٦﴾ وَالْمَلَكُ عَلٰى أَرْجَائِهَا وَيَحْمِلُ
په دغه ورځ کمزورے وی۔ او ملائك به په طرفونو د آسمان باندیے وی، او پورته
عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ ﴿۱۷﴾ يَوْمَئِذٍ
کوی به عرش د رب ستا پورته د دوی نه په دغه ورځ اته ملائك۔ په دغه ورځ به
تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿۱۸﴾
پیش کړیے شئ تاسو (الله ته)، نهٔ به شي پټیدیے ستاسو نه یو نفس پټیدونکے۔

تفسیر: ربط:
مخکښې عظمتِ شان د قیامت وو په هلاکولو د مکذبینو د قیامت، یعنی دا مکذبین الله تعالیٰ هلاك کړل نو راشئ اُوس د قیامت ابتدائی حالت او کیفیت بیانیږی۔
یعنی اسرافیل علیه السلام به دویمه شپیلئ اُووهی، چه د هغے د وجے نه به تمام روحونه په خپلو جسمونو کښې داخل شي،
او ټول خلق به د رب العالمین مخے ته حاضرئ دپاره اُودرولے شي، او زمکه او غرونه به پورته اوچت کړیے شي، او یو بل سره به داسے ټکراؤ شي چه په یو دَم کښې به ټوله دنیا

تباه او برباده شي، او ټوله زمکه به یو خالي میدان جوړ شي، او قیامت به واقع شي۔

نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ : دا دویمه شپیلۍ ده ځکه چه په اولې شپیلۍ سره ټول ژوندي مخلوق مړ شویدي۔ او یوه شپیلۍ به وهي، دویمې ته ضرورت نشته د وجه د ډیر قوت د هغې نه۔

وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ : یعني د شپیلۍ په زور سره به زمکه او غرونه پورته کړے شي۔ یا به ئې ملائك پورته کړي۔ اول قول غوره دے۔

فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً : دكة ماتولو او ټکولو او جنګیدو ته وئیلے شي۔ او دارنګه هموارېدو ته هم وائي۔ یعني اول به وټکولے شي او مات به شي نو (كَثِيبًا مَّهِيلًا) به شي، یعني بهېدونکي شړے به شي، بیا به د یو بل سره هموار کړے شي نو ټول به یو میدان ښکاري۔

وَانشَقَّتِ السَّمَاءُ : او آسمان به اوشلیږي، ددے رنګ به بدل شي، او انتهائي کمزورے او سست به شي۔

وَانشَقَّتْ : ماضي په معنیٰ د مضارع ده، د وجه د تحقق او تیقن نه ئې ماضي راوړه۔

وَاهِيَةٌ : وَهْي سخت ضعف او کمزورتیا ته وئیلے شي۔ (زجاجؒ)

وَالْمَلَكُ عَلَىٰ أَرْجَائِهَا: یعني ملائك به د آسمان کنارو ته پناه یوسي۔

د ضحاكؒ وینا ده چه د قیامت په ورځ چه کله آسمان اوشلیږي، نو ملائك به ددے په کنارو باندے پناه نیونکي شي، تردے چه الله تعالیٰ به دوئ ته په زمکه باندے د راکوزیدو حکم اوکړي، نو هغوئ به زمکه او په دے کښې اوسیدونکي په خپله ګیره کښې واخلي۔

داسے ښکاره کیږي چه د آسمان مینځ به وشلیږي او غاړے به ئې باقي وي چه په هغې باندے به ملائك وي۔ او کیفیت ئې الله تعالیٰ ته معلوم دے۔

اول به عرش ته نزدے آسمان وشلیږي، د هغې ملائك به لاندے راکوز شي، بیا به دویم آسمان وچوي د هغې ملائك به لاندے دریم ته راکوز شي، بیا به دریم وشلیږي نو څلورم ته به راکوز شي تردے چه د آخري آسمان غاړو ته به راشي۔

او عرش به پاتے وي نو اته ملائکو به هغه په خپلو سرونو پورته کړے وي، اُوس څلورو ملائکو پورته کړیدے۔ کما قال ابن عباس رضي الله عنه۔

او دا به ئې څنګه پورته کړے وي؟ او اته ملائك ولے مقرر شول؟ ددے کیفیت او حکمة

باندے صرف الله تعالیٰ پوهه دے۔
الله تعالیٰ عرش ته ضرورت نهٔ لری، دا هم د الله په قدرت تینګ دے، لیکن الله تعالیٰ د حساب دپاره یو ځای مقرر کړیدے، او د الله د عظمت ښکاره کیدو مقام دے۔
فَوْقَهُمْ: دا دلیل دے چه د الله تعالیٰ عرش پورته دے۔
ثَمَانِيَةٌ: یعنی اته ملائك. او دا په عامو ملائکو کښې غوره او اشرف ملائك دی، ځکه چه الله تعالیٰ ته نزدے دی۔ (فتح البیان والقشیری)
او د ابن عباس رضی الله عنه نه په یو موقوف روایت کښې دی چه بے شماره ملائك به په اتو صفونو کښې تقسیم شوی وی، او عرش به ئے په خپلو سرونو پورته کړے وی۔
(فتح البیان)
او ددے ملائکو صفات او شکلونه او د هغوی لوی بدنونه په روایاتو کښې او په کلام د سلفو کښې ذکر شویدی چه د هغے نه کوم په صحیح روایاتو کښې ذکر وی هغه به مقبول وی۔ او دے کښې توقف بهتر دے۔
حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی چه د (عرش) نه مراد خو یا (عرشِ عظیم) دے، یا بل یو عرش دے چه هغه به د قیامت په ورځ د فیصلے دپاره په زمکه باندے کیښودلے شی۔ والله اعلم۔ د آخرت امور د متشابهاتو نه دی، انسان ئے پوره مُکَیَّف کولے نشی۔
د قیامت تصویر مخکښې مونږ لیکلے وو چه ددے شکل به داسے وی چه کله د زمکے نه هموار میدان جوړ کړے شی، نو انسانان به د حشر میدان ته راجمع کړے شی، پدے کښې به ملائك راکوز شی، او د دوی نه به ګیره واچوی،
لکه پولیس چه د مجرمانو نه ګیره اچوی، د یو آسمان نه او د بل نه تر د اُوه آسمانونو ملائك به اُوه صفونه شی او ګیره به واچوی او الله به بره مخامخ راشی، او دلته به جهنم هم ملائکو راوستے وی، نو الله بره، او شا ته ملائك او مخامخ اُور د جهنم او مینځ کښې انسانان او پیریان به وی چه خوا ته به ورسره ګیر چا پیره حیوانات هم ولاړ وی۔
يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ: اُوس د اعمالو حساب به شروع کیږی چه دا مقصودی شے دے۔
الله تعالیٰ پیریان اوانسانان مخاطب کړی دی فرمائی چه د قیامت په ورځ به تاسو ټول د خپل رب مخے ته د حساب او جزاء او سزا دپاره پیش کړے شئ،
او دا حساب او پیشی به هم زر نهٔ وی بلکه پنځوس زره کاله انتظار به وی، او دا پیشی

به په دے وجه نهٔ وی چه ګنے الله ستاسو هغه عملونه اوپیژنی چه هغه هغهٔ ته نهٔ دی معلوم، بلکه ددے نه مقصد به تاسو آزمائل او ستاسو زجر او رټنه وی۔ دے وجے نه الله تعالیٰ اوفرمایل :

﴿لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ﴾ (تاسو به د خپل رب مخے ته پیش کړے شئ، په داسے حال کښې چه ستاسو د عملونو نه به هیڅ یو عمل د هغهٔ نه پټ نهٔ وی)۔

خَافِيَةٌ: یعنی پټیدونکے نفس، یا خَصْلَةٌ خَافِيَةٌ ۔ یعنی هیڅ عمل د انسانانو به نشی پټیدے۔

فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ
پس هر چه هغه څوك دے چه ورکړے شی هغهٔ ته عملنامه د هغهٔ په ښی لاس سره
فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ﴿١٩﴾ إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلَاقٍ
نو وائی به راشئ اُولولئ عملنامه ځما۔ یقیناً ما ګمان کولو چه زهٔ به ملاویدونکے
حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾
یم د حساب خپل سره۔ نو دے به په ژوند خوشحاله کښې وی۔ په جنت اُوچت کښې۔
قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا
غونچکونه د هغے به نزدے وی۔ (ورته وئیلے به شی) خورئ او څکئ په خوشحالئ سره
بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾
په سبب د هغے عملونو چه تاسو مخکښې کړی ووپه ورځو تیرو شوو کښې۔
وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ
او هرچه هغه څوك چه ورکړے شوه هغهٔ ته عملنامه د هغه په ګس لاس د هغهٔ کښې
فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ ﴿٢٥﴾
نو وائی به هائے ارمان دے ما لره چه نهٔ وے راکړے شوے ما ته عملنامه زما۔

وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يَا لَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾
او نهٔ پوهیدم چه څه به وی حساب زما۔ هائے افسوس چه وے دا مرګ ختمونکے
مَا أَغْنَىٰ عَنِّي مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّي
ما لره (یا فیصله کونکے ما لره)۔ هیڅ فائده رانکړه ما ته مال زما۔ تباه شو زما نه
سُلْطَانِيَهْ ﴿٢٩﴾
طاقت زما۔ (دلیل زما) (زورَوری زما)۔

تفسیر : فَأَمَّا: اُوس بـل قسـم حـالات بیـانوی چه هغه د عملنامو تقسیم دے۔ په دے ورځ چه د چا عـمـلـنـامه د هغهٔ په ښی لاس کښې ورکړے شی، هغه به کامیاب وی، او د ډیرے خوشحالئ نه به خوا اوشا خلقو ته وائی چه لږه زما عملنامه واخلئ، او دا اولولئ، ددے نه خو رنړا راخیژی، په دے کښې د ګناهونو تور والے په نظر نهٔ راځی۔

مـاتـه په دنیا کښې ددے خبرے یقین وو چه د قیامت په ورځ به ماته د خپلو اعمالو بدله خـامـخـا مـلاویږی، دے وجے نه ما د ایمان او عمل صالح په ذریعه ددے ورځے لپاره تیاری کـړے وه، او د ګـنـاهـونو نه لرے شوے ووم، اوکله به مے چه د ناپوهئ د وجے نه کومه ګناه اوکړه نـو سـمـدس بـه مے الله طرفته رجوع اوکړه او ددے ګناه نه به مے توبه کړه، نو دغه ګناه زما په عملنامه کښې درج شوے نهٔ ده۔

كِتَابَهُ : یـعـنـی هـغـه عـمـلـنامه چه ملائکو دهٔ لپاره لیکلے ده او ددهٔ عملونه ئے پکښې راجمع کړیدی۔

هَاؤُمْ: دا اسم فعل دے دوه معنے لری، یعنی راشئ (ابن زیدؒ) یا ونیسئ۔

کسائیؒ وائی : چه هاء په معنیٰ د اخستو دے لکه په حدیث د ابواب الربا کښې دی : (اِلَّا هَـاءَ وَهَاءَ) (متفق علیه) او کـلـه چـه ورپـورے میم پیوسته شی نو مفرد او تثنیه او جمعه پـکـښې یـو شان وی۔ او بعض علماؤ وئیلی دی چه هاؤم مجموعه یوه کلمه ده چه عرب ئے د خوشحالئ په وخت کښې استعمالوی۔

په کتابیه، حسابیه، سلطانیه او مالیه کښې هاء د سکتے ده۔

عـلـمـاء وائی چـه دنیـا کـښې ریـاکاری جائز نهٔ ده، او بنده به ئے په آخرت کښې کوی چه

اُوګورئ زما خو مره ښكلے عملونه وو.
اِقْرَؤُوا: د ډيرے خوشحالئ د وجه نه خپله عملنامه په بل چا باندے لولوى.
اِنِّیْ ظَنَنْتُ: اَیْ اَیْقَنْتُ وَعَلِمْتُ (يعنى ما يقين كاوه او پدے پو هه وم)
ضحاكؒ وائى: هر ظن چه په قرآن كريم كښې د مؤمن د طرفنه ذكر شى، نو هغه په معنىٰ د يقين وى، او د كافر نه په معنىٰ د شك وى.
مجاهدؒ وائى: ظن چه د آخرت په باره كښې استعمال شى، نو په معنىٰ د يقين وى، او د دنيا په باره كښې په معنىٰ د شك وى.
حسن بصريؒ پدے آيت كښې فرمائى:
[اِنَّ الْمُؤْمِنَ اَحْسَنَ الظَّنَّ بِرَبِّهٖ فَاَحْسَنَ الْعَمَلَ لِلْاٰخِرَةِ وَاِنَّ الْكَافِرَ اَسَاءَ الظَّنَّ بِرَبِّهٖ فَاَسَاءَ الْعَمَلَ]
د مؤمن په الله باندے ښۀ ګمان وو نو د آخرت دپاره ئے هم ښه ښائسته عمل وكړو، او د كافر په خپل رب باندے بد ګمان وو نو عمل ئے هم بد وكړو. (فتح البيان)
مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ: دا يوه جامعه جمله ده، او ډير اُوچت نصيحت دے او هغه دا چه عمل د چا كله جوړيږى؟ دا هله چه د آخرت نه ويريږى، او د الله د حساب نه ويريږى، كوم انسانان چه د الله د حساب نه ويريدل نو د هغوى به ضرور اصلاح كيږى، ايمان به ئے هم جوړيږى او عمل او اخلاق به ئے هم جوړيږى، او د ګناه نه به توبه وباسى.
او كوم خلق چه د حساب نه نۀ يريږى نو هغه ددے دپاره تيارے نۀ كوى، نو د هغوى به ټول اعمال غلط وى، دا ګناهونه او اسرافونه او فسادونه چه كيږى نو ددے وجه همدا ده چه بنده ګان د الله د حساب نه نۀ يريږى. لكه د سلفو واقعات ددے په باره كښې مطالعه كړه چه د حساب د يرے د وجه نه به ئے د ډيرو خبرو نه او د چا د وهلو نه هم ځان ساتلو، په چا باندے د خپو اړولو او د چا په شپلئ باندے د خپے كيخودو نه به ئے هم ځان ساتلو. په وړو وړو خبرو هم الله تعالىٰ حساب كوى.
﴿فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ﴾.
او پدے يوه جمله كښې مونږ ته الله تعالىٰ دعوت راكړو چه زما د حساب نه يره وكړئ.
فَهُوَ فِیْ عِيْشَةٍ: الله تعالىٰ د داسے نيك انسان انجام دا اوښودلو چه دۀ ته به د جنت په بالا خانو كښې د خوشحاليو او راحتونو نه ډكه زندګى ملاؤ شى.
ددے جنت ميوه به په هر حال كښې دۀ ته نزدے وى، دوئ چه كله هم ددے نه څۀ ميوه

خورل غواړی دۀ ته به نږدے راشی۔ او دوئ ته به د عزت زیاتولو په توګه وئیلے کیږی چه تاسو ټول خوشحاله او سیږئ او څۀ چه غواړئ خورئ، او څۀ چه غواړئ څکئ، دا جنت او ددے ټول نعمتونه تاسو ته ستاسو د هغه نیکو عملونو په وجه ملاؤ شوی دی چه هغه تاسو د دنیا په ژوند کښ کړی دی۔

فِیْ عِیْشَةٍ رَّاضِیَةٍ : ژوند به خوشحاله وی، یعنی صاحب د ژوند به خوشحاله وی۔ یا رَاضِیَةٍ په معنیٰ د ذَاتُ رِضًی سره یعنی خوشحالئ والا ژوند۔ او دا فاعل ذُوْ كَذَا دے۔لکه د تَامِرٌ او لَابِنٌ په شان۔

فِیْ جَنَّةٍ عَالِیَةٍ : یعنی داسے جنت به وی چه په هغے کښ به بنګلے او درجے اُوچتے وی۔/ یا د هغے شان په نفسونو کښ اُوچت دے۔

قُطُوْفُهَا: جمع د قِطْفٌ ده، شوکولے شوے میوے۔/ غونچکونه۔

دَانِیَةٌ: نږدے دی چه هر ناست، ولاړ، پروت او تکیه وهونکی ټولو ته به برابرے وی۔ هیڅوك به ئے په راشوکولو کښ هیڅ تکلیف نۀ محسوس کوی۔

أَسْلَفْتُمْ فِی الْأَیَّامِ الْخَالِیَةِ : تیرے شوو ورځو کښ۔ یعنی د دنیا ژوند۔ مجاهدؒ وائی : ددے نه اَیَّامُ الصِّیَام (د روژو ورځے) دی چه پدے کښ ډیر عملونه کیږی۔

او په اسلفتم کښ اشاره ده د دوی ډیرو اعمالو ته۔

په ملاق حسابیه کښ اشاره شوه سبب د صفائی د عملنامے ته د ګناهونو نه، چه ګناهونه مے ځکه ختم شویدی چه زۀ د حساب نه یریدم، او دلته وائی چه دا عملنامه په ښی لاس ولے ملاؤ شوه؟ ځکه چه نیك اعمال ئے کړیدی۔

وَأَمَّا مَنْ أُوتِیَ كِتَابَهُ : او په دے ورځ چه د چا عملنامه د هغۀ په ګس لاس کښ ورکړے شی، هغه به بدبخت او نامراده وی، او د سخت غم او خفګان د وجے نه به اووائی چه اے کاش ! زما عملنامه ماله نۀ وے راکړے شوے، او ماته زما حساب معلوم شوے نۀ وے۔ او داسے ناخبره پاتے شوے لکه څنګه چه په دنیا کښ جاهل وم۔ اے کاش ! په دنیا کښ چه ماله کوم مرګ راغلے وو، د هغے نه پس زۀ ژوندے کړے شوے نۀ وے۔

وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِیَهْ : دا عطف دے په (لَمْ اُوْتَ) باندے نو د یَالَیْتَنِیْ د لاندے دے لکه چه مخکښ ئے مطلب بیان شو۔ یا په یَا لَیْتَنِیْ عطف دے، نو د (فَیَقُوْلُ) لاندے دے۔

مطلب دا دے چه دا به هم وائی چه زۀ نۀ پوهیدم په دنیا کښ چه حساب لا څه ته

وائی۔ یعنی ما سره په دنیا کښې د خپلو عملونو د حساب غم او پرواه نهٔ وه۔ اول مطلب غوره دے۔

یَا لَیْتَهَا : دا ضمیر اولنی مرگ ته راجع دے۔ یعنی دغه اولنی مرگ په ما فیصله د ختمیدو کړے وے او آخرت ته نهٔ وے راژوندے شوے۔

مَا اَغْنیٰ عَنِّیْ مَالِیَهْ: جهنمی به د خپل افسوس او نامرادئ مزید اظهار وکړی وبه وائی چه زما مال نن زهٔ د الله د عذاب نه بچ نهٔ کړے شوم،

ما استفهامیه ده۔ یا نافیه ده۔ یعنی څه فائده راکړه ما ته مال زما۔

یا فائده رانکړه ما ته مال زما۔ یا دفع نکړو ما نه عذاب لره مال زما۔

یا په (مالیه) کښې ما موصوله ده۔ اَیِ الَّذِیْ لِیْ۔ فائده رانکړه ما ته هغه مرتبے او مالونو او مشرئ او نسب کوم چه زما په دنیا کښې وو۔

هَلَكَ عَنِّیْ سُلْطَانِیَهْ: ١– اَیْ ضَلَّتْ وَغَابَتْ ۔ ورك شو او ختم شو زما نه حجت او دلیل زما۔ ٢– یا ختم شو زما نه قدرت او طاقت زما۔

یعنی زما بادشاهی، لښکر، جنگی سامانونه، او زما قوت او زما زور او زما بحثونه او جګړے او دلیلونه هیڅ هم زما په کار رانغلهٔ۔ هر څهٔ ورك شول، او د غم او خفګان او درد نه سویٔ اوس زما سره هیڅ هم پاتے نشو۔

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِیْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِیْ
اُونیسئ دهٔ لره نو طوقونه ورواچوئ دهٔ ته۔ بیا جهنم کښې داخل کړئ دهٔ لره۔ بیا په
سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿٣٢﴾
زنځیر کښې چه اُوږدوالے د هغے (ګزونه د هغے) اوویا ګزه دی نو داخل کړئ دهٔ لره۔
اِنَّهٗ كَانَ لَا یُؤْمِنُ بِاللهِ الْعَظِیْمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا یَحُضُّ عَلٰی طَعَامِ
یقیناً دهٔ ایمان نهٔ راوړو په الله تعالیٰ چه لوی دے۔ او تیزی ئے نهٔ ورکوله په خوراك
الْمِسْكِیْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَیْسَ لَهُ الْیَوْمَ هٰهُنَا حَمِیْمٌ ﴿٣٥﴾ وَلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ
د مسکین۔ نو نشته دهٔ لره نن ورځ دلته مخلص دوست۔ او نهٔ خوراك مګر د

غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾ لَا يَأْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِئُوْنَ ﴿٣٧﴾

زخمونو د وينو زوو نه۔ نۀ به خوري دا مګر ډير ګنا هګاران۔

تفسير : پـدے افسـوسـونو كار نۀ كيږي بلكه دے وخت كښ به الله تعالىٰ ملائكو ته حـكم وكړي چه دا اونيسـئ، او ددهٔ لاسـونـه څټ سره اوتړئ، ځكه چه دهٔ دنيا كښ ډيره آزادي كړے وه (دا قانون دے چه څوك دنيا كښ آزادي كوي او د الله د حكمونو پابندي نۀ كوي نو هلته به تړلے كيږي۔

دلته حافظ ابن كثيرؒ د ابن ابي حاتمؒ روايت راوړيدے د منهال بن عمرو رحمه الله نه :

[اِذَا قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ خُذُوْهُ ﴾ اِبْتَدَرَهٗ سَبْعُوْنَ اَلْفَ مَلَكٍ)

چـه كـلـه الله تـعـالىٰ مـلائـكو ته دا حكم وكړي چه (خُذُوْهُ) دے راونيسئ، نو دا حُكم به دومره په جلتئ واخلي چه اويا زره ملائك به وريسے رامنډه كړي۔

او فُضيل بن عياضؒ فرمائي : [اِبْتَدَرَهٗ سَبْعُوْنَ اَلْفَ مَلَكٍ، اَيُّهُمْ يَجْعَلُ الْغُلَّ فِيْ عُنُقِهٖ)

اويا زره ملائك به وريسے رامنډه چه كوم د دوی نه ددهٔ په څټ كښ طوق واچوي۔

دے نـه مـعـلوميږي چه الله به ورتـه سخت په غضب وي نو ملائك او هر شے به ورته په غضب وي۔

نـو دا بـه څـومـره هيبتي حالت وي چه انسان ئے تصور نشي كولے، دنيا كښ چه يو تن پسے لـس پـوليـس راشـي نو څومره هيبت پرے راشي چه رنګ ئے زيړ شي حال دا چه د دنيا جيل هم د آخرت په نسبت هيڅ جيل نۀ دے۔

فَغُلُّوْهُ : اَیْ اِجْمَعُوْا يَدَهٗ اِلٰی عُنُقِهٖ۔ (بغوي) ددهٔ لاسونه څټ پورے وتړئ۔

ثُمَّ الْجَحِيْمَ : بيـا دا د جهـنـم پـه لمبو باندے اُوسوزوئ او وائے ړوئ را وائے ړوئ، بيا دا د جهنم د ګرم زنځيرونو نه په يو زنځير كښ داسے اُوپيلئ چه ددهٔ په دُبر كښ ئے ننباسئ او د خُلے نه ئے ورله را اوباسئ، دے دپاره چه په دے كښ زوړند وي۔

نـو دا بـه كوم تصوير وي چه لاسونه او خپے ئے څټ سره تړل شوي وي، او په خوله كښ ورتـه تـر لانـدے حصے پورے زنځير اچولے شوے وي۔ ددے نه بل لوي ذلت نشي كيدے۔ اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ۔

د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي : [يُسْلَكُ فِيْ دُبُرِهٖ حَتّٰی يَخْرُجَ مِنْ مَنْخِرَيْهِ، حَتّٰی

لَا يَقُوْمَ عَلٰى رِجْلَيْهِ]۔ دا به ورته په لاندې طرف کښې ورداخل کړے شي او په پوزه به راوخکلے شي دے دپاره چه په خپو باندے ودریدو ته هم وزرګار نشي۔ (ابن کثیر، بغوی)

سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا : دا د الله تعالیٰ اندازه کړې ګزونه وي۔

ابن عباس ﷺ فرمائي : بِذِرَاعِ الْمَلَكِ۔ د ملائکو ګزونه به وي۔

کعب الاحبارؒ وائي : [كُلُّ حَلْقَةٍ مِنْهَا قَدْرَ حَدِيْدِ الدُّنْيَا] ۔ د هغه زنځیر هره کړئ د ټولے دنیا د وسپنے په اندازه ده۔ (ابن کثیر)

إِنَّهٗ كَانَ لَا يُؤْمِنُ: اُوس جهنم ته د داخلیدو سبب بیانوی۔ یعنی دا بدبخت ددے بدترین انجام حقدار ځکه جوړ شو چه دهٔ په لوی الله ایمان نهٔ لرلو،

د الله نهٔ منل (١) یو دا دی چه د الله وجود نهٔ منی لکه دهریان۔

(٢) یا څوك ورسره برخه داران جوړوی لکه د مکے مشرکانو الله منلو لیکن هغه سره ئے شریکان جوړول۔ نو دوی هم بے ایمانه وو۔

(٣) د الله نهٔ منل دا هم دی چه څوك د هغه ملاقات نهٔ منی،

(٤) د هغهٔ دپاره هیڅ عمل نهٔ کول۔

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ: اَیْ نَفْسَهٗ وَلَا غَيْرَهٗ ۔یعنی مسکینانو ته د خوراك ورکولو ترغیب به ئے نهٔ خپل ځانته ورکولو، او نهٔ نورو ته، خپله انتهائی درجه بخیل وو، او نور به ئے هم د الله دپاره مسکینانو ته د خوراك ورکولو نه بندول۔

مفسرین لیکی چه د سعادت او نیك بختئ او کامیابئ دارو مدار د الله لپاره د اخلاص او مخلوق سره په احسان کولو باندے دے، او دا بد بخت ددے دوارو صفتونو نه محروم وو۔ یعنی دهٔ کښې یو بے ایمانی ده، او بل پکښې قسوتِ قلب دے۔ د الله په بندګانو باندے پکښې شفقت نهٔ وو۔ نو دهٔ کښې تعظیم د امر الله هم نهٔ وو او شفقت عَلٰى عِبَادِ الله هم نهٔ وو۔

اهل علم وائي : خُلِقَتِ النَّارُ لِإِذَابَةِ الْقُلُوْبِ الْقَاسِيَةِ۔

الله اُور ددے دپاره پیدا کړیدے چه پدے سره سخت زړونه ویلی کړی۔

او رسول الله ﷺ فرمائي :

(اَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ ......وَرَجُلٌ رَحِيْمٌ رَقِيْقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِیْ قُرْبٰى وَمُسْلِمٍ)

(مسلم : ١٩٧٣ طبع بیروت)

هغه سرے جنتی دے چه رحم دِل او نرم زړه والا وی هر خپلوان او مسلمان ته. (چه نهٔ ئے په بیمار، او نهٔ په مصیبت زده او نهٔ په غریب باندے زړه سوزی نو دا جهنمی زړه دے) دارنګه دے کښې اشاره ده چه ددهٔ په آخرت باندے ایمان نهٔ وو ځکه چه مسکینانو ته به خوراك ورکولو کښې څه دنیاوی بدله نهٔ طلب کیږی بلکه خلق ئے صرف د الله د رضا او د آخرت د ثواب په امید ورکوی.

ددے تحقیق نه دا اعتراض ختم شو چه څوك ووائی چه مسکینانو ته طعام ورکول خو مستحب عمل دے، نو ددے په ترك باندے څنګه جهنم ته لاړو؟.

دلته مطلب دا نهٔ دے چه دا صدقه نفلی ده یا فرضی، بلکه ددے انسان د زړهٔ کیفیت بیانول دی چه په دهٔ کښې د الله عظمت نشته او د الله په مخلوق باندے شفقت نشته.

صاحب د فتح البیان لیکی: دا دوه صفتونه ئے خاص کړل، ددے وجه دا ده چه د ټولو عقائدو نه ناکاره عقیده کفر بالله دے، او د ټولو خویو نه ګنده خوئی بخل او قسوت قلب دے.

حسن بصریؒ وائی: ما داسے اقوام موندلی دی چه هغوی به په خپل اهل باندے دا عزم (پابندی) کړے وو چه دوی به سائل (سوالګر) نهٔ رد کوی.

او بعضو (لکه ابودرداء ﷺ) به خپل اهل ته د مسکینانو دپاره د ښوروا د زیاتولو حکم کولو، او دا به ئے وئیل چه مونږ د جهنم نیمه کړئ په ایمان بالله سره ویستلے ده، نو نوره نیمائی کړئ په طعام ورکولو سره ولے نهٔ وباسو.

(البحر المحیط والدر المصون والتفسیر المنیر)

وَلَا يَحُضُّ : فَضْلًا عَنْ بَذْلِهٖ لَهٗ. یعنی تیزی ئے نهٔ ورکوله پاتے لا دا چه مسکین ته خوراك ورکړی.

فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ: ددے بدبخته جهنمی نور حال بیانوی چه نن (یعنی د قیامت په ورځ) به ددهٔ هیڅ رشته دار یا دوست نهٔ وی، چه هغه ددهٔ لپاره سفارشی جوړ شی، او دے د الله د عذاب نه بچ کړی. په سورتِ غافر (۱۸) آیت کښې الله تعالیٰ وفرمایل:

﴿وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ إِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِيْنَ مَا لِلظَّالِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ﴾

(او دوئ ډیر نزدے راتلونکی (قیامت) نه خبر کړه، هر کله چه زړونه مریو پورے را اورسی او ټول به خاموش وی او د ظالمانو به نهٔ کوم ولی او دوست وی او نهٔ سفارشی چه

د هغهٔ خبره اومنلے شی)۔
او دے بدبخت لـه بـه د خـوراك لپـاره د جهنميانو د وينے او نَو نه سوئ بل هيڅ هم نهٔ مـلاويږی۔ دا بدترينه خوراکه به صرف کافران او مجرمان خوری کومو چه د الله اوامر او منع کړی څيزونه شاته ګذارلی وو او قصدًا به ئے ګناهونه او جرمونه کول۔
حَمِيْمٌ: دا هـغـه قـريـب دوست دے چه په وخت د تکليف د دوست کښ په هغه باندے ګرمی د غم راځی۔
غِسْلِيْنٍ: ١ – هغه وينے او زوے چه د جهنميانو د زخمونو نه بهيږی۔
٢ – كُلُّ شَیْءٍ اِذَا غَسَلْتَهٗ فَخَرَجَ مِنْهُ شَیْءٌ فَهُوَ غِسْلِيْنٌ۔ (بخاری)
زخـم چـه کـلـه تـهٔ ويـنـځـے او د هغے نه څه ګندونه راوځی دغے ته غسلين وائی۔ يعنی وينځلے شوی ګندونه او وينے۔
٣ – ضحاكؒ او ربيع بن انسؒ وائی : دا يوه ونه ده چه اُور والا به ئے خوری۔ (ليکن دا بعيده ده)
٤ – ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه دا د جهنميانو د طعامونو نه يو طعام دے۔
او په روايت د حاکمؒ کښ د ابوسعيد خدری ﷺ نه مرفوعاً نقل دی :
[لَوْ اَنَّ دَلْوًا مِنْ غِسْلِيْنٍ يُهْرَاقُ فِی الدُّنْيَا لَاَنْتَنَ اَهْلُ الدُّنْيَا]
المستدرك (٢/٥٠١) وقال الذهبی :صحيح)
كه د غسلين نه يوه بوقه دنيا ته راوړے شی نو تولے دنيا والا خلق به بدبويه شی۔
وَلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ :
سوال دا دے چـه دلتـه ئے حـصـر د طعام په غسلين کښ کړے او په سورة الغاشيه (٦) آيت کښ حصر د طعام د دوئ په ضريع کښ کړيدے؟
اول جـواب دا دے چـه مـجرمان مختلف قِسمونه او طبقات دی، نو دا حصر په اعتبار د دغه اقسامو سره دے۔ يعنی چاته به غسلين ورکولے شی او چا ته به ضريع۔
٢ – يا دا حـصـر پـه اعتبـار د مختلفو اوقاتو سره دے۔ يعنی په دغه يو وخت کښ بـه ئے طعام صرف غسلين وی، او په بل وخت کښ به ضريع وی۔
بيـا په قرآن کريم کښ د جهنميانو دپاره مختلف قسمه طعامونه ذکر شويدی، ضريع، شَجَرَةُ الزقوم، ﴿ مَا يَاْكُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ﴾ نـو دا قسماقسم عذابونه د تولو جهنميانو

دي يا د مختلفو طبقاتو دي۔

إِلَّا الْخَاطِؤُوْنَ: نـه مراد هغهٔ نه دي چه غير اختياري تريے د ګناه کار وشي بلکه ددیے نـه مراد هغـه خلق دي چه قصداً ګناهونه کوي لکه مشرکان او د الله په بندګانو باندیے سختي کونکي۔

ابن عباس رضی اللہ عنہ دلته په مشرکانو سره تفسير کړیدیے۔

نو دا د خطيئة نه دیے، چه ګناه ته وئيلے شي او د خطاء نه نهٔ دیے۔

فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾
پس قسم کوم زهٔ په هغه څه چه تاسو ئے وينئ۔ او په هغه څه چه تاسو ئے نهٔ وبنئ۔
إِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿۴۰﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيْلًا مَا
يقيناً دا قرآن خامخا وينا د رسول عزتمند ده۔ او نهٔ دیے دا وينا د شاعر، ډير لږ
تُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾
ايمان راوړئ تاسو۔ او نهٔ ده وينا د جوګی، ډير لږ نصيحت اخلئ تاسو۔
تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ ﴿۴۳﴾
نازل کړیے شویدیے د طرف د رب العالمين نه۔

تفسير : اُوس د قـرآن کـريم او د رسول الله ﷺ صـدق (رشتينـوالے) او حقانيت او پـه مشـرکـانو باندیے رد دیے چه هغوی به ددیے نه انکار کولو۔ او د هغوی ددیے سوال جواب دیے چه هغوی وائي : دا قرآن قول د شاعر يا کاهن دیے۔

الله تـعـالـیٰ وفرمايل چه اے خلقو ! زهٔ په ټولو څيزونو باندیے قسَم خورم چه هغه تاسو وينـئ، او کـوم چـه تاسو نهٔ وينئ، يعني په تمامو مخلوقاتو باندیے، او په خپـل پاك ذات بـانـدیے قسَم خورم چه زما رسول (ﷺ) رشتينـے دیے، او هغهٔ دا قرآن د خپـل رب له اړخه خـلـقـو تـه آورولے دیے، دا د کوم شاعر وينا نهٔ ده لکه څنګه چه تاسو دروغژنه پروپيګنډه کوئ۔ حقيقت دادیے چه تاسو د ايمان د دولت نه محرومه يئ۔

کـه چرے تاسو مومنان وے، او د نبی کريم ﷺ پـه صـفتونو او خويونو کښې مو غور او

فکر کولې، نو ستاسو لپاره به د روښانه نمر غونته دا خبره واضحه شوې وې چه دا واقعي د الله رسول دې، او کوم قرآن چه دهٔ راوړې او دې پرې رالیږلې شوې دې هغه د الله کلام دې۔

ربط او مناسبت

او ددې ربط د ماقبل سره دا دې چه قیامت باندې د یقین کولو دپاره ایمان په قرآن کریم باندې ضروري دې، او دا قرآن کریم دا مسئله ثابتوي چه قیامت راتلل حق دي۔ لکه چه په ابتداء د سورت کښې بیان شو۔

فَلَآ اُقْسِمُ: کښې (لَا) زائده ده، دپاره د تاکید۔ یا لا نفي ده د نورو څیزونو۔ یعنی انکار نهٔ دې پکار۔

بِمَا تُبْصِرُوْنَ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ : ددې نه مراد ټول مشاهدات او مغیبات دي۔ که دنیاوي امور وي او که اخروي، محسوسات وي او که معقولات، اجسام وي او که ارواح د بشر وي او که جنات وغیره۔ بیا انسانان کم څیزونه ویني او ډیر ترې غائب دي۔

د قسم او د جواب قسم مناسبت په ډیرو طریقو سره دې،

۱- اول دا چه دا ټول کائنات ظاهري او معنوي د قرآن په رشتینوالي باندې دلالت کوي چه دا کلام د الله تعالیٰ دې۔

۲- دویم دا چه لکه چه څیزونه دوه قسمه دي، بعض تاسو ته ښکاریږي او بعض ستاسو د نظر نه پټ دي، لیکن تاسو ئې منئ، نو دغه رنګ قرآن وحي ده د الله تعالیٰ د طرف نه اګرکه تاسو نه ددې کیفیت غائب دې لیکن پکار ده چه تاسو ئې ومنئ۔

۳- دریم : ټول عالَم که ښکاري او که غائب وي هغه د قرآن کریم د حقانیت ګواهي ورکوي، ولې که دا قرآن حق نهٔ وې نو د بره عالَم نه به الله تعالیٰ پدې رسول باندې داسې عذابونه رالیږلي وې چه ډیر ناشنا به وې، او دا قرآن به ئې ورله ګډوډ کړې وې۔ یعنی پدې هر څه کښې نښه شته د رسول الله ﷺ د صدق۔ لکه رسول الله ﷺ خپله هم فرمایلي وو: [لَيْسَ شَيْءٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا يَعْلَمُ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَّا عَاصِيَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ]

(مسند احمد : ۱٤۳۷۲) صحیح لغیره والدارمي : ۱۸)

د آسمان او د زمکې ترمینځ هیڅ داسې څه څیز نشته مګر هغه پدې پوهیږي چه زهٔ د

الله رسول يم سوى د نافرمان پيريانو او انسانانو نه۔
او په روايت د طبراني كبير (۱۸۱۲۸) كښې دي : [إِلَّا كَفَرَةَ أَوْ فَسَقَةَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ]
مگر كافران او فاسقان د پيريانو او انسانانو۔
لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ : ۱- ددې نه مراد جبريل ﷺ دې۔
۲- يا نبي ﷺ هم مراد كيدې شي، دواړه صحيح دي۔
بيا **سوال** دې چه هركله دا د جبريل ﷺ يا د نبي كريم ﷺ وينا شوه نو بيا د مخلوق كلام شو؟ **جواب** دا دې چه دلته د رسول لفظ استعمال شويدې، او رسول خو د مُرسِل كلام وائي، ځكه چه رسول استازى ته وائي. او د الله د استازى خبره دا بعينه د الله خبره وي. او چه خپله خبره ئې وكړه نو بيا خو هغه رسول (استازې) نشو۔
كَرِيمٍ: كرم دې ته وائي چه د هر شي لائق كمالات په يو شي كښې راجمع كيدل، نو د بشريت ټول كمالات په رسول الله ﷺ كښې راجمع كړې شوي وو۔
دارنګه جبريل ﷺ كښې د مَلَكِيت ټول كمالات راجمع دي۔
قَلِيلًا مَا تُؤْمِنُونَ: يعني ستاسو ايمان ډير كم دې. او هغه دا چه الله صرف خالق ګنړئ يا د تكليف په وخت ورته فريادونه كوئ۔
بغوىّ وائي : د قليل نه مراد نفي د ايمان ده. يا په تاسو كښې ايمان راوړونكي كم دي۔
وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ: كاهن هغه سړې دې چه د غيبو خبرونه بيانوي چه اكثر دروغ وي، په دعوىٰ د علم غيب سره په ذريعه د نجومو، يا د حساب سره، او د هغې سبب شيطانان دي لكه په سورة شعراء كښې ذكر شويدي۔
قرآن ځكه شعر نهٔ دې چه شعر هغه مُقَفّٰى كلام دې چه مقصد پكښې وزن وي او اكثر په مبالغاتو يا په دروغو باندې مشتمل وي، او كهانت خو د دروغو غيبي خبرونه وركول دي چه د شيطانانو نه آوريدلې شوي وي۔
دارنګه په قرآن كښې خو د شعر او كهانت او سحر بدى ذكر شويده، نو معلومه شوه چه قرآن پخپله شعر، كهانت او جادو نشي كيدې۔
قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ : **فائده** : په اول آيت كښې ئې نفي د ايمان، او په دويم كښې نفي د تذكر وكړه، ددې حكمة دا ښكاره كيږي چه د قرآن مشابهت د شعر سره بيخي نشته، نو هلته ئې ايمان لفظ راوړو چه هركله دا شعر نهٔ دې نو بيا خو تاسو له پدې باندې ايمان

او یقین راوړل پکار دی۔

او په دویم کښې ئې تذکر راوړو ځکه چه د کهانت د قرآن سره لږ څه ظاهری مشابهت شته، هغه دا چه کاهنان هم د راتلونکے زمانے د غیبو خبرونه ورکوی او رسول الله ﷺ به هم ورکول نو د هغے سره ئے التباس شته خو چه د رسول الله ﷺ په احوالو کښې لږ تذکر او سوچ وکړے او خبره رایاده کړے، او د قرآن کریم په معانیو کښې فکر وکړے چه هغه د کهانت د طریقے او د هغوی د اقوالو بیخی مخالف دی، نو التباس ختمیږی خو ډیر لږ خلق تذکر اخلی۔ (فتح البیان)

ځینی مفسرین وجه داسے بیانوی چه د شاعر په کلام باندے عادةً عقیده او یقین نهٔ حاصلیږی صرف د ذهن تفریح وربانده راځی نو ایمان وربانده نهٔ حاصلیږی، او د کاهن په خبرو باندے خلق تصدیق او یقین خو کوی لیکن په هغے کښې تذکیر او نصیحت مقصد نهٔ وی نو د هریو سره ئے د هغے مناسب لفظ راوړیدے۔ (احسن الکلام)

تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ : دا خبر د مبتداء محذوفے دے اَیْ هُوَ یعنی دا قرآن خو نازل شویدے د رب العالمین د طرفنه۔ او د هغهٔ نازلول دی۔

د مشرکانو د شبهاتو رد کولو نه پس، الله تعالیٰ د تاکید په توګه وفرمایل چه په دے کښې هیڅ شك نشته چه قرآن کریم د رب العالمین کلام دے، دا د کوم انسان کلام نشی کیدے۔ ځکه ددے کلام عظمت، ددے جلال او په زړهٔ او دماغو باندے ددے ناشنا پریوتونکے اثر په دے خبره دلالت کوی چه ددے متکلم هغه الله دے چه هغه د عظمت او جلال او لویئ والا دے۔

په رب العالمین لفظ کښې درے اشارے دی :

(۱) یو دا چه پدے قرآن سره د الله په ربوبیت باندے ایمان او یقین حاصلیږی۔

(۲) دویم دا چه الله تعالیٰ ددے دپاره نازل کړیدے چه الله تعالیٰ پدے سره د بندګانو تربیت کوی، نو داسے د تربیت کتاب باندے څنګه اعتراضونه کوئ۔

(۳) دریم دا چه دا د ټول عالَم دپاره کتاب دے په یو قوم او زمانه پورے خاص نهٔ دے۔

فائده : امیر المؤمنین عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمائی :

ما ددے آیتونو په ذریعه ایمان راوړیدے، رسول الله ﷺ په مکه کښې وو په مسجد حرام کښې ئے مونځ کولو، زمونږ د مشرکانو ورسره ډیره سخته ورانه وه، نو یوه ورځ زهٔ ورسره

خوا کښې کیناستم هغه سورة الحاقه لوستله، نو ما ووېل چه ډیر غټ شاعر دے چه ډیر ناشنا مُقَفّٰی کلام وائی۔

خو کله چه پدے آیت ﴿وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ﴾ باندے راتیر شو نو ما ووېل چه زما د زړه نه خبر شو، دا خو کاهن دے خو چه دائے ووېل (وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ) دا د کاهن کلام نهٔ دے نو زما په زړه کښې ایمان واقع شو۔ (مسند احمد : ۱۰۷) رجاله ثقات الا انه منقطع)

د عمر ﷺ د ایمان د راوړو درے څلور وجے وے یو په هغے کښې ددے آیتونو آوریدل وو۔

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا
او که چرته دهٔ جوړ کړی وے په مونږ باندے بعض خبرے (دروغ)۔ خامخا رانیولے به وو
مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا
مونږ دهٔ نه ښے لاس۔ بیا به خامخا پریکړے وو مونږ دهٔ نه رګ د خټ۔ نو نهٔ به وے
مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ
ستاسو نه هیڅ یو تن دهٔ بچ کونکے۔ او یقیناً دا قرآن خامخا نصیحت دے
لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾
دپاره د متقیانو۔او یقیناً خامخا مونږ ته معلومه ده چه یقیناً بعض ستاسو نه دروغ
وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِنَّهُ
ګڼړونکی دی (حق لره) او یقیناً دا خامخا افسوس دے په کافرانو باندے۔ او یقیناً دا
لَحَقُّ الْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾
(قرآن) خامخا حق دے یقینی۔ نو پاکی وایه د نوم د رب ستا چه لوی دے۔

تفسیر: اُوس د رسول الله ﷺ صدق په بل انداز بیانوی، د مکے مشرکانو ته وائی چه تاسو ددے نبی نه انکار کوئ، که چرے محمد ﷺ زما نبی نهٔ وے او دروغجن وے، او مونږ ته ئے د دروغو نسبت کړے وے، نو تاسو ترے خلاص وئ، ما ورله سزا ورکوله، د هغهٔ د مرئ هغه رګ به مو پریکړے وے کوم چه زړهٔ طرفته تلے دے ، او هغه به هلاك

شوی وی، او په تاسو کښې هیڅوک به مونږ ددې کار نه منع کړی نۀ وی،

لیکن الله داسې ونۀ کړل، بلکه هغۀ خپل رسول ﷺ د معجزاتو په ذریعه مضبوط کړو، قرآن ئې نازل کړو، او د دې د رشتین والی دلیل ئې پیش کړو، د دشمنانو خلاف ئې د دۀ مدد اوکړو، او هغه ئې د هغوئ د ملکونو مالك جوړ کړو.

دا ټولې خبرې دلیل دې چه نبی کریم ﷺ د خپل طرفه په قرآن کریم کښې یوه کلمه هم نۀ ده اضافه کړې، بلکه د قرآن کریم یوه یوه کلمه د الله کلام دې.

بَعۡضَ الۡاَقَاوِیۡلِ: د بعض اطلاق په یوه خبره هم کیږی.

لَاَخَذۡنَا مِنۡهُ بِالۡیَمِیۡنِ: یعنی ما به نیولې وې ددۀ ښې لاس. باء په بِالۡیَمِیۡن کښې زیاتی ده لکه د بادشاهانو عادت دې چه کله چا ته سزا ورکوی نو ښې لاس ترې اول پریکړی. یعنی مضبوط مې رانیولو. یا اخذ نه مراد تړل دی د ښی لاس.

یا اخذ په معنیٰ د انتقام سره دې او مِنۡهُ په خپله معنیٰ سره دې، او یمین نه مراد قوت او قدرت دې. یعنی ما به بدله اخستې وې ددۀ نه په قوت او قدرت سره.

الۡوَتِیۡنَ: دا نوم د هغه رګ دې چه د سر نه تر زړه پورې رسیدلې دې. یا رګ د ملا دې. چه کله پریکړې شی انسان ترې مری. نو قطع د وتین کنایه ده د مرګ د هغۀ نه.

فَمَا مِنۡكُمۡ مِّنۡ اَحَدٍ عَنۡهُ حَاجِزِیۡنَ: اَیۡ لَیۡسَ مِنۡكُمۡ اَحَدٌ یَحۡجِزُنَا عَنۡهُ.

یعنی په تاسو کښې به هیڅوك نۀ وی چه دې زمونږ نه منع کړی، او دۀ ته پرده واقع شی.

نو بیا به دې په الله باندې ستاسو د وجه نه څنګه دروغ ووائی، سره ددې نه چه دې پوهیږی چه که دۀ دروغ جوړ کړل نو مونږ به سزا ورکوو او تاسو ئې بیا نشئ خلاصولې.

وَاِنَّهٗ لَتَذۡكِرَةٌ لِّلۡمُتَّقِیۡنَ: بلکه دا قرآن خو د متقیانو دپاره نصیحت دې او متقیان ددې نه د دین او دنیا په هره معامله کښې رڼا او رهنمائی حاصلوی، په مسلمانانو کښې لوی لوی ربانی (الله والا) علماء، او ائمه پیدا کیږی چه هغوئ د قرآن کریم د تعلیماتو په رڼا کښې د مومنانو دینی رهنمائی کوی.

کوم سورت کښې چه وعیدونه زیات ذکر وی نو هلته به دا جمله وی (وَاِنَّهٗ لَتَذۡكِرَةٌ).

وَاِنَّا لَنَعۡلَمُ: پدې آیت کښې الله تعالیٰ وفرمایل چه اې خلقو! مونږ ته ښه پته ده چه په تاسو کښې ځینې خلق د دنیوی فائدې له خاطره او د نفس د خواهش په پیروئ کښې ددې قرآن تکذیب کوی، مونږ به دوئ داسې نۀ پریږدو، بلکه د قرآن کریم نه د دوئ د اعراض

بدله به ضرور ورکوو۔

وَإِنَّـهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكَافِرِيْنَ : اُوس فـرمـائـی چـه د قیامتِ په ورځ کله چه کافران او مشـرکـان اووینـی چـه قـرآن کـریم باندے ایمان راوړونکو له انعام ورکړے کیږی، او دوئ جنـت طـرفتـه روانیـږی، نـو د دوئ افسـوس به انتهائی سخت شی۔ لکه په سورة انعام (۲۷) آیت او سورة حجر (۲) آیت کښ دی۔

وَإِنَّـهُ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ : ۱- (ه) ضـمیـر قـرآن تـه راجـع دے۔ یـعنی دا قـرآن کریـم د الله حق کتاب دے، په دے کښ د ذرے هومره د شك او شبهے گنجائش نشته۔

۲- یا ضمیر حسرة ته راجع دے په معنیٰ د تَحَسُّر سره۔

لـحق الیـقیـن پـدے کښ اضافت د صفت دے موصوف ته، یعنی امر یقینی واقعی او ثابت دے۔ او دے لفظ کښ فائده دا ده چه بعض وخت د انسان یقین په باطل څیز باندے راشی، نـو هـغـهٔ ته حق الیقین نشی وئیلے کیدے۔ او حق الیقین دعِلم الیقین نه اُوچته او د عین الیقین نه کوزه مرتبه ده۔

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ: یعنی هرکله چه الله تعالیٰ داسے یقینی کتاب راولیږلو نو اے زمـا نبی! تـهٔ د خپـل دغه لوی رب د نوم پاکی بیانوه د [سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ] وظیفه کوه۔ په مانځه کښ هم او په غیر د مانځه نه هر وخت۔

یـعـنـی الله د هـر قـسـم شـریك او عیب نه پاك گڼره ځکه چه دا د عذابونو نه د بچ کیدو سبب دے، او د قـرآن کـریـم د نـازلیدو مقصد هم دا دے چه بندګان د الله تعالیٰ په توحید پـوهـه شـی، او د هـغـهٔ پـاکی په عالَم کښ بیانه کړے شی، او ددے په نـتیجه کښ بندګان کامیاب شی او د جنت مستحق جوړ شی۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورة الحاقه

۱- پدے سورت کښ د قیامت درے نومونه ذکر شول ددے د هیبت دپاره۔

۲- خلورو طریقو سره د آخرت هیبت بیان شو۔

۳- د اصحاب الیمین او اصحاب الشمال صفات پکښ بیان شول۔

٤- د رسول الله ﷺ پـه باره کښ وویل شول چه که دے دروغ ووائی نو زهٔ ترمے وتین پرے کوم۔ ختم شو تفسیر د سورة الحاقه په مدد د رب عظیم په ۷ رمضان جون ۱۲۔ صباح یوم الاحد۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٤٤)	(٧٠) سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (٢)

سورة المعارج مکی دے، په دے کښې څلور څلویښت آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة المعارج

نوم : (١) سورة المعارج۔ دا نوم د (٣) آیت ﴿مِنَ اللهِ ذِی الْمَعَارِجِ﴾ نه اخستے شوے۔
(٢) دیته سورة [سَأَلَ سَائِلٌ] هم وئیلے کیږی۔ (٣) سُوْرَةُ الْوَاقِعِ هم ورته وائی۔
د نازلیدو زمانه : قرطبیؒ لیکلی دی چه دا سورت په اتفاق سره مکی دے۔ ابن عباس او ابن الزبیر رضی الله عنهم نه همدا نقل دی۔

مناسبت :

١ – مخکښې د آخرت یره بیانه شوه نو دلته د هغه ورځے مقدار ښائی چه دا پنځوس زره کاله ده۔
٢ – هلته دوه ډلے ذکر شوے، اصحاب الیمین او اصحاب الشمال، نو دلته ئے صفات راوړی۔
٣ – مخکښې سورت کښې د قیامت د عذاب عظمتِ شان ذکر شو نو دلته زجر ورکوی هغه چا ته چه د دغه عذاب په باره کښې سوال کوی۔
٤ – هلته صفات د منکرینو زیات ذکر شو نو دلته صفات د مؤمنانو زیات راوړی۔

د سورت مقصد او موضوع

اَلتَّخْوِیْفُ بِالْعَذَابِ الْوَاقِعِ ۔ الله تخویف او یره ورکوی په هغه عذاب چه واقع کیدونکے دے۔ وَالْاَسْبَابُ الدَّافِعَةُ وَالْجَالِبَةُ لِذٰلِكَ ۔ او هغه اسباب بیانوی چه عذاب دفع کوی، یا په

کوم سبب چه عذاب واقع کیږی. نو یو د هغے نه کفر دے، الجرم، الادبار والتولی، والبخل، وَالْهَلَعُ وَالْجَزَعُ، اَلتَّمَنِّیْ مِنْ غَیْرِ الْعَمَلِ (یعنی تمنا کول او عمل نهٔ کول) پدے ځان د جنت مستحق ګنړل. اَلْخَوْضُ وَاللَّعِبُ. (بکواس او لوبے کول)،

اسباب دافعه دا دی : اَلصَّلَاةُ، (مونځ) او په هغے باندے دوام. اِنْفَاقُ الْمَال، تصدیق د یوم القیامة، اَلْاِشْفَاقُ مِنَ اللهِ (د الله نه یره) حِفَاظَةُ الْفَرْج (د عورت حفاظت) اَدَاءُ الْاَمَانَةِ وَرِعَایَةُ الْعَهْدِ، په شهادت باندے کلك ودریدل او د مانځه حفاظت.

پدے روستو سورتونو کښ به د آخرت یرے او نیك عملونو ته ترغیب او د بدو عملونو نه منع ذکر کیږی نو کله به د یو عمل نوم اخلی او کله د بل. کله به ئے اجمالًا بیانوی او کله تفصیلی.

سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ﴿۱﴾ لِّلْكَافِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ
اُوغوختو یو غوختونکی عذاب واقع کیدونکے. کافرانو لره نشته دے لره
دَافِعٌ ﴿۲﴾ مِّنَ اللهِ ذِی الْمَعَارِجِ ﴿۳﴾
دفع کونکے. د طرف د الله نه چه آسمانونو والا دے. (خاوند د اُوچتو مرتبو دے).

تفسیر : سَأَلَ سَائِلٌ : یعنی په جلتئ سره وغوختو یو غوښتونکی هغه عذاب چه په کافرانو باندے واقع کیدونکے دے.

پدے سائل کښ دوه قوله دی : (۱) یا خو ددے نه پیغمبران مراد دی چه هغوی د الله نه سوال وکړو چه الله تعالیٰ په کافرانو مخالفینو د توحید باندے زر عذاب راولیٰ، او انبیاء علیهم السلام چه کله عذاب وغواړی نو الله ئے راولی لکه په سورة ابراهیم (۱۵) آیت کښ ددے معنیٰ تائید شته. ﴿وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ﴾ پیغمبرانو د الله نه دعاء طلب کړه د قوم په خلاف نو الله عذاب راولیږلو نو نا مراده شو هر جبار عنادګر)

مګر دا معنیٰ دلته ډیره ظاهره نهٔ ده.

(۲) ظاهر دا ده چه دلته کافرانو سوال کړے وو د پیغمبرانو او د الله نه چه دا عذاب به کله راځی چه تاسو ئے مونږ سره وعدے کوئ لکه روستو ﴿اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا وَّنَرَاهُ قَرِيْبًا﴾ نه معلومیږی. دوی عذابونه د امکان نه بعید ګنړل.

او (سائل) ئې نکره هم ددې وجه نه راوړه چه دا ډېرو کافرانو غوختلې وو.
نسائيؒ او حاکمؒ او نورو د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړې چه په دې آیت کښې کریمه کښې د [سَائِل] یعنی تپوس کونکی نه مراد نضر بن حارث دې چه هغهٔ د هغه عذاب پورې توقې اوکړې د کوم وعده چه الله کافرانو سره کړې ده، او وې وئیل چه اې الله ! که چرې ستا له اړخه همدا خبره حقه ده، نو په مونږ باندې د آسمان نه د کاڼو باران وکړې، یا بل کوم دردناك عذاب په مونږ نازل کړې.
د نضر بن حارث دا وینا الله تعالیٰ په سورت انفال (۳۲) آیت کښې بیان کړې ده :
﴿ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاۤءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴾
نو الله تعالیٰ ددې سورت په (۲/۱) آیتونو کښې ددې خبرې جواب وکړو چه یو تپوس کونکی د هغه عذاب په باره کښې تپوس کړې چه د هغې واقع کېدل یقیني دی، او دا عذاب کافرانو دپاره د دوئ د کفر له وجې دې، او ددې فیصله د الله له اړخه شوې ده، اُوس هغه څوك لرې کولې نشي.
لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورتِ حج په (٤٧) آیت کښې فرمایلی دی :
﴿ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ﴾
(او د مکې مشرکان تانه د عذاب په راوړو تادی کوی، او الله هیڅ کله د خپلې وعدې خلاف نهٔ کوی). نو په صحیح روایت کښې ثابت دی چه نضر بن جارث د بدر په میدان کښې په بد مرګ اووژلې شو.
بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ: پدې کښې تعجب دې چه دوی داسې عذاب غواړی چه هغه واقع کېدونکې دې.
لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ : للکافرین متعلق دې په دَافِعٌ پورې. اَیْ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ لِلْكَافِرِيْنَ.
یعنی د کافرانو دپاره د هغې دفع کونکې نشته.
❁ یا متعلق دې د محذوف پورې (خَاصٌّ لَهُمْ) یعنی خاص دې کافرانو لره) او نشته د هغې هیڅوك دفع کونکې.
❁ یا متعلق دې د سَأَلَ پورې یعنی وې غوښتو د کافرانو دپاره هغه عذاب چه واقع کېدونکې دې. نو لام په معنیٰ د عَلٰی سره دې.

❁ یا د واقع پورې متعلق دے یعنی واقع کیدونکې په کافرانو باندے۔ نو دلته هم لام په معنیٰ د علیٰ سره شو۔

مِّنَ اللّٰهِ: دا متعلق دے د واقع پورې۔ ❁ یا د دافع پورې۔

یعنی د الله د طرفنه ئې څوك دفع کونکې نشته کله چه ددے وخت راشي۔

❁ یا متعلق دے د سَأَلَ پورې۔ یعنی د الله نه ئې دغه عذاب وغوښتو۔ اولنی احتمالونه غوره دی۔

[ذِی الْمَعَارِجِ] د الله صفت دے، یعنی دا عذاب د هغه الله له خوا دے چه هغه (معارج والا) دے۔ مفسرینو ددے کلمې درې معنې بیان کړی دی:

(۱) یو روایت کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه ددے معنیٰ په [ذِی السَّمَاوَاتِ] سره نقل ده، یعنی آسمانونو والا، ځکه چه ملائك دغه آسمانونو طرفته خیژی۔

(۲) دویم روایت د قتادهؒ نه دے چه ددے معنیٰ [ذِی الْفَوَاضِلِ وَالنِّعَمِ] دے، یعنی هغه الله چه هغه نعمتونو او احسانانو والا دے۔

(۳) او دریم قول دادے چه د [معارج] نه مراد د جنت درجات دی کوم چه د الله له خوا د هغهٔ اولیاؤ او نیکانو ته ملاویږی۔

❁ یا د الله درجات مراد دی۔ یعنی هغه الله چه د اُوچتو درجو والا دے۔ لکه په سورة المؤمن (۱٤) آیت کښې تیر شوی وو ﴿رَفِیْعُ الدَّرَجَاتِ﴾ الله اُوچتو درجو والا دے۔

تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوْحُ إِلَيْهِ فِیْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ أَلْفَ
ورخیژی ملائك او روح هغهٔ ته په هغه ورځ کښې چه اندازه د هغې پنځوس زره
سَنَةٍ ﴿٤﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ﴿٥﴾ إِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ﴿٦﴾
کاله ده۔ نو صبر کوه په صبر ښائسته سره۔ یقیناً دوی وینی دے لره لرے۔
وَنَرَاهُ قَرِيْبًا ﴿٧﴾
او وینو مونږ دا نزدے۔

تفسیر: اُوس د الله نور لوی والے بیانیږی چه دومره لوی الله دے۔

د [روح] نه مراد جبریل علیه السلام دے، او دا په ملائکو کښې داخل دے، لیکن د الله په نیز ددهٔ

د خصوصی مقام په وجه ددۀ نوم جدا واخستے شو۔ نو دا عطف د خاص دے په عام باندے۔د وجه د شرافت او اهتمام د هغۀ نه۔ یا الروح کښې الف لام عهدی دی، مراد ترے نه روحونه د نیکانو مړو دی چه اُوم آسمان ته خیژی۔

فِیْ یَوْمٍ کَانَ مِقْدَارُهٗ: ددے په تفسیر کښې دوه رائے دی :

(۱) مرجوحه رائے دا ده چه ملائك او جبریل علیه السلام د الله عز وجل خوا ته ورخیژی، په دے توګه چه په یوه ورځ کښې د اُوومے زمکے د آخری تل نه اُووم آسمانه پورے د دوئ د ختلو تیز رفتاری د نورو مخلوقاتو د پنځوس زره کالو د رفتار برابر وی۔

دا تفسیر ابن جریرؒ بیان کړے۔ او حافظ ابن کثیرؒ د ابن ابی شیبهؒ نه نقل کړے۔

یعنی بالفرض که تاسو د تحت الثریٰ نه تر عرش پورے ختلے نو پنځوس زره کاله به ستاسو لګیدلے، لیکن ملائك او جبریل علیه السلام په یوه ورځ کښې ورخیژی۔ ځکه چه د هر آسمان نه بل پورے پنځه سوه کاله مزل او د تحت الثریٰ نه د زمکے سر پورے پنځه سوه کاله دے، او دنیاوی آسمان د بره طرف نه تر زمکے پورے زر کاله دے۔ نو پنځوس زره کاله شو۔ (فتح البیان)

ددے معنیٰ د مرجوحیت وجه دا ده چه ملائك عرش پورے نۀ ځی بلکه سدرة المنتهیٰ باندے د هغوی رفتار ختمیږی۔ بره نشی تللے۔

دویم دا چه د تحت الثریٰ نه تر عرش پورے د انسان روانیدل تعلیق بالمحال دے ځکه چه انسان خو د اُومے زمکے تل ته نشی کوزیدے چه د هغه ځای نه روان شی۔

دریم دا چه د ملائکو په یوه ورځ کښې داسے رفتار وهلو ذکر کولو کښې د الله تعالیٰ دومره ډیر عظمت نۀ ښکاره کیږی۔ نو دا تفسیر دومره ظاهر نۀ دے۔

(۲) نو غوره تفسیر دا دے (چه دا ابن عباس رضی الله عنه ذکر کړیدے) چه دا د قیامت د ورځے حالت بیانیږی، ددے وجه نه ئے تَعْرُجُ مضارع راوړیده، یعنی د قیامت په ورځ به ملائك او جبریل علیه السلام الله ته ورخیژی (یعنی چه الله ورله په قیامت کښې کوم ځای مقرر کړے) په هغه ورځ کښې به ورخیژی چه د هغے مقدار پنځوس زره کاله دے۔

او مطلب دا دے چه لکه څنګه چه په دنیا کښې بادشاهی د الله ده، نو په آخرت کښې به هم بادشاهی د الله تعالیٰ وی، الله به بره وی، او نافرمان بندګانو ته به عذابونه ورکوی د ملائکو په واسطه، نو ملائك به الله ته ورخیژی، نو هغه به ورته حکمونه کوی چه

اُوس دا وكړئ، بيا به ورخيژي نو بل حكم به ورته كوي. لكه خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ چه الله تعالىٰ وائي نو ملائك به الله ته ورخيژي، نو الله به ورته حكم كوي چه ورشئ دا مجرمان راونيسئ، نو هغوی به د حشر ميدان ته راكوزيږي او بندګانو ته به د ... سزاګانې وركوي، بيا به الله ته ورخيژي. ځكه چه الله تعالىٰ په آخرت كښې هم بره دے ځنګه چه اُوس په دنيا كښې هم د عرش دپاسه دے.

او ددے تفسير په غوره والي باندے يو دليل حديث د مسلم دے چه زكاة څوك نۀ وركوي نو الله به د قيامت په ورځ پنځوس زره كاله عذاب وركوي.

بل حديث د ابو سعيد خدري ﷺ دے چه د رسول الله ﷺ نه تپوس وشو :

[يَوْم كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ) مَا اَطْوَلَ هٰذَا الْيَوْمَ !]

پنځوس زره كاله ورځ څومره اُوږده ده! رسول الله ﷺ وفرمايل:

[وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ اِنَّهٗ لَيُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتّٰى يَكُوْنَ اَخَفَّ عَلَيْهِ مِنْ صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ يُصَلِّيْهَا فِی الدُّنْيَا]۔

(مسند احمد (١١٧٣٥) وفى اسناده ابن لهيعة ودراج ابى السمح، وابو يعلى وقال الهيثمى فى مجمع الزوائد (٢٨٣٤٧) اسناده حسن على ضعف فى راويه) وقال العراقى فى تخريج الاحياء : اسناده حسن) وقال الحافظ فى فتح البارى (١١/٤٤٨) وسنده حسن، ثم ذكر مثله وقال السيوطى فى البدور السافرة ص (٨٧) اسناده حسن وضعفه الالبانى، وحسنه ابن القطان فى كتاب الوهم والايهام)۔

قسم په الله چه دا به په مؤمن باندے آسانه شي تردے چه د هغه فرض مانځه نه به هم زياته آسانه شي كوم چه دۀ په دنيا كښې كولو.

بل دليل دا دے چه روستو ﴿اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا﴾ نو (ہٗ) ضمير اقرب مذكور ته راجع دے چه هغه د قيامت ورځ ده.

(٣) او د مجاهد وينا ده چه په آيت كښې دَ دنيا عمر پنځوس زره كاله ښودلے شوے، ليكن معلومه نۀ ده چه څومره موده تيره شوے ده، او څومره باقي ده. ليكن دے باندے دليل نشته. او دے آيت كښې سوچ نۀ دے شوے.

(٤) قتادهؒ، كلبيؒ، محمد بن كعبؒ وائي : (يعنى اِنَّ مِقْدَارَ الْاَمْرِ فِيْهِ لَوْ تَوَلَّاهُ غَيْرُهٗ سُبْحَانَهٗ خَمْسُوْنَ اَلْفَ سَنَةٍ وَهُوَ سُبْحَانَهٗ يَفْرُغُ مِنْهُ فِیْ سَاعَةٍ)۔

يعنى په دغه ورځ د كارونو اندازه كه د الله تعالىٰ نه علاوه بل مخلوق ئے كوي نو

پنځوس زره کاله به وي، لیکن الله تعالیٰ به ترے په لږ ساعت کښې فارغ شي)
دے قول باندے هم دلیل نشته۔ او د ظاهر خلاف دے، او په تاویل بناء دے۔ او دلته خو د کارونو اندازه نهٔ بیانیږي بلکه (مِقْدَارُهٗ) ضمیر ورځے ته راجع دے
فَاصْبِرْ صَبْراً جَمِیْلاً : دا تسلي ده او د سَأَلَ سره متعلق دے، یعنی دا سوال د دوی په طریقه د استهزاء سره دے، نو د هغے په مقابله کښې صبر پکار دے۔
دارنګه د دعوت په لاره کښې چه د مشرکانو د طرف نه کوم تکلیف تاته رسیږي، په هغے باندے د ښهٔ صبر نه کار واخله، ښهٔ صبر دا دے چه د خلقو مخامخ پریشاني او ناراضګي مهٔ ښکاره کوه، او د الله نه سویٰ هیچا ته ددے تکلیفونو شکایت مهٔ کوه۔
مشرکان چونکه د آخرت په ورځ ایمان نهٔ لري، دے وجے نه د مرګ نه پس دوباره ژوند او د قیامت د ورځے عذاب د خپلے بد بختئ له وجے نه ډیر لرے ګڼري، لیکن زمونږ په نیز خو د هغے ورځ ډیره زیاته نزدے ده، ځکه چه ددے راتګ یقیني دے، او هر راتلونکے شے نزدے وي۔ مونږ د خپل صفتِ رحمت او صبر د وجے نه په هغوئ باندے په عذاب راوړو کښې جلتي نهٔ کوو۔
صبر جمیل دا دے چه انسان پکښې مخلوق ته شکایت ونکړي، او دا حُسن خُلق دے نو ددے د جهاد او قتال د آیتونو سره منافات نشته، بلکه دا ادب دے په باب د دعوت کښې۔
إِنَّهُمْ یَرَوْنَهٗ بَعِیْداً : یعني دوی ئے د عقل او د واقع کیدو او د امکان نه لرے ګڼري۔ یا د زمانے لرے والے مراد دے۔ یعني ددے زمانه وړاندے ګڼري۔
وَنَرَاهُ قَرِیْباً : د قریب نه مراد د عقل سره مناسب یا د زمانے په اعتبار سره نزدے دے۔ ځکه چه هر راتلونکے شے نزدے وي، او بله دا چه الله ته زر کاله یوه ورځ ښکاره کیږي۔ ځکه د هغهٔ صبر ډیر زیات دے۔

یَوْمَ تَکُوْنُ السَّمَآءُ کَالْمُهْلِ ﴿۸﴾ وَتَکُوْنُ الْجِبَالُ
هغه ورځ چه شي به آسمان پشان د تانبے ویلي شوے۔ او شي به غرونه
کَالْعِهْنِ ﴿۹﴾ وَلَا یَسْأَلُ حَمِیْمٌ حَمِیْمًا ﴿۱۰﴾ یُّبَصَّرُوْنَهُمْ
پشان د وړئ۔ او تپوس به نشي کولے یو دوست د بل دوست نه۔ ورخودلے به شي دوی ته

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِىْ مِنْ عَذَابِ
ټول کافران، خوښوي به مجرم ارمان چه فدیه کښې ورکړي دے د عذاب
يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِى تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾
د دغه ورځے نه خامن۔ او ښځه او ورور خپل۔ او قبیله خپله هغه چه ځائے ورکوی دۀ
وَمَنْ فِى الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ﴿١٤﴾
ته۔ (پناهي ورکوی دۀ ته) او هغه څوك چه په زمکه کښې دی ټول بیا خلاص کړی
كَلَّا إِنَّهَا لَظٰى ﴿١٥﴾
دغه فدیه دۀ لره۔ (د عذاب د الله نه)۔ هیچرے داسے نۀ ده، یقیناً دا اُور ګرمے لمبے دی۔
نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ﴿١٦﴾ تَدْعُوْ مَنْ أَدْبَرَ
ویستونکے دے څرمنے د اندامونو لره۔ آواز به کوی هغه چا ته چه شائے راړولے ده
وَتَوَلّٰى ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَأَوْعٰى ﴿١٨﴾
او مخ ئے ګرځولے دے۔ او مال ئے جمع کړیدے نو په لوښی کښې ئے ساتلے دے۔

تفسیر : اُوس د دغـه ورځے نورے سختیانے بیانوی چه په دے ورځ به آسمانونه تکړے تـکړے شـی، او د ویـلی کړے تانبے غونـتـه به اُوبهیږی، او غرونه به د رنګینے وړئ غونتـه بیخی سپك شی، او څلور واړو طرفونو ته به آلوزی، او په هر یو شی به فناء راشی۔

دے نـه پـس بـه الله تـعـالیٰ تـمـام پیریان او انسانان دوباره پیدا کوی، او ټول به خپے ابله خپے، بربنډ بدن په میدانِ محشر کښې جمع کولے شی۔

هر کله چه د زمکو ددے لویو لویو جسمونو دا حال وی، نو په دے ورځ به د ضعیف او کـمـزوری انسـان څـۀ حـال وی کوم چه د ګناهونو د درونـد بوج په ذریعه خپله اوګه درنه کړے وی۔

یـقـیـنًا د هغۀ زړۀ به خپل ځائے پریدی، او د خپـل نجات په فکر کښې به داسے پریشانه او ګډوډ وی چـه د خپـل ذات نـه سـوئ بـه هـر څـۀ هیـر کـړی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورتِ عبس په (۳۷) آیت کښې فرمایلی دی :

﴿ لِكُلِّ امْرِیٴٍ مِّنْهُمْ یَوْمَئِذٍ شَأْنٌ یُّغْنِیْهِ ﴾ (په دوئ کښې به هر یو کس ته په دغه ورځ داسې فکر لګیدلې وی چه ددهٔ لپاره به کافي وی)۔ همدا خبره الله تعالیٰ دلته داسې فرمائیلې ده چه ((هیڅ یو رشته دار او دوست به د خپل کوم رشته دار او دوست تپوس نهٔ کوی))۔

كَالْمُهْلِ : مهل د ګرمو تیلو ویخ (خیرې)/ ویلی کړې شوې تانبه۔/ او وینې زوې د زخمونو۔

كَالْعِهْنِ: هغه وړئ چه مشتمل وی په ډیرو رنګونو باندې نو غرونه هم ډیرو مختلفو رنګونو والا دی، نو په وخت د فناء کیدو کښې به د رنګینې وړئ په شان شی۔

غرونو کښې به اول تغیر پدې طریقه راځی چه اول به دا د بهیدونکو شګو په شان شی بیا به د رنګینې وړئ په شان سپك شی چه هغه ویشنلې شوی (ډانډت کړې شوی) وی بیا به هباء منثورا شی۔ یعنی دوړه آلوزولې شوې۔

وَلَا یَسْأَلُ حَمِیْمٌ حَمِیْماً : اَیْ لِلْاِنْدِهَاشِ لَا لِعَدَمِ الْمَعْرِفَةِ ۔ یعنی یو دوست به د بل دوست نه تپوس نشی کولې د وجه د سخت دهشت او یرې نه، نهٔ پدې وجه چه ګنې نهٔ ئې پیژنی۔ معرفت خو به وی (یَتَعَارَفُوْنَ بَیْنَهُمْ) او څکه وائی :

یُبَصَّرُوْنَهُمْ : یعنی دا دوستان به یو بل ته ښه ګوری۔ دلته د نائب فاعل او د مفعول دواړه ضمیرونه کافرانو ته راجع دی، یعنی دا کافران به یو بل ته خودلې شی، او یو به د بل نه نشی پټولې، هر یو به بل ته ښکاره کیږی لیکن هر سړې به د خپل ځان په فکر کښې وی۔

یا اول ضمیر (نائب فاعل) راجع دې مؤمنانو ته او ضمیر د مفعول کافرانو ته راجع دې۔ یعنی خودلې به شی مؤمنانو ته کافران۔

یا اول ضمیر تابعدارو ته او دویم ضمیر متبوعینو ته راجع دې۔ کومو چه په ګناهونو او شرك کښې تابعداری کړې وی۔ یعنی الله به په اُور کښې تابعدارو کافرانو ته خپل ګمراهان مشران وربښائی۔

لَوْ یَفْتَدِیْ: ارمان چه فدیه ورکړی د عذاب نه د بچ کیدو دپاره،

یعنی په دې ورځ به کافر آرزو کوی چه کاش ! څهٔ داسې صورت راوتې وې چه دهٔ خپل اولاد، ښځه، ورور، تمام خاندان او ټول عالَم ورکړې وې، او دهٔ ته نجات ملاؤ شوې وې، یعنی دا به داسې ګهړئ وی چه چا سره دهٔ په دنیا کښې بے انتهاء محبت کولو، د هغوئ

قرباني به هم ورکوی خو صرف خپل ځان خلاصول به غواړی۔
په دنیا کښې دهٔ ته ځامن ډیر محبوب وو نو هغه به اول پیش کوی، او بیا چه څومره نزدے وی هغه به پیش کوی۔ انسان په دنیا کښې طبعي طور سره دا عار ګڼړی چه خپله ښځه په فدیه کښې ورکړی، لیکن د قیامت سختي دومره زیاته ده چه مجبوراً به خپله ښځه هم په فدیه کښې ورکولو کوشش کوی خو چه دهٔ نه عذاب لرے شي۔
او ښځه په دنیا کښې انسان ته ډیره ګرانه وی په هغے ډیر خفه کیږی، چه د هغے مشقت نشي برداشت کولے لیکن ددے ورکولو ته به هم تیار وی۔
وَأَخِيْهِ: وړور هم سبب د نصرت دے د سختے په وخت کښې۔
وَفَصِيْلَتِهِ: فصیله په اصل کښې ټکړے د بدن ته وئیلے شي (مبرّد)
دلته ترے مراد نزدے خاندان دے چه دهٔ سره په نسب کښې نزدے وی چه دنیا کښې ئے په مصیبتونو کښې دهٔ ته پناهي ورکوله۔ فصیله د قبیلے نه وړه وی۔ یعنی خاندان۔
تُؤْوِيْهِ: په دنیا کښې دهٔ ته ځای ورکوی د تکلیف په وخت کښې، او که څوك دهٔ ته ضرر رسوی نو دهٔ سره ودریږی، او د دشمن مقابله ئے کوی، او عربو به په قبیلو والو باندے ځانونه هم قربانول، نو په قیامت کښې به دغه قبیله قربانوی خو ځان به خلاصول غواړی۔
ثُمَّ يُنْجِيْهِ: اَیْ ثُمَّ یُنْجِیْ ذٰلِكَ الْفَدَاءُ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ ۔ یعنی بیا خلاص کړی دغه فدیه دهٔ لره د عذاب د الله تعالیٰ نه۔
یا ثُمَّ یُنْجِیْ نَفْسَهٗ بِهٖ۔ بیا ځان بچ کړی پدے سره۔
كَلَّا: دا حرف ردع ده، پدے کښې انکار د نجات دے۔ یعنی هیچرے نجات نشته۔ په دے ورځ به نهٔ څهٔ رشته داری په کار راځی، او نهٔ به څهٔ فدیه قبلیږی۔ هر یو کس سره به صرف د هغهٔ ښه یا بد عمل وی، او ددے نتیجے به دهٔ مخے ته وی۔
او هغه اُور به وی چه د هغے وعده مجرمانو سره شوے وه، د هغے سخت ترینے شغلے به وی چه هغه به د سر او د هر اندام څرمنه دهٔ نه جدا کوی، چه ددے په جدا کولو سره به انسان مری نهٔ، لیکن په انتهائی مصیبت او تکلیف کښې به وی۔
إِنَّهَا لَظٰى: اِنَّهَا ضمیر دغه عذاب ته راجع دے په تاویل د نار (اُور) سره۔
لظی هغه اُور دے چه د هغے لمبے ډیرے او تیزے وی، او دا د جهنم د یو طبقے نوم دے۔

نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰی: دا منصوب دے حال دے۔
نَزَّاعَةً یعنی ډیر ویستونکے او راخکونکے دے۔
شَّوٰی: جمع د شَوَاةٌ ده، لاس او خپے او سر او څرمنے او پلے او پیوندونو ته وئیلے شی نو ټولو اندامونو ته شامل دے۔
۱- اَلْاَعْضَاءُ الَّتِیْ لَیْسَتْ بِمَقْتَلٍ۔ یعنی هغه اندامونه چه انسان ترے نۀ مری کله چه ووهلے شی۔
۲- مَکَارِمُ الْوَجْهِ وَحُسْنُهٗ۔ (حسنؒ وثابت البنانیؒ) د مخ څرمن او ښائست۔
۳- فَرْوَةُ (/جِلْدُ) الرَّأْس۔ د سر څرمنه۔ (سعید بن جبیرؒ)
٤- تَبْرِی اللَّحْمَ وَالْجِلْدَ عَنِ الْعَظْمِ حَتّٰی لَاتَتْرُكَ فِیْهِ شَیْئًا۔ (قتادهؒ)
یعنی توګی به غوښه او څرمن د هډوکی نه تردے چه هیڅ شے به پکښ نۀ پریدی۔
تَدْعُوْ مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰی: په دے ورځ به جهنم خپل طرفته هر هغه کافر او سرکش رابلی چه هغۀ په دنیا کښ د الله او د هغۀ د رسول د حکم نه مخ اړولے وو، او هغه ئے شاته ګذارلے وو۔ یعنی داسے آواز به ورته کوی چه ما طرفته راشه اے مشرکه، ما طرفته راشه اے منافقه!۔ بیا به ئے داسے تیر کړی لکه څنګه چه مارغه دانے تیروی۔

ادبر وتولی کښ فرق :

۱-اَدْبَرَ عَنِ الْحَقِّ وَتَوَلّٰی عَنِ الطَّاعَةِ۔ د حق نه واوړیدو (زړه ئے خراب شو) او تَوَلّٰی د طاعت (عمل) نه واوړیدو۔ یعنی ظاهر او باطن دواړه ئے خراب وی۔ اَدْبَرَ دا دے چه شا راواړوی، حق طرفته بیخی هیڅ توجه نۀ ورکوی۔
۲- ادبار په شا ګرزولو سره او تولی په مخ اړولو سره دے۔
۳- ادبر شا ئے راواړوله یعنی په ګناه کښ مشغول شو، او تولی : مخ ئے واړولو یعنی د طاعت نه ئے اعراض وکړو۔
٤- اَدْبَرَ عَنِ التَّوْحِیْدِ وَتَوَلّٰی عَنِ الرَّسُوْلِ وَالْقُرْآنِ ۔ شا ئے واړوله د توحید نه او مخ ئے واړولو د رسول الله ﷺ او د قرآن کریم نه۔
لکه دے معنے ته په راتلونکی آیتونو کښ اشاره شویده (سورة الاسراء (٤٦) او سورة النساء (٦١) او سورة النور (٤٧) آیت کښ۔

وَجَمَعَ فَأَوْعَى: یعنی مال ئے جمع کړے وو او په بټوو کښې ئے قت په قت بند کړے وو، نۀ ئے ددے زکاۃ اداء کړے او نۀ ئے ددے نه صدقه او خیرات کړے۔

او چا لره چه جهنم را اوبلی، هغهٔ له به په دیکو دیکو جهنم ته اُورسولے شي۔

لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورتِ طور په (۱۳) آیت کښې فرمایلی دی:

﴿يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا﴾

(په کومه ورځ چه دوئ له به په دیکو دیکو د جهنم اور ته راوستے شي)۔

پدے کښې هم بیا دوه حقونه ضائع کول ذکر شو، یو د توحید نه اعراض په اَدْبَرَ وَتَوَلّٰی سره، او بل د الله تعالیٰ په مخلوق باندے شفقت نۀ کول په جَمَعَ فَاَوْعٰی سره۔

وَجَمَعَ: یعنی مال جمع کوی او په لوښی کښې ئے اچوی او د هغے نه د الله په مخلوق باندے هیڅ صدقه او خیرات نۀ کوی او په مسکینانو ئے هیڅ شفقت نشته۔

إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ
یقیناً انسان پیدا کړے شویدے ډیر حرصناك۔ کله چه اُورسیږی دۀ ته تکلیف
جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ
بے صبری کونکے وی۔ (فریادونه کوی) او کله چه اُورسی دۀ ته فائده د دنیا
مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ
منع کونکے وی (د هغے)۔ لیکن مونځ کونکی۔ هغه کسان چه دوی په
صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾
مانځه خپل باندے همیشوالے کونکی دی۔

تفسیر: اُوس د انسان تعریف بیانوی چه انسان طبعی طور سره داسے پیدا شوے دے چه کله دۀ ته څۀ دروند مصیبت ملاؤ شي، نو د صبر لمن ددۀ د لاسه اوځی، واویلا کوی، او انتهائی بے آرامی او پریشانی ښکاره کوی، او کله چه د الله له خوا څۀ مال او دولت ورکړے شي، نو اول نمبر بخیل جوړیږی، په خپل ځان باندے د الله احسانات هیروی، او په خپل ځان او په بل چا باندے د یوے پیسے خرچ کولو په تصور سره ددۀ

روح اوځی۔
او دا صفات د اُور والو دی۔ دلیل پرے روستو (اِلَّا الْمُصَلِّیْنَ) دے۔
هَلُوعاً : د هَلُعٌ نـه دے، سخت حرص او سپکوالی ته وائی چه په حالت د خیر او د شر کښې نامناسبه کارونـه کوی۔ یا هـلـوع ضَجُوُر ته وائی۔ یعنی ډیر تنګیدونکے (بور کیدونکے/ زړه تنګے) ډیر جزع فزع او فریاد کونکے۔
او د مـجـموعه تفاسیرو نه ئے تعریف داسے معلومیږی۔ [اَلْهَلُعُ قِلَّةُ اسْتِمْسَاكِ النَّفْسِ لِمَا یَعْتَرِیُهَا]۔ یعنی نفس ته چه کوم مشکلات او مصائب راځی نو د هغے دپاره کلك نهٔ وی بلکه کله یو طرفته غورزیږی او کله بل خوا۔
حـاصـل مـعانی ئے مفسرینو په شدتِ حرص، قلتِ صبر (بے صبره) او کمزوری زړه والا سره کړیدی۔
د ابن عباس ﷛ نه روایت دے چه د هلوع تفسیر روستو دوه آیتونه کوی۔
اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعاً : کـلـه چـه تکلیف ور ورسیږی نو جزع فزع او فریادونه کوی، یعنی کله چه فقر او فاقه او مرض یا نور مصیبتونه پرے راشی نو ډیر پریشانه وی۔
وَاِذَا مَسَّهُ الْخَیْرُ: او کله چه ورته خیر ورسیږی لکه مالداری، فراخی وغیره۔
مَنُوعاً : نـو بیـا ډیر منع کونکے وی، صحت ورکړے شی، نو د چا خدمت نهٔ کوی، مال ورکړی، چا له ئے نهٔ ورکوی، بادشاهی او عهده ورکړی نو تکبر پکښې کوی، چا ته فائدے نهٔ ورکوی۔
اِلَّا الْمُصَلِّیْنَ : اُوس الله تـعـالیٰ ددے بیـمـارئ نه د خلاصیدو یو علاج خودلے دے چه بـنـده په دے دنیا کښې د الله تعالیٰ شی، هغهٔ چه کوم فرائض مقرر کړی هغه پابندئ سره اداء کـړی، او کـومو خرابو کارونو اوا خلاقو نه ئے چه منع کړے ده، د هغے نه ډډه اوکړی۔ دے کـار کـولـو سـره الله تـعـالیٰ په خپل فضل او کرم سره په دوئ کښې دننه داسے روحانی قـوت پیـدا کوی چه کله په دهٔ کوم مصیبت راشی نو په جزع فزع کښې مبتلا کیږی نهٔ، دے ایـمـان او یـقـیـن سره دا بـرداشت کـوی چه د رب العالمین په تقدیر کښې داسے کیدل لیـکلی دی، دے وجے نه همت او عزیمت سره صبر کوی، او الله تعالیٰ نه دعاء غواړی چه ارحم الراحمین ددهٔ د سر نه دا لرے کړی۔
اوکـلـه چـه الله تـعـالیٰ دهٔ له مال او دولت ورکوی نو ددے شکر اداء کوی، په کبر او غرور

کښې مبتلا کیږی نۀ، د قابو نه بهر کیږی نۀ، او په دے مال کښې چه د الله او د بندګانو کوم حق وی، هغه انتهائی د زړۀ په خوشحالئ سره اداء کوی، بلکه ددۀ چه کوم مالی حیثیت وی ددے په لحاظ سره په غریبانو، محتاجانو، بے وسو، یتیمانو او ښځو باندے همیشه لپاره خرچ کوی۔

اِلَّا الْمُصَلِّیْنَ: دا استثناء متصل ده د انسان نه، یعنی هر انسان دغه صفتونه لری، نو فرمائی چه مګر راتلونکی صفاتو والا دغسے نۀ دی۔ یا استثناء منقطع ده، ګویا که د انسان نه د دوی جنس جدا دے۔

[لٰكِنِ الْمُصَلُّوْنَ اُولٰئِكَ فِیْ جَنَّاتٍ مُكْرَمُوْنَ]

لیکن مونځ کونکی او دغه نورو صفاتو والا به په جنتونو کښې وی۔

او دا هغه صفات دی چه پدے سره عذابونه دفع کیږی لکه تشریح ئے د سورة المؤمنون په ابتداء کښې ذکر شویده۔

نو ددے (۲۲) آیت نه تر (۳۵) آیته پورے الله تعالیٰ د جزع فزع او سخت حرص او طمع نه د شِفا حاصلولو همدا کیمیائی نسخه بیان کړے ده۔

الله تعالیٰ فرمایلی دی چه د دواړو بیماریانو نه الله تعالیٰ هغه چا له شفا ورکوی:

۱ – چه هغوئ خپل مونځونه پابندئ سره او د هغے د ارکانو او شرائطو او د سننو په رعایت کولو سره اداء کوی۔

دَائِمُونَ: یعنی د مانځه نه د دنیا په څیزونو نۀ مصروفه کیږی۔ او هیڅکله مونځونه نۀ پریدی، نۀ اداءً او نۀ قضاءً یعنی دوی ئے کوی اګرکه قضاء هم شی۔

او عمران بن حصین ﷛ او عقبه بن عامر ﷛ ددے معنیٰ کوی:

[هُمُ الَّذِیْنَ لَایَلْتَفِتُوْنَ فِیْ صَلَاتِهِمْ] (تفسیر القرآن العظیم للطبرانی)

دا هغه خلق دی چه په مانځه کښې اخوا دیخوا نۀ ګوری، بلکه مانځه ته متوجه وی۔

وَالَّذِیْنَ فِیْۤ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿۲۴﴾ لِّلسَّآئِلِ
او هغه کسان دی چه په مالونو د دوی کښې برخه وی معلومه۔ دپاره د غوختونکی
وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۲۵﴾ وَالَّذِیْنَ یُصَدِّقُوْنَ بِیَوْمِ الدِّیْنِ ﴿۲۶﴾ وَالَّذِیْنَ هُمْ
او بے نصیبه۔ او هغه کسان چه تصدیق کوی د ورځے د جزاء۔ او هغه کسان چه دوی

مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُوْنٍ ﴿٢٨﴾
د عذاب د رب خپل نه ویره کونکی دی۔ یقیناً عذاب د رب د دوی نهٔ دے امن کړے
وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حَافِظُوْنَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا عَلٰى
شوے (د هغینه)۔ او هغه کسان چه دوی د عورتونو خپلو حفاظت کوی۔ مګر په
أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ
بیبیانو خپلو باندے یا هغه چه مالك وی ښی لاسونه ستاسو نو یقیناً دوی نهٔ دی
مَلُوْمِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ
ملامته کړے شوی (د هغے په استعمال)۔ پس چا چه طلب کړو ماسویٰ ددے نه
فَأُولٰئِكَ هُمُ الْعَادُوْنَ ﴿٣١﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ
نو دغه کسان هم دوی د حد نه تیریدونکی دی۔ او هغه کسان چه دوی د امانتونو
وَعَهْدِهِمْ رَاعُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ
خپلو او د لوظونو خپلو لحاظ ساتونکی دی۔ او هغه کسان چه دوی په
بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ
ګواهیانو خپلو کلك ولاړ دی۔ او هغه کسان چه دوی په مانځه خپل باندے
يُحَافِظُوْنَ ﴿٣٤﴾ أُولٰئِكَ فِيْ جَنَّاتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٣٥﴾
ساتنه کونکی دی۔ دا کسان به په جنتونو کښې عزتمند وی۔

تفسیر : ٢ – دا دویم صفت دے، یعنی د دوئ په مالونو کښې د غوښتونکو او محرومانو چهٔ کوم حق مقرر دے، هغه په خوشحاله زړهٔ سره اداء کوی۔

حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ : مجاهدؒ وائی : ددے نه مراد سویٰ د زکاة نه دے۔

بعض وائی : ددے نه مراد په مال کښې صله رحمی کول او بوج پورته کول دی۔

ظاهر دا ده چه فرضی او نفلی ټولو صدقو ته شامل دے۔

وَالْمَحْرُوْمِ: یعنی هغه چه سوال نکوی نو خلق ئے مالداره ګنړی، نو محرومه کوی

ئے۔ او ددے نور تفسیرونه په سورة الذاریات (۱۹) آیت کښې ذکر شویدی۔

۳ - **وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ** : یعنی مرګ نه پس په دوباره ژوند، د قیامت په ورځ او ددے ورځے په جزاء او سزا باندے ایمان لری۔

٤ - **وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ** : یعنی کله چه دوئ د شیطان په وسوسه کښې راشی او کوم واجب کار پریدی، یا کوم حرام کار کوی، نو د الله د عذاب تصور کولو سره د دوئ په جسمونو باندے لړزه راځی، ځکه چه دوی پوهیږی چه د الله عذاب هر څوك په خپل ګرفت کښې اخستے شی۔ ددے نه صرف کافر او منافق بیغمه ژوندے اوسیدے شی، مومن د خپل رب له ویرے هر وخت رپیږی۔

غَيْرُ مَأْمُوْنٍ: ۱- اَیْ لَا یَنْبَغِیْ اَنْ یُّؤْمَنَ مِنْهُ۔

یعنی د الله د عذاب نه بے غمی نهٔ ده پکار۔ ځکه چه د الله د عذابونو نه بے فکری خو د تاوانیانو کار دے۔

۲- لَا یَأْمَنُهٗ اَحَدٌ عَقَلَ عَنِ اللّٰهِ اَمْرًا، (ابن کثیر)

هغه څوك ترے نهٔ په امن کښې کیږی چه د الله په خبره پوهیږی۔ ځکه چه الله غنی ذات دے که په تا باندے عذاب راولی او یو تن جهنم ته بوځی نو الله ته به څوك څه ووائی۔ په الله باندے د چا د طاعتونو احسان هم نشته۔

۵ - **وَالَّذِيْنَ** :

ربط :

څوك چه د عذابونو د الله نه یریږی نو د هغوی شهوات کنټرول وی. نو دا خلق د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی، یعنی زنا او لواطت نه بچ کیږی، او ښځے او خاوند او خپلے وینځے نه سوئ د بل هیچا مخامخ خپله شرمګاه نهٔ ښکاره کوی البته که دوئ خپلو ښځو سره جماع کوی، یا هغه وینځو سره چه هغه د اسلامی جهاد یا په شرعی توګه اخستو سره حاصل شوے وی، نو دوئ د ملامتیا قابل نهٔ دی۔

که څوك ددے دواړو طریقو نه سوئ په بله کومه طریقه سره ښځه حاصلوی، او هغے سره جماع کوی، لکه زنا، متعه وغیره نو هغه به د الله د مقرر کړی حد نه تجاوز کونکے شمارلے کیږی۔

٦ - **وَالَّذِيْنَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ**: او دا خلق د امانتونو او لوظونو اومعاهدو حفاظت

کوی۔ او د تهولو نه اَهَم امانت او د تهولو نه پوخ لوظ خپل رب سره د بنده دا عهد او لوظ دے چه تر څو پورے دا ژوندے وی، د هغهٔ بندګی به کوی، او د هغهٔ د رسول ﷺ خبره به د هر چا په خبره مخکښ کوی۔

اَمَانَاتِ: هره ذمه واری چه په انسان باندے عائد کیږی که د الله د طرف نه وی او که د مخلوق د طرف نه، هغے ته امانت وائی۔

۷ - بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ: یعنی دوی سره چه کومے ګواهیانے وی نو هغه نهٔ پټوی بلکه کله چه ددے ضرورت راشی نو د حاکمانو مخامخ دا بغیر د کمی زیاتی نه اداء کوی۔ کله نا کله دهٔ سره به خلق ورانوی چه ستا د ګواهئ په وجه به په ما حد قائمیږی، زما سر به ځی، ما نه به لاس پریکړے کیږی، زما مال او پټے به ځی لیکن بیا به هم تهٔ مضبوط ولاړ ئے، خلق به درسره تعلقات پریدی، لیکن د الله نه سوئ به د هیڅا نه یره نکوے، همدغے ته ایمان وائی۔

دارنګه لا اله الا الله او محمد رسول الله ګواهی ئے ورکړه نو بیا ددے پابندی کوی، کمے زیاتے نکوی۔ حق بیانول ګواهی ده۔

۸ - صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ: مونځ د الله په نیز ډیر قیمت لری، او د نورو نیکو اعمالو په مقابله کښ ددے عظمت او اهمیت دے، پدے وجه ئے دا په اول او په آخر کښ راوړو۔

یعنی دا خلق خپل پنځه وخت مونځونه د شرطونو او ارکانو په التزام سره، او په خشوع او خضوع، اطمینان سره او په رکوع او سجده او قیام کښ د اعتدال په لحاظ سره هغه په مقرر او معلومو وختونو کښ اداء کوی۔

أُولَٰئِكَ فِيْ جَنَّاتٍ مُّكْرَمُونَ: یعنی دغه خلق به د ذکر شوے نفسیاتی بیمارئ نه محفوظ اوسیږی، او کله چه د دنیا نه رخصتیږی، او د خپل رب خواته رسیږی، نو الله به دوئ له عزت او اکرام سره په جنتونو کښ ځائے ورکوی۔

مُكْرَمُونَ: اسم مفعول راوړو کښ اشاره ده چه د دوئ کرامت به د الله تعالیٰ او د ملائکو د طرف نه او په کورنئ کښ په هر وخت کښ وی۔

فَمَالِ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا قِبَلَكَ مُهْطِعِیْنَ ﴿۳۶﴾ عَنِ الْیَمِیْنِ
نو څه وجه ده هغه کسانو لره چه ستا طرف ته رامنډے وهی۔ د ښی طرف
وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِیْنَ ﴿۳۷﴾ اَیَطْمَعُ کُلُّ امْرِءٍ مِّنْهُمْ اَنْ
او د ګس طرف نه ډلے ډلے دی۔ آیا طمع لری هر یو تن د دوی نه چه
یُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِیْمٍ ﴿۳۸﴾ کَلَّا اِنَّا
داخل به کړے شی جنت د نعمتونو ته۔ هیچرے داسے نۀ ده، یقیناً مونږ
خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا یَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾
پیدا کړیدی دوی لره د هغه څه نه چه دوی ئے پیژنی۔

تفسیر : پدے رکوع کښ په هغه مجرمانو کافرانو باندے رد دے چه بغیر د عمل کولو نه د جنت تمنا کوی، دا صفات چه کله بیان شول، نو کافرانو به وئیل چه (لَوْ یَدْخُلُ هٰؤُلَاءِ الْجَنَّةَ لَنَدْخُلَنَّ قَبْلَهُمْ) که دا غریبان مؤمنان جنت ته داخلیږی نو مونږ به ضرور د دوی نه مخکښ جنت ته ځو۔ جنت ئے خپله تیکه ګنړله۔

مناسبت :

لَیْسَ لَهُمْ رَغْبَةٌ فِی الدِّیْنِ وَیَتَمَنَّوْنَ الْجَنَّةَ ۔ یعنی دوی د دین سره مینه نۀ لری او دغه صفات پکښ نشته او بیا هم د جنت تمنا کوی۔

فَمَالِ الَّذِیْنَ: یعنی د نبی کریم ﷺ په زمانه کښ موجودو کافرانو او مشرکانو به هره ورځ هغه لیدلو، د هغۀ په ذریعه راښکاره کیدونکی معجزات به ئے لیدل، او د هغوئ مخے ته به د قرآن کریم تلاوت کیدۀ، لیکن ددے تمامو څیزونو هیڅ اثر به په هغوئ باندے نۀ کیدۀ، هغوئ به د ډلو او جماعتونو په شکل کښ د هغۀ د دعوت نه تښتیدل۔ الله تعالیٰ ددے کافرانو د همدے سخت زړتیا او بدبختئ نه په دے دوارو آیتونو کښ حیرانتیا ښکاره کړے ده،

لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورۃ المدثر په (۵۱/۵۰/۴۹) آیتونو کښ فرمایلی دی :

﴿ فَمَالَهُمْ عَنِ التَّذْکِرَةِ مُعْرِضِیْنَ کَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴾

(دویٔ له څۀ شوی دی چه د نصیحت نه مخ اړوی، کویاکه دویٔ تربدونکی خرونه دی چه د زمری نه تښتی)۔

قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ: ددے دوه مطلبه دی :

(۱) عوفیؒ د ابن عباس ﷺ نه ددے دواړو آیتونو مفهوم دا بیان کړے دے چه دے کافرانو له څۀ شوی دی چه دویٔ ستا طرفته کوری او ستا نه ښی او کس طرفته تا پورے توقے کوی او درنه تښتی۔

(۲) قتادهؒ ددے تفسیر دا بیان کړے چه کافران قصدًا د جماعتونو په شکل کښ د نبی کریم ﷺ ښی او کس اړخ نه وتل او تلل به او د الله کتاب او د هغۀ د نبی سنت آوریدل به ئے نۀ غوښتل۔ نو قِبَلَكَ په معنیٰ د (عَنْكَ) سره دے،

او مُهْطِعِيْنَ اَیْ فَارِّيْنَ۔ تښتیدونکی۔ او عزینِ اَیْ مُتَفَرِّقِيْنَ۔ یعنی جدا جدا۔

یعنی ستا د خوا نه تښتی او حال دا چه د جنت طمع هم لری۔

د دوی په دے عمل کښ څومره تناقض دے؟!۔

(۳) یا کله چه رسول الله ﷺ د جنت صفات او نعمتونه بیان کړل، نو کافران یو اړخ او بل اړخ نه ډله ډله په منډه راغلل، او دا ئے ووېل چه که داسے نعمتونه چرته وی نو مونږ ته به ضرور دغه نعمتونه راکړے کیږی۔

او په دے کښ ئے مقصد استهزاء وه او همدا ظاهر تفسیر دے۔

(٤) بعض وائی : ددے معنیٰ دا ده :

[مَا بَالُهُمْ يُسْرِعُوْنَ اِلَيْكَ وَيَجْلِسُوْنَ حَوَالَيْكَ وَلَا يَعْمَلُوْنَ بِمَا تَأْمُرُهُمْ]

دوی لره څه شویدی چه تا طرفته په جلتیٔ راځی او ستا نه کیر چاپیره کینی لیکن تۀ چه ورته کومه خبرے بیانوے په هغے باندے عمل نکوی۔

مُهْطِعِيْنَ: منډے وهونکی / نیغ نیغ نظر کونکی تا ته / قصد کونکی،/ مخ اړونکی ستا نه۔ دا ټولے معانی صحیح دی۔

عِزِيْنَ: جمع د عِزَةٌ ده، ډلے ډلے کیدونکی۔ جابر ﷺ فرمائی : یوه ورځ رسول الله ﷺ په مونږ باندے مسجد ته راننوتو او مونږ حلقے حلقے جدا جدا ناست وو، نو وے فرمایل :

[مَا لِیْ اَرَاکُمْ عِزِيْنَ] (مسلم : ۹۹٦)

څه وجه ده چه زۀ تاسو وینم چه ډله ډله ناست یئ۔ یعنی صفونو کښ کینئ او ډلے مۀ

جوړوئ۔ دا اختلاف ته اشاره وي۔ او د کافرانو سره مشابهت دے۔
كَلَّا : (۱) هیچرے بے عمله طمع د جنت نۀ ده پکار۔
(۲) هیچرے دوي جنت ته نشي داخلیدے۔
إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ : انسان چه جنت ته داخلیږي نو په دوه طریقو سره، یو دا چه نیك عملونه ئے کړي وي، نو الله په (كَلَّا) سره هغه رد کړو چه دوي خو کافران دي جنت ته نشي داخلیدے۔ او دویم په زور سره جنت ته داخلیږي نو د دوي زور هم نشته، ځکه چه دوي الله تعالیٰ د هغه نطفے نه پیدا کړیدي چه دوي ته معلومه ده،
[لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا]
د خپلو ځانونو دپاره د نفع او د ضرر اختیار نۀ لري، دومره کمزورے مخلوق دے، نو دوي ته اُوګوره او په زوره جنت ته ننوتلو ته۔ مطلب دا شو چه د الله نه په زوره جنت ته نشئ ننوتے او عمل درکښ شته دے نۀ۔
مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ : ددے نه مراد نطفه ده، لیکن د هغے نوم ئے وانخستو بلکه مُبهم ئے ذکر کړو پدے کښ اشاره ده چه دوي خو د هغه ګنده شي نه پیدا شوي دي چه د هغے په ذکر کولو کښ هم حیاء راځي، نو بیا خو دوي لره دومره تکبر نۀ دے پکار۔ او د دومره کمزورے مادے نه پیدا شویدي نو د الله په مقابله کښ به د دوي طاقت څه وي ؟!۔

فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ إِنَّا لَقَادِرُوْنَ ﴿۴۰﴾
نو داسے نۀ ده، زۀ قسم کوم په رب د مشرقونو او د مغربونو خامخا مونږ قادر یو۔
عَلٰى أَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾
پدے چه بدل کښ راولو غوره د دوي نه او نۀ یو مونږ عاجز (او کمزوري)۔
فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلَاقُوْا
پس پریده دوي لره چه بکواس کوي او لوبے کوي تردے چه ملاؤ به شي
يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾ يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ
د هغه ورځے سره چه دوي سره ئے وعده کیدیشي۔ په هغه ورځ چه را اُوځي به د

الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلٰى نُصُبٍ
قبرونو نه منډې وهونکی به وی ګویا که دوی باباګانو (معبودانو خپلو) ته
يُوْفِضُوْنَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ
ورزغلی۔ ذلیله به وی سترګې د دوی، دپاسه به راغلې وی په دوی باندې ذلت۔
ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِیْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٤٤﴾
دا هغه ورځ ده چه دوی سره ئې وعده کیدیشی۔

تفسیر: نو سوال پیدا شو چه هرکله دا کافران دومره ناکاره مخلوق دې، نو الله تعالیٰ ولې ئې د مخ د زمکې نه ورك کړی، او عذاب ولې پرې راولی؟ نو الله جواب کوی چه زهٔ پرې قادر یم، لیکن ما دوی ته مهلت ورکړیدې دپاره د امتحان۔

حافظ ابن کثیرؒ ددې آیت تفسیر داسې کړې چه په هغه رب مې دې قسم وی چه هغهٔ آسمانونه او زمکه پیدا کړې، مشرق او مغرب ئې جوړ کړې، او نمر او سپوږمئ او ستوری ئې داسې تابع کړی چه هغه روزانه د یو مشرق نه را اوځی او په بل مغرب کښې ډوبیږی (یعنی هر کال د درې سوه شپیتو مشرقونو نه راخیژی، او په درې سوه شپیتو مغربونو کښې ډوبیږی) خبره داسې نهٔ ده څنګه چه تاسو ګمان کوئ چه مرګ نه پس ژوند، قیامت، حساب او جزاء او سزا نشته، بلکه دا ټولې خبرې رشتینې او یقینی دی۔

او په دې کښې د حیرانتیا کومه خبره ده؟، دوئ خو د الله د عظیم قدرت لیدنه کتنه د قیامت واقع کیدو نه په لوی څیز کښې کوی، یعنی د زمکې او آسمانونو پیدائش، او په دې کښې موجود تمام مخلوقات او موجودات په یو مخصوص نظام باندې پابند جوړول۔ یعنی کائنات پیدا کول او بیا دا په یو مخصوص نظام باندې چلول خو د قیامت د قائمولو نه ډیر لوی دی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه د مشرق او د مغرب په رب مې دې قسم وی! مونږ په دې قادر یو چه د قیامت په ورځ به انسانان د موجوده جسمونو نه په ښهٔ جسم کښې پیدا کوو، او مونږ ددې کار کولو نه عاجزه نهٔ یو۔

لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورة القیامة په (۴/۳) آیتونو کښې فرمایلی دی:

﴿ أَيَحْسَبُ الإِنْسَانُ أَنْ لَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهُ بَلٰى قَادِرِيْنَ عَلٰى أَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ ﴾

(آیا انسان دا خیال کوی چه مونږ به ددهٔ هډوکی جمع نهٔ کړو، هاؤ، خامخا به ئے جمع کوو، مونږ خو قادر یو چه مونږ به ددهٔ یو یو جوړ درست کړو)۔

(۱) نو د (نُبَدِّلَ خَيْرًا مِنْهُمْ) نه په آخرت کښې ښائسته جسمونه ورکول مراد دی۔

(۲) یا ددے تبدیلئ نه مراد دا چه مونږ پدے قادر یو چه ددے موجوده کافرانو نه غوره صفاتو والا خلق پیدا کړو،

یعنی ددے کافرانو نه به زیات طاعت کونکی او ایمان لرونکی وی، او همدغسے وشوه چه د منکرینو په ځای ئے صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین او تابعین عظام رحمة الله علیهم اجمعین پیدا کړل۔

نو پدے کښې موجوده کافرانو ته سخته زورنه ده چه که تاسو بے ایمانی او توقے ددے رسول پورے نهٔ پریدئ نو الله تعالیٰ به تاسو ختم کړی او ستاسو په ځای به نور خلق راپیدا کړی چه هغوی به د الله تعالیٰ ډیر منونکی وی۔

او هر کله چه د انسانانو بدنونه ډیر دی، او هر یو لره فناء کولے شی (لکه د غروب په شان) او هر یو لره پیدا کولے شی لکه د طلوع په شان، نو ددے وجه نه ئے دلته مشارق او مغارب جمع هم ذکر کړل۔ (احسن الکلام)

فَذَرْهُمْ : یعنی زمونږ مشیئت او زمونږ مخکنے علم ددے تقاضا کوی چه دا خلق دِے اُوس پریخودے شی، او په دوی دِے اُوس عذاب رانشی، او دوی دِے په بل شکلونو کښې بدل نکړے شی، بلکه اے زما نبی ! تهٔ دوئ په خپل حال پریده؛ چه په دنیا کښې په فاسدو عقائدو او په باطلو خبرو کښې مشغول پاتے شی، خوراك څښاك اوکړی، او مزے پورته کړی، او شرك او گناهونه کوی، تردے پورے چه د قیامت ورځ راشی په کومه ورځ چه دوئ سره د عذاب وعده شوے ده۔ نو هلته به ورله الله تعالیٰ سزا ورکوی او اُوس دنیا کښې په دوی باندے امتحان دے۔

يَخُوضُوا : ددے نه د عقیدے خرابی ته اشاره ده، او يَلْعَبُوْا کښې د دوی دنیا پرستئ ته اشاره ده چه عمل نهٔ کوی۔

يَوْمَ يَخْرُجُونَ: په دے ورځ به د دوئ حال دا وی چه دوئ به د خپلو قبرونو نه راوځی، د رابلونکی آواز طرفتهٔ به دومره تیزئ سره منډے وهی لکه یو لاره ورك کونکے سړے چه

د لارے نښه اووینی او هغې طرفته په تیزئ سره زغلی۔
د دوئ نظرونه به د ذلت او رسوائی په وجه ښکته وی، او د دوئ پوره وجود به د ذلت د بوج لاندے دباؤ روان وی، سترگے به ئے ښکته وی، د جسم او روح هر یو حرکت به ئے بند شوے وی، او ژبه به ئے گونگه وی۔ او دوئ ته به وئیلے کیږی چه همدا هغه ورځ ده چه ددے وعده تاسو سره کیدلے شوه۔
مِنَ الْأَجْدَاثِ: جمع د جَدَثٌ ده، قبر ته وئیلے شی۔
سِرَاعاً: جمع د سَرِیْعٌ ده حال د فاعل د یَخْرُجُوْنَ نه۔
إِلَى نُصُبٍ: ۱ – په پیښن د نون سره، جمع ئے اَنْصَاب راځی۔ په معنیٰ د هغه بت چه د عبادت دپاره ودرولے شوے وی۔
۲ – یا نُصُب جمع د نَصْبٌ ده۔ لکه رُهُنٌ جمع د رَهْنٌ ده او سُقُفٌ جمع د سَقْفٌ ده۔
نو نصب هغه معبودان دی سوئ د الله نه چه دوی به سهار وختی هغوی طرفته منډے وهلے او سرونه به ئے خکته کړی وو چه کوم به ورباندے اول لاس راکاږی او سجده به ورته لگوی، پدے کار کښ به دوی د یو بل نه مخکښ کیدل او دا به ئے برکت گنړلو۔
نو دلته الله تعالیٰ د مشرکانو یو خاص حالت بیان کړو چه لکه څنگه چه دوی دنیا کښ باباگانو ته منډے وهی نو دغه شان به په قیامت کښ هم منډے وهی۔
۳ – ابن عباس رضی الله عنه وائی: اِلٰی عَلَمٍ یَسْتَبِقُوْنَ۔ گویا کښ دوی یوے نخے ته منډے وهی۔
٤ – اِلٰی شَیْءٍ مَنْصُوْبٍ کَعَلَمٍ اَوْ رَایَةٍ۔ (کلبیؒ)
یو ودرولے شوے شی ته لکه نخه او جنډه ده۔ (فتح البیان والقرطبی)
لکه پخوانو جنگونو کښ به خلقو جنډے طرفته منډه وهله او کله چه به جنډه پریوته نو افراتفری به جوړه شوه۔ خو چه بیا به جنډه پورته شوه نو خلقو به هغې طرفته رامنډه کړه۔
یُوْفِضُوْنَ: أَیْ یُسْرِعُوْنَ اِسْرَاعَ مَنْ ضَلَّ عَنِ الطَّرِیْقِ اِلٰی أَعْلَامِهَا۔
یعنی داسے په جلتئ باندے ورزغلی لکه یو تن نه چه لاره ورکه شی او بیا د هغې نخے پیدا کړی او ورمنډه کړی۔
تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ: دپاسه به پرے راغلے وی۔ په اِرْهَاق کښ معنیٰ د احاطے ده سره د تنگسیا نه۔ او دوی باندے دا ذلت ځکه راځی چه دوی به په دنیا کښ د حق نه ځان عزتمند گنړلو

او د هغې په وجه به ئې د قرآن کریم نه مخ اړولو۔
نو الله تعالیٰ په آخرت کښې ذلیله کړل او څوك چه په دنیا کښې حق ته ځان ذلیله کړي نو په آخرت کښې به عزتمند شي۔
وبالله التوفيق۔ وصلى الله وسلم على نبينا محمد واله وصحبه اجمعين

امتیازات د سورة المعارج

١- پدې کښې د قیامت د ورځې اندازه پنځوس زره کاله ذکر شوه چه دا نور قرآن کښې نۀ ده ذکر شوې۔
٢- د انسان تعریف پکښې په ناشنا انداز شوې چه اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا۔
٣- او ددې خبرې رد هم شویدې چه بے عمله انسان جنت ته نشي تللے۔
٤- او د جنت دوه اسباب دې سورت خودلي دي چه یو عمل دے او بل زور۔

ختم شو تفسیر د سورة المعارج په رحم د رحمن او رحیم سره۔ رمضان (٧) جون (١٢)



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

آیاتها (۲۸)	(۷۱) سُوۡرَةُ نُوۡحٍ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۲)

سورۀ نوح مکی دے، په دے کښې اتیشت آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة نوح

نوم : په اولنی آیت کښې د نوح علیه السلام نوم راغلے، دارنګه په دے سورت کښې د نوح علیه السلام تفصیلی دعوت ذکر دے، دے وجے نه ددے نوم سورۀ نوح کیښودلے شو۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویهؒ او نورو د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه ﴿ إِنَّا أَرۡسَلۡنَا نُوحًا ﴾ په مکه کښې نازل شوے وو۔

په دے مبارك سورت کښې صرف د نوح علیه السلام واقعه بیان شوے، ځکه چه دا یواځے هغه نبی دے چه هغۀ نهه نیم سوه کالو پورے خپل قوم ته د توحید دعوت ورکولو، او دوئ ئے د شرك نه ویرول۔

ددۀ د نبوت د مودے ذکر د سورۀ العنکبوت په (۱٤) آیت کښې تیر شوے دے۔

ابن ابی شیبهؒ، ابن ابی حاتمؒ، حاکمؒ او ابن مردویهؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه الله تعالیٰ کله نوح علیه السلام رسول جوړ کړو او راوے لیږلو نو په دے وخت کښې ددۀ عمر څلویښت کاله وو۔ دے نه پس هغۀ خپل قوم نهه نیم سوه کالو پورے الله طرفته رابللل، او د طوفان نه پس شپیته کاله ژوندے وو، تردے چه د خلقو شماره زیاته شوه او څلور واړو طرفونو ته خوارۀ شول۔

مناسبت

۱- مخکښې د مجرمانو تذکره وشوه نو دلته دَعۡوَةُ الۡمُجۡرِمِيۡن دے۔ یعنی مجرمانو ته دعوت ورکړے شویدے، او طریقه د دعوت ذکر شویده۔

۲- هلته تهدید وو (یره وه) په عذاب اُخروی نو دلته تهدید دے په عذاب دنیوی سره۔ (اِنِّیْ لَكُمْ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ)

۳- مخکښې سورت کښې تقابل وو د صفتونو د مؤمنانو او د کافرانو نو پدے سورت کښې د هغوی سبب د اختلاف ذکر کوی۔

٤- مخکښې سورت کښې اثبات د توحید او د رسالت ذکر شو نو پدے سورت کښې دلیل نقلی ذکر کوی د نوح علیه السلام نه۔

د سورت مقصد او موضوع

درے خبرے دی چه د یو بل سره تړلی دی: (۱) اَلْاِنْذَارُ لِلْغَافِلِیْنَ۔

(غافلانو ته یره ورکول) او هغوی بیدارول چه اے خلقو! ویریږئ د الله عذاب درته متوجه دے، غافلان هغه خلق دے چه د الله بندگی نهٔ کوی او د پیغمبرانو خبره نهٔ منی۔

(۲) ورسره: وَطُرُقُ الْاِنْذَارِ۔ یعنی د یرے ورکولو طریقے چه دا د نبی سره لگیږی چه نبی به په څه طریقه انذار کوی۔

یعنی داعی به څنګه انذار ورکوی؟ نو طریقه به بنائی۔

(۳) اَلْاِنْذَارُ بِالْعِبَادَةِ وَالتَّقْوٰی وَالْعَذَابِ وَالشِّرْكِ۔

انذار په درے خبرو دے، یو دا چه د الله بندگی وکړه او د هغه نه تقویٰ وکړه گنے فلانے عذاب به دربانددے راشی۔ او انذارئے په شرك هم ورکړیدے۔

(۲) زمونږ شیخ محترم (رستمی) رحمه الله تعالیٰ فرمائی: بیان د طریقے د دعوت الی الله او تشجیع ده په دعوت باندے سره د تخویف دنیوی نه په واقعه د نوح علیه السلام سره۔

پدے سورت کښې بیا پنځه پنځه خبرے ذکر شویدی۔

لکه نوح علیه السلام په پنځه طریقو دعوت کړیدے، پنځو خبروته ئے ترغیب ورکړیدے، او پنځه بشارتونه ئے ورکړیدی، او قوم په پنځه طریقو سره مخالفت کړیدے، دهٔ په پنځه طریقو سره د الله عظمت بیان کړیدے، بیا په پنځو باباګانو ئے رد کړیدے،

او بیا په پنځو طریقو په قوم باندے عذاب راغلے دے۔ تفصیل ئے په احسن الکلام کښې وګوره۔

إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ
یقینا مونږ لیږلے وو نوح (علیه السلام) قوم د هغهٔ ته چه اُویروه قوم خپل
مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١﴾ قَالَ يَا قَوْمِ
مخکښ ددے نه چه راشی دوی ته عذاب دردناك۔ اُووئیل هغه اے قومه زما !
إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢﴾
یقیناً زهٔ تاسو لره یره درکونکے ښکاره یم۔

تفسیر : په دے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ خبر ورکړے چه هغهٔ نوح لره د هغهٔ قوم باندے د رحم کولو دپاره رسول جوړ کړو او هغوئ ته ئے ور اولیږهٔ، او هغهٔ ته ئے حکم اوکړو چه هغه خپل قوم ته د توحید دعوت ورکړی، شرك نه ئے اُویروی، او هغوئ ته اوښائی چه که دوئ د شرك نه منع نشول نو د الله دردناك عذاب به دوئ ته راشی۔

پدے کښ زمونږ دے امت ته هم تنبیه ده چه تاسو ته هم محمد رسول الله ﷺ راغے او تاسو د الله تعالیٰ د عذابونو او د شرکونو نه یروی ځکه چه د الله تعالیٰ عذاب درباندے راروان دے۔

أَنذِرْ قَوْمَكَ: انذار یره ورکول دی د عذاب نه په سبب د انکار د توحید سره۔

عَذَابٌ أَلِيمٌ: دا دنیوی او اخروی دواړو عذابونو ته شامل دے۔

قَالَ: دا د هغه د انذار تشریح ده۔

او پدے کښ اعلان د رسالت خپل دے۔

مُّبِينٌ: ښکاره انذار دا دے چه ستاسو په ژبه دے، او په اخلاص سره دے۔

او دارنګه په صفا الفاظو سره دے۔

یا د مُبین معنیٰ ده زهٔ بیانونکے یم د هغه څیز چه په هغے کښ ستاسو نجات دے۔

یا زما انذار ښکاره دے چه هر چا ته دے، خپلوان او پردو تولو ته۔

أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ﴿٣﴾ يَغْفِرْ
چه بندګی اُوکړئ د الله او اُويريږئ د هغهٔ نه او تابعداری اُوکړئ زما۔ وبه بخي
لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى إِنَّ أَجَلَ
تاسو ته ګناهونه ستاسو او روستو به کړي تاسو لره نيټے مقررے پورے، يقيناً نيټه
اللهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾
د الله کله چه راشي، نهٔ به شي روستو کيدے که چرته تاسو پوهيږئ۔

تفسير : پدے کښې ئے د انذار درے مقصدونه بيان کړيدي چه هغه د الله يواځے بندګی کول، او دويم د شرك او كفر او مخالفت كولو نه بچ كيدل، او دريم خپل اطاعت ته دعوت وركول۔ معلومه شوه چه غټ مقاصد د انبياء عليهم السلام دوه دي، يو توحيد او دويم اتباع د سنت۔

أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاتَّقُوهُ: عبادت اعمالو ته وائي، او تقوىٰ ګناهونو پريخودو ته وائي۔

وَأَطِيعُونِ : يعنى زما په طريقه د الله بندګی وکړئ۔

يَغْفِرْ لَكُم : پدے کښې د توحيد او د سنت دوه فائدے ذكر شويدي، يوه اُخروی او دويمه دنيوی۔

مِّن ذُنُوبِكُمْ : مِنْ تبعيضيه دے، او مِنْ ئے پکښې ولے راوړو؟ نو يو دا اشاره ده هغه ګناهونو ته چه د اسلام راوړو نه مخکښې شوي وي، نهٔ روستني ګناهونه کوم چه د اسلام نه روستو كيږي۔

يا (مِنْ ذُنُوبِكُمُ الَّتِىْ تُبْتُمْ مِنْهَا) هغه ګناهونه چه تاسو ترے توبه ويستلې وي۔

حديث کښې دي : (وَمَنْ أَسَاءَ فِي الْإِسْلَامِ أُخِذَ بِالْأَوَّلِ وَالْآخِرِ)

بخاری (٦٩٢١)

او كه چا ايمان راوړو او په اسلام کښې هم هغه پخوانئ ګناه كوي، نو په مخکښې او روستنئ دواړو باندے به رانيولے كيږي، بيا اسلام دهٔ ته دغه مخکښئ ګناه نهٔ معاف كوي۔

وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى : ددے مطلب دا دے چه تاسو به يوے نيټے مقررے پورے

روستـو كړي، يعـنـي تاسو باندې به عذابونه نۀ راولي، دا داسې دې لكه ﴿ يُـمَتِّعْكُمْ مَتَاعًا حَسَنًا﴾ (سورة هود : ۳) او (۵۲) كښې. يعنی څه وخته پورې به درله ښكلې فائدې دركړي، پريشانی به نۀ دركوی.

دې كښې دا اشاره هم ده چه په نيكئ او په عبادت كښې د عمر ډيريدل هم شته، څوك چه د الله بندګی او نيكيانې كوی نو الله ورله عمر هم ډير وركوی، او دا په طريقه د تقدير معلق سره دی لكه چه ابن كثيرؒ ذكر كړيدی.

إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ: يعنی كله چه د الله تعالىٰ مقرر كړې نيټه د مرګ تاسو لره راشی، يا ستاسو د عذاب وخت راشی، نو هغه بيا نشی روستو كيدې، بيا كه تۀ توبه وباسې نو د هغې به هيڅ فائده نۀ وی، مخكښې نه د هغې دپاره تيارى وكړه.

لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُوْنَ: ددې لو جزاء پټه ده [لَاَنَبْتُمْ وَتُبْتُمْ] كه چرې تاسو پوهيدې نو تاسو به الله طرفته انابت/ رجوع كړې وې. او د خپلو ګناهونو نه به مو توبه كولې او د هغه نه به مو بخنه غوښتلې.

يا (لَعَبَدْتُمُ اللّٰهَ) كه تاسو پوهيدې نو د دغه يو الله تعالىٰ عبادت به مو كولې.

قَالَ رَبِّ إِنِّیْ دَعَوْتُ قَوْمِیْ لَيْلًا وَّنَهَارًا ﴿٥﴾
اُووئيل هغه اې ربه زما ! يقيناً ما دعوت وركړو قوم خپل ته شپه او ورځ.
فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِیْ إِلَّا فِرَاراً ﴿٦﴾ وَإِنِّیْ كُلَّمَا
نو زيات نۀ كړو دوی لره بلنې زما مګر تيختنه. او يقيناً زۀ هركله چه
دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوْا
ما بللی دی دوی (توحيد ته) دې دپاره چه تۀ بخنه اُوكړې دوی ته ګرځولی ئې دی
أَصَابِعَهُمْ فِیْ آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ
ګوتې خپلې په غوږونو خپلو كښې او ځانونه ئې پټ كړيدی په جامو خپلو كښې
وَأَصَرُّوْا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ﴿٧﴾
او كلك شويدی په ضد (هميشوالې كوی په كفر) او لوئی ئې كړيده ډيره لوئی.

تفسیر : قَالَ رَبِّ إِنِّیْ دَعَوْتُ : لیکن د هغهٔ قوم د ډیر زیات کوشش باوجود د هغهٔ دعوت قبول نهٔ کړو، هغه ورسره نهه نیم سوه کاله دعوتی زندگی تیره کړه، نو اُوس آخری زمانه شوه چه د نوح علیه السلام زړه هم تنګ شو، او پوهه شو چه یو تن هم ایمان نهٔ راوړی نو هغهٔ د خپل رب په حضور کښې شکایت وکړو او تر آخر د سورت پورې ئے دعاء کړیده، او د الله تعالیٰ سره ئے مناجات کړیدے،

او پدے کښې د دعاء طریقه هم خودلے شویده. چه د الله نه دعا غواړے نو هغه ته به وړے وړے خبرے هم کوے، لکه یو ماشوم بچے چه مور ته شکایت کوی چه دا ځای مے خوږیږی او داسے راباندے وشو او فلانی راته داسے وویل نو نوح علیه السلام هم خپل محبوب الله تعالیٰ ته دغه شان شکایتونه وکړل، او پدے دعا کښې هغهٔ خپل قوم ته دعوت کړیدے، په پنځه طریقو سره، په پنځه اوقاتو کښې ئے دعوت ذکر کړیدے.

نوح علیه السلام وفرمایل : چه زما ربه ! ما خپل قوم شپه او ورځ توحید او نیک عمل طرفته را اوبللو، لیکن دوئ د حق نه لرے شو، او زما حق دعوت دوئ ته هیڅ فائده ونهٔ رسوله، بلکه ما چه کله هم دوئ په الله تعالیٰ باندے ایمان طرفته دعوت کړل، دے دپاره چه تهٔ دوئ ته مغفرت (بخنه) وکړے، نو د دوئ نفرت او تکبر نور زیات شو، او دوئ په خپلو غوږونو کښې خپلے ګوتے ورکړے، دے دپاره چه د حق آواز چرته په دوئ باندے اثر ونهٔ کړی. او دوئ مانه او زما د دعوت نه د سخت نفرت په وجه په خپلو مخونو جامے واچولے، دے دپاره چه په ما باندے د دوئ نظرونه ونهٔ لګی، او دوئ خالص د عناد د وجه نه په خپل کفر او شرك باندے ټینګ پاتے شول، او په تکبر کښې راغلل، او د حق نه ئے انکار وکړو، یعنی ما چه څومره خپل دعوت تیز کړو، د هغوئ شر زیات شو، او د خیر صلاحیت او قابلیت قبلول په دوئ کښې ختم شو.

لِتَغْفِرَ لَهُمْ : دے نه معلومه شوه چه سبب د مغفرت ایمان راوړل او توحید قبلول او د الله بندګی ده.

وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ : یعنی په خپلو مخونو باندے جامه واچوی، دے دپاره چه نوح علیه السلام مو ونهٔ وینی او دعوت رانکړی.

وَأَصَرُّوا : یعنی کلك شی په خپل ضد او عناد باندے.

❀ همیشوالے کوی په خپل کفر.

دا د اِصۡرَارُالۡحِمَار نه دے چه حمار وحشی (صحرائی خر) غوږونه اُوچت کړی، او د مؤنث په شتپ باندے خوله کیدی او چیچی ئے او ورسره منډے وهی۔ نو دغه حال د مشرك دے چه په شرك پورے کلك انختے وی۔

وَاسۡتَكۡبَرُوا اسۡتِكۡبَارًا: یعنی ځان لوی ګنړی د حق د قبلولو نه او د ایمان راوړو نه۔

ثُمَّ إِنِّیۡ دَعَوۡتُهُمۡ جِهَارًا ﴿٨﴾ ثُمَّ إِنِّیۡ أَعۡلَنۡتُ لَهُمۡ وَأَسۡرَرۡتُ
بیا یقیناً ما را اُوبلل دوی لره ښکاره۔ بیا یقیناً ما اعلان اُوکړو دوی ته او پټے پټے خبرے مے
لَهُمۡ إِسۡرَارًا ﴿٩﴾ فَقُلۡتُ اسۡتَغۡفِرُوا رَبَّكُمۡ
کړیدی دوی ته په پټو خبرو سره۔ نو ما وئیلی دی بخنه غواړئ د رب خپل نه
إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾ یُرۡسِلِ السَّمَآءَ عَلَیۡكُمۡ مِّدۡرَارًا ﴿١١﴾
یقیناً هغه بخنه کونکے دے۔ را اُوبه لیږی باران په تاسو باندے شیبے شیبے (ډیر)
وَیُمۡدِدۡكُمۡ بِأَمۡوَالٍ وَّبَنِیۡنَ وَیَجۡعَلۡ لَّكُمۡ
(پرله پسے)۔ او زیات به کړی تاسو لره مالونه او ځامن او وبه ګرځوی تاسو لره
جَنّٰتٍ وَّیَجۡعَلۡ لَّكُمۡ أَنۡهَارًا ﴿١٢﴾ مَا لَكُمۡ لَا تَرۡجُوۡنَ
باغونه او وبه ګرځوی تاسو لره نهرونه۔ څه وجه ده تاسو لره چه امید نهٔ ساتئ
لِلّٰهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾ وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ﴿١٤﴾
الله لره د عزت۔ او یقیناً هغهٔ پیدا کړی یئ تاسو په مختلفو حالتونو۔

تفسیر: پدے کښې ئے د دعوت درے طریقے ذکر کړیدی۔

نوح علیه السلام وفرمایل: اے زما ربه! ما دوئ ته په ډاګه د توحید دعوت ورکړو، او د شرك نه مے منع کړل، ما دوئ سره د دعوت مختلفے طریقے اختیار کړے، کله مے ټول راجمع کړل او د خپل دعوت اعلان مے ورته اوکړو، او کله یو یو سره ملاؤ شوم او په پټه توګه مے د دوئ مخے ته خپل دعوت کیښودهٔ، او دوئ ته مے اووئیل چه تاسو د خپلو تیرو شوو ګناهونو نه په رښتینے زړهٔ سره د خپل رب نه بښنه وغواړئ،

هغه خپل ځان طرفته د رجوع کونکو او په خپل حضور کښې د توبه کونکو خطاګانې ډیر زیات معاف کونکے دے۔ که چرے تاسو داسے اوکړئ نو هغه به ستاسو په زمکو ښه باران اُووروی، ستاسو پټی به شنه شنه شی، ښے ترکاریانے به پیدا شی، او ستاسو په روزئ کښې به ښه برکت راشی۔

او هغه به ستاسو په مال او اولاد کښې ډیروالے درکړی، او تاسو له به باغونه درکړی، او ددے باغونو او پټو د خړوبه کولو لپاره به نهرونه روان کړی۔

د دعوت وختونه (۱) لَیْلًا (۲) وَنَهَارًا (۳) جِهَارًا (٤) اعلان (٥) اِسْرار۔

او د قوم مخالفت پنځه طریقے دا دی (۱) فرار (۲) جَعَلُوْا اَصَابِعَهُمْ ۔ (۳) وَاسْتَغْشَوْا ثِیَابَهُمْ (٤) وَاَصَرُّوْا (٥) وَاسْتَكْبَرُوْا۔

جِهَارًا: د جهار (ښکاره) دعوت ورکولو یو صورت دا دے چه دوه او درے یا ډیرو کسانو پسے ورشی، او هغوی ته خبره وکړی۔

او اسرار دا دے چه یو تن پسے پټ د ورځے یا د شپے ورشی او دعوت ورکړی۔

او اعلان دا دے چه غټه مجمعه ناسته وی او هغوی ټولو ته آواز وکړی چه زما دعوت ومنئ۔ د جهار بل صورت دا دے چه کوم کسان نزدے نهٔ راځی نو هغوی ته ښکاره واضحه خبره وکړی۔ او ددے درے الفاظو نه معلومه شوه چه دعوت به په هیڅ حالت کښې نشی پریخودے اګر که خلق هر څو مره مخالفت وکړی۔

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا : پدے کښې ئے د دعوت خلاصه ذکر کړیده، یعنی د هر قسم کفر او شرك او ګناهونو نه په زړه او په ژبه او عمل سره بخنه وغواړئ، بیا ئے ددے پنځه فائدے ذکر کړیدی۔

یُرْسِلِ السَّمَاءَ: د سماء نه مراد باران دے۔

مِدْرَارًا: یعنی پرله پسے باران پداسے طریقه سره چه په مینځ کښې سوکړه نهٔ راځی، او چه د باران ضرورت وی، نو د ضرورت مطابق وربږی او تباهی ورسره نهٔ وی۔

ابن کثیرؒ او قرطبیؒ وغیره د امیر المؤمنین عمر ﷺ نه روایت راوړیدے چه هغه یوه ورځ استسقاء کوله، نو صرف استغفارئے وکړو او واپس شو نو ورته ووئیل شو چه تاسو استسقاء ونکړه نو هغه وفرمایل : چه ما خو باران په حقیقی اسبابوْ سره وغوختو او بیا ئے دا آیت ولوستلو (فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ).

او حسن بصریؒ ته یو تن راغے د قحط شکایت ئے وکړو، نو هغه وویل : چه استغفار وکړه۔ بل راغے چه غریب یم هغه ته ئے هم وویل : استغفار وکړه۔ بل ورته د نسل د کمی (بچی نهٔ کیدو) شکایت وکړو نو هغه ته ئے هم په استغفار حکم وکړو، بل ورته د فصلونو د کموالی شکایت وکړو، نو دهٔ ته ئے هم د بخنے غوښتو حکم وکړو، نو ربیع بن صبیحؒ ورته وویل چه تا دے مختلفو تهلو کسانو ته څنګه د یو استغفار حکم وکړو؟ نو هغه دا آیت ولوستلو او وے وئیل چه استغفار سره دا ټول فوائد حاصلیږی۔

او دا واقعی خبره ده چه استغفار او توبه کښ داسے نور ډیر فوائد شته چه عذابونه پرے دفع کیږی، الله تعالیٰ پدے باندے ډیر زیات خوشحالیږی۔

حدیث کښ دی : [طُوْبٰى لِمَنْ وَجَدَ فِيْ صَحِيْفَتِهٖ اسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا]

د هغه چا دپاره خوشحالی ده چهٔ په خپله عملنامه کښ ډیر استغفار ومومی۔

(ابن ماجه : ۳۸۱۸) وسنده صحيح)

شهابؒ وائی : د استغفار نه صرف اَسْتَغْفِرُ الله وئیل مراد نهٔ دی بلکه د ګناهونو نه رجوع کول او خپله ژبه او زړهٔ پاکول دی۔

وَيُمْدِدْكُمْ : یعنی استغفار د برکاتو د نازلیدو دپاره ښکلے سبب دے لکه دا خبره په سورة الاعراف (۹۶) آیت او سورة المائده (٦٦) آیت او سورة الجن (١٦) آیت کښ راغلے ده۔

د مفسر قُشیریؒ نه روایت دے چه د چا څه حاجت وی الله تعالیٰ ته نو استغفار دِے وړاندے وکړی نو حاجت به ئے پوره کیږی۔

او پدے آیتونو کښ پنځه حاجات ئے په طبعی ترتیب سره ذکر کړیدی، اول هر انسان باران ته محتاج دے، بیا مالونو ته بیا ځامنو ته بیا باغاتو ته، بیا نهرونو ته۔

او ددے آیت نه صاحب الهدایه کمزورے فائده اخستے ده، او دا ئے وئیلی دی چه په استسقاء کښ مونځ نشته، ځکه چه قرآن کښ د استسقاء دپاره استغفار راغلے دے۔ نو دا خبره صحیح نهٔ ده، وجه دا ده چه قرآن کریم کښ استغفار راغے او زمونږ رسول الله ﷺ په استسقاء کښ مونځ هم کړیده، نو په آیت سره ولے د الله د رسول ﷺ عمل رد کړو۔ تیك ده د استسقاء ډیرے طریقے دی، یو د هغے نه صرف بخنه غوښتل دی لکه د عمر فاروق رضی الله عنه په واقعه کښ ذکر شو، او بله طریقه مونځ کول دی لکه په همغه واقعه کښ

هم راغلي دي۔

فائده : انبياء عليهم السلام چه به كله د دين دعوت كولو نو پدے كښې به ئے خلقو ته دنياوى لالچ هم وركولو، او دا وركول پكار دى ځكه چه كه انسانانو ته د دنيا لالچ ورنكړے شي، او صرف د آخرت غيبي خبرے او زيرى ورته بيانوى، نو عام انسانان ظاهر بين او دنيا پرست دى، لكه قرآن كريم كښې هم دا طريقه اختياروى فرمائى :

﴿ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ﴾ څوك چه نيك عمل وكړى نو پدے دنيا كښې ورته نيكى الله وركوى) (النحل : ٣٠)۔ او لكه مخكښې ﴿ وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰى اَجَلٍ مُسَمًّى ﴾ كښې هم ذكر شو۔ د قرآن كريم نه دا طريقه د دعوت زده كول پكار دى۔

مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ: ربط :

كله چه بنده د الله سبحانه وتعالىٰ نه استغفار نهٔ غواړى نو ددے وجه دا وى چه هغه ورته لوى نهٔ ښكاره كيږى نو دلته دعوت وركوى د الله تعالىٰ عظمت ته۔ او چا ته چه خپل رب لوى ښكاره كيږى نو هغه نه زر بخنه غواړى چه اے الله ! ما ستا حقوق برباد كړيدى ما ته بخنه وكړه۔

نوح ؑ چه كله وكتل چه ددے تولو نصيحتونو هيڅ مُثبت اثر ددهٔ په قوم باندے ونشو، نو د خبرو انداز ئے بدل كړو، او وے وئيل چه تاسو څنګه خراب خلق يئ چه ستاسو په زړونو كښې د الله تعالىٰ د عظمت او قدرت او د هغهٔ د لويئ هيڅ اثر نشته، حالانكه ستاسو رب هغه دے چه هغهٔ تاسو د مختلفو پړاوونو (حالتونو) نه تيرولو سره پيدا كړئ، دے وجے نه هم هغه يواځے د عبادت حقدار دے۔

مَّا لَكُمْ : ١- اَىْ مَالَكُمْ لَاتَعْتَقِدُوْنَ لِلّٰهِ عَظَمَةً ۔ (ابن عباس ؓ)

يعنى څه وجه ده تاسو لره چه تاسو د الله تعالىٰ د عظمت عقيده په زړه كښې نهٔ لرئ۔

٢- دے ته نزدے حاصل معنىٰ حسن بصرىؒ كړيده :

[لَا تَعْرِفُوْنَ لِلّٰهِ حَقًّا، وَلَا تَشْكُرُوْنَ لَهُ النِّعْمَةَ]

د الله حق نهٔ پيژنئ او د هغه د نعمتونو شكر نهٔ كوئ۔

٣- مجاهدؒ وئيلى دى : (لَا تَرَوْنَ لِلّٰهِ عَظَمَةً)۔ تاسو نهٔ ګنړئ د الله دپاره عظمت۔

٤- رجاء دلته په معنىٰ د خوف سره هم صحيح ده۔

[اَىْ لَاتَخَافُوْنَ اللّٰهَ عَظَمَةً اَىْ لَا تَخَافُوْنَ حَقَّ عَظْمَتِهٖ فَتُوَحِّدُوْنَهٗ وَتُطِيْعُوْنَهٗ]

يعنى تاسو نهٔ يريږئ د الله تعالىٰ د لائق عظمت نه چه د هغهٔ توحيد ومنئ او د هغهٔ اطاعت وکړئ.

او خپله معنىٰ ئے دا ده چه: تاسو اميد نهٔ لرئ د الله تعالىٰ د عزت. يعنى دا اُميد مو نشته چه الله تعالىٰ يو عزتمند ذات دے، ځکه چه د چا اميد وی نو د هغه څه نا څه ګمان وی، نو ستاسو دا ګمان نشته چه د الله تعالىٰ عزت او عظمت شته.

او دارنګه څوك چه د الله تعالىٰ د عزت اميد ولری چه هغه عزتمند ذات دے، نو بيا په هغهٔ باندے ايمان راوړی، او د هغهٔ خبره منی، دے دپاره چه هغه دهٔ ته عزت ورکړی.

٥- لکه ددے بله معنىٰ بعضو مفسرينو داسے ليکلے ده:

[مَا لَكُمْ لَا تُؤَمِّلُوْنَ مِنَ اللّٰهِ تَوْقِيْرًا لَكُمْ بِأَنْ تُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتَصِيْرُوْا مُوَقَّرِيْنَ عِنْدَهٗ].

يعنى تاسو لره څه شويدى چه تاسو د الله نه د خپل عزت اميد نهٔ لرئ پدے طريقه چه په هغهٔ باندے ايمان راوړئ نو د هغه په نيز به عزتمند شئ. قرطبیؒ ددے دولس معانی ليکلی دی. (فتح البيان)

خطيب شربينیؒ ليکلی دی: چه د الله تعالىٰ توقير دا دے چه تهٔ خپل حق په الله باندے نهٔ ګنړے، او د هغهٔ په اختياراتو کښ دخل او اعتراض نهٔ کوے، او د هغهٔ د امر او نهی سره معارضه نهٔ کوے، (بلکه هغے ته دِے غاړه ايخودے وی).

او وقار دا هم دے چه بنده د الله تعالىٰ نه په هر حال کښ حياء وکړی. لکه د امير المؤمنين علی بن ابی طالب ﷛ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ څه کسان وليدل چه په بربنډه ئے لامبل چه په هغوی باندے لنګونه نهٔ وو، نو ودريدو او په اُوچت آواز ئے وويل: (مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَارًا) اے خلقو تاسو د الله د عزت خيال ولے نهٔ ساتئ.

(اخرجه عبد الرزاق: ١١٠٢) باسناد فيه مجهول)

دارنګه د هغهٔ وقار دا هم دے چه بنده د هغهٔ د عِقاب نه ويريږی او د هغهٔ د ثوابونو اميد وساتی، او د هغهٔ طاعات ادا کړی.

وَقَدْ خَلَقَكُمْ: دا بيان د وقار د الله تعالىٰ دے. يعنى د الله وقار به زمونږ زړونو کښ څنګه راشی؟ نو ددے طريقه دا ده چه د خپل پيدائش په حالاتو باندے سوچ وکړه نو د الله عظمت به دِے زړه کښ راشی.

أَطْوَاراً: جمع د طَوْرٌ ده، مختلفو حالتونو ته وئيلے شی. پدے کښ مرتبو او حالاتو

د پیدائش ته اشاره ده، اول عناصر، بیا مرکباتِ غذائیه بیا اخلاط (بدن کښ ګډیدل) بیا نطفه، بیا علقه، بیا مُضغه، بیا هډوکی او غوښے او پلے او وینے، بیا روح اچول بیا دنیا ته راویستل، بیا وړوکوالے، بیا ځوانی، بیا بوډا والے، او دارنګه کله روغ او کله بیمار، کله مالدار او کله غریب۔

دارنګه د اخلاقو او کارونو اختلاف ته هم اشاره ده۔ نو دا د الله تعالیٰ د توحید او د هغهٔ د قدرت ښکاره دلیل دے۔ او دا مخکښ دلیل عقلی اَنفُسی دے۔

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ طِبَاقاً ﴿۱۵﴾
آیا نهٔ ګورئ تاسو چه څنګه پیدا کړیدی الله تعالیٰ اُوه آسمانونه لاندے باندے۔
وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُوراً وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجاً ﴿۱۶﴾
او ګرځولے ئے ده سپوږمئ پدے کښ رڼړا او ګرځولے ئے دے نمر چراغ بلیدونکے۔
وَاللّٰهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتاً ﴿۱۷﴾ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ
او الله رازرغون کړی یئ تاسو د زمکے نه په رازرغون کولو سره۔ بیا به واپس کوی
فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجاً ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ
تاسو پدے کښ او را اُوباسی به تاسو په بیا راویستو سره۔ او الله ګرځولے ده تاسو لره
الْأَرْضَ بِسَاطاً ﴿۱۹﴾ لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿۲۰﴾
زمکه خوره۔ دے دپاره چه روان شئ تاسو ددے نه په لارو فراخو۔

تفسیر : دا بل دلیل عقلی آفاقی دے۔ دلته نوح علیه السلام د الله تعالیٰ په عظمت او لویئ باندے د زمکے او آسمانونو او د نمر او سپوږمئ د پیدائش په ذریعه استدلال اوکړو او وے وئیل : اے خلقو ! آیا تاسو ګورئ نهٔ چه الله تعالیٰ څنګه آسمانونه د یو بل دپاسه د ګنبد غونته پیدا کړی دی۔

أَلَمْ تَرَوْا : دا ورسره د تنبیه او د متوجه کولو او د فکر او د علم د طلب دپاره وائی، او یوائے د سترګو لیدل مراد نهٔ دی۔

طِبَاقاً : یعنی لاندے باندے، بعضِ د بعضو دپاسه دی، او په مینځ کښ ئے ډیره فاصله

ده۔ تشریح ئے په سورة الملك کښې ذکر شوه۔

وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا: یعنی الله تعالیٰ سپوږمۍ د دنیا په آسمان کښې ایښې ده چه ددې په رنړا سره زمکه روښانه وی۔ او نمر لـه ئے د زمکے والو لپاره د چراغ حیثیت ورکړې، دې دپاره چه خلق د ورځے په رنړا کښې د معاش حاصلولو کوشش وکړی۔

نورا: کله هغې ته وائی چه د بل شی نه اخستلے شوې وی، او سراج هغه دې چه د هغه نه نور اخستے شی، ددې وجه نه ئے په سورة الاحزاب کښې رسول الله ﷺ ته سراج وئیلے دې۔

وَاللهُ أَنبَتَكُم: دا بل دلیل عقلی دې چه پدې سره د الله تعالیٰ وقار په زړونو کښې راځی۔ او پدې دلیل کښې ئے مرګ او دوباره ژوند ذکر کړیدې دپاره د اثبات د قدرت د الله تعالیٰ۔

یعنی او الله تعالیٰ تاسو د زمکے نه راززغون کړی یئ، پدې کښې د آدم ؑ حالت ته اشاره ده، یعنی ستاسو اصل خاوره ده، آدم ؑ د خاورې نه پیدا شوې، او نطفه هم د هغه غِذاء (خوراك) نه تیاریږی چه هغه د خاورې نه پیدا کیږی، او ستاسو پیدائش د بوټو سره بیخی یوشان دې، په همدې طریقه تاسو ته ژوند ملاویږی، ستاسو غټیدل کیږی، بیا مړهٔ کیږئ، نو په همدې طریقه دفن کولے شئ، او کله چه قیامت راشی، نو الله تعالیٰ به تاسو دوباره ژوندی کوی، او ددې خاورې نه به مو راؤباسی۔

أَنبَتَكُم: یعنی تاسو ئے د زمکے نه راززغون کړئ۔ ددې نه مراد د انسان پیدائش او نشو ونما ده چه د زمکے نه ئے پیدا کړیدې، او د وړوکوالی نه پس ئے لوئی کړیدې، او د پست قدر نه روستو ئے دنګ قد وقامت ورکړیدې۔

دویم قول دا دې چه أَنْبَتَكُمْ په اصل کښې أَنْبَتَ لَكُمْ دې، او مطلب دا دې چه ستاسو دپاره ئے بوټی د زمکے نه راززغون کړیدی۔

لیکن اوله توجیه د روستو جملو سره زیاته مناسبه ده۔

إِخْرَاجًا: مفعول مطلق ئے د ناشنا والی دپاره راوړو، یعنی تاسو به په ناشنا راویستو سره د زمکے نه راوباسی۔

وَاللهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا: دا بل دلیل عقلی دې۔ یعنی الله تعالیٰ ستاسو دپاره زمکه د فرش غوندې برابره جوړه کړې ده، دې دپاره چه تاسو په دې باندې ژوند وکړې

شئ، او په دے کښې جوړے شوے فراخه لارو باندے آسانئ سره تلل وکړئ۔ که چرے الله تعالیٰ زمکه برابره نهٔ وے جوړه کړے، نو په دے باندے به ژوند تیرول ناممکن وے۔ پټی جوړول، بوټی کرل، کورونه جوړول، او د یو ځائے نه بل ځائے ته سفر کول۔ که دائے سخته جوړه کړے وے، نو د ژوند نور کارونه کول به نا ممکن وے۔

فِجَاجًا: که لارے نهٔ وے نو انسانانو ته به خومره تکلیف وے، لرې مزل به ورته اُوږدیدے لکه د غرونو مزلونو والو ته ددے نعمت معلومات زر کیږی، کله چه لاره ورکه شی نو بیا مزل خومره اُوږد شی۔ او د موټړوے نعمت ته وګوره چه په لږ وخت کښې مقصد ته ورسیږی۔

پدے دلیلونو کښې نعمتونه هم دی، او د الله د معرفت دلیلونه هم دی، او پدے سره د الله تعالیٰ عظمت او وقار هم راځی، او دا د استغفار او د الله د بندګئ اسباب هم دی۔

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِيْ وَاتَّبَعُوْا
وویل نوح (علیه السلام) اے ربه زما یقیناً دوی نافرمانی کړیده زما او تابعداری ئے
مَنْ لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهٗ وَوَلَدُهٗٓ إِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾
کړیده د هغه چا چه نهٔ دے زیات کړے هغه لره مال د هغهٔ او بچی د هغهٔ مګر تاوان۔
وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ
او چلونه جوړ کړل دوی چلونه لوئی۔ او ووئیل دوی مهٔ پریدئ معبودان خپل
وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا وَّلَا يَغُوْثَ وَيَعُوْقَ وَنَسْرًا ﴿۲۳﴾ وَقَدْ
او مهٔ پریدئ ود او سواع او یغوث او یعوق او نسر لره۔ او یقیناً
أَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ إِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾
دوی ګمراه کړیدی ډیر خلق او مهٔ زیاتوه ظالمانو لره مګر ګمراهی۔

تفسیر: د نوح علیه السلام داعیانه تقریر او د هغهٔ وعظ او نصیحت په دے کافر قوم باندے هیڅ اثر ونهٔ کړو، او د دوئ عناد زیات شو۔ نو هغهٔ خپل رب ته د دوئ بیا شکایت وکړو او وے وئیل چه اے زما ربه! ما چه دوئ ته د کومو منبرو حکم وکړو پهٔ دے تولو کښې

دوئ زما نافرمانی وکړه، او د هغه عیش پرستو او مالدارانو پسے روان شول چه د هغوئ مال او دولت او د هغوئ اولاد هغوئ لره د تاوان نه سوئ هیڅ ورنهٔ کړل، یعنی د دوئ په کفر او سرکشئ کښ اضافه وشوه، او د حق په مخالفت او دشمنئ کښ د دوئ سازش آخري سرته اورسیدهٔ۔

وَاتَّبَعُوْا مَنْ لَّمْ يَزِدْهُ: اَیْ وَاتَّبَعُوا الْاَغْنِيَاءَ الْمُتَكَبِّرِيْنَ۔ یعنی دوی د متکبرو مالدارو پسے روان شول، او زما تابعداری ئے پریخوده، او دا قانون دے چه څوك د رسول تابعداری پریدی نو د بل گمراه مشر پسے به روانیږی۔ یعنی ضرور به د یو لیډر او مشر پسے ځی۔

او پدے کښ اشاره ده چه ددهٔ په قوم کښ دوه قسمه خلق وو،

یو قسم غټان وو چه خلق به ئے خپل تقلید ته رابلل، هغوی خو ډیر ضدیان او عنادیان وو، او د هغوی حال په (۷) آیت کښ ذکر شو۔

دویم قسم د هغوی تابعدار مقلدین وو چه هغوی دلیل ته نهٔ کتل ځکه چه د مشرانو سره ئے دلیل نهٔ وو بلکه د هغوی مالدارئ او ډلے ته ئے کتل چه د دوی په نیز دا سبب د حق پرستئ وو، حال دا چه هغه مال او اولاد خو د هغوی د تاوان سبب وو په طریقه د استدراج سره،

نو پدے آیت کښ اشاره ده چه په دوی کښ شرك فی التشریع والحکم موجود وو۔

لَّمْ يَزِدْهُ: مال او اولاد انسان لره تاوان په هغه وخت زیاتوی چه هغهٔ کښ تکبر او د حق خلاف راشی۔

وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا: د لوی مکرونو نه مراد : اَلتَّحْرِيْضُ عَلٰى قَتْلِهٖ وَتَكْذِيْبِهٖ۔

یعنی یو بل ته ئے تیزی ورکوله ددهٔ په قتل او ددهٔ په دروغجن گنړلو۔ او د دعوت په بندولو۔ لکه ظالمانو ته شیطانان ناشنا چلونه ښائی۔

وَقَالُوْا: یو چل د هغوی دا وو چه د قوم دے سردارانو عوامو خلقو لره په شرك باندے را پارولو لپاره ووئیل چه د کومو معبودانو چه زمونږ او ستاسو پلرونو عبادت کولو، هغه هیڅ کله پرے نهٔ دئ، او د هغوئ په عبادت باندے په سختئ سره ټینگ پاتے شئ۔ خاصکر تاسو خپل معبودان وَد، سُواع، یغوث، یعوق او نسر په هیڅ حال کښ هیر نهٔ کړئ۔

امام بخاریؒ په کتاب التفسیر کښ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړی دی چه د نوح العَلِیْلاً

قوم چه د کومو معبودانو عبادت کولو، عربانو هم د هغې عبادت کولو۔ وَد، سُواع، یغوث، یعوق او نسر په قومِ نوح کښې د نیکانو خلقو نومونه وو، کله چه دا خلق وفات شو نو شیطان د دوئ د قوم په زړونو کښې دا خبره واچوله چۀ د دوئ د ناستې په ځیونو باندې د دوئ د نومونو مجسمې جوړې کړئ او وې لګوئ۔ نو هغوئ داسې اوکړل۔ او کله چه دا خلق مړۀ شول، او د دوئ د مینځ نه علم پورته شو، نو ددې مجسمو عبادت اوکړې شو۔

(یعنی شیطان ورسره دا چل وکړو چه ددې مجسمو ته کتلو سره به ستاسو د مشرانو قدر په زړه کښې پاتې وی، او الله به درته یادیږی، بیا څه موده روستو ئې پدې مجبوره کړل چه خپلو عبادت خانو ته ئې هغه مجسمې راوړې او لږ وخت روستو د هغوی عبادت شروع شو، کشرانو ته ئې ورله وویل چه مشرانو به ددې عبادت کولو)۔

او ابن کثیرؒ د ابن ابی حاتمؒ په روایت سره ذکر کړیدی چه دا خلق به د وَد په قبر راجمع کیدل، بیا شیطان ورله د هغه تصویر جوړ کړو دپاره د یاداشت، بیا څه زمانه روستو د هغه تصویر عبادت شروع شو۔

معلومه شوه چه شرك اول د اولیاؤ د قبرونو د محبت نه شروع شویدې۔

او امام بخاریؒ ذکر کړیدی چه ددې پنځه معبودانو عبادت شیطان مشرکینو د عربو ته هم رانقل کړو۔ (او هغه پدې طریقه چه عمرو بن عامر بن لحی الخزاعی د عربو یو لوی مشرك تیر شویدې، د هغۀ یو جنی تابع وو، هغۀ ورته ددې بتانو ځایونه وخودل، او دا ئې راویستل او عربو ته ئې راوړل او په قبائلو ئې تقسیم کړل)

وَدًّا: د کلب قبیلې وو په دومة الجندل مقام کښې د زمکې د شام نه چه نزدې ده عراق ته۔

او سواع د هذیل قبیلې وو په رُهَاط مقام کښې چه دا په زمکه د حجاز کښې دې په جهت د ساحل کښې مکې ته نزدې دې۔

او یغوث د مُراد او غطفان قبیلې وو په جرف مقام کښې د سبأ سره۔

او یعوق د همدان قبیلې وو په بلخ کښې او په خیوان کښې چه دا یو کلې دې په یمن کښې۔

او نسر د حمیر آل ذی کلاع قبیلې دپاره وو په زمکه د حمیر کښې۔

(الرحیق المختوم)

او په عربو کښې دوی ته نومونه منسوب شوی وو لکه عبد وَدّ او عبد یغوث۔

او شاه عبد العزیز دهلویؒ په تفسیر فتح العزیز کښې ذکر کړیدی چه همدا پنځه بتان د هندوستان هندوانو ته هم رانقل شویدی لیکن هغوی ئے نومونه بدل کړیدی، د ود نوم ئے بَرْهَما ایخے دے، او د سواع نوم بشن او د یغوث نوم اَنْدر، او د یعوق نوم ئے شیوجی او د نسر نوم ئے هنومان ایخے دے۔

بیا تفسیر قاسمیؒ لیکی چه مشهوره دا ده چه دا ټول د انسانانو په شکلونو وو۔ ځکه چه دوی عبادت د خپلو مشرانو کولو، نهٔ د نورو شکلونو۔

او نور مفسرین وائی چه ود د کلب قبیلے وو او د سړی په شکل وو، او دا مَظْهَرُ الْمَحَبَّة وو۔ یعنی دهٔ باندے به محبت رابنکاره کیدو، که چا به د چا سره مینه کوله نو دهٔ له به ورتلل۔

او سواع : د ښځے په شکل وو او د قیومیت معنیٰ ورکوی۔ یعنی د دوی په نیز قیوم زماں وو، د زمانے د کارونو تدبیر او پروګرام کونکے وو۔

یَغُوثْ: دا په شکل د زمری وو او دا د نصرت (مدد) دپاره وو، چه په کار کښې به ئے مدد غوښتو نو دے له به ورتلل۔ د غوث نه وو (مدد ته وائی)۔

او یعوق د اَس په شکل وو او دا دَافِعُ الْبَلَاءِ وَالْوَبَاء وو، یعنی د مصیبتونو او وباګانو د لرے کولو دپاره وو۔ او نسر د نسر مارغه په شکل وو۔

او بعض وائی د خرهٔ په شکل وو او دا د اِمْتِدَادُ الزَّمَان دپاره وو، یعنی د عمر د ډیرولو دپاره۔ (ذکره الواقدیؒ)

او علامه بقاعیؒ وائی چه ددے دواړو خبرو تعارض نشته ځکه چه دا به په اول کښې د نیکانو شکلونه وو، لیکن بیا د هغوی د نومونو نه د هغوی معانی منتزع شوے او د هغے مطابق شکلونه ئے جوړ کړے شول۔

او دا بتان یا خو حقیقةً عربو ته رانقل شوی وو، او په زمانه د طوفان نوح کښې دا طوفان د جدے په ساحل (غاړه) کښې دفن کړی وو، بیا شیطان لعین د عربو مشرکانو ته راویستل۔

لکه سیرت کښې راغلی دی چه د عمرو بن لحی خزاعی یو شیطان پیرے تابع وو، هغه ورته دا وخودل چه د نوح علیه السلام د قوم بتان د جدے په ساحل کښې پراتهٔ دی نو هغه ورته راغے او هغه ئے راویستل او عمرو بن لحی هغه د عربو په مختلفو قبائلو

تقسیم کړل نو چا یو بت وې وړو او چا بل۔

پدې وجه په عامو عربو کښې ددې بتانو عبادت شروع شو۔ او بیا ئے ددې دپاره کوټې جوړې کړې وې چه د هغې تعظیم به ئے هم کولو۔ (الرحیق المختوم)

او بعض وائی چه عربو ته د دوی نومونه رانقل شوی وو، او د نوح علیه السلام بچو به د هغوی تاریخ بیانولو او روستو زمانو والو د هغوی شکلونه جوړ کړل، او عبادتونه به ئے ورله کول۔ (روح البیان)

وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا: یعنی دې بتانو او باباګانو ❁ او مشرکانو مشرانو ډیر خلق ګمراه کړل۔

كَثِيرًا: نه معلومه شوه چه په ټول عالَم کښې د بتانو شرك په هره زمانه کښې زیات راروان دې۔ اُوس هم فکر وکړه ټوله دنیا کښې دا قسم شرك زیات دې، هندوان، چینیان، روسیان، او اکثر یورپ والا او استریلیا او افریقه وغیره کښې بت پرستی زیاته ده۔

وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا: یعنی اے ربه ! دا ظالمان نور هم ګمراه کړه۔ او دا ښیرې ئے ورته د الله تعالیٰ په امر باندې کړې وې ځکه چه ډیر سخت عنادیان ضدیان وو۔

ضَلَالٌ: دلته خذلان (شرمولو) او استدراج ته وائی۔

یعنی ښئ ئے ګمراه کړه چه دوی ګمان کوی چه مونږ په نیکئ روان یو، اُوګوره الله نعمتونه راکوی او په مینځ کښې ئے تۀ هلاکوې۔ نو دا دعاء الله تعالیٰ قبوله کړه لکه روستو آیت کښې راځی۔

ضَلَالًا: ددې نه معنیٰ معلومه شوه چه لکه څنګه چه په ایمان کښې زیادت راځی نو په ګمراهئ او کفر کښې هم زیاتې راځی۔

یا د ضلال نه مراد خسران (تاوان) دې۔

مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا
د وجې د ګناهونو د دوی نه غرق کړې شو دوی نو داخل کړې شول اُور ته
فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْصَارًا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ نُوحٌ
نو مونده نکړو دوی د ځانونو دپاره سویٰ الله نه مددګاران۔ او ویل نوح علیه السلام

رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾
اے ربه زما ! مهٔ پریده په زمکه باندے د کافرانو نه هیڅ آباد کور. (هیڅ گرزیدونکے)
إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ
یقیناً تهٔ که چرے پریدے دوی لره گمراه به کړی بندگان ستا
وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَبِّ اغْفِرْ لِي
او نهٔ زیگوی دوی مگر بدکاره لوئی کافر. اے ربه زما ! بخنه اُوکړه ما ته
وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا
او مور او پلار زما ته او هغه چا ته چه داخل شی کور زما ته ایماندار
وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾
او ټولو مؤمنانو سړو او مؤمنو ښځو ته او مهٔ زیاتوه ظالمانو لره مگر تباهی.

تفسیر : الله تعالیٰ د نوح علیه السلام دعاء قبوله کړه، او ددهٔ قوم ئے د طوفان په ذریعه هلاك کړو. او د دوئ دا انجام د دوئ د هغه گناهونو په سبب شو چه د هغے د بد انجام نه دوئ نوح علیه السلام ویرولی وو، لیکن دوئ د هغهٔ خبره نهٔ وه منلے، نو د الله عذاب دوئ را گیر کړل، او ټول د سیلمے هلاك کړے شول، او همیشه لپاره جهنم ته اورسیدل، او د الله د عذاب نه دوئ هیچا بچ نهٔ کړے شول.

مِمَّا: دے کښې مِنْ اجلیه دے او مَا زیاتی ده. یعنی دوی ددے هلاکت مستحق د گناهونو په وجه شو.

فَأُدْخِلُوا: یعنی د غرقیدو سره سمدست اُور ته ورسیدل.

فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم: پدے کښې تعریض دے په دغه مشرکانو چه دوی کوم پنځه معبودان (بتان) د خپل مدد دپاره نیولی وو نو هغوی ورسره هیڅ مدد ونکړو او همدغسے نامراده لاړل.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ: اُوس پدے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د نوح علیه السلام هغه دعاء ذکر کړے ده چه د هغے په سبب طوفان راغے، او تمام کافران هلاك شول.

گناهونه ئے مخکښې ذکر کړل د هغوی د شرك سره یو ځای، او سبب د هلاکت مخکښې ذکر شو نو اُوس ښیرے ذکر کیږی۔
هغهٔ ووئیل : اے زما ربه ! اُوس په اُوچه زمکه باندے هیڅ یو کافر هم پرے نهٔ دے، ځکه چه که تهٔ دوئ پریدے نو دوئ به ستا بندګان ګمراه کړی، او دوئ به د توحید د لارے نه واړوی او د شرك په لاره به ئے روان کړی، او د دوئ په نسل کښې هم کافران او فاجران خلق پیدا کیږی۔
نوح علیه السلام دا خبره په خپل قوم باندے د اُوږدے تجربے نه پس کړے وه، هغهٔ ته د دوئ د اخلاقو او کردار پوره پته وه، او یقین ئے راغلے وو چه اُوس دا قوم هیڅ کله نهٔ سمیږی، او نهٔ د دوئ په نسل کښې ښهٔ خلق پیدا کیږی۔ دے وجے نه الله تعالیٰ د هغهٔ دعاء قبوله کړه او تمام کافران ئے هلاك کړل، او نوح علیه السلام او د هغهٔ مومنانو ملګرو له ئے نجات ورکړو۔
او دغسے د الله تعالیٰ دپاره غیرتی دعاء موسیٰ علیه السلام هم کړے وه کله چه د فرعونیانو د ایمان نه نا امیده شو۔
دَیَّاراً : اَیْ اَحَدًا یَدُوْرُ۔ هیڅ یو تن چه ګرځی۔
وَلَا یَلِدُوا : یعنی د دوی اولاد چه پیدا کیږی پدے نهه نیم سوه کالو کښې نو هغه هم کافر کیږی، او اُوسه پورے یو هم پکښې ایمان رانهٔ وړو۔
مفسرین لیکی چه یوه ورځ د یو سړی په غیږ کښې یو ماشوم وو نو پلار ئے دغه ماشوم ته ووئیل چه دا روان سړے زمونږ د پلارانو نیکونو د دین مخالف دے، نو هغه ماشوم ووئیل چه ما کوز کړه، هغه ئے چه کوز کړو نو هغه کاڼی راواخستل او نوح علیه السلام ئے پرے ویشتلو۔ انا لله وانا الیه راجعون ولا حول ولا قوة الا بالله العظیم۔
سوال : اولاد د هغوی خو ګناهګار نهٔ وو نو هغوی ولے غرق شول ؟
جواب : د هغوی غرق کیدل د هغوی دپاره عذاب نهٔ وو بلکه د هغوی د مرګ دپاره یو سبب وو لکه چه په نورو اسبابو سره الله تعالیٰ په هغوی باندے مرګ راولی، آؤ هلاك کیدل د اولاد زیادت د عذاب وو د مور او پلار دپاره چه د هغوی په وړاندے ئے اولاد غرق شول، نو د هغوی زړونو ته ښه درد اُورسیدو۔
رَبِّ اغْفِرْ لِیْ : کافرانو ته د ښیرو کولو نه پس نوح علیه السلام په آخر کښې خپل ځان له، خپل مور پلار لپاره، او هغه تمامو نارینه او زنانه مومنانو لپاره د مغفرت دعاء وغوښته

چه هغوئ د دهٔ په كور كښې داخل شي۔
او د آيت په آخر كښې ئے بيا كافرانو ته ښيرے وكړے او وے وئيل چه اے الله ! تهٔ د ظالمانو او كافرانو هلاكت او بربادي او نقصان او خساره نوره هم زياته كړه۔
امام شوكانيؒ ليكي چه د نوح عليه السلام ښيرے قيامته پورے هر كس ته شاملے دي، لكه څنګه چه د هغهٔ دا نيكه دعاء قيامته پورے راتلونكي نارينه او زنانه مومنانو ته شامله ده۔ نو دا ډيره مفيده دعاء ده چه الله ئے قبلوي، او دا زيرے دے د ټولو مؤمنانو او زمونږ دپاره چه مونږ كښې كله ايمان وي۔
او د ايمان يوه فائده دا هم ده چه مستجاب الدعوة پيغمبران به درته دعاء كوي۔
اغْفِرْ لِيْ: ځان ته د مغفرت دعاء كول ګناه لره مستلزم نهٔ دي بلكه پدے كښې د الله په حق د عبديت كښې د قصور اقرار دے دپاره د تضرع۔
وَلِوَالِدَيَّ: مفسرينو ليكلي دي چه د نوح عليه السلام په پلارانو كښې تر آدم عليه السلام پورے هيڅوك كافر نهٔ وو۔ د پلار نوم ئے لامك يا لمك بن متوشلخ وو او مور ئے شمخا بنت انوش وه۔
وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ: دے بيت كښې ډير احتماله دي: كور د نوح عليه السلام، مسجد د هغهٔ، كشتئ د هغهٔ، دين د هغهٔ او دا ټول صحيح دي۔
مؤمنًا كښې اشاره ده چه صرف داخليدل كافي نهٔ دي بلكه چه په حالت د ايمان كښې وي نو پدے سره د هغه يو ځوی (كنعان) او د هغه ښځه ددے دعاء نه بهر دي ځكه چه هغوی مؤمنان نهٔ وو۔
وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ: مخكښې خاص ښيرے وے د هغه قوم ته اُوس عامے ښيرے دي ټولو كافرانو مشركانو ته په هره زمانه كښې۔
تَبَارًا: هلاكت او تاوان۔ وبالله التوفيق۔

امتيازات د سورت

۱- دے سورت كښې د نوح عليه السلام پوره واقعه۔
۲- او پنځه پنځه خبرے۔
۳- او د دعوت طريقے۔ ختم شو تفسير د سورة نوح۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آياتها (۲۸)	(۷۲) سُوْرَةُ الْجِنِّ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (۲)

سورة الجن مكى دے، په دے كښې اتيشت آيتونه او دوه ركوع دى

تفسير سورة الجن

نوم : (۱) په اولنى آيت كښې [جِنّ] لفظ راغلے۔ دارنګه په دے سورت كښې د ايمان د ستائنے او د كفر د بدئ په باره كښې د پيريانو تفصيلى خبرے راغلى، دے وجے نه ددے نوم [سورة الجن] كيښودے شو۔ (۲) او دے ته سُوْرتِ قُلْ اُوْحِيَ هم وائى۔

د نازليدو زمانه : قرطبىؒ ليكلى دى چه دا سورت د ټولو په نيز مكى دے۔ ابن مردويهؒ او بيهقىؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت كړى دى چه سورة الجن په مكه كښې نازل شوے۔ ابن مردويهؒ د عائشے او عبد الله بن زبير رضى الله عنهم نه هم دا روايت نقل كړے۔ د سورتِ احقاف د (۲۹) آيت نه تر (۳۲) آيتونو پورے الله تعالىٰ بيان كړى دى چه د پيريانو يوے ډلے نبى كريم ﷺ ته د قرآن آوريدو دپاره غوږ كيښودۀ، او د هغۀ د تلاوت نه متاثره شول او اسلام ئے قبول كړو، او خپل قوم خواته واپس لاړل او د هغوئ مخے ته ئے د اسلام دعوت پيش كړو۔

مناسبت :

۱- مخكښې سورت كښې په توحيد او انذار باندے دليل نقلى د نوح عليه السلام نه بيان شو نو پدے سورت كښې دليل نقلى د جناتو نه راوړى په توحيد او رسالت باندے۔ چه دا حق پيريان هم منى۔

۲- په مخكښې سورت كښې هم د توحيد بيان او رد د شرك وشو نو دلته هم رد د شرك دے په بيل انداز سره۔ ﴿قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْ رَبِّىْ﴾

۳- مخکښې سورت کښې تشجیع او تیزی په دعوت باندے په واقعه د نوح ﷺ سره نو دلته تشجیع او تیزی ده په دعوت باندے په واقعه د پیریانو سره۔

د سورت مقصود

۱- اَلدَّلِیْلُ النَّقْلِیُّ مِنَ الْجِنِّ عَلٰی صِدْقِ الرَّسُوْلِ ﷺ۔

یعنی د رسول الله ﷺ او د هغهٔ د دعوت په رشتینوالی باندے د جناتو نه دلیل نقلی۔

یعنی د رسول الله ﷺ په ټولو خبرو باندے پیریانو تصدیق کړیدے، نو دلیل دے چه د هغهٔ ټولے خبرے حقے دی۔

د رسول الله ﷺ یو دعوت دا دے چه قرآن حق کتاب دے۔

بل دا دے چه شرك مهٔ کوئ۔ بل دا چه آخرت شته۔

۲- یا رد د شرك دے په واقعه د جناتو سره، او دلیل وحیی سره د نبی کریم ﷺ نه، او پدے کښې رد د شرك دے عموماً، او خصوصًا رد دے په اتخاذ الولد او په شرك فی العلم او فی الدعاء او فی التصرف او فی الاستعاذه۔ (احسن الکلام)۔

په سورت کښې ټول د پیریانو بیان دے او په مینځ کښې د رسول الله ﷺ لږ شان بیان دے۔

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ
تهٔ اُووایه ! وحی کړے شویده ما ته چه یقیناً غوږ ایښے دے څه کسانو د پیریانو نه
فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ﴿۱﴾
نو اُووئیل دوی یقینا مونږ آوریدلے دے قرآن ناشنا۔

تفسیر: شان نزول

رسول الله ﷺ په مکه کښې دعوت وکړو لیکن مشرکانو ونهٔ منلو، نو هغه بهر ته لاړو لکه دا واقعه امام احمدؒ، بخاریؒ، مسلمؒ او ترمذیؒ او داسے نورو د ابن عباس ﷛ نه روایت کړیده چه نبی کریم ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین د یوے ډلے سره د عُکاظ میلې طرفته روان شو (چه دا طائف ته نزدے یو بازار دے) هغه وخت شیطانان په پټه باندے د آسمان خبر آوریدو ته د غوږ کیښودو نه منع شوی وو، او ددے خبرے

کوشش کونکی شیطانان به په شغلو سره ویشتلے کیدل۔
کله چه شیطانان نا مراده واپس راغلل، نو د دوئ ملګرو د دوئ نه تپوس اوکړو چه قصه څۀ ده ؟ نو هغوئ ووئیل چه اُوس مونږه د آسمان د خبر آوریدو نه په قطعی توګه منع شوی یو، او مونږ په بلو لمبو سره ویشتلے کیږو۔ شیطانانو ووئیل : خامخا څۀ نوے خبره راغلے ده چه د هغې په وجه مونږ د آسمان د خبرو آوریدو نه منع شوی یو۔ دے وجے نه تاسو په مشرق او مغرب کښې هر طرفته لاړ شئ او حقیقتِ حال معلوم کړئ۔
چنانچه کوم شیطانان چه تهامه طرفته لاړل، هغوئ د رسول الله ﷺ خواته وادئ نخله ته اُورسیدل۔ نبی ﷺ د عکاظ بازار ته تلل غوښتل، او دغه وخت ئے صحابه کرامؓ سره د صبا مونځ کولو۔ پیریانو د هغۀ تلاوت په غور سره د آوریدو نه پس اوو ئیل چه همدا هغه قرآن دے چه هغۀ اوس مونږه د آسمان د خبرونو آوریدو نه منع کړی یو، او هغوئ مسلمانان شول۔ کله چه دا پیریان خپل قوم خواته راغلل، نو هغوئ ته ئے ووئیل :
(يَا قَوْمَنَا : اِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِىْ اِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهٖ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا اَحَدًا)
اے زمونږه قومه ! مونږ یو عجیب قرآن آوریدلے چه هغه نیغه لاره ښائی، دے وجے نه مونږ په دے ایمان راوړو، او اوس مونږ د خپل رب سره هیڅوك شریك نۀ جوړوو۔ په دے موقعه الله تعالیٰ په خپل نبی ﷺ باندے ﴿قُلْ اُوْحِىَ اِلَىَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ﴾ نازل کړو۔
او رسول الله ﷺ لا تر اُوسه د دوی د حال نه خبر نۀ دے تردے چه قرآن کښې د هغوی ایمان او د هغوی دعوت خپل قوم ته نازل شو۔ نو نبی کریم ﷺ بیا خپل قوم ته بیان کړه۔ او د پیریانو بیان ډیر مزیدار دے پدے وجه الله تعالیٰ د امت دپاره رانقل کړیدے۔
او دا د ابتداء زمانے خبره ده، بیا روستو زمانه کښې به پیریان راتلل او د رسول الله ﷺ سره به ملاویدل او د هغۀ نه به ئے د مسئلو تپوسونه کول، او کله به ئے هغه تقریرونو له بوتللو۔ او کله به ئے ترے څیزونه غوښتل۔ خو پدے موقعه ورسره نۀ وو ملاؤ شوے۔
ملاعلی القاریؒ په مرقات کښې لیکلی دی چه د جناتو واقعه شپږ کرته راغلے ده، بعض په مکه کښې، او بعض په بطن نخله کښې، او بعض په مدینه کښې، دوه کرته ورسره ابن مسعود ﷺ وو او څلور کرته ورسره نۀ وو۔
جنات د مسلمانانو او د ټولو حقو شرائعو والو په نیز موجود دی، او مکلف مخلوق

دے، او یو هوائی مخلوق دے چه په سترګو نهٔ ښکاره کیږی، مګر هله چه د یو شی په شکل راشی، او الله ورله طاقتونه ورکړیدی۔

فلاسفه او معتزله د پیریانو نه انکار کوی او دے زمانه کښې ترے دهریه خلق منکر دی، ځوك چه پیریان نهٔ منی نو دے د هیڅ حقیقت نه خبر نهٔ دے۔

د پیریانو وجود د الله تعالیٰ د وجود دلیل دے۔

قُلْ اُوْحِیَ: دا دلیل دے چه نبی کریم ﷺ د قرآن د آوریدو په وخت کښې دا پیریان نهٔ وو لیدلی، او نهٔ د هغوی نه خبر وو بلکه الله تعالیٰ ورته روستو په وحی سره خبر ورکړو، نو دا دلیل دے چه رسول الله ﷺ په غیبو نهٔ پوهیدو مګر که وحی به ورته وشوه۔

نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ : دا جنات د نینویٰ علاقے وو اوه کسان وو یا نهه وو۔

بعض وائی چه درے تنه د اهل حران او څلور د اهل نصیبین وو۔

ماوردیؒ وغیره ددے واقعے ډیر فوائد ذکر کړیدی لکه :

۱ - په ظاهره کښې پیریانو د نبی ﷺ د ژبے نه قرآن آوریدو سره سَم اسلام قبول کړے وو۔

۲ - نبی کریم ﷺ د انسانانو غونته پیریانو لپاره هم رسول جوړ شوے او رالیږل شوے وو۔

۳ - قریشو ته وئیلی شوی دی چه پیریانو قرآن واوریدهٔ او ددے د معجزانه شان اقرار ئے اوکړو، او په رسول کریم ﷺ باندے ئے فوراً ایمان راوړو۔ یعنی پیریان سره د سرکشئ نه د قرآن په وجه ایمان ته مجبوره شول۔

٤ - د انسانانو غونته پیریان هم د احکامِ شرعیه ؤ مکلف (پابند) دی۔

٥ - پیریان زمونږ خبرے آوری، او زمونږه ژبے پیژنی۔

نَفَرٌ : دا اسم جمع ده د دریو نه تر لسو پورے کسانو دپاره استعمالیږی۔

فَقَالُوا: یعنی هغوی خپل قوم ته وویل کله چه واپس شول۔

قُرْآناً: دلته مصدر دے یعنی قِرَاءَةً جَامِعَةً۔ یعنی مونږ جامع لوستل واوریدل۔

یا قرآن په خپله معنیٰ دے، او دوی د قرآن نوم هم زده کړو۔

یا دا چه د مخکنو آسمانی کتابونو د علم په سبب ئے د قرآن نوم پیژندلو لکه سورة احقاف (۳۰) آیت کښې دی : ﴿ اِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا اُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوْسٰی﴾۔

عَجَباً: قرآن د اعلیٰ درجے فصاحت او بلاغت او ډیر علم او ژور والی د معانیو په وجه ناشنا کتاب دے۔

❁ یا نصیحتونه ئے ډیر ناشنا دی۔

❁ یا ناشنا کتاب پدے وجه سره دے چه پدے کښې ناشنا مسئله د توحید وه چه دوی په دغه زمانه کښې د یهودیانو او نصارا او نه نۀ وه آوریدلے لکه مشرکانو هم ورته ﴿ لَشَیْءٌ عُجَابٌ ﴾ وئیلے وو په سورة ص (٥) آیت کښې۔

يَهْدِىٓ إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهٖ وَلَنْ نُّشْرِكَ
هدایت کوی کامیابئ ته نو ایمان راوړو مونږ په دے، او هیچرے برخه دار نۀ جوړه وو
بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾ وَأَنَّهٗ تَعَالٰى جَدُّ رَبِّنَا
مونږ د رب خپل سره هیڅوك۔ او یقیناً اُوچت دے شان د رب زمونږ،
مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ﴿٣﴾ وَأَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ
نۀ ئے دے نیولے ښځه او نۀ بچے۔ او یقیناً وئیل به بیوقوف زمونږ نه په الله باندے
شَطَطًا ﴿٤﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْإِنْسُ
د حد نه زیاته خبره۔ او یقیناً مونږ گمان کوو چه هیڅکله به نۀ وائی انسانان
وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿٥﴾ وَأَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنْسِ يَعُوْذُوْنَ
او پیریان په الله باندے دروغ۔ او یقیناً وو سړی د انسانانو نه پناهی به ئے طلب کوله
بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾
په سړو د پیریانو نو زیاته ئے کړه دوی لره سرکشي۔

تفسیر: کله چه الله تعالیٰ پیریانو له (د قرآن آوریدو نه پس) د توحید او ایمان توفیق ورکړو، او د ایمان راوړو نه مخکښې چه د توحید د عقیدے خلاف په کومو غلطیو کښې پراتۀ وو، د هغے احساس ورته اوشو،

او ورته معلومه شوه چه الله تعالیٰ د خپل هیځ یو مخلوق سره مشابه نۀ دے، او نۀ د

هغهٔ څهٔ ښځه شته او نهٔ اولاد، نو د الله تعالیٰ پاکی او عظمت ئے بیان کړو،
او وے وئیل چه زمونږ رب عظمت او لویئ والا دے، هم هغه د ټولو رشتینے پالونکے دے، او تمام پاکیزه نومونه هم هغهٔ لپاره دی، هغهٔ ځانله نهٔ څهٔ ښځه نیولے، ځکه چه د ښځے محتاج کمزور او عاجز انسان وی، دے دپاره چه په خپل بدن کښ را پورته کیدونکے شهوت د هغے سره د جوختیدو په ذریعه پوره کړے شی، او نهٔ د هغهٔ څوك اولاد شته، ځکه اولاد د ښځے او خاوند د ملاویدو په نتیجه کښ پیدا کیږی، او د الله تعالیٰ هیڅ ښځه نشته۔
يَهْدِیْٓ اِلَى الرُّشْدِ : یعنی لاره ښائی د کامیابئ خبروته۔ رُشد هغه هدایت ته وائی چه سړے پکښ کامیابئ ته ورسیږی۔
په بل تعبیر: رشد هغه حق دے چه په عمل کولو کښ مقصد ته رسیدل او کامیابی وی۔ یا لاره ښائی د پوهے او عقل خبروته۔
د رشد نه مراد حق، کامیابی، ایمان، او د الله معرفت او توحید دے۔
وَلَنْ نُّشْرِكَ: دے نه معلومیږی چه دا پیریان مشرکان وو۔
بعض وائی : دوی یهودیان وو، او بعض وائی نصاراؤ وو، او ځینی وائی چه دوی مجوسیان او مشرکان وو۔
او دا دلیل دے چه دوی د قرآن په مقصد پوهه شو چه د هدایت او د قرآن مقصد دا دے چه بنده د شرکیاتو نه لاس واخلی او یواځے د الله بندګی وکړی۔
وَاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا : (۱) دا یا د (اُوْحِیَ اِلَیَّ) لاندے دے، نو دا به بیا د رسول الله ﷺ وینا شی۔ یعنی ما ته دا وحی هم شویده چه زمونږ د رب شان دیر لوی دے۔
(۲) ظاهر دا ده چه دا د آمَنَّا بِهٖ د لاندے دے۔ او دا هم د پیریانو خبره ده۔ اَیْ آمَنَّا بِاَنَّهٗ تَعَالٰی۔ یعنی زمونږ پدے هم ایمان دے چه زمونږ د رب شان ډیر اُوچت دے۔
جد په معنیٰ د عظمت او شان او جلال سره دے۔
كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا : ددے نه مراد ابلیس او د پیریانو مشران دی چه دوی ته به ئے د شرك دعوت ورکولو۔ مطلب دا چه په مونږ کښ کومو ناپوهه کسانو به مونږ ګمراه کولو، هغوئ به د یهودو او نصاریٰ او مشرکانو خبره منله او د الله تعالیٰ په باره کښ به ئے دا دروغژنه خبره کوله چه د هغهٔ ښځه او اولاد شته دے۔

او د نبی کریم ﷺ په ژبه د قرآن د آوریدو نه مخکښې پورې مونږ همدا ګنړله چه پیریان او انسانان به د الله په باره کښې دروغ نهٔ وائی۔

شَطَطاً: په اصل کښې بُعد (لرې والی) ته وئیلې کیږی، نو کومه خبره چه د صدق او د عدل نه لرې وی هغې ته شطط وئیلې کیږی، نو عدوان او دروغ او ظلم او د حد نه تیریدو ته شامل دے۔ یعنی د حد نه تیروتې خبره۔ چه هغه نسبت د ولد او شریك دے هغۀ ته۔

او ددے نه دا هم معلومه شوه چه څوك د قرآن کریم علم حاصل کړی نو هغۀ ته د مخلوق حقیقت معلوم شی چه سفیه دے او که رشید۔

أَن لَّن تَقُولَ الْإِنسُ: ددے خلقو ذهن خالی او پاك وو چه پیریان او انسانان به په الله باندې دروغ نهٔ وائی، لکه د بعض عوامو ذهن صفا وی نو هغوی وائی چه ملا ولې په الله دروغ ووائی، او ولې ملا ګنې قرآن نهٔ دے وئیلې، ولې هغه ګنې د آخرت نه نهٔ یریږی۔ د هغۀ خپله زړه صفا وی نو د هغۀ دا ګمان وی چه ټول به دغسې وی، او دے ته نهٔ ګوری چه په ملیانو کښې هم لوی ګمراهان شته۔

د کذب نه مراد نسبت د شریکانو او د ولد او صاحبې الله تعالیٰ ته دے، یعنی زمونږ دا ګمان وو چه نسبت د شریکانو به الله تعالیٰ ته صحیح وی، او الله به پدے شرك کښې اجازه ورکړې وی، او خلق به دروغ نهٔ وائی خو چه مونږ ته پته ولګیده چه دا خو به انسانانو او پیریانو په الله باندې دروغ وئیلې۔

او دا هم دلیل دے چه د قرآن کریم د علم نه بغیر انسان ته هر څوك حق پرست او رشتینې ښکاره کیږی او د حق او د باطل تمییز نشی کولې، او دا مرتبه د تقلید جامد ده۔

رَهَقاً: طغیان (سرکشی) او جرأت ته وائی۔ پدے کښې رد دے په شرك فی الاستعاذه باندې چه مخکښې به انسانانو د پیریانو نه پناهی طلب کوله۔

په جاهلیت زمانه کښې به چه د یو تن په یوه صحراء کښې شپه راغله نو هلته به ئې داسې ووئیل: (اَعُوْذُ بِسَیِّدِ هٰذَا الْوَادِیْ مِنْ سُفَهَاءِ قَوْمِهٖ) زۀ ددے علاقې په سردار باندې پناهی غواړم چه د هغه د قوم کم عقلان ما ته ضرر را کړی۔

نو پدے کښې به مشران پیریان راولګیدل او نورو ته به ئې ووئیل چه دۀ ته څه مۀ وایئ دا زما ګاونډی دے، نو هغۀ به په امن کښې شپه تیره کړه۔ نو ددے په وجه د پیریانو ځان ته طمعه پیدا شوه چه مونږ نه خو انسانان یریږی، او مونږ پورې پناهی غواړی۔ (ابن جریرؒ

وابن مردویۃ عن ابن عباس ﷺ)

یو صحابی (عکرمه بن ابی السائب انصاری ﷺ) وائی چه زهٔ د پلار سره مدینے طرفته په یو حاجت کښې روان وم او دا اول هغه دور وو چه د رسول الله ﷺ په مکه کښې خبره ښکاره شوے وه، نو په مونږ باندے شپه راغله نو مونږ د ګډو بزو یو شپونکی خوا ته ورغلو نو کله چه نیمه شپه شوه، یو شرمخ راغے او د ګډو بزو نه ئے یو بچے وتښتولو نو شپونکی ټوپ کړو او دا ئے وویل : (یَا عَامِرَ الْوَادِیْ اَنَا جَارُكَ)

اے ددے علاقے آبادونکے (مشره) ! زهٔ ستا ګاونډی یم۔ (زما حفاظت وکړه) نو پدے کښې یو آواز کونکی آواز وکړو : (یَا سَرْحَانُ اَرْسِلْهُ)

اے سرحانه ! دا پریده۔ نو بچے په منډه راغے او په ګډو بیزو کښې ننوتو، او الله تعالیٰ په خپل رسول باندے (وَاَنَّهٗ کَانَ رِجَالٌ) الآیة نازل کړو۔ دا پیریانو تښتولے وه۔

(المعجم الکبیر للطبرانی ۱۵۷۶۲) معجم الصحابة (۲۰۲۹) وفیه عبد الرحمن بن اسحاق الکوفی ضعیف)

بعض اهل علم ددے صحابی نوم کردم بن ابی السائب ﷺ ذکر کوی۔

مقاتل بن حیانؒ وائی : په پیریانو پورے اول پناهی د یمن والو نه یو قوم غوختله، بیا بنو حنیفه ؤ، بیا دا په عربو کښې خوره شوه۔ چه کله به کوم سړی په کومه کنده کښې پړاؤ اچولو نو وئیل به ئے : زهٔ ددے کندے د سردار په ذریعه پناه غواړم۔ خو کله چه اسلام راغے نو خلقو به د الله په ذریعه پناه غوښتله، او پیریان ئے پریښودل۔ (فتح البیان)

او عامو اوقاتو کښې هم خلق د پیریانو نه مددونه غواړی او په هغوی باندے کارونه کوی، او کارونه ورته سپاری هم، تعویذ ګر خلق په تعویذونو کښې ایاها او شراحا باندے پناهی حاصلوی، د شیطانانو او پیریانو نومونه پکښې لیکی، او د هغوی نه پناهی طلب کوی او مددونه ترے غواړی او پدے باندے ځانله صحتونه کوی۔

امام مسلمؒ په (کتاب الذکر والدعاء) کښې د خوله بنت حکیم رضی الله عنها روایت نقل کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائی :

[مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا ثُمَّ قَالَ : أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ یَضُرَّهٗ شَیْءٌ حَتّٰی یَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهٖ ذٰلِكَ]

کوم کس چه په کوم ځی کښې پړاؤ واچوی بیا داسے ووائی : ﴿ أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴾ (زهٔ د الله د کلماتِ تامه په ذریعه د هغهٔ د مخلوق د شر نه پناه غواړم)۔ نو دهٔ ته به هیڅ شے نقصان ورنهٔ کړی، تردے چه دا د هغهٔ ځی نه لاړ شی۔ (مسلم : ۷۰۵۳)
ددے حدیث نه د پورتنی آیتِ کریمه په تفسیر باندے رنړا چولے کیږی چه د پیریانو په ذریعه د انسانانو پناه غوښتل شرك دے۔

فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا: فاعل ضمیر انسانانو ته راجع دے او مفعول ضمیر پیریانو ته۔ یعنی زیات کړو انسانانو پیریانو لره سرکشی۔ نو د پیریانو سردارانو وویل : سُدْنَا الْاِنْسَ وَالْجِنَّ۔ مونږ د انسانانو او د پیریانو دواړو مشران جوړ شولو۔ پدے باندے خوشحاله شو۔ یا دواړه ضمیرونه برعکس راجع دی۔

او ابن کثیرؒ وائی چه رهق جرأت ته هم وائی، یعنی اول به پیریان د انسانانو نه یریدل، بیا چه کله دوی ترے پناهی طلب کړه نو پیریان زړه ور شو چه دوی خو مونږ نه یریږی۔ اوله معنیٰ ظاهره ده۔

وَاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ
او یقیناً دوی گمان کوو لکه څنګه چه گمان کوئ تاسو چه هیچرے به راونهٔ لیږی
اللّٰهُ اَحَدًا ﴿۷﴾ وَّاَنَّا لَمَسْنَا
الله هیڅوك۔ (الله به دوباره ژوندے نهٔ کړی هیچا لره)۔ او یقیناً مونږ مسه کړو
السَّمَآءَ فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿۸﴾
آسمان نو اُوموندو مونږ دا چه ډك شوے وو د څوکیدارانو سختو او شغلو نه۔
وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ
او یقیناً مونږ به کیناستو د هغے نه په ځائے د کیناستو دپاره د غوږ کیخودو
فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿۹﴾
نو څوك چه غوږ کیدی اُوس مونده به کړی ځان لره شغله (لمبه) تیاره۔

تفسیر : وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا: (۱) یعنی دے پیریانو خپل قوم ته دا هم اُووئیل چه انسانان هم ستاسو پشان په دے گمان کښې مبتلا وو چه الله تعالیٰ خلقو ته د توحید د دعوت

ورکولو او هغویٔ د شرك نه د ویرولو لپاره هیڅ یو کس خپل رسول نهٔ رالیږی۔
(۲) د آیت دویمه معنیٰ دا کیدے شی چه انسانان هم ستاسو پشان په دے گمان کښ اخته وو چه الله تعالیٰ به هیڅ یو کس ژوندے نهٔ کړی د قیامت په ورځ۔
لیکن د قرآن په آوریدو سره دا ظن باطل ښکاره شو۔ عربو ته رسالت ډیر ناشنا ښکاره کیدو، دا وجه ده چه چا به د رسالت دعوه هم نهٔ کوله۔ دے خبرے ته د چا فکر نهٔ وو۔ اول احتمال غوره دے، د سیاق مناسب دے۔
وَاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ: دا هم د پیریانو اقوال دی، درے جملے دی، په اوله کښ د دوی حال ذکر دے په وخت د نزول د قرآن کریم کښ، او په دویمه کښ د دوی حال ذکر دے مخکښ د نزول د قرآن نه، او دریمه جمله د اولے جملے سره متعلق ده۔
یعنی هغویٔ دا هم وویل چه مونږ آسمان ته نزدے شو او د ملائکو خبرے مو آوریدل وغوښتل، نو هغه مو ډیرو زیاتو ساتونکو قوی ملائکو نه ډك اوموندلو، او د لمبو سره مخامخ شو۔ او مونږ به مخکښ په خپلو خاصو ځایونو کښ کیناستو او د ملائکو د خبرو آوریدو کوشش به مو کولو،
لیکن اُوس حال دا دے چه څوك په پټه باندے آوریدل غواړی، هغه به د لمبو سره مخامخ کیږی کومے چه ددهٔ د سوزولو دپاره تیارے شوی دی۔
لَمَسْنَا: د التماس نه دے په معنیٰ د طلب د خبر په سبب د مخکنی عادت سره۔
یا لمس او مس په یوه معنیٰ دے گوتے وروړلو ته وئیلے شی، او څوك چه یو شی له گوتے وروړل غواړی نو هغه ئے طلب کوی نو پدے کښ معنیٰ د طلب پرته ده۔
حَرَسًا: جمع د حارس ده، څوکیدارو ته وائی۔ مراد ترے نه جماعت د ملائك دے چه ډیر قوی وی چه هغوی آسمان د شیطانانو د غوږ کیخودو نه ساتی۔
یا حرس مفرد دے په معنیٰ د جمع سره، نو پدے وجه ئے شَدِیْدًا صفت مفرد راوړو۔
وَشُهُبًا: جمع د شهاب ده، هغه شعله او لمبه چه د ستوری د اُور نه راختسے شوی وی۔
وَاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ: یعنی مونږ به د ملائکو د خبرو د آوریدو دپاره په خاصو ځایونو کښ کیناستو، نو ملائکو به مونږ ته څه نهٔ وئیل،
لیکن کله چه الله تعالیٰ خپل نبی مبعوث کړو نو بیا به شیطانان ډیر ویشتلے کیدل، دے دپاره چه د ملائکو خبرے وانهٔ وری او د کاهنانو او د رسول په خبره کښ فرق راشی۔

ځکه چه کاهن د شیطانانو په واسطه خبره کوي، او رسول الله ﷺ د جبریل علیه السلام په واسطه حقه خبره کوي، نو بیا به التباس راشي نو الله تعالیٰ د کاهنانو لاره بنده کړه۔

فَمَنْ یَسْتَمِعِ الْاٰنَ : اَیْ بَعْدَ مَا جَاءَ الرَّسُوْلُ ۔ یعنی اُوس چه کله رسول راغے او ددے نه روستو څوك ملائكو ته غوږ كيږدي نو تياره لمبه وريورے ونخلي۔

رَّصَدًا: يعنى تياره۔ په انتظار كښ۔

فائده : د علماؤ پدے کښ اختلاف دے چه د قرآن کریم د نزول نه مخکښ د شیطانانو د ویشتلو دپاره څوکیداران ملائك وو او که نهٔ ؟ (۱) یو قول دا دے چه نهٔ وو۔

(۲) مګر غوره دا ده چه مخکښ هم داسے حالت وو لیکن لږ وو، دلیل پرے مخکښ د سورة الملك آیت دے ﴿ وَجَعَلْنَاهَا رُجُوْمًا لِلشَّيَاطِيْنِ ﴾ چه الله ستوری د شیطانانو د ویشتلو دپاره پیدا کړیدی۔ او په وخت د نزول د قرآن کښ دا ویشتل ډیر شول لکه چه لفظ د مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا پرے دليل دے۔

او د عبد الملك بن سابورؒ نه نقل دی چه د عیسیٰ علیه السلام او د محمد ﷺ ترمینځ د فترت زمانه کښ به آسمان ملائکو نهٔ ساتلو خو کله چه محمد ﷺ مبعوث شو نو آسمان وساتلے شو او شیطانان په لمبو ویشتلے شول، او آسمان ته د نزدے کیدو نه منع شول۔ او دغه شان خبره نافع بن جبیرؒ هم کړیده۔

دارنګه اختلاف دے چه آیا پدے زمانه کښ د شیطانانو ویشتل کیږی او که نهٔ ؟ نو د سورة الشعراء د آیتونو (۲۲۲/۲۲۳) نه معلومیږی چه اُوس هم دوی استراق السمع کوی، او اکثر خو په شعله قتل شی یا زخمی شی، او بعض بچ شی، نو د کاهن په غوږ کښ یوه خبره واچوی او هغه ورسره د ځان نه سل خبرے یو ځای کړی لکه دا خبره په صحیح حدیث کښ راغلے ده او مخکښ بار بار ذکر شویده۔

دارنګه د سورة الملك وغیره آیت پرے دلیل دے۔

وَأَنَّا لَا نَدْرِیْ أَشَرٌّ أُرِيْدَ بِمَنْ فِی الْأَرْضِ أَمْ
او یقیناً نهٔ پوهیږو چه آیا د شر اراده شویده په هغه چا چه په زمکه کښ دی یا
أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿۱۰﴾ وَأَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ
اراده کړے په دوی باندے رب د دوی د هدایت۔ او یقیناً بعض زمونږ نه نیکان دی

وَمِنَّا دُونَ ذٰلِكَ كُنَّا طَرَائِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾
او بعض زمونږ نه سوئ دی ددے نه، وو مونږ جماعتونه مختلفو لارو والا۔
وَأَنَّا ظَنَنَّا أَنْ لَّنْ نُّعجِزَ اللهَ فِي الْأَرْضِ
او یقیناً مونږ گمان کولو چه هیچرے به عاجز نکړو مونږ الله لره په زمکه کښں
وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَأَنَّا لَمَّا
او هیچرے به عاجز نۀ کړو هغۀ لره په تختیدو سره۔ او یقیناً مونږ هرکله چه
سَمِعْنَا الْهُدٰی آمَنَّا بِهٖ فَمَنْ يُّؤْمِنْ
واوریدو هدایت نو ایمان راوړو مونږ په هغه باندے نو څوك چه ایمان راوړی
بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾
په رب خپل نو نۀ به یریږی د کموالی (د نیکو) او نۀ د زیاتی نه۔

تفسیر : هر کله چه پیریانو دپاره په پټه باندے د آسمانونو خبرے آوریدل ممکن پاتے نشوے، نو دوئ ته یقین راغے چه الله تعالیٰ به خامخا په زمکه باندے واقع کیدونکے د څۀ لوی حادثے فیصله کړے وی، برابره خبره ده که هغه ښه وی اوکه بده۔ دے وجے نه هغوئ وویل : مونږ نۀ پیژنو چه په زمکه باندے د اوسیدونکو دپاره څۀ بده فیصله شوے ده، یا د دوئ رب خیر طرفته د دوئ لارښوونه کول غوښتلی دی۔

وَأَنَّا لَا نَدْرِیْ: یعنی مخکښں د ملاقات زمونږ نه ددے رسول سره او ددۀ د کلام آوریدو نه، مونږ نۀ پو هیدو چه د شر اراده شویده۔

أَشَرٌّ أُرِيْدَ: مفسرین لیکی : دے مسلمانانو پیریانو د خپل رب دا ښۀ ادب اوکړو چه هغوئ د (شر) نسبت هغۀ طرفته ونۀ کړو، او کله چه د خیر ذکر راغے نو هغه ئے هغۀ طرفته منسوب کړو۔

رَشَدًا: د شر په مقابله کښں ئے رشد راوړو ځکه چه په رُشد کښں د کامیابئ او د هدایت دواړو معنیٰ پرته ده۔ او دا دواړه خیرونه دی۔

وَأَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ : پیریانو د خپل قوم په باره کښں دا خبر ورکړو چه د نبی کریم ﷺ

په ژبه باندے د قرآن کریم آوریدو نه پس په مونږ کښې ځینو ایمان راوړو، او ځینے په کفر باندے باقي پاتے شول۔

دویمه معنیٰ دا بیان شوے ده چه د ایمان راوړو نه پس په مونږ کښې بعضِ نیك او د شریعت پابند مسلمانان دی، او د بعضو ایمان کمزورے او په عمل کښې کوتاه دی۔ او زمونږ ترمینځه د مختلفو مذهبونو او نظریاتو منونکی خلق شته دے۔

صَّالِحُوْنَ : نه مراد مؤمنان او د دُوْنَ ذٰلِكَ نه مراد کافران او مشرکان دی۔ یا صالحون کامل مؤمنان او دُوْنَ نه مراد فاسقان دی۔

طَرَائِقَ : جمع د طریقت ده په معنیٰ د مذهب او مسلك سره، او ددے نه مراد اهل طرائق دی په حذف د مضاف سره، یا طرائق په معنیٰ د طَوَائِف (ډلے) سره دے۔

قِدَدًا: جمع د قِدَةٌ ده، ټکړے ته وئیلے شي، او تفرق (جدا جدا) کیدو ته هم وائی۔

عرب وائی : صَارَ الْقَوْمُ قِدَدًا اَیْ تَفَرَّقَتْ اَحْوَالُهُمْ۔ وګرزیدو قوم قدد یعنی احوال ئے مختلف شول۔ نو دلته معنیٰ ده : ډلے مختلفے۔

او قِدَدًا ئے تاکید د طرائق راوړو پدے کښې اشاره ده چه دا ډلے د یو بل نه منقطع شویدی د وجه د ضد او تعصب نه۔

د سعید بن مسیبؒ وینا ده چه په پیریانو کښې مسلمانان، یهودیان، نصرانیان او مجوسیان ټول شته دے۔ او د حسن بصریؒ وینا ده چه په دوئ کښې د انسانانو په شان قدریه، مُرجئه، خوارج او رافضی شیعه ګان او سنیان هم شته۔

او تر اُوسه پورے په دوی کښې د انسانانو په شان نوے نوے فرقے هم شته۔

ابن کثیرؒ د اعمشؒ نه روایت راوړیدے چه زمونږ خوا ته به یو پیرے راتللو، چه کله به ئے مونږ سره روټئ هم خوړله چه لاس به ئے بښکاره کیدو او نور به نهٔ بښکاره کیدو، نو ما ترے تپوس وکړو چه تاسو کښې ډلے شته ؟ هغه ووئیل : آؤ، تاسو کښې ډیر ناکاره څوك دی ؟ نو هغه ووئیل : روافض (شیعه ګان)۔

نو ددے پیریانو مطلب دادے چه ډیرے ډلے نهٔ دی جوړول پکار بلکه همدغه یو قرآن او حدیث کافی دے، نورو ډلو کښې هیڅ کامیابی نشته۔ دا کلام د دوی د دعوت دپاره ذکر شویدے۔ نهٔ د هسے خبر ورکولو دپاره۔ یعنی د دوی اتحاد به هله راځی چه دوی ټول د حق تابع شی نو پکار ده چه دوی هم حق طلب کړی چه بیا په هغے باندے متفق شی۔

(التحریر والتنویر)

وَأَنَّا ظَنَنَّا: ظن دلته هم په معنیٰ د یقین دے۔ یعني پیریانو دا هم وویل چه اُوس زمونږ یقین راغلے چه الله تعالیٰ په هر شیٔ قادر دے، او مونږ خالص عاجزه اوبے وسه یو، زمونږ تندی د الله په اختیار کښې دی، مونږ په زمکه باندے په هیڅ حال کښې هغهٔ لره عاجزه نشو جوړولے، او د هغهٔ نه هیچرته تښتیدلے نشو۔ نو بیا ولے مونږ ددهٔ طاعت نهٔ کوو، ولے د هغهٔ د نبی تابعداری نهٔ کوو۔ خامخا به ئے طاعت کوو۔

او د علم نه په ظن سره تعبیر کولو کښې خطیب شربینیؒ دا نکته ذکر کړیده چه په علم باندے د ظن اطلاق پدے وجه سره شویدے چه عاقل لره پکار دی چه په څه څیز کښې د ضرر او د نقصان ګمان وی د هغے نه ډِے ځان بچ وساتی۔

وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدَى: د هدی نه مراد قرآن کریم دے۔ ځکه دا د هدایت کتاب دے۔ یعنی او مونږ چه کله هغه قرآن واوریدهٔ کوم چه نیغه لاره ښائی نو زمونږه سمدس یقین راغلے چه دا د الله له اړخه نازل شوے کتاب دے، نو څوك چه په خپل رب ایمان راوړی، د هغهٔ په نیکیو کښې به د قیامت په ورځ هیڅ کمے نهٔ کیږی، بلکه هغهٔ ته به ددے پوره پوره بدله ورکړے کیږی، او د هغهٔ په عملنامه کښې به څهٔ داسے ګناه نهٔ زیاتیږی چه هغه دهٔ په دنیا کښې نهٔ وی کړی۔

فَمَن يُؤْمِن: دا ترغیب دے خلقو ته د ایمان راوړلو۔ چه ایمان کښې ډیرے فائدے دی۔

بَخْسًا وَلَا رَهَقًا: بخس په اجر کښې کمی ته او رهق سپکاوی ته وئیلے شی۔ نو دا دلیل دے چه څوك ایمان نهٔ راوړی نو په عذاب سره به د هغه سپکاوے کولے شی۔

(التحریر)

یا بخس نقصان ته او رهق عدوان او ظلم ته وئیلے شی۔ یعنی ددهٔ په نیکیو کښې به کمے او ددهٔ په ګناهونو کښې به زیاتے نشی کیدے۔

وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ فَمَنْ
او یقیناً بعض زمونږ نه مسلمانان دی، او بعض زمونږ نه ظالمان دی، نو چا چه
أَسْلَمَ فَأُولَٰئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا
اسلام راوړو نو دغه کسانو سوچ کړیدے د هدایت۔ او هرچه ظالمان دی نو دوی به وی

لِجَهَنَّمَ حَطَباً ﴿١٥﴾ وَأَلَّوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ
د جهنم دپاره خشاك (لرګی). او كه چرے دوی روان شوی وے په نیغه لاره باندے
لَأَسْقَيْنَاهُم مَّاءً غَدَقاً ﴿١٦﴾
خامخا څكولے به وو مونږ په دوی باندے اُوبه ډیرے. (غتو څاڅكو والا)
لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَمَن يُعْرِضْ
دے دپاره چه ازمینبت اُوكړو په دوی باندے پدے (اُوبو) كښں او چا چه مخ واړولو
عَن ذِكْرِ رَبِّهِ يَسْلُكْهُ عَذَاباً صَعَداً ﴿١٧﴾
د ذكر د رب خپل نه داخل به كړی دهٔ لره عذاب سخت ته.

تفسیر : پیریانو د خپل قوم كسانو په باره كښں دوباره دا خبره وكړه چه په مونږ كښں ځینے مسلمانان شوی دی، او ځینے اُوسه پورے د اسلام د ښكاره لارے نه لرے دی، دوئ د نبی كریم ﷺ دعوت قبول كړے نهٔ دے.

نـو كـومو خلقو چه اسلام قبول كړو، او خپل ځانئے الله دپاره ښكته كړو، دوئ په هغه لاره روان شو، چه هغه به دوئ جنت او د هغے نعمتونو ته اورسوی. او چا چه كفر اوكړو، هغه به د جهنم خشاك جوړیږی څنګه چه كافر انسانان د جهنم خشاك جوړیږی.

اَلْمُسْلِمُونَ : یعنی د رسول الله ﷺ تابعدار.

تَحَرَّوْا رَشَدًا : تـحـری د یو شی په ډیر فكر او كوشش سره طلب كولو ته وئیلے وشی، او اكثر په خیر كښں استعمالیږی.

ابـن عـاشورؒ وائی : تحری په اصل كښں طلب الحرا ته وائی. او دا هغه شے دے چه لائق ددے وی چه وكړے شی.

لكه عرب وائی : بِالْحَرِيِّ اَنْ تَفْعَلَ. وَاَحْرٰى اَنْ تَفْعَلَ.

لائق ده چه تهٔ وكړے. (معنی دا ده : دوی غوره تالاش كړیدے د هدایت

رشدا : هدایت او حق پرستی. او عظیم خیر یا نجات او ثواب.

اَلْقَاسِطُونَ : دا د قَسْطٌ او قُسُوْطٌ نـه دے د بـاب د ضـرب نه. په معنیٰ د ظلم او د حق نه اوړیدو او باطل طرفته وركګیدو سره دے.

او اَقْسَطَ په معنیٰ د انصاف کولو سره دے۔ نو قاسطون جَائِرُوْن (ظالمانو) ته، او مقسطون : انصاف کونکو ته وئیلے شی۔ (التحریر والقرطبی ولسان العرب)

فائده : زمخشری په کشاف کښ لیکلی دی چه حجاج سعید بن جبیرؒ ته وویل کله ئے چه د هغه د قتل اراده وکړه چه ته زما په باره کښ څه وائے؟ نو هغه وویل : (قَاسِطٌ عَادِلٌ) نو خلقو وویل چه ډیره ښه خبره ئے وکړه۔

د دوی دا خیال وو چه دا د قِسْط نه دے انصاف ته وائی۔ او عادل د عدل نه دے هم انصاف ته وائی۔ خو حجاج وویل : [یَا جَهَلَةُ اِنَّهٗ سَمَّانِیْ ظَالِمًا مُشْرِكًا]

اے جاهلانو ! دهٔ ما ته ظالم او مشرك ووئیلو، بیا ئے دا آیت ولوستلو (وَاَمَّا الْقَاسِطُوْنَ) او بل اول آیت د سورة الانعام ﴿ثُمَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ یَعْدِلُوْنَ﴾۔

کافران د خپل رب سره نور خلق برابروی۔ (یعنی مشرکان دی)۔ (التحریر وغیره)

لِجَهَنَّمَ حَطَبًا : پدے کښ ئے د کافرانو جهنم ته غورزول مشابه کړیدی د غورزولو د لرګو نه اُور ته، پدے کښ د دوی تحقیر او سپکاوی ته اشاره ده۔ یعنی دوی په جهالت کښ د هغه لرګو مشابه دی چه په هغوی کښ هیڅ عقل نشته۔ (التحریر)

سوال وجواب

پیریان خو د اُور نه پیدا دی نو په اُور ورته څنګه عذاب ورکیدے شی؟

جواب : اګرکه د دوی ماده د اُور نه پیدائش دے، لیکن الله تعالیٰ دوی له داسے بدنونه ورکړیدی چه اُور وربانده اثر کولے شی لکه چه انسان د خټے نه پیدا دے لیکن کله چه د خټے ګوزار پرے وکړے شی نو بدن ئے درد کوی۔

(او ما د پیریانو د دمونو د یَو ماهر نه آوریدلی دی چه پیریان په اُور باندے سوزی لیکن د هغوی په سوزیدو او ایره کیدو باندے د انسانانو په نسبت وخت ډیر لګی۔ یعنی پیریان زر نهٔ سوزی –ابوزهیر)۔

او خطیب شربینیؒ جواب کړیدے چه کیدے شی چه الله تعالیٰ په قیامت کښ د دوی بدنونه د غوښے او وینے نه جوړ کړی نو اُور به په هغوی اثر کوی (الله تعالیٰ په هر شی باندے قادر دے)

پدے آیتونو کښ تخویف او بشارت دواړه ذکر شو او تردے ځای پورے د پیریانو کلام

ختم شو۔
وَاَلَّوِ اسْتَقَامُوا: دا آیت د پیریانو د کلام برخه نۀ ده، بلکه په اول آیت کښې په:
﴿ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ ﴾ باندِ عطف دے، دے وجے نه دا د الله کلام دے، او د (اُوْحِيَ اِلَيَّ) د لاندے دے، او ددے بیا دوه تفسیرونه دی:
(۱) یو مطلب دا دے چه اے زما نبی! تۀ اووایه چه په ما باندِے دا وحی هم نازله شوے ده چه که د مکے مشرکان د حق او انصاف په لاره روان شی نو مونږ به دوئ دپاره بنۀ باران اُوورووو، چه ددے په نتیجه کښې به د دوئ مالونه زیات شی، او د دوئ په روزئ کښې به فراخی راشی، بیا به مونږ په دوئ آزمائش کوو چه دوئ زمونږ شکر اداء کوی یا نا شکری کوی۔ دا یو تفسیر شو۔
اسْتَقَامُوْا: دے کښې ضمیر انسانانو او پیریانو دواړو ته راجع کیدل هم صحیح دی۔
الطَّرِيْقَةِ: د طریقے نه مراد سمه لاره ده چه هغه لاره د اسلام ده۔
غَدَقًا: یعنی غټو غټو څاڅکو والا۔ یعنی داسے بارانونه به کیدلے چه دوی ته به پکښې هیڅ ضرر نۀ وے بلکه تولو له فائده به وے۔
دلته ذکر د باران شویدے او مراد ترے نه د دنیا فراخی او د رزق فراخی ده۔ ځکه چه خیرونه او رزقونه ټول په باران سره فراخه کیږی۔
باران کښې ډیر برکات دی، او قریشو ته ئے اُوبه ځکه ذکر کړے چه دوی نه اُوه کاله بارانونه بند شوی وو۔ نو دوئ ته د ایمان دعوت ورکوی چه سم شئ دنیا به هم درله فراخه کړم۔
دارنګه د عربو په زمکه بارانونه ډیر کم دی نو د هغوی بارانونو ته ډیر ضرورت وو۔
لکه الله تعالیٰ تمامو انسانانو دپاره دا شرط کړے وعده د قرآن کریم په ګڼړو آیتونو کښې بیان کړے ده۔ د سورۀ اعراف په (۹۶) آیت کښې ئے فرمایلی دی:
﴿ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرىٰ آمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ (اوکه چرے د کلو اوسیدونکی خلق ایمان راوړی، او پرهیزګاری اختیار کړی نو مونږ به په دوئ باندے د آسمان او زمکے برکتونه راپرانیزو، لیکن دوئ تکذیب اوکړو نو مونږ د دوئ د اعمالو له وجے دوئ را اونیول)۔
و د سورۀ نوح په (۱۰/۱۱/۱۲) آیتونو کښې فرمائی:

﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ ﴾
(نو ما اووئيل چه تاسو د خپل رب نه د ګناهونو مغفرت اوغواړئ، هغه يقينًا ډير زيات بښونکے دے، هغه به تاسو دپاره آسمان نه شيبے شيبے باران را اووروی، او تاسو له به مال او دولت او اولاد درکړی)۔
او په حديث کښې هم دی: [وَلَمْ اُسْمِعْهُمْ صَوْتَ الرَّعْدِ] که خلق چرته نيکان شی نو ما به دوی ته د وريځے آواز هم نۀ آورولے او د شپے به باران کيدے او د ورځے به نمر راختلے۔
(احمد والطيالسی والحاکم: ٣٣٣١) وفی اسناده صدقه بن موسی واه)
او په باران کښې به ګړه زارے نۀ وے خو دا د ګناهونو د وجه نه کيږی۔
(٢) تفسير: د آيت دويمه معنیٰ دا بيان شوے ده چه (اے زما نبی! که چرے د مکے کافران په خپل شرك او کفر باندے ټينګ پاتے کيږی، نو مونږ به په دوئ باندے رسئ ورسسته کړو، او د دوئ په روزئ کښې به فراخی ورکړو)۔
لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورۀ انعام په (٤٢) آيت کښې فرمايلی دی:
﴿ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى إِذَا فَرِحُوْا بِمَآ أُوْتُوْا اَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴾
(بيا چه کله دے خلقو هغه څيزونه هير کړل چه د هغے نصيحت دوئ ته کيدلو نو مونږ په دوئ باندے د هر شئ دروازے پرانستے، تردے چه دوئ په هغه څيزونو باندے کوم چه دوئ ته ورکړے شوی وو ښۀ غاوره شو، نو مونږ دوئ يکدم را اونيول، بيا خو هغوئ بيخی نا اميده شول)۔
دا تفسير د کلبیؒ، ربيع بن انسؒ، زيد بن اسلمؒ او د هغه ځوی عبد الرحمنؒ او يمان بن ريانؒ او ابن کيسانؒ او ابو مجلزؒ نه نقل دے۔
حافظ ابن کثيرؒ ليکی چه ددے رائے تائيد د الله تعالیٰ د وينا: ﴿ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ﴾ نه کيږی، چه ددے معنیٰ ده: (دے دپاره چه مونږ ددے په ذريعه په دوئ امتحان اوکړو)۔
ليکن اول تفسير د ظاهر سره ډير برابر دے، او غوره دے ځکه چه استقامت په نيغه لاره باندے روانيدو ته وئيلے شی، او په نيکئ کښې استعماليږی او د شرك دپاره نۀ استعماليږی۔
لِنَفْتِنَهُمْ: په اول تفسير سره د فتنے نه مراد امتحان کول دی چه دوی کښې څوك شکر

کوی، او څوك ناشکری کوی۔ او فِیْـهِ ضمیر باران او د دنیا فراخی ته راجع دیٰ۔ نو معلومه شوه چه د دنیا فراخی امتحان دے۔

او د دویم تفسیر په بناء د فتنې نه مراد عذاب ورکول دی په طریقه د استدراج سره۔

وَمَن یُعْرِضْ: دا تخویف دنیوی او اُخروی دے۔

یعنی چه څوك د قرآن او د هغهٔ د دعوت نه مخ اړوی، او د شرك او نورو بدو اعمالو نه نهٔ بچ کیږی، الله تعالیٰ به دے په دنیا کښې په ذلت او رسوائی او په فقر او لوږه کښې مبتلا کړی، او په آخرت کښې به ددهٔ استوګنه جهنم وی چرته چه به دهٔ ته سخت عذاب ورکړے کیږی۔

عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ : ١- یعنی د الله یادول په توحید سره۔ ٢- یا قرآن مراد دے۔ ٣- یا عبادت۔

٤- یا نصیحتونه۔ ٥- یا دا ټول مراد دی۔

عَذَاباً صَعَدًا: یعنی سخت عذاب۔ د مشقتونو والا عذاب۔ چه راحت پکښې نهٔ وی۔ (ابن عباس رضی الله عنه)۔ صعد په اصل کښې مشقت ته وئیلے شی، او پدے کښې معنیٰ د پورته کیدو او ختلو ده۔ یعنی داسے عذاب به وی چه په دهٔ باندے راپورته شی، او دے به په خپل ځان کښې پټ کړی۔ (فتح البیان)

عکرمهٔ وائی: صعد په جهنم کښې سخته او خوئیه ګټه ده، (یا غر دے) چه جهنمی به د هغے په ختلو مجبوره کولے شی کله چه بره سر ته وخیژی نو بیرته به خکته جهنم ته راوړغوړولے شی۔ لکه د ﴿سَأُرْهِقُهٗ صَعُوْدًا﴾ (مدثر: ١٧) په آیت کښې راغلی دی۔ نو صعد او صعود یو شے دے۔

او ددے نه دنیاوی عذاب هم مراد کیدے شی یعنی قحط او مصیبتونه وغیره لکه چه د مکے په مشرکانو راغلے وو۔ او اُوس هم د قحطونو او د ګرانئ او د مصیبتونو او سیلابونو او زلزلو سبب د قرآن کریم نه اعراض کول دی۔

وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ أَحَدًا ﴿۱۸﴾ وَأَنَّهٗ لَمَّا
او یقیناً جماتونه ټول د الله دی نو مهٔ رابلئ د الله سره هیڅوك. او یقیناً هرکله چه
قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا
اُودریدو بنده د الله، رابللو ئے الله لره (یعنی مونځ ئے کولو) نزدے وو دوی (پیریان)
يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿۱۹﴾
چه شی په هغه باندے راپنډ.

تفسیر : وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ : دا هم د (وَاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا) پـه شان په (اَنَّـهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ) باندے عطف دے، او د (اُوْحِیَ اِلَیَّ) د لاندے دے. یعنی اے زما نبی ! تهٔ اووایه چه په ما باندے دا وحی هم نازله شوے ده چه جوماتونه د الله د بندګئ دپاره خاص دی، دے وجے نه کله چه تاسو دیته داخلیږئ نو د الله نه سوئ بل هیڅوك مهٔ رابلئ.

پـه دے آیتِ کـریـمه کښې د قریشو د مشرکانو واقعی احوالو طرفته اشاره شوے ده چه دوئ پـه مسجدِ حرام کښې (چه دا صرف د الله تعالیٰ د عبادت دپاره جوړ شوے وو) بتان او شکلونه ایخودی وو او د هغے عبادت به ئے کولو، او اهلِ کتابو ته هم اشاره ده چه هغوئ بـه پـه خپـلو عبادت خانو کښې د عُزیر او عیسیٰ علیهما السلام عبادت کولو، حالانکه مسجدونه خو دے دپاره جوړیږی چه هلته صرف د الله نوم واخستے شی.

دے وجے نه علماؤ لیکلی دی چه (لَایَجْتَمِعُ مَسْجِدٌ وَقَبْرٌ فِیْ دِیْنِ الْاِسْلَامِ اَبَدًا)

د الله په دین کښې مسجد او قبر دواړه په یو ځائے کښې نشی راجمع کیدے، او په دے کښې چه هریو روستو جوړ شی هغه به نړولے شی.

او پـه هغـه مسجـد کښې مـونـځ نهٔ کیږی چه په هغے کښې قبر وی لکه دے آیت ﴿فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا﴾ سره ئے مـنـافـات دے. دارنګه په مسجد کښې به د شرك دعوت او د شرك خبرے نـهٔ کیـږی، کـوم مسجد کښې چه د شرك او د بدعت دعوت کیږی او د اهل حقو پسے پکښې خبرے کیږی نو هغه مسجدِ ضرار دے.

اَلْمَسَاجِدَ : نه ټول مساجد مراد دی، مسجد حرام، مسجد نبوی، بیت المقدس او نور مسـاجـد، او الله تعالیٰ ته معلومه وه چه روستو زمانه کښې به دغه نور مساجد جوړیږی

اگر که په دغه وخت کښې صرف مسجد حرام وو۔

(۲) حسن بصریؒ وئیلی دی چه شرك یوائے په مساجدو کښې ناروا نهٔ دے بلکه په نورو ځایونو کښې هم ناروا دے، نو د مساجد نه مراد ټوله زمکه ده، لکه حدیث کښې دی : '

[وَجُعِلَتْ لِیَ الْاَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُوْرًا] (بخاری : ۳۳۵)

نو د مسجد نه مراد معنیٰ لغوی ده چه ځای د سجدے چه هغه ټوله زمکه ده۔

او دا ددے امت خصوصیت دے چه ټوله زمکه ورله الله تعالیٰ جومات جوړ کړے دے۔

اگر که د مسجد او د عامے زمکے فرق شته۔ د مسجد عزت زیات دے، او د عامے زمکے دومره نشته۔ دارنګه کله چه یو ځای د مانځه دپاره منتخب شو، او مسجد پرے جوړ شو نو فرض مونځونه او جماعت به صرف په هغے کښې کولے شی، بیا په هر ځای کښې یا بیټکونو کښې کول صحیح نهٔ دی۔ بیا د مسجد د جوړولو معنیٰ څه شوه ؟۔

(۳) سعید بن المسیبؒ او طلق بن حبیبؒ وائی چه د مساجدو نه اعضاء السجود مراد دی، یعنی د سجدے اندامونه۔ دواړه قدمونه، دواړه زنګنان، دواړه لاسونه او تندے او پوزه۔ یعنی تا باندے الله تعالیٰ پدے اندامونو احسان کړیدے نو پدے سره د الله نه سوئ بل هیچا ته سجده مهٔ کوه، د الله تعالیٰ د نعمت ناشکره به شے۔

(وکذا قال عطاءؒ- فتح البیان)

دا درے واړه تفسیرونه صحیح دی، لیکن اولنے تفسیر غوره دے۔

لِلّٰهِ : اضافت د مساجدو الله تعالیٰ ته اضافت د تشریف او د تکریم دپاره دے۔

وَاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ : دا آیت هم بعض تفاسیرو د ډیرو توجیهاتو په وجه ګران کړیدے۔ دوه توجیهات پکښې وګوره۔

(۱) یو دا چه دا قول د الله تعالیٰ دے، او د پیریانو حال بیانوی کله ئے چه د رسول الله ﷺ نه قرآن آوریدو۔ او دا هم په (اِسْتَمَعَ نَفَرٌ) باندے عطف دے نو دا ځلورمه وحی ده۔

معنیٰ دا ده : او اے زما نبی ! تهٔ اُووایه چه په ما باندے دا وحی نازله شوے ده چه کله د الله بنده او رسول محمد (ﷺ) په بطنِ نخله کښې اودریدهٔ او د خپل رب عبادت ئے کولو، یعنی مونځ ئے کولو، نو د هغهٔ د عبادت طریقے لیدلو او د قرآن کریم د تلاوت کولو نه پیریان متاثره شول او ګیر چاپیره را توئے شول، او سخت بهیړ ئے پیدا کړو، د یو بل په

اُوګـو كيـناستـل او هغهٔ ته ئے كتـل او د ډير محبت د وجه نه ورته ډير نزدے راغلل او غوږ ئے كيخودو۔

او پدے كښې اشاره ده چه پيريان د الله تعالیٰ كتاب (قرآن كريم) په ډير محبت سره آوری او اے مشركانو ! تاسو ترے مخ اړوئ حال دا چه دا نبی ستاسو د جنس نه دے۔

عَبْدُ اللهِ : نه مراد محمد رسول الله ﷺ دے۔

يَدْعُوهُ : الله تـعـالیٰ ئے رابـلـلـو او عبادت ئے كولو۔ يعنی مونځ ئے كولو۔ او قرآن ئے لوستلو۔ ځكه چه مونځ تـوله دعاء او عبادت دے۔

لِبَداً: اَیْ مُتَرَاكِمِیْنَ يَرْكَبُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا۔ يعنی پنډ چه د يو بل دپاسه سوارهٔ وو۔

لبد جمع د لِبْدَةٌ ده، د وړئ لـمـخـی تـه وئيلے شی چه خلق په هغے باندے تارونه د يو بل دپاسـه راتـاووی۔ مـراد تـرے نـه پـه ګـڼـړه سره راپنډ كيدل دی۔ او لِبْدَة هغه ويښتو ته هم وائی چه د زمری په شا باندے ګنړ ولاړ وی۔

ابن عباس رضی الله عنه پدے آيت كښې فرمايلی دی : (هركله چه پيريانو وليدل چه رسول الله ﷺ خپـلـو مـلـګـرو تـه مونځ كوی، او هغوی د هغه په ركوع باندے ركوع او د هغهٔ په سجده بـانـدے سـجـده كوی، نو دوی د هغه د ملګرو تابعداریٔ نه تعجب وكړو او په هغه باندے راپنډ شول۔ ((ترمذی :۳۳۲۳) والحاكم) بسند صحيح)

(۲) تـفسـيـر : د يَدْعُوْهُ نه مراد دعوت الی الله دے۔ او كَادُوْا كښې ضمير د مكے مشركانو ته راجع دے۔

يـعنی هر كله چه نبی كريم ﷺ د مـكـے د مشركانو د عبادت د طريقے خلاف صرف د يو الله بندګی كوله يا يو الله طرفتـه ئے خلق رابلل، يا مونځ به ئے كولو نو نزدے ده چه د مكے مشركـان د هـغـهٔ پـه دشـمـنـیٔ كښې د هغهٔ نه ګير چاپيره به راجمع شو او د ضرر رسولو كوشش به ئے كولو۔

دا تفسير صحيح دے، ليكن د ظاهر د قرآن سره ډير سمون نهٔ خوری۔

او پـدے كښې د پيريانو صفت او د مشركانو او د هر هغه چا بدی ده چه قرآن كريم د نبی ﷺ نه يا د هغهٔ د نائبانو نه نهٔ آوری، او د الله د خبرو نه غفلت كوی۔

قُلْ إِنَّمَا أَدْعُوْ رَبِّیْ وَلَا أُشْرِكُ بِهٖ أَحَدًا ﴿۲۰﴾
تهٔ اُووایه ! یقیناً زهٔ رابلم رب خپل او برخه دار نهٔ جوړوم د هغه سره هیڅوك۔
قُلْ إِنِّیْ لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿۲۱﴾ قُلْ إِنِّیْ
تهٔ اُووایه ! یقیناً زهٔ اختیار نهٔ لرم تاسو لره د ضرر او نهٔ د هدایت۔ اُووایه ! یقیناً زهٔ،
لَنْ یُّجِیْرَنِیْ مِنَ اللّٰهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ
هیڅرے پناهی نشی راکولے ما لره د الله نه هیڅوك او هیڅرے به مونده نکړم سویٰ
مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾ إِلَّا
د هغه نه ځائے د پناهئ۔ مګر (بچ کوی به ما) رَسُول (تبلیغ) (مګر زه اختیار مند
بَلَاغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسَالَاتِهٖ وَمَنْ یَّعْصِ اللّٰهَ
یم) د رَسُولو) د طرف د الله نه او پیغامونه د هغهٔ، او چا چه نافرمانی وکړه د الله
وَرَسُوْلَهٗ فَإِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِیْنَ فِیْهَا
او د رسول د هغهٔ، نو یقیناً دهٔ لره به اُور د جهنم وی همیشه به وی په هغے کښ
أَبَدًا ﴿۲۳﴾ حَتّٰی إِذَا رَأَوْا مَا یُوْعَدُوْنَ
همیشه۔ تردے چه اُووینی دوی هغه عذاب چه دوی سره ئے وعده کیدیشی
فَسَیَعْلَمُوْنَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا
نو زردے چه دوی ته به پته اُولګی چه څوك دے ډیر کمزورے په اعتبار د مددګار
وَّأَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲٤﴾
او کم دے په اعتبار د شمار۔

تفسیر: دے رکوع کښ د رسول الله ﷺ بیان دے۔ ربط :
مخکښ د رسول الله ﷺ صدق بیان شو اُوس د هغهٔ دعوت بیانیږی۔

شان نزول

د (۲۰) آیت نـه تـر (۲۳) آیـته پورے د نازلیدو سبب دادے چه د قریشو کافرانو نبی ﷺ تـه وویـل چـه تـا د یوے لوئے خبرے دعویٰ کرے ده، او د خپل ځان لپاره ډِے د تمامو خلقو دشـمـنـی اخستے ده، تهٔ د خپل دے دعوت نه منع شه، او مونږ به ستا حفاظت وکړو۔ نو الله تعالیٰ هغهٔ ته د هغه خبرو وئیلو حکم کړے چه د هغے ذکر په دے آیتونو کښ راغلے:

الله تعالیٰ وفرمایل:

اے زمـا نبـی! تـهٔ اووایـه چـه زهٔ د خپـل رب عبادت کوم، او صرف هغه رابلم، او د هغهٔ سـره هیـڅـوك برخه دار نهٔ جوړوم۔ او دا څهٔ داسے خرابه خبره نهٔ ده چه ددے په وجه تاسو ټول زما په دشمنئ باندے متفق شوی یئ۔

أَدْعُوْ رَبِّىْ: دعاء په معنیٰ د عبادت سره هم صحیح ده، او په معنیٰ د دعوت سره هم۔ او مـطـلب دا دے چه زما کار خو د الله تعالیٰ عبادت او هغهٔ طرفته دعوت دے، نور اخوا ستـاسـو خپله خوښه ده، که منئ ستاسو فائده، او که نهٔ ئے منئ نو زما ذمه واری فارغه ده۔

قُلْ إِنِّىْ: یـعـنـی اے زمـا نبـی! تـهٔ قـریشـو کـافرانو ته داهم اووایه چه زهٔ نهٔ تاسو ته په نـقصان رسولو باندے قادر یم، نهٔ زهٔ تاسو په سمه لاره راړولے شم۔ داسے قدرت خو صرف الله تعالیٰ ته حاصل دے، دے وجے نه تاسو زما نه د عذاب د زر راوړو مطالبه مهٔ کوئ۔

ضَرًّا: پدے کښ یو یو جانب پټ دے تقدیر داسے دے:

ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا رَشَدًا وَلَا غَيًّا۔

یـعـنـی زهٔ تـاسـو تـه د ضـرر درکـولـو یـا دفـع کـولو او د فائدے رسولو او د هدایت او د ګمراهئ هیڅ اختیار نهٔ لرم۔ زما کار صرف دعوت کول دی۔

یـا ضـرر ئے د رشـد (هـدایت) په مقابله کښ پدے وجه راوړیدے چه رشد کښ معنیٰ د کـامیـابـئ پـرته ده، او په ضر کښ دینی او دنیوی ضرر داخل دے، او ګمراهی دینی ضرر دے۔

قُلْ إِنِّىْ لَنْ يُّجِيْرَنِىْ: مشـرکانو رسول الله ﷺ تـه وویـل چـه دا دعـوتونه پریده (نَحْنُ نُجِيْرُكَ) مونږ به تا له پناهی درکړو، تا ته به هیڅوك څه نهٔ وائی خو زمونږ ملګرتیا وکړه

نو رسول الله ﷺ د الله په خودنه دا خبره رد کوی۔ فرمائی :
اے زما نبی ! تهٔ کافرانو ته دا هم اووایه چه که الله ماته تکلیف راکول غواړی، نو هیڅوك ما نشی بچ کولے، او که هغه ما هلاکول غواړی، نو ماته به د پناه هیڅ ځائے ملاؤ نشی۔
مخکښې ئے وویل چه زهٔ د بل کارونو کولو نه عاجز یم، نو دلته وائی چه زهٔ د خپلو کارونو نه هم عاجز یم۔ دا هر څه د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔

لَنْ یُّجِیْرَنِیْ او مُلْتَحَدًا کښې فرق

۱- د اولے جملے مطلب دا دے چه په غیر د طلب نه پناهی ثوك نشی ورکولے، او د دویمے مطلب دا دے چه سره د طلب او کوشش نه هم ثوك پناهی نشی ورکولے۔
۲- دویم دا چه کوم مصیبت د الله تعالیٰ د طرفنه مقرر وی نو هغه هیڅوك نشی واپس کولے۔ او د دویم مطلب دا چه کوم مصیبت راغلے وی نو د هغے نه د بچ کیدو هیڅ ځای نشته۔
۳- د اولے جملے مطلب دا دے چه د روح والا مخلوق هم ما ته پناهی نشی راکولے، او د دویمے مطلب دا چه غیر ذی روح شے هم پناهی نشی راکولے، لکه مکان، غار، قبر، بت وغیره۔
مُلْتَحَداً : اَیْ مَلْجَاً۔ (ځای د پناهیٔ)۔ دا د لَحد نه ماخوذ دے، مائل کیدو ته وائی۔ یعنی هغه ځای چه هغے ته میلان کیدے شی دپاره د بچ کیدو د مصیبتونو نه۔
اِلَّا بَلَاغاً : دا استثناء منقطع ده چه د عموم دپاره راځی، یعنی هیڅ ځای نشته او هیڅوك بچ کونکے نشته۔

لٰکِنْ یُّنْجِیْنِیْ اَنْ اُبَلِّغَ بَلَاغًا مِنَ اللّٰهِ وَرِسَالَاتِهٖ۔

لیکن ما به خلاصوی دا خبره چه زهٔ تبلیغ وکړم د الله د طرفنه او د هغه پیغامات ورسوم۔ یعنی تاسو ما پدے مهٔ مجبوره کوئ چه زهٔ دعوت پریدم ځکه چه زما د بچاؤ شے سویٰ ددے نه بل نشته۔ او دا هم راباندے خرابوئ۔
او بلاغا مفعول مطلق د اُبَلِّغَ دے۔
وَرِسَالَاتِهٖ : اَیْ اَعْمَلَ بِرِسَالَاتِهٖ۔ یعنی عمل وکړم په پیغامونو د هغهٔ۔

وَمَن يَعْصِ اللّٰهَ : یعنی که تاسو راته دا وواییٔ چه دعوت پریده او د الله خلاف وکړه نو فرمائی چه څوك چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول نافرمانی کوی او د هغهٔ د رسول دعوت نهٔ قبلوی،/ او د هغهٔ پیغام رَسول پریدی، د هغهٔ استوګنه جهنم دے، چه په هغے کښې به همیشه لپاره سوزی۔
أَبَداً: دا دلیل دے چه دلته د عصیان نه کفر او شرك مراد دے۔ ځکه چه د عصیان کامل فرد همدغه دے۔
حَتّٰی: ۱ - دا حَتّٰی ابتدائیه دے، او متعلق دے د پټ عبارت پورے۔
اَیْ لَایَزَالُوْنَ عَلٰی عِصْیَانِهِمْ وَکُفْرِهِمْ وَعَدَاوَةِ النَّبِیِّ وَالْمُؤْمِنِیْنَ حَتّٰی۔
یعنی دوی به په خپل عصیان (نافرمانیٔ) او کفر او د نبی ﷺ او د مؤمنانو په دشمنیٔ باندے همیشه وی تردے چه دوی ته د الله تعالیٰ عذابونه راشی۔
۲- یا لَایَنْتَهِی الْمُشْرِکُوْنَ عَنِ الشِّرْكِ۔
مشرکان د خپل شرك نه نهٔ منع کیږی تردے چه عذابونه ورته راشی۔
یعنی دا مشرکان به د قیامت په ورځ کله چه د الله تعالیٰ د وعدے مطابق عذاب په خپلو سترګو اووینی، هغه وخت به ښهٔ پو هه شی چه د مددګارانو په لحاظ څوك زیات کمزورے دے، او د چا د مددګارانو شماره ډیره کمه ده، د محمد (ﷺ) او د هغهٔ د ایمان والو صحابه کرامو، یا د مکے د مشرکانو چه هغویٔ په توله زندګیٔ کښې الله تعالیٰ او د هغهٔ رسولان دروغژن ګنړلی دی۔
لکه مشرکانو به دا خبره کوله چه ﴿ اَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ خَیْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِیًّا﴾ (مریم :۷۳)
د چا مرتبه غوره ده او د چا مجلس ښائسته دے۔
فَسَيَعْلَمُونَ : یعنی زر به دوی پو هه شی۔ دے کښې یا بدر ته اشاره ده چه لنډه زمانه کښې دویٔ ته پته ولګیده چه د مسلمانانو مددګار الله تعالیٰ دے چه هغه ډیر قوی دے، او زمونږ مددګار چه بتان او باباګان دی دا ډیر کمزوری دی۔
یا ددیے نه مراد قیامت دے۔
مَنْ أَضْعَفُ نَاصِراً : صاحب د فتح البیان لیکی : د رسولانو خبرے څو مره لوی کمال او ادب والا وی چه خپل ځانونه کمزوری ګنړی، او خپل قوت په اعتبار د خپل مولیٰ سره ذکر کوی چه زمونږ مولیٰ ډیر قوی دے چه د هغهٔ په لاس کښې بادشاهی ده، او د

هغهٔ دپاره د آسمانونو او د زمکے لښکرے دی،

په خلاف د جبابره ؤ نه چه د هغوی بله خبره نهٔ وی مګر دا چه د خپل ځانونو لوی بیانوی (لکه فرعون وئیلی وو ﴿ اَیُّنَا اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰی﴾ (طه : ۷۱) کوم یو زمونږ نه سخت او همیشه عذاب ورکونکے دے۔ ﴿ اَلَیْسَ لِیْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْاَنْهَارُ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِیْ﴾۔ (زخرف : ۵۱) آیا زما دپاره د مصر بادشاهی نهٔ ده، او دا نهرونه زما نه لاندے روان دی)۔

قُلْ إِنْ أَدْرِیْ أَقَرِیْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ
تهٔ اُووایه ! نهٔ پو هیږم زهٔ آیا نزدے دے هغه عذاب چه تاسو سره ئے وعده کیدیشی
أَمْ یَجْعَلُ لَهٗ رَبِّیْ أَمَدًا ﴿۲۵﴾ عَالِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی
یا به اُوګرځوی هغے لره رب زما موده۔ پوهه دے په پټو خبرو نو نهٔ خبروی په
غَیْبِهٖ أَحَدًا ﴿۲۶﴾ إِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ
غیببو خپلو باندے هیڅ یو تن۔ مګر هغه څوك چه غوره ئے کړی د رسول نه
فَإِنَّهٗ یَسْلُكُ مِنْ بَیْنِ یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿۲۷﴾
نو یقیناً روانوی مخکښں د هغهٔ نه او روستو د هغهٔ نه تیارے ملائکے۔ (انتظار
لِیَعْلَمَ أَنْ قَدْ أَبْلَغُوْا
کونکے ملائك) دے دپاره چه الله راښکاره کړی (خلقو ته) چه رسولی دی دوی
رِسَالَاتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَیْهِمْ
پیغامات د رب د دوی او راګیر کړیدی الله هغه څه چه دوی سره وو
وَأَحْصٰی كُلَّ شَیْءٍ عَدَدًا ﴿۲۸﴾
او شمارلے ئے دے هر شے په پوره شمارلو سره۔

تفسیر : هر کله چه الله تعالیٰ مشرکانو ته د نبی ﷺ په ژبه عذابونه او یرے ذکر کړے نو د مکے مشرکانو د ټوقو او دروغژن ګنړلو په طریقه د نبی کریم ﷺ نه تپوس وکړو چه د کوم عذاب نه تهٔ مونږ ویروے هغه به کله راځی۔

الله تعالیٰ نبی ﷺ ته وویل: ته دوئ ته اووایه چه زهٔ نهٔ پوهیږم چه د کوم عذاب وعده چه د الله تعالیٰ له خوا تاسو سره کیږی د هغې وخت نزدے دے، یا به زما رب په راتونکی لرے زمانه کښ ددے وخت مقرر کړی، د غیبو علم خو صرف هغهٔ سره دے، هغه د خپلو غیبو خبر هیچا له نهٔ ورکوی، سویٰ د خپل رسول نه چه هغه د خپل پیغام رسولو لپاره خوښوی۔ برابره خبره ده که هغه رسول د ملائکو نه وی، یا د انسانانو نه۔

داسے رسول چه هغه بعضِ داسے غیبی خبرونه ښائی چه د هغې تعلق د هغهٔ د پیغام رسوونے سره وی، لکه هغه معجزے چه هغه د نبی په رشتین والی باندے دلالت کوی، احکامِ شرعیه، د ښو او بدو اعمالو بدله، او د آخرت ځینے حالات۔

د کومو غیبی خبرو تعلق چه د هغهٔ د رسالت سره نهٔ وی، لکه د قیامت د راتلو وخت، د هغې خبر الله تعالیٰ خپلو رسولانو ته هم نهٔ ورکوی۔

فَلَا يُظْهِرُ: اَیْ فَلَا يُطْلِعُ وَلَا يُخْبِرُ۔ یعنی اطلاع نهٔ ورکوی او نهٔ خبروی۔ مطلب دا چه د عذابونو علم الله تعالیٰ سره دے، ما ته ددے علم نشته۔ ځکه چه دا د غیبو علم دے، او د غیبو علم ما ته نشته۔

عَلٰی غَيْبِهٖ: یعنی په خپلو غیبی امورو باندے هیڅوك نهٔ خبروی، د غیبو علم د الله تعالیٰ د خصوصیاتو نه دے۔ د انسان علم کښ که د غیبو علم راشی، نو د هغې نه فساد پیدا کیږی۔ بله دا چه انسان سره دومره طاقت نشته چه په هر شی پوهه شی، ددهٔ دماغ ددے استعداد نهٔ لری۔ بله دا چه د انسان ژوند تنګیږی۔ او ملائکو سره هم دا طاقت نشته چه په ټولو خبرو د غیبو خبر شی پاتے لا انسان۔

اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی: **سوال** پیدا شو چه پیغمبران چه د بعض غیبو خبرے بیانوی نو هغوی ته خو د غیبو علم ورکړے شو؟ نو د هغې استثناء کوی، دا استثناء متصل هم جوړیږی، او منقطع هم۔

(۱) د متصل صورت دا دے: اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ فَيُخْبِرُهٗ بِبَعْضِ الْمُغَيَّبَاتِ۔

یعنی مګر هغه څوك چه الله تعالیٰ ئے د رسولانو نه غوره کړی نو هغهٔ ته د بعض غیبی خبرو خبر ورکړی۔ ځکه چه په هغې کښ د انسانانو دپاره فائده ده، ځکه که ټول غیب د الله تعالیٰ سره شی او بنده ته هیڅ خبر ورنکړی، نو بنده ګان به د ډیرو خیرونو نه محرومه شی، د قیامت نه به خبر نهٔ وی، د جنت او جهنم او د الله د صفاتو وغیره نه۔ نو

اجمالًا خبرول پکار دی نو دغه خبرونه الله تعالیٰ خپل رسول ته ورکوی۔
(۲) یا الا استثناء منقطع ده۔ لٰـكِـنُ مَـنِ ارُتَضٰى مِنُ رَسُوُلٍ فَاِنَّهٗ يَسُلُكُ مِنُ بَيُنِ يَدَيُهِ وَمِنُ خَلُفِهٖ رَصَدًا) یعنی لیکن هغه څوك چه الله تعالیٰ ئے د رسولانو نه غوره کړی نو روانوی د هغهٔ مخے او شا ته ملائك۔
یعنی د غیبو علم چا ته نشته لیکن د رسولانو مخے او شا ته ملائك رالیږی د هغوی د حفاظت دپاره نو په هغوی باندے عذابونه نهٔ راځی۔ او عذابونه به په کافرانو راځی او د هغے علم هیچا ته نشته چه کله به راځی۔
دا آیت د متشابهاتو نه دے چه محکماتو ته ددے رجوع د اهل حقو کار دے، او بعض اهل زیغ لکه تفسیر نعیمی کښې ئے لیکلی دی چه
((بعض گروه ددے آیت نه دلیل نیسی چه پیغمبران په غیبو نهٔ پوهیږی، مونږ وایو چه پیغمبران لا څه اولیاء کرامو ته الله تعالیٰ علم تام ورکړیدے))۔ (یعنی پوره علم)۔
بیا ئے وئیلی دی چه دلته استثناء متصل ده، او مطلب دا دے چه الله په غیبو هیڅوك نهٔ خبروی مگر رسولان خبروی نو هغوی ته تول علم غیب ورنصیب کوی۔
یعنی دوی سره علم غیب عطائی شته، او علم غیب حقیقی نشته۔ عطائی معنیٰ دا چه الله ورته ورکړیدے۔ نو دا خبرے تهولے د قرآن او حدیث مخالفے دی، پدے سره محکمات رد کیږی، الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې څومره ډیر کرته د نبی د طرفنه وئیلی دی ﴿ وَلَآ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ﴾ (هود : ۳۱) ﴿ قُلۡ لَّآ اَقُوۡلُ لَـكُمۡ عِنۡدِىۡ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَاۤ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ ﴾ (انعام : ۵۰) ﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾ (النمل :٦٥)
او بل د رسول الله ﷺ د سیرت سره ئے تعارض راځی۔ چه په غزا د بنی المصطلق کښې ترے خپله بی بی عائشه رضی الله عنها پاتے شوه او پته ورته ونهٔ لگیده۔ ملگری ترے کافرانو بوتلل، او هلته ئے شهیدان کړل۔ بیا دا دومره پریشانی پرے ولے راتلله۔ او دا د مدینے واقعات دی، دلیل دے چه روستو زمانه کښې هم الله تعالیٰ خپل نبی ته د تهولو غیبو علم نهٔ وو ورکړے، دا شرکی عقیده ده۔ د الله صفت مخلوق ته ورکول دی۔
بل طرفته د مفسرینو اقوال وګوره :
د واحدیؒ وینا ده [وَفِيُ هٰذا دَلِيُلٌ عَلٰى اَنَّ مَنِ ادَّعٰى اَنَّ النُّجُوُمَ تَدُلُّهٗ عَلٰى مَا يَكُوُنُ مِنُ حَادِثٍ فَقَدُ كَفَرَ بِمَا فِي الُقُرُآنِ] چه دا آیت دلیل دے چه څوك ددے خبرے دعویٰ اوکړی چه هغه

د علمِ نجوم په ذریعه د غیبو خبرونه پیژني، هغه د قرآن منکر دے۔
قرطبیؒ لیکلی دی : [وَفِيْهِ دَلِيْلٌ عَلٰى اَنَّهٗ لَايَعْلَمُ الْغَيْبَ اَحَدٌ سِوَاهُ، ثُمَّ اسْتَثْنٰى مَنِ ارْتَضٰى مِنَ الرُّسُلِ فَاَوْدَعَهُمْ مَا شَاءَ مِنْ غَيْبِهٖ بِطَرِيْقِ الْوَحْيِ اِلَيْهِمْ وَجَعَلَهٗ مُعْجِزَةً لَهُمْ، وَدَلَالَةً عَلٰى نُبُوَّتِهِمْ، وَلَيْسَ الْمُنَجِّمُ وَمَنْ ضَاهَاهُ وَمَنْ يَّضْرِبُ بِالْحَصٰى، وَيَنْظُرُ فِي الْكَفِّ وَيَزْجُرُ بِالطَّيْرِ، مِمَّنِ ارْتَضَاهُ مِنْ رَسُوْلٍ فَيُطْلِعُهٗ عَلٰى مَا يَشَاءُ مِنْ غَيْبِهٖ، فَهُوَ كَافِرٌ بِاللّٰهِ مُفْتَرٍ عَلَيْهِ بِحَدْسِهٖ وَتَخْمِيْنِهٖ وَكِذْبِهٖ]
چه پدے آیت کښې دلیل دے چه د الله نه سوئ هیڅوك په غیبو نهٔ پو هیږی، بیا الله تعالیٰ خپل بعض رسولان مستثنیٰ کړل نو هغوی ته ئے بعض هغه غیبی خبرے وخودلے چه الله تعالیٰ غوختلے په طریقه د وحی کولو سره دوی ته، او دا ئے د دوی دپاره معجزه او د دوی په نبوت باندے دلیل وګرزولو۔ او کوم خلق چه د علمِ نجوم په ذریعه د غیبو خبرو دعویٰ کوی، او کوم خلق چه کانړی اولی، د لاس کرښے ګوری او هغه لولی، او د خاورے په ویشتلو سره، یا د مارغانو په شړلو سره د غیبی امورو خبرونه بنائی، داسے خلق د الله تعالیٰ غوره شوی رسولان نهٔ دی، بلکه دوئ په الله باندے کفر کونکی دی، او په الله تعالیٰ باندے دروغ تړی په خپلے تجربے او اټکل او دروغو سره۔
دلته امام رازیؒ ډیر ګډ وډ تلے دے نو علامه شوکانیؒ د هغه ښه اصلاح کړیده۔
﴿ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴾ ددے یو مطلب مخکښې بیان شو۔
(۲) بل مطلب دا دے چه الله تعالیٰ د خپلو رسولانو مخے او شا ته ملائك روانوی دے کښې دوه مقصده وی یو دا چه کله الله تعالیٰ په خپل رسول باندے وحی نازلوی، نو ددے وحی مخکښې او روستو (یعنی څلور واړو طرفونو ته) حفاظت کونکو ملائکو یوه ډله لګوی چه هغه د شیطانانو نه ددهٔ حفاظت کوی، تردے چه د وحی هغه برخه رسول ته په غیر د زیادت او نقصان نه اورسوی۔
ابن زیدؒ د [رَصَدًا] مفهوم دا بیان کړے چه ساتونکی ملائك نبی کریم ﷺ لره د پیریانو او شیطانانو د مداخلت نه څلورو واړو طرفونو ته بچ کوی۔
او دویم د وحی بیانولو دپاره ئے رالیږی۔ یعنی ملائك وحی راوړی، او بل ددے وحی حفاظت کوی تردے چه نبی ته ئے روغه ورسوی۔
رَصَداً : دا هغه نمبر په نمبر راتلونکی ملائك دی چه رسول الله ﷺ د شیطانانو نه

ساتی تردے چه هغه خلقو ته وحی بیان کړی۔ (ابن عباس ﷜)

او مفسرينو د ابن عباس ﷜ نه دا هم نقل کړيدی چه الله تعالیٰ په نبی باندے يو آيت د قرآن هم نه دے نازل کړے مګر د هغے سره څلور ساتونکی ملائك راغلی دی تردے چه هغه ئے رسول الله ﷺ ته رسولے دے۔ بيا ئے دا آيت ولوستلو۔ (فتح البيان)

لِيَعْلَمَ: په ضمير د يَعْلَم کښې هم مفسرينو ډير احتمالات ذکر کړيدی چه د آيت اصل مقصد ورك کوی، چا مکذب ته او چا رسول الله ﷺ ته، چا انبياؤ ته او چا جبريل ﷤ ته راجع کړيدے۔ دا هسے احتمالات دی۔

ظاهر دا ده چه ضمير الله تعالیٰ ته راجع دے۔

يعنی الله تعالیٰ ملائك خپلو رسولانو ته ددے دپاره راليږی چه هغه خلقو ته ښکاره کړی چه پيغمبرانو پوره خبره خپلو قومونو ته رسولے ده، او دوی ته صحيح دين بيان شويدے، اوس که دوی خبره نهٔ منی سزا به ورکوی۔

نو د الله تعالیٰ د سزا مستحق دی هغه خلق چه الله تعالیٰ ورته نبی راليږلے دے او هغه مکمل دين بيان کړيدے او دوی نهٔ دے منلے۔

وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ: پدے کښې هم ضمير الله تعالیٰ ته راجع دے۔ يعنی الله تعالیٰ راګير کړيدے په خپل علم کښې هغه خبرے او وحی چه د انبياؤ عليهم السلام سره دی۔

نو فائده د آيت دا شوه چه په تاسو باندے حجت پوره شويدے ځکه چه نبی ﷺ پوره دين ورسولو او الله تعالیٰ د هغهٔ په حال باندے پوره عالِم دے چه هيڅ کمے زياتے ئے نهٔ دے کړے نو په نهٔ منلو کښې ستاسو عذر ختم دے۔ سختے سزا ته انتظار کوئ۔

(۲) که ضمير رسول الله ﷺ ته راشی نو معنیٰ به دا وی:

(دے دپاره چه محمد ﷺ اوپيژنی چه جبريل او د هغهٔ ملګرو ملائکو د خپل رب پيغام په پوره حفاظت سره هغوئ ته رسولے دے)۔

(۳) دريمه معنیٰ دا بيان شوے (دے دپاره چه محمد ﷺ اوپيژنی چه تيرو شوو انبياؤ هم ددهٔ پشان د خپل رب پيغام خپلو قومونو ته رسولے وو)۔

اولنے مطلب غوره دے۔

﴿ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ ﴾ يعنی د نګهبانو ملائکو، يا د الله له اړخه د پيغام رسوونکو ملائکو د تمامو احوالو نه الله تعالیٰ پوره خبر دے، د دوئ هيڅ حال د الله د علم د احاطے

نـه بهر کیږی نهٔ۔ ﴿ وَأَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴾ او الله سره د څیـزونـو اجمالی علم په ځای پریده، بلکه د مخلوقاتو د هر یو کس جدا جدا تفصیلی علم ورسره دے۔

وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورة الجن

۱- پدے سورت کښې د رسول الله ﷺ رشتینوالے د پیریانو په ژبه بیان شو۔
۲- د رسول الله ﷺ دعوت هم پکښې ذکر دے، چه هغه د توحید او د الله تعالیٰ د ذکر او د بندګیٔ دعوت وو۔
۳- اکثر بیان د پیریانو پکښې ذکر دے۔

ختم شو تفسیر د سورة الجن په فضل د رب العالمین سره۔ رمضان ۹ جون ۱٤ یوم الثلاثاء۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آياتها (۲۰)	(۷۳) سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (۲)

سورة المزمل مكى دے، په دے كښ شل آيتونه او دوه ركوع دى

تفسير سورة المزمل

نوم : په اولنى آيت كښ لفظِ [الْمُزَّمِّلُ] راغلے، دا او ددے نه روستو مدثر د رسول الله ﷺ صفتونه دى، يعنى څادر په سر كونكے۔

د نازليدو زمانه : دا د مكے د ابتدائى سورتونو نه دے۔ دريم سورت دے چه په مكه كښ نازل شويدے۔ د ماوردئؒ د وينا مطابق، ټول سورت د حسن بصرئؒ، عكرمهؒ او جابر په نيز مكى دے۔ ابن مردويهؒ او بيهقئؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت كړى دى چه [سورة المزمل] په مكه كښ نازل شوے۔

او نحاسؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت كړى دى چه [سورة المزمل] په مكه كښ نازل شوے، سوىٰ د آخرى آيت ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُوْمُ أَدْنٰى ﴾ نه، چه دا په مدينه كښ نازل شوے۔

مناسبت :

۱- مخكښ سورت كښ دعوت ذكر وو، نو اُوس عبادت بيانوى۔

۲- مخكښ د رسول الله ﷺ صدق بيان شو نو دلته د هغهٔ كار بيانوى چه هغه د الله تعالىٰ بندگى ده۔

د سورت موضوع او مقصد

اَلْاَمْرُ بِتَرْتِيْلِ الْقُرْآنِ فِي الْعِبَادَاتِ لَاسِيَّمَا بِاللَّيْلِ۔ الله تعالىٰ حكم كړيدے په قرآن لوستلو په عباداتو كښ خاصكر په شپه كښ۔ او ددے فائده ئے ذكر كړيده، دوه عظيمے فائدے دى، يو د دعوت فائده ده چه د ورځے به درته دعوت آسانوى، او كار كښ به دِے بركت وى

او بل ئے د آخرت فائده ده۔

کله چه دا سورت په مکه کښې نازل شو نو الله تعالیٰ په رسول الله ﷺ او مؤمنانو باندے قیام اللیل فرض کړے وو، او د هغے اندازه ئے هم خودلے وه، درے طریقے وے، یو دا چه نیمه شپه عبادت، دویمه دا چه ثلث (دریمه حصه) دریمه دا چه ثلثان (دوه حصے) عبادت وی۔ که دولس گینتے شپه وی نو نیمه ئے شپږ گینتے او دریمه ئے څلور گینتے او ثلثان ئے اته گینتے دی۔ یو کال پورے دا عبادت صحابه کرامؓ په دغه طریقه وکړو خو ډیر سخت کار وو، تردے چه په اوږد قیام سره به د دوئ خپے اوپړسیدلے،

عائشه رضی الله عنها فرمائی: تردے چه یو تن به رسئ تړله او د هغے پورے به ئے ځان انخلولو چه خوب ترے وتښتی۔ نو کال پس الله تعالیٰ آسانی راولیږله، او دویمه رکوع ئے نازله کړه، او د قیام اللیل د دغه اندازے وجوب او فرضیت منسوخ شو، که څوك ئے هر څومره کوی جائز ده، اګرکه رسول الله ﷺ به روستو هم په دغه طریقه عمل کولو،

او امت ته ئے د قیام اللیل ترغیب ورکړو چه دا ستاسو دپاره بهتر عمل دے۔

اقله درجه ئے یوه یو رکعت دے چه د شپے راپاخیږی یو رکعت وتر وکړی۔

حدیث کښې دی: [وَمَنْ اَحَبَّ اَنْ یُّوْتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْیَفْعَلْ] (ابوداود: ۱٤۲٤)

که څوك خوښوی چه یو رکعت وتر وکړی نو وِدِے ئے کړی۔ او زیاته اندازه ئے شریعت نهٔ ده خودلے، نبی کریم ﷺ به خپله دیارلس رکعاته کول خو زیادت په کښې په اجماع د علماؤ جائز دے، او د قرآن د ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَیَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ د عموم نه معلومیږی۔ څوك چه پدے کښې په عدد باندے زور لګوی او دا لازم ګڼړی نو دا په اجتهاد کښې خطاء دے۔

او د قیام اللیل فائده دا ده چه پدے سره د الله تعالیٰ تعلق پیدا کیږی، د ورځے به دعوت کوی او د شپے به د الله تعالیٰ عبادت کوی۔

او پدے باندے انسان کمال ته رسیږی لکه رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین پدے سره کمال ته رسیدلی وو، ولے که د انسان دعوت وی او عبادت ئے نهٔ وی، نو په دعوت کښې ئے اثر نهٔ وی۔

او ډیر مزیدار تقریر به وکړی لیکن اثر به پکښې نهٔ وی، او د متقیانو او ډیر عبادت ګذارو ساده خبرو کښې الله تعالیٰ ډیر اثر اچوی۔ د فاسق سړی د دعوت اثر کم وی۔

او قیام اللیل بالکلیه نهٔ دی منسوخ، او پدے سورت کښې چه کوم علماء داسے معنیٰ

کوی چه د شپې دعوت وکړه نیمائی شپه او یا دریمه حصه یا د هغې نه کم، نو دا د قرآن کریم د تحریف مشابه دے۔ بلکه دلته همدغه د شپې عبادت مراد دے، او ډیرو خلقو ته تهجد او قیام اللیل هسے ګپ ښکاری۔

او ګنړ احادیث او عمل د رسول الله ﷺ پدے باره کښې ښکاره ثبوت دے۔

يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾
اے څادر په سر کونکیه۔ (اے نبوت دپاره ځان تیارونکیه)۔ اُودریږه د شپې مګر لږ۔
نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ
نیمائی د هغې یا کم کړه ددے نه لږ، یا زیات کړه په هغې باندے۔ او جدا جدا لوله
الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾
قرآن لره په جدا جدا لوستلو سره۔ یقیناً مونږ اچوو په تا باندے وینا درنۀ۔
إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾
یقیناً پاڅیدل د شپې دا سخت برابرونکی دی (زړه لره) او ښه برابرونکے ده وینا لره۔

تفسیر : بخاریؒ او مسلمؒ او ترمذیؒ د جابر بن عبد الله ؓ نه روایت کړی دی چه نبی کریم ﷺ باندے چه کله اول ځل وحی نازله شوه. او د غارِ حراء نه کور ته واپس راتلو کښې ئے جبریل ؑ په فضاء کښې اولیدهٔ، نو په هغهٔ باندے لړزیدل راغلهٔ، او کور ته رسیدو سره سم ئے خدیجے رضی الله عنها ته ووئیل [زَمِّلُوْنِیْ زَمِّلُوْنِیْ] چه په ما باندے فورًا کمبل واچوئ۔ (بخاری رقم : ۳) مسلم : (۴۲۲) ۔

دے وجے نه الله تعالیٰ په دے سورت کښې د مهربانۍ او محبت په توګه نبی ﷺ ته د [المزمل] او په سورۀ المدثر کښې د [المدّثر] خطاب ورکړو۔

او مطلب ئے دا دے چه د راحت شپے پریده بلکه د الله تعالیٰ بندګۍ کښې مصروف شه۔

او الله تعالیٰ یو کال په رسول الله ﷺ باندے دا مشکل عبادت ولے وکړو؟ او دغه شان درے کاله ئے په غارِ حراء کښې پرے ولے تیر کړل؟ دا ددے دپاره چه په دعوت کښې ئے اثر وی۔

نو پدې صورت کښې به د مزمل معنیٰ څادر تاوونکے وی۔

دویمه رائے داده چه مزمل د زمل نه دے حمل (بوج پورته کولو) ته وئیلے شی، نو د [مزمل] معنیٰ ده (د نبوت او د قرآن دروند بوج پورته کونکبه)۔

چونکه نبی کریم ﷺ باندې د آخری رسالت او د قرآن کریم دروند بوج اچولے شوے دے وجې نه د لوئے ذمه واریٔ احساس ورکولو دپاره هغه په دې خطاب سره رابللے شوے دے۔ نو مزمل په معنیٰ د مُتَزَمِّل سره دے۔

یا په معنیٰ د (اَلْمُزَمِّلُ نَفْسَهٗ) سره دے، یعنی په ځان باندې بوج پورته کونکے۔ او دا صفت د هر داعی او د قرآن والا دے۔ او همدا قول غوره دے۔

بعض مفسرینو ددې توجیه دا بیان کړې چه د وحی په شروع کښې چه کله جبریل علیه السلام د نبی کریم ﷺ خواته راتلو، نو د وحی د رُعب له وجې به په هغهٔ باندې لړزه راتله او هغهٔ به کمبله اچوله، دې وجې نه هغهٔ ته د [المزمل] خطاب ورکړے شو۔ د څهٔ ورځو نه پس دا کیفیت ختم شو، او الله د هغهٔ زړهٔ مضبوط کړو۔

لیکن صحیح دا ده چه دا حالت په ابتداء د نزول د سورة علق کښې وو، او بیا د سورت مدثر په باره کښې هغه راغلے دے۔

یَا اَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ: الله تعالیٰ ورته دا خطاب وکړو پدې کښې دوه فائدې دی:

(۱) یو ملاطفه او د پیار محبت خطاب دے، اشاره ده چه الله تعالیٰ په هغه باندې ملامتیا نهٔ وائی بلکه هغه ته اُنس (محبت) ورکوی۔

(۲) دویم پدې کښې هر څادر په سر کونکی د شپې اُوده انسان ته تنبیه ده چه قیام اللیل او د الله تعالیٰ ذکر ته رابیدار شی۔ (ذکره الخطیبؒ)

الله تعالیٰ په دې سورت کښې نبی کریم ﷺ ته اول د مانځه، بیا د دعوت په لاره کښې د خپل قوم له خوا د راتلونکو تکلیفونو برداشت کولو حکم کړے، او په آخر کښې ئے دا حکم ورکړو چه تهٔ خپل دعوت د خلقو مخامخ ښیخی ښکاره پیش کړه۔

قُمِ اللَّیْلَ: یعنی د شپې مانځه دپاره ودریږه۔

﴿اِلَّا قَلِیْلًا﴾ معنیٰ داده چه تهٔ د څهٔ وخت نه علاوه ټوله شپه مونځ کوه، لیکن روستو په ﴿نِصْفَهٗ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِیْلًا﴾ کښې تشریح اوکړے شوه چه نیمے شپے پورے مونځ کوه، یا ددې نه لږ شان کم وخت یعنی د شپې دریمے برخے پورے، یاکه تهٔ غواړے نو د شپے دوه

دریمو برخو پورے مونځ کوه۔ مقصد دادے چه تاته اختیار درکړے شوے چه یا خو ته نیمائی شپے پورے مونځ کوه یا ددے نه زیات یا ددے نه کم۔ او ددے تشریح د دویمے رکوع په اول کښې شویده۔

أَوِ انْقُصْ مِنْهُ : یعنی د نیمے نه ئے کمه کړه نو دریمه برخه شوه۔

أَوْ زِدْ عَلَيْهِ: یا په نیمائی باندے زیات کړه نو دوه برخے شوے۔

وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلاً : (جدا جدا ولوله قرآن لره په جدا جدا لوستلو سره) اَیْ اِقْرَأْهُ عَلٰی مَهَلٍ مَعَ تَدَبُّرٍ۔ یعنی دا په آرام سره په فکر سره ولوله۔

یعنی ته د قرآن کریم تلاوت په اطمینان سره کوه په دے توګه چه تمام حروف او کلمات او حرکات او سکنات واضح وی، د قرآن کریم معنے زړه ته کوزے شی۔

د ترتیل معنیٰ د تجوید ده، دا دیته وائی : اَدَاءُ الْحُرُوْفِ مِنْ مَخَارِجِهَا مَعَ صِفَاتِهَا بِصَوْتٍ ۔ حروف ادا کول د خپلو مخارجو نه سره د صفاتو نه سره د آواز نه، که آواز پکښې نۀ وی دا هم تجوید نۀ دے۔ دومره آواز راویستل ضروری دی چه ته ئے خپله واورے، ددے نه معلومه شوه چه قرآن په ترتیل سره لوستل واجب دی۔ او زر زر ګړ ګړ والا قرآن لوستل غلط دی، دا د الله تعالیٰ سره چل ول دے، چه په یو څو ورځو کښې زر زر قرآن ووائی، او بیا زر زر تراویح کوی، دا عبادتونه شرمول، او د الله تعالیٰ بے ادبی ده۔

داسے قرآن ووایه چه خپله هم ترے خوند واخلے او بل له هم خوند ورکړی۔

لنډه دا چه قرآن کریم د جلتئ کتاب نۀ دے۔

دارنګه ترتیل کښې دا ضروری ده چه د معنیٰ د تدبّر سره به وی، دارنګه د مدّ په ځای کښې به مد وی او د قصر په ځای کښې به قصر وی، او د وقف په ځای کښې به وقف وی۔

او دا آیت دلیل دے چه لږ قراء ت چه سَره د تدبر او ترتیل نه وی افضل دے د ډیر قراء ت نه چه په جلتئ سره وی۔

دلته صاحب د فتح البیان د مصر وغیره په قاریانو باندے رد کړیدے، فرمایلی ئے دی «چه د ترتیل نه مقصود د لوستلو سره زړۀ حاضرول دی، نۀ صرف د مرئ نه حروف راویستل چه مخ او خوله ورسره کږه کړی او د ګانو بجانو په شان طرزونه پکښې کوی لکه چه ددے زمانے قاریانو عادت دے په مصر کښې او په مکه مکرمه وغیره کښې بلکه دا بدعت دے چه لوپرانو خوراکیانو، او کم عقلانو ایجاد کړیدے کوم چه د شریعت او د

هغے د رشتینی دلیلونو نه نا خبره دی، او دا اولنیٔ شیشه نهٔ ده چه په اسلام کښ ماته شویده)). آهـ (فتح البیان ۷/۲٤٦)

إِنَّا سَنُلْقِيْ: په دے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ له خبر ورکړے چه مونږ په تا باندے قرآن نازلونکی یو چه ستا په بدن او روح باندے به ددے ډیر دروند اثر پریوځی۔ وحی ظاهراً هم درنه وه لکه امام بخاریؒ د عائشے رضی الله عنها نه نقل کړی دی چه (په نبی ﷺ به د سختے یخنیٔ په زمانه کښ هم وحی نازلیدله نو د هغهٔ تندے به خولے سره لمدیدهٔ)۔

۲- ثقیل یعنی وزنداره۔ یعنی دا په میزان کښ درنه ده۔

۳- قتادهؒ د [قول ثقیل] دا تشریح کړے چه قسم په الله ! چه په قرآن کښ فرائض او حدود عملی کول انسان لپاره ډیر دروند کار دے۔

٤- مجاهدؒ وائی : ددے حلال او حرام ډیر درانهٔ دی۔

٥- فراءؒ ددے نه مراد دروند کلام اخستے، یعنی قرآن کریم سپك او سطحی (سرسری) کلام نهٔ دے، بلکه ډیر عزتمند کلام دے ځکه چه دا زمونږ د رب کلام دے۔

٦- یا ثقیل دے په منافقانو او کافرانو باندے ځکه چه په هغوی باندے دلیلونه او ردونه پکښ شویدی، او د هغوی گمراهی ئے بیان کړے او د هغوی پردے ئے څیرلی دی۔ (محمد بن کعبؒ)

۷- ثَقِيْلٌ لَايَحْمِلُهٗ اِلَّا قَلْبٌ مُؤَيَّدٌ بِالتَّوْفِيْقِ وَنَفْسٌ مُزَيَّنَةٌ بِالتَّوْحِيْدِ۔ (حسین بن الفضلؒ)

درونددے چه هغه زړه ئے پورته کولے شی چه په توفیق سره ئے تائید شوے وی، او هغه نفس چه په توحید سره بنائسته شوے وی۔ (یعنی هر څوك د قرآن سره تعلق نشی ساتلے، د چا په زړه کښ چه د الله لوی والے وی هغه به قرآن راخلی)

نو ثقل ئے په ډیرو اعتبارونو سره دے، ❁ یو دا چه په عمل کښ،

❁ او بل په دعوت کښ درونددے ځکه چه په دعوت د قرآن کښ قربانی د بدن او د مال او د وخت ضروری ده۔ ❁ دارنگه درون والے په اعتبار د اکرام او عزت سره، (سدیؒ)

❁ او درون والے په اعتبار د اجر سره په میزان کښ،

❁ او درون والے په اعتبار د کثرت د علومو او احکامو سره دے۔

❁ او ثقل په اعتبار د اعجاز سره چه څوك ئے مقابله نشی کولے، ❁ ثقیل دے پدے

اعتبار سره چه يو زړه ددې تول فوائد او تولې معاني نشي رالاندې كولې. د تولې دنيا علماء او فقهاء او باحثين ئې ستړي كړيدي، او د ثقيل لفظ دې تولو مطلبونو ته شامل دې.

إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ : په دې آيتِ كريمه كښې د قيام الليل (تهجدو) او په دې كښې د قرآن كريم په پُر سكون انداز كښې د لوستلو فائده ښودلې شوې ده.

الله تعالىٰ نبي ﷺ ته وفرمايل چه ته د شپې په وخت مونځ كوه، او په دې كښې د قرآن كريم تلاوت كوه، ځكه چه د شپې وخت پُر سكون وي، مخلوق اُوده وي او تمام آوازونه خاموش وي، دې وخت كښې د غوږ، سترګې، زړۀ او ژبې ترمينځه موافقت وي.

دې وجې نه په داسې وخت كښې چه ته د مانځه لپاره د خپل رب په حضور كښې اُودريږې، او د قرآن كريم تلاوت كوې نو ستا لوستل به زيات په حضورِ قلبي سره وي، او ستا په دِل او دماغو به ددې ژور اثر پريوځي.

حافظ سيوطيؒ د جاحظ نه ددې آيت معنىٰ دا نقل كړې چه د [نَاشِئَةَ اللَّيْلِ] نه مراد هغه معاني او مطالب دي كوم چه د تهجدو په مانځه كښې د قرآن كريم په تلاوت سره په زړۀ باندې راپرانستې كيږي، هغه مطالب او معاني زيات صحيح وي، او د هغې اثر په انسان باندې زيات واضح وي.

نَاشِئَةَ : د نَشَأَ مِنْ مَكَانِهٖ نه دې په معنىٰ د پاڅيدو سره. يا ناشئة د نَشْأُ نه دې په د راپيدا كيدو سره، او دلته ترې مراد ساعات او اوقات د شپې دي، او موصوف ئې حذف دې، أَىْ إِنَّ سَاعَاتِ اللَّيْلِ النَّاشِئَةَ. يعني يقينا وختونه د شپې چه راپيدا كيدونكي دي.

بيا موصوف حذف شو او صفت د هغې په ځاى قائم شو.

ابن مسعود او ابن عباس رضى الله عنهما وائي : دا د حبشو په ژبه قيام الليل ته وئيلې شي. نو دا بيا جمع ناشئ ده په معنىٰ د قائم سره.

وَطْءً: أَىْ مُوَاطَاةً (مُوَافَقَةً) الْقَلْبِ مَعَ اللِّسَانِ. يعني ډير سخت دې په برابرئ د زړۀ كښې د ژبې سره.

وَأَقْوَمُ قِيلًا: او ډير برابرونكې دې وينا لره. ځكه چه نور آوازونه ختم وي، او دنيا په آرام وي نو انسان په قراءت كښې نۀ ګډوډ كيږي.

د اَشَدُّ وَطْئًا او اَقْوَمُ قِیْلًا فرقونه

(۱) اشد وطئا معنیٰ ده چه د زړه او د ژبے موافقت پکښې راځی۔ یعنی د حکمتونو او د معانیو راویستو دپاره ډیر برابر دے۔

او اقوم قیلا : دا چه د الفاظو او د حروفو د تصحیح دپاره ډیر برابر دے۔ او چونکه معانی د الفاظو نه ډیر اَهم وی نو ځکه ئے اشد وطئا مخکښې راوړو۔

(۲) یا اول دپاره د آوریدو دے د بل چا نه چه زړه باندے برابر لګی۔ او دویم دپاره د بیانولو دے بل چا ته۔ او ایزده کول مقدم دی بل ته د بیانولو نه۔ نو ځکه ئے اشد وطئا مخکښې راوړو۔

او دا دلیل دے چه د شپے په قراءت کښې د ورځے د قرائت په نسبت اجر زیات دے۔

إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ﴿٧﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ
یقیناً تا لره په ورځ کښې مشغله اُوږده ده۔ او یادوه نوم د رب خپل او ځان جدا کړه
إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴿٨﴾ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَا إِلٰهَ
هغهٔ ته په جدا کولو سره۔ رب د مشرق او د مغرب دے، نشته حقدار د بندګئ
إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿٩﴾ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُولُونَ
سویٰ د هغهٔ نه نو اُونیسه هغهٔ ذمه وار۔ او صبر کوه په هغه خبرو چه وائی دوی
وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ﴿١٠﴾
او پریده دوی لره په پریخودو ښائسته سره۔

تفسیر : اِنَّ لَكَ فِیْ النَّهَارِ سَبْحًا طَوِیْلًا : سبح لامبو ته وائی، او په لامبو کښې خلق لاس خپے وهی نو حاصل معنیٰ ئے د مشغلے کیږی۔

ددے ډیرے معانی دی (۱) ښکاره مطلب ئے دا دے چه د شپے تهجد ځکه کوه چه ستا دپاره د ورځے مشغله ده، د اُمت په کارونو کښې مصروف ئے، نو ددے فائده به دا وی چه د شپے په عبادت سره به تا ته د ورځے کارونه آسانیږی۔

(۲) او بله دا چه کله چه ته د ورځے په کارونو مشغول ئے، او د شپے هم عبادت نهٔ کوے

نو بيا خو د الله تعالىٰ تعلق نۀ حاصليږي.

ددے وجه نه عمر فاروق ﷺ ته چا وويل چه تا باندے سخته زياته ده، او بدن دِے كمزورے شو. هغه وويل كه د ورځے اُوده شم نو رعيت ضائع كيږي او كه د شپے خوب زيات كړم نو نفس مے ضائع كيږي فَكَيْفَ لِيْ بِالنَّوْمِ بَيْنَ هٰذَيْنِ.

نو زۀ ددے دواړو حالتونو ترمينځ څنګه ډير خوبونه وكړم.

(۲) سَبْحًا كلمه عرب د فراغت دپاره استعمالوى. نو ددے وجه نه زجاجؒ ددے معنىٰ داسے كوى : [اِنْ فَاتَكَ فِى اللَّيْلِ شَيْءٌ فَلَكَ فِى النَّهَارِ فَرَاغٌ لِلْاِسْتِدْرَاكِ].

كه ستا نه د شپے څه عبادت فوت شى د خوب يا د بيمارئ په وجه نو ستا دپاره د ورځے فراغت شته چه كوم وخت د ورځے فارغ شوے نو هغه پكښ راوګرځوه.

(۳) يا مطلب دا دے : (فَرَاغًا وَسَعَةً لِنَوْمِكَ وَرَاحَتِكَ)

يعنى د شپے مونځونه ځكه كوه چه ستا دپاره د ورځے د خپل خوب او راحت دپاره وخت او فراخي شته، نو د ورځے به هغه خوب راوګرځوے.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ: يعنى الله تعالىٰ هغۀ ته حكم وكړو چه هر وخت د خپل رب په ياد كښ مشغوله اُوسه. تسبيح، تهليل، تكبير، د الله تعالىٰ حمد او ثناء، مونځ، د قرآن كريم تلاوت، او خلقو ته د اسلام د تعليم په وركولو كښ لګيا اوسه، او خپل نفس د خيرو نه پاك كړه، او پوره اخلاص سره د خپل رب په ياد كښ لګيا اوسه، چه هغه د مشرق او مغرب رب دے، هغۀ نه سوىٰ بل كوم معبود نشته دے، او په خپلو تمامو كارونو كښ صرف په هغۀ بهروسه كوه، هغۀ نه سوىٰ بل هيڅوك كار ساز مۀ منه. هغه به تاله كافي وى، او په هر حال كښ به ستا حفاظت او مدد كونكے وى، او د دعوت په لاره كښ چه د قريشو كافران تا ته او ستا صحابه كرامؓ ته كوم تكليفونه دركوى، په هغے صبر كوه او د هغوئ د خبرو جواب مۀ وركوه.

وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيْلًا : تبتل او تبتيل په اصل كښ ترك النكاح (نكاح پريخودو) ته وائى. دلته ئے معانى دا دى : اَىْ اِنْقَطِعْ اِلَيْهِ انْقِطَاعًا بِالْاِشْتِغَالِ لِعِبَادَتِهٖ . (يعنى منقطع شه الله ته په منقطع كيدو سره پدے طريقه چه د هغۀ په عبادت كښ مشغوله شه)

حاصل معنىٰ ئے ابن زيدؒ ذكر كړيده : اَىْ رَفْضُ الدُّنْيَا وَالْتِمَاسُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ . يعنى دنيا پريده او هغه شے طلب كړه چه د الله سره دے. يعنى د دنيا دپاره خبرے پريده.

۳- مجاهدؒ وائی : اَخْلِصْ لَهُ اِخْلَاصًا ـ الله دپاره په هر عمل کښې اخلاص کوه۔ او تبتل ئے ځکه راوړو چه کله يو تن عبادت کوی، ليکن په نورو څيزونو مشغول وی نو ورته وائی چه په عبادت کښې يکسوئی کوه او دے ته يواځے کيږه۔

تبتل د مَنَازِلُ السَّائِرِيْن نه يو منزل دے، چه دے ته به بنده ځان وړاندے کوی، او هغه دا چه الله تعالیٰ ته به د عبادت دپاره يواځے کيږی ځکه چه نفس د دنيا په کارونو کښې د مشغولتيا په وجه خيرنيږی نو کله چه بنده د الله تعالیٰ سره يواځے مناجات کوی، او د دنيا د کارونو نه يو طرف ته شی، نو نفس ئے د خيرونه پاك شی۔

ددے دا مطلب نهٔ دے چه انسان به پيری مريدی شروع کوی، او چيلے به وباسی او خلقو ته به دعوت هم نهٔ کوی او د هغوی په جماعتونو کښې نهٔ شريك کيږی او نکاحونه هم نهٔ کوی او مباح تلذذات د دنيا په ځان باندے حرام کړی نو دا رهبانيت دے، او د نصاراؤ تبتل دے۔ بلکه ددے مطلب دا دے چه په ورځ کښې څه وخت د الله دپاره وباسه چه د الله ذکر اذکار او عبادت پکښې کوے۔

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ: پدے آيت کښې دريم ادب ذکر کوی۔ او د تبتل دپاره وجه بيانوی چه الله ته ځان ځکه جدا کړه چه هغه رب د مشرق او د مغرب دے، او د کارونو سنبالونکے دے، او همغه مستحق د عبادتونو دے۔

فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا: اَیْ فَوِّضِ الْاُمُوْرَ اِلَيْهِ۔ يعنی هغهٔ ته کارونه وسپاره۔

مطلب دا چه بندگی د هغه کوه او کارونه همغه ته سپاره ځکه چه همدغه ذات مختص دے په ربوبيت باندے۔ پدے کښې اشاره ده چه څوك د الله بندگی کوی نو الله به ئے کارونه سر ته رسوی۔

امام بقاعیؒ وائی : ددے مطلب دا نهٔ دے چه انسان ټول کارونه د دنيا پريدی ځکه چه دا خو تشه طمع ده، بلکه مطلب دا دے چه انسان به په ښهٔ شان سره هغه څه طلب کوی چه انسان ته ئے دعوت ورکړے شويدے دے دپاره چه په هغهٔ باندے ځان وسپاری په اسبابو کښې او د کار د پوره کيدو انتظار وکړی نو داسے به نهٔ کوی چه اسباب پريدی، او طمع لری چه کارونه به خپله کيږی، ځکه چه ددے مثال د هغه سړی دے چه اولاد بغير د ښځے نه طلب کوی۔او دا کار د دنيا د پيدائش د حکمة خلاف ده۔ ځکه چه دنيا دار الاسباب ده۔

وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ: دے نه معلومیږی چه عبادت د صبر سبب هم وی۔ یعنی کله چه تهٔ د کتاب او سنت دعوت کوے، نو د مخالفینو د سب او شتم او د استهزاء په مقابله کښ صبر نه کار واخله۔

وَاهْجُرْهُمْ هَجْراً جَمِيْلًا : ددے معنیٰ دا نهٔ ده چه دوی ته دعوت مهٔ کوه۔ بلکه مطلب دا دے چه د دوئ د مالدارئ او د قرابت پرواه مهٔ کوه۔

دارنګه د دوی د سب او شتم د وجه نه دوی ته دعوت نهٔ پریخودل، او د دوی د شرك او بدعاتو او د فسق او فجور د مجالسو او اجتماعاتو نه ځان جدا ساتل۔

او دوی ته د هرے غلطے خبرے جواب نهٔ ورکول، یعنی همیشه د کنځلو جواب په کنځلو سره نهٔ ورکول۔

وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِيْنَ أُولِي النَّعْمَةِ
او پریده ما لره د تکذیب کونکو سره چه خاوندان د خوش عیشئ دی (چه د دنیا
وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ﴿١١﴾ إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَّجَحِيْمًا ﴿١٢﴾ وَطَعَاماً
مزو والا دی) یقیناً مونږ سره بیړئ د خپو دی او اُور ګرم۔ او خوراك
ذَا غُصَّةٍ وَعَذَاباً أَلِيْماً ﴿١٣﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ
چه مرئ کښ انختونکے دے، او عذاب دردناك۔ په کومه ورځ چه وبه خوزیږی
الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيْباً مَّهِيْلًا ﴿١٤﴾
زمکه او غرونه او شی به غرونه ډیرکئ بهیدونکی۔

تفسیر : شان نزول

مفسرینو لیکلی چه دا آیت د هغه لسو مشرکانو په باره کښ نازل شوے چه هغوئ د بدر په میدان کښ د کافرانو لښکر باندے خوراك خورولے وو۔

په دے آیتِ کریمه کښ الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته وئیلی دی چه د مکے د عیش او عشرت والا کافرانو معامله تهٔ ماته پریده، تهٔ د دوئ فکر مهٔ کوه۔ دوئ سره د مقابلے لپاره ستا له خوا مونږه کافی یو، او زهٔ به ستا بدله د دوئ نه خامخا اخلم۔

حاکمؒ او بیهقیؒ په (دلائل) کښې د عائشې رضی الله عنها نه روایت راوړے دے چه دا آیت د نازلیدو نه یو څو ورځې روسته د بدر غزا اوشوه۔

اُولِیُ النَّعۡمَةِ: په زور د نون سره مالدارئ او د ژوند فراخئ او خوندونو ته وئیلے شی۔ او په زیر د نون سره انعام ته وئیلے شی، او په پیښ د نون سره خوشحالئ ته وئیلے شی۔

شوکانیؒ د ﴿ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيۡلًا ﴾ دویم مطلب دا بیان کړے چه (د مرګ وخته پورے تۀ دوئ په خپل حال پریږده) ځکه چه ژوند د دنیا لګ دے۔ او دا ئے غوره کړے دے، ځکه چه الله تعالیٰ ددے نه پس په روستنو آیتونو کښې د آخرت عذاب ذکر کړے، او د مهلت نه مراد دا دے چه د دوی دپاره عذاب په تادئ سره مۀ غواړه، دوی به د دنیا د نعمتونو او مالونو نه استدراجاً فائدے واخلی تر وخت د عذاب پورے۔

اِنَّ لَدَيۡنَاۤ اَنۡكَالًا: دا تخویف اُخروی دے، او هغه عذاب ذکر کوی چه هغے ته په ذَرۡنِیۡ او مَهِّلۡهُمۡ کښې اشاره وشوه۔

او دا څلور قِسمه عذابونه دی په مقابله د تَنَعُّمۡ (مزو اخستو) د دنیا کښې۔

پدے ترتیب سره چه په دنیا کښې د دوی آزادی وه، نو په آخرت کښې به ورته په خپو کښې درنے بیړئ پرتے وی چه د هغے د وجه نه به هیڅ حرکت نشی کولے۔

انکال جمع د نَکل ده قید ته وائی۔ (حسنؒ ومجاهدؒ)

او د وسپنے طوقونه چه په څټ کښې به ورته اچولے شی۔ (کلبیؒ)

اول زیات معروف لغت دے۔

او انکال قسماقسم عذابونو ته هم وئیلے شی۔ (مقاتلؒ)

وَجَحِيۡمًا: په دنیا کښې د دوی دپاره اسباب د یخ والی وو، نو په آخرت کښې به جحیم (سخت ګرم اُور) وی، او په دنیا کښې پاکیزه او نرم او ښائسته خواږۀ خوراکونه وو، نو په آخرت کښې به داسے خوراکونه وی چه په مرئ کښې به ئے انخلی، سپور، ګرم، تریخ، سخت او ګنده چه هغه غسلین، زقوم، ضریع وغیره دی۔

او په دنیا کښې ئے فراخه او د خوشحالئ او د نعمتونو ژوند وو، نو په آخرت کښې به عذابونه او تکلیفونه وی چه زړونو ته به ئے دردونه ورکوی۔ اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنۡ تِلۡكَ الۡحَالَةِ السَّيِّئَةِ۔ آمین۔

ذَا غُصَّةٍ: اَیۡ لَایَسُوۡغُ فِی الۡحَلۡقِ ۔ یعنی د انختلو والا په مرئ چه په مرئ کښې به په

آسانئ سره نۀ تیریږی۔

وَعَذَابًا اَلِيمًا: یعنی د تیر شوی عذاب نه علاوه به بل قسم عذاب وی چه د هغے درد به زړه ته رسیږي۔

يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ: دا متعلق دے د (ذَرْنِيْ) پورے یا په (لَدَيْنَا) پورے۔

او د دوئ دا انجام به په هغه ورځ وی کله چه زمکه او غرونه پوره سختئ سره اوخوزیږی، او غرونه د شګو د ډهیرو غونته جوړ شی، او د اوبو غونتے اوبهیږی۔

كَثِيبًا مَّهِيلًا: یعنی هغه ډیرئ د شګے چه بهیږی۔

إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا
یقیناً لیږلے دے مونږ تاسو ته رسول، بیان کونکے دے په تاسو لکه چه لیږلے وو
إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ
مونږ فرعون ته رسول۔ نو نافرمانی اوکړه فرعون د رسول (موسیٰ) نه
فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ
نو راونیولو مونږ هغه په رانیولو سختو سره۔ نو څنګه به ځان به بچ کړئ تاسو
إِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا ﴿١٧﴾ السَّمَاءُ
که چرته کفر اوکړئ تاسو د هغه ورځے نه چه ګرځوی به ماشومان بوډاګان۔ آسمان
مُنْفَطِرٌ بِهِ كَانَ وَعْدُهُ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِ
به چاودونکے وی په هغے ورځ، ده وعده د هغۀ پوره کړے شوے۔ یقیناً دا سورت
تَذْكِرَةٌ فَمَنْ شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا ﴿١٩﴾
نصیحت دے، نو د چا چه خوښه وی (نو) اودے نیسی رب خپل ته لاره۔

تفسیر: په دے آیت کریمه کښ ترغیب ورکوی اتباع د رسول الله ﷺ ته چه تاسو ته ما داسے خوږ پیغمبر راولیږلو چه هغوی تاسو هدایت ته راکاږی۔

ربط :

مخکښې نبی کریم ﷺ ته د قریشو کافرانو په تکلیفونو باندے د صبر حکم ورکړے شو، نو اُوس د فرعونِ او موسیٰ علیه السلام واقعه ذکر کیږی په دے مناسبت سره چه لکه څنګه چه فرعون د خپل کبر او غرور له وجے په الله باندے ایمان رانهٔ وړو او هلاك شو، د مکے د مجرمانو انجام هم دغسے کیدے شی، ځکه چه دوئ هم د حق پیژندلو او په دے باندے د پوهیدلو باوجود ایمان نهٔ راوړی، او د هغهٔ د نبی په ضرر رسولو پسے لګیدلی دی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه اے مکے والو ! اے د عربو کافرانو! مونږ محمد ﷺ ستاسو لپاره نبی جوړ کړو، او در اومو لیږهٔ، او د قیامت په ورځ به په تاسو ګواهی کوی چه هغه تاسو ته دین رسولے دے، یا ستاسو د بدو اعمالو ګواهی به کوی چه تاسو د هغهٔ څومره مخالفت کړیدے، او څومره مو موافقت کړیدے، او بیا به ستاسو انجام ډیر خراب وی۔ لکه څنګه چه مونږ فرعون دپاره موسیٰ نبی جوړ کړے وو، او هغهٔ ته مو لیږلے وو، او فرعون د هغهٔ خبره نهٔ وه منلے، نو مونږ فرعون او فرعونیان په سختو رانیولو سره را اونیول، او دا ټول مو په سمندر کښې ډوب کړل۔

شَاهِداً عَلَيْكُمْ : یعنی په آخرت کښې به په انکار د منکرینو او په تزکیه د مؤمنانو ګواهی کوی۔ او دا ګواهی خاص ده په حاضرینو پورے لکه دلیل پرے د سورة مائده (۱۱۷) آیت دے چه په باره د عیسیٰ علیه السلام کښې وو،

او په حدیث د بخاری کښې زمونږ د نبی په باره کښې هم ذکر دے۔

یا شَاهِدًا معنیٰ ده، بیان کونکے دے تاسو ته د حق، دے دپاره چه په تاسو باندے حجت قائم شی۔ نو علیٰ د اِلْزام د حجت دپاره ده۔

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولاً : د مکے کافران د یهودو په واسطه سره د فرعون او د موسیٰ علیه السلام د واقعے نه ښهٔ خبر وو په نسبت د نورو واقعاتو، پدے وجه ورته ددے دواړو واقعه بیان کړے شوه۔

الرَّسُولَ: الف لام پکښې عهدی دی، مراد ترینه موسیٰ علیه السلام دے۔

وَبِيلًا: ۱- اَیْ عَظِيمًا شَدِيدًا ثَقِيلًا۔ یعنی په لوی او سختو او درنو رانیولو سره۔

۲- هلاکونکے، ۳- خراب عاقبت والا۔ دا ټولے معانی صحیح دی۔ او ددے نه هغه ټول عذابونه مراد دی چه په فرعونیانو باندے راغلی وو لکه طوفان، جراد، قمل، ضفادع، دم او غرقیدل۔

فَكَيْفَ تَتَّقُونَ: دلته د تقویٰ نه لغوی معنیٰ مراد ده یعنی ځان بچ کول۔

پدیے آیت کښې الله تعالیٰ د قریشو کافرانو ته خطاب کوی فرمائی چه که تاسو په خپل کفر باندیے باقی پاتے کیږئ، او حق دین نهٔ قبلوئ نو د قیامت د عذاب نه به څنګه بچ شئ، چه د هغے خطرناکۍ به دومره سخته وی چه هغه به ماشومان بوډاګان جوړوی، او آسمان به د ویریے د وجه نه اوشلیږی۔

د الله تـعـالیٰ دا حتـمی وعده ده، دا به خامخا پوره کوی. او قیامت به خامخا راځی، دیے وجے نـه اے د قـریشو خلقو ! تاسو ددیے ورځے د عذاب نه د بچ کیدو خامخا تدبیر اوکړئ، او هغـه تـدبیـر پـه الله تـعـالیٰ او د هغـهٔ پـه رسول ایمان راوړل او د اسلام پـه دائره کښې داخلیدل دی۔

إِنْ كَفَرْتُمْ : دیے نـه مـعـلـومیـږی چـه د دغـه ورځے د مصیبتونو نه انسان په ایمان او توحید سره بچ کیږی۔

يَوْماً : یعـنـی د دغـه ورځے د درد او تـکـلیـفونو او عذابونو او شرمونو نه به څنګه بچ شئ۔

شِيْباً: جمع د اَشْيَب ده۔ بوډا ته وائی۔ او ماشومان به ولے بوډاګان کوی ؟

لِطُوْلِ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَشِدَّتِهٖ ۔ ځـکـه چه دا ورځ به اُوږده ډیره وی او سختـی بـه ئے ډیره وی، او کله چه په انسان باندیے سختی وی، نو زر بوډا کیږی۔

لـکه حدیث کښې دی چه کله الله تعالیٰ آدم علیه السلام تـه ووائی چه اُور ته یو ټولګے راوباسه، هغـه به ووائی : د څومره کسانو نه څومره ؟ نو ورتـه بـه ووائی : د هر زرو نه نهه سوه نهه نوی جهنم دپاره او یو تن جنت دپاره۔

رسول الله ﷺ فرمائی : [فَـعِـنْدَهٗ يَشِيْبُ الصَّغِيْرُ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارٰى وَمَا هُمْ بِسُكَارٰى وَلٰـكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ]

نـو دا هغه وخت دیے چه ماشومان به بوډاګان کیږی، او هره حامله ښځه به خپل حمل زیـګـوی او تهٔ به خلق وینے چه نشه به وی، او حال دا چه هغوی به څه نشائی څیز نهٔ وی خوړلے لیکن عذاب د الله تعالیٰ ډیر سخت دیے۔ (بخاری : ۳۳۴۸) ومسلم (٥٥٤)

او ددیے روایت او آیت نـه مـعـلـومه شوه چه دا سختـه په ماشومانو هم راځی لږ وخته پوریے۔

السَّمَاءُ مُنْفَطِرٌ بِهِ: دے کښې يوه توجيه دا ده چه (١) بِهِ ضمير دغه يوم ته راجع دے، او باء سببيه ده، يا باء په معنیٰ د فِیْ سره ده.

او مطلب دا دے چه آسمان به د دغه ورځے د راتللو په سبب سره وچوی، رامات به شی. يا په دغه ورځ کښې به آسمان وچوی.

٢- يا بِهِ ضمير الله ته راجع دے. يعنی آسمان به د الله تعالیٰ په نزول سره وشليږی.

حافظ ابن القيمؒ په قصيده نونيه کښې وائی چه خاصو مفسرينو ددے دا تفسير هم کړيدے ځکه چه عام مفسرين ددے تفسير نه يريږی، د الله تعالیٰ نزول نهٔ منی.

ليکن اول تفسير ظاهر د قرآن دے. لکه نورو ځايونو کښې دی:

﴿وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ بِالْغَمَامِ﴾ چه په هغه ورځ به آسمان وچوی په وريځے سره) اګرکه دويم تفسير هم صحيح دے.

إِنَّ هَذِهِ تَذْكِرَةٌ: اُوس قرآن کريم او دغه مخکنی قصے نه عبرت اخستو ته ترغيب ورکوی.

يعنی دا آيتونه چه په دے کښې د قيامت د ورځے د سخت عذاب خبر ورکړے شوے دے، د عبرت او نصيحت خبرے دی، دے وجے نه څوك چه د قيامت د ورځے د عذاب نه بچ کيدل غواړی، هغه دِے د شرك او ګناهونو نه توبه کړی او په الله دِے ايمان راوړی، او نيك عمل دِے اوکړی.

فَمَنْ شَاءَ: د شَاءَ مفعول اِتَّخَذَ اِلٰی رَبِّهٖ سَبِيْلًا دے. او د مَنْ جزاء محذوف ده، اَیْ فَلْيَتَذَكَّرْ بِهٰذِهٖ. يعنی څوك چه الله تعالیٰ طرفته لاره نيول غواړی نو هغه دِے دا نصيحتونه رایاد کړی، او ددے نه دِے عبرت واخلی.

يا مفعول د شَاءَ پټ دے، اَیْ مَنْ شَاءَ النَّجَاةَ. څوك چه د نجات اراده لری.

او جزاء د مَنْ (اِتَّخَذَ اِلٰی رَبِّهٖ) ده. يعنی هغه دِے ونيسی الله تعالیٰ ته لاره.

سَبِيْلًا: په اتفاق د مفسرينو سره الله تعالیٰ ته د لارے نيولو معنیٰ دا ده چه بِالْاِيْمَانِ وَالْعَمَلِ الصَّالِحِ. يعنی په ايمان راوړو او په نيك عمل اختيارولو سره.

او دارنګه په تهجدو او قراءت د قرآن او په اتباع د سنت سره، چه د هغے نه لنډ تعبير ايمان او عمل صالح دے.

إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُوْمُ أَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهٗ
یقیناً رب ستا پوهیږي چه ته اُودرېږې کم د دوه حصو د شپې نه او نیمه د هغې
وَثُلُثَهٗ وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ وَاللّٰهُ
او دریمه د هغې، او یوه ډله د هغه کسانو نه چه ستا سره دي (ملګري ستا) او الله
يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ
اندازه کوي شپه او ورځ، هغه پوهه دے چه هیڅرې تاسو نۀ شئ راګیرولے دا (اُودریدل) (تاسو آخر سر ته نشئ رسولے) (چه تاسو به طاقت اُونۀ لرئ ددے اُودریدو)
فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَؤُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ
نو مهرباني ئے اُوکړه په تاسو باندے نو لولئ هغه چه آسان وي تاسو ته د قرآن نه،
عَلِمَ أَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى وَآخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ
هغه پوهه دے چه خامخا وي به ستاسو نه بعض مریضان او نور کسان به سفر کوي
فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَآخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
په زمکه کښې لټوي به د فضل الله نه او نور کسان به جنګ کوي په لاره د الله کښې
فَاقْرَؤُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ وَأَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ
نو اُولولئ هغه چه آسان وي ددے نه او پابندي کوئ د مانځه او ورکوئ زکاة
وَأَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ط وَمَا تُقَدِّمُوْا لِأَنْفُسِكُمْ
او قرض ورکوئ الله ته قرض ښائسته او هغه چه مخکښې لیږئ تاسو دپاره د ځانونو
مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّأَعْظَمَ
خپلو څه نیك عمل موندۀ به کړئ هغه په نیز د الله هغه غوره او ډیر لوئې
أَجْرًا وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٠﴾
اجر والا او بخنه غواړئ د الله نه یقیناً الله بخونکے رحم کونکے دے۔

تفسیر : پدې رکوع سره د قیام اللیل (تهجدو) وجوب (فرضیت) منسوخ شو، او دغه رنګ تعیین د نیمائی شپې، یا د دوه دریمو برخو یا د یوې دریمې برخې منسوخ شو او غیر معین اندازې دپاره د هغې استحباب پاتې شو۔

نو دلته ددې منسوخ کیدو حکمة بیانوی چه نبی کریم ﷺ د خپل رب د حکم پوره اهتمام اوکړو، او د نبی ﷺ په اتباع کښې صحابه کرامو هم د تهجدو مونځ شروع کړو، خو چونکه د مقرره وخت په پوره تحدید سره پابندی کول مسلمانانو لپاره د مشقت باعث وو، دې وجې نه په دې آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ خبر ورکړو چه د تهجدو مانځه اداء کَول اُوس هغهٔ آسان کړل۔

د شپې او ورځې وختونه، د هغې تیرې شوې او باقی مانده برخې هم هغه پیژنی، او دا هم پیژنی چه د تهجدو د وخت مقررول، په غیر د کمی او زیاتی نه ستاسو لپاره مشکل کار دې، دې وجې نه اوس هغهٔ د تهجدو مانځه معامله ستاسو لپاره آسانه کړه، او تاسو له ئې حکم درکړو چه تاسو نه څومره کیدې شی د تهجدو مونځ کوئ، او د قرآن تلاوت کوئ، اُوس د وخت مقرورل باقی نهٔ دی پاتې شوی۔ انسان چه څو پورې تازګی محسوسوی مونځ دِې کوی، او کله چه ستړې شی، یا ورله خوب ورشی، نو آرام دِې وکړی، دې دپاره چه د سهار د مانځه په وخت سستی محسوس نهٔ کړی۔

اَدْنٰی: یعنی د دوه برخو د شپې ته نزدې۔ ادنیٰ ځکه وائی چه ګینته خو ورسره نهٔ وه چه فکس په هغه وخت راپاڅیږی۔

وَطَائِفَةٌ: دې نه معلومیږی چه صحابه کرامو هم یو کال په ښه پابندئ سره دا تهجد وکړل۔ ددې وجه نه مشرکانو به دا خبره کوله چه دا قرآن ددې سړی دپاره د مشقت او د بد بختئ سبب وګرزیدو، توله شپه ولاړ وی ګوریږی۔ نو ﴿ مَا اَنْزَلْنَا عَلَیْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقٰی ﴾ هم ددې خبرې د رد دپاره راغلې وو۔ (قرآن مونږ په تا باندې دې له نهٔ دې رالیږلې چه تهٔ په مشقت کښې پریوزې)

وَاللّٰهُ یُقَدِّرُ الَّیْلَ : (۱) ددې یو مطلب دا دې یعنی دَ شپې او د ورځې حقیقی اندازه الله تعالیٰ ته معلومه ده چه دا نصف دې او دا ثلث دې، او انسانان ئې په اجتهاد سره پیژنی نو په هغې کښې د خطائی احتمال وی۔ نو تاسو به الله تعالیٰ په هغې باندې نهٔ رانیسی۔

(۲) بل مطلب دا دې چه الله تعالیٰ په شپه او ورځ کښې د مختلفو څیزونو تقدیر کوی

چه یو د هغے نه قیام اللیل دے په تحدید مُعیَّن سره، او بیا په هغے کښې تخفیف کول دی۔ یعنی د شپے او د ورځے اندازے د الله په اختیار کښې دی۔

(۳) دریم مطلب : عطاءً وائی : [لَا یَفُوْتُهٗ عِلْمُ مَا یَفْعَلُوْنَ اَیْ اِنَّهٗ یَعْلَمُ مَقَادِیْرَ اللَّیْلِ وَالنَّهَارِ فَیَعْلَمُ قَدْرَ الَّذِیْ یَقُوْمُوْنَهٗ مِنَ اللَّیْلِ وَالَّذِیْ یَنَامُوْنَ مِنْهُ]۔

یعنی د الله تعالیٰ نه د مخلوقاتو د کارونو علم نهٔ فوت کیږی، یعنی الله تعالیٰ د شپے او د ورځے اندازے پیژنی، نو هغه اندازه هم پیژنی چه خلق پکښې مونځ کوی، او د کوم نه چه اُوده پاتے کیږی)

عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ: اُوس الله تعالیٰ خپل رحم بیانوی په دوی باندے۔

اَیْ اَنْ لَّنْ تُطِیْقُوْا قِیَامَ اللَّیْلِ بِتِلْكَ الطَّرِیْقَةِ الْمَخْصُوْصَةِ۔

یعنی الله تعالیٰ ته معلومه وه چه تاسو به طاقت ونهٔ لرئ د قیام اللیل په دغه خاص طریقه۔ ځکه چه که دا همیشه دپاره لازم پاتے شوے وے نو د خلقو د طاقت نه به بهر شوے وے۔ یا ضمیر علم د مقادیرو د شپے او د ورځ ته راجع دے۔

فَتَابَ عَلَیْكُمْ : نو الله تعالیٰ دربانده مهربانی وکړه او آسانی ئے درته راولیږله چه تعیین او اندازه د رکعاتو ختمه شوه۔ او د الله مهربانی دا هم ده چه انسان د تهجدو په نیت اُوده شی او بیا ترے فوت شی هم الله تعالیٰ د تهجدو اجر ورکوی۔

فَاقْرَءُوْا مَا تَیَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ : یعنی اُوس لولئ چه څومره تاسو ته د قرآن نه آسان وی، یوه سیپاره لولے او که لږ یا ډیر۔ پابندی نشته۔

اَیْ فَاقْرَءُوْا فِی الصَّلٰوةِ بِاللَّیْلِ مَا خَفَّ عَلَیْكُمْ وَتَیَسَّرَ لَكُمْ مِنْهُ۔

یعنی لولئ د شپے په مانځه کښې هغه چه آسان وی تاسو ته د قرآن نه۔

او دلته ذکر د جزء دے چه قرآن لوستل دی، او مراد ترے نه ټول مونځ د تهجدو دے۔ ځکه چه د تهجدو اُوږد والے او لنډ والے په قراءت سره راځی۔ نو دا صریح دلیل دے چه د شپے د مانځه د رکعتونو اندازه هم نهٔ ده مقرر، او نهٔ ئے د قرائت اندازه مقرر ده۔

فائده : ددے آیت نه بعض نا خبره استدلال کوی (چه شاه انور شاه کشمیریؒ هم پرے رد کړیدے) چه په مانځه کښې فاتحه فرض نهٔ ده ځکه چه دے آیت کښې دی چه کوم ځای درته آسان وی هغه وایه۔

د جمهورو محدثینو په نیز دا استدلال صحیح نهٔ دے ځکه چه پدے آیت کښې خو د

قیام اللیل په باره کښې خبره شروع ده چه د شپې په مانځه کښې هر څومره قراءت کوې نو جائز ده، یا هر څومره مونځ چه کوې نو اجازه ده.

دا پکښې د سَره نشته چه فاتحه فرض نهٔ ده، او هرچه فاتحه ده نو هغه خو د رسول الله ﷺ په حکم سره فرض شویده (لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَاب).

دویم دا چه احناف هم فاتحې ته واجبه وائی، او حال دا چه پدې آیت کښې دی چه د هر ځای نه دِې قراءت وکړو نو جائز ده، او احناف وائی چه چا د فاتحې نه علاوه ولوستل نو واجب ترې پاتې دی. سجده سهوه به کوی. نو بیا څنګه پدې آیت باندې عمل راغې؟ خو پدې خبره ئې سوچ نهٔ دې کړې.

﴿عَلِمَ أَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى﴾ پدې کښې الله تعالیٰ د تهجدو د مانځه په وختونو کښې د آسانئ پیدا کولو ځینې نوراسباب بیان کړی دی. الله تعالیٰ وفرمایل :

هغهٔ ته معلومه ده چه په تاسو کښې به بعضِ خلق ناجوړه وی، هغوئ دپاره نیمائی شپې پورې، یا دوه دریمې برخې شپې پورې یا یوې دریمې برخې شپې پورې مونځ کول د ډیر تکلیف باعث وی، دې وجې نه هغهٔ نه چه څومره کیدې شی هغومره مونځ دِې کوی، اوکه په ولاړه مانځه کښې تکلیف محسوسوی نو کیدِنی. بلکه که نوافلو کولو کښې ورته پریشانی وی نو نهٔ دِې کوی، او دهٔ ته به د هغه نوافلو ثواب ملاویږی کوم چه دهٔ د صحت په حالت کښې کول.

د آیت مطلب دا دې چه الله تعالیٰ ته پته وه چه تاسو کښې مریضان، تاجران او مجاهدین درې واړه شته او هغوی به په دغه مخکنئ طریقه تهجد نشی کولې،

نو پدې وجه ئې درته آسانه کړه ، نو اُوس چه ددې خلقو څومره وس کیږی مونځ دِې کوی. او دا امت اکثر دې درې ډلو ته تقسیم دې، نو که تهجد په مخکنئ طریقه لازم پاتې شی، نو د امت ډیر خلق به ترې محروم شی.

ان : مُخَفَّفُ مِنَ الْمُثَقَّل دې. په اصل کښې (أَنَّهٗ) وو.

يَضْرِبُوْنَ فِي الْأَرْضِ: یعنی هغهٔ ته معلومه ده چه ځینې خلق د تجارتی کارونو دپاره سفر کوی دې دپاره چه د مخلوق محتاج پاتې نشی. د تجارت دپاره سفر کول هم طاعت دې، لیکن د هغې سره د قیام اللیل او د هغې د تحدید طاقت نشی لرلې. د داسې مسافرو د حالاتو تقاضا داده چه شریعت دوئ له سهولت راپیدا کړی، دې وجې نه دوئ لپاره په

فرض مونځونو کښې تخفیف شوے دے، د څلورو رکعتونو والا مونځونه دوئ لپاره دوه رکعته شوی دی، او دوه مونځونه ورله په یو وخت کښې کول جائز شوی دی۔

وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ: او هغهٔ ته دا هم معلومه ده چه ځینے مسلمانان د الله تعالیٰ په لاره کښې د جهاد کولو لپاره د خپلو کورونو نه اُوځی. او لرے علاقو ته ځی، او د دوئ د حالاتو تقاضا هم ده چه شریعت دوئ له آسانی پیدا کړی، نو د الله په لاره کښې جهاد کونکی دِے هم د خپلو حالاتو مطابق د نوافلو اهتمام وکړی. او که حالات ناسازګاره وی نو د تهجدو مونځ دِے په عارضی توګه پریدی۔

حافظ ابن کثیرؒ د ﴿وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾ په ضمن کښې لیکی چه دا آیت بلکه ټول سورت په مکه کښې نازل شوے وو. چه په هغه وخت کښې جهاد لا فرض شوے نهٔ وو، دے وجے نه دا د نبی کریم ﷺ د رشتین والی اَهم دلیل دے چه د جهاد کوم حکم چه آینده راتلونکے وو د هغے خبر په دے کښې ورکړے شوے، او بیا رشتینی ثابت شو۔

دارنګه دے نه معلومه شوه چه که یو وخت کښې جهاد فرض هم نهٔ وی خو د هغے دپاره به ذهن سازی کولے شی، او کوم خلق چه همیشه په جهادونو ردونه کوی، دا د منافقت نښه ده۔

پدے آیت کښې دوه فائدے دی: (۱) عبد الله بن مسعود ؓ وئیلی دی:

[مَنْ طَلَبَ الْحَلَالَ فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ]

څوك چه حلال طلب کوی نو دے د الله په لاره کښې دے. د مجاهدینو په شان، ځکه چه دلته الله تعالیٰ جمع په مابین د مقاتلین او تاجرینو کښې کړیده نو د دلالة الاقتران نه ئے دلیل نیولے دے۔

فَاقْرَؤُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ: د اول مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ نه مراد په اعتبار د اَوقاتو سره دے. چه یوه ګینټه وی او که دوه ګینټے وی. او دے مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ نه مقدار د آیتونو او د سورتونو دے. یعنی یو سورت لولی او که ډیر۔

(۲) د ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ او ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ﴾ نه امام شافعی رحمه الله د تهجدو د مونځ په عدمِ وجوب باندے استدلال کولو سره لیکلی دی چه د رسول الله ﷺ د سنتو نه همدا ثابت دی چه د پنځو فرض مونځونو نه سوئ بل هیڅ یو مونځ فرض شوے نهٔ دے. د بعضِ خلقو خیال دے چه د قیام اللیل وجوب د نبی کریم ﷺ او د

هغهٔ د امت دواړو دپاره منسوخ شوے دے۔
دريمه رائے داده چه د امت په حق کښې د تهجدو د مانځه واجب والے منسوخ شوے، او د نبي ﷺ په حق کښې ددے وجوب باقي دے۔
شوکانيؒ ليکي : غوره داده چه د تهجدو وجوب د نبي ﷺ او د هغهٔ د امت ټولو په حق کښې منسوخ شوے دے۔
ددے دليل د صحيحينو هغه حديث دے چه په هغې کښې يو تپوس کونکي نبي کريم ﷺ نه تپوس وکړو چه آيا د پنځو مونځونو نه علاوه په ما بل مونځ فرض دے؟ نو نبي ﷺ جواب ورکړو چه نه، مګر دا چه تهٔ نفلي مونځ کوے۔
او نبي کريم ﷺ نه ددے د وجوب د ساقط والي دليل د سورهٔ اسراء (۷۹) آيت ﴿ وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ ﴾ دے، (تهٔ د شپې په وخت د تهجدو مونځ کوه چه دا ستا لپاره نفل مونځ دے)۔
حافظ ابن کثيرؒ ليکلي دي چه په ﴿ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ کښې د مانځه نه په (قرائت) سره تعبير شوے، لکه د سورة اسراء په (۱۱۰) آيت ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ ﴾ کښې د قراءت نه په مانځه سره تعبير شوے۔
وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ: ددے نه مراد پنځه مونځونه دي۔ اشاره ده چه قيام الليل د ماښام او ماسختن مانځه نه علاوه دے۔
او پدے کښې تاکيد دے په مانځه باندے، او دا ذهن سازي ده چه د تهجدو فرضيت منسوخ شو، نو دا ګمان ونکړئ چه فرض مونځ به هم منسوخ شي، نهٔ بلکه د مونځونو پابندي کوئ۔ دا ستاسو د خپل رب سره د تعلق ښکلے ذريعه ده۔
وَآتُوا الزَّكَاةَ: زکاة په مکه کښې فرض شوے وو، ليکن مقادير ئے په مدينه کښې بيان شول، او زکاة ورکول د ايمان نښه ده، د اسلام همدا هغه رکن دے چه ددے په ذريعه د فقيرانو او مسکينانو ضرورتونه پوره کيږي۔
بعض وائي : ددے نه مراد نفلي صدقه ده۔ او بعض وائي : صدقة الفطر مراد ده۔
بعض وائي : ددے نه مراد هر هغه نيك کار چه د نفس د تزکيه سبب جوړيږي۔ ليکن اول قول غوره دے۔
وَأَقْرِضُوا : ددے نه مراد د خير په ځايونو کښې مال لګول دي لکه جهاد او دعوت او

علم شو۔

وَمَا تُقَدِّمُوا : دا تعمیم دے روستو د تخصیص نه ځکه چه (مِنْ خَيْرٍ) لفظ هر طاعت بدني او قولي او مالي ته شامل دے چه د کتاب او سنت موافق وي۔

هُوَ: دا ضمیر فصل دے، د تاکید دپاره ئے راوړو او پدے کښې اشاره ده چه په دغه عمل د خیر کښې به هیڅ تبدیلي او نقصان نهٔ راځي بعینهٖ همدغه عمل به مونده کړي۔

خَيْرًا: یعنی غوره د هغه مال نه چه تاسو ئے د مرګه پورے ذخیره کوئ بلکه غوره دے د ټول متاع د دنیا نه۔

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ: د هر عبادت نه روستو استغفار پکار وي، ځکه چه عبادت د الله تعالیٰ د شان مطابق ګران وي۔ نو استغفار سره عبادت مقام د قبولیت ته وړاندے کیږي۔ وبالله التوفیق۔ واستغفر الله ربی من کل ذنب واتوب الیه۔

امتیازات :

١- رسول الله ﷺ ته په المزمل سره آواز شوید ے۔

٢- د تهجدو اول فرضیت بیا د هغے منسوخیت۔

٣- د رسول الله ﷺ د رشتینوالي دلیل، چه د جهاد د فرضیت نه مخکښې ئے د هغے په باره کښې خبر ورکړو۔

٤- په قیامت کښې د ماشومانو بوډاګان کیدل۔

ختم شو تفسیر د سورة المزمل په توفیق د رب العزت سره۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٥٦)	(٧٤) سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (٢)

سورة المدثر مکی دے، په دے کښې شپږ پنځوس آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة المدثر

نوم : په اولنی آیت کښې د [اَلْمُدَّثِّرُ] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت په اتفاق سره مکی دے۔ ابن مردویہؒ او بیهقیؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه سورتِ مدثر په مکه کښې نازل شوے۔

د جمهورو علماؤ په نیز نبی کریم ﷺ باندے د ټولو نه اوله وحی ﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ﴾ نازل شو، دے نه پس څو ورځو پورے د وحی نازلیدل بند شو، بیا سورتِ مدثر نازل شو۔

مناسبت

١- مخکښې دعوت وو نو دلته د عبادت دعوت دے۔

٢- مخکښې سورت کښې امر وو په قراءت د قرآن په اوقاتو د شپه کښې، نو پدے سورت کښې امر دے په بیانولو د قرآن سره۔ یعنی د شپے عبادت کوه نو د ورځے دعوت کوه۔

٣- مخکښې عام مکذبین ذکر شول، نو دلته خاص احوال د مکذب ذکر کوی۔

٤- مخکښې ئے په اهل قرآن کښې درے قسمه خلق ذکر کړل نو پدے سورت کښې د

قرآن د منکرینو درے اقسام بیانوی۔

موضوع د سورت

اَلْإِنْذَارُ وَبَيَانُ كِبْرِيَاءِ الرَّبِّ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى۔
یعنی خلق یره ول او د الله سبحانه وتعالی لوی والے او عظمت ورته بیانول، او د هغوی په زړونو کښې کینول چه اے خلقو ! د الله نه مخ وانهٔ ړوئ او شریکان ورسره جوړ نکړئ، او عبادت ئے پرے نږدئ ۔
نو (قُمْ فَاَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ) ئے موضوع ده۔
یعنی د الله په کبریاء باندے خلق یرول او هغه د خلقو په زړونو کښې کینولو باندے حکم پدے سورت کښې خپل نبی ته کوی چه دا ستا کار شو۔
بیا به رسول الله ﷺ پدے حکم باندے په مختلفو طریقو سره عمل کولو لکه د شرك رد، نیك اعمال، گناهونه پریخودل، د الله نظر او د هغهٔ علم به ئے بیانولو۔ او دا موضوع په اول کښې هم ده،
او په آخره کښې هم راغلے ده ﴿ كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴾
یعنی رسول الله ﷺ داعی دے، او قوم ترے داسے تختی لکه خرهٔ چه د زمری نه تښتی۔ دعوت به په څه باندے کوے؟
نو هغه ذکر کوی چه په قرآن به ئے کوے، نو ددے وجه نه خوك چه د قرآن دښمنان وی هغوی ته سخت وعیدونه بیانوی،
بیا د قرآن کریم د حقانیت دپاره دلائل ذکر دی، بیا چا چه د قرآن نه اعراض کړیدے نو د هغهٔ په جهنم کښې احوال بیانیږی۔
نو دعوت، او دعوت په قرآن کریم، او د قرآن کریم د حقانیت بیان، و چا چه د قرآن عملاً مخالفت کړیدے د هغوی بد صفات، او د قرآن نه اعراض کونکو ته رټنه ددے سورت موضوع ده۔
او آخر کښې ئے ترغیب قرآن ته ورکړیدے چه ددے نه عبرت او نصیحت واخلئ۔

يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمْ فَأَنْذِرْ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾
اے څادر اچونکیه۔ پاڅیږه نو یره ورکړه۔ او د رب خپل لوئی والے بیان کړه۔
وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾
او جامے خپلے پاکے کړه۔ او ګناهونه پریږده۔ او زباتنه مهٔ کوه چه تهٔ ډیر ګنړے
وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾
(عمل لره)۔ او خاص د رب خپل دپاره صبر کوه۔

تفسیر : بخاریؒ او مسلمؒ د جابر بن عبد الله ﷺ نه روایت کړے، هغهٔ ووبل : ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه هغهٔ د وحی په باره کښ خبرے کولے، وے فرمایل چه زهٔ پیدل روان ووم چه د آسمان له اړخه مے یو آواز واوریدهٔ، (فَرَفَعْتُ بَصَرِیْ فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِیْ جَاءَنِیْ بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلٰی كُرْسِیٍّ بَیْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، فَرُعِبْتُ مِنْهُ، فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُوْنِیْ زَمِّلُوْنِیْ) چه سر مے پورته کړو نو هغه ملائك چه هغه زما خواته په غارِ حراء کښ راغلے وو هغه مے د آسمان او زمکے ترمینځه په یوه کرسئ باندے ناست اولیدهٔ۔

زهٔ ددے نندارے نه سخت اوبریدم، کور ته واپس راغلم، او ومے وئیل : په ما کمبله واچوئ، په ما کمبله واچوئ۔ نو کور والو په ما کمبله واچوله۔ دے نه پس ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ﴾ نازل شو۔ (صحیح بخاری رقم الحدیث : ٤)

حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه په دے باره کښ همدا روایت محفوظ دے، او دا ددے خبرے دلیل دے چه ددے نه مخکښ په نبی ﷺ وحی نازله شوے وه، ځکه چه نبی ﷺ په دے کښ فرمایلی دی : ما د آسمان او زمکے ترمینځه هغه ملائك په کرسئ باندے ناست اولیدلو کوم چه زما خواته غار حراء ته راغلے وو۔

اول ځل رسول الله ﷺ جبریل العَلَیْہِ په غار حراء کښ لیدلے وو، نو یخنی پرے راغلے وه نو خپل کور ته راغلے وو، او خدیجے رضی الله عنها ته ئے ووبل چه په ما باندے څادر واچوه نو په هغے کښ (يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ) نازل شو، بیا درے کالو پورے،

(او بعض وائی شپږ میاشتے) وحی بنده وه، نو بیا رسول الله ﷺ ته جبریل العَلَیْہِ په کرسئ باندے ناست رابښکاره شو، او بیا پرے دوباره یره راغله نو د هغے په نتیجه کښ دا

سورت نازل شو۔ او ددے نه روستو وحی گرمه شوه، زر زر به راتلله، او دعوت شروع شو او مخالفتونه هم سخت شول۔

اَلْمُدَّثِّرُ : د دِثار نه دے څادر ته وائی۔ یعنی اے هغه شخصه چه ځان ئے په جامه کښې پټ کړیدے۔ اَیْ کُنْ النَّذِیْرَ الْعُرْیَانَ۔ یعنی د بربنډ شخص په شان یره خلقو ته ورکړه یعنی دا څادرونه د ځان نه لرے کړه، او راپاڅیږه بنکاره خلق ویره وه، او د هغه شخص په شان شه چه هغه په بربنډه باندے خلق ویروی لکه د عربو همدا عادت وو۔

او مخکښې سورت کښې مونږ وویل چه دلته هم خطاب په (یَا اَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ) سره د پاره د مهربانئ او لطف او محبت او نۀ ملامتیا دے۔

قُمْ: قیام نه مراد ودریدل نۀ دی بلکه د دعوت دپاره ځان تیارول او هغه کارِ شروع کول دی۔ او مقصد دا دے چه ((اوس راحت او آرام پریده، او پوره همت او تازگئ سره د مکے مشرکانَ د اُور د عذاب نه اُویروه))۔

فَاَنْذِرْ: یعنی خپل امت ډِے ویره وه چه اے خلقو ! ستاسو مخے ته د الله تعالیٰ عذابونه راروان دی، بره مو ډیر لوی رب دے، د هغهٔ نه ویریږئ او ایمان راوړئ او د هغهٔ بندگی وکړئ۔

وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ : دا موضوع د دعوت ده، یعنی د خپل رب عظمت او لوئی بیان کړه، او مشرکانو ته اُووایه چه الله تعالیٰ د ټولو نه لوئے دے، دے وجے نه تاسو د هغهٔ نه سِویٰ د هیچا مخے ته مهٔ ښکته کیږئ، او د هیچا مخے ته د غوښتنے لاس مهٔ اوږدوئ۔

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ : ((او خپلے جامے پاکے کړه او د هغے د پاکئ خیال ساته))۔

(۱) په دے آیت کښې د جامونه یا خو ظاهری جامے پاکے ساتل دی۔ یعنی نبی کریم ﷺ ته حکم شوے دے چه تهٔ هر وخت د تمامو پلیتیو نه د خپلو کپړو پاکولو خیال ساته، خاصکر کله چه تهٔ مونځ کوے۔ یا خلقو ته دعوت ورکوے، ځکه چه د خیرنو جامو والا نه خلق نفرت کوی، دعوت ئے اثر نهٔ کوی، خلق ورته نهٔ کینی، او ددے وجه نه د جامو پاکوالے په عباداتو او مونځونو کښې واجب دے۔

او ظاهره ده چه هر کله نبی ﷺ ته د ظاهری پاکئ د اهتمام کولو حکم ورکړے شوے نو باطنی پاکیزگی په طریقه اولیٰ سره مطلوب ده۔

(۲) دارنگه د جامو نه مراد تمام اعمال دی، لکه په قرآن حدیث کښې د جامو اطلاق په

عمل باندے کیږی اَیْ عَمَلَكَ فَاَصْلِحُ۔ یعنی د خپل عمل اصلاح وکړه، او هغه برابر کړه۔ (مجاهدؒ، ابن زیدؒ وابو رزینؒ) گویا که الله تعالیٰ نبی ﷺ ته نصیحت وکړو چه تهٔ خپل تمام عملونه د نوم او ښودنے، ریاکارئ، منافقت، کبر او غرور او غفلت او سستئ نه پاك او صفا ساته، او د جامو خیال ساتل په دے کښې په طریقه اولیٰ سره داخل دی، ځکه چه د اعمالو په پاکوالی کښې دا هم داخل دی۔

(۳) ثیاب کله نیت ته وائی۔ یعنی نیت دِے پاك کړه او اخلاص پیدا کړه۔

(٤) د ثیاب اطلاق کله په دین باندے کیږی۔ (اِمَّا اَنْ يُّحْرِقَ ثِيَابَكَ)

(٥) حسنؒ او قرطبیؒ وائی: أَخْلَاقَكَ فَطَهِّرْ۔ خپل اخلاق دِے برابر کړه ځکه چه د انسان اخلاق د هغه په احوالو باندے مشتمل وی لکه جامه په بدن باندے۔

(٦) ابن عباسؓ فرمائی: [لَا تَكُنْ ثِيَابُكَ الَّتِيْ تَلْبَسُ مِنْ مَكْسِبٍ بَاطِلٍ]

تهٔ چه کومے جامے اغوندے هغه دِے د حرام کسب نه نهٔ وی۔ بلکه د صفا حلال کسب نه دِے وی۔

دا ټول معانی صحیح دی او مرادے دی۔

وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ: ددے هم ډیرے معانی دی: (۱) رجز کله گناهونو او تمام بدو اقوالو او افعالو ته وائی۔ یعنی خپل ټول غټ او واړهٔ او پټ او ښکاره گناهونو نه قطعی طور سره لرے اوسه، ښائسته اخلاق خپل کړه، او د مشرکانو د اخلاقو نه لرے اوسه۔

نبی کریم ﷺ د [رجز] او [رجس] دواړو معنو نه بیخی پاك وو، دے وجے نه مقصد یا خو نورو ته ددے نصیحت کول دی، یا نبی ﷺ ته دا نصیحت کول دی چه تهٔ د بتانو نه او د تمامو گناهونو او بد اخلاقو نه په ډېره کولو باندے همیش والے کوه۔

(۲) او کله رجز عذاب ته وائی۔ یعنی د عذاب طلب پریده، د الله نه عذابونه د خلقو دپاره مهٔ غواړه۔

(۳) رجز اوثان او عبادت د بتانو ته هم وائی۔ یعنی د کومو بتانو عبادت چه ستا قوم کوی، د هغے خواله هم مهٔ ورځه، ځکه چه هغوئ ناپاك او پلیت دی۔

د سورة الحج په (۳۰) آیت کښې راغلی دی: ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ﴾ (نو تاسو د گندگئ یعنی د بتانو نه بچ شئ)۔ په عربئ ژبه کښې [رِجْز] او [رِجْس] دواړو یوه معنیٰ ده، یعنی قبیح او گنده شے۔ اولنی دوه تفسیرونه ډیر غوره دی۔

وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ: ددے هم ډیر مطلبونه دی:

(۱) وَلَا تَمْنُنْ عَلَى اللّٰهِ تَسْتَكْثِرُ عَمَلَكَ۔

یعنی په الله باندے د خپل دعوت او عبادت زباتنه مهٔ کوه چه خپل دا عملونه زیات گنړے چه اے الله! ما ستا دپاره ډیره خواری وکړه، عبادتونه مے وکړل، او خلقو ته مے ډیر دعوت وکړو، او ډیره سختنه مے تیره کړه، ځکه چه د الله تعالیٰ په تا باندے کوم احسانات دی نو هغه بیشماره دی۔ لکه د بعض خلقو دا عادت وی چه لږ عمل وکړی بیا هغه ډیر گنړی۔

(۲) لَاتَمْنُنْ بِنُبُوَّتِكَ عَلَى النَّاسِ تَسْتَكْثِرُ بِهَا الْمَالَ۔

یعنی په خلقو باندے په خپل نبوت سره زباتنه مهٔ کوه چه پدے سره د خلقو نه ډیر مالونه راجمع کول غواړے چه ما تاسو ته دین بیان کړو دومره مالونه راوړئ۔

(۳) او خلقو سره دینی یا دنیوی احسان کولو سره هغه مهٔ زباتوه، او ستا په زړهٔ کښ دِے دا خبره رانشي چه تا فلانے لوئے احسان کړے دے، بلکه څومره چه کیدے شی بنیګړه کوه، او هغه هیروه، او د هغے د اجر او ثواب امید د الله رب العالمین نه ساته، گویا که ستا حال دِے داسے وی لکه په چا باندے چه دِے احسان کړے وی، او په چا باندے دِے چه احسان نهٔ دے کړے، دواړه دِے ستا په نظر کښ برابر وی۔

(٤) بعض مفسرینو د هدیه سره لګولے دے،:

اَیْ لَا تُنْعِمُ بِشَیْءٍ مُسْتَكْثِرًا اَیْ طَالِبًا لِلْكَثْرَةِ۔

یعنی چا له څهٔ شے په دے نیت مهٔ ورکوه چه هغه تاله ددے په بدله کښ ددے نه زیات درکړی۔ دے لحاظ سره دا حکم نبی کریم ﷺ سره خاص دے۔

(٥) مَنٌّ کله په معنیٰ د قطع کولو او بس کولو سره استعمالیږی۔ معنیٰ دا ده: مهٔ بس کوه کار د دعوت خپل پدے وجه سره چه ډیرئے گنړے۔

وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ: او د اسلامی دعوت په لاره کښ چه ستا د مخالفینو له اړخه کوم تکلیف تاته رسیږی، په هغے باندے د خپل رب د رضا لپاره صبر کوه۔

پدے آیتونو کښ چه کوم حکمونه ذکر شویدی، دا خو دلته لنډ لنډ ذکر شویدی لیکن ددے ترمینځ ډیره موده او مسافه وړاندے والے وو، د انذار او د الله کبریاء بیانول او د عمل برابرول او ګناه پریخودل او د الله دپاره صبر کول دا ډیرے اُوږدے خبرے وے، د رسول

الله ﷺ درویشت کاله ژندگی ئې رانیولې وه، دا ورې خبرې نۀ دي،
رسول الله ﷺ پـدې کـښې د الله تـعالیٰ دپاره ډیرې سختې تیرې کړېدي، په تهجدو کښې سختې، پـه دعـوت کـښې سختې، په جهاد کښې سختې، د خلقو خبرې برداشت کول، او دا لـکـه څنګه چـه هغۀ تـه خطاب دے نـو مونږ ته هم دے، هر مؤمن به د خپل طاقت مناسب دعوت کوي، د الله کبرياء به بيانوي، نيك عمل به کوي، ګناه به پريدي، زباتنه به نۀ کوي، د الله دپاره به صبر کوي۔
پورتنو آيتونو کښې الله تعالیٰ نبي کريم ﷺ ته چه د کومو خبرو حکم کړے، په دے ټولو باندے هغۀ عمل کړے۔
خلق ئې د آخرت د عذاب نه اويرول، د قرآن کريم ښکاره او واضح آيتونه به ئې لوستل، او د هغوئ مخے تـه بـه ئې تمام الهي مقاصد بيانول، د الله تعالیٰ عظمت او لوئی به ئې بيانوله، او مخلوق ته به ئې د الله رب العالمين د تعظيم دعوت ورکولو، خپل ظاهري او باطنـي تـمام اعمال ئې د ګندګيو او خيرو نه بيخي پاك اوساتل، د بُتانو، ګناهونو او بدو اخلاقو نه هميشه دپاره لرے اوسيدلو۔
الله تـعـالیٰ نـه پس هغۀ په خلقو باندے لوئے احسان اوکړو، او د دوئ نه ئې د هيڅ بدلے اميد اونۀ ساتلو، او نبي ﷺ د خپـل رب د رضـا پـه خاطر ټول ژوند د هغۀ بندګي اوکړه، ګناهونو نه ئې پرهيز وکړو، او د دعوت په لاره کښې چه ورته کوم تکليف رسيدلے هغه ئې برداشت کـړو، او پـه دے بـاب کـښې ئې پـه اولو العزم انبياؤ او رسولانو باندے اوچت والے حاصل کړو۔

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ ﴿۸﴾ فَذٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَّوْمٌ عَسِيْرٌ ﴿۹﴾
پس کله چه پو کے اُوکړے شي په شپيلۍ کښې۔ نو دا په دغه ورځ ورځ ده سختـه۔
عَلَى الْكَافِرِيْنَ غَيْرُ يَسِيْرٍ ﴿۱۰﴾
په کافرانو باندے نۀ ده آسانه۔

تفسير: ربط :

پـورتـنـي آيت سره ددے تعلق دادے چه الله تعالیٰ نبي کريم ﷺ لـه د مکے د مشرکانو په

ضرر ورکولو باندے د صبر کولو نصیحت وکړو، او وے وئیل چه ډیره زر هغه هیبتناکه ورځ راتلونکے ده په کومه ورځ چه به دوئ ته د خپلو کړو بدله ورکړے شي.

الله تعالیٰ وفرمایل چه کله شپیلئ اوپو کلے شي، تمام مخلوق د قبرونو نه ژوندی کړے شي او را اووځی، او دوئ میدان محشر طرفته اوشړلے شي، دا ورځ به د خپلو سختیو له وجے نه ډیره زیاته ترخه وی، او کافرانو لپاره به خو دا ورځ انتهائی ګرانه وی، ځکه چه د نجات امید به ئے بیخی ختم شوے وی، او د خپل هلاکت او بربادئ یقین به دوئ ته راغلے وی.

النَّاقُورِ: شپیلئ ته وئیلے شي. د نَقُر نه دے آواز کولو ته وئیلے شي، نو ناقور آله د آواز کولو ده، دلته ترے شپیلئ مراد ده.

فَذٰلِكَ: دا اشاره ده وخت د پوکلي کولو ته. او یومئذ بدل دے د ذٰلِكَ نه، یا ظرف دے د عَسِيْرٌ دپاره.

عَلَى الْكَافِرِيْنَ: پدے کښ اشاره ده چه ورځ خو ډیره سخته ده لیکن مؤمنانو ته به په آرام آرام سره آسانیږی تردے چه د عرش سوری لاندے به شي.

غَيْرُ يَسِيْرٍ: پدے قید لګولو کښ یوه فائده دا ده چه بعض څیزونه په یوه وجه سره سخت وی لیکن په بلے وجے سره آسان وی، نو پدے قید سره ئے دا وَهُم دفع کړو چه هغه ورځ په هره وجے سره سخته ده.

دویمه فائده دا ده چه د هغه ورځے سختی په مؤمنانو باندے هم شته لکه چه د بعض نصوصو نه ثابته ده، لیکن د هغوی سختی به بیا بدله شي په آسانتیا سره، او د کافرانو سختی نهٔ بدلیږی په آسانتیا سره.

ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيْدًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْتُ لَهٗ
پریږده ما لره او هغهٔ څوك چه پیدا کړیدے ما یواځے. او ګرځولی دی ما هغهٔ لره
مَالًا مَّمْدُوْدًا ﴿١٢﴾ وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ﴿١٣﴾ وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿١٤﴾
مال اُوږد. (ډیر). او ځامن حاضر. او تیار کړیدی ما هغهٔ لره (سامانونه) په تیارولو سره. (او فراخی مے ورکړے دهٔ لره فراخی ډیره)

ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّا إِنَّهُ

بیا دے طمع لری چه زهٔ به زیات ورکړم دهٔ ته. هیچرے داسے نهٔ ده یقیناً دے

كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾ سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴿١٧﴾

د آیتونو زمونږ سره ضد کونکے دے. زر دے چه وُبه خیژوم دهٔ لره په لوړ غر.

تفسیر: اُوس وائی چه څوك صحیح دعوت کوی، نو د هغهٔ په مقابله کښې به خامخا یو تن ودریږی، چه داعی د هغه نه تنګ وی، نو الله تعالیٰ دلته دغه مقابله کونکی ته وعیدونه بیانوی. د مفسرینو اتفاق دے چه دا آیتونه د ولید بن مغیره په باره کښې نازل شوی، چه د هغهٔ د حق دین نه عناد او د الله او د هغهٔ د رسول مخالفت د حد نه تجاوز کړے. لیکن ټول کافران د هغهٔ پدے کارونو رضا وو، نو ځکه الله تعالیٰ پدے کښې ټول راګیروی. او پدے آیتونو کښې ددے کافرانو دوه توقے ذکر شویدی.

دا واقعه محمد بن اسحاق ؒپه تفصیل سره بیان کړے، چه د هغے خلاصه داده چه ولید بن مغیره چه د ډیر عمر سړے وو، قریشو ته اوویئیل چه د حج موسم راروان دے، د عربو د قبائلو وفدونه به راځی، او د محمد د نبوت خبر دوئ ته رسیدلے دے. دے وجے نه تاسو ټول په یوه خبره متفق شئ چه هغه ددهٔ په باره کښې تاسو د عربو وفدونو سره کوئ. خلقو اوویئیل چه مونږ به محمد ته کاهن (ترویتی) اووایو، نو هغهٔ موافقت ونهٔ کړو، خلقو اوویئیل، مونږ به ورته لیونے اووایو، شاعر به اووایو او جادوګر به اووایو،

هغهٔ هیڅ رائے سره موافقت ونهٔ کړو، آخر هغهٔ خپله اوویئیل چه ډیره مناسبه خبره داده چه مونږ دهٔ ته جادوګر ووایو، چه هغه د خپل جادو په ذریعه انسان د خپل پلار، د هغهٔ د ورور، د هغهٔ د ښځے، او د هغهٔ د خاندان والو ترمینځه جدا والے راولی.

نو ټول په دے رائے متفق شول، او د عربو په قبائلو کښې چه کومه قبیله به د دوئ خواته تیریدله نو هغے ته به ئے وئیلے چه د محمد خبره مهٔ آورئ، هغه جادوګر دے، هغه به په تاسو جادو وکړی. نو د ولید په باره کښې دا آیتونه نازل شول، او الله تعالیٰ ددهٔ داسے بدی بیان کړه چه د هیچا ئے داسے نهٔ ده بیان کړے.

معلومه شوه چه څوك هم د حق سره عناد ساتی او ددے مخالفت کوی، الله به هغه په

دنیا کښې رسوا کوی، او په آخرت کښې به هغه په بدترین عذاب کښې اخته کوی۔
په بله طریقه سره دا روایت داسې بیانیږی چه رسول الله ﷺ په یو ځای کښې قرآن کریم لوستلو نو ولید ورغې او هغه ته کیناستو نو د هغۀ نه متأثر شو او مشرکانو ته راغې او دا ئې ورته وویل چه [اِنِّیْ سَمِعْتُ مُحَمَّدًا یَقُوْلُ قَوْلًا اِنَّ لَهٗ لَحَلَاوَةً وَاِنَّ عَلَیْهِ لَطُلَاوَةً وَاِنَّ اَعْلَاهُ لَمُثْمِرٌ وَاِنَّ اَسْفَلَهٗ لَمُغْدِقٌ وَاِنَّهٗ یَعْلُوْ وَلَا یُعْلٰی عَلَیْهِ وَاِنَّهٗ لَیَحْطِمُ مَا تَحْتَهٗ]
ما د محمد (ﷺ) نه داسې خبره واوریده چه هغه ډیره خوندوره او ښائسته ده۔ او چه د هغې لاندې باندې میوې دی او ډیر اُوچت کتاب وائی چه په نورو غالبه کیږی او په دۀ باندې څوك غلبه نشی کولې او ددۀ لاندې چه څه راځی هغه ذره ذره کوی۔
ددې خبرو نه روستو کورته لاړو۔ دا خبره ابوجهل ته ورسیده چه ولید هم صابی توب ته مائل شو۔ نو ابوجهل وویل چه زۀ به ددۀ کافی شم، نو ولید ملاقات ته ورغې او ډیر غمجن وو، ولید ترې تپوس وکړو چه ولې غمجن ئې؟ هغه ورته وویل : چه ستا قوم وائی چه مونږ ولید له پیسې راجمع کوو، ځکه چه خلق چه وائی :
[مَالَ وَلِیْدٌ اِلٰی طَعَامِ ابْنِ اَبِیْ کَبْشَةَ وَابْنِ اَبِیْ قُحَافَةَ یُصِیْبُ مِنْ فَضْلِ طَعَامِهِمَا]
ولید د ابن ابی کبشه (رسول الله ﷺ) او د ابوبکر صدیق طعام ته مائل شویدې او د هغوی زیاتی طعام خوری۔
(پدې طریقه ئې په غیرت کښې راولی) نو هغه وویل چه محمد او د هغه ملګری خپله د لوږې نه مړۀ شو ما له به څه راکړی، خلقو غلطه خبره کړیده۔
نو دۀ ورته وویل چه ستا نه قوم نۀ رضا کیږی ترڅو چه تۀ رانشې او قوم ته تسلی ورنکړې نو هغه د مشرکانو یو مجلس ته راغې او هغوی ته ئې وویل چه تاسو محمد ته شاعر وایئ، قسم په الله که دا شاعر وی، زۀ ستاسو نه په شعر باندې ډیر پوهیدونکې یم۔ تاسو دۀ ته کاهن وایئ، دې خو کاهن هم نۀ دې، دۀ ته جادوګر وایئ هغه هم نۀ دې۔ لیونې ورته هم نشئ وئیلې، دا خو ډیر هوښیار دې، هغوی ورته وویل چه تۀ ددۀ په باره کښې څه وئیل غواړې؟ نو هغه وویل چه زۀ به فکر وکړم بیا ئې وویل چه دا ما ته جادوګر ښکاره کیږی ځکه چه په جادو کښې هم اثر وی او ددۀ په کلام کښې هم اثر دې، پدې وجه دۀ ته به جادوګر وایو، په دې به اتفاق وکړو دې دپاره چه په عامو عربو کښې ونۀ شرمیږو چه روغ سړی ته لیونې وائی۔ خلقو ته به کم عقل ښکاره شو۔

(الدر المنثور فی التفسیر بالمأثور وعبد الرزاق وغیره بالفاظ مختلفة)

الله تعالیٰ وفرمایل: اے زما نبی! کوم کس چه ما د خپلے مور په خیټه کښ تنها پیدا کړو، نۀ هغۀ سره مال وو او نۀ اولاد، هغه ماته پریده، هغۀ نه ستا بدلے اخستلو لپاره زۀ کافی یم. او کله چه پیدا شو نو ما د هغۀ پرورش وکړو، هغۀ له مے ډیر مال ورکړو، او نارینه اولاد مے ورکړل چه هغوئ هر وخت هغۀ سره ناست وی، د هغوئ په لیدو خوشحالیږی، په هغوئ باندے خپل ضرورتونه پوره کوی، او په خپلو کارونو کښ ترے مدد اخلی. ما هغۀ لپاره تمام دنیوی اسباب تیار کړل، تردے چه د هغۀ تمام ضرورتونه او خواهشات پوره شول.

وَّحِیْدًا: هر یو تن یواځے پیدا شوید ے لیکن وحید د ولید لقب وو ځکه چه ددۀ پلار نۀ وو معلوم ځکه چه دے دعی وو. او وحید دے ته هم وائی چه [اَلَّذِیْ لَا مَالَ وَلَا وَلَدَ لَهٗ] یعنی د مور په خیټه کښ داسے یواځے پیدا چه هیڅ مال او اولاد ورسره نۀ وو. او روستو ورته الله مالونه او لاد ورکړل، او بیا په تکبر کښ راغے او د خپل خالق مخالفتونه ئے شروع کړل.

❁ بعض وائی: وحیدا: دا حال دے د ذَرْنِیْ د یاء ضمیر نه. او وحید صفت د الله تعالیٰ دے، او مطلب دادے چه دۀ ته ما یواځے پریده، صرف هم زۀ ددۀ د هلاکت دپاره کافی یم. (مقاتلؒ)

مَالًا مَّمْدُوْدًا: ولید په ډیر مال باندے مشهور وو، هر قسمه مال ورسره وو، فصلونه، څاروی، (لنګے) او تجارتونه. بعض وائی: د ولید په طائف کښ داسے باغ وو چه د هغے میوه به اوړی، ژمی نۀ منقطع کیده، او ددۀ ډیر غلامان او وینزے هم وے.

وَّبَنِیْنَ شُهُوْدًا: یعنی ځامن ئے ورسره په مکه کښ حاضر دی، سفر ترے نۀ کوی، او د رزق د طلب کولو دپاره د هغۀ نه نۀ جدا کیږی ځکه چه مال ئے زیات دے.

یا شهودا: معنیٰ ده: د هغه سره محفلونو او مجلسونو او مجمعو ته حاضریږی او د هغۀ خدمت کوی.

د مجاهدؒ وینا ده چه د ولید لس ځامن وو، د هغوئ نه خالد، عماره او هشام اسلام قبول کړے وو. حافظ ابن حجرؒ په (الاصابه) کښ لیکلی چه صحیح داده چه خالد او هشام اسلام قبول کړے، او عماره د کفر په حالت کښ مړ وو.

او مقاتلؒ وائي چه وليد بن الوليد هم ايمان راوړے وو۔

وَمَهَّدتُّ لَهُ تَمْهِيدًا: اَىْ بَسَطْتُ لَهُ فِى الْعَيْشِ الرَّغِيدِ وطُولِ الْعُمْرِ وَالْجَاهِ الْعَرِيْضِ وَالرِّيَاسَةِ فِىْ قُرَيْشٍ حَتّٰى كَانَ يُدْعٰى رَيْحَانَةَ قُرَيْشٍ وَهُوَ الْكَمَالُ عِنْدَ اَهْلِ الدُّنْيَا۔

يعنى ما هغه دپاره فراخي وكړه په مزيدار ژوند او اوږد عمر او غټه مرتبه او مشرئ كښې تردے چه خلقو به ورته د قريشو كشمالے وئيلو چه دا د دنيا والو په نيز كمال دے۔ (فتح البيان)

ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ: يعنى هغهٔ ددے تمامو نعمتونو سره دا دعوىٰ هم كوى چه زهٔ به هغهٔ له د آخرت نعمتونه هم وركوم۔ (حسنؒ)

يا په دنيا كښې به نور نعمتونه هم وركړم۔ يعنى دے ددے ډير مال سره د نور مال حاصلولو هم كوشش كښې لګيا دے ځكه چه حرص ئے زيات دے۔

يا مطلب دا دے چه روستو د تكذيب د قرآن كريم او د رسول امين نه او پس د شرك نه د الله سره طمع د زياتوالى لرى حال دا چه په ناشكرئ سره نعمتونه كميږى۔

مفسرين ليكى: چه ددے آيت د نازليدو نه روستو د وليد مال او اولاد په كميدو شو تردے چه هغه فقير هلاك شو۔ (فتح البيان)

كَلَّا: يعنى هيځكله داسے نشي كيدے، ددهٔ دا خواهش به هيڅ كله پوره نشي، ځكه چه هغهٔ زمونږ د آيتونو په رشتين والى باندے د يقين كولو نه پس د هغے انكار اوكړو، او د حق پيژندلو نه پس ئے هغه قبول نهٔ كړو۔ زهٔ به دا په بدترين عذاب باندے اخته كړم۔

عَنِيدًا: صيغه د مبالغے ده، د عناد نه دے، يعنى عناد (ضد) كول د هغهٔ كسب او عادت ګرزيدلے دے۔ عنيد هغے ته وائي چه سَره د علم نه انكار كوى، او د حق نه مخ اړوى۔

سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا: [اَىْ سَأُكَلِّفُهُ مَشَقَّةً مِنَ الْعَذَابِ لَا رَاحَةَ فِيْهَا]

يعنى زر دے چه دے به په مشقت والا عذاب باندے اخته كړم چه په هغے كښې به هيڅ راحت نهٔ وى۔

دا د اِرْهاق نه اخستے شوے دے، او ارهاق اخته كول د انسان دى په يو كار باندے په مشقت سره۔ او صعود مشقت د داسے عذاب چه هيڅ راحت ورسره نهٔ وى۔

۲- امام احمدؒ او ترمذىؒ د ابو سعيد خدرى ﷺ نه يو حديث روايت كړے

[اَلصَّعُوْدُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يَتَصَعَّدُ فِيْهِ الْكَافِرُ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا ثُمَّ يَهْوِىْ بِهِ كَذٰلِكَ فِيْهِ اَبَدًا]

چه صعود د اُور یو غر دے چه کافر ته به په هغهٔ باندے اوبا کاله خیژی، کله چه د ختلو کوشش کوی راغورزیږی به، او هغه به همیشه په همدے حال کښ وی. (واسناده ضعيف فيه ابن لهيعة ودراج ابو السمح عن ابى الهيثم وقال ابن كثير: فيه غرابة ونكارة آه. ورواه الطبرانى فى الاوسط بغير هذا اللفظ وفيه عطية ضعيف، وقد اخرجه جماعة من قول ابى سعيد)

إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ
يقيناً دهٔ فكر اُوكړو او اندازه ئے اُولګوله. نو هلاك دِے شی څنګه
قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾
اندازه ئے اُولګوله. بیا دِے هلاك شی څنګه ئے اندازه اُولګوله. بیا ئے اُوکتل.
ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ
بیا ئے تندے تریو کړو او مخ ئے راګونجے کړو. (یا رنګ ئے بدل شو) بیا ئے شا کړه
وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنْ هٰذَا إِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴿٢٤﴾
او لوئی ئے اُوکړه. نو وے وئیل نهٔ دے دا قرآن مګر جادو دے چه نقل کولے شی.
إِنْ هٰذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾
نهٔ دے دا قرآن مګر وینا د بنده ده.

تفسير : إِنَّهُ فَكَّرَ : دا د هغه عناد بیان دے چه په (عَنِيْدًا) کښ ذکر شو. او پدے کښ د ولید بن مغیره دپاره د پورتنی عذاب سبب بیان شوے.

الله تعالیٰ وفرمایل چه دهٔ ډیر غور او فکر اوکړو، او په خپل زړهٔ کښ ئے دا خبره فیصله کړه کومه چه دهٔ د نبی کریم ﷺ په ذات باندے د تور لګولو، او د قرآن کریم د آیتونو د باطلولو لپاره د قریشو په مخکښ پیش کړه.

الله دِے په دهٔ لعنت وکړی، دهٔ څنګه دروغ ترلو له په خپل زړهٔ کښ ځائے ورکړو، او هغه خبره ئے جوړه کړه کومه چه خپله ددهٔ ضمیر قبوله نهٔ کړه، د الله لعنت دِے وی په دهٔ باندے، دهٔ څنګه دداسے دروغ ترلو زرورتیا اوکړه.

بیا دے ملعون ددے دروغژنے خبرے په باره کښې غور اوکړو او ښهٔ اطمینان ئے اوکړو چه

د قريشو خلق او د عربو نور مشركان به دا اومني.

بيا دے رذيل د كبر او غرور او د رسول الله ﷺ او قرآن كريم سره د بغض او عناد په سبب خپل تندے تريو كړو، او ددهٔ په مخ باندے د حسد او كينے توروالے راخور شو، بيا دهٔ د حق نه مخ واړولو، او په كبر كښې راغے، او په حق قرآن باندے ئے د ايمان راوړلو نه انكار اوكړو، او وے وئيل چه دا قرآن د جادو نه سوىٰ بل هيڅ شے نهٔ دے چه دا محمد د نورو نه زده كړے دے، دا د الله تعالىٰ كلام نهٔ دے، بلكه د كوم انسان جوړ كړے شوے كلام دے.

فَكَّرَ: يعنى دهٔ په قرآن او نبى ﷺ باندے د طعن (تور) لګولو دپاره سوچ وكړو.

وَقَدَّرَ: يعنى د طعن دپاره ئے په زړه كښې څه منصوبه جوړه كړه. نو فكر ترتيب د مقدماتو د كلام دے، او تقدير په هغے باندے نتيجه مرتب كولو دپاره كلام جوړول دى.

فَقُتِلَ: يعنى هلاك دِے شى، او همدغسے وشوه چه الله لعنتى كړو، او د خپلو رحمتونو نه ئے جدا كړو.

كَيْفَ: دا خلقو ته د تعجب وركولو دپاره دے. يعنى تاسو تعجب وكړئ چه دهٔ څنګه اندازے لګولے.

ثُمَّ قُتِلَ: پدے كښې تكرار او كثرت د لعنت ته اشاره ده. الله تعالىٰ ورته ډير په غضب دے. يا اول اشاره ده لعنت او هلاكت د دنيا ته، او دويم كښې اشاره ده لعنت او هلاكت د برزخ او قيامت ته. (فتح البيان)

او قَدَّرَ ئے دوباره ذكر كړو ځكه چه دهٔ د طعن لګولو دپاره دوه قسمه الفاظ جوړ كړل، يو دا چه دا سحر دے، او دويم دا چه دا قول الْبَشَر دے.

ثُمَّ نَظَرَ: ددے نظر نه مراد دا چه په وخت د فكر كولو كښې ئے سترګے پټے كړے وے، يا ئے لاندے نظر كولو نو روستو د فكر نه ئے سترګے اُوغړولے او خلقو ته ئے وكتل.

يا د نظر نه مراد فكر كول دى په هغه طعنونو كښې چه په زړه كښې ئے جوړے كړے وے چه كوم يو توربه د قرآن كريم سره مناسب وى.

يا نَظَرَ فِیْ قَوْلِهٖ. يعنى په خپله خبره كښې ئے وكتل چه دا به خلق قبوله كړى. يا نَظَرَ فِيْمَا يَرُدُّ بِهِ الْقُرْآنَ. يعنى وے كتل چه قرآن په كومه خبره رد كړى.

عَبَسَ: بيا ئے تندے تريو كړو پدے وجه چه د فكر نه روستو په پوره نتيجه ونهٔ رسيدو نو زړه ئے تنګ شو، او تندے ئے تريو شو، او د سترګو په مخ كښې ئے په تندى باندے

چودونه پيدا شو، دے ته عَبَسَ وائى۔
او عبس په اصل کښې هغه پچے او خوشيان وى چه د څاروى په لکئ پورے اُوچ شوى وى۔ يعنى خپله ورته پته ولګيده چه زما دا طعن د قرآن سره موافق نۀ دے خو څه جوړول پکار دى۔
او کلمه عَبَس لفظ په تندى باندے صرف د خفګان ښکاره کيدو دپاره استعماليږى۔ لکه سورة عبس (۱) اول آيت کښې راغلے دے۔
يا عَبَسَ فِىْ وَجْهِ النَّبِىِّ اَوِ الْمُؤْمِنِيْنَ۔ يعنى تندے ئے تريو کړو په مخ د نبى ﷺ او مؤمنانو کښې د وجه د حسد او کينے او د دشمنئ نه۔
وَبَسَرَ: اَىْ كَلَحَ وَجْهَهٗ وَتَغَيَّرَ وَاسْوَدَّ۔ يعنى مخ ئے بد شکله شو او بدل شو، تور شو۔
بُسُوْر دے ته وائى چه د تندى د تريو ولو نه روستو چه په مخ باندے کوم خفګان راشى او مخ خړ شى او بدل شى۔
بعض وائى: عبوس د خبرو کولو نه روستو وى، او بُسُوْر د خبرو کولو نه مخکښې وى او دواړه په مخ کښې وى۔ دلته اول قول غوره دے۔
او پدے کښې ددۀ پريشانئ ته اشاره ده۔ چه د خبرو نه مخکښې هم مطمئن نۀ وو او روستو هم مطمئن نۀ وو۔
ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ: اَىْ اَدْبَرَ عَنِ الطَّاعَةِ وَاسْتَكْبَرَ عَنِ الْحَقِّ۔ يعنى د طاعت نه ئے شا وګرزوله او د حق نه ئے ځان لوى وګنړلو۔
او په (ثُمَّ) کښې اشاره ده چه د طعن کولو دپاره ورته هيڅ ثبوت ملاؤ نشو، او تنګ شو نو پکار دا وه چه تصديق ئے کړے وے، ليکن د عناد د وجه نه ئے د حق نه ودانګل۔ او دا کار د جهل د وجه نه نۀ وو بلکه د تکبر او د غرور د وجه نه وو۔
استکبر کښې سين دلالت کوى چه دے د لوئى مستحق نۀ وو خو په زوره ئے لوئى کوله۔
فَقَالَ: دا د فَكَّرَ او قَدَّرَ تفصيل دے۔ يعنى د فکر او اندازے دا نتيجه ئے راويسته۔
اِنْ هٰذَا: يعنى دۀ حصر وکړو چه نور تورونه لګول په دۀ باندے غلط دى صرف همدا يو تور ورسره لګيږى چه دا جادو دے او د انسان خبرے دى۔
سِحْرٌ يُّؤْثَرُ: يعنى دا داسے جادو دے چه د پخوانو ساحرانو نه نقل کړے شوے۔ يعنى

مجرّب جادو دے۔

إِنْ هٰذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ : **سوال** : په دواړو جملو کښې حصر دے او حال دا چه حصر په يو کښې صحيح وی، يا به سحر وی يا به قول البشر وی؟

١- **جواب** : دا کلام د منکر دے، او دا منکر په دے قولينو کښې مضطرب (پريشانه ګډوډ) دے، کله يو طعن لګوی او کله بل۔

٢- **جواب** : يا اول حصر په نسبت د شعر او کهانت سره وو، او دا حصر په نسبت د قول د الله تعالىٰ سره دے۔ د اول مطلب دا وو چه دا شعر او کهانت نهٔ دے بلکه صرف جادو دے او د دويم مطلب دا دے چه دا صرف قول د بشر دے يعنى د الله تعالىٰ کلام نهٔ دے۔

او د وليد ددے وينا سره د هغه متکلمينو خبره هم زياته مشابه ده چه هغوی وائی :

قرآن د الله تعالىٰ لفظی کلام نهٔ دے بلکه دا يا جبريل ﷺ وئيلے دے، يا محمد ﷺ جوړ کړيدے، او الله تعالىٰ پرے راضی دے. او دے موجوده قرآن ته د الله تعالىٰ کلام لفظی نهٔ وائی بلکه ذيتنه کلام نفسی وائی۔

يعنی **دا ذال** (دلالت کونکے) دے په کلام نفسی باندے، او عين (حقيقةً) د الله تعالىٰ کلام نهٔ دے۔ **اګر که** دوی به پدے خبره کافران نهٔ وی ځکه چه جاهلان دی ليکن خبره ئے ډيره خطرناکه ده۔

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾
زر دے چه داخل به کړو دهٔ لره ګرم اُور ته۔ او ته څه پوهه کړے ئے چه څه دے سقر۔
لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾
نهٔ پريږدی غوښه او نهٔ پريدی هډوکے۔ سوزونکے دے ځرمنے لره۔ (سيزونکے دے
عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَا أَصْحَابَ
بندګانو لره)۔ پدے باندے نورلس (ملائك) دی۔ او نهٔ دی ګرځولی مونږ خزانچيان
النَّارِ إِلَّا مَلَائِكَةً وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً
د اُور مګر ملائك او نهٔ دے ګرځولے مونږ شمار د دوی مګر امتحان

لِلَّذِیْنَ کَفَرُوْا لِیَسْتَیْقِنَ الَّذِیْنَ
دپاره د هغه کسانو چه کافران دی، دے دپاره چه یقین اُوکړی هغه کسان
أُوتُوا الْکِتَابَ وَیَزْدَادَ الَّذِیْنَ آمَنُوْا إِیْمَاناً
چه هغوی له کتاب ورکړے شویدے او زیات شی ایمان والا په ایمان کښ
وَلَا یَرْتَابَ الَّذِیْنَ أُوتُوا الْکِتَابَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ
او شك اُونکړی هغه کسان چه ورکړے شویدے کتاب او مؤمنان
وَلِیَقُوْلَ الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ
او دے دپاره چه اُووائی هغه کسان چه په زړونو د هغوی کښ مرض (د نفاق) دے
وَالْکَافِرُوْنَ مَاذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا کَذٰلِكَ یُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ
او کافران چه څه اراده کړیده الله په دے بیان سره، دغسے ګمراه کوی الله تعالیٰ چا له
یَّشَآءُ وَیَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ وَمَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ
چه اُوغواړی او هدایت کوی چا له چه اُوغواړی او نهٔ پوهیږی په لښکرو د رب ستا
إِلَّا هُوَ وَمَا هِیَ إِلَّا ذِکْرٰی لِلْبَشَرِ ﴿۳۱﴾
مګر صرف هغه، او نهٔ دی دا (آیتونه) مګر نصیحت دپاره د انسانانو۔

تفسیر: چونکه الله تعالیٰ او د هغهٔ د کلام په خلاف د ولید بن مغیره خبره ډیر زیات دروغ تړل وو، ځکه چه الله تعالیٰ په خپل کلام سره خلق جنت طرفته دعوت کوی، او دے جهنم ته دعوت ورکوی، نو د حق په خلاف ئے ډیر لوی بربریت وکړو۔

دے وجے نه الله تعالی ددهٔ په باره کښ دلته خپل نبی ﷺ ته خبر ورکړو چه دا به د قیامت په ورځ د ډیر سخت عذاب حقدار وی، زهٔ به دے په جهنم کښ اوسوزوم۔

او اے زما نبی! تاته څهٔ معلومه ده چه جهنم چاته وائی، دا خو یو داسے خطرناك او هیبتناك اُور دے چه نهٔ به غوښه پریدی او نهٔ به پلے او هډوکی، د جهنمی هریو اندام به اوسوزوی، او ایره به ترے جوړه کړی او څرمنه به ئے توره جوړه کړی۔

سَاُصْلِيْهِ: دا د صَلٰي نه دے، ددے معنیٰ ده: ((پوره داخلول دپاره د سوزولو)).

لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ: ١- لَاتُبْقِيْ مَنْ فِيْهَا حَيًّا وَلَا تَذَرُهُ مَيِّتًا.

يعنى نۀ پريدى پدے كښې ژوندے، او نۀ ئے پريدى په مرينه. يعنى ژوندے مرګ ته نزدے كوى او مړ كوى ئے هم نۀ چه ختم ئے كړى بلكه بيرته ئے ژوندے كوى. (عطاءؒ)

٢- لَا تُبْقِيْ حَتّٰى تَغْنِيَهُمْ وَاِذَا اُعِيْدُوْا فَلَا تَذَرُهُمْ.

يعنى نۀ به ئے پريدى تردے چه ختم به ئے كړى او كله چه دوباره راژوندى كړے شى، نو بيا به ئے هم نۀ پريدى بلكه د مخكښې په شان به بيا هم عذاب وركولے شى. (معالم التنزيل للبغوى)

٣- لَا تُبْقِيْ لَحْمًا وَلَا تَذَرُ عَظْمًا. (سدیؒ) يعنى نۀ غوښه پريدى او نۀ هډوكے.

لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ: ددے هم ډيرے معانى دى:

(١) دا د لَاحَ نه دے، متغير كولو ته وئيلے شى. يعنى داسے سوزول چه شكل او څرمنه به ورله بدله كړى. بشر نه مراد څرمنه ده.

(٢) يا انسانان مراد دى او لَوَّاحَةٌ نه مراد (مُحْرِقَةٌ) سوزول دى. (ابن عباس رضی اللہ عنہ)

يعنى كافرانو لره سوزونكے دے.

(٣)- يا د لَاحَ نه دے په معنىٰ د ظهور (ښكاره كيدو) سره، يعنى داسے به ئے وسوزوى چه څرمنه به ورله راښكاره كړى.

(٤) يا د بشر نه مراد انسانان دى. يعنى دا جهنم راښكاره كيدونكے دے انسانانو ته (حسن بصریؒ) لكه ﴿ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ﴾ اول قول د جمهورو مفسرينو دے.

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ: په جهنم باندے نولس ملائك مقرر دى.

ابن جريرؒ او ابن مردويهؒ د ابن عباس رضی اللہ عنہ نه نقل كړى دى چه كله ابو جهل [عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ] واوريدۀ، يعنى د جهنم اولس داروغه ګان دى، نو قريشو ته ئے اووئيل: ستاسو مينځے دِے په تاسو باندے اوژاړى، محمد تاسو له خبر دركوى چه د جهنم داروغه ګان (څوكيداران) نولس دى، حالانكه ستاسو شماره خو ډيره زياته ده. آيا په تاسو كښې به هر لس كسان د جهنم يو څوكيدار رالاندے نۀ كړى.

او په بل روايت كښې دى: هر كله چه دا خبره ابوجهل واوريده نو وے وئيل:

[مَا لِمُحَمَّدٍ مِنَ الْأَعْوَانِ اِلَّا تِسْعَةَ عَشَرَ، يُخَوِّفُكُمْ مُحَمَّدٌ بِتِسْعَةَ عَشَرَ وَاَنْتُمُ الدُّهْمُ، اَفَيَعْجِزُ

كُلُّ مِائَةِ رَجُلٍ مِنكُمْ أَنْ يَبْطِشُوا بِوَاحِدٍ مِنْهُمْ ثُمَّ يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ]۔

د محمد (ﷺ) صرف نولس مددګاران دی، تاسو محمد (ﷺ) په نولس کسانو بروی، او حال دا چه تاسو خو پهلوانان یئ، آیا نو په تاسو کښې هر سل کسان ددے نه کمزوری دی چه د هغوی نه یو تن سره مقابله وکړی، او بیا د اُور نه راوځی۔ (د الله د خبرو پورے ئے توقے شروع کړے)۔

او ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷛ نه روایت کړی دی چه (پدے کښې) ابو الاشد (چه دا د بنو جُمَح نه یو پهلوان وو) اُووئیل چه تاسو د جهنم د څوکیدارانو معامله ماته پریدئ، زۀ به ستاسو د ټولو د طرفه د هغوئ مقابله کووم۔

او په یو روایت کښې دی چه دۀ ووئیل:

[يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ ! إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ فَأَنَا أَمْشِي بَيْنَ أَيْدِيكُمْ فَأَدْفَعُ عَشْرَةً بِمَنْكِبِي الْأَيْمَنِ وَتِسْعَةً بِمَنْكِبِي الْأَيْسَرِ وَنَمْضِي نَدْخُلُ الْجَنَّةَ]

اے د قریشو ډلے ! کله چه د قیامت ورځ شی نو زۀ به ستاسو مخکښې روان یم نو لس کسان به په خپله ښیٔ اُوګه سره دیکه کړم او نهه کسان به په ګسه اُوګه سره، او بیا روان شو جنت ته به ننوزو۔

او په یو روایت کښې دی: زۀ به لس کسان په شا کړم او اوه کسان به په سینه راپورته کړم نو دوه کسانو مقابله خو وکړئ۔ ددے وجه نه دا په ابو الاشدین سره یاد کړے شو او دده کنیه ابو الاعور وه۔ (تفسیر مقاتل بن سلیمانؒ)

نو الله تعالیٰ ﴿ وَمَا جَعَلْنَا أَصْحَابَ النَّارِ إِلَّا مَلَائِكَةً ﴾ نازل کړو، او وے ښودل چه د چا په ذمه چه د جهنم نګرانی او په دے کښې داخلیدونکو خلقو له عذاب ورکول دی، هغه ټول ملائك دی، په هغوئ باندے څوك زورَور کیدے شی، هغه خو د الله پولیس دی چه کافران په هغوئ باندے د غالبه کیدو خبرے کوی۔

إِلَّا مَلَائِكَةً: الله تعالیٰ د جهنم څوکیداران ملائك مقرر کړی دی، یعنی دائے د انسانانو او پیریانو نه نۀ دی جوړ کړی، چه هسے نۀ د خپلو هَم جنسو لپاره د دوئ په زړونو کښې چرته رحم پیدا شی۔

دویم دا چه د الله په مخلوقاتو کښې ملائك د الله په حق اداء کولو کښې زیاته جلتی کوی، او د هغۀ په نافرمانئ باندے غصه کیږی، او ډیر زیات قوی او سخته نیوکه

کونکي وي، دے وجے نه الله تعالیٰ دوئ د جهنم ذمه واران جوړ کړي دي۔

وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ : يعني د جهنم د خزانچيانو نولس شماره د کفارو دپاره مونږ آزمائش ګرځولے دے۔ دے دپاره چه کوم خلق دے پورے خاندي، په هغوئ د الله تعالیٰ غضب نازل شي، او د هغوئ عذاب څو چنده زيات شي۔

او د هغوی دپاره امتحان دا وو چه هغوی دا اعتراض وکړو چه نولس ولے شو، زيات او کم ولے نشو۔ دارنګه دا هم ورله امتحان شو چه نولس خو کم دي مونږه ئے وهلے شو، او ځانونه ترے خلاصولے شو۔

دارنګه دا ئے وويل چه کافران خو ډير زيات دي، نو نولس ملائك به هغوی لره څنګه جهنم ته واچوی، او په هغے کښ به ئے څنګه راګير کړي۔ مګر دوی ددے نه ړانده دي چه يو جبريل عليه السلام پوره کلي او غرونه پورته کولے شي، الله تعالیٰ ورته قدرت ورکړيدے۔

فِتْنَةً: ددے بله معنیٰ د ګمراهئ ده۔ يعني ددے اعتراضونو په سبب د دوی ګمراهي نوره هم سِویٰ شوه۔

او ددے عدد په حکمة کښ مفسرينو ډيرے اُوږدے خبرے کړيدي خو څه خاص ايماني او علمي فائده پکښ نهٔ ښکاره کيږي پدے وجه ترے مونږ اعراض وکړو، صحيح دا ده چه ددے خاصِ عددِ حکمة الله تعالیٰ ته معلوم دے۔ کما قال الرازیؒ۔

لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ : يعني ددے شمارے ذکرکولو نه مقصد دا هم دے چه يهود او نصاریٰ د نبی کريم ﷺ او د قرآن کريم په رشتين والي باندے يقين وکړي، ځکه چه په جهنم باندے د مقرر شوو ملائکو همدا شماره په تورات او انجيل کښ هم ذکر شوے۔ [لِمُوَافَقَةِ الْقُرْآنِ كِتَابَهُمْ] ځکه چه قرآن د هغوی د کتابونو سره موافق شو۔

وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا : دارنګه دا هم مقصد دے چه کله د امتِ محمديه مومنانو ته معلومه شي چه د قرآن کريم همدا خبره په تورات او انجيل کښ هم موجوده ده، نو د دوئ په ايمان کښ به اضافه اُوشي۔ ځکه چه اهل کتابو هم دا خبره تسليم کړه۔

يا د اهل کتابونه مؤمنان چه د مخکښ نه د هغوی يقين او اقرار وو په صدق د قرآن او رسول باندے او دا ايمان دے او ددے عدد په آوريدو سره د دوی ايمان نور زيات شو۔

يعني کميةً ايمان ئے هم زيات شو، ځکه چه اُوسه پورے دوی ددے نه خبر نهٔ وو چه په جهنم باندے څومره ملائك مقرر دي۔

او دا ښکاره دلیل دے چه په ایمان کښ زیاتے راتلے شی لکه چه دا د ټولو محدثینو مسلك دے۔

وَلَا یَرْتَابَ الَّذِیْنَ: د زیات تاکید په توګه الله تعالیٰ وفرمایل چه ددے نه مقصد دا دے چه د اهلِ کتابو په زړونو کښ د اسلام د رشتین والی په باره کښ هیڅ شبهه پاتے نشی، ځکه همدا خبره د دوئ په کتابونو کښ هم موجوده ده، او دے دپاره چه د مومنانو ایمان زیات شی۔

وَالْمُؤْمِنُوْنَ: ددے نه مراد ددے امت مؤمنان دی۔ او مخکښ د کتابیانو مؤمنان مراد دی۔

وَلِیَقُوْلَ الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ: او د ملائکو شماره نولس ښودلو نه مقصد دا هم دے چه د عربو کافران او په راتلونکی وخت کښ د مدینے منورے منافقان د نفاق او کفر په کندو کښ سرګردانه پاتے شی، او الله تعالیٰ او قرآن کریم پورے توقے کوونکی پاتے شی چه ددے عجیب او غریب مثال په ذریعه الله تعالیٰ څۀ ښودل غوښتلی دی؟

دا سورت مکی دے خو الله تعالیٰ د مخکښ نه خبر ورکړو چه روستو به منافقان پیدا کیږی، او هغوی به دا اعتراض کوی، نو دا د رسول الله ﷺ معجزه شوه او د قرآن کریم د حقانیت دلیل شو۔

یا د مرض نه مراد شك دے چه هغه کافرانو ته هم راتللے شی۔

حسین بن الفضل ؒ وائی: په مکه کښ نفاق نۀ وو نو ددے نه مراد مخالفت دے۔

(فتح البیان)

وَالْکَافِرُوْنَ: ددے نه مراد د مکے کافران یا نور عرب کافران دی۔

بِهٰذَا: یعنی پدے ناشنا شمار سره۔

مَثَلاً: د مثل نه مراد بیان او خبر دے۔ کما قال اللیث ؒ۔

کَذٰلِكَ: الله تعالیٰ د دوئ د کفر او ګمراهئ جواب ورکوی فرمائی چه هغه دغسے چاله چه غواړی ګمراه کوی ئے، او چاته چه غواړی هدایت کوی۔ یعنی تاسو له نۀ دی پکار چه اعتراض وکړئ بلکه د الله تعالیٰ خبرے ته تسلیم شئ دے دپاره چه هغه درته هدایت وکړی۔ د خپل ځان غم وکړئ۔

وَمَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ: (۱) یعنی دا مۀ وایه چه د الله سره ملائك کم دی ځکه

ئے نولس مقرر کړل بلکه اے زما نبی ! ستا د رب د لښکرو شماره (که هغه ملائك وی اوکه غير ملائك) د هغهٔ نه سوئ بل هيڅوك نهٔ پيژني۔

د الله تعالیٰ دومره ملائك دی چه جبريل ؑ ته هم نهٔ دی معلوم، حال دا چه هغه ئے مشر دے۔ په يو روايت كښ دی چه موسیٰ ؑ الله تعالیٰ ته وفرمايل چه تا سره بره په آسمان كښ څوك دی ؟ وے فرمايل : زما ملائك۔ وے فرمايل : دا څومره دی ؟ وے فرمايل : اِثْنَا عَشَرَ سِبْطًا۔ دولس خاندانونه دی۔ (وَكَمْ عَدَدُ كُلِّ سِبْطٍ؟) د هر سبط څومره شمار دے؟ وے فرمايل : عَدَدَ التُّرَابِ۔ د خاورو د ذراتو په اندازه۔

(ابو الشيخ في العظمة رقم : ١٨ باسناد مقطوع)

په حديث د معراج كښ دی : چه بيت المعمور ته هره ورځ اويا زره ملائك داخليږی او طواف كوی او تر قيامته پورے ئے بيرته نمبر نهٔ راځی، د الله په مخلوقاتو كښ زيات مخلوق ملائك دی۔ آسمانونه ترے ډك دی، تردے چه هغه د ګنړوالی نه چغيږی،

او په زمكه كښ هم ډير شے ملائك دی۔ دا ټول كائنات الله تعالیٰ د هغوی په واسطه چلوی۔

(٢) بل مطلب دا دے چه د جهنم ذمه دار مشران ملائك نولس دی، اوَد هغوئ سره كار كونكی نور ملائك بے شماره دی چه د هغے شماره د الله تعالیٰ نه سوئ بل چاته معلومه نهٔ ده۔ نو دوی د انسانانو د شمارے نه بهر دی۔

وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَى لِلْبَشَرِ : يعنی دا سقر او د هغے د خزانچيانو شماره خو صرف د نصيحت د انسانانو دپاره ذے، دے دپاره چه دوی عبرت حاصل كړی، او د جهنم د عذاب نه اُويريږی۔

كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَالصُّبْحِ
هیچرے داسے نۀ ده، قسم دے په سپوږمۍ۔ او په شپه كله چه شا راواړوی۔ او په صبا
إِذَا أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا
كله چه روښانه شی۔ یقیناً دا (جهنم) یو دے د لویو مصیبتونو نه۔ یره وركونكے دے
لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾
انسانانو ته۔ د چا چه خوښه وی ستاسو نه چه مخكښ شی (نیكو ته) یا روستو پاتے شی

تفسیر : پدے آیت كښ رد دے په منكرینو او د قیامت په اثبات باندے قسم كوی۔

كَلَّا: پدے كښ ردع (منع) ده د انكار او كفر نه۔ یعنی منافقان او كافران چه انكار كوی او كفر كوی نو دا نۀ ده پكار۔ (زمخشری)

د بصرینو په نیز باندے دا په معنیٰ د اَیْ وَنَعَمْ۔ سره دے۔ یعنی همداسے ده۔ (نضر بن شُمیلؒ)

كافیجیؒ وائی : د دواړو ترمینځ منافات نشته ځكه د بصرینو كلام د ظاهر سره موافق دے، او د زمخشری كلام د بلاغت او اعجاز په بنیاد دے۔ (فتح البیان)

كرخیؒ وائی : دا په معنیٰ د اَلَا سره دے دپاره د تنبیه۔ او دے ته كلمه د استفتاح وائی چه د كلام په ابتداء كښ د متوجه كولو دپاره استعمالیږی۔

وَالْقَمَرِ : ابن جریرؒ لیكلی دی چه دلته د قریشو د كافرانو باطل گمان رد كړے شوے دے چه دوئ به د جهنم د ځوكیدارانو مقابله كوی او په هغوئ به غالبه كیږی۔

الله تعالیٰ وفرمایل : قسم دے په سپوږمۍ او قسم دے په شپه باندے كله چه هغه د صبا راختو په وجه ختمه شی، او قسم دے په صبا باندے كله چه هغه روښانه شی، تاسو په دغه ملائكو باندے زوروَر كیدے نشئ۔

أَدْبَرَ: دا لفظ د اضدادو نه دے، یعنی شاگرزول، او راتلل دواړو دپاره استعمالیږی۔

١- یعنی شپه شا وگرزوی۔ ٢- یا شپه روستو راشی د ورځ پسے۔

وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ: اِذْ حرف په ماضی باندے دلالت كوی، او ادبار هم دلالت په تیریدو كوی، او د شپے نه روستو بیا د صبا رڼا راخیژی او هغه په استقبال كښ وی نو ددے وجه

نه ئې دے سره اِذَا لفظ راوړو۔

اَسْفَرَ: یعنی کله چه صبا رڼا کړی، او ښکاره شی۔

فائده : په سپوږمۍ الله تعالیٰ قسم وکړو پدے کښ حال د رسول الله ﷺ ته اشاره ده، او اللیل کښ د کافرانو حال ته. او والصبح کښ د اسلام حال دے۔

رسول الله ﷺ د سپوږمۍ په شان دے چه دنیا ته رڼا کوی او شپه به شا راړوی، کافران به ختمیدو دی، او د اسلام چراغ په ټوله دنیا روښانه کیدونکے دے۔ دا به کیږی، نو دغه شان الله تعالیٰ دا خبر هم ورکړیدے چه د قیامت ورځ به راځی نو هغه هم یقینی راتلونکے ده۔

۲- دویمه طریقه : لکه څنګه چه سپوږمۍ کښ تغیرات راځی ووړوکے کیږی، غټیږی او شپه ماښام کښ راشیة او سهار لاړه شی، او صبا وخت هم روښانه کیږی، نو دغه شان د قیامت ورځ به هم پدے ترتیب باندے بدلیږی، او لکه څنګه چه ددے اوقاتو راتلل یقینی دی نو دغه شان د قیامت راتلل هم یقینی دی۔

لَاِحْدَى الْكُبَرِ : اَیْ لَاِحْدَى الدَّوَاهِیْ اَوِ الْبَلَایَا الْکُبَرِ۔ یعنی سقر د نهایتے خطرناك او هیبتناك مصیبتونو نه یو مصیبت دے۔

الکُبَر جمع د کُبریٰ ده۔

نَذِیْرًا لِّلْبَشَرِ: دا صفت د عذاب د اُور دے۔ که دا په تاویل د سقر سره واخلے نو مؤنث به وی، او که په تاویل د عذاب سره وی، نو بیا مذکر دے، نو نذیر ئې صفت دے په اعتبار د عذاب سره۔

لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ: دا بدل دے د (لِلْبَشَرِ) نه۔ یا متعلق دے په نذِیرا پورے۔

او مطلب دا دے چه دا هغه خلقو لره ویرونکے دے کوم چه د الله تعالیٰ په طاعت او بندګئ کښ په نورو باندے مخکښ والے او جنت حاصلول غواړی، او هغه چالره هم ویرونکے دے چه هغوئ د الله تعالیٰ د طاعت او بندګئ نه روستو کیدل او په هلاکت کښ پریوتل غواړی۔ یعنی جهنم ذکر که لو سره د مومنانو او کافرانو د دواړو د ویرولو کار اوشو۔

اَنْ یَّتَقَدَّمَ اَوْ یَتَاَخَّرَ: ددے ډیر مطلبونه دی :

(۱) یَتَقَدَّمَ اَیْ یَسْبِقَ اِلَی الطَّاعَةَ اَوْ یَتَخَلَّفَ عَنْهَا۔

یعنی دا جهنم د هغه چا یره ونکے دے چه طاعاتو ته مخکښ کیږی او هغه چا لره چه د طاعاتو نه روستو کیږی۔

(۲) یَقْبَلُ النَّذَارَةَ اَوْ لَا یَقْبَلُهَا۔ (ابن کثیرؒ)

یعنی هغه څوك چه یره ول قبلوی یا ئے نهٔ قبلوی۔ یعنی د هر سړی خپله خوښه ده چه د الله تعالیٰ په عذاب بانـدے د ویره ولو نه روستو طاعت شروع کوی او که نهٔ۔ خو دا عذاب به تاسو یره وی۔

(۳) یا د تقدم نه مراد ایمان ته مخکښ کیدل دی ځکه چه په ایمان سره انسان د دنیا او د آخرت خیرونو ته ورمخکښ کیږی۔ او د تأخر نه مراد کفر او شرك دے چه انسان پدے سره د دنیا او د آخرت د خیرونو نه روستو پاتے کیږی۔

كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِیْنَةٌ ﴿۳۸﴾ اِلَّا اَصْحٰبَ الْیَمِیْنِ ﴿۳۹﴾
هر نفس به په هغه عمل چه کړے ئے دے گانړه وی (راگیر به وی)۔ مگر ښی لاس والا۔
فِیْ جَنّٰتٍ یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ عَنِ الْمُجْرِمِیْنَ ﴿۴۱﴾ مَا سَلَكَكُمْ
په جنتونو کښ به وی، تپوس به کوی۔ د مجرمانو نه۔ څه شی داخل کړئ تاسو
فِیْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّیْنَ ﴿۴۳﴾ وَلَمْ نَكُ
سقر (اُور) ته۔ وائی به دوی نهٔ وو مونږ د مونځ کونکو نه۔ او نهٔ مونږ
نُطْعِمُ الْمِسْكِیْنَ ﴿۴۴﴾ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِیْنَ ﴿۴۵﴾
خوراك ورکولو مسکین ته۔ او مونږ به بکواس کولو د بکواس کونکو سره (او
وَكُنَّا نُكَذِّبُ
مونږ به ننوتو په باطلو خبرو کښ د ننه وتونکو سره۔) او وو مونږ چه تکذیب به
بِیَوْمِ الدِّیْنِ ﴿۴۶﴾ حَتّٰی اَتٰىنَا الْیَقِیْنُ ﴿۴۷﴾
مو کولو د ورځے د جزا۔ تردے چه راغے مونږ ته مرگ۔

تفسیر : اُوس فرمائی چه په قیامت کښ د جزاء او سزا واقع کیدل یقینی دی، که

څوك ئې منې او كه نۀ۔ يعنې په دې ورځ به هر كس د خپل عمل ذمه دار وي، او په هغې كښې به راګير وي، كه چرې ښۀ عمل ئې كړې وي نو ددۀ نجات به وي، او كه بد عمل ئې كړې وي، نو هغه به ئې هلاك كړي۔

دې وجې نه الله تعالیٰ وفرمايل: ﴿إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِيْنِ﴾ چه د چا عملونه ښۀ وي، د دوئ ځنونه به د عذاب نه آزاد كړې شي، لكه څنګه چه يو ګانړه كونكې شخص قرض اداء كړي او خپل ګانړه كړې شے را خلاص كړي۔

إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِيْنِ: هر انسان به په خپل عمل كښې راګير وي مګر ښي لاس والا به په ګاهونو كښې نۀ وي راګير بلكه دوي به آزاد وي ددې وجه نه چه دوي ښائسته عملونه كړيدي۔ نو دا استثناء متصل ده۔

دا ښي اړخ والا خلق به په دې ورځ په داسې جنتونو كښې وي چه د هغې د نعمتونو، راحتونو او ډولونو موندل هيڅوك په دې دنيا كښې نشي كولے۔ دا خلق به يو بل ته مخامخ ناست خپل مينځ كښې خبرې كوي، تردې چه خبره هغه مجرمانو ته اورسيږي چه هغوئ به په دنيا كښې د الله تعالیٰ او د هغۀ د رسول نه بغاوت كولو، د كومو مرګ چه په كفر او شرك باندې راغلے وو۔

نو جنتيان به يو بل ته وائي چه راځئ چه جهنم ته ښكاره شو او د هغوی حال معلوم كړو، نو هغوی ته به راښكاره شي، نو هغوئ به د جهنم په وېخ كښې د سخت عذاب په حالت كښې اوموموي، او هغوئ نه به تپوس اوكړي چه ستاسو كومو كړو تاسو جهنم ته را اورسولئ؟

نو دغه جهنميان به ووائي چه مونږ به په دنيا كښې د الله تعالیٰ دپاره مونځ نۀ كولو۔ مسكينانو ته به مو د خپلو مالونو زكاة نۀ وركولو، د اسلامي دين، قرآن كريم او د رسول الله ﷺ په خِلاف سازش كونكو سره به مو ملګرتيا كوله، او د قيامت ورځ به مو دروغژنه ګڼړله، زمونږ همدا حال وو تردې چه مرګ مونږ له راغے، او نن مو هغه حقائق اوليدل چه د هغې نه به مو په دنيا كښې انكار كولو۔

رَهِيْنَةٌ: (يعنې بند او راګير به وي په عمل او د هغې په عذاب كښې)۔

د نفس ګانړه كيدو مطلب په سورة الطور كښې تير شو چه د يو تن په بل باندې قرض وي او هغه ئې ورله نۀ وركوي، نو هغه ترې يو شے پكښې قبضه كړي ترڅو چه هغه نۀ

وی ادا شوی دا ورله نهٔ ورکوی، نو دغه شان انسان هم الله تعالیٰ په عمل کښې قبضه کړې وي چه تا دا عمل ولې نهٔ برابرولو، غلط دی، نو همیشه به ما سره بند ئې.

فِیۡ جَنّٰتٍ: دلته متعلق دی د (یَکُوۡنُوۡنَ) پورې. یعنی وی به دوی په باغونو کښې.

یَتَسَآءَلُوۡنَ: (۱) دا مستقل کلام دی، یعنی په کورنئ کښې به د یو بل د حال تپوس کوی. لکه په سورة طور (۲۵) آیت او سورة صافات (۵۰) آیت کښې دی.

او عَنِ الۡمُجۡرِمِیۡنَ د پټ یَتَسَآئَلُوۡنَ پورې متعلق دی. یعنی د یو بل نه به تپوس کوی په باره د احوالو د مجرمانو کښې بیا چه کله مجرمان وینی نو مخامخ به ترې داسې تپوس کوی: (مَا سَلَکَکُمۡ)

(۲) یا یَتَسَآءَلُوۡنَ په معنیٰ د یَسۡأَلُوۡنَ سره دی، او روستو عَنِ الۡمُجۡرِمِیۡنَ کښې عَنۡ زیاتی دی. یعنی تپوس به کوی د مجرمانو نه.

مَا سَلَکَکُمۡ فِیۡ سَقَرَ: تاسو سقر ته کوم څیز راوستئ؟.

قَالُوۡا لَمۡ نَکُ مِنَ الۡمُصَلِّیۡنَ: یعنی مونږ به مونځونه نهٔ کول.

دا دلیل دی چه کفار هم په فروعو (احکام شرعیه ؤ) باندې مکلف دی، او دا آیت دلیل دی د هغه علماؤ دپاره چه هغوی وائی همیشه مونځ پریخودونکی کافر دی، ځکه چه دا د کفارو صفت دی.

او مونځ کښې تعظیم د امر الله دی. نو دوی دا نهٔ کولو.

وَلَمۡ نَکُ نُطۡعِمُ الۡمِسۡکِیۡنَ: یعنی مونږ به د الله تعالیٰ په بندګانو شفقت نهٔ کولو. او دا دواړه سببونه د جهنم دی.

وَکُنَّا نَخُوۡضُ: یعنی مونږ به بکواس کونکو سره بکواس کولو، یعنی دین پورې به مو توقې کولې لکه دې سورت کښې تیر شو.

وَکُنَّا نُکَذِّبُ بِیَوۡمِ الدِّیۡنِ: یعنی مونږ د قیامت ورځ نهٔ منله.

الۡیَقِیۡنُ: د یقین نه مراد مرګ دی، یعنی تر مرګه پورې مونږ دا نهٔ منل.

فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِيْنَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ
نو فائده به نهٔ ورکوی دوی ته سفارش د سفارش کونکو۔ نو څه وجه ده دوی لره
عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾
چه د نصیحت نه مخ اړوی۔ گویا کښې دوی خرهٔ دی نفرت کونکی (تښتیدونکی)۔
فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَنْ يُّؤْتٰى
چه تښتیدلی وی د زمری نه۔ بلکه اراده لری هر یو د دوی نه چه ورېه کړے شی
صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٥٣﴾
پاڼړے خورے ورے۔ هیڅکله داسے نهٔ ده بلکه نهٔ یریږی دوی د آخرت نه۔
كَلَّا إِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَنْ شَآءَ
هیڅکله داسے نهٔ ده یقیناً دا خامخا نصیحت دے۔ نو څوك چه غواړی
ذَكَرَهٗ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُوْنَ إِلَّا أَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ
نصیحت دِے واخلی ددینه۔ او نهٔ اخلی نصیحت دوی مگر چه اُوغواړی الله تعالیٰ،
هُوَ أَهْلُ التَّقْوٰى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾
هغه لائق دے ددے چه یره ترے اُوکړے شی او لائق د بخنے کولو دے۔

تفسیر: ددے مجرمانو په باره کښې الله فرمائی: چه که بالفرض کوم نبی یا ملائك په دے ورځ دوئ له سفارش هم اوکړی، نو هغه به د دوئ په کار رانشی۔

په نورو الفاظو کښې، دوئ د شفاعت اهل نهٔ دی، دے وجے نه الله تعالیٰ به هیڅ یو نبی یا ملائك له د دوئ لپاره د سفارش کولو اجازت نهٔ ورکوی، نو پدے وجه څهٔ داسے سفارش به دوی دپاره نهٔ وی چه هغه دوئ له فائده ورکړی۔

فَمَا لَهُمْ: اُوس الله تعالیٰ د مشرکانو په حال باندے حیرانتیا ښکاره کوی۔

فرمائی: دوئ له څهٔ شوی دی چه دوئ ددے قرآن نه اعراض کوی چه په دے کښې دوئ لپاره عبرت او نصیحت دے، او د قرآن آوریدو نه داسے تریږی لکه ویرے وهلی خرهٔ چه

په ځنګل کښې زمریان اووینی او د ډیرے ویرے نه یے دریغه منډے وهی، او دوئ له هیڅرته قرارے نهٔ ملاویږی۔

او پدے آیت کښې سبب ذکر دے د تیرو شوو جرمونو چه هغه د قرآن کریم نه اعراض دے۔

مُّسْتَنْفِرَةٌ: باب استفعال راوړو کښې اشاره ده چه نفرت د دوی د طبیعت تقاضا ده ګویا کښې ددے طلب کوی۔

قَسْوَرَةٍ: ۱- زمرے چه ددهٔ نه صحرائی خرهٔ (زیبرا) ډیر یریږی۔ (عطاءؒ والکلبیؒ)

دا د قسر نه دے قهر (غلبے) ته وائی۔ او زمرے په نورو حیواناتو غالبه وی۔ (ابن عرفهؒ)

۲- قسورة : د حبشو په ژبه کښې ویشتونکو (ښکاریانو) ته هم وائی۔

مفرد ئے قَسْوَرٌ دے، او جمعه ئے قَسْوَرَةٌ ده، (سعید بن جبیرؒ، عکرمهؒ، مجاهدؒ، قتادهؒ، ابن کیسان)

او بعض وائی چه قَسْوَرَةٌ مفرد او جمع دواړه یو شان استعمالیږی۔

۳- ابن عباس ﷺ فرمائی : (هُوَ رَكْزُ النَّاسِ اَیْ اَصْوَاتُهُمْ)

د خلقو (د خپو) شور او آوازونو ته وائی۔ یعنی لکه صحرائی خرهٔ چه د سړو د شور او آوازونو نه تیخته کوی۔

٤- ابن الاعرابیؒ وائی : قسورة د شپے اولے حصے ته وائی۔ او دا قول د عکرمهؒ هم دے۔ لیکن اول قول ډیر غوره دے۔

دلته الله تعالیٰ د کفارو تشبیه د صحرائی خرو سره او د رسول الله ﷺ تشبیه ئے د زمری سره ورکړے ده۔ او داعی همیشه زمرے وی، قرآن کریم سړی کښې بهادری پیدا کوی، پکار دا ده چه داعی د حق په باره کښې د هیچا نه یره ونکړی بلکه لائق ده چه خلق ددهٔ نه ویریږی۔

بَلْ يُرِيْدُ : یعنی د دوی د دلیل سره کار نشته خو غلطے مطالبے کوی۔ پدے کښې په قریشو کافرانو باندے رد دے۔

مفسرینو لیکلی دی : د قریشو کافرانو نبی کریم ﷺ ته وویل چه په مونږ کښې هر یو کس ته د الله تعالیٰ له خوا یو کتاب راتلل پکار دی چه په هغے کښې دا ذکر شوی وی چه تهٔ د الله رسول ئے، نو مونږ به په تا باندے په ایمان راوړو کښې غور وکړو، لیکن دوئ په

خپلے دے خبرہ کښ بیخی دروغژن وو، ځکه په قرآن کریم کښ ډیر زیات آیتونه نازل شوی وو چه د هغے نه حق واضح شوے وو، او که چرے په هغوئ کښ د خیر د قبلولو صلاحیت وے، نو ایمان به ئے راوړے وے۔ دے وجے نه الله تعالیٰ اووئیل : هرګز نهٔ ده، مونږ به د دوئ خواهشات پوره نهٔ کړو، د دوئ مقصد زمونږ رسول عاجز او کمزورے جوړول دی۔ حقیقت دادے چه د دوئ په زړونو کښ د آخرت ویره نشته، که چرے دوئ سره د آخرت د نجات فکر وے، نو داسے خبرے به ئے نهٔ کولے بلکه ایمان به ئے راوړے وے۔

كَلَّا: دا ردع ده د ارادے نه، یعنی دغه ارادے مهٔ کوئ۔ دا به هیڅکله پوره نشی۔

٢- لَا نُعْطِيهِمْ مَا طَلَبُوْا۔ یعنی دوئ ته ددوئ مطالبے نهٔ ورکوم۔

بَلْ لَا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ : بلکه دوی د آخرت نه نهٔ یریږی، او څوك چه د آخرت نه نهٔ یریږی نو دغسے ناقوتلی او ناقوالے وائی۔

كَلَّا: دا ردع ده د عدم خوف نه۔ یعنی د آخرت نه بیغمی نهٔ ده پکار۔

❁ یا په معنیٰ د حَقًّا سره دے۔ یعنی یقینی ده دا خبره چه دا قرآن کامل او کافی نصیحت دے۔

❁ یا انکار دے ددے نه چه دوئ نصیحت نهٔ اخلی۔

إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ: یعنی دا قرآن د عبرت او نصیحت خزانه ده، په دے کښ د الله تعالیٰ د ذکر شوو اوامرو او منع شوو کارونو نه چه څوك غواړی فائده دِے پورته کړی، او خپل انجام دِے برابر کړی، لیکن ددے نه هغه کس فائده پورته کوی چاله چه الله تعالیٰ توفیق ورکړی، د هغهٔ د توفیق نه بغیر هیڅ هم نهٔ حاصلیږی۔

فَمَنْ شَاءَ ذَكَرَهُ: د چا چه خوښه وی ددے نه دِے نصیحت واخلی۔ ځکه چه ددے فائده هم دهٔ ته راواپس کیږی۔

وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّا : الله تعالیٰ چه د چا دپاره اراده وکړی، او هغه ورته توفیق ورکړی، نو هغه ترِے نصیحت اخستے شی، نو الله تعالیٰ ته متوجه کیدل پکار دی۔

هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى: اَیْ اَهْلٌ لِاَنْ يُّتَّقٰى مِنْهُ۔ یعنی الله تعالیٰ لائق دے ددے چه د هغهٔ نه یره وکړے شی۔ یعنی د الله تعالیٰ نه یره ځکه پکار ده چه هغه لائق دے ددے چه بنده د هغهٔ نه یره وکړی، او د هغهٔ د حدودو پابندی وکړی۔ او د هغهٔ د کتاب نه عبرت او نصیحت واخلی۔ دا ځکه وائی چه که یو عام انسان تا ته حکم وکړی، نو هغه به لائق د یرے نهٔ وی

او الله تعالىٰ ددې لائق دې۔

وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ: يعنى اَهْلٌ لِلْمَغْفِرَةِ لِمَنِ اتَّقَاهُ۔

يعنى څوك چه د هغهٔ نه ويريدو نو الله تعالىٰ لائق دې چه هغهٔ ته به بخنه كوى۔

او پدې كښ دې ته اشاره ده چه د الله تعالىٰ چا ته بخنه كول ډيره لويه خبره ده، نو پكار ده چه د هغهٔ د بخنې غم وكړې شي۔

او پدې كښ دا اشاره هم ده چه د قرآن كريم په تذكير (نصيحت) سره د شرك او كفر نه تقوىٰ حاصليږى، او بيا په تقوىٰ سره مغفرت حاصليږى۔

په آخر د سورت كښ ئې بيا قرآن كريم او قيامت يو ځاى ذكر كړل۔ چه د آخرت د ورځې نه څوك نهٔ يريږى، نو د قرآن كريم نه فائده نشي اخستے۔

وبالله التوفيق۔

امتيازات د سورة المدثر

١- دې سورت كښ خصوصى خطاب وو رسول الله ﷺ ته په المدثر سره دپاره د دعوت كولو۔

٢- قصه د وليد پكښ ذكر ده۔

٣- د سقر تذكره پكښ راغلې ده، او په هغې باندې د نولس ملائكو مقرر كيدل ذكر دى۔

٤- او د جهنم اسباب پكښ ذكر دى، ترك الصلاة، ترك الاطعام، خوض او تكذيب۔

ختم شو تفسير د سورة المدثر په توفيق د رب العالمين سره۔ جمعه ١٢ رمضان جون١٧۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

آياتها (٤٠)	(٧٥) سُوْرَةُ الْقِيَامَةِ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (٢)

سورة القيامه مكي دے، په دے كښې څلويښت آيتونه او دوه ركوع دي

تفسير سورة القيامة

نوم : (١) په اولني آيت كښې [اَلْقِيَامَة] لفظ راغلے، همدا ددے نوم كيښودلے شوے.
(٢) په بعضِ رواياتو كښې د ابن عباس ﷛ نه ددے نوم [سُوْرَةُ لَا اُقْسِمُ] هم نقل شوے.

د نازليدو زمانه : دا سورت په اتفاق سره مكي دے.

ابن مردويہؒ او بيهقيؒ (په دلائل كښې) د ابن عباس ﷛ نه نقل كړې دي چه سورة القيامه او د يو روايت مطابق [سورة لَا اُقْسِمُ] پـه مـكـه كښې نازل شوے. ابن مردويہؒ د عبد الله بن زبير ﷛ نه هم همدا نقل كړې دي.

مناسبت

١- په مخكښې سورت كښې هم د قيامت او د قرآن تذكره وه، نو پدے سورت كښې هم دغه دواړه خبرے ذكر دي.

٢- پـه مـخـكـښې سورت كښې تيزي وركول وو په تبليغ د قرآن باندے، او په دے سورت كښې ادب دے د تَعَلُّم (زده كړے) د قرآن كريم .

٣- مـخـكـښې سـورت كـښې د قـرآن كـريـم مـعـرضـينو ته رټنه وه نو پدے سورت كښې هغوی ته تخويف اُخروی ذكر كيږی.

٤- پـه مـخـكـښې سـورت كـښې د حشـر پـه مكذبينو باندے رد ذكر شو نو پدے سورت كښې د حشر اثبات كوی په دليلونو سره.

٥- ددے سـورت نـه تر سورة الاعلىٰ پورے پدے ټولو سورتونو كښې د قيامت اثبات دے

په شواهدو او دليلونو سره، او د قيامت د حالاتو ذكر دے په تفصيل سره خو په هر سورت كښې به جدا جدا تعبير او طرز او عنوان وي۔

د سورت مقصد

اَلتَّخْوِيْفُ بِالْقِيَامَةِ وَاِثْبَاتُهَا ۔ د قيامت په ورځ سره د بندګانو يره ول۔ او د قيامت ثابتول۔ د ثابتولو دپاره دلائل په آخر كښې راوړي۔ (اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً)

زمونږ شيخ محترم (رستميؒ) فرمائي : پدے سورت كښې اثبات د قيامت دے په ذكر د جمع الْعِظَام سره۔

بيا پدے سورت كښې دوه قيامته ذكر شويدي، يو غټ قيامت او بل قيامتِ صغرىٰ (وړوكے قيامت) يعنى مرګ۔ ورسره ورسره اسباب دافعه او اسباب جالبه هم ذكر شويدي، د قيامت په ورځ به څوك هلاك كيږي؟ د هغے اسباب، او څوك به بچ كيږي ؟ نو د هغے اسباب۔ د قرآن كريم دعوت نيمګړے نۀ وي بلكه مسئله هم درته ښائي او د نجات لاره هم درته بيانوي۔

لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴿۱﴾ وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ
خامخا زۀ قسم كوم په ورځ د قيامت۔ او خامخا زۀ قسم كوم په نفس
اللَّوَّامَةِ﴿۲﴾
ملامته كونكي باندے (ځان لره)۔

تفسير : لَا أُقْسِمُ: كښې لا زياتي نۀ ده بلكه دا د استفتاح او د اهتمام دپاره راوړے شويدے۔ لكه عرب وائي (لَا وَاللّٰهِ)۔ (همداسے ده/خبره هم دا ده، قسم په الله)

بعضو مفسرينو وئيلي دي چه دا [لَا] د نفى په معنىٰ كښې ده، او ددے په ذريعه د مشركانو د (مرګ نه پس ژوند) په باره كښې د غلطے عقيدے نفي شوے ده، او د آيت مطلب دادے چه خبره داسے نۀ ده څنګه چه مشركان وائي چه د مرګ نه پس ژوند او د قيامت په ورځ د جزاء او سزا تصور صحيح نۀ دے۔

زۀ د مرګ نه پس د دوباره ژوندون په صحيح كيدو باندے د قيامت په ورځ باندے قسم خورم، او د انسان په [نَفْسِ لَوَّامَه] باندے قسم خورم، چه دا هميشه د الله تعالىٰ په باره

کښې په کوتاهی کولو باندے انسان ملامته کوی، هغه په نیکئ باندے راپاروی، او د بدئ نه ئے بندوی، ځکه چه دهٔ ته یقین وی چه قیامت به خامخا راځی، انسانان به دوباره ژوندی کیږی، او دوئ له به د دوئ د ښو او بدو عملونو بدله ورکړے کیږی۔
قسم چه په یو شی باندے کیږی نو پدے کښې د هغے عظمت (لوی والی) ته اشاره وی، نو د قیامت ورځ ډیره لویه او هیبتی ده، او هغه نفس چه په گناه باندے ځان ملامته کوی نو په هغے قسم شویدے د هغے د شرافت د وجه نه۔ یعنی د قیامت ورځ حقه ده ځکه دغه نفس ځان ملامته کوی۔
ددے قسم جواب پټ دے۔ اَیْ بِاَنَّ بَعْثَکُمْ حَقٌّ وَتُحَاسَبُوْنَ۔
یعنی اے کافرانو ! تاسو به خامخا دوباره ژوندے کیږئ، تاسو سره به خامخا ستاسو د عملونو حساب کیږی، او تاسو له به سزا درکړے کیږی۔ چونکه دا خبره د سیاق اوسباق نه واضحه وه، دے وجے نه په آیت کښې دا ذکر نشوه۔

مناسبت د قسم او جواب قسم دا دے

چه انسان ځان ولے ملامته کوی؟ وجه دا ده چه د آخرت د عذاب نه یریږی، نو داسے انسانان شته چه هغه ځان ملامته کوی، ددهٔ نفس او فطرت کښې الله تعالیٰ دا خبره اچولے ده چه گناه بده گنړی، دا ولے بده گنړی ؟ وجه دا ده چه د قیامت ورځ حقه ده، او که د قیامت ورځ حقه نهٔ وے نو بیا خو به گناه او نیکی یو شان وه۔
❁ دارنگه هرکله چه په یوه ورځ کښې د الله تعالیٰ مخے ته وردیدل یقینی دی نو معلومه شوه چه د مرگ نه روستو بیا ژوندی کول هم هغهٔ ته څه گران نهٔ دی۔ (احسن الکلام)
سعید بن جبیرؒ د ابن عباس ﷺ نه تپوس وکړو چه ﴿لَا اُقْسِمُ بِیَوْمِ الْقِیَامَةِ﴾ کښې الله تعالیٰ څنگه په قیامت باندے قسم کړیدے؟ هغه وفرمایل:
[یُقْسِمُ رَبُّكَ بِمَا شَاءَ مِنْ خَلْقِهٖ]
ستا د رب خوښه ده چه په کوم مخلوق باندے قسم کوی، کولے ئے شی۔
(الحاکم ۲/۵۵۳ رقم: ۳۸۷۷) وقال صحیح الاسناد ووافقه الذهبیؒ)
یعنی الله تعالیٰ چه کوم مخلوق باندے قسم کوی په هغهٔ باندے هیڅ پابندی نشته او

هغه چه په یو مخلوق قسم کوی نو د هغې عظمت ته اشاره وی او بل په هغې کښې خاص رازونه او حکمتونه وی چه هغه الله تعالیٰ بهتر پیژنی۔
بِیَوْمِ الْقِیَامَةِ: ددې نه مراد هغه احوال دی چه په مخکنو او روستنو سورتونو کښې ذکر کیږی، نو دغه حالات شاهد دی چه قیامت او هډوکی راجمع کول او دوباره ژوندی کول یقینی دی۔

نفس لوامه چا ته وائی؟

۱– حسن بصریؒ وائی: [هِیَ وَاللّٰهِ نَفْسُ الْمُؤْمِنِ لَا یُرَی الْمُؤْمِنُ اِلَّا یَلُوْمُ نَفْسَهٗ لِمَ قُلْتَ هٰذَا، وَلِمَ دَخَلْتَ وَلِمَ خَرَجْتَ وَلِمَ اَکَلْتَ] ۔ چه قسم په الله دا د مؤمن نفس دې چه په هر حالت کښې ځان ملامته کوی، او دا ورته وائی چه دا خبره دې ولې وکړه او فلانی ځای ته ولې لاړې، او د فلانی ځای نه ولې بهر شوې، او ولې دې دا فلانې خوراك وکړو۔ (او دا ځان ځکه ملامته کوی چه د قیامت نه یریږی) او فاجر ځان نهٔ ملامته کوی۔ آه۔
۲– ابو زکریا یحیی بن زیاد الفراءؒ وائی:
[لَیْسَ مِنْ نَفْسٍ بَرَّةٍ وَلَا فَاجِرَةٍ اِلَّا وَهِیَ تَلُوْمُ نَفْسَهَا اِنْ کَانَتْ عَمِلَتْ خَیْرًا قَالَتْ: هَلَّا ازْدَدْتُ، وَاِنْ کَانَتْ عَمِلَتْ سُوْءًا قَالَتْ لَیْتَنِیْ لَمْ اَفْعَلْ]۔
نشته یو نیك نفس او نهٔ بدکاره نفس مګر هغه خپل ځان ملامته کوی، که نیك عمل ئې کړې وی، نو وائی چه ما زیات ولې نهٔ کولو او که بد عمل ئې کړې وی نو وائی چه ارمان چه ما دا کار نهٔ وې کړې۔
ابن عباس ﷺ وائی: هِیَ الَّتِیْ تَلُوْمُ عَلَی الْخَیْرِ وَالشَّرِّ ۔ دا هغه نفس دې چه په نیکئ او بدئ دواړو باندې ځان ملامته کوی۔ (القرطبی والبغوی)
۳– او دا هغه مؤمن دې چه دنیا کښې هر وخت د ځان سره حساب کوی، که څه ګناه وکړی نو توبې وباسی، او که خوراك څکاك وکړی نو ځان سره وائی چه دا ما د څه مقصد دپاره وکړو، او ما څه شکر ادا کړو؟۔
نفس لوامه دویمه درجه نفس دې، اول نفس مطمئنه دې، او دریمه درجه کښې نفس اماره بِالسُّوْءِ دې۔
٤– مقاتلؒ وائی:

(هِیَ النَّفْسُ الْكَافِرَةُ تَلُوْمُ نَفْسَهَا فِی الآخِرَةِ عَلٰی مَا فَرَّطَتْ فِیْ أَمْرِ اللّٰهِ فِی الدُّنْیَا)

ددے نه مراد هر نفس دے چه ځان به په آخرت کښې ملامته کوی۔ یعنی په آخرت کښې به بیا ځانونه ملامته کوئ او ارمانونه به کوئ چه دا کفر او شرك او گناهونه مو ولے کول۔ (بغویؒ والقرطبیؒ وفتح القدیر وفتح البیان وزاد المسیر والخازن)

دواړه خبرے صحیح دی، نفس لوامه په دنیا کښې هم شته او په آخرت کښې به هم وی۔ په اول صورت کښې به د نفس مدح وی، او په دویم صورت کښې به ترهیب وی چه په آخرت کښې به ځان ملامته کوی نو پکار ده چه په دنیا کښې ځان ملامته کړی او توبه وباسی۔

بیا ئے نفس لوامه د قیامت سره یو ځای ذکر کړو، اشاره ده چه د قیامت راتلل ددے دپاره دی چه نفسونو ته جزاء او سزا ورکړے شی۔

دارنگه د قیامت ورځ د حساب وخت دے او نفس لوامه هم د خپل ځان سره حساب کونکے نفس دے۔

په بل تعبیر: یوم القیامة ورځ د جزاء ده، او نفس لوامه مستحق د جزاء دے۔

فائده : حافظ ابن القیمؒ په کتاب الروح کښې ذکر کړیدی چه د انسان یو نفس دے لیکن د هغے دغه درے صفات دی، په بعض انسانانو باندے یو نفس غالب وی او په بعضو باندے بل۔ نو نفس ته کله مطمئنه وائی پدے اعتبار سره چه خپل رب ته اطمینان او سکون حاصلوی، په عبودیت او محبت د هغۀ سره او په انابت سره هغه ته، او په توکل سره په هغۀ باندے او په رضا سره په هغۀ باندے او په سکون سره هغۀ ته۔

نو الله تعالیٰ ته اطمینان حاصلول یو حقیقت دے چه د الله تعالیٰ د طرفنه د بنده په زړه باندے راځی او د هغۀ زړه په الله باندے راجمع کوی،

او د هغه زړۀ چه تریدونکے دے هغه الله ته راواپس کوی، گویا که دے د الله تعالیٰ مخے ته ناست دے، نو دغه اطمینان ددۀ په نفس او زړه او جوړونو او ظاهری او باطنی قوتونو کښې سرایت وکړی، او حقیقی اطمینان نۀ حاصلیږی مگر په الله تعالیٰ او د هغۀ په ذکر سره۔ ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ﴾

هرچه نفس لوامه دے، نوددے په معنیٰ کښې اختلاف دے، یو ے ډلے وئیلی دی چه دا هغه نفس دے چه په یو حال باندے همیشه پاتے نۀ وی۔ ځکه چه لوامه د تلوم نه دے

تردد (گرزیدو راگرزیدو) ته وائی نو دا نفس هم ډیر اوړی راوړی او بدلیږی۔
او دا د الله تعالیٰ ډیره لویه نخه ده ځکه چه دا د الله تعالیٰ د مخلوقاتو نه یو مخلوق دے چه اوړی راوړی او په یو ساعت کښې -پاتے لا ورځ او میاشت او کال او عمر کښې- مختلف رنګونه حاصلوی، نو کله خبره یاده وی، او کله غافل کیږی، نو کله متوجه وی او کله اعراض کوی، او کله نرمیږی او کله سختیږی، او کله انابت کوی او کله جفاء کوی، او کله محبت کوی او کله بغض، نو کله خوشحالیږی او کله خفه وی۔ او کله رضا وی او کله په غضب وی، او کله فرمانبردار وی او کله نافرمان، او کله تقویٰ کوی او کله گناهونه کوی، داسے ډیرو چندونو طریقو سره بدلیږی رابدلیږی۔
او بله ډله وائی چه لوامه د لوم نه دے، ملامته کولو ته وئیلے شی، بیا ئے د حسن بصریؒ مخکښے قول ذکر کړیدے چه دا نفس ځان ډیر ملامته کوی۔
او بعضو وئیلی دی چه دا د مؤمن نفس دے چه په گناه ئے کښې اچوی بیا ئے ملامته کوی، نو دا ملامتیا د ایمان نخه ده، په خلاف د هغه بدبخت نه چه خپل نفس په گناه باندے نۀ ملامته کوی بلکه دے هغه او هغه دۀ لره ملامته کوی په فوت کیدو د گناه۔
بیا لیکی : دا ټول اقوال حق دی او هیڅ منافات پکښې نشته لیکن نفس په دوه قسمه دے (۱) لوامة ملومة۔ دا هغه جاهل او ظالم نفس دے چه الله تعالیٰ او د هغۀ ملائك ئے ملامته کوی۔
(۲) اوبل لوامة غیر ملومة دے۔ او دا هغه نفس دے چه همیشه خپل صاحب ملامته کوی په تقصیر او کوتاهی کولو سره په طاعت د الله تعالیٰ کښې سره ددے نه چه خپل وس مطابق هغه په طاعاتو کښې لګوی۔ نو دا نفس لوامه دے خو ملامته کړے شوے به نۀ وی۔ او دریم نفس اماره بالسوء دے چه انسان ته همیشه په گناه باندے امر کوی او دا ئے طبیعت جوړ شوے وی، مګر هغه چه الله تعالیٰ توفیق ورکړی، نو ددے نفس د شر نه هیڅوك نشی خلاصیدے مګر په توفیق او مدد د الله تعالیٰ سره۔
او الله تعالیٰ پدے دوه نفسونو (اماره، او لوامه) سره بنده په امتحان کښې اچولے دے لکه څنګه ئے چه په نفس مطمئنه سره پرے اکرام کړیدے، نو دا یو نفس دے چه اول کښې اماره وی بیا لوامه وی بیا مطمئنه وی۔
او الله تعالیٰ ددے آخری نفس سره په ډیرو لښکرو سره مدد کړیدے، نو ملائك ئے ددے

سره قرين او هغه ملګرے جوړ کړيدے چه دهٔ سره نزدے نزدے وی او ددهٔ مشری کوی، او دهٔ ته د خير ترغيب ورکوی۔ او شيطان د نفس لوامه سره قرين جوړ شويدے۔ (انتهٰی ترجمة عبارة كتاب الروح ملخصا)

أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ ﴿٣﴾ بَلٰى
آيا ګمان کوی انسان چه هيچرے به مونږ راجمع نکړو هډوکی ددهٔ۔ ولے نهٔ، بلکه
قَادِرِيْنَ عَلٰى أَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ ﴿٤﴾ بَلْ يُرِيْدُ الْإِنْسَانُ
قدرت والا يو (مونږ) پدے چه برابر کړو بندونه د ګوتو ددهٔ۔ بلکه اراده لری انسان
لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ ﴿٥﴾
چه نافرمانی وکړی په مخکښ راتلونکے زمانه کښ۔ (٢ چه انکار اُوکړی د مخے د حالاتو نه) (٣ چه ګناه والا اُوکړځوی مخه خپله)۔

تفسير : پدے آيتِ کريمه کښ الله تعالیٰ هم هغه خبره ذکر کړيده په کومه باندے چه مخکښ قسم وکړے شو۔ او پدے کښ رټنه ده کافر انسان ته۔

الله تعالیٰ وفرمايل : آيا کافر او ملحد دا ګمان کوی چه هغه به مړ شی او خاورے او ذره ذره به شی، د هغهٔ وجود به هميشه دپاره ختم شی، او مونږ به ددهٔ هډوکی د زمکے نه را ونهٔ باسو او هغه به د دوباره ژوندی کولو لپاره راجمع نهٔ کړو ؟ دا ددهٔ کچه سوچ دے۔

بَلٰى قَادِرِيْنَ عَلٰى أَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهُ : ددے دوه مطلبه دی :

(١) يو دا چه مونږ يقيناً په دے باندے وس لرو چه ددهٔ هډوکی راجمع کړو، بلکه مونږ ددے نه په غټه خبره باندے وس لرو چه ددهٔ د لاسونو او خپو ګوتے د اوبښ او خرهٔ د سُم پشان رايوځائے کړو، دے دپاره چه د هغے نه هغه نرے او باريك كار وانهٔ خلی کوم چه هغه د خپلو ګوتو په ذريعه سره اخلی۔

نو تسويه د بنان نه مراد دا دے چه اُوس ددهٔ ګوتے د يو بل سره يو ځای کړو او کومه فائده چه اُوس ددے نه اخلی هغه ختمه شی۔ يعنی ستا دا ګوتے چا جدا جدا کړے نو دغه ذات به ستا هډوکی هم راجمع کوی۔

او قادرين منصوب دے په نَجْمَعُهَا مُقدر سره۔ يعنی آؤ مونږ به ددهٔ هډوکی راجمع

کوو په داسے حال کښې چه مونږ قادر یو۔
(۲) مطلب دا چه مونږ خو د انسان د ګوتو په جوړولو باندے قادر یو کومے چه وړے او نازکے وی، او د یو بل نه جدا او د خوزیدو صلاحیت لری، نو بیا دهٔ د جسم غټ هډوکی دوباره جوړولو باندے به ولے قادر نهٔ یو، په داسے حال کښې چه اول ځل مونږ هم دا پیدا کړی وو۔
(۳) سعید بن جبیرؒ د ابن عباس ﷺ نه ددے آیت مطلب وتپوسلو نو هغهٔ وفرمایل :
[أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ : لَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ خُفًّا أَوْ حَافِرًا]۔
یعنی که الله وغواړی دهٔ نه به غوائی او اس جوړ کړی او ګوتے به ورله هموارے کړی۔
(المستدرك : ۳۸۷۷) صحیح)
بَلْ يُرِيْدُ الْإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ : دا هم رتهنه ده، او پدے کښې هم استفهام توبیخی پټ دے۔ یا بَلْ جواب دے د مخکښې استفهام، یعنی ددے انسان تپوس کول مقصد نهٔ دے بلکه د فجور او انکار اراده ئے ده۔
ددے دوه مطلبه دی (۱) (بلکه انسان غواړی چه نافرمانی کوی په راتلونکے زمانه کښې) اَیْ یُوَاصِلُ فُجُوْرَهٗ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ۔ یعنی انسان غواړی چه خپل ګناهونه تر قیامته پورے ورسوی۔ یعنی که الله تعالیٰ دے انسان لره پریدی، او عذاب ورنکړی او مرګ پرے رانهٔ ولی، نو دے به تر قیامته پورے دا ګناهونه کوی او الله ته نهٔ راواپس کیږی۔ بلکه الله تعالیٰ یو وخت پورے مهلت ورکوی، او بیا به ئے وژنی او بیا به ورله سزا ورکوی۔
(ابن الانباریؒ)
یعنی دے قیامت نهٔ منی ځکه ګناهونه کوی، که دهٔ قیامت منلے نو دا اراده به ئے نهٔ کولے۔ لکه دا په محاوره کښې وئیلے کیږی چه فلانیه ! تهٔ چه دا نیك عمل نهٔ کوے نوستا د بل کوم شر اراده ده۔
مجاهدؒ، حسنؒ، عکرمهؒ، سدیؒ، او سعید بن جبیرؒ وائی : دا انسان وائی :
سَوْفَ اَتُوْبُ وَلَا يَتُوْبُ حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ عَلٰى شَرِّ اَحْوَالِهٖ۔
زردے چه توبه وباسم لیکن توبه نهٔ وباسی تردے چه مرګ ورته راشی په داسے حال کښې چه دے په ډیر بد حالاتو کښې وی۔
ضحاكؒ وائی : [هُوَ الْاَمَلُ يَقُوْلُ سَوْفَ اَعِيْشُ وَاُصِيْبُ مِنَ الدُّنْيَا وَلَا يَذْكُرُ الْمَوْتَ]

ددې نه مراد امیدونه دی چه دې وائی : زهٔ به ډیره موده ژوندې یم او دنیا بهٔ حاصله کړم او مرګ ئې یاد نهٔ وی. (نو دا خپله مخه خرابول دی چه د مرګ دپاره هیڅ تیارے نهٔ کوی په تابعدارئ د حق سره، او حساب کتاب ئې یاد نهٔ وی)

(۲) لِیُکَذِّبَ اَمَامَهٗ اَیْ بِیَوْمِ الْقِیَامَةِ وَحِسَابِهٖ. یعنی انسان غواړی چه د قیامت او په هغے کښې د حساب کتاب تکذیب وکړی. اوله معنیٰ ظاهر د قرآن دے.

(۳) بل مطلب دا دے : بلکه غواړی انسان چه انکار وکړی د مخے ته راتلونکو حالاتو نه چه هغه عذاب د قبر او بعث او حساب او میزان دے.

(٤) لِیَفْجُرَ بِالْحَقِّ اَمَامَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ. یعنی غواړی چه د حق نه انکار وکړی مخکښې د راتللو د قیامت نه.

(٥) دا مطلب هم صحیح دے : بلکه اراده لری انسان چه ګناه والا وګرځوی مخه خپله په انکار د حق او انکار د قیامت سره.

یَسْئَلُ اَیَّانَ یَوْمُ الْقِیَامَةِ ﴿٦﴾ فَاِذَا بَرِقَ
تپوس کوی چه کله به وی ورځ د قیامت. نو کله چه اوبریښیږی (کیرے برے شی)
الْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾ یَقُوْلُ
سترګے. او توره شی سپوږمئ. او راجمع کړے شی نمر او سپوږمئ. وائی به
الْاِنْسَانُ یَوْمَئِذٍ اَیْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ کَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾
انسان په دغه ورځ چه چرته دے ځائے د تیختے. هیچرته نشته، نشته بچ کیدل.
اِلٰی رَبِّكَ یَوْمَئِذِ نِ الْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾
(یا ځائے د پناهئ). خاص رب ستا ته په دغه ورځ قرارے دے. (ځائے د قراری دے).

تفسیر : د مرګ نه پس ژوندی کیدو او د قیامت نه منکر د خندا په توګه تپوس کوی چه قیامت به کله راځی، ځکه چه د قیامت راتلل د عقل نه لرے خبره ګنړی.

الله تعالیٰ ددهٔ د خندا نه ډك سوال جواب ورکوی په ذکر کولو د هیبتونو د ورځے د قیامت سره. فرمائی چه هاؤ، کله چه قیامت راشی نو د انسان سترګے به د سختے ویرے

او دهشت نه اوېرېښېږي، او د حرکت کولو نه به بندے شي۔
الله تعالیٰ د سورتِ ابراهيم په (٤٢) آيت کښې فرمايلي دي:
﴿ إِنَّمَا نُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴾ (الله تعالیٰ دوئ ته هغه ورځے پورے مهلت ورکړے په کومه ورځ چه به سترگے کُړاغے رااوځي)۔
فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ: اَیْ تَحَیَّرَ /وَشَخَصَ۔ حيران به شي نظر او کولاؤ به پاتے شي او نيغ به راوځي۔ او دا حالت به په وخت د مرگ کښې وي او کله چه جهنم ويني۔
وَخَسَفَ الْقَمَرُ: او په دے ورځ به سپوږمۍ هميشه دپاره خپله رڼړا دلاسه ورکړي، او نمر او سپوږمۍ دواړه به راجمع کړے شي، د دواړو رڼړا به ختمه شي۔
او د شپے او ورځے يو بل پسے راتلل به اُودرېږي، په دے ورځ به انسان د ډيرے ويرے او گهبراويدو نه ځلور واړه طرفته د تيښتے کوشش کوي، ليکن دهٔ ته به د تيښتے هيڅ ځائے ملاوېږي نهٔ۔ دے وجے نه الله تعالیٰ وفرمايل:
﴿ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴾ هرگز نهٔ، اُوس هيڅ يو ځائے د پناهٔ نشته دے، اُوس خو ټول د رب العالمين مخے ته ولاړ دي، او د خپل ځان په باره کښې د هغهٔ د فيصلے په انتظار دي، چه د جنت فيصله کېږي يا د جهنم۔
وَخَسَفَ: دا خُسُوف هميشه دپاره دے، او په دنيا کښې خسوف د قمر د لږ وخت دپاره وي۔
وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ: ١- حديث کښې دي: ثَوْرَانِ مُكَوَّرَانِ فِي النَّارِ۔
دواړه به په اُور کښې راجمع کړے شي يعني د قيامت په ورځ به د نمر او سپوږمۍ نه د دوه غوايانو شکل جوړ کړے شي، او اُور ته به گوزار کړے شي۔
(مشكل الآثار للطحاوى ١/٦٦) الصحيحة: (١/١٩٢) رقم (١٢٣) واصل الحديث فى البخارى وله شاهد، مسند الطيالسى (٢١٠٣)۔
دا ددے دپاره چه چا د دوی عبادت کړيدے هغه ملامته او خړ کړے شي۔ چه ستاسو معبود خو اُور ته وغورزيدو۔ او د عذاب دپاره غورزول نهٔ دي مراد۔ (خطابیؒ)
اسماعيليؒ وائي: اُور ته داخلولو نه دا نهٔ لازميږي چه دوی ته به په اُور کښې عذاب ورکولے شي ځکه چه الله تعالیٰ په اُور کښې ملائك وغيره پيدا کړيدي دے دپاره چه د اُور والو دپاره عذاب شي او آله د عذاب شي۔ نو دا دواړه به هم د اُور خشاك جوړ شي۔

ابن قُتیبهٌ فرمائی :
[وَنَحْنُ نَقُوْلُ : اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَمْ يُعَذَّبَا بِالنَّارِ حِيْنَ اُدْخِلَاهَا، فَيُقَالُ : مَا ذَنْبُهُمَا، وَلٰكِنَّهُمَا خُلِقَا مِنْهَا ثُمَّ رُدَّا اِلَيْهَا]
مونږ وایو چه نمر او سپوږمئ ته اُور نهٔ ورکړے کیږی چه دا ووئیلے شی چه ددے څه گناه ده، بلکه دا دواړه د اُور نه پیدا کړے شویدی نو بیرته به اُور ته واپس کړے شی۔
(تاویل مختلف الحدیث : ۱/۱۰۱، والبدور السافرة للسیوطی ص ۱۷۹)
۲- فراءؔ او زجاجؔ وائی : [جُمِعَ بَيْنَهُمَا فِيْ ذَهَابِ ضَوْئِهِمَا]
یعنی دواړه به په خسوف کښ راجمع کړے شی یعنی دواړو نه به رنړا واخستے شی۔ (قرطبی)
۳- د ابن عباس او ابن مسعود رضی الله عنهما نه روایت دے:
[قُرِنَ بَيْنَهُمَا فِيْ طُلُوْعِهِمَا مِنَ الْمَغْرِبِ اَسْوَدَيْنِ]
چه دواړه به د مغرب د طرف نه په یو ځای خړ راښکاره شی۔
٤- بعض وائی : يُجْمَعُ حَرُّهُمَا عَلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ۔
راجمع به کړے شی گرمی د دواړو په انسانانو باندے په میدان د قیامت کښ۔ (قرطبی)
سوال : الشمس خو مؤنث دے نو جُمِعَتْ ئے ولے نهٔ وئیل؟
۱- **جواب** : فراءؔ او زجاجؔ وائی : دا په اصل کښ داسے دے [وَجُمِعَ بَيْنَهُمَا فِيْ ذَهَابِ نُوْرِهِمَا] یعنی دواړو ترمینځ به جمع والے وکړے شی په رنړا ختمیدو کښ۔ نو دلته د رعایت د معنیٰ د وجه نه د جُمِعَتْ په ځای جُمِعَ ووئیل شو۔
۲- یا دا تانیث مجازی غیر حقیقی دے۔ نو تانیث ورسره جائز دے۔
فائده : پدے آیتونو کښ مقصد د رنړاگانو زائل کول دی په طریقه د ترقی د ادنیٰ نه اعلیٰ ته، یعنی اول ئے بصر ذکر کړو چه ددے رنړا کمه ده، بیا ئے قمر ذکر کړو چه د بصر نه ئے رنړا زیاته ده، بیا ئے شمس ذکر کړو چه د ټولو نه زیاتے رنړا والا دے۔ (احسن الکلام)
يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ : دا هم د قیامت هیبت ذکر دے۔ د انسان نه مراد هر انسان دے مؤمن وی که کافر۔
اَيْنَ الْمَفَرُّ : دا مصدر دے په معنیٰ د فِرار (تیختے) سره۔ یا صیغه د ظرف ده۔ ځای د تیختے۔ (فراءؔ) او دا تیختـه د الله تعالیٰ نه کوی د وجه د شرم نه، یا د جهنم نه ئے کوی د

وجه د سختئ یرے نه۔
كَلَّا: دا ردعیه دے، یعنی فرار (تیختته) نشی کیدے۔ او لا وَزَرَ د كَلَّا تفسیر دے۔ یا پدے کښ ترقی ده یعنی ځای د پناهئ نشته نو تیختته به چرته وکړی۔
وَزَرَ: په لغت کښ هر هغه شی ته وائی چه په هغے سره پناهی حاصلیږی لکه قلعه، او غر وغیره۔ اَیْ لَا مَلْجَأَ۔ نشته ځای د پناهئ او د آوریدو۔
یا لَا وَزَرَ مِنِّیْ یَوْمَئِذٍ : الله فرمائی : زما نه هیچرته ستا ځای د پناهئ نشی کیدے۔
إِلَىٰ رَبِّكَ : دائے د تخصیص دپاره مقدم کړیدے۔
الْمُسْتَقَرُّ: ١- اَیِ الْمَرْجِعُ وَالْمُنْتَهٰی وَالْمَصِیْرُ۔ ځای د رجوع او انتهاء او ورګرزیدو۔
٢- یا ځای د آخری فیصلے۔
٣- یا مستقر مصدر دے په معنیٰ د قراری سره۔ یعنی په دغه ورځ به ټول خلق الله تعالیٰ ته قرارے ونیسی، د هغهٔ په مخکښ به ذلیله ولاړ وی۔
٤- یا معنیٰ دا ده خاص ستا رب ته سپارلے شویدے ځای د وسیدو د بندګانو چه یا به جنت وی یا به جهنم وی۔

يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ
خبر به ورکړے شی انسان ته په دغه ورځ په هغه عمل چه مخکښ ئے لیږلے دے
وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ أَلْقَىٰ
او روستو ئے پریخے دے۔ بلکه انسان په ځان خپل باندے لیدونکے دے۔ اګرکه ګوزار
مَعَاذِيرَهُ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ﴿١٦﴾
کړی عذرونه خپل۔ مهٔ خوزوه پدے (قرآن) باندے ژبه خپله چه جلتی کوے پدے۔
إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ﴿١٧﴾
یقیناً په مونږ باندے جمع کول ددے دی (په سینه کښ) او لوستل ددے دی (په ژبه
فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ﴿١٨﴾
ستا)۔ نو کله چه اُولولو مونږ دا تا ته نو تابعداری کوه د لوستلو د هغے۔ (روان شه

ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ﴿۱۹﴾

په لوستلو ددے پسے) بیا یقیناً په مونږ باندے بیانول ددے دی۔

تفسیر : يُنَبَّأُ: یعنی په دے ورځ به هر انسان ته ددهٔ د ښو اعمالو او بدو اعمالو خبر ورکړے شی۔

بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ: ددے درے مطلبونه دی (۱) بِمَا قَدَّمَ فِي الْحَيَاةِ وَاَخَّرَ بَعْدَ الْمَوْتِ۔ یعنی ژوند کښې ئے یو عمل کړیدے نیکی یا بدی، او د مرګ نه روستو ئے یوه صدقه جاریه یا ګناه پریخے ده۔ د نیکئ او بدئ دواړو سره لګی۔

(۲) بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ اَیْ بَاَوَّلِهٖ وَآخِرِهٖ۔ یعنی مخکنی او روستنی ټول اعمال د وړوکوالی نه تر مرګه پورے۔

(۳) بِمَا فَعَلَ وَمَا تَرَكَ۔ یعنی کوم عملونه ئے چه کړی وی او کوم ئے چه پریخی وی، ورته وئیلے به شی چه په فلانئ ورځ دِے دا عمل وکړو او دا فلانے عمل دِے پریخودو۔ دا کول پکار وو۔

او دا خبر به کله ورکړے کیږی؟ پدے کښې د مفسرینو دوه قوله دی:

(۱) بعض وائی چه دا خبر به انسان ته ددهٔ د اعمالو د وزن کولو په وخت ورکړے کیږی،

(۲) او ځینے وائی چه دا خبر به دهٔ ته د مرګ په وخت ورکولے کیږی۔ د قرطبیؒ په نیز اولنے قول غوره دے۔

بَلِ الْإِنسَانُ عَلَى نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ : دا ترقی ده د (يُنَبَّؤُ) نه۔ یعنی اخبار ته ضرورت نشته بلکه انسان به خپله خپل ځان وینی۔

(۱) ددے یو مطلب دا دے چه د انسان اندامونه او جوارح به ددهٔ د کړو ګواهی ورکوی، الله تعالیٰ فرمایلی دی:

﴿ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾

(په کومه ورځ چه د کافرانو ژبے، د دوئ لاسونه او د دوئ خپے به د دوئ په خلاف د دوئ د کړو ګواهی ورکوی)۔

(۲) حسن بصریؒ ددے تفسیر دا بیان کړے چه په دے ورځ به هر انسان د خپلو عیبونو او نقصانونو نه ښهٔ خبر وی، اګرکه د عذاب نه د بچ کیدو ناکام کوشش کښې به دروغژن

عذرونه پیش کوی، لیکن د هغے هیڅ فائده به دهٔ ته نهٔ رسیږی۔ او پدے به پو هیږی چه زما دا عذرونه غلط دی او زهٔ لوی مجرم یم۔

(۳) قتادهٔ وائی : د وَلَوْ اَلْقٰی مَعَاذِیْرَهٗ جزاء پټه ده اَیْ لَا تُقْبَلُ۔ یعنی اگرکه عذرونه وکړی خو هغه به نهٔ قبلیږی۔

بَصِیْرَةٌ: کښ تاء د مبالغے دپاره ده، نهٔ د تانیث دپاره۔ یا د انسان نه مراد جوارح (اندامونه) دی۔ اَیْ جَوَارِحُهٗ شَاهِدَةٌ۔ (ددهٔ اندامونه به گواه وی)۔

مَعَاذِیْرَهٗ: ۱- جمع د مَعْذِرَةٌ ده خلاف القیاس۔ عذرونو ته وائی۔

۲- زجاجؒ وائی : معاذیر جمع د مِعْذَار ده پردو ته وائی۔ یعنی اگرکه په ځان باندے پردے واچوی، او خپل عملونه پټوی د وجه د شرم نه۔

لَا تُحَرِّكْ: اُوس د قرآن په باره کښ ادب بیانوی۔

مناسبت :

ځینو مفسرینو دلته دا حیرانتیا ښکاره کړیده چه د قیامت پسے سمدست د قرآن کریم خبره څنگه شروع شی؟۔ مگر د حیرانتیا هیڅ خبره نشته ځکه چه یواځے خو پدے سورت کښ دا کار نهٔ دے شوے بلکه په اکثرو ځایونو کښ الله تعالیٰ د قیامت او د قرآن کریم جمع والے کوی نو هغے سره به څه کوی؟ لکه سورة الواقعه او سورة الحاقه کښ تیر شو۔

۱- نو بیا ئے ددے دپاره وجوهات بیان کړیدی چه مخکښ ذکر د عذاب وو، نو اُوس هغه کتاب بیانوی چه هغه مشتمل دے په اعمالو دپاره د دغه ورځے۔

۲- یا اَلْکَافِرُ یَسْتَعْجِلُ بِالْعَذَابِ وَالرَّسُوْلُ کَانَ یَتَعَجَّلُ بِالْقُرْآنِ۔

کافر انسان په عذاب باندے جلتی کوی۔ او رسول الله ﷺ به د قرآن په تلفظ باندے جلتی کوله۔ مگر دا خو څه مناسبت نهٔ دے۔

۳- زمونږ مشائخ داسے مناسبت بیانوی چه پدے سورت کښ د جمع العظام موضوع ده، او پدے ځای کښ هم جمع القرآن ذکر ده۔

لیکن حقه دا ده چه د قرآن او د قیامت ترمینځ ډیر زور تعلق دے، لکه د سلو نه په زیاتو آیتونو کښ دواړه جمع شویدی۔

﴿وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ﴾ (انعام : ۹۲) ﴿وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ﴾ (اعراف : ۱٤۷) لکه سورة التکویر بیا جمع کړیدی۔

شان نزول

په بخاريؒ او مسلمؒ کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل شوی دی چه

[كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ حَرَّكَ بِهٖ لِسَانَهٗ وَوَصَفَ سُفْيَانُ : يُرِيْدُ اَنْ يَّحْفَظَهٗ، فَاَنْزَلَ اللّٰهُ : ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ﴾

چه رسول الله ﷺ باندے به چه کله وحی نازلیدله نو هغوئ به شونډے خوزولے۔(دے دپاره چه که جبریل علیه السلام لاړ شی نو بیا به ئے د چا نه یادوم) نو هغهٔ ته ووئیلے شو چه د آیتونو یادولو لپاره خپله ژبه مهٔ خوزوه، دا زمونږ ذمه داری ده چه مونږ به دا ستا په سینه کښې محفوظ کوو دے دپاره چه د وحی نازلیدو نه پس تهٔ دا اولولے۔ دے وجے نه کله چه مونږ پوره وحی نازله کړو، بیا تهٔ هغه لوله۔ بیا ددے د بیانولو ذمه واری هم په مونږ ده۔ (بخاری : ٤۹۲۷)

د بخاريؒ په یو بل روایت کښې دی :

[فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَعْدَ ذٰلِكَ اِذَا اَتَاهُ جِبْرِيْلُ اسْتَمَعَ فَاِذَا انْطَلَقَ جِبْرِيْلُ قَرَاَهُ النَّبِيُّ ﷺ كَمَا قَرَاَهٗ] (بخاری رقم : ٥) مسلم : ۱۰۳)

چه ددے نه پس رسول الله ﷺ خواته به چه کله جبریل علیه السلام وحی راوړله نو هغهٔ به غور سره آوریدله، او کله به چه جبریل علیه السلام لاړ، نو هغهٔ به هغه شان لوستله څنګه چه به جبریل علیه السلام لوستلے وه۔

د سورتِ طه په (۱۱٤) آیت کښې الله تعالیٰ همدا مضمون داسے فرمایلے دے :

﴿وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ﴾

(تهٔ د وحی ختمیدو نه مخکښې په قرآن لوستلو کښې تادی مهٔ کوه)۔

حافظ ابن کثیرؒ د شعبيؒ، حسن بصريؒ، قتادهؒ، مجاهدؒ او ضحاکؒ او نورو نه نقل کړی دی چه ددے آیتونو د نازلیدو سبب هغه دے کوم چه پورته بیان شو، یعنی الله تعالیٰ خپل رسول ته د وحی د علم حاصلولو طریقه ښودلے ده۔ انتهیٰ۔

او دا د رسول الله ﷺ معجزه وه ګنے داسے لوی کلام په یو کرت یادیدل ګران کار وی۔

جَمْعَهُ : اَىْ فِىْ صَدْرِكَ ۔ یعنی زما په ذمه باندے ستا په سینه کښ ددے راجمع کول دی۔
وَقُرْآنَهُ : او ددے لوستل دی۔ اَىْ تَقْرَأُهُ بَعْدُ عَلَى النَّاسِ ۔یعنی بیا به ئے ته په خلقو باندے لوستلے شے۔
فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ: اَىْ اِسْتَمِعْ وَاَنْصِتْ۔ یعنی هغے ته غوږ کیده، چپ شه او مشغله پریده۔
ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ: ددے دوه مطلبه دی :
(۱) اَىْ اِنَّ عَلَيْنَا تَوْضِيْحَ مُشْكِلَاتِهٖ۔
(یعنی زما په ذمه دے وضاحت د مشکلاتو ددے) یعنی که په یو آیت نهٔ پو هیدے نو ما نه تپوس کوه زهٔ به درته جواب درکوم۔
(ځکه چه کله نا کله د قرآن کریم په بعض آیتونو به رسول الله ﷺ خپله هم نهٔ پو هیدو نو بیا به ئے د جبریل ؑ نه تپوس وکړو نو جواب به راغے)
(۲) اِنَّ عَلَيْنَا تَوْضِيْحَهٗ بِلِسَانِكَ۔
یعنی بیا به زهٔ ددے کتاب ستا په ژبه وضاحت کوم۔
مفسرینو لیکلی دی چه نبی کریم ﷺ په خپله دریشت کاله نبوی ژوند کښ د قرآن کریم د تشریح او توضیح دپاره چه څهٔ وئیلی او کړی دی، او د څومره خبرو تائید ئے چه کړے دے او د څومره خبرو نه ئے چه منع کړے ده، چه دیته د اسلام په ژبه کښ ((حدیث)) وئیلے کیږی،
دا ټوله ذخیره د الله له طرفه د نازلے شوے وحی برخه وه، او اگرکه قرآن نهٔ وو، لیکن د قرآن په پورتنی آیت کښ د موجوده ربّانی وعدے مطابق، دا ذخیره د قرآن تشریح او ددے بیان وو، او امت دپاره د آسمانی وحی په حیثیت سره واجب الاتباع وه۔
الله تعالیٰ د سورۃ النجم په (۴/۳) آیتونو کښ ددے خبرے په تائید کښ فرمایلی دی :
﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴾
(د الله نبی په خپل خواهش سره هیڅ خبره نهٔ کوی، هغه خو صرف وحی ده چه هغه نازلیږی)۔
نو پدے آیت کښ الله تعالیٰ د قرآن او د حدیث دواړو د حفاظت ذمه واری اخستے ده۔

كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿۲۰﴾
هیچرې د آخرت نه انکار نهٔ دے پکار، بلکه تاسو مینه کوئ د دنیا سره۔
وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۲۱﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿۲۲﴾ إِلٰى رَبِّهَا
او پریدئ تاسو آخرت لره۔ بعض مخونه به په دغه ورځ تروتازه وی۔ رب خپل ته به
نَاظِرَةٌ ﴿۲۳﴾ وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿۲۴﴾ تَظُنُّ
کتونکی وی۔ او بعض مخونه به په دغه ورځ تراوهٔ وی (بدرنگه وی)۔یقین به کوی
أَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿۲۵﴾
چه ویه کړے شی د دوی سره آفت ملا ماتونکے۔ (ناکاره معامله)۔
كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿۲۶﴾ وَقِيْلَ مَنْ سكته
هیچرې داسے نهٔ ده، کله چه اُورسی روح مرئ ته۔ او اُووئیلے شی څوك دے
رَاقٍ ﴿۲۷﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿۲۸﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ
دم اچونکے۔ او گمان اُوکړی چه دا وخت د جدائی دے۔ او یوځائے شی یوه پونډئ
بِالسَّاقِ ﴿۲۹﴾ إِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿۳۰﴾
د بلے پونډئ سره۔ خاص رب ستا ته په دغه ورځ ورتلل دی۔(ورچلیدل دی)

تفسیر : اُوس بیرته د آخرت خبره ذکر کوی۔ او انسان ته د آخرت په باره کښ د فکر کولو نصیحت کوی۔ فرمائی : چه تاسو دنیا، ددے د خوندونو او ددے د شهوتونو پسے منډے وهئ، او د آخرت د فکر نه غافله یئ، په دے وجه چه د دنیا خوندونه فوراً حاصلیږی، او د آخرت نعمتونه د سترگو نه غائب دی، حالانکه که تاسو د عقل او پوهے نه کار اخستلے، په أبدی انجام باندے ستاسو نظر پریوتلے، نو آخرت به مو په دنیا باندے غوره کولے، او د قیامت په ورځ به تاسو ته داسے همیشه خوشحالی ملاویدله چه د هغے نه پس به هیڅ کله بدبختی او غم او مصیبت ستاسو خواته هم نهٔ درتلو۔

كَلَّا: دا ردع ده د انکار نه۔ یعنی هیچرې د آخرت نه انکار نهٔ دے پکار۔

اَلْعَاجِلَةَ: هغه شے دے چه زر ملاویدونکے وی، او دا د دنیا نوم دے۔ یا ورته عاجله پدے وجه وائی چه زر فناء کیږی۔
❁ یعنی تاسو د دنیا سره مینه لرئ پدے وجه د آخرت نه انکار کوئ۔
❁ دارنګه کوم انسان چه د قرآن نه اعراض کوی نو د هغے وجه د دنیا محبت وی۔
❁ او دارنګه د دنیا محبت سبب دے د پریخودو د آخرت۔
او پدے کښ اشاره ده چه د قرآن او د دین د کارونو سره عجلت مناسب نۀ دے۔
وُجُوْهٌ یَوْمَئِذٍ: کوم خلق چه په دنیا باندے آخرت غوره کوی، د قیامت په ورځ به د دوئ مخونه تر او تازه، پرقیدونکی او رڼړا والا وی، او جنت او ددے قیمتی نعمتونو موندلو سره به انتهائی خوشحاله وی۔ او دوئ ته به د ټولو نه لوئے نعمت دا ملاویږی چه د دوئ رب به د دوئ مخے ته راښکاره کیږی، چه د هغۀ په لیدلو سره به دوئ ته داسے خوشحالی ملاؤ شی چه د هغے نه په الفاظو کښ تعبیر نشی کیدے، او ددے نه پس به دوئ د جنت تمام نعمتونه هیر کړی۔
نَاضِرَةٌ: د نضرت نه دے تر او تازه ګئ او خوشحالئ ته وائی۔
اِلٰی رَبِّهَا: دائے په نَاظِرَةٌ باندے مقدم کړو، پدے کښ اشاره ده چه ددے جنتیانو مقصد به صرف او صرف همدغه د خپل رب دیدار وی، ددے نه لوی به بل هیڅ نعمت نۀ ښکاره کیږی۔
نَاظِرَةٌ: د عربی ژبے دا قانون دے چه کله د نظر په صله کښ (اِلٰی) لفظ راشی نو هغه صرف په معنیٰ د نظر او کتلو سره وی، او د انتظار په معنیٰ سره نۀ وی لکه دا په ډیرو آیتونو کښ راغلی دی: (سورة توبه: (۱۲۷) اعراف (۱۹۸) و سورة یونس (۴۳) او سورة عبس (۲٤) او سورة احزاب (۱۹) او سورة محمد (۲۰) آیت۔
او دا خبره امام بیهقیؒ په کتاب الرؤية رقم (٦۱) کښ ذکر کړیده۔
او دائے هم وئیلی دی چه کله د وجوه (یعنی مخونو) سره نظر ذکر شی نو ددے معنیٰ د سترګو د نظر سره وی۔
او دا ښکاره دلیل دے چه په قیامت کښ او په جنت کښ د الله تعالیٰ لیدل حق دی، او دا د جنتیانو دپاره د ټولو نه لوی نعمت دے۔
عبد الله بن عباس ﷺ معنیٰ کوی: (نَظَرَتْ اِلَی الْخَالِقِ) خپل خالق ته به ګوری۔

(البیهقی فی الرؤیة رقم : ٦٤)

حسنؒ وائی : [نَظَرَتْ اِلٰی رَبِّهَا عَزَّ وَجَلَّ فَنَضَرَتْ بِنُوْرِهٖ]

پدے وجه به مخونه ښائسته شوی وی چه خپل رب ته به ګوری۔

الرؤیة للدارقطنیؒ :١٦٧ عن الحسن)

او همدا مذهب د ټولو سلفو صالحینو دے۔

او پدے باندے د قرآن کریم ګڼړ آیتونه او د رسول الله ﷺ متواتر احادیث دلیل دے لکه چه ددے تفصیل په تفسیر د سورة الانعام کښ ذکر شویدے۔

او په حدیث د مسلم کښ دی :

[اِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عَیَانًا كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَ، لَا تُضَامُّوْنَ فِیْ رُؤْیَتِهٖ]۔

یقیناً تاسو به خپل رب داسے ښکاره وینئ لکه چه دا سپوږمئ وینئ، د هغۀ په لیدو کښ به تیل تال نۀ کوئ۔ (مسلم : ١٤٦٦)

او د الله تعالیٰ لیدل د مخلوق د لیدو سره مشابهت لری۔

او کوم علماء چه د الله تعالیٰ د رُؤیت (لیدو) نه منکر دی، نو هغوی پدے مقام کښ داسے تاویلات کوی ((د ثواب او د نعمتونو د رب انتظار به کوی))۔

نو په هغے باندے ثعلبیؒ او ازهریؒ رد کړیدے او قرطبیؒ نقل کړیدی چه دا قول خطاء دے، د ظاهر د آیت او د احادیثو خلاف دے۔

او په حدیث د صهیب رضی الله عنه کښ دی :

[فَیَكْشِفُ الْحِجَابَ فَمَا اُعْطُوْا شَیْئًا اَحَبَّ اِلَیْهِمْ مِنَ النَّظَرِ اِلٰی رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ]۔

الله به پرده لرے کړی نو دوی ته به د خپل رب ته د نظر کولو نه زیات محبوب بل کوم شے نۀ وی ورکړے شوے۔ (مسلم : ٤٦٧)

او ددے مسئلے په باره کښ د علامه شوکانیؒ کتاب (اَلْبُغْیَة فِیْ مَسْأَلَةِ الرُّؤْیَةِ) او د حافظ ابن القیمؒ کتاب ((حادی الارواح الی بلاد الافراح ص : ١٩٦) الباب الخامس والستون)) وګورئ چه پدے کښ ئے د دواړو فریقینو تفصیلی دلیلونه عقلی او نقلی ذکر کړیدی۔

وَوُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ: او کوم خلق چه دنیا او ددے عارضی خوندونه په جنت او ددے په همیشه خوشحالیو باندے غوره کوی، د قیامت په ورځ به د دوئ مخونه د غم او درد له وجے انتهائی بے رونقه او خړ او بدرنګه وی، په دوئ به د غم او تکلیف په سبب توروالے

راخور شوے وی، ځکه چه دوئ ته به یقین راغلے وی چه نن دوئ لپاره هیڅ خیر نشته، دوئ لـه به داسے سزا ورکړے کیږی چه د دوئ د ملا تیر به ټکړے ټکړے کړی، یعنی دوئ به په بیحده سخت عذاب کښ اخته کړے شی۔

تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ : یعنی یقین به ئے راشی چه دوئ سره به وکړے شی هغه آفت چه ملا به ورله ماته کړی۔

فَاقِرَةٌ : ١- د فَقَارُ الظُّهر نه دے، اَیْ کَسَرَتُ فَقَارَ ظَهرِہٖ۔ یعنی دا مصیبت به ورله د شا ډبرئ او تیر مات کړی۔ نو فاقره نه مراد ((آفت ملا ماتونکے)) دے۔

او چه کله د انسان ملا ماته شی نو بیا د ځای نه نشی پاڅیدے او ډیر سخت درد کوی چه د برداشت نه بهر وی۔

٢- اَلدَّاهِيَةُ الْعَظِيمَةُ۔ لوی آفت او مصیبت۔

٣- قتادهؒ ئے په شر سره معنیٰ کوی،

٤- او سدیؒ ئے په هلاکت سره،

٥- او ابن زیدؒ ئے په دُخُول النار سره۔ او فاقره په اصل کښ دے ته وائی، د اُوښ په پوزه باندے په وسپنه یا اُور سره داغ ورکول تردے چه هډوکی ته ورسیږی۔

كَلَّا: دا ردع ده د حُبُّ الْعَاجِلـه نه۔ یعنی اے خلقو! د دنیا سره مینه مهٔ کوئ ځکه چه مرگ راروان دے۔ یا د قیامت نه انکار نهٔ دے پکار۔

إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ: پدے آیتونو کښ هم په مشرکانو باندے د بعث بعد الموت د عقیدے په باره کښ رد دے۔ چه ستاسو گمان د آخرت په باره کښ غلط دے، بلکه تاسو به خامخا دوباره ژوندی کیږئ۔ کله چه ستاسو روح د مرئ هډوکی پورے را اورسی، او ستاسو خپل خپلوان ستاسو دا سخت حالت اووینی او په دے وسئ کښ چغے کړی چه څوك شته دے چه هغه د دَم درود په ذریعه ددهٔ بیماری او غم اودرد لرے کړی، او ستاسو یقین راشی چه اُوس به تاسو خپل اهل او عیال او خپل خپلوان پریدئ او کوچ به کوئ، په دے ورځ به تاسو آخرت طرفته روان کړے شئ۔

ستاسو بدنونه به په خاوره کښ دفن کړے شی، او ستاسو روح به ستاسو د رب خواته اورسیږی، دے دپاره چه د قیامت په ورځ تاسو ژوندی کړی او ستاسو د انجام په باره کښ خپله فیصله صادره کړی۔

التَّرَاقِيَ: جمع د تَرْقُوَةٌ ده، او د هر انسان دوه ترقوته دی، او دا دوه هډوکی دی چه هغه د مرئ نه بنسی او کس طرفته چاپیره وی۔ او جمع ئے ذکر کړه پدے کښ مبالغه ده چه د مرئ په هر طرف باندے به د ساه وتلو مصیبت وی۔

رَاقٍ: ۱- (دم اچونکے) لکه د خلقو عادت دا وی چه کله څوك بیمار شی، نو ووائی چه دمګرے ورله راوغواړئ، سرے مری چه دم پرے واچوی، او دے وخت کښ ورله ډاکټر راغواړی لیکن دا یو ئے هم نشی بچ کولے۔

۲- یا راق د رَقِیَ يَرْقٰی (سمع) نه دے په معنیٰ د ختلو سره۔ او دا وینا د ملائکو ده، یعنی ملائك به خپل مینځ کښ ووائی چه څوك دے چه ددهٔ روح بره وخیژوی د بدن نه مستقر د ارواحو ته۔ او په مَنْ باندے سکته د اولے توجیه مطابق د وجه د خفګان د حاضرینو نه ده، او د دویمے توجیه مطابق د وجه د ابهام د راقی نه ده۔

أَنَّهُ الْفِرَاقُ: یعنی دا (مصیبت) وخت د جدایئ دے۔ اُوس زهٔ د خپل ښځے، بچو او مور او پلار او مال متاع او کور هر څه نه جدا کیږم، دلته ورته د عملونو او د ګناهونو حالت رامخے ته شی چه زهٔ خو بد عمله یم او هیڅ مے نهٔ دی کړی، تش تور روان یم۔ نو دومره غم به پرے راخور شی که نهٔ مری هم به مری۔

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ : ۱- یعنی دواړه پونډئ ورله خلق یو ځای نیغے کړی، دے دپاره چه خپے ئے کږے نشی۔

۲- یا کنایه ده د سختئ د تکلیفونو نه۔ اَیْ تَتَابَعَتْ عَلَیْهِ الشَّدَائِدُ۔

یعنی تکلیفونه او سختیانے پرے پرله پسے راشی۔

دلته د مرګ تکلیف، د جدایئ تکلیف، د عملونو تکلیف، دلته د ملك الموت لیدل دی، ډیرے غټے خبرے مخے ته راروانے دی۔

إِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ الْمَسَاقُ : یعنی اے انسانه تهٔ اُوس خپل رب ته روانیږے، آیا تا د هغه دپاره څه تیارے کړیدے؟!۔

که یو تن د الله تعالیٰ نه په بغاوت کښ زندګی تیره کړی وی نو په واقعه د ابو حازمؒ او سلیمان بن عبد الملكؒ کښ ددے مثال داسے ذکر شویدے لکه یو غلام چه د بد اخلاقه مولیٰ نه تښتیدلے وی او هغه پسے سری ولیږی او هغه ئے راروان کړے وی نو هغه به څومره پریشانه وی، چه ما سره به مولیٰ څه کوی، نو الله تعالیٰ هم دغه شان سلوك ددے

بنده سره کوی۔ او د مؤمن مثال داسے وی كَالْغَائِبِ يَقْدُمُ عَلٰی اَهْلِهٖ۔

لکه یو تن په سفر تلے وی او بیرته خپلے ښځے او بچو او مور او پلار ته راواپس کیږی، نو څومره خوشحاله وی، په لاره کښې ورته د سفر د وجه نه تکلیف وی لیکن زړه ئے خوشحاله وی، نو دارنګه په وخت د مرګ کښې مؤمن ته هم تکلیف وی لیکن زړه ئے خوشحاله وی۔ (حلية الاولياء ۲۳٤/۳)

نو پدے آیت کښې مونږ ته هم دا دعوت دے، چه انسان روزانه خپلو سترګو سره دا ننداره وینی چه خلق دیے وسیٔ په حالت کښې مړهٔ کیږی، او هیڅوك دویٔ نشی بچ کولے۔ د دویٔ روحونه د خاکی بدن نه اوځی او خپل خالق خواته ورځی۔

پکار خو دا وه چه انسان د مرګ ددے ننداروِ نه عبرت حاصلولے، او په آخرت کښې د اُور د عذاب نه ئے د بچ کیدو تدبیر کولے، لیکن دا ددهٔ بد قِسمتی ده چه داسے نهٔ کوی۔

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ
نو تصدیق ئے نهٔ دے کړے او نهٔ ئے مونځ کړیدے۔ لیکن تکذیب ئے کړیدے (د حق)
وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلٰى أَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾ أَوْلٰى لَكَ
او اوړیدلے دے (د طاعت نه)۔ بیا لاړو خپل کور والا ته تکبر کوی۔ هلاکت دے تا لره
فَأَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ
نو هلاکت دے۔ بیا هلاکت دے تا لره نو هلاکت دے۔ آیا ګمان کوی انسان چه
أَنْ يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾
پریے به خودے شی مهمل (بیکاره)۔ آیا نهٔ وو دے تکړه د منی چه اچولے شی په رحم
ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ
کښې۔ بیا شوه تکړه د وینے نو پیدا ئے کړو او برابر ئے کړو۔ نو وے ګرځول ددهٔ نه دوه
الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلٰى أَنْ يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾
جوړیٔ نارینه او زنانه۔ آیا نهٔ دے دغه ذات قدرت لرونکے په دے چه ژوندی کړی مړی۔

تفسير: اُوس د کافر او متکبر او غافل انسان حالت بیانوی چه دهٔ عیبونه راجمع کړیدی، الله تعالیٰ وفرمایل چه دهٔ د الله تعالیٰ آیتونه دروغژن وګڼړل، د هغهٔ د نعمتونو نه ئے انکار وکړو، په خپل ژوند کښې ئے د خپلو مونځونو اهتمام نهٔ دے کړے، حق دین ئے دروغژن وګڼړلو او د طاعت او بندګئ په لاره لانهٔ ړو، او ددے تمامو ګناهونو کولو باوجود هغه خاطر جمعه اوسیږی، او د الله تعالیٰ د ویرے د وجے نه ئے هیڅ کله د توبے سوچ نهٔ دے کړے، بلکه تکبر سره په نخره روان خپل کور والو ته لاړو.

كَذَّبَ: اَیْ بِالْقَلْبِ۔ یعنی دروغجن ئے وګڼړلو په زړه سره۔

وَتَوَلّٰى: اَیْ عَنِ الطَّاعَةِ۔ یعنی واوړیدو د طاعت نه۔ یعنی حق نهٔ منی چه هغه قرآن دے۔ دلته الله تعالیٰ د تصدیق سره صرف مونځ یو ځای ذکر کړو پدے کښې د مانځه ډیر لوی قدر ته اشاره ده۔ نو تکذیب ضد د تصدیق شو او تولی د مانځهٔ او نورو فرائضو پریخودل شو۔ او بیا ئے ددے نه روستو نور وعید بیان کړو۔

(تعظيم قدر الصلاة رقم: ٥٢) لمحمد بن نصر المروزی)

ثُمَّ ذَهَبَ إِلٰى أَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى : اَیْ یَخْتَالُ وَیَتَبَخْتَرُ۔ یعنی تکبر او نخرے کوی په مزل کښې۔

يَتَمَطّٰى: دا د مَطَا نه دے ملا ته وائی۔ اَیْ یَلْوِیْ مَطَاهُ۔ کږوی او تاووی ملا خپله په مزل کښې او لاسونه وهی۔ بعض وائی : یتمطی په اصل کښې یَتَمَطَّطُ دے، تَمَطُّطُ اُوږدوالی او درون والی ته وائی۔ اَیْ یَتَثَاقَلُ وَیَتَكَاسَلُ عَنِ الدَّاعِیْ اِلَی الْحَقِّ۔

یعنی د حق د داعی نه ځان دروند کوی او سستی کوی۔

او په قرآن کریم کښې دا خبره هم زیاته ده چه په دنیا کښې ډیره خوشحالی کول د جهنمیانو صفت دے۔

قارون ته وویل شو : ﴿لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللهَ لَا یُحِبُّ الْفَرِحِیْنَ﴾ (القصص: ٧٦)

(په دنیا کښې ډیره خوشحالی مهٔ کوه ځکه چه الله تعالیٰ په تکبر سره خوشحالی کونکی نهٔ خوښوی)

او د آخرت او د قبر هیڅ غم ورسره نهٔ وی، مؤمن سرے به غمجن وی

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ﴾۔ (فاطر: ٣٤)

(شکر دے هغه الله لره چه زمونږ نه ئے ټول غمونه او خفګانونه ختم کړل)

أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى : **شان نزول**

واحدیؒ د مفسرینو قول نقل کړے دے چه رسول الله ﷺ د ابو جهل لاس اونیولو، بیائے وویل چه ستا دپاره ډیر د بربادئ دپاسه بربادی وی، نو ابو جهل ووئیل : تهٔ ماته د څهٔ شئ ګواښ کوے، تهٔ او ستا رب زما هیڅ شے نشئ خرابولے، زهٔ د دے علاقے معزز ترین انسان یم۔ نو دا آیتونه نازل شو، او الله تعالیٰ د خپل رسول په تائید کښ د دے کافر او متکبر انسان انجام اوښودلو چه دهٔ دپاره هلاکت او بربادی ده۔

مفسرینو لیکلی دی چه [أَوْلىٰ] لفظ څلور کرته ذکرکولو نه مقصد دادے چه ددهٔ لپاره هلاکت اوبربادی په ژوند کښ ده، او د مرګ نه پس هم ده، او په کومه ورځ چه دا دوباره اوچتیږی، اوکله چه جهنم ته غورزیږی۔ او دا څکه چه دهٔ دغه څلور کارونه کړیدی۔

نسائیؒ، حاکمؒ، طبرانیؒ، ابن المنذرؒ او ابن جریرؒ اونورو د سعید بن جبیرؒ نه نقل کړی دی چه ما د ابن عباس ؓ نه د ﴿ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴾ په باره کښ تپوس وکړو،

[أَشَیْءٌ قَالَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَوْ شَیْءٌ أَنْزَلَهُ اللّٰهُ ؟ قَالَ : قَالَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثُمَّ أَنْزَلَهُ اللّٰهُ]

آیا رسول الله ﷺ ابو جهل ته دا خبره د خپلٔ طرفه کړے وه اوکه الله حکم ورکړے وو ؟ نو هغهٔ وویل : نبی ﷺ دا د خپل طرفه وئیلی وو، بیا الله تعالیٰ دا په قرآن کښ نازل کړو۔ دے روایت ته حاکمؒ او ذهبیؒ د بخاریؒ او مسلمؒ د شرط مطابق صحیح وئیلی دی۔ (المستدرك : ۳۸۸۱) هیثمیؒ وائی رجال ئے ثقات دی۔

أَوْلٰى : ۱- دا په معنیٰ د ویل (هلاکت) ده۔

۲- یا اَوْلٰى لَكَ الْهَلَاكُ مِنْ غَیْرِهٖ ۔ تا سره هلاکت لائق دے د سلامتیا نه۔ ❁ یا اَلْعَذَابُ اَوْلٰى لَكَ۔ عذاب ستا سره ډیر لائق دے۔ اوله معنیٰ ئے ظاهره ده۔

أَیَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَنْ یُتْرَكَ سُدًى : یعنی انسان دا ګمان کوی چه دے به مُهمل پریخودے شی۔

یعنی الله تعالیٰ انسان بے غرضه او بیکاره نهٔ دے پیدا کړے، هغهٔ دا د خپل طاعت او بندګئ لپاره پیدا کړے دے، دے وجے نه هغه ډیر دا ګمان نهٔ کوی چه هغه په دے دنیا کښ د څناورو پشان پریښودل شوے دے، بلکه الله تعالیٰ دا د اوامرو او منع کړو څیزونو مکلّف جوړ کړے دے، او د قیامت په ورځ به دهٔ نه تپوس کیږی، او د ښو یا بدو اعمالو

مطابق به ورله جزاء یا سزا ورکړے کیږی۔

سُدًی: (۱) دا په دنیا کښې هم مراد دے، یعنی لَا یُؤْمَرُ وَلَا یَنْهٰی۔

چه دۀ ته به امر او نهی نۀ کیږی، او د الله تعالیٰ د کائناتو او نعمتونو نه به فائدے اخلی، او څه احکامو باندے به مکلف نۀ وی، څه عبادات او اعمال به ورته متوجه نۀ وی۔

(۲) سُدًی فِی الْقَبْرِ۔ یعنی په قبر کښې به مُهمل پروت وی، او هیڅ حساب او سوال وجواب به ورسره نۀ کیږی۔ او نۀ به بعث بعد الموت وی، او نۀ به روستو حساب کتاب وی۔ دا خیال ئے غلط دے ځکه چه دا د الله تعالیٰ د شان نه لرے ده چه ظالم او مظلوم او د عاصی او مطیع ترمینځ هیڅ فرق به نۀ کوی۔

اَلَمْ یَکُ نُطْفَةً: یعنی انسان که د خپل پیدائش په شروع باندے غور وکړی نو ایمان به راوړی چه واقعی الله تعالیٰ دۀ په دوباره ژوندی کولو باندے قادر دے۔

الله تعالیٰ وفرمایل: انسان ته ښۀ معلومه ده چه دا د منِی یوه سپکه قطره وه چه دا دۀ د پلار د شا نه اوخکلے شوه او دۀ د مور په رحم کښې واچولے شوه، بیا څۀ ورځے پس د منِی دا قطره وینه جوړه شوه،

بیا الله تعالیٰ دا د غوښے یوه بوټئ جوړه کړه، او اندامونه ئے په کښې جوړ کړل، او روح ئے په کښې واچولو، بیا د منِی ددے قطرے نه د پیدا شوو انسانانو الله تعالیٰ (د نارینه او زنانه) دوه قِسمه انسانان جوړ کړل۔

الله تعالیٰ فرمائی: اے انسانانو! کوم الله چه ستاسو د منی نه په مختلفو پړاوونو تیرولو سره پیدا کولو باندے قادر دے، آیا هغه د مړو په ژوندی کولو قادر نۀ دے ؟! هغه یقیناً په دے قادر دے، او هغه په هر څیز قادر دے۔

فَخَلَقَ: اَیْ اِنْسَاناً یعنی انسان ئے پیدا کړو بیا ئے برابر کړل اندامونه دۀ۔

اَلَیْسَ: دا ننیجه د مخکښې دلیل ده۔

ذٰلِكَ: یعنی دغه ذات د الله تعالیٰ چه دغه قدرتونه لری۔

په حدیث د ابوداود کښې دی چه یو صحابی ﷺ به د کوتے په سر باندے مونځ کولو نو کله چه به هغۀ (اَلَیْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلٰی اَنْ یُّحْیِیَ الْمَوْتٰی) ولوستلو نو داسے به ئے ورسره وویل:

[سُبْحَانَكَ فَبَلٰی]. (پاکی ده تا لره، آؤ، تۀ خامخا قادر ئے)

چا ترې تپوس وکړو؟ نو هغه ووېل چه ما د رسول الله ﷺ نه دغسې آوریدلې دي.

(ابوداود: ١/١٤١) رقم (٨٨٧) والبیهقي رقم: ٣٨٤٣) واسناده صحیح)

او د صحابي نوم که نۀ دې خودلې شوې نو دا هیڅ ضرر نۀ ورکوي، ځکه چه صحابه کرامؓ ټول عادلان دي.

او په بل روایت کښې صرف (بَلٰی) راغلې دے. نو ددې وئیل مستحب دي، په نفل مانځه کښې، او بهر د مانځه نه لوستل ئې پکار دي.

او کوم روایت کښې چه پرې امر راغلې دے نو هغه ضعیف دے. ابوداود راوړیدے، اسماعیل بن امیه وائي: [سَمِعْتُ أَعْرَابِیًّا] ما د یو اعرابي نه واوریدل، نو دا اعرابي مجهول دے. (ابوداود: ٨٨٧)

وبالله التوفیق.

امتیازات د سورة القیامة

١- جمع العظام پکښې بیان شو.

٢- دا بیان شو چه نمر او سپوږمۍ به اُورته غورزولې شو.

٣- د کافر انسان دپاره څلور کرته هلاکت ذکر شو.

٤- د الله تعالیٰ رؤیت پکښې ذکر شو.

ختم شو تفسیر د سورة القیامة په مهربانئ د رب العالمین سره



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۳۱)	(۷۶) سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۲)

سورة الدهر مدنی دے، په دے کښې يو ديرش آيتونه او دوه رکوع دی

تفسير سورة الدهر

نوم : (۱) په اولنی آيت کښې د [الدَّهْر] لفظ راغلے، همدا ددے نوم کيښودلے شوے.
(۲) ددے دويم نوم [سُوْرَةُ الْإِنْسَان] دے. (۳) او دريم [سُوْرَةُ الْأَمْشَاج]،
(٤) او سورة [هَلْ أَتٰى] هم وئيلے کيږی.

د نازليدو زمانه : د جمهورو علماؤ په نيز دا سورت مدنی دے. او ابن النحاسؒ د ابن عباس ﷺ نه، او ابن مردويهؒ د عبد الله بن زبير ﷺ نه روايت کړی دی چه دا سورت په مکه کښې نازل شوے.

دريم قول دادے چه د سورت د شروع نه تر (۲۲) آيته پورے مدنی دے، او ددے نه پس آخره پورے مکی دے.

فضيلت :

امام بخاری او مسلمؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت کړی دی چه رسول الله ﷺ به د جُمعے په ورځ د صبا په مانځه کښې [ألم سجده] او [هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَان] لوستلو.

بخاری : (۸۹۱) ومسلم رقم : (۲۰٦۸)

مناسبت :

۱- مخکښې سورت کښې د قرآن کريم په باره کښې ادب ذکر وو، نو پدے سورت کښې دا ذکر کوی چه قرآن کريم د الله تعالىٰ لوی نعمت دے، پدے باندے شکر پکار دے.

۲- د مخکښ سورت په آخر کښ د اثبات د بعث دپاره دلیل ذکر وو نو ددے سورت په ابتـداء کښ همدغه دلیل د اثبات د بعث دپاره ذکر کیږی، نو دے ته تشابه الاطراف وئیلے کیږی۔

۳- مخکښ سورت کښ رد وو په هغه خلقو چه د آخرت نه انکار کوی، نو دلته فرمائی چه اے انسانه! د آخرت نه انکار مهٔ کوه بلکه تهٔ په دنیا کښ یو مقصد له پیدا ئے، چه هغه د آخرت دپاره تیارے کول دی، تهٔ په امتحان کښ ئے۔ او ددے امتحان نتیجه به راوځی۔ د خپل ځان غم وکړه۔

موضوع د سورت

خُلِقَ الْاِنْسَانُ لِلْاِبْتِلَاءِ۔ انسان د ابتلاء (امتحان) دپاره پیدا دے۔

او د امتحان قانون دا وی چه یو تن ته به اول سبق ووئیلے شی، بیا به ترے امتحان اخلی، نو دغه شان الله تعالیٰ فرمائی چه ما انسان ته غوږ او سترګے او عقل ورکړو، کتاب مے ورته راولیږلو، سبق ورته وویل شو اُوس مے په امتحان کښ واچولو، نو دے به کوشش کوی چه په امتحان کښ کامیاب شی، او د هغے یوه ښه نتیجه راوځی، او ددے امتحان دپاره چه تیارے کوی، نو پدے کښ به د غلطو خلقو سره نهٔ ملګرے کیږی ځکه هغوی ئے د کار نه ورانوی، او د مقصد نه ئے اړوی نو بیا به امتحان کښ ناکامیږی،

بل په امتحان کښ دا خبره وی چه یا به انسان کامیابیږی یا به ناکامیږی، که ناکام شی نو د سکول او مدرسے د کلاس نه به شړلے کیږی، او که کامیاب شی نو د هغهٔ دپاره انعامات وی۔ نو دنیا هم الله تعالیٰ د امتحان ځای مقرر کړیدے، او په آخرت کښ به ددے امتحان نتیجه وځی، که څوك کامیاب وو نو د هغهٔ نعمتونه واوره، او که دے امتحان کښ ناکام شو نو بیا به ددهٔ تړل وی،

بیا دَ دنیا د امتحان په شان د الله تعالیٰ امتحان نهٔ دے، ځکه چه که دلته ناکام شوے نو دومره غټه خبره نهٔ ده، که یوه مدرسه یا سکول کښ داخله نهٔ ملاویږی بلے ته به لاړ شی، او هرچه د آخرت ناکامی ده، نو هلته ئے الله تعالیٰ تړی او اُور ته ئے غورزوی، سزا ورسره ده۔ ددے وجه نه دلته به د جنت او د جهنم تذکره وی، د جنت زیاته او د جهنم لږه۔

بیا اوقات د امتحان ذکر کوی، یعنی ددے امتحان دپاره به کوم اوقاتو کښ تیارے

کوی؟ نو هغه ذکر کوی چه دا تیاری به د شپی کوی، سهار کښې به ئې کوی، او دا دنیا به لوی شے نۀ گنړی، دا دِی د مقصد نه وران نکړی۔ ټول سورت پدې طرز روان دے۔

هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ﴿١﴾
یقیناً راغلے دے په انسان باندے یو وخت د زمانے چه نۀ وو هیڅ شے یاد کړے شوے۔
إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيْهِ
یقیناً پیدا کړیدے مونږ انسان د نطفے گډے وډے نه، ازمیښت کوو مونږ په دۀ باندے
فَجَعَلْنَاهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿٢﴾
نو کړځولے دے مونږ دۀ لره آوریدونکے، لیدونکے۔

تفسیر : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د انسان ابتدائی حالت ذکر کړیدے، او هغۀ ته ئې ددۀ کمزوری او سپك والے وریاد کړے دے، چه ددۀ پلار (آدم ؑ) څلویښتو کالو پورے د خاورے یوه جوړه مجسمه پرته وه۔ د یو بل قول مطابق یو سلو شلو کالو پورے د خاورے، خټے او د تیکرکی مراحلو نه تیر شو، بیا الله تعالیٰ په دۀ کښې روح اوپو کلو۔ په دے پوره موده کښې هغه د خاورے یو کالبوت وو، الله نه سوئ هیچا ته معلومه نۀ وه چه ددے کالبوت نه به څۀ جوړیږی، او ددۀ به څۀ نوم وی۔ بیا الله تعالیٰ په دۀ کښې روح اوپو کلو او دۀ نه ئې انسان جوړ کړو۔

نو دے کښې دوه فائدے دی، یو دا چه انسان الله تعالیٰ ضائع نۀ دے جوړ کړے بلکه دے ئې امتحان له پیدا کړیدے۔ دویم دا چه هرکله الله تعالیٰ ددے انسان په ابتدائی پیدائش باندے قادر وو، نو په دوباره ژوندی کولو باندے به خامخا قادر وی۔

هَلْ: دا استفهام تقریری دے په معنیٰ د قَدْ سره دے، ځکه چه هر عقلمند انسان ددے ابتدائی حال اقرار کوی۔ نو دۀ له د دوباره ژوندون اقرار هم پکاردے۔

او په ابتداء کښې ددے لفظ راوړو کښې اشاره ده د انسان متوجه کولو ته۔

الْإِنْسَانِ: ددے انسان نه مراد یا جنس انسان دے لکه روستو (إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ) کښې هم راغلے دے۔ یا ددے نه مراد آدم ؑ دے چه هغه په جنت کښې وو او هیڅ تذکره ئې نۀ وه۔

حِیْنٌ: دا د زمانے هغه حصے ته وائی چه اُوږده وی او مجدوده او معینه نۀ وی۔

او دلته بعض علماؤ ددې تعیین په څلویښتو کالو کړیدې،
او بعض وائی چه ددهٔ په ختمه باندې څلویښت کاله تیر شو، بیا چه د هغې نه حمأ مسنون جوړ شو څلویښت کاله تیر شو، بیا چه تیکرکې جوړ شو څلویښت تیر شو نو ددهٔ پیدائش په (۱۲۰) کالو کښې پوره شو، او روح پکښې وا چولې شو۔
غوره دا ده چه دلته ئې څه خاص اندازه نهٔ ده معلومه۔
لَمْ یَکُن شَیْئاً مَّذْکُوراً: یعنی ددهٔ هیڅ تذکره نهٔ کیده، زمونږ سل کاله مخکښې هیڅ نوم او نشان هم نهٔ وو، بیا الله تعالیٰ راپیدا کړو نو دغه شان به مو دوباره وفات کوی، او بیا به مو ځان ته ودروی۔ پدې کښې الله تعالیٰ د انسان دا ذهن سازی کوی چه ستا خالق شته چه هغه الله تعالیٰ دې، او تهٔ ئې بیکاره بې فائدې نهٔ ئې پیدا کړې، بلکه روستو وائی :
إِنَّا خَلَقْنَا: الله تعالیٰ بیا د آدم علیه السلام اولاد د ګنده او سپکو اوبو د یوې مخلوطې قطرې نه پیدا کړو۔
د (امشاج) نه مراد هغه مخلوط او ګډه وډه شوې منی ده چه د نارینه او زنانه دواړو د منِی نه جوړیږی۔ د سړی مَنِی سپینه او ټینګه وی، او د ښځې مَنِی زیړه او نرئ وی، د دواړو د ګډیدو نه انسان پیدا کیږی۔ نو دا د مختلفو اخلاطو او طبائعو نه جوړه کړې شویده۔
بعض وائی : د ماشوم پلې او هډوکی د سړی د نطفې نه، او غوښه او وینه او ویښته د زنانه د نطفې نه پیدا کیږی۔
أَمْشَاجٍ: جمع د مَشَج ده، یا د مَشِیْج ده لکه شَرِیْفٌ او اَشْرَاف۔ اخلاطو (ګډوډ څیزونو) ته وئیلې شی۔ **سوال** دا دې چه امشاج صفت د نطفې دې، او نطفه خو مفرد دې نو جمع ئې څنګه صفت واقع شو؟
جواب : نطفه په معنیٰ کښې جمع ده، نو صفت ئې په جمع سره جائز دې۔
دویم جواب : د بعضو په نیز امشاج مفرد دې لکه د بُرْمَةٌ اَعْشَارٌ (او اَرْضٌ سَبَاسِبُ) په شان۔ (قاله الزمخشری)
نَّبْتَلِیْهِ: دا پدې سورت کښې مقصودی جمله ده۔
(۱) یعنی انسان مونږ دې دپاره پیدا کړو چه دې په امتحان کښې وا چوو، او دا امتحان

پرې ولے کوی؟ ځکه چه په امتحان کښې د الله تعالیٰ بندګی بنه کیږی۔

یعنی الله تعالیٰ انسان د احکامو او شریعتونو پابند جوړ کړو دے دپاره چه په دهٔ امتحان اوکړی او اُوګوری چه دا د خپل رب فرمانبردار او خبره منونکے بنده جوړیږی، یا نافرمانی کوی، او هغهٔ له ئے د آوریدو او لیدو طاقت ورکړو، او عقل ئے ورکړو دے دپاره چه دا د خیر او شر او هدایت او ګمراهئ ترمینځه تمییز وکړی، او د هدایت په لاره باندے تلو سره یا خو د الله تعالیٰ شکر کونکے بنده جوړ شی، یا د هغهٔ نه مخ واړوی او ناشکری اوکړی، او د هلاکت او بربادئ په لاره روان شی۔

(۲) یا نَّبْتَلِیْهِ کښې ضمیر نطفے ته راجع دے، او ابتلاء په معنیٰ اړه ولو راړه ولو ده۔ یعنی مونږ دا نطفه په مختلفو اطوارو او حالاتو کښې اړه و راړه وو۔ اول قول غوره دے، د مضمون سره زیات مناسب دے۔

سَمِیْعاً بَصِیْرًا: دا آلات د علم ورله ځکه ورکوی چه د امتحان لائق شی۔ ځکه چه دا نهٔ وی بیا په هغهٔ باندے امتحان نهٔ کیږی۔ او دلته ئے ابتلاء مخکښې ذکر کړه اګرکه د سمع او بصر ورکولو نه روستو ده ځکه چه هغه مقصد دے او اَهمه ده۔

إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيْلَ إِمَّا شَاكِرًا وَّإِمَّا كَفُوْرًا ﴿۳﴾ إِنَّا
یقیناً مونږ خودلے ده دهٔ ته لاره یا به شکر کونکے وی او یا به ناشکره وی۔ یقیناً مونږ
أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِيْنَ سَلَاسِلَ وَأَغْلَالًا وَّسَعِيْرًا ﴿۴﴾
تیار کړیدی کافرانو لره زنځیرونه او طوقونه او اُور بل کړے شوے۔

تفسیر: إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيْلَ: دا هدایت انسان ته په درے طریقو شویدے:

(۱) بِالْفِطْرَةِ۔ یعنی روغ فطرت مے ورکړیدے۔

(۲) بِالْعَقْلِ۔ په عقل سره ئے ورته خودنه کړیده۔ د چا چه عقل نهٔ وی هغه مکلف نهٔ وی۔ (۳) بِإِرْسَالِ الرُّسُلِ وَإِنْزَالِ الْكُتُبِ۔ د رسولانو په رالیږلو او د کتابونو په نازلولو سره دهٔ ته نیغه لاره وخودلے شوه نو اُوس مکلف شو۔ که دا پکښې نهٔ وی هم پوره مکلف نهٔ دے۔ او په دے درے واړو طریقو سره هدایت تقریباً هر انسان ته شویدے۔ نو حجت په دوی قائم دے۔ ګویا که دوی ته سبق وئیلے شویدے۔

السَّبِیۡلَ: ددے نه مراد صرف د حق او هدایت او د خیر لاره ده۔
❁ یا د خیر او د شر دواړو لاره مراد ده، لکه په سورة بلد (۱۰) آیت کښې دی: ﴿ وَهَدَیۡنٰهُ النَّجۡدَیۡنِ ﴾۔
مجاهدؒ وائی: بَیَّنَّا السَّبِیۡلَ اِلَی الشَّقَاوَةِ وَاِلَی السَّعَادَةِ۔ یعنی موږ خودلے ده لاره بد بختئ او نیك بختئ طرفته۔
اِمَّا شَاكِراً: دا په امتحان کښې کامیابی ده۔ چه د الله تعالیٰ صحیح بندګی کونکے شکر ګذار به وی۔
وَاِمَّا کَفُوراً: یا به د هغهٔ د نعمتونو ناشکره وی، او د هغهٔ د ذات او د حقوقو نه به منکر وی۔
بیا چونکه شاکرین لږ دی او کفر کونکی ډیر دی نو ددے وجه نه ئے شاکر په صیغه د اسم فاعل او کفور ئے په صیغه د مبالغے سره ذکر کړو۔
اِمَّا شَاكِراً: دا یا حال دے د ضمیر د (هَدَیۡنَاهُ) نه۔ یا دلته کَانَ پټ دے۔ اَیۡ اِمَّا کَانَ شَاکِرًا اَوۡ کَفُوۡرًا۔ یا به شکر ګذار وی یا به ناشکره وی۔
مطلب دا شو چه څوك به په امتحان کښې ناکام وی او څوك به کامیاب وی۔
اِنَّا اَعۡتَدۡنَا لِلۡکَافِرِیۡنَ: اُوس وائی چه څوك په امتحان کښې ناکام شو نو د هغهٔ یواځے د کلاس نه شړل نهٔ دی بلکه د هغهٔ تړل او جهنم ته غورزول دی نو دا سخت امتحان دے۔
نو دلته الله تعالیٰ د هغه عذاب خبر ورکړے کوم چه هغهٔ کافرانو لپاره تیار کړے۔
فرمائی: موږ کافرانو لپاره زنځیرونه، بیړئ او لمبے وهونکے اُور تیار کړے۔
سَلَاسِلَا وَاَغۡلَالًا وَسَعِیۡراً: سَلَاسِلَ فِی الۡاَرۡجُلِ وَاَغۡلَالًا فِی الۡاَعۡنَاقِ وَسَعِیۡرًا فِی الۡبَدَنِ۔
یعنی په خپو کښې بیړئ او په څټونو کښې طوقونه او په بدن کښې لمبه وهونکے اُور۔
د سورة المؤمن په (۷۲/۷۱) آیتونو کښې الله فرمایلی دی:
﴿ اِذِ الۡاَغۡلَالُ فِیۡ اَعۡنَاقِهِمۡ وَالسَّلَاسِلُ یُسۡحَبُوۡنَ فِی الۡحَمِیۡمِ ثُمَّ فِی النَّارِ یُسۡجَرُوۡنَ ﴾
(کله چه د دوئ په څټونو کښې طوقونه وی، او زنځیرونه وی، راښکلے کیږی به په جوشیدلو اوبو کښې، بیا به د جهنم په اور کښې سوزولے کیږی)۔

إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُوْنَ مِنْ كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ﴿٥﴾ عَيْنًا
يقيناً نيكان خلق به څكى د كاسو ډكو نه چه وى به ګډون د هغے كافور۔ يوه چينه
يَّشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٦﴾
ده چه څكل به كوى د هغے نه بندګان د الله دوى به روانوى هغے لره په روانولو سره۔
يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ﴿٧﴾
دوى پوره كوى منختے او يره كوى د هغه ورځے نه چه شر د هغے خور وور دے۔
وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّأَسِيْرًا ﴿٨﴾
او وركوى دوى خوراك لره په محبت د هغهٔ سره مسكين ته او يتيم ته او قيدى ته۔
إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ
(ورته وائى) يقيناً مونږ خوراك دركوو تاسو ته دپاره د مخ د الله، نهٔ غواړو ستاسو نه
جَزَاءً وَّلَا شُكُوْرًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ﴿١٠﴾
بدله او نهٔ شكر۔ يقيناً مونږ يريږو د رب زمونږ نه د ورځے سختے نه ډيرے سختے نه۔
فَوَقَاهُمُ اللهُ شَرَّ
(د ورځے تندے تريوونكے ډيرے سختے نه)۔ نو بچ كړل دوى لره الله تعالىٰ د شر
ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴿١١﴾ وَجَزَاهُمْ
د دغه ورځے نه او ورئے كړه دوى ته تازګى او خوشحالى۔ او بدله ئے وركړه دوى ته
بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴿١٢﴾
په دے وجه چه دوى صبر اُوكړو جنت او وريښم۔

تفسير: اُوس د كاميابو خلقو دپاره ښكلے نعمتونه او مزيدار ژوند بيانيږى، او د زيات ترغيب دپاره ددے زيات تفصيل كوى۔

فرمائى چه د نيك عمله مومنانو دپاره مونږ داسے نعمتونه تيار كړيدى چه داسے خلق

بـه نهایت مزیدار شراب څښکی چه په هغې کښې به کافور ملاؤ شوے وی، دے دپاره چه هغه یخ کړی او د هغې تیزی ختمه کړی. او دا کافور به انتهائی خوندور وی، او د دنیوی کافورو د خرابیانو نه به پاك وی.

اَلْأَبْرَارَ: جمع د بَرٌّ ده. دا هغه خلق دی چه هر وخت په نیکئ کښې مصروف وی. د الله حقوق هم ادا کوی او د مخلوق سره هم احسان کوی. او دا هغه خلق دی چه هیچا ته ضرر نهٔ رسوی.

او څوك چه همیشه په نیکئ کښې ځان مصروف کوی، نو دا دلیل دے چه دا انسان به الله تعالیٰ په امتحان کښې کامیابوی او ښه نتیجه به ورکوی.

مِن كَأْسٍ: دا هغه لوخی ته وائی چه مشروب پکښې موجود وی، خالی ته کأس نهٔ وئیلے کیږی بلکه هغې ته اِنَاءٌ وائی. او دا برابره ده که د شیشے نه وی یا د سرو او سپینو وغیره نه وی. او د عربو کأسے هم د مختلفو اجناسو نه وے. او عرب کله نا کله کأس عین شرابو ته هم وائی.

مِزَاجُهَا: د دنیا والو عادت دا دے چه د مشروباتو سره بل څیز گډه وی دپاره د زیاتے فائدے او مزے حاصلولو نو دغه شان به جنت کښې هم کیږی.

كَافُوراً: دا په برودت (یخوالی) او خوشبوئی کښې مشهور دی، لیکن دا د دنیا کافور نهٔ دی ځکه چه په هغې کښې بعض ضررونه هم شته، نو دلته تشبیه د کافور سره په صورت او شکل او نوم کښې ده، او حقیقت ئے روستو آیت کښې ذکر دے.

عَيْناً: دا بدل دے د كَافُوراً نه. یعنی د کافور چینے د اُوبو ګډون به د دغه شرابو سره شوے وی، نو د هغې خوشبوئی او د هغې خوند به ئے نور هم مزیدار کړے وی.

يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ: (یعنی څکل به کوی د هغې نه بندګان د الله تعالیٰ) باء کښې معنیٰ د زیادت ده، یعنی په کامله طریقه به ترے څکل کوی. او دوی له به مړخ راولی، که صرف يَشْرَبُهَا ووائی نو دا به صرف څکل وی، اخوا مړه ول راولی او که نهٔ، او کله چه ورسره باء یو ځای شی نو بیا پکښې معنیٰ د کمال پرته وی.

عِبَادُ: کله چه په قرآن کریم کښې د عبد یا عباد اضافت د الله تعالیٰ یو نوم ته وشی نو مراد ترینه هغه خلق دی چه د الله تعالیٰ بندګی ئے کړی وی، او د هر قسم شرك نه ئے ځان بچ ساتلے وی، او دغه مؤمنان دی. او کله چه اضافت ضمیر ته وی، نو کله موحدین

مراد وی لکه اِنَّ عِبَادِیْ لَیْسَ لَكَ عَلَیْهِمْ سُلْطَانٌ، او کله عام مراد وی لکه ﴿وَلَا یَرْضٰی لِعِبَادِهِ الْکُفْرَ﴾۔ (احسن الکلام)

یُفَجِّرُونَهَا تَفْجِیْراً: یعنی د هغې روانول او چلول به د دوئ په خوښه وی، که دوی ئې په کوم ځای روانول غواړی، نو د دوی تابع به وی، او دوی به ئې خپلو لاندې جنتیانو ته روانوی۔ او داسې به نهٔ وی چه یو ژور ځای کښې وی، او د هغې نه اُوبه راوړل سخت وی بلکه دوی به ئې خپلو کورونو ته، او کوم ځای چه غواړی هلته روانوی۔

او پدې کښې اشاره ده چه دا چینه به نهٔ ختمیږی او نهٔ به کمیږی بلکه د دوئ د خوښې مطابق به روانه وی۔

یُوفُونَ بِالنَّذْرِ: اُوس د دغه ابرارو نور صفتونه راوړی چه د هغې په وجه ددې نعمتونو مستحق ګرزیدلی دی۔

بِالنَّذْرِ: د نذر نه مراد هغه نیك عملونه دی چه په خپل ځان باندې ئې واجب کول، نو هغه به ئې خامخا پوره کول، او دا دلیل دې ددې خبرې چه دوئ به د الله له خوا واجب کړی نیك عملونه په طریقه اولیٰ سره پوره کول۔

شرعی نذر دې ته وائی چه یو تن الله تعالیٰ ته د ځان نزدې کولو دپاره په ځان باندې د الله د طاعاتو نه یو شے لازم کړی که هغهٔ دهٔ نهٔ وې لازم کړې نو په دهٔ باندې نهٔ واجبیدو۔ لکه مثلًا نفلی مونځ، نفلی روژه، یا د مال نذر او منښته وکړی۔

او پدې آیت کښې د نذر نه عامه معنیٰ مراده ده، یعنی هر هغه شے چه د هغې وفا په بنده باندې واجب وی، لکه عقود، عهود، مونځ، زکاة، روژه، حج، عمره وغیره۔

وَیَخَافُونَ: یعنی دوی د هغې ورځې د عذاب نه یریږی چه د هغې شر به زمکه او آسمان ډکوی، او د همدې ویرې نتیجه وه چه دوئ د هر هغه بد عمل نه ډډه کوله چه هغه د قیامت په ورځ د عذاب سبب جوړیدلو۔

شَرُّهُ: ددې شر نه مراد هغه سختیانې دی چه د قیامت په ورځ به واقع کیږی، لکه آسمانونه چودل، ستوری دوړیدل، او زمکه باندې زلزله راتلل، او غرونه روانیدل وغیره۔

مُسْتَطِیْراً: یعنی اُوږد، او خور وور تول عالَم ته۔

وَیُطْعِمُونَ الطَّعَامَ: او دوئ به مسکین، یتیم او قیدی له خوراك ورکولو، سره ددې چه

دوئ سره به خوراکه کمه وه۔
او طعام عام دے لرِ وی او که ډیر، خوراکه وی او که نور مالونه وغیره وی۔
عَلٰى حُبِّهٖ: (١) (ہُ) ضمیر طعام ته راجع دے، یعنی طعام سره ئے محبت شته، خپله ورته محتاج دے، طعام ئے کم دے، او بیا هم قربانی کوی او مسکین او کمزورو ته ئے ورکوی۔ (فُضَیل بن عیاضؒ)
یا مطلب دا چه د مرگ نه مخکښ ئے ورکوی ځکه چه د مرگ په وخت کښ د طعام سره محبت ختم شی۔
(٢) یا ضمیر الله ته راجع دے۔ یعنی د الله په محبت طعام ورکوی۔ ځکه چه په صدقے کولو سره د الله تعالیٰ محبت او په زړه کښ د هغهٔ سره یو ناشنا تعلق پیدا کیږی۔ یعنی دوئ باندے باعث د الله تعالیٰ محبت وو چه هغه ورته حاصل شی۔
(٣) یا ضمیر روستو مسکین ته راجع دے۔ یعنی دوی چه کوم طعام ورکوی نو پدے کښ د مسکین سره مینه لری، او د هغوی سپکاوے او تذلیل نهٔ کوی، یعنی په ډیره عاجزئ هغوی ته ورکړه کوی۔ اولنی احتمالونه ډیر ظاهر دی۔ او د روستو (لِوَجۡهِ اللهِ) سره زیات مناسب دی۔
مِسۡکِیۡناً: دے نه مراد هر غریب دے، فقیر ته هم شامل دے،
وَاَسِیۡراً: قیدی اگرکه کافر وی او وینزه، مرئے، ښځه دے ټولو ته شامل دے۔
او ددے درے واړو تخصیص او ترتیب پدے وجه سره دے چه دا ټول د کارو کسب نه عاجز دی۔
ابن عباس ﷺ وائی : د اسیر نه مراد مشرك دے، نو دا دلیل دے چه نفلی صدقه انسان مشرك ته هم ورکولے شی، فرضی صدقه به نهٔ ورکوی۔
إِنَّمَا نُطۡعِمُکُمۡ لِوَجۡهِ اللهِ: دا بل صفت دے په تقدیر د یَقُوۡلُوۡنَ سره دے، او دا وینا په لسان قال یا په لسان حال سره ده۔ یعنی یا که مناسب وی نو هغوی ته مخامخ داسے وائی، او په عامو حالاتو کښ په زړهٔ کښ همدا اراده لری چه موږ دا خوراك د الله تعالیٰ د مخ د خاطره ورکوو، د دوئ نه څه بدله اخستل مو اراده نهٔ ده۔
لَا نُرِیۡدُ مِنۡکُمۡ جَزَاءً: خلق چه صدقے کوی، د هغے دوه مقصده وی، یو دا چه دا شخص به راله صبا څه کار وکړی، دویم دا چه صفت به راله وکړی چه فلانے داسے ښه

سړي او سخي سړي دي، په خلقو کښې به زما نوم وشي. او دا دواړه څيزونه صدقے باطلوي، نو دا مؤمنان نۀ په صدقے سره د چا نه بدله او خدمتونه غواړي، او نۀ ددۀ صفت کول.

وَلَا شُكُوراً: شكور په معنىٰ د شكر او صفت كولو سره. يعنى مونږ دا صدقه تاسو ته صرف او صرف د الله تعالىٰ د مخ او د رضا دپاره دركوو.

او پدې کښې اشاره ده چه مؤمن به په خپلے صدقے سره دا دواړه ارادے نۀ لري.

إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا: يعنى دغه جنتيانو به په دنيا کښې دا هم وئيل چه مونږ د خپل رب له اړخه د هغۀ ورځے نه يريږو چه هغه د خپلو خطرناکيو په سبب ډيره سخته او ناقابلِ برداشت وي.

يَوْماً: اَیْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّتَّصِفٍ بِهَاتَيْنِ الصِّفَتَيْنِ. يعنى مونږ يريږو د عذاب د هغه ورځے نه چه دغه دوه صفتونه لري.

عَبُوساً: داسے ورځ چه تندے تريوونکے ده د وجه د سخت والي او هيبت ددے نه.

قَمْطَرِيراً: اَیْ صَعْبًا شَدِيْدًا. (ډيره سخته).

اخفش وائي : په ورځو کښې لويه ورځ او په مصيبت او تکليف کښې اُوږده. (يعنى اُوږد مصيبت والا).

مجاهدؒ وائي : عبوس دا ده چه شونډے راګونجے کړي، او قمطرير دا چه تندے او مخ او ورزے راګونجے کړي. يعنى داسے سخت حالات به پکښې وينى چه مخ او شکل به ئے بدل شي.

ابن عباس ؓ وائي : عَبُوْسًا: ضَيِّقًا قَمْطَرِيْرًا : طَوِيْلًا . عبوس معنىٰ ده تنګه او قمطريرًا اُوږده.

فَوَقَاهُمُ اللهُ: يعنى الله تعالىٰ به د پورتنو نيکيو په سبب دوئ د دغه ورځے د عذاب نه بچ کړي، او ملائك به رامخے ته شي، او دوئ ته به وائي چه همدا هغه ورځ ده چه ددے وعده تاسو سره په دنيا کښې کيدلے شوه. الله تعالىٰ به د دوئ انتهائي عزت کوي، د دوئ مخونو له به تازګي او د دوئ زړونو له به خوشحالي ورکوي، يعنى په دوئ باندےبه په تمام ظاهري او باطني نعمتونو سره پيرزو کوي.

وَلَقَّاهُمْ : تلقى دے ته وائي چه يو تن د يو شي مخے ته ورشي. يعنى الله تعالىٰ دا

خوشحالیانے او نعمتونه د دوئ مخے ته وروستل۔ یعني دوئ ته به د هغے په حاصلولو کښې هیڅ تکلیف نهٔ وو۔
نَضْرَةً: اَیْ فِی الْوُجُوْهِ۔ په مخونو کښې به ئے تازه گی وی۔ دا ظاهری نعمت دے۔
وَسُرُوراً : اَیْ فِی الْقُلُوْبِ۔ په زړونو کښې به ئے خوشحالي وی۔ دا باطني نعمت دے۔
وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا: یعني چونکه دوئ په صبر او استقلال سره د الله تعالیٰ بندگی کوله، د گناهونو نه به ئے پرهیز کولو، الله طرفته به ئے د دعوت ورکولو کار کولو، او ددے لارے تکلیفونه به ئے برداشت کول، دے وجے نه الله تعالیٰ به دوئ له جنت ورکوی، او د اغوستلو دپاره به ورله د ریښمو جامے ورکوی، چه دوئ په دنیا کښې د الله تعالیٰ د حکم منلو د وجے نه دا نهٔ وے اغوستے، ځکه چه په دنیا کښې د سړو دپاره د وریښمو اغوستل حرام دی۔
جَنَّةً: ددے نه مراد د خوراکونو او څکاکونو باغ دے، او دا سویٰ دے د لوی جنت نه، ددے وجه نه دا نهٔ وئیلے کیږی چه جنت نه روستو حریر ذکر کولو ته ضرورت نشته، ځکه چه جنت کښې خو به خامخا وریښم وی۔

مُتَّكِئِيْنَ فِيْهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا
تکیه وهونکی به وی په هغے کښې په پالنگونو باندے، نهٔ به وینی په هغے کښې
شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ
گرمی او نهٔ یخنی۔ او نزدے به وی په دوی باندے سوری د هغے او تابع کړے شویدی
قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ
میوے (غونچکونه) د هغے په تابع کولو۔ او گرځولے به شی په هغوی باندے لوښی
مِّن فِضَّةٍ وَّأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيْرَا ﴿١٥﴾ قَوَارِيْرَ مِنْ فِضَّةٍ
د سپینو زرو او گلاسونه چه وی به شیشه۔ شیشه د سپینو زرونه
قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾ وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا
اندازه کړی به ئے وی هغه په خاص انداز۔ او څکولے به شی په دوی باندے په هغے کښې

كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا ﴿۱۷﴾ عَيْنًا فِيهَا
ډكه پياله چه وى به ګډون د هغے زنجبيل (ادرك). چينه ده په هغے كښې
تُسَمّٰى سَلْسَبِيلًا ﴿۱۸﴾ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ
نوم ورته وئيلے شى سلسبيل. او ګرځى به په دوى باندے هلكان هميشه به وى
إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنْثُورًا ﴿۱۹﴾ وَإِذَا
كله چه ته ووينے دوى لره ګمان به كوے په دوى ملغلرے خورے ورے. او كله چه
رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَّمُلْكًا كَبِيرًا ﴿۲۰﴾ عَالِيَهُمْ ثِيَابُ
ته اُووينے هغه ځائے وبه وينے نعمتونه او بادشاهى لويه. بره طرف د دوى به جامے وى
سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا
د نرو وريښمو شنو نه او غټ وريښم (به لاندے وى) او اچولے كيږى به دوى ته
أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ﴿۲۱﴾ إِنَّ
بنګړى د سپينو زرو، او څكوى به دوى ته رب د دوى د څكلو څيز پاكونكے. يقيناً
هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ﴿۲۲﴾
دا ستاسو دپاره بدله وه، او دے كوشش ستاسو قبول كړے شوے.

تفسير : مُتَّكِئِينَ: دا حال دے د جَزَاهُمْ د ضمير نه. يعنى دا جنتيان به په دے جنتونو كښې په پالنګونو باندے تكيه لګونكى انتهائى راحت او اطمينان سره ناست وى، هلته به نۀ دوئ د نمر ګرمى وينى، او نۀ سخته يخنى، بلكه هر وخت به د دوئ په سرونو باندے ګڼړ راحت رسوونكے سورے وى.

عَلَى الْأَرَائِكِ : دا جمع د اَرِيْكَةٌ ده، د ناوے كټ او پالنګ، اشاره ده چه ښځے به هم ورسره وي، تش تخت او كټ ته اريكه نۀ وئيلے كيږى.

شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيرًا : نمر سره ګرمى راځى، او زمهرير سره يخنى، نو هلته به نۀ ګرمى او نۀ يخنى بلكه تر مزيدار موسم به وى.

دارنـګه زمهرير په لغت د عربو کښې سپوږمۍ ته هم وائي، نو مراد ترې نه ورځ او شپه راتـلل دي چه دا به پکښې نهٔ وي. يعنې يوه رڼړا به په کښې هميشه وي، او شپه به پکښې نهٔ راځي. او دا به د الله تعالىٰ رڼړا وي.

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ: دا معطوف دے په مُتَّكِئِيْنَ باندے يا په محل د لَايَرَوْنَ باندے.

يعنې د دغه ځائے وُنے به هر وخت په هغوئ باندے سورے را خور کړے وي.

ظِلَالُهَا: پـه جنت کښې سورے د نمر د وجه نه نهٔ دے بلکه داسے سورے چه په دنيا کښې د صبا ختلو نه روستو د نمر ختاه پورے وي.

ظلالها کښې ضمير ونو ته راجع دے.

وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا: او د هغے ميوے بـه هر وخت او هر حال کښې د دوئ په قبضه کښې وي، هيـڅ يـو شے بـه د دوئ لاسونه هغے ته د رسيدو نه نهٔ منع کوي. په دنيا کښې بعض ميوے د ونو په سرونو کښې وي چه انسان هغے ته رسيدل نشي کولے، مرغانٔے وخوري، يا ضائع شي، او د جنـتِ د ونو ميوے به تابع کړے شوي وي چه هر ولاړ، ناست، تکيه وهونکے به ئے راشو کولے شي.

قُطُوفُ: جمع د قِطف ده د ميوو غونچکونه. يا هغه ميوه چه په ونه کښې پخه شي او بيا د خوراك دپاره راتولولے شي.

وَيُطَافُ عَلَيْهِم: اُوس د خوراك څکاك حالات ذکر کوي.

يـطاف ئے مـجهـولـه راوړه اشاره ده چه خادمان به ډير قسمونه وي، غِلمان، وِلْدَان، او حورے وغيره.

بِآنِيَةٍ: جمعه د اِنَاءٌ ده او د آنية جمع اَوَانِیُ راځي.

مِّن فِضَّةٍ: دلتـه الله تـعالىٰ يو طرف ذکر کړيدے، او بل طرف ورسره مراد دے چه بعض لوښي به د سپينو او بعض به د سرو نه وي.

او بـعـض عـلماء وائي چه يو جنت هغه دے چه د هغے هر څه به د سپينو زرو نه وي، او بل جنت هغه دے چه په هغے کښې به ټول لوخي د سرو زرو نه وي.

وَأَكْوَابٍ: جمع د كُوبٌ ده، د څـکـلو هغه لوښے چه د هغے کړئ او مکوخه نهٔ وي، نو دا ګلاسونو، پيالو وغيره ته شامليږي.

كَانَتْ قَوَارِيرًا: يعنې په صفائي او شفافيت کښې به د شيشے په شان وي.

قَوَارِيْرَ مِن فِضَّةٍ : دلته عجيب کار شويدے چه په شيشه کښ زر ماتيدل وى نو الله فرمائى چه دا به د سپينو نه جوړے وى نو زر به نهٔ ماتيږى۔
دارنګه په شيشه کښ شفافيت وى چه هر څه ترے اخوا ښکاره کيږى او په سپينو زرو کښ داسے شفافيت نهٔ وى نو د الله په قدرت سره پکښ دوه متضاد صفتونه راجمع شويدى۔ نو دا به د سپينو زرو په شان سپين وى، او د شيشے په شان به شفاف وى چه هر څه به ترے اخوا ښکاره کيږى۔
قَدَّرُوهَا تَقْدِيراً: ضمير جنتيانو ته، يا د جنت خادمانو ته راجع دے۔ يعنى خادمانو به دغه لوښى په داسے اندازے سره ډك كړى وى چه نهٔ به زياتى كيږى او نهٔ به كميږى، او نهٔ به هغه لوښى ډير درانهٔ وى او نهٔ به ډير سپك وى، بلكه د دوئ د موړ والى په اندازه به وى، او داسے لوښى ډير خوند كوى۔
كه لوښے ډير غټ وى نو د انسان نه هغه خوراك پاتے شى، ضائع شى او واوړى، او كه وړوكے وى، نو د انسان مرخ نهٔ راولى۔
وَيُسْقَوْنَ: اُوس د څكاك سامان ذكر كوى۔ يعنى په جنتيانو باندے به په جنت كښ داسے شراب څښكولے كيږى چه په هغے كښ به د كافورو ګډون وى۔
د عربو خلقو به د زنجبيل د خوشبوئے نه د خوند حاصلولو دپاره دا په شرابو كښ ګډ څښكل خوښول، او په زنجبيل كښ ملاؤ شوى دا شراب به په جنت كښ د يوے سلسبيل نومے چينے نه روان وى، چه د هغے شراب به انتهائى مزيدار وى۔
زَنجَبِيلاً: دا په اصل كښ ادرك (سونډ) ته وائى، او دا په جنت كښ يوه چينه ده چه ددے بل نوم سلسبيل هم ده۔ امام بغوىؒ وائى : د جنت شرابو كښ به د كافورو يخ والے او د زنجبيل خوند او د مشكو خوشبوئى وى بغير د ضرر او سيزلو نه۔
تُسَمَّى سَلْسَبِيلاً : ددے بله معنىٰ ده [تُوصَفُ بِالسَّلَاسَةِ وَحُسْنِ الْجَرْيِ] يعنى د هغے صفت كيږى پدے چه ډيره نرمه او ښائسته روانه ده۔
يا دا ماخوذ دے د سلاسة نه، دا هغه مشروب دے چه په مرئ كښ په آسانه سره تيريږى د وجه د خائسته خوند د هغے نه، او د ډير لذت نه او د پوره صفائى د هغے نه۔ او پدے كښ باء زياتى ده۔
او مقاتل بن حيانؒ وائى : دے ته سلسبيل پدے وجه وائى: چه دا به د دوئ په لارو او

کورونو کښې په آسانئ سره بهیږی چه دا به د جنت عدن نه چه د عرش بیخ دے راروانه وی نورو جنتونو ته۔

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ: اُوس د جنت خدمتګاران ذکر کوی۔

د جنتیانو د خدمت لپاره به هر وخت د دوئ نه ګیر چاپیره کم عُمره هلکان د هغوئ د اشارو په انتظار اوسیږی۔ دا هلکان به همیشه دپاره ښائسته شکل والا او تر او تازه اوسیږی، الله تعالیٰ به دوئ په جنت کښې پیدا کوی، نۀ به دوئ بوډاګان کیږی، نۀ به هیڅ کله د دوئ حُسن او جمال بدلیږی۔ کله چه د جنتیانو نظر په دوئ پریوځی نو هغوئ به د بیحده حُسن او ښائست او د مخونو دے انتهاء تر او تازګئ له وجے داسے معلومیږی لکه صفا او شفاف فرش باندے د ملغلرو خورے ورے دانے دی۔

وَيَطُوفُ: د طواف نه مراد هر وخت د خدمت دپاره تلل راتلل او حاضر وسیدل دی۔

وِلْدَانٌ: یعنی هلکان به وی چه د بلوغ نه خکته عمر کښې به وی۔

بعض وائی : دا به الله تعالیٰ په جنت کښې پیدا کړی وی د مؤمنانو د خدمت دپاره، او بعض وائی چه دا د مؤمنانو اولاد دے چه دوی په وړوکوالی کښې وفات شوی وی۔

ابن برحانؒ وائی : دا به د کافرانو اولاد وی چه په وړوکوالی کښې وفات وی، نو دوی لکه څنګه چه الله تعالیٰ د مؤمنانو دپاره په دنیا کښې غلامان او وینزے جوړے کړیدی نو په جنت کښې به د دوئ خدمتګاران وی، او هرچه د مؤمنانو اولاد دی نو هغوی به الله تعالیٰ د خپلو پلارانو سره یو ځای کوی د هغوی د خوشحالولو دپاره۔

مګر مفسر خازنؒ وئیلی دی چه صحیح دا ده چه دا جنت کښې پیدا دی لکه د حورو په شان۔

مُّخَلَّدُونَ : یعنی همیشه به همدغه شان هلکان وی، او تبدیلی او مرضونه او بوډا والے او فناء به وربانده نۀ راځی۔

لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا : دا تشبیه ده په حسن او صفائی کښې، او په ډیر والی او خواره واره کیدو کښې د خدمت دپاره په جنت کښې۔

مفسرین لیکی چه دا هلکان د خورو ورو ملغلرو سره په دے مناسبت سره مشابه شوی دی چه دوئ به دُ جنتیانو د خدمت لپاره هر اړخ ته خوریږی، او په تیزئ سره به د دوئ خدمت کوی۔ په خِلاف د (حُور عین) نه چه د هغوئ تشبیه په سیپو کښې بندو ملغلرو

سره ورکړې شوې ده، ځکه چه هغوئ به خدمت دپاره نهٔ وي، بلکه د جنتیانو د خوند او مزو دپاره به وي. (فتح البیان)

وَإِذَا رَأَيْتَ: دا نبی کریم ﷺ ته او بیا هر مخاطب ته خطاب دے. یعنی چه ته کله په جنت او جنتیانو باندې نظر واچوې نو هلته به بیشماره نعمتونه په دومره فراخه او ارته علاقه کښې خوارۀ شوي اُووینې چه د هغې د فراخیو اندازه به تهٔ اونهٔ لګوې.

هر جنتی دپاره به جدا جدا ښکلی محلونه او بنګلې، سرسبز او تازه باغونه، انتهائي مزیدارې میوې، بهیدونکې نهرونه، چغې وهونکې مرغۍ، او بیحده ښکلې او ښائسته ښځې وي، او د دوئ نه ګیر چاپیره به خوارۀ وارۀ غلامان وي، چه هغوئ به خدمت دپاره د دوئ د اشارې په انتظار وي.

او ددې تمامو نعمتونو نه لوی نعمت به جنتیانو ته دا ملاویږي چه د دوئ رب به د دوئ نه راضي کیږي. دوئ ته به د هغهٔ قرب او نزدیکت حاصلیږي، او دوئ به د جنت نه هیڅ کله نه اُوخکلے کیږي.

وَإِذَا رَأَيْتَ: دا ئې په لنډه طریقه د جنت تفصیلی نعمتونو ته اشاره وکړه. چه هلته داسې لوی نعمتونه او لویه بادشاهي ملاویږي چه د هیڅ انسان په خیال او خاطر کښې هم نهٔ ده تیره شوې.

نَعِيمًا : یعنی نور ډیر شے نعمتونه، چه ددې نعمتونو بیان نهٔ دے شوې صرف الله تعالیٰ ته معلوم دي.

او بعض مفسرینو وئیلی دي چه د ملائکو او د الله تعالیٰ د طرف نه سلامونه په جنتیانو، د هغوی په سرونو باندې ښکلې او مزیدار تاجونه په سر کیخودل، او د الله تعالیٰ دیدار کول، او د جنت په بازارونو کښې سیلونه کول، او د هغوی د باغاتو نه مزې اخستل، او د یو بل ملاقاتونو ته تلل دي.

وَمُلْكًا كَبِيرًا: نه معلومه شوه چه هر جنتی بادشاه دے، او دا په دنیا کښې په لوړه سختئ تیرولو سره حاصلیږي.

عَالِيَهُمْ ثِيَابُ : اُوس د جنتیانو د لباس بیان کیږي. یعنی جنتیان به داسې لباس آغوندی چه هغه به د شنو باریکو ریښمو نه جوړ شوې وي، او څهٔ به د نورو غټو ریښمو نه جوړ شوې وي، او دوئ به د چاندئ بنګړي آغوستي وي.

شوکانيؒ ليکي چه دلته الله تعالىٰ ذکر کړی دی چه جنتيان به د چاندئ بنګړی آغوندی، او د سورۀ فاطر په (۲۳) آيت کښ ئے فرمايلی دی چه دوئ به د سرو زرو بنګړی آغوندی، او د سورۀ الحج په (۲۳) آيت کښ ئے فرمايلی دی چه دوئ به د سرو زرو او ملغلرو بنګړی آغوندی،

نو ددے آيتونو مطلب دادے چه د جنتيانو بنګړی به دريے قِسمه وی، او د خپل خواهش مطابق به ئے اغوندی۔

او جنتيانو بانديے به د دوئ رب يو بل قِسم شراب هم اوڅکوی، چه د هغے نوم به [شرابِ طهور] وی، چه هغه به نۀ د دنيا د شرابو غونته ناپاکه وی، او نۀ به په هغے کښ څۀ قِسم خړوالے او دروند والے وی۔

کله چه جنتيان دا تمام نعمتونه په خپلو سترګو اووينی، او ددے نه خوندونه واخلی، نو دوئ ته به وئيلے کيږی چه دا هر څۀ ستاسو د ايمان او تقوىٰ بدله ده، او ستاسو نيک عملونه الله تعالىٰ نۀ دی برباد کړی۔

عَالِيَهُمْ : دا ضمير جنتيانو ته راجع دے، خادمان وی او که مخدومان۔ اګرکه د لباس په درجاتو کښ د دوئ تفاوت او فرق شته۔

سُنْدُسٍ: نری ريښمو ته وائی، او دا د هغه جامو دپاره استعماليږی چه دپاسه طرف نه وی۔

خُضْرٌ: دا صفت د ثياب دے، يعني شنے جامے به وی د سندس نه۔

وَإِسْتَبْرَقٌ : دا غټو وريښمو ته وئيلے شی، چه په هغے کښ چمك وی ځکه چه د برق نه ماخوذ دے، او دا د جامے په استر کښ استعماليږی۔ لکه چه په سورة رحمن (٥٤) آيت کښ تير شويدی۔

شَرَابًا طَهُورًا: يعنی نجس به نۀ وی په شان د شرابو د دنيا، او د خيرو نه به هم پاك وی او ددے نه به واړه او لوئی بول هم نۀ جوړيږی۔

او دا د کافور او د زنجبيل نه علاوه ناشنا مشروبات دی چه د هغے نه به ئے روستو ورکوی، ددے وجه نه ئے شرابًا نکره ذکر کړيده۔ او نسبت د څکولو ئے الله تعالىٰ طرفته وکړو۔ او په طهوريت بانديے ئے متصف کړل ځکه چه دا شراب به څکونکے کښ ناشنا پاکی پيدا کوی او د الله تعالىٰ د ديدار مستحق به ئے جوړه وی۔ بس صرف د الله د جمال

کتلو ته به وزګار وی، د هغهٔ په ملاقات به خوند اخلی۔

مقاتلؒ وائی: دا د یوے چینے اُوبه دی چه د جنت په دروازه کښې ده څوك چه ددے نه څکل وکړی نو الله به ددهٔ د زړهٔ نه غش او کینه او حسد وباسی۔

ابو قلابهؒ او ابراهیم النخعیؒ فرمائی: جنتیانو ته به طعام راوړے شی کله چه آخر شی نو دوی ته به شراب طهور راوړے شی، دوی به ئے وڅکی نو ددے په وجه به ئے خیټے خوارے شی، او د دوی د بدنونو نه به خولے وبهیږی لکه د مشکو د خوشبوئی په شان۔
(فتح البیان والقرطبی وغیره)

إِنَّ هٰذَا: یعنی دا جنت او ددے نعمتونه ستاسو د عملونو بدله ده۔

مَّشْكُوْرًا: یعنی ستاسو کوشش قبول شوے وو۔ د الله تعالیٰ شکر د بنده د عمل دا دے چه هغه ئے خوښ او قبول کړی۔ نو دا هغه سرټیفیکیټ دے چه انسان ته د الله تعالیٰ د طرفنه د امتحان په کامیابیدو کښې ورکړے شو۔

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنْزِيْلًا ﴿٢٣﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ
یقیناً مونږ نازل کړیدے په تا باندے قرآن په نازلولو سره۔ نو صبر کوه فیصلے د
رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُوْرًا ﴿٢٤﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ
رب خپل ته او خبره مهٔ منه د دوی نه د ګناهګار یا د کفر کونکی۔ او یادوه نوم د رب
بُكْرَةً وَّأَصِيْلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿٢٦﴾
خپل صبا او بیګاه۔ او د شپے نه سجده کوه هغهٔ ته او پاکی بیانوه د هغهٔ شپه اُوږده۔

تفسیر: اُوس وائی چه د امتحان کتاب قرآن کریم دے، نو د قرآن رشتین والے ذکر کوی، او دے ته ترغیب ورکوی۔ بیا ئے آخرت او قرآن جمع کړل۔

او پدے کښې هغه خلق ذکر کوی چه تا په امتحان کښې ناکام کول غواړی نو د هغوی خبره به نهٔ منے، او نهٔ به د هغوی تابعداری کوے۔

مطلب دا دے چه دا قرآن مونږه په تا باندے نازل کړے، دا تا د ځانه نهٔ دے جوړ کړے لکه څنګه چه مشرکان په تا باندے تور لګوی، دے وجے نه ته د خپل رب د پیغمبرئ ذمه داری قبوله کړه، او یے له کوم زیاتی او نقصان نه دا خلقو ته اورسوه، او د قریشو د

مشرکانو نه د ابو جهل او عتبه بن ربیعه غونته گنهگارانو،
او د ولید بن مغیره پشان نافرمانو او ناشکره خلقو خبره مهٔ منه، او خپل دعوت واخله او مخ په وړاندې ځه، او د خپل رب دپاره مونځ کوه، په ذکر او تسبیح کښې مشغوله اوسه، او لاس خوارهٔ کړه او د هغهٔ مخامخ ژړا او زاری کوه، او په شپو کښې پاسیږه او تهجد مونځ کوه، او ډیر وخته پورې د خپل رب پاکی بیانوه۔
تَنزِيلًا : یعنی لږ لږ نازل شوی دے دپاره د تربیت د اُمت، او په دے کښې اشاره ده چه د قیامت حالات په قرآن کریم کښې لږ لږ په جدا جدا سورتونو کښې ذکر کیږی دپاره د عبرت اخستو۔
فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ : یعنی د دین د دشمنانو په مقابله کښې په دین باندې کلك شه او په دے باره کښې چه کوم تکلیفونه راځی نو په هغے صبر کوه۔ او د دین د مخالفینو د تابعداریٔ نه ځان ساته۔
[آثِمًا] (گنهگار) نه مراد عتبه بن ربیعه او د [كَفُورًا] (ناشکره) نه مراد ولید بن مغیره دے۔ ځکه چه دے دواړو نبی کریم ﷺ ته وئیلی وو چه ته خلقو ته د اسلام دعوت ورکول بند کړه، مونږ به تاله مالونه درکړو، او د خپلے ډیرے ښکلے ښځے سره به ستا وادهٔ وکړو۔ نو الله تعالیٰ ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنزِيلًا ﴾ او ددے نه روستنی آیتونه نازل کړل۔
د آثم نه مراد منافق یا عام گناهگار دے۔
أَوْ كَفُورًا : ښکاره کافر او مشرك او هغه چه زړه کښې کفر ساتی، داسے کسان د قرآن کریم نه منع کول کوی، شرك او مداهنت ته بلنه کوی، نو د دویٔ خبره به نهٔ منے۔
(اَوْ) ئے ولے ذکر کړو سره ددے نه چه د گناهگار او کافر دواړو خبره منل حرام دی؟
نو ددے جواب دا دے چه د هر یو تابعداری جدا جدا حرامه ده، او که واوئے وئیلے وے، نو دا وهم راتللو چه د دواړو په یو ځای اطاعت حرام دے، او جدا جدا اطاعت جائز دے۔
او فراءٓ وئیلی دی چه (اَوْ) دلته په معنیٰ د (لَا) سره دے۔ یعنی مهٔ د آثم خبره منه او نهٔ د کفور۔
وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ : دا د امتحان دپاره تیاری ده۔ یعنی د الله تعالیٰ په ذکر اذکار کښې صبا او بیگاه مشغوله شه۔
بُكْرَةً وَأَصِيلًا : دے کښې د مونځونو اوقاتو ته هم اشاره ده۔ بکرةً د صبا مونځ او

اصیلًا د ظهر او عصر مونځ او وَمِنَ اللَّيْلِ د ماښام او ماسخوتن مونځ شو۔ او سَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا کښې د تهجدو مونځ۔ او مونځ هم په تسبیح او ذکر باندے مشتمل دے۔

یا ددے ذکر نه مراد عام دے چه په مانځه کښې وی او که بهر د مانځه نه وی۔

او بکرةً او اَصِيْلًا کښې ذکر د ورځې د دوه طرفونه دے او مراد ترے ټول اوقات دی۔ یا خاصکر صبا او بیګاه خو ذکر له وخت ورکول پکار دی، چه د الله تعالیٰ پدے حکم باندے عمل راشی۔

او په وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ : کښې د الله نومونه په وخت د مصیبت کښې یادول، یا الله یا رحمن یا رحیم، یا ذا الجلال والاکرام وئیل، او هغهٔ ته رامدد شه وئیل او د هغه په نومونو باندے د الله نه غوښتل کول دا ټول داخل دی۔

وَمِنَ اللَّيْلِ: مِنْ ئے راوړو پدے کښې اشاره ده چه ټوله شپه مونځ او ذکر نهٔ شته همیشه دپاره بلکه په څه حصه د شپه کښې خوب کول هم شته۔

وَسَبِّحْهُ: ددے نه مراد یا خو عام تسبیحات وئیل دی، او یا ددے نه مراد په مانځه کښې تسبیحات وئیل دی۔

إِنَّ هٰؤُلَاءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَاءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿۲۷﴾ نَحْنُ
یقیناً دا کسان (کافران) مینه کوی د دنیا سره او پریدی شاته خپل ورځ درانهٔ۔ مونږ
خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ وَإِذَا شِئْنَا
پیدا کړیدی دوی او مضبوط کړیدی مونږ بندونه د دوی او کله چه اُوغواړو مونږ
بَدَّلْنَا أَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ﴿۲۸﴾
بدل به کړو شکلونه د دوی په بدلولو سره۔ (په بدل کښې به راولو پشان د دوی
إِنَّ هٰذِهِ تَذْكِرَةٌ فَمَنْ شَاءَ اتَّخَذَ
بدل راوړل)۔ یقیناً دا (سورت) نصیحت دے پس څوك چه غواړی اُوډے نیسی
إِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۲۹﴾ وَمَا تَشَاءُوْنَ إِلَّا أَنْ يَّشَاءَ اللهُ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيْمًا
رب خپل ته لاره۔ او نهٔ شئ غوختے تاسو مګر چه وغواړی الله۔ یقیناً الله پوهه

حَكِيمًا ﴿٣٠﴾ يُدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِي رَحْمَتِهٖ وَالظّٰلِمِينَ
حکمتونو والا دے۔ داخلوی چا له چه اُوغواړی په رحمت خپل کښ او ظالمان
أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣١﴾
تیار کړے ئے دے دوی لره عذاب دردناك۔

تفسیر : اُوس دا خبره بیانوی چه تاسو د امتحان دپاره څکه کوشش وکړئ چه دلته څه بَطالین (سست/ بیکاره) خلق دی چه هغوی دنیا غوره کړیده، او د آخرت دپاره هیڅ کوشش نۀ کوی څکه چه د هغه نتیجے ورځے ته ئے فکر نشته۔ او د دنیا بے رغبتی بیانوی۔

نو پدے کښ د مکے د کافرانو او د نورو کافرانو په باره کښ وئیلے کیږی چه دا خلق د دنیا عارضی فائدے خوښوی، او ددے د حاصلولو دپاره د دوئ منډه تړه ده، او د قیامت د ورځے خطرناکی ئے هیره کړے ده، دنیا طرفته داسے منډے وهی چه آخرت طرفته روستو هډو ګوری نۀ، تۀ به وائے چه دوئ د دنیا دپاره پیدا شویدی، او دوئ له به مرګ نۀ راځی۔

يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ: اَیْ فَلِذٰلِكَ لَایَذْكُرُوْنَ رَبَّهُمْ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا۔

یعنی دا مشرکان د دنیا سره مینه لری پدے وجه خپل رب صبا او بیګاه نۀ یادوی، او نۀ هغه ته سجدے لګوی او نۀ د هغه تسبیح او پاکی وائی۔ او د الله تعالیٰ سره شرکونه کوی، برخه داران جوړوی۔

ددے ځای نه مونږ ته د دنیا پرستئ او د دنیا د محبت تعریف راښکاره کیږی چه هر هغه څوك چه سهار کښ اُوده وی، او مازیګر کښ چکرے وهی، او د شپے هم اُوده دے، او د الله تعالیٰ بندګی نۀ کوی نو دغه دنیا پرست دے اګرکه ددۀ به د یو روپئ سره هم مینه نۀ وی۔ نو د دنیا محبت همدغے ته وائی چه انسان استراحتونه زیات اخلی، او مزے او چکرے وهی، او د آخرت دپاره تیارے نۀ کوی، دنیا پرستی یواځے د پیسو محبت ته نۀ وائی۔ پیسے ګټه خو د الله تعالیٰ بندګی ورسره پابندئ سره کوه، نو ستا د دنیا سره محبت نشته۔ د الله تعالیٰ عبادتونه په دنیا باندے خرابول دنیا پرستی ده۔

نَحْنُ خَلَقْنَاهُمْ : دا دلیل دے د اثبات د آخرت دپاره، او دارنګه دنیا پرستو خلقو ته

زورنه او رتهٔه ده۔

الله تعالیٰ وفرمایل: مونږ دوئ پیدا کړی دی، او د دوئ په بدنونو کښې مو پلے، رګونه، ریشے، او هډوکی پیدا کړی، او دوئ مو مضبوط جوړ کړی دی۔

او هر کله چه مونږ اول ځل دوئ داسے پیدا کړی، نو د دوئ په دوباره پیدا کولو به مونږ یقینًا قادر یو، دے دپاره چه د دوئ د عملونو بدله دوئ ته ورکړو، او مونږ چه کله اوغواړو، په دے هم قادر یو چه دوئ هلاك کړو، او د دوئ په ځائے د دوئ پشان بل قوم راولو، یا د دوئ شکلونه مسخ کړو او دوئ انتهائی درجه بدشکله جوړ کړو۔

أَسْرَهُمْ: دا د اَسَار نه ماخوذ دے هغه مزی ته وئیلے شی چه په هغے سره د اُوښ پالان تړلے شی۔ اسیر (قیدی) هم ددے نه اخستلے شویدے۔

او د اَسر نه مراد دلته اندامونه او پیوندونه د یو بل سره یو ځای کول او په پَلو سره تړل دی۔

ابن عباس ﷺ د اسر معنیٰ په خلق (پیدائش) سره کړیده۔ ابو هریره ﷺ ئے په مَفَاصِلو یعنی جوړونو سره معنیٰ کړیده۔

د الله څومره عظیم قدرت دے چه یو پړے یو اُوښ ته په غاړه کښې واچوه کال پس به هغه زوړ شوے او ختم شوے وی۔ او د انسان په سترګو کښې نری رګونه دی چه انسان شپیته اویا کاله ژوندے وی او هغه رګونه ئے کار کوی۔

أَمْثَالَهُمْ: ۱- ددے یو مطلب دا دے چه که دوی بندګی نهٔ کوی نو الله تعالیٰ به نور خلق راولی چه هغوی به د الله تعالیٰ ډیره بندګی کونکی وی۔

لکه په سورة نساء (۱۳۳) آیت او سورة ابراهیم (۲۰/۱۹) او سورة فاطر (۱۷/۱۶) آیت کښې ذکر دی۔

۲- یا د امثال نه مراد شکلونه دی۔ چه دوی به ناکاره شکلونو ته بدل کړے شی لکه په سورة یس (٦٨) آیت کښې دی۔

إِنَّ هَٰذِهِ تَذْكِرَةٌ: هٰذِهِ اشاره ده پورتنی آیتونو ته۔ یعنی دا پورتنی آیتونه د عبرتونو نه ډك دی، اوس چه څوك غواړی د ایمان او بندګئ په لار ډِے روان شی او خپل رب ډِے راضی کړی، دے دپاره چه په آخرت کښې خوشحاله وی او د اُور د عذاب نه بچ شی۔

وَمَا تَشَاؤُونَ: یو تن به هدایت قبول کړی بیا به فخر کوی او خپل کمالات به ذکر

کوی نو الله تعالیٰ دلته دغه فخر زائل کوی چه اے خلقو ! په نیغه لاره باندے ستاسو د تللو مشیت (خوښه) د الله تعالیٰ د مشیت تابع دے، یعنی کله چه الله تعالیٰ تاسو له هدایت درکول غواړی، او تاسو له د خیر توفیق درکوی، هله به تاسو په دے لاره روانیږئ۔

نو یو پدے کښ دفع د فخر او عجب شوه، او دویم پدے کښ دعوت دے، تضرع او عاجزئ ته، چه هر څه د الله تعالیٰ په واك کښ دی نو هغه ته وژاړئ چه اے الله ! مونږ ته هدایت خامخا راکړه او په نیغه لاره مو روان کړه۔

يُدْخِلُ: دا د مخکِنئ خبرے زیات تاکید دے چه الله تعالیٰ وفرمایل چه هغه چه چاته غواړی په خپل رحمت کښ ئے داخلوی، د هغهٔ په مشیت کښ هیڅوك ګوتے نشی وهلے، نو څوك چه په خپل رحمت کښ داخلوی، نو دا ئے رحم دے او چه څوك نهٔ داخلوی نو دا ئے عدل دے۔ نو ځکه هغوی ته ظالمان وائی۔

یعنی څوك ئے چه په رحمت کښ داخل نهٔ کړل نو دا ظالمان وو، نو ځکه فرمائی چه ظالمانو دپاره هغهٔ دردناك عذاب تیار کړے، د هغهٔ فیصلے څوك بدلولے نشی۔

یعنی اهل د جنت او اهل د اُور جدا جدا پیژنی، انابت والو ته هدایت کوی، دے وجے نه بندګانو له پکار دی چه دوئ د خپل رب نه د هغهٔ د رحمت سوال وکړی، هغهٔ نه د خیر توفیق، او د آخرت د عذاب نه نجات وغواړی۔

اے الله رحمن او رحیم ! مونږ ستا نه ستا د رحمت او د دنیا او د آخرت د خیرونو سوال کوو او ستا د عذابونو نه په تا پورے پناه غواړو۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات د سورة الدهر

١- پدے کښ د انسان حالت ذکر شو چه داسے وخت پرے راغلے وو چه دے هیڅ نهٔ وو۔

٢- د ابتلاء طریقه دے سورت خودلے ده او د هغے دپاره تیارے۔

٣- او د جنت د نعمتونو ناشنا تفصیلات۔

٤- د انسان د اندامونو مضبوطوالے۔

٥- پنځو مونځونو ته اشاره۔

ختم شو تفسیر د سورة الانسان په توفیق د رب العزت سره په ١٣ رمضان ١٤٣٧ هـ موافق (٢٠١٦/جون/١٨ مازیګر۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٥٠)	(٧٧) سُوْرَةُ الْمُرْسَلَاتِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (٢)

سورة المرسلات مکی دے، په دے کښې پنځوس آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة المرسلات

نوم : (١) سورة [اَلْمُرْسَلَاتِ] (٢) [سُوْرَةُ الْعُرْف] هم دے، [العُرف] لفظ هم په اولنی آیت کښې راغلے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت مکی دے۔ قتادةؒ صرف (٤٨) آیت : ﴿ وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَايَرْكَعُوْنَ ﴾ تـه مـدنـی وئیلی دی۔ ابن مردویهؒ او بیهقیؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړی چه سورة المرسلات په مکه کښې نازل شوے۔

بخاریؒ او مسلمؒ او نورو د ابن مسعود ﷺ نه نقل کړی دی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د مِنیٰ په یو غار کښې وو، نو سورةٔ [وَالْمُرْسَلَاتِ عُرُفًا] نازل شو۔ رسول الله ﷺ لوستلو، او ما دا حاصلولو ...... الحدیث۔ (بخاری : ١٨٣٠) مسلم : ٥٩٧٢)

مناسبت

١- مخکښې سورت کښې د آخرت منکرینو ته لږ زجرونه وو نو پدے سورت کښې ډیر زجرونه دی، لس کرته ئے ورله (وَيْلٌ) کلمه ذکر کړیده۔

٢- مخکښې د اثبات د بعث بعد الموت دپاره یو دلیل ذکر وو نو پدے سورت کښې د هغے اثبات په ډیرو شواهدو او عقلی دلیلونو سره کوی۔

د سورت مقصد

اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ : الله تعالیٰ چه کومے وعدے کړیدی هغه به خامخا واقع کیږی، لکه

د جنت، د جهنم، د عذابونو، د حسابونو۔ نو پدے کښې هم اثبات د آخرت دے۔
اول کښې قسمونه دی په اثبات ددے دعوے باندے، او بیا د قیامت احوال ذکر کوی چه قیامت به څنګه راځی۔ او بیا چه د قیامت ورځ راشی نو د انسانانو دوه قسمه حاله، یو مکذبین او بل متقین، نو د مکذبینو سزاګانے او د متقیانو جزاګانے۔ او مینځ کښې د اثبات د آخرت دپاره دلیلونه دی۔

فضیلت :

رسول الله ﷺ به د ماښام په مانځه کښې کله نا کله لوستلو۔ (بخاری : ۷۶۳)

وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا ﴿۱﴾
قسم دے په هغه ملائکو چه رالیږلے شویدی په نیکئ۔ (یا : قسم دے په هغه هواګانو چه رالیږلے شی په نرمئ سره یا (پرله پسے))۔
فَالْعَاصِفَاتِ عَصْفًا
نو هغه هواګانے چه ماتول کوی ماتول۔(یا هغه هواګانے چه په سختئ رالوزی په سختئ سره)۔
﴿۲﴾ وَالنَّاشِرَاتِ نَشْرًا ﴿۳﴾ فَالْفَارِقَاتِ
او هغه هواګانے چه خورول کوی په خورولو۔ نو جدا کونکی دی (وریځو لره)
فَرْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُلْقِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾
په جدا کولو۔ پس قسم دے په هغه ملائکو چه غورزونکی دی وحی لره۔
عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾ إِنَّمَا
دپاره د عذر زائله کولو یا دپاره د یرولو۔ یقیناً هغه څه
تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾
چه تاسو سره ئے وعده کیدیشی خامخا واقع کیدونکے دے۔

تفسیر : وَالْمُرْسَلَاتِ: (۱) پدے کښې آسان تفسیر دا دے چه دا د مختلفو څیزونو

دپاره صفتونه دی، نو مرسلات نه مراد ملائك دی. او عاصفات او ناشرات او فارقات هواگانے دی، او مُلقیات بیا ملائك دی.

او مناسبت ئے د جواب قسم (اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ) سره بنۀ جوړیږی چه ملائك الله تعالیٰ په وحی رالیږلی دی، او وحی حیاة الارواح دے، روحونه ژوندی کوی، او هواگانے وریځے راپورته کوی، او بارانونه راوروی، او باران حیاة الاجسام دے. یعنی جسمونه (زمکه وغیره) پرے ژوندئ کیږی.

نو لکه څنګه چه الله تعالیٰ ستاسو بدنونه په باران سره او روحونه په وحی او په قرآن سره ژوندی کړیدی، نو دغه شان په قیامت کښں به ستاسو اجسام او ارواح دواړه راژوندی کړی.

نو معنیٰ دا جوړیږی: قسم دے په هغه ملائکو چه رالیږلے شی په عرف یعنی معروف (نیکئ) باندے چه هغه وحی ده، او نور د خیر کارونه دی.

نو پدے کښں په هغه ملائکو قسم شویدے چه هغوئ په اِلٰهی وحی او په نورو امرونو او منع شوو څیزونو سره دنیا ته رالیږلے کیږی.

فَالْعَاصِفَاتِ: پس قسم دے په هغه ملائکو چه سختی کونکی دی د کافرانو د روحونو سره په سختی کولو سره.

وَالنَّاشِرَاتِ: (واو ئے راوړو اشاره ده چه ددے نه نور څیزونه مراد دی) یعنی قسم په هغه هواگانو چه خورونکی دی وریځو لره په خورولو سره.

فَالْفَارِقَاتِ: پس قسم دے په هغه هواگانو چه جدا کونکی دی وریځو لره په جدا کولو سره.

فَالْمُلْقِيَاتِ: پس قسم دے په هغه ملائکو چه راغورزونکی دی وحی لره.

عُذْرًا: اَیْ لِاِزَالَةِ الْعُذْرِ. دپاره د زائل کولو د عذر.

اَوْ نُذْرًا: او دپاره د یره ولو د بندگانو.

یعنی د [اَلْمُلْقِيَاتِ] نه مراد هغه ملائك دی چه هغه د الله هغه وحی انبیاء کرامو علیهم السلام ته رسوی چه د هغے نه مقصد د انسانانو دپاره د حق دین وضاحت کول وی، دے دپاره چه د گمراهئ دپاره د هیچا هیڅ عذر باقی پاتے نشی، دارنګه مقصد دوئ لره د الله د عذاب نه ویرول وی، دے دپاره چه د الله نافرمانی ونکړی.

(۲) بعض مفسرینو دا ټول صفات د هواګانو جوړ کړیدی. او د فالملقیات نه په اتفاق سره ملائك مراد دی کما قال القرطبی. نو معنیٰ به دا وی.
قسم دے په هغه هواګانو چه رالیږلے شی (عرفا) اَیْ مُتَتَابِعَةً. یعنی پرله پسے. (نرمے)
فَالْعَاصِفَاتِ : پس قسم دے په هغه هواګانو چه تیزے او تندے رالوزی په تیزئ او سختئ سره. او عصف په معنیٰ د ماتولو سره هم راځی.
یعنی قسم دے په هغه هواګانو چه ماتول کوی په ماتولو سره. (ځکه چه بعض هواګانے نرمی رالوزی په یو ترتیب سره وی، او بعض ګډے وډے سختی رالوتونکی وی)
وَالنَّاشِرَاتِ : او قسم دے په هغه هواګانو چه خورونکی دی وریځو لره په خورولو سره.
فَالْفَارِقَاتِ: پس قسم دے په هغه هواګانو چه جدا کونکی دی وریځو لره په جدا کولو سره.
فَالْمُلْقِیَاتِ : دا صرف صفت د ملائکو دے. یعنی قسم دے په هغه ملائکو چه راګوزارونکی دی وحی لره انبیاؤ علیهم السلام ته.
او بعض علماؤ دا هم د هواګانو صفت ګرځولے دے، او ذکر په معنیٰ د باران سره او عُذْرًا په معنیٰ د طمع سره. نو بیا معنیٰ داسے ده :
پس قسم دے په هغه هواګانو چه راغورزونکی دی باران لره دپاره د طمع ورکولو بندګانو ته یا دپاره د یره ولو د هغوی. لیکن دا تفسیر بعید دے.
(۳) ځینی مفسرینو دا ټول صفات د ملائکو جوړ کړیدی معنیٰ دا ده :
قسم دے په هغه ملائکو چه رالیږلے شی په وحی سره،
والعاصفات : قسم دے په هغه ملائکو چه په سختئ سره روحونه ویستوونکی دی د کافرانو نه په سختئ سره.
وَالنَّاشِرَاتِ : قسم دے په هغه ملائکو چه خورونکی دی وریځو لره (یعنی هغه ملائك چه په وریځو مقرر دی او هغه د یو ځای نه بل ځای ته بوځی)
❁ یا هغه ملائك چه خورونکی دی وزرے خپلے په وخت د نازلولو د وحی کښې.
❁ ضحاكؒ وائی : قسم دے په هغه ملائکو چه خورونکی دی عملنامے د بنیادمانو).
❁ یا ددے نه مراد ملائك دی چه هغه په زمکه باندے د شریعت احکام، علم او حکمت

او نبوت او هدایت خوروی۔

فَالْفَارِقَاتِ: پس قسم دے په هغه ملائکو چه جدائی راوستونکے دی په مینځ د حق او د باطل کښې (په وحی سره)۔ (ابن عباس ﷺ)

نو د [اَلْفَارِقَاتِ] نه مراد هغه ملائك دی چه هغه وحی را واخلی او د حق او باطل او حلال او حرام ترمینځه فرق کولو دپاره د آسمان نه په زمکه راکوزیږی۔

❁ بعضو ددے نه قرآنی آیتونه مراد کړیدی چه هغه د حق او باطل ترمینځه فرق کوی۔

فَالْمُلْقِيَاتِ ذِكْرًا: ددے معنیٰ واضحه شوه۔

بعضو د المرسلات او الفارقات او الملقیات نه د انبیاء علیهم السلام نفسونه مراد کړیدی۔ چه تفصیل ئے په فتح البیان کښې کتلے شی۔ اول تفسیر پکښې زیات مناسب دے۔

د حافظ ابن کثیرؒ په نیز غوره داده چه د المرسلات، العاصفات، او الناشرات درے واړو نه مراد هواگانے شی، چه ددے تفصیل پورته تیر شو۔

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَاقِعٌ: دا جواب قسم دے۔ یعنی دا قسمونه ددے دپاره خوړلے کیږی چه تاسو سره د قیامت د راتللو او په هغے کښې د احوالو کومه وعده شویده نو هغه یقینی واقع کیدونکے ده۔ او ددے جواب او د قسم ترمینځ عمومی مناسبت دادے چه لکه څنګه چه دغه امور واقعیه محسوسه دی، نو قدرت د الله تعالیٰ په دغه امورو باندے دلیل دے چه الله تعالیٰ د قیامت په امورو راوستو باندے قادر دے۔

فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَإِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾ وَإِذَا
پس کله چه ستوری بے رڼا کړے شی۔ او کله چه آسمان کولاؤ کړے شی۔ او کله
الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا الرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴿١١﴾ لِأَيِّ يَوْمٍ
چه غرونه والوزولے شی۔ او کله چه رسولان راجمع کړے شی۔ د کومے ورځے دپاره
أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴿١٣﴾ وَمَا أَدْرَاكَ
روستو کړے شویدی (دا احوال)۔ دپاره د ورځ د فیصلے۔ او څه پوهه کړے ئے ته

مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴿١٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٥﴾

چه څه ده ورځ د فیصلې۔ هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو۔

تفسیر : فَإِذَا النُّجُومُ: اُوس وائی چه دا به کله راځی؟۔ نو ددے وخت د واقع کیدو بیانوی۔

یعنی کله چه قیامت واقع شی نو ستوری به خوارهٔ وارهٔ شی او خپله رڼا به دلاسه ورکړی، او آسمان به اُوشلیږی، او د هغے اړخونه به رابنکته شی، او غرونه به ټکړے ټکړے شی او ګرد به ترے جوړ شی چه په فضاء کښ به آلوزی۔ الله تعالیٰ د سورهٔ طه په (۱۰۵) آیت کښ فرمایلی دی : ﴿ وَيَسْأَلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ﴾ (دوئ تانه د غرونو په باره کښ تپوس کوی، نو تهٔ اووایه چه دا به زما رب ریزه ریزه کړی او وابه ئے لوزوی)۔ او په دے ورځ به انبیاء او رسولانو علیهم السلام دپاره مقرر کړے وخت راشی، دے دپاره چه د دوئ او د دوئ د اُمتونو ترمینځه فیصله وکړے شی۔

طُمِسَتْ: طمس، ورانول، زړیدل، بے نوره کیدل دی۔ یعنی اول به ترے رڼا ختمه شی بیا به ودوړیږی او ختم به شی۔

وَإِذَا السَّمَاءُ : دا اسم جنس دے ټولو آسمانونو ته وئیلے شی۔

فُرِجَتْ : فرج په لغت کښ چودل او کولاویدو ته وائی۔ لکه روستو سورة کښ راځی ﴿وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا﴾ (النبأ : ۱۹) آسمان به کولاو شی او دروازے دروازے به شی۔

وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ : نسف، د ویخ نه ویستل، په جلتئ سره تختول، د دانونه بوس آلوزول، او د یو شی اجزاء د بل نه جدا کیدو ته وئیلے شی۔

وَإِذَا الرُّسُلُ أُقِّتَتْ: دا په اصل کښ وُقِّتَتْ دے، د وقت نه اخستے شویدے، اَیْ جُمِعَتْ وَانْضَمَّتْ فِیْ وَقْتٍ مَعْلُوْمٍ۔

یعنی په مقرر وخت کښ به رسولان راجمع او یو ځای کړے شی۔

یا معنیٰ ده : جُعِلَ لَهَا وَقْتٌ لِلْفَصْلِ وَالْقَضَاءِ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْاُمَمِ۔

یعنی کله چه د رسولانو دپاره وقت مقرر کړے شی دپاره د فیصلے د دوی او د دوئ د امتونو ترمینځ۔ لکه الله فرمایلی دی : ﴿ يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ ﴾ (المائده : ۱۰۹)

۳- اُرْسِلَتْ لِاَوْقَاتٍ مَعْلُوْمَةٍ عَلٰى مَا عَلِمَ اللّٰهُ بِهٖ]
یعنی کله چه رسولان معلوم اوقاتو ته ولیږلے شي کوم چه الله تعالیٰ ته معلوم دي.
أُجِّلَتْ: دلته یُقَالُ لفظ پټ دے (یعنی وئیلے به شي چه دوی د کومے ورځے دپاره روستو کړے شویدي؟). او دا تپوس دپاره د عظمت او هیبت د هغه ورځے دے.
أُجِّلَتْ: دے کښې ضمیر رسولانو ته راجع دے. یا مخکښو تیر شوو ټولو احوالو ته.
لِيَوْمِ الْفَصْلِ: دا جواب دے د مخکښې تپوس.
یوم الفصل د قیامت د نومونو نه یو نوم دے. دے ته یوم الفصل ځکه وائي چه پدے ورځ به جدائي راشي د مخلوق د یو بل نه، او فیصلے به وکړے شي په مابین د پیغمبرانو او امتونو کښې.
قتادۃ وائي : پدے ورځ به د خلقو ترمینځ جدائي راځي په اعمالو سره چه څوك به جنت ته روان وي، او څوك به اُور ته.
وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ: دا دوباره تپوس د عظمت او هیبت دپاره کوي، یعنی تهٔ څه پوهه کړے ئے چه یوم الفصل څه شے دے؟ یعنی دا خو یوه ناشنا هیبتاکه ورځ ده چه د هغے اندازه نشي کیدے.
او په دے ورځ به د آخرت په حقله هغه ټولے خبرے رابنکاره کړے شي چه د هغے نه انبیاء کرامو علیهم السلام خپل قومونه ویرول.
وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ: اُوس رټنه تکذیب کونکو ته بیانیږي .یعنی کوم خلق چه په دنیا کښې د فیصلے ورځ دروغژنه ګنړي، هغوئ له په دے ورځ هلاکت او بربادي ده.
الله تعالیٰ د سورۃ المطففین په (۱۰/۱۱) آیتونو کښې فرمایلي دي :
﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴾
(په دے ورځ دروغژن ګنړونکو دپاره لویه بربادي ده، چه هغوئ د قیامت ورځ دروغژنه ګنړي).
پدے سورت کښې ئے ویل کلمه لس کرته ذکر کړیده ځکه چه حق څیزونه ډیر دي، او د هر یو تکذیب مستقل سبب د ویل (هلاکت) دے، او دے سورت کښې ئے لس حق څیزونه ذکر کړیدي، نو ځکه ئے لس کرته ویل هم ذکر کړیدے.
نو ویل ئے تقسیم کړیدے په اندازه د تکذیب د خلقو. ځکه چه د هر مکذب دپاره هغه

ویـل وی چـه د بـل دپاره هـغـه نـهٔ وی، اول پـه دے آیت کښې ویـل د هغه چا دپاره دے چه تکذیب د یوم الفصل کوی۔

او ویل یا په جهنم کښې یوه کنده ده چه په هغے کښې د جهنمیانو وینے زوے بهیږی، یا په معنیٰ د هلاکت دے۔

ویـل مبتداء ده او لِلْمُکَذِّبِیْنَ ئے خبر دے، او ویل اګرکه نکره ده، لیکن دا دعاءِ شر ده، او په مقام د دعاء کښې نکره هم مبتدا واقع کیدے شی۔

او زمخشـری وئیـلی دی چه ویل په اصل کښې مصدر دے چه د خپـل فعل قائمقام دے لیـکـن بیـا د نـصـب نه رفع ته نقل شو دے دپاره چه په دوام او ثبات باندے دلالت وکړی۔ لیکن دا خبره غوره نهٔ ده۔

اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ
آیا نهٔ دی هلاك کړی مونږ مخکنی۔ بیا ورپسے کړیدی مونږ د هغوی پسے
الْاٰخِرِیْنَ ﴿۱۷﴾ کَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِیْنَ ﴿۱۸﴾ وَیْلٌ یَوْمَئِذٍ
روستنی۔ دغسے کار کوو مونږ د مجرمانو سره۔ هلاکت دے په دغه ورځ
لِّلْمُکَذِّبِیْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَمْ نَخْلُقْکُمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِیْنٍ ﴿۲۰﴾
دپاره د تکذیب کونکو۔ آیا مونږ تاسو نهٔ یئ پیدا کړی د اوبو سپکو نه۔
فَجَعَلْنٰهُ فِیْ قَرَارٍ مَّکِیْنٍ ﴿۲۱﴾ اِلٰی قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۲﴾
نو ګرځولی مونږ هغه په ځائے د قراری مضبوط کښې۔ تر اندازے معلومے پورے۔
فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَیْلٌ یَوْمَئِذٍ لِّلْمُکَذِّبِیْنَ ﴿۲۴﴾
نو اندازه کړیده مونږ نو ښه اندازه کونکی یو (مونږ)۔ هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو۔

تفسیر : پـه راتـلـونـکـو آیتـونـو کـښې الله تـعـالیٰ د هغه کافرو قومونو ذکر کړے چه هغوئ په تیره شوے زمانه کښې د خپلو ګناهونو په سبب هلاك شوی دی۔

فـرمائی : آیا مونږ هغه قومونه هلاك کړی نهٔ دی چه هغوئ په تیره شوے زمانه کښې

زمونږ رسولان دروغژن ګڼرلي وو، او زمونږ د آيتونو نه ئې انکار کړے وو، لکه قومِ نوح، قومِ عاد او قومِ ثمود او قوم لوط او اصحاب مدين او قوم تبع او قوم د فرعون چه دا په قرآن کريم کښې ذکر دي. د دوئ نه پس د راتلونکو قومونو هم همدا طريقه را روانه ده، مونږ دوئ هم پرے نښودل. او مونږ مجرمانو سره هميشه داسے سلوك کوو.

ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِيْنَ: دا مرفوع دے او مستقله جمله ده، په اصل کښې:

(ثُمَّ نَحْنُ نُتْبِعُهُمْ فِي الْهَلَاكِ) دے (ابو البقاء)

نو معنیٰ دا ده چه بيا به په هلاکت کښې وروسته کړو روستنی خلق هم.

مفسرين ليکي چه په دے آيتونو کښې د قريشو مجرمانو دپاره لويه دهمکی وه، چه که دوئ خپل حالت بدل نهٔ کړو نو څهٔ تعجب دے چه دوئ به هم هلاك کړے شي، دے وجے نه الله تعالیٰ وفرمايل چه هلاکت او بربادي ده هغه مجرمانو دپاره چه هغوئ د الله تعالیٰ د رسول او د هغهٔ د آيتونو نه انکار کوی.

كَذٰلِكَ نَفْعَلُ: دا تاکيد دے د (نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِيْنَ) او په دے کښې بيان دے د الآخِرِيْن چه د دوئ نه مراد مجرمان دي. يا نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِيْنَ مکے والا مراد دي،

او د كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ نه تر قيامته پورے د ټولو زمانو مجرمان مراد دي.

يا په دنيا کښې به پرے عذاب راشي يا به په آخرت کښې.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ: دلته د مکذبين نه مراد هغه خلق دي چه د مخکنو مجرمانو قصے او واقعات د هلاکت نهٔ مني، او آينده کښې عبرت نهٔ اخلي.

أَلَمْ نَخْلُقكُّم: په دے آيتونو کښې الله تعالیٰ انسان ته د خپل حقيقت يادوونه کړے ده، چه د دے تقاضا دا وه چه دهٔ د کبر او غرور په ځائے تواضع اختيار کړے وے، او د الله تعالیٰ د عظيم قدرت او د هغهٔ د ژور علم اقرار ئے کړے وے.

دارنګه الله تعالیٰ ددهٔ په زړه او دماغو کښې د مرګ نه پس د دوباره ژوندی کيدو عقيده کوزول غوښتلی دی، چه کوم قادرِ مطلق چه تاسو اول ځل د يوے سپکے قطرے نه پيدا کړی يئ، هغه يقيناً ستاسو په دوباره پيدا کولو باندے قادر دے.

فرمائي: اے خلقو! آيا مونږ تاسو د سپکو اوبو د يوے قطرے نه پيدا کړی نهٔ يئ، مونږ دا قطره د مور رحم ته اُورسوله چرته چه هغه لاړه او هلته هغے قرارے اُونيوهٔ، او هلته يوے معلومے مودے پورے ايساره شوه، په دے کښې ترقي کيدله تردے پورے چه هغه يو

مکمل ساه والا ماشوم جوړ شو، او د بهر راوتو قابل شو.

الله وفرمایل : دا الله وو چه هغهٔ د منِي دا قطره د رحم په تیارو کښې د مختلفو پړاوونو نه تیره کړو، او په دے کښې ئے روح اوپو کلو او بهرئے را اوخکلو، دا په حقه سره الله تعالیٰ ډیر زیات زوور قدرت والا دے، او هم هغه د تمامو صفتونو یواځے لائق دے،

دے وجے نه هلاکت او بربادی ده هغه مجرمانو لره چه هغویٔ د الله تعالیٰ د قادرِ مطلق او علام الغیوب کیدو نه انکار کوی، یا په دے باره کښې شك شبه کوی چه هغه د مړو په دوباره ژوندی کولو باندے قادر دے.

مَّهِيْنٍ: ددے نه مراد نطفه ده چه کمزورے او سپکے اُوبهٔ دی.

فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ : ددے نه مراد رحم دے، یعنی د موربچه دانئ چه په هغے کښې دغه منې د خرابونکو آفاتو نه ساتی لکه هواء وغیره.

اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ : یعنی یوے اندازے پورے چه هغه الله تعالیٰ ته معلومه ده چه هغه موده د حمل ده نهه میاشتے یا کم او زیات.

مَّعْلُوْمٍ: یعنی د زنانو په عرف او عادت کښې معلوم دے.

❁ یا د هغے پوره تفصیلات او د ورځ او وخت د پیدائش صرف الله تعالیٰ ته معلوم ده.

فَقَدَرْنَا: دا د قدرة نه دے، یعنی مونږ قادر یو په دغه منی باندے چه انسان ترے پیدا کړو، نو دغه شان مونږ په دوباره ژوندی کولو باندے هم ښه قدرت لرونکی یو.

یا قدرنا د قدر نه دے اندازے ته وائی. او قَدَرْنَا مخفف او مشدد (قَدَّرْنَا) دواړه په یوه معنیٰ دی. یعنی مونږ اندازه کړے دے نو ښه اندازه کونکی یو.

یعنی مونږ وخت د ولادت او د بچی احوال او د هغهٔ سعادتِ او شقاوت او د هغهٔ قد وقامت اندازه کړو او دنیا ته مو رابهر کړو.

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ: دلته د مکذبین نه هغه خلق مراد دی چه د انسان پیدائش د الله تعالیٰ په قدرت سره نهٔ منی، ❁ یا د هغهٔ تقدیر نهٔ منی.

❁ یا داسے قدرت د الله تعالیٰ نه سویٰ بل چا لره ثابتوی.

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾ وَجَعَلْنَا
آیا نهٔ دهٔ گرځولے مونږ زمکه راجمع کونکے ۔ ژوندو لره او مړو لره۔ او گرځولی دی
فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ وَّاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً
مونږ په دے کښ غرونه اُوچت اُوچت او څکولی دی مونږ په تاسو باندے اُوبه
فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٨﴾
خوږے۔ هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو۔

تفسیر: دا نور دلائل دی د الله تعالیٰ د معرفت، او د دوباره ژوند دپاره۔

او په دے آیتونو کښ الله تعالی انسان ته خپل حینے نعمتونه وربنودلی چه ددے تقاضا داوه چه دے د خپل رب شکر گذار او ذکر کونکے بنده جوړ شوے وے۔

الله وفرمایل : اے خلقو! آیا مونږ زمکه ستاسو د ژوندو او مړو دپاره د اوسیدو ځائے نهٔ ده جوړه کړے، ستاسو ژوندی په زمکه باندے جوړ شوو کورونو کښ پناه اخلی، او ستاسو مړو له زمکه په خپل ځان کښ دننه ځائے ورکوی، هغه خپل ځان سره لگوی، لکه څنګه چه محلونه او بنګلے د الله نعمت دے، دغه شان قبرونه هم د هغهٔ نعمت دے، چه په هغے کښ مړی ښخیږی، دے دپاره چه ځناور او نور ځیزونه د دوئ سپکاوے ونهٔ کړی۔

كِفَاتًا: كَفْت په لغت کښ يو ځاى كول او جمع كولو ته وئيلے شي۔

او کفات په معنیٰ د هغه ځای چه په هغے کښ يو شے يو ځاى كيږی او لگيږی۔

(مختار الصحاح والقاموس)

او کفات اسم مکان دے، یا اسم آله ده۔ او بعض وائی چه دا جمع د کافِت ده۔

او اخفشؒ وائی : جمع د كَافِتَةٌ ده۔ او د ارض نه مراد جمع ده، نو صفت ئے جمعه راغلے دے۔

اَحْيَاءً وَّاَمْوَاتًا : ژوندی ئے په دے طریقه راجمع کړیدی چه په زمکه باندے آبادیانے کوی، کروندے کوی، ګرځی راګرځی، او نورے فائدے ترینه اخلی، او مړی راجمع کوی چه هغوی پکښ خخیږی۔ او دا دلیل دے چه د مړو دفن کول ضروری دی۔

حافظ ابن عبد البرؒ د امام مالكؒ د شاګرد ابن القاسمؒ دا وینا نقل کړې چه د کفن غلا کونکی لاس پریکول جائز دی، هغهٔ ددې آیت نه استدلال کړې، او وئیلی ئې دی چه د قبر حیثیت مړی دپاره داسې دې څنګه چه ژوندی دپاره کور دې۔

وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ : او آیا مونږ په زمکه باندې د لویو غرونو میخونه نهٔ دی وهلی، دې دپاره چه په دې کښې حرکت پیدا نشی، او تاسو په دې باندې په آسانئ سره ژوند تیر کړئ۔ او آیا مونږه تاسو له خوږې صفا اُوبهٔ نهٔ دی درکړی۔

ددې تمامو سوالونو جواب یو دې چه هاؤ، واقعی چه دا ټول نعمتونه الله درکړی دی۔ نو بیا اې کافرو! تاسو ولې د الله تعالیٰ نعمتونه دروغژن ګنړئ، ولې د هغهٔ رسول او د هغهٔ کتاب دروغژن ګنړئ، یاد لرئ چه د قیامت په ورځ هلاکت او بربادی ده داسې دروغژن ګنړونکو دپاره۔

رَوَاسِيَ: جمع د رَاسِيَةٌ ده، کلکو غرونو ته وائی چه زمکه مضبوطوی۔

شَامِخَاتٍ: اَیْ طِوَالٍ۔ یعنی اُوږده غرونه چه د هغې سرونو ته ختل مشکل وی۔ شامخ هر دنګ اُوږد څیز ته وئیلې شی۔

فُرَاتاً: یعنی خوږې۔ (ابن عباس ﷺ) او فُرات هغه خوږې اُوبهٔ دی چه خلق ئې څکی او فصلونه ترې خړوبه کوی۔

فائده : پدې درې دلیلونو کښې د انسان د پیدائش او د زمې او د غرونو د پیدائش ترمینځ مناسبت دا دې چه د نطفې نه د انسان پیدائش دې، او د زمکې نه د بوټو پیدائش دې، او د غرونو نه د ونو او بوټو، معدنیاتو او اُوبو پیدائش دې،

نو هغه الله تعالیٰ چه په دې درې قسمونو پیدائش باندې قدرت لری، نو ضروری ده چه هغه په بعث بعد الموت باندې قدرت لری، او داسې وصف په آسمان کښې ښکاره نشته ددې وجه نه ئې دلته آسمانی دلیل نهٔ دې ذکر کړې۔ (احسن الکلام)

لِلْمُكَذِّبِينَ: دلته د مکذبین نه هغه خلق مراد دی چه د زمکې د پیدائش او ددې د فائدو نه او د غرونو او د اُوبو د پیدائش نه انکار کوی چه دا الله تعالیٰ نهٔ دی پیدا کړی ❁ یا د الله تعالیٰ سره پدې کښې شریکان جوړوی۔

اِنْطَلِقُوْا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِنْطَلِقُوْا اِلٰى ظِلٍّ ذِیْ ثَلٰثِ
لاړشئ هغه څه ته چه تاسو به په هغے تکذیب کولو۔ لاړ شئ سوری ته چه درے
شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ لَا ظَلِیْلٍ وَّلَا یُغْنِیْ مِنَ اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾ اِنَّهَا تَرْمِیْ بِشَرَرٍ
څانګو والا دے۔ نۀ یخ دے او نۀ فائده ورکوی د لمبو نه۔ یقیناً دا (اُور) اُولی سپرغے
كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ
پشان د بنګلے۔ ګویا کښ هغه اُوښان دی ب مهاره۔ هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د
لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۳۴﴾ هٰذَا یَوْمُ لَا یَنْطِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَلَا یُؤْذَنُ
تکذیب کونکو۔ دا هغه ورځ ده چه دوی به خبرے نشی کولے۔ او اجازه به نۀ ورکړے
لَهُمْ فَیَعْتَذِرُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۳۷﴾
کیږی دوی ته پس چه عذر پیش کړی۔ هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو۔
هٰذَا یَوْمُ الْفَصْلِ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِیْنَ ﴿۳۸﴾ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ
دا ورځ د فیصلے ده، راجمع کړل مونږ تاسو او مخکنی۔ نو که چرته وی تاسو لره
كَیْدٌ فَكِیْدُوْنِ ﴿۳۹﴾ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴿۴۰﴾
څه چل نو چل جوړ کړئ ما ته۔ هلاکت دے په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو۔

تفسیر: اِنْطَلِقُوْا: اَیْ یُقَالُ لَهُمْ۔ (یعنی دوی ته به وئیلے شی) یعنی کومو خلقو چه په دنیوی ژوند کښ آخرت او د اُور عذاب دروغژن ګڼړلو، د قیامت په ورځ به دوئ ته په جهنم باندے مقرر ملائك د رټنے په طریقه ووائی چه کوم جهنم چه تاسو کپ ګڼړلو په هغے کښ داخل شئ، تاسو د جهنم د لوګی هغه سوری طرفته ور وړاندے شئ، چه هغه پورته تلے دے، او پورته تلو سره د خپل سخت سوزولو د وجے نه په درے ویرونکو شغلو کښ ویشلے شوے دے،

دا سورے به د کومے وُنے یا دیوال د سوری غونتے نۀ وی چه هغه انسان د ګرمئ د سختئ نه بچ کوی، دے وجے نه دا به جهنمی لره د اُور د بهړاس نه نۀ بچ کوی، هغه اُور

به داسے وی چه د هغے نه به د محلونو او بنګلو پشان لوئے لوئے بڅرکی او سپرغئ را اوځی، چه هغه به د خپل تورِوالی او زیړوالی له وجے زیړ رنګ ته مائل تورو اوښانو غونته وی، یعنی دا لمبے به انتهائی ډیرے هیبتناکے وی۔

د سورۂ الزمر په (١٦) آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی: ﴿ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ﴾ (جهنمیانو دپاره به د دوئ دپاسه د اور شغلے د چونترے پشان وی. او د دوئ د لاندے نه به هم دغسے د اور شغلے د چونترے پشان وی)۔

او په سورۂ اعراف (٤١) آیت کښې فرمائی: ﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾ (جهنمیانو دپاره به د جهنم د اُور بستره وی او د دوئ دپاسه به ددے اغوستل وی)۔

دے نه پس الله تعالیٰ وفرمایل چه هلاکت او بربادی ده هغه چا لره چه هغوئ په دنیا کښې د آخرت ورځ، جنت، جهنم، او د الله تعالیٰ رسول او د هغهٔ قرآن دروغژن ګنړلو۔

اِلٰى مَا كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ: مَا موصوله ده، او ددے نه مراد د جهنم د اُور عذاب دے۔

❁ یا مَا مصدریه ده، او مضاف پټ دے، اَیْ اِلٰی جَزَاءِ تَكْذِیْبِكُمْ ۔ یعنی د خپل تکذیب سزا ته لاړ شئ۔

اِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ: د ظل (سوری) نه مراد د جهنم د لوګی / لوخړے سورے دے چه هغے ته په سورة الواقعه (٤٣) کښې ﴿ فِي سَمُومٍ وَحَمِيمٍ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴾ وئیلے شویدے۔ او دا لوګے به درے څانګو والا وی ځکه چه کله یو لوګے په زور سره راوځی نو هغه درے حصو ته تقسیم شی، اشاره ده چه دا به ډیر سخت اُور وی چه لوګې به ئے په ډیر زور او سختئ سره راوځی۔

بعض وائی: د ظل نه مراد د اُور دیوالونه دی چه دا به د جهنم د اُور نه راجدا شوی وی، او د دوئ نه به ئے ګیره اچولی وی، بیا به درے حصو ته تقسیم شی، نو په دوی باندے به ګرم سورے وکړی، تردے چه د دوی حساب کتاب ختم شی او بیا اُور ته روان شی۔

لَا ظَلِيلٍ: د ظل نه معلومه شوه چه سورے خو فائده ورکوی، نو دلته دا وَهم ختموی چه دا سورے به د نمر نه سورے او آرام ورکونکے نهٔ وی۔ او نهٔ به د نمر نه فائده او آرام ورکوی۔ یعنی یخ سورے به نهٔ وی۔

وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ: اغناء دفع کولو ته وائی، یعنی نهٔ به دفع کوی د دوی نه لمبے د اُور۔ یا د فائدے ورکولو په معنیٰ دے۔

پدے کښې اشاره ده چه دا ظل د مؤمنانو د ظل نه خلاف دے چه هغه ظل ظلیل دے۔
اِنَّهَا تَرْمِیْ بِشَرَرٍ : جمع د شِرَرَةٌ ده، دا د اُور هغه ټکړے دی چه هر طرف ته آلوزی او هغے ته بڅری / بڅرکی او سپرغئ وائی۔
لیکن دا به د دنیا د اُور د بڅرکو په شان نری نهٔ وی بلکه :
كَالْقَصْرِ : لکه د لوی بنګلے / یا لرګی پریکړے شوی-/ یا د غټو ونو بیخونه یا سرونه۔ او دا تشبیه په غټ والی کښې ده۔
كَاَنَّهٗ جِمَالَتٌ صُفْرٌ : جِمَالَةٌ په وزن د فِعَالَةٌ جمع د جَمَل ده لکه حِجارةٌ جمع د حَجَرٌ ده۔ اُوښانو او غټے رسئ د کشتئ ته وئیلے کیږی۔ او پدے کښې بل قراءت جِمَالَاتٌ دے۔ هغه جمع د جِمَالٌ ده۔ همدغه معنیٰ ئے ده۔
او په تسهیل کښې ئے لیکلی دی چه د جمالات معنیٰ : (قِطَعُ النُّحَاسِ الْکِبَار) ده، یعنی د تانبے غټے ټکړے)۔
صُفْرٌ: زیړ / یا بے مهاره۔ (خالی د مهار نه) صفر جمع د اَصْفَر ده، خالی د مهار نه.
واحدیؒ او فراءؒ وئیلی دی چه صفر د عربو په ژبه کښې تورو اُوښانو ته وائی۔ ځکه چه تور اُوښان زیړ والی ته مائل وی۔ او پدے باندے ئے د عربو استعمالات ذکر کړیدی۔
سوال دا دے چه بنګله خو د اُوښ نه غټه ده، نو بیرته ئے د سپرغئ تشبیه د اُوښ سره ځنګه ورکړه؟۔
جواب دا دے چه دا تشبیه ده په شر او په لزوم کښې ده۔
سپرغئ چه په سړی ولګی نو آلوزی او د اُوښانو طریقه دا ده چه یو سړی ته په قهر شی او په سړی وخیژی نو هغه کښې کینه او حسد زیات دے نو انسان بیا نهٔ پریدی، په خپو کښې ئے داسے پائیمال کوی چه بیخ ورله اُوباسی۔ نو دلته اشاره ده چه دا سپرغئ به د بنګلے په شان غټه وی، لیکن د اُوښ په شان به په انسان باندے غوبل کوی، او نهٔ به ترے اخوا کیږی ترڅو پورے ئے چه ورله بیخ نهٔ وی ویستلے۔
❁ یا د اُوښانو سره تشبیه پدے کښې ده چه اُوښان چه کله بے مهاره شی نو ګډوډ خوارهٔ وارهٔ شی نو دغه شان به دا بڅرکی هم هر طرفته خوارهٔ وارهٔ وی۔
❁ یا دا تشبیه په رنګ کښې ده، یعنی کله چه دا بڅرکی په انسان راپریوزی نو دا به داسے ښکاره کیږی لکه تور اُوښان۔ ځکه چه پدے بڅرکو کښې به د اُور تور رنګ راغلے

وی۔
او د رسـو سره تشبیه په اُوړدوالی کښې ده۔ چه دا بخرکی به داسې اُوږده وی لکه د رسیٔ په شان۔
هَذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ : پدې کښې بیا د آخرت تخویف دې، او مختلف قسمه هیبتونه ئې ذکر کړیدی۔ یعنی څوك چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول دروغژن ګڼړی هغوی دپاره به دا ورځ دومره سخته وی چه د ډیرې ویرې نه به د دوئ ژبې ګونګې شی، یوه خبره به هم د دوئ د خُلو نه نهٔ راوځی۔
مفسرین لیکی چه د قیامت په ورځ به میدانِ حشر والا د ګڼړو حالاتو نه تیریږی، په ځینو حالاتو کښې به دوئ خبرې کوی بلکه خپلو کښې به یو بل سره جګړې کوی، لکه د سورۂ الزمر په (۳۱) آیت کښې راغلی دی :
﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴾
(بیا تاسو به د قیامت په ورځ د خپل رب خواته یو بل سره جګړې کوئ)۔
او اَتباع او متبوعین به د یو بل سره جګړې کوی، او په بعضِ حالاتو کښې به هر نفس د خپل ځان د طرفنه جګړه او بحث کوی۔ ﴿ يَوْمَ تَأْتِيْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَفْسِهَا﴾
او کله به د یو بل نه تپوسونه کوی، او په بعضِ حالاتو کښې به د ډیرې ویرې نه د دوئ د ژبو نه یوه کلمه هم نهٔ راوځی، لکه چه دلته راغلی دی۔
او په ځینې حالاتو کښې به د الله تعالیٰ له اړخه د دوئ په خُلو باندې مهر ولګولې شی، لکه د سورتِ یسٓ په (٦٥) آیت کښې راغلی دی :
﴿ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰى أَفْوَاهِهِمْ ﴾
(نن به مونږ د دوئ په خُلو باندې مهر لګوو)۔
اودې دروغژن ګڼړونکو ته به په دې ورځ د عذر کولو اجازت ورنهٔ کړې شی، دې دپاره چه دوئ خپل عذر پیش کړی۔
د سورتِ نحل په (٨٤) آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی :
﴿ ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴾
(بیابه کافرانو ته (د عذر پیش کولو) اجازت ورنهٔ کړې شی، اونهٔ به د هغوئ نه د توبه کولو مطالبه کیږی)۔

فَیَعْتَذِرُوْنَ: دا عطف دے په (لَا یُؤْذَنُ) باندے، نو دلته نفی د دوه څیزونو ده، یو د اجازت ملاویدو، او بل د عذر پیش کولو۔

هٰذَا یَوْمُ الْفَصْلِ: دا بـل قسم تخویف دے، مخکښې ئے وویل چه په عذرونو سره نشی بـچ کیدے، او نۀ به ورته اجازه د عذر ورکړے شی، نو دلته فرمائی چه په حیلو او کیدونو سره هم نشی بچ کیدے، او دلته هم یُقَالُ (وبه وئیلے شی) پټ دے۔

الله به فرمائی : همدا د فیصلے هغه ورځ ده چه د هغې وعده تاسو سره کیدلے شوه، نن مونږ د محشر په میدان کښې تاسو او ستاسو غونته په تیره شوے زمانه کښې د آخرت ورځ دروغژن ګنړونکی راجمع کړی دی۔ کـه چرے خپل خلاصون دپاره څۀ چل ول جوړولے شئ نو زما د عذاب نه د ځانونو د بچ کولو دپاره ئے وکړئ۔

مفسرین لیکی چه د خبرو ددے انداز نه مقصد جهنمیانو له روحانی عذاب ورکول دی، چه دا د بدنی عذاب نه سخت وی، ګنے معلومه ده چه په دے ورځ به جهنمیان بے یار او مدد ګار وی، د دوئ په زړۀ او دماغو به د افسوس او نا امیدئ یوه درنه وریځه را خوره شوے وی، او د خپل نجات نه به په یقینی توګه نا امیده شوے وی۔

وَالْاَوَّلِیْنَ: **سوال** : وَالْآخَرِیْنَ ئے ولے ونۀ وئیل ؟

جواب : دلته خطاب آخری امت ته دے او اولین نه مراد مخکنی امتونه دی، یعنی اے موجوده امته ! مونږ تاسو لره هم راجمع کړئ او پخوانی امتونه هم۔ او ددے امت نه روستو بل امت نشته نو ځکه ئے آخرین ورسره ونۀ وئیل۔

وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُکَذِّبِیْنَ: پـه دے ورځ هلاکت اوبربادی ده هغه کافرانو لره چه هغوئ د خلقو راجمعه کول او د هغوی حساب کتاب نۀ منی۔

إِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلَالٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَاكِهَ مِمَّا
يقيناً متقيان به په سورو کښې او په چينو کښې وي۔ او ميوې د هغې نه
يَشْتَهُوْنَ ﴿٤٢﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْئًا بِمَا
چه د دوی ورته شوق کيږي۔ خورئ او څکئ په خوشحالئ سره په سبب د هغې عملونو
كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ
چه تاسو به کول۔ يقيناً مونږ دغسې بدله ورکوو ښائسته عمل کونکو ته۔ هلاکت
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٥﴾ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا إِنَّكُمْ
دې په دغه ورځ دپاره د تکذيب کونکو۔ خورئ او مزې واخلئ لږه زمانه يقيناً تاسو
مُّجْرِمُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيْلَ
مجرمان يئ۔ هلاکت دې په دغه ورځ دپاره د تکذيب کونکو۔ او کله چه وويلې شي
لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
دوی ته رکوع کوئ (نو) دوی رکوع نۀ کوی۔ هلاکت دې په دغه ورځ
لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٠﴾
دپاره د تکذيب کونکو۔ نو په کومه خبره به روستو ددې (قرآن) نه دوی ايمان راوړي۔

تفسير : اُوس د کافرانو د احوالو او د هغوی د انجام نه روستو د الله تعالیٰ نه د يريدونکو خلقو حال او بدله بيانوی۔

نو مخکښې ترهيب ذکر شو اُوس ترغيب ورکوی چه د مخکنو عذابونو نه د بچاؤ لاره اختيار کړئ، او د راتلونکی نعمتونو د حاصلولو کوشش وکړئ۔

الله تعالیٰ وفرمايل : کوم خلق چه د الله تعالیٰ د گرفت نه يريږي، فرائض اداء کوی، او گناهونو نه ډډه کوی، دوئ به د گنړو ونو په سورو کښې وی، او ددې ونو د مينځ نه به نهرونه روان وی، او دوئ چه د کومو ميوو شوق لری خپلې مخې ته به ئې مومی، او د دوئ د ډير عزت کولو دپاره به الله تعالیٰ دوئ ته اووائی چه تاسو په دنيا کښې د خپلو کړو

نیکو عملونو په بدله کښې خورئ څکئ، او د راحت او آرام ژوند تیروئ۔ مونږ د خپل رب نه یریدونکو او ایمان او نیك عمل والا ژوند تیرونکو له دغسې ښه بدله ورکوو۔

فِیْ ظِلٰلٍ: دا سوری د ونو او د بنګلو دی، او دا په مقابل د ظل د جهنم کښې دی۔

وَعُیُوْنٍ: دا ئې جمع راوړه څکه چه ددې چینو به ډیر انواع او اقسام وی لکه د جنت د نهرونو په شان۔

وَفَوَاكِهَ مِمَّا یَشْتَهُوْنَ: یعنی داسې میوې به وی چه کله ورته د دوی شوق وشی نو هغه به خپلې مخې ته حاضرې مومی۔ نو دا میوې د موسمو سره تعلق نۀ لری، بلکه هر قسمه میوې به هر وخت حاضرې وی۔

كُلُوْا: یعنی دوئ ته به د ملائکو یا د الله تعالیٰ د طرفنه وئیلې کیږی چه خورئ او څکئ۔

هَنِیْئًا: (په خوشحالئ سره) هنیء هغه خوراك او څکاك دې چه مبارك او د فائدو نه ډك وی، هیڅ مرض او عیب نۀ پیدا کوی۔ او دا صفت دې په ځای د مصدر قائم دې۔
اَیْ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِئْتُمْ هَنِیْئًا۔ (تفسیر ابن ابی زمنین والقرطبی)

(خورئ او څکئ مبارك دِې وی تاسو لره په مبارکئ سره) (یا تاسو دِې خوشحاله یئ په خوشحالئ سره)

او هنئ معنیٰ دا هم ده چه تاسو به نۀ مړه کیږئ څکه چه کوم شے همیشه نۀ وی یا انسان د هغې سره همیشوالے نۀ کوی نو هغه په مرئ کښې نۀ تیریږی نو هغه هنئ نۀ وی۔ (عکرمهؒ، قرطبیؒ)

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ: پدې تهکی کښې دعوت دې، چه دا هر څه د نیك عمل په بدله کښې ملاویږی۔

الْمُحْسِنِیْنَ: دا خلق متقیان هم دی، او محسنین هم، پدې کښې اشاره ده چه د جنت دپاره عمل سبب دې خو په شرط د احسان سره، او احسان دې ته وائی چه په عمل کښې اخلاص او اتباع د سنت وی۔

وَیْلٌ: یعنی دا نعمتونه خو به متقیانو ته ملاویږی لیکن په دې ورځ به هلاکت او بربادی وی هغه کافرانو لره چه هغوئ الله تعالیٰ، د هغۀ رسول، د هغۀ کتاب، او د آخرت ورځ او دا ښکلې نعمتونه دروغژن ګڼړی۔

كُلُوا وَتَمَتَّعُوا : د مکے مشرکانو ته د دهمکئ په توګه وئیلے کیږی چه اے مجرمانو! خورئ څکئ او یو څو ورځو دپاره بنۀ عیش عشرت وکړئ، ډیر زر به تاسو خپل انجام ته اورسیږئ۔ نو همدغسے وشوه چه د قریشو زیاتره مشران په بدر کښ اووژلے شو۔ او د قیامت په ورځ به د هغوئ استوګنه جهنم وی۔

قَلِيلًا: اَیْ زَمَانًا قَلِیْلًا ۔ لږه زمانه۔ څکه چه د دنیا ټول ژوند په نسبت د آخرت ډیر کم دے۔ یا صفت دے د تَمَتّع۔ یعنی لږے فائدے۔ څکه چه د دنیا خوندونه او مزے هم همیشه او په هر حالت کښ نۀ وی، دے سره هم ډیر مصیبتونه تړلے شویدی۔

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ : پدے کښ د مکے کافرانو ته بله رټنه ده۔

یعنی د مکے دے مجرمانو ته به چه ووئیلے شو چه تاسو حق دین قبول کړئ، الله تعالیٰ دپاره مونځ کوئ، او هغۀ دپاره خشوع او خضوع اختیار کړئ، نو د دوئ ښتونه به کاږۀ شول۔

❁ یا دا وینا به په آخرت کښ وی چه کله دوئ ته د سجدے حکم وکړے شی، نو دوئ به طاقت نۀ لری څکه چه دوی الله تعالیٰ ته په دنیا کښ سجده نۀ لګوله۔ (ابن عباس رضی الله عنهما) (نقله ابن جریرؒ) عموم غوره دے۔

ارْكَعُوا : د رکوع نه مراد مونځ دے، ذکر د جزء او مراد ترے نه کل، (اَیْ صَلُّوْا لِلّٰهِ لَا یُصَلُّوْنَ) یعنی کله چه دوی ته وئیل شی چه مونځ وکړئ په اخلاص سره، نو دوی مونځ نۀ کوی۔ (مجاهدؒ)

یا رکوع کښ معنیٰ د خشوع او خضوع وی، یعنی الله تعالیٰ ته او د هغۀ توحید ته غاړه کیږدئ او تکبر مۀ کوئ۔

او همدا د هغوی جرم وو چه د الله تعالیٰ توحید ته ئے غاړه نۀ کیخوده، او د هغه دپاره ئے په اخلاص سره مونځ او عبادتونه نۀ کول۔

نو پدے کښ هغه چا ته هم سخت وعید او زورنه ده چه کله هغۀ ته د مانځه حکم وکړے شی نو هغه مونځ نکوی۔

د امام مالك رحمه الله رائے دا وه چه د مازیګر مانځه نه روستو نفل مونځ نۀ کیږی، نو یوه ورځ مسجد ته د مازیګر نه روستو ننوتو نو کیناستو۔ یو ماشوم ورته ووئیل : مَالَكَ لَا تُصَلِّیْ؟ ۔ مونځ ولے نۀ کوے؟ هغه پاڅیدو دوه رکعاته ئے وکړل۔ چا ورته ووئیل

چه ستا خو دا رائے نهٔ وه، داسے دِے ولے وکړل؟ نو هغه وفرمایل :

زهٔ ددے آیت نه ویریدم چه ﴿وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا یَرْكَعُوْنَ﴾ چه کله دوی ته وویل شی رکوع وکړئ نو دوی رکوع نهٔ کوی۔ سلفو کښې ډیر کمال وو، د الله په کتاب پو هیدل هم او یریدل هم۔

ددے نه دا هم معلومه شوه چه چا د یو بے نیکئ دعوت درکړو نو هغه ورله ومنه۔

او پدے کښې د رکوع زیات اهتمام ته هم اشاره ده۔

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یو تن ولیدو چه په مانځه کښې ئے سمه رکوع نهٔ کوله، نو وے خندل، چا ترے تپوس وکړو، نو وے فرمایل چه ما دے سړی پورے وخندل چه هسے ځان کړوی او الله تعالیٰ ددهٔ مونځ نهٔ قبلوی۔ (ابن جریر الطبریؒ)

حذیفه رضی الله عنه یو تن ولیدو چه مونځ ئے کولو لیکن رکوع ئے سمه نهٔ کوله نو وے فرمایل : که دا سړے مړ شو نو دے به په هیڅ شی د طریقے د اسلام باندے مړ نشی۔

(الدر المنثور وابن جریر وعبد بن حُمید)

او قتادهؒ نه نقل دی : (عَلَیْكُمْ بِاِحْسَانِ الرُّكُوْعِ فَاِنَّ الصَّلَاةِ مِنَ اللّٰهِ بِمَكَانٍ) تاسو باندے د رکوع ښائسته کول لازم دی ځکه چه مونځ د الله په نیز لویه مرتبه لری۔

او د رکوع تخصیص ئے وکړو ځکه چه پدے کښې معنیٰ د خضوع او طاعت هم ده، او دارنګه دا د مسلمانانو د مانځه پورے خاص ده، ځکه چه اهل کتابو او مشرکانو په خپلو مونځونو کښې رکوع پریخودلے وه۔

او دا آیت دلیل دے چه کفار د شریعت په احکامو (فروعو) باندے مخاطب او مکلف دی۔

وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِیْنَ: مکذبینو دپاره ځکه هلاکت دے چه په قیامت کښې په اعمالو حساب کیږی، او د مکذبینو سره هیڅ رکوع (عبادات) او اعمال نشته۔ معلومه شوه چه رکوع او مونځ نهٔ کول د مکذبینو علامه ده۔

فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۢ بَعْدَهٗ یُؤْمِنُوْنَ: یعنی د قریشو کافران چه کله هغه قرآن دروغژن ګڼړی، چه د هغے د الله تعالیٰ د کتاب کیدو دلائل د روښانه ورځے پشان واضح دی، نو بیا به دوئ په کوم کتاب باندے ایمان راوړی۔ یعنی که دوئ په دے کتاب ایمان نهٔ راوړی نو د کفر او ګمراهئ په تیارو کښې به سرګردانه ګرځی، تردے پورے چه مرګ ورله راشی، او همیشه

دپاره جهنم ته اورسی۔ او د یو انسان دپاره ددے نه لویه بله کومه بد نصیبی کیدے شی چه دے په کفر باندے مړ شی، او مرګ نه پس ددهٔ ځای جهنم وی۔

حدیث: هغه خبرے چه نقل ئے کیدے شی او دا صفت په قرآن کښ هم شته ځکه ورته حدیث وئیلے شی۔ نو قرآن د الله تعالیٰ نه رانقل شوے خبرے دی۔

بَعْدَهُ: په دے کښ اشاره ده چه روستو د قرآن کریم نه وحی منقطع ده، د قرآن کریم نه روستو بل کوم کتاب د الله تعالیٰ کلام نشی کیدے۔

په یو ضعیف روایت کښ دلته دا راغلی دی چه پدے مقام کښ به (آمَنَّا بِاللّٰهِ) وئیلے شی۔ (ابو داود (۸۸۷) والترمذی (۳۳۴۷) : واسناده ضعیف فیه راو مجهول عند الاکثر وحسنه الحافظ ابن حجر فی نتائج الافکار (۲/۴۰) ومقدمة فتح الباری باکثر طرقه)

او احادیثو کښ د قرآن کریم آیتونو ته جوابونه ورکول نقل دی، (فَكَانُوْا اَحْسَنَ مَرْدُوْدًا مِنْكُمْ) لکه د سورت رحمن په تفسیر کښ هغه روایت ذکر شو۔

ددے وجه نه په نفل مونځونو او بهر د مانځه نه دا جواب ورکول پکار دی۔

وبالله التوفیق.

امتیازات د سورة المرسلات

۱- اثبات د آخرت په ناشنا انداز سره وشو۔ او د هغے دپاره ئے دلائل ذکر کړل۔

۲- د اثبات د آخرت دپاره ډیر قسمونه وشو۔

۳- او ویل للمکذبین پکښ لس کرته ذکر شو۔

٤- او د جهنم یو بل قسم تذکره پکښ وشوه چه د هغے سپرغئ د قصر سره او د جمالت صفر سره د هغے تشبیه ورکړے شوه۔

ختم شو تفسیر د سورتِ مرسلات په فضل د رحمن او رحیم په ورځ د خالی۔

۱٤ رمضان۔ وفرغت من التصحیح لیلة عید الاضحی۔ ساعت (۳۰ : ۱۰)



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آياتها (٤٠)	(٧٨) سُوۡرَةُ النَّبَاِ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (٢)

سورة النبأ مكي دے، په دے كښ څلويښت آيتونه او دوه ركوع دى

تفسير سورة النبأ

نوم : (١) دے تـه سـورة الـنبأ (٢) او سورة عَمَّ (٣) او سـورة الْـمُعْصِرَات .(٤) او سورة التَّسَاؤُل هم وئيلے كيږى۔

د نازليدو زمانه : دا سورت د ټولو په نيز مكى دے۔ ابن مردويهؒ او بيهقىؒ د ابن عباس ﷺ نـه نقل كړى دى چه [عَمَّ يَتَسَائَلُوْنَ] پـه مـكه كښ نازل شوے۔ ابن مردويهؒ د ابن زبير رضى الله عنهما نه هم دا روايت نقل كړے۔

مناسبت

١- مـخـكـښ سـورت كـښ ئے د يـوم الـفـصـل تـذكره وكړه، نو دلتـه ادله او اجتماعى نعمتونه بيانوى، يعنى دنيا شريكه ده، او آخرت كښ بيلتون دے۔ په دنيا كښ بارانونه، وريـځے او آسـمـانـونـه او زمـكـے او نمر او سپوږمئ شريك دى۔ غريب مالدار او كافر او مؤمـن تـرے يـو شان فائده اخلى۔ او په آخرت كښ به جدائى راځى ځكه چه د عملونو ترمينځ فرق دے۔

٢- هلته ئے ويل چه مكذبين هلاك دى، نو دلته يو نوع تشريح ذكر كوى ﴿اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادًا﴾ چه په جهنم سره به هلاك شى۔

٣- مـخـكـښ سورت كـښ د قيـامـت نـوم پـه يوم الفصل سره ذكر شو، نو دلتـه د مكذبينو او متقيانو په مينځ كښ فصل او فرق ذكر كوى په لسو لسو وجو سره۔

دا سـورتـونه ټول د انسانانو په راويښولو او هغوى ته د آخرت په يره وركولو روان دى۔

او په آخرت کښې دوه ډلې د متقیانو او د سرکشانو دی، چه دا په مختلفو تعبیراتو سره په راتلونکو سورتونو کښې ذکر کیږي۔

غالباً به همدا خبره وي چه نیك عمل وکړئ، او د بد عمل نه ځان وساتئ ځکه چه ستاسو مخې ته دوه درانهٔ کورونه (جنت او جهنم) راروان دی۔ د الله بغاوت مهٔ کوئ، د هغهٔ سره شریکان مهٔ جوړوئ، او دا لنډ لنډ بیانات دی او ډیر فائده مند دی۔

د سورت مقصد

(۱) اَلْاِنْذَارُ بِالْعَذَابِ الْقَرِيْبِ ۔ یعنی په نزدې عذاب باندې یره ورکول دا په دوه ځایونو کښې راغلې دې (كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ) او په آخر د سورت کښې (اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا)

بیا چونکه قرآن کریم کښې کمال وی نو ددې سره ئې دا خبره ملګرې کړېده چه اَلْبِشَارَةُ لِمَنْ يَّقْبَلُ الْاِنْذَارَ۔ یعنی زیرې ورکول هغه چا ته چه انذار (یره) قبلوي۔

یعنی څوك چه دنیا کښې یره قبلوي، نو هغه کښې به په دنیا کښې پرهیزګاري راشي، نو الله تعالیٰ به جنت ورکړي ﴿اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا﴾

ددې وجه نه د قیامت په باره کښې چه څوك تپوسونه کوي نو هغوی ته رټنه ورکوي، بیا دهمکي، او بیا فرمائي: چه دوی آخرت ولې نهٔ مني، د هغې د اثبات دلیلونه راوړي۔ تر (۱٦) آیت پورې۔ بیا د هغه ورځې هیبت بیانوي چه هغه ورځ الله تعالیٰ مقرر کړېده ضرور به راځي، او پدې طریقه به راځي۔

بیا په هغې کښې د انسانانو تقسیم چه یو طاغین او بل متقین دی، د طاغینو ځای جهنم او د متقیانو ځای جنت۔

په آخره کښې فرمائي چه ددې عذاب نه ویریږئ دا لرې نهٔ دې، بیا به کافران آرمان کوي نو تاسو ورته د اُوس نه تیاري وکړئ چه آرمانونه ونکړئ۔

۲- بعض مشائخ وائي: پدې سورت کښې د بعث بعد الموت منکرینو ته رټنه ده، او د هغې د اثبات دپاره دلیلونه ذکر دی، او د منکرینو او د متقیانو احوال بیان شویدی دپاره د تخویف او د بشارت۔ (احسن الکلام)۔

عَمَّ يَتَسَآءَ لُوْنَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيْمِ ﴿٢﴾ الَّذِىْ هُمْ
د څه په باره کښې دوی تپوسونه کوی۔ په باره د خبر لوئی کښې۔ هغه چه دوی
فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ﴿٣﴾ كَلَّا
په هغې کښې اختلاف کونکی دی۔ هیچرې اختلاف نهٔ دے پکار،
سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٥﴾
زر دے چه دوی به پوهه شی۔ بیا هیچرے داسے نهٔ ده پکار زر دے چه دوی به پوهه شی۔

تفسیر : امام شوکانیؒ د واحدیؒ په حواله د مفسرینو وینا نقل کړې، چه کله نبی کریم ﷺ را اولیږلے شو، د کافرانو سره ئے د الله تعالیٰ د توحید او د مرګ نه پس د دوباره ژوند خبره اوکړه، او ددے حقائقو په حقله ئے د قرآنی آیتونو تلاوت وکړو،

نو هغوئ خپلو کښې خبرے شروع کړے چه محمد د قیامت د کومے ورځے خبره کوی، او دا څنګه کلام پیش کوی؟! نو الله تعالیٰ ﴿عَمَّ يَتَسَائَلُوْنَ﴾ نازل کړو، او استفهامی طریقه د تعبیر ئے استعمال کړه، دے دپاره چه اول د مکے د مشرکانو ذهن د هغې خبرے اهمیت طرفته واړوی د کومے ذکر چه اُوس کیدونکے دے،

بیائے ووئیل : ﴿عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيْمِ﴾ یعنی د کوم بعث بعد الموت او قیامت په باره کښې چه دوئ خپلو کښې خبرے کوی، دا خو به ډیره لویه ورځ وی، او ددے خبر ډیر لوئے دے۔

(فتح البیان)

عَمَّ : دا په اصل کښې عَنْ مَا دے، نون په میم بدل شو ځکه چه دواړه قریب المخرج دی، او بیا ادغام وکړے شو او په آخر کښې الف د اختصار دپاره حذف شو۔ او دے دپاره چه فرق راشی په مینځ د مَا استفهامیه او خبریه کښې۔

يَتَسَاءلُوْنَ : تَسَاؤُل باب تفاعل دے، د یو بل نه تپوسونو کولو ته وئیلے شی، او کله د خلقو خپل مینځ کښې نفس خبرو اترو دپاره استعمالیږی اګرکه تپوس پکښې نهٔ وی۔ (قاله الفراءٓ)۔ او دلته د همدے دواړو معنو دپاره استعمال دے۔

یعنی خپل مینځ کښې ئے د تعجب په طریقه وئیل چه محمد څه راوړیدی؟ او څه

خبرے کوی"!- دارنګه د رسول الله ﷺ نه به ئے تپوس کولو په طریقه د انکار او استهزاء سره چه قیامت به کله راځی-

يَتَسَاءَلُوْنَ کښ ضمیر کافرانو سرکشانو ته راجع دے-

عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيْمِ : ددے نه څه مراد دے ؟ :

(۱) مجاهدؒ وغیره د [نَبَأ عَظِيم] نه مراد قرآن کریم اخستے دے، او په دے باندے ئے دریم آیت ﴿ اَلَّذِيْنَ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ﴾ نه استدلال کړے، دوئ وائی چه د مکے مشرکانو د اسلام په شروع کښ د قرآن کریم په باره کښ اختلاف کړے وو، چا دیته جادو، چا شعر، چا کهانت، او چا دیته د مخکنو قومونو قیصے وئیلے وے- په دغه ورځو کښ خو د (بعث بعد الموت) په انکار باندے تمام کافران متفق وو-

شوکانیؒ لیکی چه د [نبأ عظیم] نه مراد د قرآن کریم کیدو دلیل د سورتِ صٓ (۶۷/۶۸) آیتونه دی چه په دے کښ قرآن کریم ته [نبأ عظیم] وئیلے شوے-

(۲) دویمه رائے دا ده چه د [نبأ عظیم] نه مراد (بعث بعد الموت) دے، دوئ وائی چه مړی دوباره ژوندی کیدل هغه خبره وه چه د هغے نه مشرکانو انکار کولو، چه دا د دوئ جاهلانه عقل نهٔ قبلولو- دارنګه یهودو او نصاراؤ د بعث بعد الموت په طریقه کښ اختلاف کولو، او د عربو د کافرانو نه بعضِ خلقو ددے نه بیخی انکار کولو، او ځینو ته په دے کښ شك وو- او همدا قول ددے مقام سره زیات مناسب دے-

(۳) دریمه رائے داده چه د مرګ نه پس د دوباره ژوندون په باره کښ تپوس کونکی مومنان او کافران ټول وو، مومنانو به د نبی کریم ﷺ نه د زیاتی دینی بصیرت او یقین حاصلولو دپاره سوال کولو، او کافرانو به د نبی کریم ﷺ او قرآن پورے د خندا کولو دپاره تپوس کولو چه د مرګ نه پس هغه ژوندون چه د هغے تاسو خبره کوئ آخر هغه به کله وی ؟! (فتح القدير وفتح البيان)

مګر دا قول د روستو سیاق سره سمون نهٔ خوری-

مُخْتَلِفُوْنَ: د اختلاف ډیر شکلونه دی : (۱) یو دا چه څوك ئے تصدیق کوی، منی چه قیامت به راځی، او دا خلق مؤمنان دی، او بعض تکذیب کونکی دی، او دا کفار دی-

(۲) دویم د اختلاف نه مراد آوړیدل دی، یعنی لوی خبر دے او دوی ترے اختلاف کوی او ددے نه اوړی بلکه دے سره خو اتفاق پکار وو او ددے دپاره تیارے پکار وو-

(۳) دریم: څوك وائي چه د ارواحو بعث به کیږي، او څوك وائي: بعث به د لږ وخت دپاره وي۔

كَلَّا سَيَعْلَمُونَ: دا ردع ده د تساؤل نه۔ یعني د قیامت په باره کښ تپوسونه او انکار نهٔ دے پکار۔

او دویم كَلَّا سره ردع ده د اختلاف نه۔ او سَيَعْلَمُونَ ئے مکرر کړیدے، پدے کښ د عذابونو ډیر والي ته اشاره ده۔

❁ یا اول اشاره ده دنیاوي عذاب ته، او دویم اشاره ده اُخروي عذاب ته۔

دارنګه دا هم صحیح ده چه كَلَّا په معنیٰ د حَقًّا سره شي، یعني د قیامت راتلل یقیني او حقیقي دي۔

او دا دلیل دے چه دا اختلاف کونکي د قیامت په باره کښ کافران وو نو څکه هغوی ته سخته دهمکي بیان شویده چه زر دے چه دوئ ته به د خپل انجام معلوم شي۔

کله چه ددوی روحونه د دوی د بدنونو نه د مرګ په وخت وځي، نو بیا به ئے یقین راشي چه قیامت او توحید او رسالت د رسول الله ﷺ حق وو۔

او کله چه د خپلو قبرونو نه ژوندي شي، او را پورته کړے شي او جهنم طرفته لیږلے کیږي نو دوئ ته به د خپل کفر او انکار نتیجه ډیره ښه معلومه شي۔

او کومو مفسرینو (ضحاكؒ) چه اول سَيَعْلَمُونَ د کافرانو، او دویم د مؤمنانو سره لګولے دے چه دوئ ته به د خپل تصدیق انجام معلوم شي۔ نو دا خبره ضعیفه ده څکه چه دا الفاظ د دهمکئ دي، او الله تعالی مؤمنانو ته دهمکي نهٔ ورکوي۔

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾ وَّالْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾
آیا نهٔ ده ګرځولے مونږ زمکه فرش (خوره)۔ او غرونه میخونه۔
وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾
او پیدا کړي یئ مونږ تاسو جوړئ۔ او ګرځولے دے مونږ خوب ستاسو آرام۔
وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾
او ګرځولے ده مونږ شپه جامه۔ او ګرځولے ده مونږ ورځ وخت د ګټلو د رزق۔ (وخت

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿۱۲﴾
د تیرولو د ژوند)۔ او جوړ کړیدی مونږ دپاسه ستاسو اُوه (آسمانونه) مضبوط۔
وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿۱۳﴾
او گرځولے دے مونږ چراغ پړقیدونکے (بلیدونکے)۔ (ډیره رنړا کونکے)

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ لس دلیلونه ذکر کوی دپاره د اثبات د قیامت، او دا نعمتونه هم دی، او د الله تعالیٰ د معرفت، د هغهٔ د توحید، د هغهٔ د قدرت او علم او رحمت د راښکاره کیدو ځایونه هم دی چه په دے کښې غور او فکر کول د الله تعالیٰ په وحدانیت او د مرگ نه پس د دوباره ژوند په عقیده باندے د ایمان راوړو دعوت ورکوی۔

او دا ادله د اجتماعیت دی چه ټول انسانان ترے فائده اخلی، لیکن د عملونو په وجه به د دوی جدائی راځی۔

الله تعالیٰ وفرمایل : اے خلقو! آیا مونږ زمکه تاسو دپاره فرش نهٔ ده جوړه کړے، چه په دے باندے تاسو پټی کرئ، آرام سره ژوند تیروئ، او په دے کښې په موجود لارو باندے ځئ، او لرے او نزدے سفر کوئ۔ او آیا مونږ غرونه د زمکے دپاره میخونه نهٔ دی جوړ کړی، دے دپاره چه په دے کښې حرکت پیدا نشی، او تاسو په دے باندے راحت او سکون سره ژوند تیر کړئ۔ د زمکے د ثابت ساتلو دپاره د غرونو حیثیت هغه دے څنگه چه د خیمو دپاره د لرگو دے، لکه څنگه چه لرگی دا هر طرفته راښکلے ساتی، دغه شان غرونه د زمکے کنارے راښکلے ساتی، گنے زمکه په خپلو داخلی مادو کښې د جوش او خروش د وجے نه هر وخت خوزیدونکی اوسی، او مخلوق په دے باندے ژوند نشی تیرولے۔

أَلَمْ: پدے استفهام کښې مطلب دا دے چه پدے راتلونکی کارونو باندے زمونږ قدرت لوی دے د زمونږ قدرت نه په دوباره ژوندی کولو باندے، نو بیا ستاسو د انکار څه وجه کیدے شی؟، ځکه چه دا خبره ثابته شویده چه ټول اجسام په قبلولو د صفاتو او اعراضو کښې یو شان وی۔ (فتح البیان)

مِهَادًا: فرش او بسترے ته وائی۔ دا د مَهْد نه دے تیارئ ته، او د ماشوم زانگو ته وائی

چه د هغهٔ د خوب او آرام دپاره تیارولے شي۔

نو معنیٰ دا ده: ((تیاره کړے شوے دپاره د آرام))۔

أَوْتَادًا: جمع د وتد ده، میخ ته وائي۔ یعني لکه څنګه چه په میخ سره خیمه مضبوطیږي، او د خوزیدو نه محفوظه کیږي نو دغه شان غرونه د زمکے دپاره دي۔

او لکه څنګه چه د میخ څه حصه ښکاره وي او څه بهر وي، نو دغه شان غرونه هم دي چه څهٔ حصه ئے په زمکه کښې ننوتے ده او څه بهر ده۔

دا دلائل هم دا خبره راښکاره کوي چه مخکښې تساؤل د خلقو د بعث بعد الموت (د قیامت) په باره کښې دے، نهٔ د قرآن په باره کښې ځکه چه دا استدلال د قرآن دپاره نهٔ صحیح کیږي۔

وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجاً: دا دریم انعام دے۔ او مونږ تاسو مذکر او مونث پیدا کړیٔ یئ، دے دپاره چه ستاسو ترمینځه اُنس او محبت پیدا شي، او دے دپاره چه د ژوند مسائل حل کولو او د انساني نسل د زیاتولو او ددے په تعلیم او تربیت کښې تاسو یو بل سره تعاون وکړئ۔ انساني پیدائش او ددے مذکر او مونث کیدل د الله تعالیٰ د قدرت، د هغهٔ د علم، او د هغهٔ د حکمت او رحمت د راښکاره کیدو ځایونه دي۔

أَزْوَاجاً: د ازواج نه مختلف قسمونه، او مختلف شکلونه هم مراد کیدے شي۔

وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتاً: او مونږ ستاسو خوب ستاسو د راحت او سکون سبب جوړ کړے۔ که چرے خوب نهٔ راتلے نو د انسان بدن به ستړے شوے او ژو ژو شوے وے، ددهٔ سکون به ختم شوے، او دا به لیونے شوے وے۔

خوب د الله تعالیٰ رحمت دے چه ددے په ذریعه د انسان ضائع شوے طاقت دهٔ ته واپس راځي، او دا تازه دَم شي، او دوباره د ژوند په کاروبار او عبادت کښې سرګرم شي۔

سُبَاتًا: سبت په اصل کښې قطع کولو ته وئیلے شي، خوب ته ئے سبات ددے وجه نه وئیلے دے چه د کارونو او د شغل نه قطع کول کوي۔

او بعض وائي چه سبت اُوږدوالي ته وائي، او ددے نه مراد راحت دے او په وخت د راحت کولو کښې انسان خپے اُوږدوي۔ او خوب پدے وجه نعمت دے چه انسان کله راحت وکړي نو انسان په کارونو او په عبادت باندے طاقت مونده کوي۔

او په جنت کښې کارونه او ستړے والے نشته نو هلته خوب هم نشته۔ نو معنیٰ دا ده:

(خوب قطع کونکے ستاسو سترې والی لره او ستاسو مصیبتونو او تکلیفونو لره)

وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاساً : او مونږ شپه ستاسو دپاره لباس جوړه کړے، لکه څنګه چه لباس د انسان جسم پټوی، دغه شان د شپے تیارۀ دا پټوی، او دۀ ته راحت او سکون رسوی۔ نو سعید بن جبیرؒ چه ددے معنیٰ په سکن (آرام) سره کړیده نو هغه حاصل ترجمه ده۔

وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشاً : ((اومونږ ورځ د معاش تالاش کولو وخت جوړ کړے))۔

معاش په معنیٰ د معیشة دے، او مضاف پټ دے، یعنی وخت د معاش۔ او معاش هغه شی ته هم وائی چه انسان په هغے سره ژوند تیروی۔

یعنی الله تعالیٰ ورځ دوی لره روښانه کړیده دے دپاره چه پدے کښې د خپل معاش او اسباب د ژوند، زراعت، تجارت باندے مشغول شی، او رزقونه طلب کړی۔

وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعاً شِدَاداً: او مونږ ستاسو دپاسه اووۀ آسمانونه جوړ کړی دی، اُوسه پورے په دے کښې هیڅ سورے یا چود پیدا نشو۔ هم هغه شان دی او وی به، تردے چه کله قیامت راشی نو هغه به د الله تعالیٰ په حکم زوال قبول کړی۔

شِدَاداً: یعنی قَوِيَّةَ الْخَلْقِ مُحْكَمَةَ الْبِنَاءِ۔

یعنی قوی پیدائش والا مضبوط جوړخ والا۔ او دا دلیل دے چه آسمانونه مضبوط اجسام دی، او هسے هواګانے نۀ دی۔

وَجَعَلْنَا سِرَاجاً وَهَّاجاً: او مونږ نمر پیدا کړے چه دا دنیا والو له رڼرا ورکوی، او په دے کښې دهوپ او ګرمائش دے چه ددے په وجه میوے پخیږی او نورے فائدے حاصلیږی۔

سراج ډیوے ته وائی مراد ترے رڼرا کونکے دے۔

وَهَّاجاً : (اَیْ وَقَّادًا) ډیره رڼرا کونکے/ډیر پرقیدونکے چه نظر ورته نۀ شی کیدے، او دلته ئے سپوږمۍ ذکر نکړه ځکه چه د نمر رڼرا ډیره هم ده، او فائدے ئے هم ډیرے دی نو د هغے ذکر ته ضرورت رانغلو۔

وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِنُخْرِجَ
او رالیږلې دي مونږ د وريځو نه اوبه ډيرې بهيدونکې۔ دې دپاره چه را اوباسو مونږ
بِهِ حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾ إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ
پدې سره دانې او ګياه۔ او باغونه ګڼ۔ يقيناً ورځ د فيصلې دې
مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَتَأْتُوْنَ
وخت مقرر۔ په هغه ورځ چه پوکے به اوکړے شي په شپيلۍ کښې نو راځئ به تاسو
أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ
ډلې ډلې۔ او کولاؤ به کړے شي آسمان نو شي به دروازې۔ او روان به کړے شي
الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾
غرونه نو شي به پشان د پړق د شګې (شګو ګل)۔

تفسير : نهم انعام : او مونږ د وريځو نه شيپے شيپے باران را اُوره وو، دے دپاره چه ددے په ذريعه غنم، جوار، باجره، وريژے او نورے دانے را اوباسو چه هغه انسانان خوري، او هغه بوټي را اوباسو چه هغه د دوئ مالونه خوري، او ګنړے وُنے مو پيدا کړي دي چه د هغې بناخونه خپلو کښې نښتي وي، او ددے نه مختلف قِسم ميوے پيدا کيږي۔

اَلْمُعْصِرَاتِ : (١) هغه هواګانے چه وريځے نچوړوي او باران ترينه راوباسي (مجاهدؒ، مقاتلؒ، قتادهؒ، کلبيؒ)

(٢) يا هغه وريځے چه باران وريدو ته نزدے وي ليکن باران ترينه لا وريدلے نۀ وي۔ (سفيانؒ، ربيعؒ، ابو العاليهؒ، ضحاكؒ) (يعني باراني وريځے)

ثَجَّاجًا : د ثَجٌّ نه دے ډير بهيدو ته وائي۔ لازم او متعدي دواړه استعماليږي۔ لکه حديث کښې دي : [اَىُّ الْحَجِّ اَفْضَلُ ؟ قَالَ اَلْعَجُّ وَالثَّجُّ] عج هغه دے چه تلبيه پکښې زياته ووئيلے شي، او ثج چه ډيره وينه پکښې تويه کړے شي۔ (قرباني وکړے شي)

(ترمذي في الحج باب ١٤، (٨٢٧) وتفسير سورة ٣، باب٦) وغيره) واسناده صحيح)

لِنُخْرِجَ بِهِ : دا لسم انعام دے۔ او دا متعلق دے په اَنْزَلْنَا پورے، او پدے کښې د باران فائده

ذکر ده.

حَبًّا: دانې، غلې، او نبات نه مراد گیاه گانې، واخه او ساگونه او ونې او بوټې وغیره.

وَجَنَّاتٍ أَلْفَافاً: ای مُلْتَفَّةٌ یعنی باغونه گنړ/ راتاو کړے شوی). الفاف هغه ونې چه یو بل سره نزدې وی، او څانگې ئې هم ډیرې وی، نو یو بل کښې ننوتې وی، او ددې مفرد نشته، لکه اَوْزَاعٌ او اَخْيَافٌ، یا ددې مفرد لُفٌّ یا لِفٌّ دے، اصل کښې راتاوولو ته وئیلې شی.

ابوعبيدهؒ وائی: ددې مفرد لَفِيفٌ دے. لکه شَرِيْفٌ او اَشْرَافٌ.

دا تمام څیزونه دلیل دے چه ددې پیدا کونکے یو داسې قدرت والا دے چه د هغهٔ نه لوئې د بل هیڅ قدرت نشته، او داسې پوهه دے چه د هغهٔ علم هر شئ لره راگیر کړے، او داسې حکیم دِے چه د هغهٔ هیڅ یو کار د حکمت نه خالی نهٔ دے، او داسې رحیم دے چه د هغهٔ رحمت د هغهٔ تمام مخلوق ته شامل دے، کوم الله چه د داسې قدرت، د داسې علم، او د داسې حکمت او رحمت والا دے، د هغهٔ په باره کښې د آخرت نه منکر ناپوهه خلق څنگه گمان کوی چه هغه به انسانان دوباره پیدا نهٔ کړی، او هغوئ ته به د هغوئ د ښو او بدو عملونو بدله ورنهٔ کړی، دا څنگه نامعقوله خبره ده چه ظالمان او مجرمان په دے دنیا کښې سرگردانه گرځی، څهٔ چه غواړی کوی دے، او بل کوم ژوند دِے نهٔ وی چرته چه دوئ له د دوئ د کړو بدله ملاؤ شی.

یقینًا بل ژوند شته دے، چه په هغې کښې به د انسانانو خالق او مالك دوئ سره حساب کوی، او دوئ له به جزاء او سزا ورکوی.

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ: ربط :

مخکښې د دوباره ژوند په اثبات د الله تعالیٰ د قدرت دلیلونه ذکر شو نو اُوس په دے آیتونو کښې په کائناتو کښې واقع کیدونکی هغه حادثات او انقلابات ذکر کړی دی چه هغه به د قیامت د قائمیدو په وخت رابنکاره کیږی.

دارنگه د هغه انسانانو انجام ئې بیان کړے چه هغوئ په دنیا کښې د خپل رب نه سرکشی کړے وه.

په بل تعبیر: مخکښې د اثبات دلائل وو نو اُوس تخویف اُخروی دے په ذکر د هیبتونو د ورځ د قیامت او په ذکر د احوالو د جهنم سره.

يَوْمَ الْفَصْلِ : قیامت ته ئے د فیصلے ورځ ووئیله ځکه چه دغه مخکنی نعمتونه مشترك وو، او د قیامت په ورځ به د دوی ترمینځ د عملونو په اعتبار سره جدائی راشي۔ فرمائی چه د مخلوق ترمینځه د فیصلے ورځ، د الله له اړخه تهولو دپاره مقرر ده، په دے ورځ به د الله تعالیٰ د وعدے مطابق تهول د خپلو عملونو ثواب او عذاب بیاموهی۔

دا هغه ورځ ده چه کله اسرافیل علیه السلام دویمه شپیلۍ اوپوکی، نو تمام روحونه به په خپلو جسمونو کښې واپس شي، او خلق به د محشر میدان طرفته د جماعتونو او تهولګو په شکل کښې منډے وهی۔ او آسمان به اوشلیږی او داسے ټکړے ټکړے به شي چه په دے کښې به بے شماره دروازے جوړے شي، او غرونه به د خپلو ځایونو نه اووځی او ریزه ریزه به شی، او په هواء کښې به د ګرد او غبار پشان خوارهٔ شی، چه ددے په لیدلو سره به خلق دا تصور وکړی چه دا شګو ګل دے۔

كَانَ : یعنی په تقدیر او په علم د الله تعالیٰ کښې وو۔

مِيقَاتًا : مقرر کړے شوے وخت دپاره د ثواب او عذاب، او دپاره د انتهاء (ختمیدو) د دنیا۔

يُنفَخُ فِي الصُّورِ : ددے نه مراد دویمه شپیلۍ ده۔

أَفْوَاجًا : اَیْ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ لِلْحِسَابِ ۔ یعنی تاسو به راځئ ډلے ډلے د هر ځای نه د حساب کتاب دپاره۔

او هره ډله به د خپل امام سره رارونه وی لکه سورة اسراء (۷۱) آیت کښې ذکر دی۔ او دا ډلے به مختلفے وی په اعتبار د اختلاف د عقائدو او د اعمالو د دوی۔

او یو روایت کښې دی : چه سود خوارهٔ به په یو طرف روان وی، او زناکار به په بل طرف وی، او مشرکان به په بل وی، او قاتلان به په بل۔ دلته مفسرینو پدے معنیٰ باندے یو روایت نقل کړیدے۔

أَبْوَابًا : یعنی آسمانونه به وچوی او ډیرے دروازے به شي۔ یعنی هر ځای به ئے مات شی صرف غارے به ئے پاتے وی۔ یا حرف تشبیه پټ دے (اَیْ كَالْاَبْوَابِ) چاودنه به ئے داسے په آسانئ او جلتئ سره وشی لکه د دروازے د کولاویدو په شان۔ او مقصد ئے دا دے : (تَنْحَلُّ وَتَتَنَاثَرُ) یعنی دا به کولاو شي او راویه دوړیږی۔

سَرَابًا : دا هم په تشبیه سره دے، یعنی كَالسَّرَابِ ۔ لکه سراب (پیرانو تنور/شګو ګل)

چه په سترګو باندې اُوبه ښکاره کیږي لیکن په حقیقت کښې هیڅ نۀ وي، دغه شان غرونه به ظاهر کښې غرونه ښکاره کیږي خو په مینځ کښې به غرونه نۀ وي بلکه ګنړ غبار به وي۔ (قاسميؒ)

یعنی هَبَاءً مُّنۢبَثًّا ۔ هسې خور وورغبار به ترې جوړ شي، لیکن انسان ته به داسې ښکاره کیږي لکه د سراب په شان۔

امام رازيؒ په خپل تفسیر کبیر کښې او صاحب د فتح البیان د غرونو هغه احوال چه په وخت د فناء کیدو د عالم کښې به وي په ترتیب سره داسې راوړي دي، اول اِنْدِکَاك (ټکیدل) لکه په سورة الحاقه (١٤) آیت کښې،

دویم په شان د رنګینې وړئ لکه په سورة القارعه (٥) آیت کښې، او دریم په شان د دوړې/ ګرد او غبار لکه په سورة الواقعه (٦) آیت کښې، څلورم نسف (آلوزول) لکه په سورة طٰه (١٠٥) آیت کښې، پنځم په شان د سراب جوړیدل لکه پدې آیت کښې دي۔

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ
یقیناً جهنم ځائې د انتظار دې۔ دپاره د سرکشانو ځائې د ورتللو دې۔ وخت تیرونکی
فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾
به وي په هغې کښې ډیرې زمانې۔ نۀ به څکي په هغې کښې یخني او نۀ د څکلو څیز۔
إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ
مګر خوټ کیدلې اُوبه او وینې زوې۔ بدله ده برابره (د عمل د دوی سره)۔ یقیناً دوی
كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا
وو چه امید ئې نۀ لرلو د حساب۔ او دروغژن ئې ګنړلي دي آیتونه زمونږ
كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا
په دروغژن ګنړلو۔ او هر شې مونږ راګیر کړیدې هغه په لیکلو کښې۔ پس اُوڅکئ
فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾
(عذاب) پس نۀ زیاتوو مونږ تاسو لره مګر عذاب۔

تفسیر : **إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَاداً** : اُوس د آخرت تخویف دے په ذکر د لسو احوالو د جهنم سره۔ اول د کافرانو حال بیانوی څکه چه پدے سورت کښې دهمکی زیاته ده۔

په دے ورځ به الله تعالیٰ د مخلوق ترمینځه فیصله کوی، او د جهنم اُور به تیز کړے شی چه دا به د سرکشانو په سخت انتظار کښې وی، او دا به د دوئ استوګنه جوړیږی، او په دے کښې به دوئ همیشه اوسیږی۔ کله چه یوه زمانه تیره شی نو بله زمانه به شروع شی، او د دوئ عذاب به هیڅ کله نهٔ ختمیږی۔

واحدیؒ د حسن بصریؒ نه د ﴿ أَحْقَابًا ﴾ همدا تفسیر نقل کړے۔

مِرْصَاداً : (۱) صیغه د ظرف ده یعنی ځای د انتظار او د څوکئ (څوکیدارئ) یعنی مورچه۔ چه د جهنم ملائك د کافرانو په جهنم کښې انتظار کوی چه کله به راځی چه دوی ته پکښې عذاب ورکړی۔ یا په پل صراط باندے انتظار کوی۔

دلته ئې حاصل تفسیر دا دے: (طَرِيْقًا وَمَمَرًّا) یعنی لاره ده۔ (حَتّٰى لَا يَدْخُلَ الْجَنَّةَ اَحَدٌ اِلَّا وَهُوَ يَمُرُّ عَلَيْهَا) تردے چه جنت ته به هیڅوك نشی داخلیدے مگر پدے لاره به ورتیریږی۔

(۲) یا مصدر مبنی للمفعول دے، یعنی تیار کړے شویدے دپاره د عذاب۔

(۳) یا مرصاد صیغه د مبالغے ده لکه د مِعْطَار او مِعْمَار په شان، (یعنی ډیر انتظار کونکے) یعنی جهنم به خپله د کافرانو ډیر انتظار کوی۔ (او سخت به ورته په غضب وی)۔

لِلْطَّاغِيْنَ : د طغیان نه دے یعنی هر هغه څوك چه د شرعی حدودو نه په عقیده او عمل کښې تجاوز کوی، نو هغه طاغی دے، نو دا هر مشرك، کافر، منافق او فاسق ته شامل دے۔

مَآبًا : اَیْ مَوْضِعَ الرُّجُوْعِ ۔ یعنی ځای د واپسئ دے۔ آبَ يَؤُوْبُ په معنیٰ د رجوع سره دے۔ او دا په ترکیب کښې بدل دے د مِرْصَاداً نه۔ یعنی دا مرصاد څه شے دے؟ دا د سرکشانو دپاره ځای د واپسئ دے۔

لَابِثِيْنَ فِيْهَا أَحْقَاباً: احقاب جمع د حُقُب ده، یوے پیړئ ته وئیلے شی۔

مفسرین وائی چه دا اتیا کاله دی، او هر کال درے سوه شپیته ورځے دے، او یوه ورځ د

دنیا د زرو کالو سره برابره ده. صحیح دا ده چه ددے هیڅ مقدار نهٔ دے معلوم. نو ددے معنیٰ ده (دُهُوْرٌ لَا نِهَايَةَ لَهَا) یعنی داسے زمانے به وی چه د هغے هیڅ انتهاء نهٔ ده معلومه. نو دا کنایه ده د همیشوالی نه. لکه د حسن بصریؒ قول کښې ذکر شو.

یا دلته معنیٰ دا ده چه ترڅو پورے زمانه وی نو جهنمیان به په اُور کښې وی، او زمانه نهٔ منقطع کیږی، نو دغه شان د دوئ عذاب به هم نهٔ ختمیږی.

فائده : بعض اهل علمو ددے نه دلیل نیولے دے چه جهنم باندے به یو داسے وخت راځی چه هغه به فناء کیږی. لیکن دا قول د هغوی یو لغزش دے ځکه چه یو خو د حقب اندازه په صحیح مرفوع حدیث کښې نهٔ ده ثابته.

دویم دا چه ددے په تعیین کښې متعارض اقوال دی چه یو طرفته هم ترجیح بغیر د دلیل نه نشی ورکولے.

دریم دا چه دلته د جمهورو مفسرینو په نیز د اَحقاب نه مراد هغه زمانے دی چه د هغے هیڅ انتهاء نهٔ ده معلومه. لکه دا په محاوره کښې وئیلے کیږی چه (فلانے به په مودو مودو دا کار ونکړی). یعنی هیڅکله ئے نهٔ کوی.

څلورم دا چه دا قول د صریحو نصوصو خلاف دے لکه خَالِدِيْنَ فِيْهَا اَبَدًا - وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيْمٌ. او دا قانون دے چه خلود د مکین (وسیدونکی) د مکان په خلود باندے دلیل وی.

او ظاهر د آیتونو او د حدیثونو همیشوالے د جهنم او د جنت دے. او ددے فناء په هیڅ صحیح مرفوع حدیث کښې نهٔ ده راغلے.

لَا يَذُوْقُوْنَ : یعنی هلته به دوئ ته هیڅ یو داسے یخ شے نهٔ ملاویږی چه هغه د اُور ګرمی کمه کړی، او نهٔ به کوم داسے شے د څکلو دپاره ملاویږی چه هغه د دوئ تنده ماته کړی، دوئ له به د څکلو دپاره سختے ګرمے اُوبهٔ او د جهنمیانو د جسمونو نَوونه ملاویږی. دوئ په دنیا کښې چه کوم جرمونه او بد اعمال کړی وو، د هغے به دوئ ته پوره پوره بدله ورکړے کیږی، الله تعالیٰ به په دوئ ظلم نهٔ کوی، بلکه دوئ خپله په خپل حق کښې ظالمان وو.

اِلَّا حَمِيْمًا وَّغَسَّاقًا : اول د برد نه استثناء ده، او دویم د شراب نه، او استثناء منقطع ده. او د غساق تفسیر په سورة ص کښې ذکر شویدے.

جَزَاءً : دا مصدر دے فعل ئے پټ دے (اَیْ يُجْزَوْنَ جَزَاءً) دوی له به بدله ورکولے شی

بدله برابره د دوئ د عملونو سره۔

وِفَاقاً: يعني شرك غټه گناه وه نو دا عذاب هم غټ دے۔ دويم د دوی عملونه هم گنده وو، نو عذاب ئے هم گنده دے، او مشركان هم گنده دی۔

إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ: اُوس د جهنم د داخليدو اسباب بيانوی او دا ددے دپاره بيانوی چه څوك دا وهم ونكړی چه الله تعالىٰ به په دوی ظلم كړے وی چه جهنم ته ئے داخلوی، نو الله تعالىٰ وفرمايل: دوئ په خپلو ځانونو باندے په دے طريقه ظلم كړے وو چه يو خو دوی طاغين وو (لِلطَّاغِينَ).

او بله دا چه دوئ په آخرت باندے يقين نهٔ لرلو، د دوئ دا گمان وو چه د حساب او جزاء او سزا هيڅ ورځ راتلونكے نهٔ ده، دے وجے نه دوئ په آخرت كښې نجات موندو دپاره د خير هيڅ يو كار نهٔ دے كړے۔

دارنگه زمونږ آيتونه ئے دروغژن وگنړل، او زمونړه انبياؤ چه كوم نبيے دوئ ته راوړے وے د هغے نه ئے انكار وكړو، ليكن مونږ د دوئ ټول غټ او واړهٔ گناهونه ريكارډ كړی دی۔ دے وجے نه مجرمان دِے نن دا گمان نهٔ كوی چه مونږ په دوئ باندے ظلم كوو، او دوئ له د ناكړو گناهونو سزا وركوو۔ مونږ خو يوه يوه ذره ليكلے ده۔

د سورة الكهف په (٤٩) آيت كښې الله تعالىٰ فرمايلی دی:

﴿ وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَّلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وَّلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴾

(او عملنامے به مخے ته كيښودلے شی، نوتهٔ به وينے چه گنهگار به ددے د ليكلو نه يريږی، او وائی به چه هائے زمونږه بربادئ، دا څنگه عملنامه ده چه دے هيڅ يوه وړه يا غټه د راگيرولو نه بغير نهٔ ده پريښے، او څهٔ چه دوئ كړی وو هغه ټول به بياموmی، او ستا رب په هيچا ظلم نهٔ كوی)۔

لَا يَرْجُونَ: رجاء عقيده ساتل او ويره كول او اميد ساتل دی۔ او اميد نه مراد دلته يقين دے۔ او په رجاء سره ئے تعبير وكړو دپاره د زيات تاكيد۔ يعنی يقين خو په ځای پريږده چه د دوی په خيال كښې هم دا نهٔ راتلله چه د حساب كتاب يوه ورځ راروانه ده۔

كِذَّاباً: دا مصدر دے، او د مبالغے دپاره استعماليږی۔ يعنی لوی تكذيب ئے كړيدے۔

بِآيَاتِنَا: (١) آيتونه مَتْلُوّه (د كتاب الله)

(۲) او دلیلونه د توحید او د بعث بعد الموت۔
وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا: دا جمله معترضه ده، پدے کښ جواب د سوال دے چه دا عملونه خو دوی کړیدی لیکن کیدے شی چه دوی انکار وکړی؟ نو الله تعالیٰ فرمائی چه دا ټول اعمال مونږ لیکلی دی۔
كِتَاباً: ددے کتاب نه مراد یو لوح محفوظ دے۔
❁ دویم ددے نه مراد لیکل دی په صحیفو د ملائکو کښ، او الله تعالیٰ ئے نسبت ځان ته وکړو ځکه چه دا د هغهٔ په امر سره کیږی۔
نو د کتاب نه مراد کتاب الملائکة دے۔ یعنی د دوئ نور ډیر بد عملونه دی چه الله تعالیٰ به ئے ورته په قیامت کښ ورښکاره کړی۔
فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَاباً : مفسرین لیکی: [اَشَدُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ عَلٰى اَهْلِ النَّارِ] دے آیت ته په قرآن کښ سخت آیت وائی په اُور والو باندے۔
چه الله تعالیٰ به دے مجرمانو ته د دوئ ذهنی غم او درد زیاتولو دپاره ووائی چه اُوس د جهنم د عذاب خوند اوڅکئ، اوس خو به مونږ ستاسو په عذاب کښ نوره اضافه کوو، اُوس ستاسو دپاره آرام او سکون چرته دے۔ کله چه هم ستاسو څرمنے اوسوزی، نو مونږ به دا بدلے کړو، او کله چه هم اُور په مزه شی، مونږ به دا نور راتود کړو۔
فَلَن نَّزِيدَكُمْ : پدے کښ ډیر تاکیدات دی، یو دا چه لَنْ د تاکید د نفی د مستقبل دپاره دے۔
دویم التفات د غائب نه مخاطب ته، دریم نفی او اثبات د حصر دپاره دی۔ نو دا دلیل دے چه د کافرانو عذاب به نهٔ منقطع کیږی، او جهنم به نهٔ فناء کیږی۔ او د عذاب د زیاتوالی طریقه په سورة النساء (۵٦) آیت کښ ذکر ده

﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ﴾

(هرکله چه د دوی څرمنے پخے شی نو مونږ به دوی ته څرمنے بدلے کړو دے دپاره چه عذاب وڅکی)۔
او په سورة الاسراء (۹۷) آیت کښ دی : ﴿كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيْرًا﴾۔
(هرکله چه اُور کم شی نو مونږ به ئے نور تیز کړو)۔

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ
یقیناً د متقیانو دپاره ځائے د کامیابئ دے۔ باغونه او انګور۔ او ځوانې جینکئ
أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّابًا ﴿٣٥﴾
همزولے د دوی۔ او ګلاسونه ډك۔ نۀ به آوری په هغے کښې بے ځایه خبره او نۀ دروغ۔
جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ
بدله ده د طرف د رب ستا نه ډالئ ده کافي۔ رب د آسمانونو او د زمکے دے
وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ
او د هغه څه چه په مینځ د دوارو کښې دی، بیحده مهربان ذات دے،
لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾
اختیار نۀ لری دوی د هغۀ سره د خبرو کولو۔

تفسیر : مخکښې د مجرمانو او سرکشانو بد انجام بیان شو، اُوس د پرهیزګارو او نیکو خلقو په لسو طریقو سره غوره انجام بیانیږی۔

الله تعالیٰ وفرمایل : کوم خلق چه د خپل رب د رضا له خاطره د هغۀ بندګي کوی، او ګناهونو نه بچ کیږی، دوئ به د جهنم د اُور نه نجات مومی، او د جنتونو د نعمتونو په موندلو سره به کامیابیږی، په دے جنت کښې به دوئ له قِسما قِسم میوه دارے وُنے وی، د انګورو غونچکونه به وی، ځوانې همزولے جینکئ به وی چه د هغوئ عمرونه به د درے دیرشو کالونه زیات نۀ وی، او د نهایتے مزیدارو شرابو نه به ډك جامونه وی۔

مَفَازاً : دا د فَوْز نه مصدر میمی دے، کامیابئ او مقصد ته رسیدل او د اُور نه خلاصیدو ته وائی۔ او روستو حَدَائِقَ وغیره د هغے نه بدل دے په طریقه د مبالغه، یعنی دا کامیابی عین باغونه او اعناب دی۔

او دارنګه مَفَازَةٌ دشتے او بیابان ته وائی۔ عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : ددے نه مراد مکان د سیر او تفریح (سیل سپا) دے او روستو حدائق ئے بیان دے۔

دارنګه ځای د کامیابئ۔

حَدَائِقَ: جمع د حَدِیْقَةٌ ده، دا هغه باغ دے چه دیوال ترے چاپیر وی لکه امام بخاریؒ همدا معنیٰ ذکر کړیده. او دا شامل دے بے شماره قسمونو د میوو او د ونو او بوټو ته.

وَأَعْنَابًا: دا تخصیص بعد التعمیم دے، او دا ئے جمع ذکر کړه اشاره ده چه د انګورو به هم بیشماره قسمونه وی.

وَكَوَاعِبَ: جمع د كَاعِبَةٌ ده، هغه زنانه چه نوے بالغه شی او سینے ئے په ځای باندے ولاړے وی، یعنی هیڅا مسه کړی نهٔ وی چه هغه زوړندے شی. او د نورو بیماریانو نه هم بچ دی.

اَتْرَابًا: همزولے په عمر کښ.

وَكَأْسًا دِهَاقًا: ۱- أَیْ مَمْلُوءَةً. یعنی ډکے کاسے. (حسنؒ، قتادةؒ، ابن زیدؒ)

نو دا د كَأْسًا دپاره تاکید دے ځکه چه کأس هم د شرابو نه ډکے کاسے او پیالے ته وائی. ۲- مُتَتَابِعَةً یَتْبَعُ بَعْضُهَا بَعْضًا. (سعید بن جبیرؒ، عکرمهؒ، مجاهدؒ)

۳- دِهَاقًا صَافِیَةً (زید بن اسلمؒ) د صفا شرابو والا.

لَا یَسْمَعُونَ فِیهَا: دا روحانی نعمت دے. یعنی جنتیان به په دے جنت کښ نهٔ څهٔ بیهوده خبره آوری، چه په هغے کښ څهٔ فائده نهٔ وی، او نهٔ به دوئ داسے خبره کوی چه په هغے باندے دوئ یو بل دروغژن وګنړی. د سورۂ الواقعه په (۵) آیت الله تعالیٰ وفرمایل: ﴿لَا یَسْمَعُونَ فِیهَا لَغْوًا وَّلَا تَأْثِیمًا إِلَّا قِیلًا سَلَامًا سَلَامًا﴾ (نهٔ به دوئ هلته بکواس آوری او نهٔ د ګناه څهٔ خبره، صرف د سلام سلام آواز به وی).

لَغْوًا: دا هغه خبره ده چه فائده پکښ نهٔ وی. او کذاب هغه ده چه ضرر پکښ وی.

وَلَا كِذَّابًا: دا معنی هم ده چه ددهٔ د یوے خبرے تکذیب او انکار به پکښ نهٔ کیږی چه پدے سره هم بنده خفه او غمجن کیږی.

مفسرین لیکی چه د الله تعالیٰ رشتینے بندګانو ته په دنیا کښ بیهوده خبرو سره ډیر زیات ضرر رسیږی، دے وجے نه په جنت کښ به هم الله تعالیٰ دوئ د داسے ضرری کار او کیفیت نه لرے ساتی.

جَزَاءً مِّن رَّبِّكَ: او دا ټول نعمتونه به دوئ ته د دوئ د رب له طرفه د دوئ د نیکو عملونو په بدله کښ ملاویږی، او په اصل کښ دا هر څهٔ به د دوئ د رب په دوئ باندے لوئے احسان وی چه هغهٔ دوئ له په دنیا کښ د نیك عمل توفیق ورکړو کوم چه د الله

تعالیٰ د فضل او کرم بهانه جوړه شوه۔

عَطَاءً حِسَاباً: یعنی دا ډالئ او تحفه ده کافی۔ عطاء ورته ځکه وائی چه جنت یوائځے ددهٔ په عمل نهٔ ملاویږی چرته د بنده عمل او چرته د جنت په شان اُوچت نعمتونه !! بلکه ددهٔ عمل خو ډیر لږ دے، خو دا د رب احسان او تحفه ده۔

نو بیا د عمل فائده څه ده؟ نو هغه د الله تعالیٰ رحمت جلب کول دی، پدے سره بنده د الله تعالیٰ د رحمت لائق کیږی۔

حِسَاباً : اَیْ كَافِيًا۔ یعنی دا پوره بدله ده چه د دوئ به پرے پوره کار وشی، او هیڅ نیمګړتیا به پکښې نهٔ وی چه ضرورتونه ئے پاتے وی چه فلانے فلانے شے پکښې نشته۔

رَبِّ السَّمَاوَاتِ : د دوئ کوم رب چه په دوئ باندے احسانات کړی دی، هم هغه د آسمانونو او د زمکے او ددے ترمینځه د هر یو شئ رب دے، هم هغهٔ دا پیدا کړی دی، هم هغه ددے نګران او ساتونکے او تدبیر کونکے او کار ساز دے، او هغه (رحمٰن) دے، د هغهٔ رحمت هر یو شئ ته شامل دے، او هم هغه د ټولو پالونکے دے۔

رَبِّ: دا په زیر سره بدل دے د رَبِّكَ نه، یا صفت دے د رَبِّكَ۔

او الرَّحْمٰنِ هم بدل دے، یا صفت د رَبِّكَ۔

لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَاباً: یعنی د قیامت په ورځ به ټول مخلوق د هغهٔ مخے ته د هغهٔ د عظمت او لویئ نه داسے یریږی چه هیڅوك به د هغهٔ مخے ته د خُلے پرانستلو زړورتیا نهٔ کوی، د یوے مودے نه پس به صرف هغه خلق د نورو دپاره د شفاعت خبرے د الله تعالیٰ سره کوی چه هغوئ ته دا قهار او زورور ذات اجازت ورکړی۔

خِطَاباً: ددے نه مراد د شفاعت خبرے دی چه دا به بے اجازته هیڅوك نشی کولے۔

یا ددے نه په الله تعالیٰ باندے حکم کول مراد دی چه هیڅوك به دا طاقت نهٔ لری۔

مِنْهُ: دا مِنْ مُتَضَمِّنْ دے معنیٰ د دفع کولو لره، یعنی داسے خبرے به نشی کولے چه په دے سره د ځان نه څه تکلیف دفع کړی۔

يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَالْمَلَائِكَةُ صَفًّا لَّا يَتَكَلَّمُوْنَ
په هغه ورځ چه ویه درېږي روح او ملائك صفونه، خبرې به نهٔ شي کولے دوی
إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ
مګر هغه څوك چه اجازه ورکړي هغهٔ ته رحمٰن ذات، او وئیلي ئې وي (په دنیا کښې)
صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ إِلٰى رَبِّهٖ
حقه خبره۔ دغه ورځ حقه ده نو د چا چه خوښه وي اُوډِې نیسي رب خپل ته
مَآبًا ﴿٣٩﴾ إِنَّا أَنْذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا يَوْمَ
ځائے د واپسئ۔ یقیناً مونږ یره درکړه تاسو ته د عذاب نزدې په هغه ورځ
يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُوْلُ
چه ویه وینی هر سړے هغه عمل چه مخکښې لیږلے دے لاسونو دده او وائی به
الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرَابًا ﴿٤٠﴾
کافر هائے ارمان دے چه وے زهٔ خاورې۔

تفسیر : يَوْمَ : دا ظرف دے متعلق په لَايَمْلِكُوْنَ مخکښې پورے، یا په لَا يَتَكَلَّمُوْنَ راتلونکي پورے، او پدے کښې عظمتِ شان د الله تعالیٰ ذکر کیږي۔ او ورسره د قیامتؔ هم ذکر کوی۔

په کومه ورځ چه روح او ملائك صفونه تړلي وي ولاړ وي، نو هیڅوك به خبرې نشي کولے، مګر چاته چه رحمٰن اجازت ورکړي، او هغه په دنیا کښې صحیح او حقه خبره کړي وي، یعني کلمه د توحید۔

په صحیح حدیث کښې ثابت دي چه نبي کریم ﷺ به په میدانِ محشر کښې د تولو نه اول د الله تعالیٰ سره خبرې کوی، د عرش لاندې به په سجده باندې پریوزي، او د الله داسې صفتونه به کوی چه هغه به الله تعالیٰ په دغه وخت کښې د هغهٔ په سینه کښې اچوی۔ بیا به الله عز وجل هغهٔ ته ووائي : (خپل سر را پورته کړه، غواړه تاته به درکیدې شي، او

شفاعت كوه ستا شفاعت به قبليږي)۔

الرُّوحُ: پدے كښې د مفسرينو ډير اقوال دي، علامه قرطبيؒ اته (۸) نقل كړيدي۔

بعض دا دي: (۱) دا يو عظيم مَلَك دے د ملائكو نه چه هغه به د ډير غټ والي د وجه نه مستقل صف جوړيږي۔

(۲) روح اسم جنس دے، مراد ترينه جمع ده، يعني د بنيادمانو روحونه۔

او حافظ ابن كثيرؒ وائي: زما په نيز ډيره نزدے خبره دا ده چه ددے نه مراد بنيادمان دي ځكه چه د نور قرآن كريم نه معلوميږي چه په قيامت كښې د الله تعالىٰ مخے ته بنيادمان ودريږي، پدے ترتيب سره چه اول انسانان دي، گير چاپيره ملائك او شا ته حيوانات او مخے ته الله تعالىٰ دے۔ نو دلته به هم دغه شان ترتيب وي۔

(۳) ليكن ان شاء الله حقه دا ده چه ددے نه مراد جبريل عليه السلام دے چه هغه ته روح القدس او روح الامين هم وائي۔ ځكه چه په قرآن كريم كښې د روح اطلاق په دۀ باندے زيات كيږي۔ لكه سورتِ بقره (۸۷، او ۲۵۳) آيتونو كښې، د سورةُ المائده په (۱۱۰) آيت كښې، او د سورةُ النحل په (۱۰۲) آيت كښې په ﴿رُوْحُ الْقُدُس﴾ سره تعبير شوے دے۔

او په انسانانو باندے ئے اطلاق نۀ دے راغلے۔

نور كمزوري اقوال پكښې دا دي:

(٤) دا مستقل لښكر دے د لښكرو د الله تعالىٰ نه غير د ملائكو نه۔

(۵) يا قرآن مراد دے لكه په سورة شورىٰ (۵۲) آيت كښې په قرآن باندے د روح اطلاق شويدے۔

(٦) اشراف د ملائكو۔

(۷) مخلوق دے په شكل د بنيادمانو ليكن غير دي د هغوي نه۔

وَقَالَ صَوَاباً: يعني دۀ به په دنيا كښې د حق موافق خبره كړي وي، مراد ترے نه كلمه د توحيد ده لكه د سورة زخرف (۸٦) آيت كښې ئے فرمايلي دي: ﴿اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ﴾۔

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ: الله تعالىٰ د قيامت د ورځے، د هغے د وعد او وعيد او د جزاء او سزا ذكر كولو نه پس، د زياتي تاكيد دپاره وفرمايل چه د كوم قيامت د ورځے ذكر چه پورته اوشو، ددے راتلل يقيني خبره ده، په دے كښې هيڅ شك شبهه نشته، دے وجے نه كوم كس چه په دے ورځ كاميابيدل غواړي، هغه دے په الله تعالىٰ، د هغۀ په رسول او په

آخرت ایمان راوړی، او د گناهونو نه ډېے بچ شی، او په نیك عمل كولو سره ډېے د الله رب العالمین قرب او نزدیکت حاصل کړی۔

مَآباً: اَیْ مَرْجِعًا بِطَاعَتِهٖ۔ ځای د واپسئ په طاعت د هغه سره۔ / یا لاره د ورتللو۔

عَذَاباً قَرِيْباً: الله تعالیٰ د مهربانئ په وجه خپلو بندگانو ته د سورت په آخر کښې دوباره خبر ورکړو چه اے خلقو! مونږ تاسو د هغه ورځے د عذاب نه ویرولی یئ، چه د هغے وخت په سر باندے ولاړ دے، مرگ راتلو سره سم به دغه ساعت راځی، او قیامت هم نزدے دے، ځکه هر راتلونکے شے نزدے وی۔ په دے ورځ به هر انسان خپل ښۀ او بد عمل په خپلو سترگو وینی، او ښۀ به جنت طرفته بوتللے شی، او بد به د جهنم اُور طرفته۔

بیا به کافر باندے د افسوس او آرمان ژوره وریځ راخوره شی، ددۀ سترگے به د ډیرے سختے ویرے نه کُراغے را اوځی، او څۀ چه ترے ونشی نو وبه وائی : کاش ! زۀ هم د ځناورو غونتے خاورے شوے وے، دے دپاره چه د اُور ددے عذاب نه بچ شوے وے، لیکن په دے افسوسونو سره به دۀ ته هیڅ فائده نۀ رسیږی، او جهنم ته به وردیکه کړے شی۔ الله تعالیٰ ډِے مونږ د داسے حالت نه محفوظ وساتی۔ آمین۔

وَيَقُوْلُ الْكَافِرُ: لوی مجرم په دغه ورځ کافر دے۔

مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ: پدے کښې ذهن سازی او دفع د وَهُم کوی چه عذاب خو نزدے دے، خو دا به په چا راځی؟ نو فرمائی چه دا به ستا په عملونو راځی کوم چه ستاسو لاسونو مخکښې کړی وی، همداسے ظلم درباندے نۀ کوی چه آخرت ته ډِے راکاږی او جهنم ته ډِے گوزار کړی بغیر د جرم ستا نه۔

الْمَرْءُ: ددے نه مراد هر شخص دے مؤمن وی او که غیر مؤمن، هر یو به عملونه وینی لکه دلیل پرے د سورة الزلزال (۸/۷) آیتونه او سورة کهف (۴۹) او سورة قیامه (۱۳) آیت دے۔

كُنْتُ تُرَاباً : ددے دوه مطلبه دی (۱) یو دا چه په دنیا کښې زۀ خاورے وے، او الله تعالیٰ مکلف انسان نۀ وے پیدا کړے۔

(۲) یا دا چه اُوس د حیواناتو په شان خاورے شوے وے، او دوباره ژوندون نۀ وے لکه دا خبره ابو هریره ﷺ کړیده چه هرکله قیامت کښې الله تعالیٰ حیوانات راپورته کړی، او د یو بل نه قصاص واخلی او د انسانانو شرمونو ته وگوری نو په آخره کښې به ورته الله تعالیٰ

وفرمائي : [كُوْنِيْ تُرَابًا] تاسو خاورے جوړ شئ۔ نو کله چه دوی خاوری شی نو دغه وخت به مجرم وائی چه مونږ هم ددے حیواناتو غونته خاورے شوے وے، او هیڅ عذاب راباندے نۀ وے۔ (ابن کثیرؒ)

لکه دا ارمان د کافرانو په سورة النساء (٤٣) آیت کښې داسے راغلے دے :﴿يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا﴾ (په دغه ورځ به کافران او هغه کسان چه د رسول مخالفت ئے کړیدے، دا خوښوی چه کاش ! په دوی باندے زمکه هموارہ شوے وے، او دوی به د الله تعالیٰ نه هیڅ خبره نشی پټولے)۔

فراءؒ وئیلی دی چه د کافر نه مراد ابلیس دے چه هغه به آرمان کوی چه زۀ خاورے وے، انسان وے، او د خاورے نه پیدا وے، او عاجزی مے کولے، دا خبره هم صحیح ده، لیکن دا ئے بعض مصداق دے، او الکافر کښې الف لام استغراقی دی، هر کافر به دا ارمان کوی۔ نو تخصیص د ابلیس او د ابوجهل وغیره ته ضرورت نشته۔ وبالله التوفیق۔

امتیازات

١- قیامت ته نبأ عظیم وویل شو۔

٢- په اثبات د آخرت کښې دلیلونه او شواهد ذکر شول۔

٣- په جهنمیانو باندے سخت آیت پکښې ذکر شو۔

٤- د کافر انسان په قیامت کښې د خاورے کیدو ارمان پکښې ذکر شو۔

ختم شو تفسیر د سورة النبأ په توفیق د رب العالمین سره په رمضان (١٦) ١٤٣٧ هـ۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٤٦)	(۷۹) سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۲)

سورة النازعات مکی دے، په دے کښ شپږ څلویښت آیتونه او دوه رکوع دی

تفسیر سورة النازعات

نوم : (۱) ددے سورت هم ګنړ نومونه دی سورة [النّٰزِعٰتِ] (۲) [السَّاهِرَة] او (۳) [الطَّآمَّة] هم ښودلے۔ [السَّاهِرَة] په (١٤) آیت کښ، او [الطَّآمَّة] په (٣٤) آیت کښ راغلے دے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت په اتفاق سره مکی دے۔ ابن مردويّة او بيهقیؒ او نورو د ابن عباس ﷺ نه او ابن مردويّة د ابن زبیر ﷺ نه نقل کړی دی چه سورة النازعات په مکه کښ نازل شوے۔

مناسبت :

١- مخکښ سورت کښ ئے إنذار بالعذاب ورکړو نو دلته بیان الخشیة دے چه د الله تعالیٰ نه یره وکړئ۔

٢- هلته عذاب قریب ذکر شو، نو دلته تخویف بالموت ورکوی۔

٣- په هغه سورت کښ سخت زجر وو منکرینو د بعث ته، نو اُوس تخویف دنیوی دے په واقعه د فرعونیانو سره۔

٤- مخکښ سورت کښ تخویف او بشارت طاغینو او متقینو ته په ترتیب سره ذکر کړے وو، نو پدے سورت کښ د طاغی او د متقی تعریف ذکر کوی هم په دغه ترتیب سره۔

د سورت مقصد

اَلْخَشْيَةُ ـ یعنی ترغیب دے خشیت ته۔ یا تَوْلِیْدُ الْخَشْیَة ـ د یرے پیدا کولو ته، اے بندګانو ! ځان کښې یره پیدا کړئ او چه یره درکښې پیدا شوه، نو دا ستاسو د تزکیۂ نفس سبب دے، او تزکیۂ نفس خو د الله تعالیٰ او د بنده مطلوبه ده، د یرے نه بغیر تزکیه نۀ راځی۔ دا موضوع یو د نازعات د الفاظو نه معلومیږی۔ ﴿یَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ﴾ ﴿فَتَخْشٰی﴾ ﴿عِبْرَةً لِمَنْ یَّخْشٰی ﴾ ﴿ وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّه ﴾ ﴿ اِنَّمَا اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ یَّخْشَاهَا﴾ اول او آخر یو شان راغلی دی، ددے نه موضوع ښه معلومیږی۔

بیا د خشیت د پیدا کولو دوه لارے ئے خودلی دی، یو دا چه اے انسانه ! په تا باندے مرګ راروان دے، ملائك به درپسے راشی مرئ به درله تاؤ کړی نو لږ ویریږه۔

او څوك چه د مرګ نه ویریږی نو هغه کښې تقویٰ پیدا شی۔

دویم دا چه د آخرت ورځ به درباندے راشی، ډیره هیبتی ده، بیا به څه کوے؟۔ نو واقعه د موسیٰ ؑ ئے راوړے ده چه الله تعالیٰ پیغمبران دے له رالیږی چه خلق ویروی لکه موسیٰ ؑ لاړو فرعون ته ئے دعوت وکړو چه د الله تعالیٰ نه ویریږه او د ځان تزکیه وکړه، نو هغه انکار او لوئی وکړه نو الله تعالیٰ راونیولو، نو څوك چه د ځان تزکیه نۀ کوی، هغه به رانیولے کیږی،

هرڅوك ډے ددے نه عبرت واخلی چه څوك یریږی هغه به عبرت اخلی ـ ﴿ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ یَّخْشٰی﴾ او که نۀ یریږی نو عبرت به نۀ اخلی، او چه عبرت ئے وانخستو نو تزکیه به ونۀ شی، نو د فرعون په شان به ئے الله تعالیٰ تباه کړی، دا خومره ښۀ دعوت دے۔

آخرت به راځی ﴿ ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَاءُ﴾ تۀ وائے چه قبر نه پاڅیدل نشته، نو آسمان ته وګوره او کائناتو ته وګوره، نو کائناتی دلیل راوړی۔

او د آخرت ورځ چه راشی نو د انسانانو تقسیم، په بله طریقه چه چا کښې دوه مرضونه وو﴿ فَاَمَّا مَنْ طَغٰی وَاٰثَرَ الْحَیَاةَ الدُّنْیَا﴾ نو جهنم ئے ځای دے۔ او که چا کښې دوه صفتونه وو (خوف او عدم اتباع الهوی) نو دا جنتیان دی۔

نو کوم خلق چه د آخرت نه نۀ یریږی نو هغوی د آخرت ورځ په جلتئ غواړی، چه دا

به کله راځي نو الله تعالیٰ د هغوی رد کوی چه دے رسول ته څه پته ده چه قیامت به کله راځی؟ هغه خو صرف د یره ولو دپاره راغلے دے، چه د دغه ورځے نه تاسو یره وی، نزدے راروانه ده، د عَشِيَّةً اَوْ ضُحَاهَا په اندازه نزدے ده، تاسو ته به د ټولے دنیا ژوندگی داسے ښکاره کیږی لکه سهار یا مازیگر وخت۔

هرکله چه تا دا موضوع یاده کړه نو اُوس به د وَالنَّازِعَات په معنیٰ هم ښهٔ پو هیږے، بعض مفسرین صرف د الفاظو معانی کوی، او موضوع ته ئے فکر نهٔ وی نو ډیر کرته د هغوی نه ډیر مقصدونه پاتے شی۔

وَالنَّازِعَاتِ غَرْقاً ﴿۱﴾
قسم دے په هغه ملائکو چه راکاږی روحونه د کافرانو په سختئ سره۔
وَالنَّاشِطَاتِ نَشْطًا ﴿۲﴾
او قسم دے په هغه ملائکو چه راویستونکی دی روحونه د مؤمنانو په نرمئ سره۔ (یا : قسم دے په هغه ملائکو چه نرمی کونکی دی په نرمی کولو سره)۔
وَالسَّابِحَاتِ سَبْحًا ﴿۳﴾ فَالسَّابِقَاتِ
او قسم دے په ملائکو چه لامبو وهونکی دی په لامبو وهلو سره۔ بیا مخکښ
سَبْقاً ﴿٤﴾ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾
کیدونکی (امر د الله ته) په مخکښ کیدو سره۔بیا انتظام کونکی دی د کارونو۔
يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾
په هغه ورځ چه وبه خوزیږی خوزیدونکے۔ (شپیلئ) ورپسے به وی ددے پسے دویمه شپیلئ (یا : رابه شی ورپسے روستو راتلونکے)۔

تفسیر : وَالنَّازِعَاتِ: پدے کښ هم مفسرینو ګڼړ اقوال ذکر کړیدی چه دا صفات د چا دی، نو که ټول بیان کړے شی نو آیت نه مُعمه جوړیږی۔

(۱) چا پکښ وئیلی دی چه ددے نه غازیان مراد دی چه د کافرانو نه روحونه وباسی،

(۲) او څوک وائی چه ددے نه مراد ستوری دی،

(۳) او چا ترے کشتۍ مراد کړیدي،

(٤) چا ترے نفوس ناطقه مراد کړي،

(٥) چا ترے ملائك مراد کړیدي۔

مګر ددے نورو څه خاص مناسبت نۀ ښکاره کیږي نو غوره او ظاهر دا ده چه دا ټول صفات د ملائکو دي۔ او د ملائکو د پنځه قِسمه کارونو او صفتونو په وجه ئے دوئ پنځه قِسمه ملائك ګرځولي دي۔ او په کومه خبره باندے ئے چه د انسانانو په ذهنونو کښ د خبرے کینولو دپاره قسَم خوړلے دے، هغه پټ دے۔

دا ددے دپاره نۀ دے ذکر شوے [لِيَذْهَبَ ذِهْنُ السَّامِعِ كُلَّ مَذْهَبٍ] دے دپاره چه د آوریدونکي ذهن هر طرفته لاړ شي او دوي سوچ وکړي۔

(۱) نو چا وئیلي دي چه ددے جواب [إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِمَنْ يَخْشَىٰ] دے۔ خو دا بعید دے،

(۲) دویم دا دے [لَتُبْعَثُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] یعني په هغه ملائکو قسَم دے چه د هغوئ صفتونه پورته بیان کړے شو، تاسو به خامخا د قیامت په ورځ دوباره ژوندي کیدو سره را پورته کیږئ۔

(۳) او دارنګه: [كَذٰلِكَ يُسَلِّطُ الْمَلَائِكَةَ عَلَى الْكَافِرِينَ] دغه شان به الله تعالیٰ په کافرانو باندے ملائك مسلط کوي۔

او د قسم او د جواب قسم دلته خاص مناسبت دے، هغه دا چه الله تعالیٰ ملائك رالیږي اے انسانه! ستا د وژلو دپاره، الله تعالیٰ ددے دپاره مقرر کړیدي، نو ستا مرئ به ونیسي او روح به درنه وباسي، هر چا سره داسے کار کوي، نو بیا فرمائي چه د مؤمنانو سره نرمي کوي، او دغه ملائك د الله تعالیٰ د حکم د پوره کولو دپاره لامبو وهي لکه جهازونه دي، او خاصو حالتونو ته او د ملائکو تابعدارئ ته اشاره ده چه دوي د الله تعالیٰ د حکم داسے تابع دي چه په هغے باندے د عمل کولو دپاره د يو بل نه مخکښ کیږي۔

او د آسمان او د زمکے عام پروګرامونه د دوئ په واسطه سره چلوي۔ نو دوي د کارونو تدبیرونه او پروګرامونه جوړوي، او فوجونه تقسیموي۔

نو هرکله چه داسے لوي مخلوق د الله تعالیٰ تابع دي، او په انسانانو باندے مقرر دي نو بیا اے انسانه! ویریږه، دوي به دے راونیسي او په تا باندے قادر دي، د الله تعالیٰ په حکم

سره به ورے هلاك كړي. لكه داسے دهمكي الله تعالىٰ په قرآن كښ بار بار وركړيده :
﴿ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ﴾ (انعام : ٦١) ﴿ قُلۡ يَتَوَفّٰكُمۡ مَلَكُ الۡمَوۡتِ الَّذِيۡ وُكِّلَ بِكُمۡ ﴾ (الم سجده : ١١) نو دے آيتونو كښ هم دغسے دهمكي ده، نو كه د ملائكو په باره كښ تهٔ سوچ وكړے، نو د الله تعالىٰ شان به درته معلوم شي، او يره به ورے هم پيدا شي چه يو غيبي نظام روان دے، د ملائكو په واسطه باندے انسانان رانيولے كيږي، نو هر سړی له يره پكار ده، ځكه چه مونږ يو كمزورے مخلوق يو، الله تعالىٰ چه يو ملائك راوليږي نو ټول انسانان به په يو لاس كښ چخني كړي، داسے لوی مخلوق الله تعالىٰ پيدا كړيدے، نو دغه شان قيامت كښ ستاسو الله تعالىٰ ته پيشي حقه ده، دے كښ تهديد بالموت دے.

ددے وجه نه بعض علماؤ د تجربے په طور وئيلي دي چه كه يو تن غواړی چه زنكدن په ما باندے آسان شي، نو سورت نازعات ورے زيات وائي ځكه چه پدے سورت كښ د زنكدن په وخت د ملائكو د راتللو خبره ده، او مناسبت واضح دے، هغه دا چه پدے سورت كښ يره ذكر ده، او دا هم لويه يره ده چه په انسانانو باندے به راځي، ملائك به ترے روحونه اخلي.

نو معنىٰ دا ده :

(الله تعالىٰ وفرمايل) والنازعات : په هغه ملائكو قسَم دے، او زهٔ هغوی گواه كوم چه هغوی راښكونكي دي روح د كافر او د مجرم لره غَرۡقًا : په شدت او په سختئ سره. (يا مفعول مطلق دے د پټ فعل) يعني غرق كونكي دي هغوی لره په غرقولو.

په حديث كښ دي : [فَيَنۡتَزِعُهَا كَمَا يُنۡتَزَعُ السَّفُّوۡدُ مِنَ الصُّوۡفِ الۡمَبۡلُوۡلِ]

د كافر روح داسے تكليف باندے راكاږي لكه يو لمدے وړئ ته چه كونډه ور واچوی او هغه راكاږي نو هغه څومره سخت وی، مرگ دومره گران شے دے.

(مسند احمد : ١٨٥٥٧) صحيح)

وَالنّٰشِطٰتِ : قسم په هغه ملائكو چه نرمي كونكي د مؤمن د روح سره په نرمي كولو سره. چه د هغوی نه روح په ډيره نرمه سره راوباسي.

ددے مثال په حديث كښ داسے راغلے دے :

[فَتَخۡرُجُ تَسِيۡلُ كَمَا تَسِيۡلُ الۡقَطۡرَةُ مِنۡ فِي السِّقَاءِ]

یعنی ددهٔ روح داسے راوځی وبهیږی لکه یو مشك چه واړولے شی او د هغهٔ نه په آرام اُوبه راروانے شی۔ (احمد ۱۸۷۳۳ وابوداود (۳۲۱۲) (٤٧٥٣) صحیح)

وَالسَّابِحَاتِ : قسم په هغه ملائکو چه لامبو وهی په لامبو وهلو سره (په فضاء کښې) یعنی په تیزئ باندے روان وی لکه د لامبو شکل ئے جوړ کړیدے۔

فَالسَّابِقَاتِ : (یعنی دا منډے او لامبو د څه دپاره وهی؟ نو دلته ئے ګویا کښې وجه بیانوی چه دا ځکه چه دوی د الله تعالیٰ حکمونو ته د یو بل نه مخکښې کیږی)

یعنی قسم دے په هغه ملائکو چه مخکښې کیدونکی دی حکم د الله تعالیٰ ته په مخکښې کیدو سره۔

فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْراً : پس قسم په هغه ملائکو چه هغوی تدبیر کوی د تولو کارونو د عالَم (په حکم د الله تعالیٰ سره) او پدے کښې د الله تعالیٰ عظمت او کمال ته اشاره ده چه د هغه په اشارو باندے ملائك لګیا دے کارونه سنبالوی۔

ددے ټولو قسمونو حاصل مطلب : قسم دے په هغه ملائکو چه هغویٔ د کافرو انسانانو روحونه پوره قوت او سختئ سره راوباسی، او په هغه ملائکو قسَم دے، چه هغویٔ د مومنانو روحونه په تیزئ او نرمئ سره راوباسی، او په هغه ملائکو قسَم دے، چه هغویٔ د آسمانونو نه د الله تعالیٰ احکام او اوامر راخلی او زمکے ته راکوزیږی، ګویاکه هغویٔ لامبو وهی، او په هغه ملائکو قسَم دے چه هغویٔ د الله تعالیٰ وحی طرفته ورټوپ وهی، او د شیطانانو نه وړاندے والے کوی، او هغه د الله رسولانو ته په حفاظت سره رسوی، دے دپاره چه شیطانان هغه په پټه سره وانهٔ وری، او قسَم دے په هغه ملائکو چه هغویٔ ته الله تعالیٰ په پورته او ښکته کائناتو کښې ډیر کارونه سپارلی دی، لکه باران ورول، بوټی راؤخکل، د هواګانو، سمندرونو، حیواناتو، د میندو په رحم کښې د ماشومانو حفاظت، او د جنت او جهنم او نورو څیزونو انتظام۔

په دے پنځه قِسمه ملائکو باندے قسَم دے، چه تاسو به خامخا ژوندی کیږئ او را پورته کیږئ به۔

يَوْمَ تَرْجُفُ: دا ظرف دے د پټ جواب قسم دپاره [اَیْ لَتُبْعَثُنَّ يَوْمَ تَرْجُفُ] یعنی تاسو به راپورته کولے شئ په هغه ورځ۔

تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ: ترجف چه متعدی شی نو مفعول به ئے پټ وی نو راجفه په معنیٰ

د اولې شپېلۍ سره دے، يعنې کله چه به وخوزوي ټول عالَم لره خوزونکے شے چه هغه اوله شپيلۍ ده۔ چه دا به ټوله زمکه او ټول څيزونه وجړقوي۔ او کله چه ترجف لازمي شي نو د الراجفه نه مراد به زمکه وي چه په هغې کښې به لويه زلزله راشي۔ يعنې کله چه وخوزيږي خوزيدونکے شے چه هغه زمکه ده۔

يا پدې صورت کښې هم د راجفه نه شپيلۍ مراد کيدل صحيح دي، او دا به اسناد مجازي وي، شپيلۍ خو خپله نۀ خوزيږي بلکه ددې په وجه به عالَم خوزيږي، نو الراجفة نه مراد دا چه خوزونکے شپيلۍ به ټول عالَم وخوزوي۔

او رجف ورته ځکه وائي چه ددې په وجه به اول زړونه وخوزيږي، او د خپل ځايو نو نه به راوځي، نو د هغې په وجه به مړۀ شي نو دلته د رجفې نه مراد رَجْفَةُ الْقُلُوْب ده۔ او دارنګه رجفه د عالَم هم ده۔

تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ : يعنې وروسته به وي ددې پسے روسته راتلونکے (دويمه شپيلۍ)۔

الرَّادِفَةُ: رادفه مؤنث د رادف دے، دويم سور انسان ته وائي لکه تۀ په آس باندې سور ئے او تا سره شا ته بل يو تن سور شي نو هغه شخص ته رديف وائي۔ او دلته هم دويمه شپيلۍ سوره ده د اولې شپيلۍ پسے، چه د دواړو ترمينځ به څلويښت کاله فاصله وي۔ اوله شپيلۍ باندې خلق مري او په دويمه باندې راپورته کيږي۔

اولنۍ شپيلۍ ته [رَاجِفَةٌ] (لړزيدونکے) ځکه وئيلے شوے چه هغه به يوه داسے خطرناکه او هيبتناکه چغه وي چه دے سره به تمام عالَم په پريشانۍ کښې اخته شي، او په ټولو به يو لړزه راشي، بيا به ټول مړۀ شي۔

او دويمے شپيلۍ ته [رَادِفَةٌ] (روسته راتلونکے) ځکه وئيلے شوے چه دا به د اولنۍ شپيلۍ نه پس وي۔

الله تعالىٰ د سورۀ الزمر په (٦٨) آيت کښې فرمايلي دي :

﴿ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ أُخْرٰى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴾

(او په شپيلۍ کښې به پوکے اوکړے شي، نو آسمانونو او زمکے والا ټول به بيهوشه شي، مګر څوک چه الله غواړي، بيا به دويمه شپيلۍ اوپوکلے شي، نو دوئ به يکدم ولاړ وي چه ګوري به)۔

قُلُوْبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾
زړونه به په دغه ورځ درزیدونکی (رپیدونکی) وی۔ سترګے ددے به ذلیله وی۔
يَقُوْلُوْنَ أَئِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ فِي الْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾
وائی به دوی آیا مونږ به واپس کړے شو مخکنی حالت ته۔ (په قدمونو خپلو دنیا
أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوْا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ
ته)۔ آیا کله چه شو مونږ هډوکی وراستهٔ۔ وائی دوی دا په دغه وخت کښ واپسی
خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾
وی تاوان والا۔ نو یقیناً دا خو چغه یوه ده۔ نو دغه وخت به دوی په ډاګه وی۔

تفسیر :**وَاجِفَةٌ**: اَیْ خَائِفَةٌ۔ یعنی یریدونکی به وی۔

أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ : یعنی سترګے د هغه زړونو به عاجزے وی، د سترګو نسبت زړه ته کیږی، ځکه چه دا د زړهٔ تابع دی۔ روستو نه معلومیږی چه دا کار به د کافرانو سره کوی، او هر چه مؤمنان دی نو هغوی باندے به لږے لږے یرے راځی خو الله تعالیٰ یٔ نهٔ ذلیله کوی۔

يَقُوْلُوْنَ: دا ضمیر دغه زړونو والو ته راجع دے۔ یعنی دغه مجرمان اُوس په دنیا کښ وائی چه آیا مونږ به واپس کړے شو په خپلو قدمونو باندے۔

یعنی پدے کښ د مکے د مشرکانو حال بیان شویدے چه هغوی به د مرګ نه پس ژوندون نه انکار کولو، چه کله چه دوئ ته اوونیلے شی چه تاسو به دوباره ژوندی کیږئ، نو دوئ په دے خبره سخت تعجب کوئ، او وائی : دا خبره بیخی نامعقوله ده چه د مرینے نه مخکښ زمونږ کوم حالت وو، د مرینے نه پس به دوباره همدے حالت ته واپس کیږو، یعنی ژوندی کیږو به۔

فِي الْحَافِرَةِ : حافر په اصل کښ د اس منډ (او قدم) ته وائی۔ د دوی مقصد دا وو چه آیا مونږ به بیرته په قدمونو باندے واپس شو۔ دلته ترے مراد وَجْهُ الْاَرْض دے۔ یعنی آیا مونږ به بیرته واپس شو ددے زمکے مخ ته یعنی بیرته به دنیا ته راځو۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه حافره د اُور کندے ته وائی۔ یعنی آیا مونږ به د جهنم کندے ته واپس کیږو۔ دا نشی کیدے چه قیامت دِے راشی او مونږ بیرته دے زمکے ته راواپس شو۔ یا دِے مونږ د جهنم کندے ته گوزار کړے شو۔ دا نشی کیدے۔

خپله معنیٰ ئے ده: (آیا مونږ به په خپلو قدمونو سره بیرته دنیا ته راواپس شو)

أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً: (آیا کله چه مونږ شو هډوکی زاړهٔ)۔

یعنی دویٔ د مرینے نه پس ژوندون پورے نوره خندا کوی، او وائی چه هر کله زمونږ هډوکی وراستهٔ شی، او ریزه ریزه کیدو سره خوارهٔ وارهٔ شی، نو آیا هغه به دوباره راژوندی کیږی، او بیا به د نوی سر نه هډوکی جوړیږی، که چرے بفرضِ محال داسے اوشی نو دابه ډیره د خسارے (تاوان) خبره وی۔

مفسر ابو السعودؒ لیکی چه په (۱۲/۱۱) آیتونو کښ د دویٔ مکرر کفر بیان شوے، یعنی د دویم ژوند نه د اول ځل د انکار نه پس دویٔ دوباره ددے حقیقت نه انکار وکړو، کوم چه په دے آیتونو کښ بیان شوے۔

نَخِرَةً: اَیْ بَالِیَةً۔ یعنی زاړهٔ او ذره ذره شوی۔

قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ: یعنی دویٔ وائی چه دا خو په دغه وخت کښ زندگی ده د تاوان۔ پدے کښ د دویٔ دوه غرضونه وو،

(۱) یو دا چه که دنیا ته بیرته راتگ وی نو دا خو به بیا تاوان شی، دے زمکو او جائیدادو باندے به جگړے او اختلافات وی، نیکهٔ به وائی دا زما دے، او نمسے به وائی زما دے۔ د دویٔ دا گمان وو چه گنے بیرته به دے دنیا ته راواپس کیږی، او دے ته قیامت وائی۔

(۲) دویم مطلب زیات ظاهر دے چه [إِنْ كَانَ مَا تَقُولُ حَقًّا فَنَحْنُ فِيْ خُسْرَانٍ، نَحْنُ فِي النَّارِ] یعنی که ستا خبره چرته حقه وی نو مونږ خو به بیا ډیر غټ تاوان کښ یو ځکه چه مونږ به جهنمیان یو ځکه چه مونږ خو دے له تیارے نهٔ دے کړے۔

مطلب ئے دا وو چه مونږ خو د تاوان نه ځان بچ کوو نو معلومیږی چه آخرت حق نهٔ دے، که دا حق وے نو مونږ به ددے تاوان نه ځان ساتلے وے، نو پدے کښ خپله عقلمندی بیانوی چه زمونږ د عقل تقاضا دا ده چه آخرت نهٔ راځی، ځکه که دا راتللے نو مونږ به ورله تیاری کولے، او مونږه ئے چه نهٔ منو نو مطلب دا دے چه نشته، گنے مونږ ولے ځانونه تاوان ته ورکړو۔

فَإِنَّمَا هِيَ: دلته وقف دے، او ددے ځای نه د الله تعالیٰ کلام شروع شو۔
هِيَ ضمیر **كَرَّةٌ** (دوباره ژوند) ته راجع دے۔ یعنی یقیناً دغه دوباره ژوند یوه شپیلئ ده۔
اَیْ لَیْسَتْ صَعْبَةٌ عَلَی اللّٰهِ۔
یعنی الله تعالیٰ ته دا گرانه نۀ ده، بلکه یوه شپیلئ سره به دا ټول عالَم بدل کړی، او قیامت به راولی او انسانان به راژوندی کړی، د اسرافیل علیه السلام په پوکی سره ئے راژوندی کوی۔ نو دے کښې څه مشکلات دی۔
زَجْرَةٌ : په اصل کښې شړلو او په زورنے سره آواز ته وائی، دلته ترے دویمه شپیلئ مراد ده او پدے تعبیر کښې اشاره ده چه پدے آواز سره به ټول مخلوق ودریږی او روستو به نشی تللے او محشر ته به جمع کیږی، شړلے کیږی۔
وَاحِدَةٌ : یعنی دویم کرت ته حاجت نشته لکه په سورة نحل (۷۷) او سورة قمر (۵۰) کښې ذکر شویدی۔
فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ: یعنی ناڅاپه به دوئ په صفا میدان باندے ولاړ وی۔ کوم خلق چه مړۀ شوی یا ژوندی خښ شوی وی۔
السَّاهِرَةِ: هِیَ الْاَرْضُ الْبَیْضَاءُ الْمُسْتَوِیَةُ۔ دا هغه زمکه ده چه سپینه وی او برابره همواره وی۔ یعنی د خیټے د زمکے نه به بهر میدان ته راوځی چه نۀ به غرونه وی، او نۀ به ډیرئ وی، او نۀ به کندے وی، لکه سورة کهف (٤٧) او سورة طه (۱۰۷) آیت کښې ذکر شوی دی۔
قتادۃ وائی : دا د جهنم نوم دے لیکن دا قول بعید دے۔ او دے ته ساهره ځکه وائی :
[لِاَنَّ عَلَیْهَا نَوْمَ الْحَیَوَانِ وَسَهَرَهٗ]
ځکه چه پدے باندے حیوان اُوده کیږی او بیرته راویښیږی۔
مفسرین لیکی چه د قیامت میدان ته [السَّاهِرَةِ] ځکه ووئیلے شوه چه ددے لفظ معنیٰ ده بیداریدل، او دوباره ژوندی کیدو نه پس به خلقو له په هغه میدان کښې هیڅ کله هم خوب نۀ ورځی۔ اُوس خوبونه د ټولو انسانانو ختم شو۔ ددے نه روستو یا جنت دے هلته هم خوب نشته، یا جهنم دے هلته هم خوب نشته۔

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسٰى ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَاهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ
یقیناً راغلے دے تا تہ خبر د موسیٰ۔ کله چه آواز وکړو هغۀ رب خپل ته په کنده
الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ إِذْهَبْ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ
پاکه کښې چه طویٰ ده۔ لاړ شه فرعون ته یقیناً هغۀ سرکشي کړیده۔ نو تۀ اُووایه
هَلْ لَّكَ إِلٰى أَنْ تَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلٰى رَبِّكَ
آیا ستا مینه شته دے سره چه ځان پاك کړے۔ او لار اُوښایم تا ته طرف د رب ستا ته
فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾ فَأَرَاهُ الْآيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ
پس چه تۀ اُویریږے۔ نو وے خودله هغۀ ته نخه لویه۔ نو هغۀ تکذیب اُوکړو
وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ
او نافرماني ئے اُوکړه۔ بیائے شا وګرزوله کوشش ئے کوو۔ نو راجمع ئے کړل (ساحران)
فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلٰى ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللهُ
پس آواز ئے اُوکړو۔ نو وے وئیل زۀ رب ستاسو یم اُوچت۔ نو راونیولو هغۀ لره الله تعالیٰ
نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولٰى ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿٢٦﴾
په سزا د آخرت او د دنیا۔یقیناً پدے کښې خامخا عبرت دے دپاره د هغه چا چه یریږي۔

تفسیر : اُوس د تخویف دپاره واقعه د فرعون راوړي چه دا خلق هم د انکار خبرے کوي، او دغسے به د دوئ مشر فرعون هم کولے، او دا تخویف دنیوی دے، مخکښې د مرګ او د آخرت تخویف بیان شو نو اُوس د دنیا تخویف ورکوي۔

دارنګه دلته د موسیٰ ﷵ او د فرعون د واقعے ذکرکولو نه مقصد نبی کریم ﷺ له تسلي ورکول دي چه که ستا قوم، (د قریشو خلق) تا او ستا د توحید دعوت دروغژن ګڼړي، نو فرعون او فرعونیانو هم موسیٰ ﷵ سره داسے معامله کړے وه، او الله تعالیٰ هغه غرق کړل، نو لرے نۀ ده چه الله تعالیٰ قریشو سره هم داسے سلوك وکړي، او دوئ هلاك کړي۔

هَلُ أَتَاكَ: د پوښتنے په طرز د تعبیر کولو نه مقصد یا خو نبی کریم ﷺ ته د موسیٰ علیه السلام او د فرعون د واقعے آوریدو ترغیب ورکول دی، که چرے نبی ﷺ ته ددے آیتونو نازلیدو نه مخکښ ددے واقعے خبر نهٔ وو، اوکه خبر وو نو مقصد وریادول دی چه تاته خو د موسیٰ علیه السلام او فرعون واقعه معلومه ده، هغه یاده کړه او په هغے سره خپل زړهٔ ته تسلی ورکړه۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه اے زما نبی ! آیا تاته د موسیٰ بن عمران د واقعے خبر شته دے، کله چه هغهٔ پاك او صفا میدان (طُویٰ) کښ خپل رب ته آواز اوکړو، نو د هغهٔ رب هغهٔ ته اوښودل چه د هغه نه سویٰ بل هیڅوك د عبادت لائق نشته، او هغهٔ ته ئے صرف د خپل عبادت حکم وکړو، بیائے ورته حکم وکړو چه هغه د مصر بادشاه (فرعون) خواته لاړ شی چه هغهٔ د سرکشئ لاره اختیار کړے، او د الله تعالیٰ بندگان ئے په خپله بندگئ باندے مجبوره کړی، او هغهٔ ته ووائی چه زهٔ تاله دعوت درکوم چه تهٔ د ظلم او سرکشئ او الله تعالیٰ سره د شرك کولو نه توبه گار شه، او زهٔ تاته ستا د رب لاره ښایم، دے دپاره چه تهٔ د هغهٔ د عذاب نه یریدو سره ایمان راوړے، فرائض په ځائے کړے، او گناهونو نه بچ شے۔

طَغَی: د حد نه ئے تجاوز کړے په کفر او شرك سره، او په خلقو باندے ظلم کولو سره، او د حق دین نه په منع کولو سره۔

فَقُلُ هَل لَّكَ: اَیُ هَلُ لَّكَ رَغُبَةٌ فِی التَّزُكِیَةِ۔ یعنی آیا ستا مینه شته چه ځان پاك کړے۔

یعنی زهٔ تا ته ترغیب درکوم او دعوت درکوم چه ځان پاك کړه خو دا طریقه د دعوت ده په نرمه لهجه سره چه هغه متوجه کړی۔

نو پدے استفهام کښ تذکیر او ترغیب ورکول مقصد دے۔ یعنی په تزکیه د نفس کښ که دِے رغبت نهٔ وی، نو دا ضروری شے دے خامخا پکښ رغبت وکړه۔

مونږ ټولو بندگانو نه الله تعالیٰ تزکیه غواړی لکه روستنی عام سورتونو کښ به د تزکیه دعوت وی، او دا تزکیه د کفر او شرك نه واخله تر وړے گناه پورے ده چه ددے نه به هر انسان خپل نفس د پاکوالی کوشش کوی۔

او باطنی او ظاهری ټولو گندونو نه به ئے صفا کوی۔ او په ایمان او عمل صالح سره به تحلیه (ښائسته والے) د نفس کوی۔

وَ اَهْدِيَكَ اِلَى رَبِّكَ: الله تعالىٰ طرفته هدايت نه مراد معرفت د رب دے۔ يعنى زۀ به تا تـه ستـا رب دروښايم او هغه به وپيژنے نو د هغۀ نه به ويريږے، ځکه چا چه الله تعالىٰ لره وپيژندلو نو د هغۀ نه به ضرور يره كوى۔

او پـدے كښ اشـاره ده چه فرعـون پـه شرك فى الربوبيت كښ اخته وو، نو هغۀ ته د توحيد ربوبيت دليلونه پيش كول ضرورى وو، او معرفت د رب مستلزم وى خشيت لره نو ددے وجه نه ئے فَتَخْشٰى كښ فاء راوړه لكه الله تعالىٰ بل ځاى فرمائى: ﴿ اِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ﴾۔

بيا په تزكيه كښ اشاره ده تخليه ته چه انسان به خپل نفس د هر قسم گندونو ظاهرى او باطنى نه خالى كوى، او په اَهْدِيَكَ كښ اشاره ده صفاتو د تحليه (ښائسته) كولو ته، يعنى په ايمان او په عمل او ښكلے صفاتو اختيارولو سره۔

او ددے نـه روستـو بيا مرتبه د خشيت ده ځكه چه چا كښ حقيقى يره پيدا شى، نو بيا پـه ټول ديـن بـاندے په استقامت سره عمل كوى، او د الله تعالىٰ د هر حكم لحاظ ساتى، كه امر وى او كه نهى۔ نو ځكه ئے دا درے الفاظ په ترتيب سره ذكر كړل۔

فَـاَرٰهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى: ددے آيت نـه د فرعـونيـانو لس حالات ذكر كوى چه هغوى په كومه طريقه انكار وكړو او عذاب پرے راغلو۔

مـوسىٰ عليه السلام فـرعـون مخے تـه د الله تـعـالىٰ لـه اړخـه وركړے شوے خپلے دوه معجزے (سپيـن پړقيدونكے لاس، او موسوى همسا) ښكاره كړے۔ د هغۀ همسا نه مار جوړ شو او پـه زمكـه ئے منـډے شروع كړے، ليكن فرعون د هغۀ پيش كړے معجزے دروغژنے وګڼړلے، هغے ته ئے جادو ووئيلو، د الله تعالىٰ نافرمانى ئے وكړه، او د كبر او غرور اظهار ئے وكړو او د مجلس نـه پاسيـدۀ روان شـو، او پـه زړۀ كښ ئے فيـصله وكړه چه هغه به د موسىٰ عليه السلام د پيش كړو معجزو د شيطانى سازشونو او حيلو په ذريعه مقابله كوى۔

فَكَذَّبَ وَعَصٰى :۔ تكذيب د زړۀ صفت دے، او عصيان د عمل۔

﴿ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى ﴾ ١- ددے يـوه مـعـنىٰ مـخـكښ تيره شوه چه شا ئے راواړه وله يعنى اعـراض ئے وكړو د ايمان نه، او كوشش د فسادئے وكړو، او د موسىٰ عليه السلام د مقابلے دپاره ئے منډے تررے شروع كړے۔

٢- يـا كـلـه چه هغۀ وليدل چه د همسا نه مار جوړ شو نو هغه سخت اُويريدۀ، او شاته

تاؤ شو او په تیزئ سره ئے منډه کړه اُوتښتیدهٔ۔

فَحَشَرَ : بیا هغهٔ خپل قوم او خپل فوج جمع کړو، او د هغوئ مخے ته ئے د موسی عليه السلام د توحید د دعوت نه انکار او د خپل معبود کیدو داسے اعلان اوکړو چه اے خلقو! صرف زهٔ ستاسو د ټولو نه زیات لوی معبود یم۔

د سورهٔ قصص په (۳۸) آیت کښې الله تعالیٰ د هغهٔ د اُلوهیت دعوی په دے الفاظو کښې بیان کړے ده:

﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِىْ ﴾

(اے خلقو! ماته معلومه نهٔ ده چه مانه سویٰ ستاسو بل کوم معبود شته دے)۔

قاضی بیضاویؒ لیکی چه کله فرعون اولیدل چه همسا نه مارجوړ شو او منډے وهی، او خپل ذلت او رسوائی ئے ولیدله، نو دهٔ دپاره مناسبه دا وه چه هغهٔ داسے خبره نهٔ کولے۔ ددهٔ دا خبره دلالت کوی چه کله هغهٔ د موسیٰ عليه السلام همسا خپلے مخے ته منډے وهونکے اولیدله نو په هغهٔ باندے د لیونتوب کیفیت راغے،

او د هغهٔ کفر او عناد زیات شو، او د انجام نه ناخبرئ کښې ئے د موسیٰ عليه السلام او د هغهٔ د دعوت خلاف هر ممکن تدبیر وکړو، تردے چه موسیٰ عليه السلام د هغهٔ د ظلم نه تنګ راغے، او بنی اسرائیل ئے واخستل، او کله چه شپے د شپے د مصر نه روان شو نو هغهٔ د خپل فوج سره هغهٔ پسے واچول، او آخر الله تعالیٰ هغه او د هغهٔ فوج په سمندر کښې ډوب کړل، د هغهٔ همدے بد انجام طرفته الله تعالیٰ په (۲۵) آیت کښې اشاره کړے چه الله تعالیٰ په دنیا کښې دا عذاب ورکړو چه هغه او تمام فرعونیان ئے بحرِ قلزم ته حواله کړل، او په آخرت کښې به هغهٔ له د اُور عذاب ورکوی۔

فَحَشَرَ : ۱- ددے یو مطلب مخکښې بیان شو۔

۲- اَىْ جَمَعَ جُنُوْدَهٗ لِلْقِتَالِ وَالْمُحَارَبَةِ۔

یعنی خپل فوجونه ئے د قتال او جنګ دپاره راجمع کړل۔

۳- اَوْ جَمَعَ السَّحَرَةَ لِلْمُعَارَضَةِ۔ یا جادوګرئے د مقابلے دپاره راجمع کړل۔

٤- اَوْ جَمَعَ النَّاسَ لِلْحُضُوْرِ لِيُشَاهِدُوْا مَا يَقَعُ۔ یا ئے خلق راجمع کړل چه دوی حاضر شی او وګوری چه څه به واقع کیږی او څوك به مقابله ګټی۔ (فتح البیان)

اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى : حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دا کلمه د فرعون د هغه کلمے نه چه په

سورة القصص (۳۸) آیت کښې ذکر ده څلویښت کاله روستو وئیلے شویده لکه دا خبره ابن عباس ﷺ او مجاهدؒ نه نقل ده۔ (ابن کثیرؒ)

او د هغه کلمے مطلب دا وو چه فرعون شرك فی الالوهیة کولو، او ددے کلمے مطلب دا دے چه دے مشرك فی الربوبیت وو۔

اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰی: دهٔ څان ته ولے اعلیٰ رب وئیلو ؟ نو ددے وجه دا وه چه ددهٔ په نیز بانـدے دنیا صرف مصر وو، او ټول تصرفات او انتظامات ددهٔ په اختیار کښې دی، نو دهٔ گمان وکړو چه زما نه بره بل تدبیر کونکے نشته۔ یعنی د الله تعالیٰ د تدبیر او تصرف کولو نه ئے انکار وکړو۔

او بعض مفسرینو وئیلی دی چه ددهٔ مطلب دا وو چه نور آلهه هم ارباب دی، هر یو د یو حاجت د پوره کولو یا د خاص مصیبت لرے کولو ذمه وار دے، او زهٔ (فرعون) خو د ټولو حاجاتو پوره کولو ذمه وار یم نو د نورو نه اعلیٰ شوم۔

یا خو فرعون د خپلے بادشاهئ په نشه کښې دماغ د لاس نه ورکړل، نو د ډیرو نعمتونو وجه دے سرکش شو، او د الله تعالیٰ د ربوبیت نه ئے انکار وکړو۔ او دهری شو۔

او بعض وائی چه فرعون د خالق نه منکر نهٔ وو لیکن د الله تعالیٰ د تصرف او تدبیر کولو نه منکر وو، او دا تدبیر او تصرف ئے څان دپاره ثابتولو۔

﴿ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولٰی ﴾ (۱) دے کښې یو تفسیر دا شو چه الله تعالیٰ د دنیا او د آخرت په عذابونو کښې راګیر کړو۔

(۲) دے کښې دویم تفسیر چه ابن عباس ﷺ ته منسوب دے، دا دے چه آخرة نه مراد روستنئ دعوه او اولیٰ نه مراد اولنئ دعوه ده۔ یعنی فرعون د خپل قوم مخامخ د خپل معبود کیدو دوباره اعلان وکړو۔ اول هغهٔ د موسیٰ علیه السلام د دعوت په شروع کښې ووئیل چه ما د خپل ملك یو یو گوټ تالاش کړے دے، ماته مانه سوئ ستاسو هیڅ یو معبود ملاؤ نشو، او د هغهٔ د څلویښتو کالو نه پس هغهٔ دوباره د خپل قوم او د خپل لښکر مخامخ دا اعلان وکړو چه زهٔ صرف زهٔ ستاسو د ټولو نه لوی معبود یم۔ نو الله تعالیٰ د هغهٔ ددے دواړو طاغوتی دعوو په جزاء کښې هغه هلاك کړو، او د هغهٔ ذلت او رسوائی او هلاکت ئے باقی ټولے دنیا والو دپاره د عبرت نښه جوړه کړه۔ (فتح البیان)

دا تفسیر دومره واضح نهٔ دے، بلکه ددهٔ نورے ډیرے غلطے خبرے او زیات گناهونه او

سرکشیانے وے چه د هغے په سبب راونیولے شو۔
ابن کثیرؒ وئیلی دی چه صرف اوله معنیٰ صحیح ده۔ دلیل پرے د سورة هود (۹۹) آیت ﴿ وَأُتْبِعُوا فِيْ هٰذِهٖ لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيَامَةِ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ﴾ او سورة قصص (٤١) آیت ﴿ وَاَتْبَعْنَاهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ هُمْ مِنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴾ دے۔
نَكَالَ: دا عبرت ناکے سزا ته وائی۔ او خاصکر هغه سزا ته وائی چه منع کونکی وی د کولو د دغه گناه نه په راتلونکی وخت کښ، ددے وجه نه دا په محسوسی عذاب کښ استعمالیږی۔
الْآخِرَةِ وَالْأُوْلٰى : الآخرة: ئے مخکښ راوړو د دنیا نه، یا خو پدے کښ رعایت د فواصلو د آیتونو دے۔ یا پدے وجه چه د آخرت سزا ددنیا نه ډیره زیاته سخته ده، نو د اهتمام د وجه نه ئے هغه مخکښ راوړه۔
إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَخْشٰى: ذلك اشاره ده اخذ (رانیولو) د فرعون ته۔ څوك چه یریږی نو هغه عبرت اخلی۔ ځکه چه د الله تعالیٰ قانون یو دے، په کومو گناهونو چه الله تعالیٰ فرعون رانیولے دے، نو تا به هم پرے رانیسی، نو د توحید او د سنت دشمنی مهٔ کوئ، گنے تباه به شئ۔ نو څوك چه نهٔ یریږی تباه کیږی، او چه یره پکښ راغله نو هغه سمیږی۔ عبرت دے ته وائی چه د یو ځای او واقعے نه ذهن بوځی بل ځای ته یعنی د خپل ځان جوړولو ته۔

أَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَآءُ بَنَاهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ
آیا تاسو ډیرکلك پیدائش والا یئ یا آسمان چه جوړ کړیدے الله۔ پورته کړے ئے دے
سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ
چهت د هغے نو برابر کړے ئے دے۔ او تیارهٔ کړے ئے ده شپه د هغهٔ او راویستلے ئے ده
ضُحَاهَا ﴿٢٩﴾ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحَاهَا ﴿٣٠﴾
رڼرا د هغهٔ۔ (د څاښت وخت) او زمکه روستو ددے نه ئے خوره کړیده۔
أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَاهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا ﴿٣٢﴾
راویستلی ئے دی ددینه اُوبه ددے او گیاگانے ددے۔ او غرونه اُودرولی دی الله تعالیٰ۔

مَتَاعاً لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿۳۳﴾

دپاره د فائدے ستاسو او دپاره د چارپیانو ستاسو۔

تفسیر: ربط :

دا وَهم پیدا شو چه مونږ هرکله مړه شو نو ختم شو نو د اخرت سزا به الله تعالیٰ مونږ له څنګه راکړی؟ نو دلته الله تعالیٰ د اثبات د آخرت دپاره بیا دلائل ذکر کوی۔

او پدے دلائلو کښې مقصد اِظْهَارُ الْقُدْرَةِ عَلٰى تَعْذِيْبِ الْإِنْسَان دے۔ یعنی الله تعالیٰ انسان ته په عذاب ورکولو باندے قادر دے۔

أَأَنْتُمْ: دلته خطاب د قریشو هغه خلقو ته دے چه هغوئ مرګ نه پس ژوند نهٔ منلو، چه کوم قادرِ مطلق د آسمانونو او زمکے په پیدا کولو قادر دے، چه هغهٔ شپه او ورځ پیدا کړی، د زمکے نه ئے چینے روانے کړی، بوټی ئے پیدا کړی، او غرونه ئے په زمکه ښخ کړی دی، هغهٔ ته ستاسو او ستاسو پشان نور دوباره پیدا کول ډیر آسان دی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه اے انسانانو! ستاسو پیدائش لویه خبره ده، اوکه د قوی او اوچت آسمان، چه هغه الله پیدا کړے، هغهٔ ئے پورته اُوچت کړے، او هغهٔ ئے دومره مضبوط او محکم جوړ کړے چه انسانی عقل همیشه راسے حیران دے، او وی به، او هغهٔ شپه تیارهٔ جوړه کړے، چه د هغے تیارهٔ آسمان او زمکه پټوی، او هغهٔ د نمر د رڼا په ذریعه ورځ ښکاره کړے ده دے دپاره چه خلق د ژوند کارو بار وکړی، او هغهٔ زمکه خوره کړے ده، دے دپاره چه خلق په دے باندے ژوند تیر کړی، او د یو ځی نه بل ځی پورے سفر اوکړی۔

د سورهٔ یسٓ په (۸۱) آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی :

﴿ أَوَلَيْسَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلٰٓى أَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ﴾

(آیا کوم ذات چه آسمانونه او زمکه پیدا کړے، هغه د انسانانو پشان په دوباره پیدا کولو باندے قادر نهٔ دے)۔

او د سورهٔ غافر په (۵۷) آیت کښې ئے فرمایلی دی :

﴿ لَخَلْقُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ ﴾

(خامخا د آسمانونو او زمکے پیدائش د خلقو د پیدائش نه لویه خبره ده)۔

سَمْكَهَا: یعنی چهت د آسمان۔

وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا: شپه او ورځ د آسمان نه راوځی ځکه چه دا د نمر تابع دی، او هغه بره دی۔

وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا: د زمکے خِلقت مخکښ شوید ے لکه سورة بقره (۲۹) او حم السجده (۹) آیت کښ راغلی وو ﴿خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ﴾ ﴿ثُمَّ اسْتَوٰى اِلَى السَّمَاءِ﴾ نو دلته بعد په خپله معنیٰ دے، او دا آیت د هغے آیتونو سره هیڅ منافات نهٔ لری، ځکه چه دلته ئے داسے نهٔ دی وئیلی چه [وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ خَلَقَهَا] (چه زمکه ئے ددے نه روستو پیدا کړه) بلکه دحی ئے ذکر کړیده یعنی خورول د زمکے روستو دی۔

نو زمکه مخکښ پیدا شوه، بیا ئے آسمان ته رجوع وکړه، هغه ئے پیدا کړو بیا زمکه یو غونډاری وو هغه ئے خوره کړه۔

أَخْرَجَ مِنْهَا: دا د دَحَاهَا تشریح ده، یعنی څنګه ئے خوره کړه نو هغه داسے۔ نو دلته الله تعالیٰ د خپل کامل قدرت نورے نښے ذکر کوی، فرمائی چه دغه قادرِ مطلق الله د زمکے نه چینے روانے کړے، او هغهٔ د زمکے نه دانے، میوے، بوټی او ونے رازرغون کړل، چه هغه د انسانانو او حیواناتو په کار راځی۔

کوم قادرِ مطلق الله چه د مذکوره شیانو په پیدا کولو قادر دے، هغه یقیناً دا طاقت لری چه هغه تمام انسانان دوباره ژوندی کړی، او د محشر په میدان کښ ئے راجمع کړی او هغوئ له د هغوئ د عملونو بدله ورکړی۔

فَإِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿۳۴﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا
نو کله چه راشی هنګامه لویه۔ په دغه ورځ به یادوی انسان هغه عمل
سَعٰى ﴿۳۵﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ﴿۳۶﴾ فَأَمَّا مَنْ
چه دهٔ کړیدے۔ او ښکاره به کړیشی جهنم هغه چاته چه وینی ئے۔ پس هغه چا
طَغٰى ﴿۳۷﴾ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾ فَإِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَأْوٰى ﴿۳۹﴾
چه سرکشی اُوکړه۔ او غوره ئے کړو ژوند دنیوی۔ نو یقیناً جهنم ځائے د اُوسیدو ددهٔ
وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ
دے۔ او هغه څوك چه اُویریدو د اُودریدو د ربٔ ددهٔ نه او منع ئے کړو نفس خپل

عَنِ الْهَوٰى ﴿۴۰﴾ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوٰى ﴿۴۱﴾
د خواهش نه۔ نو یقیناً جنت ځائے د اُوسیدو ددهٔ دے۔

تفسیر: ربط :

په مخکنو آیتونو کښې د مرګ نه پس ژوند باندے ګنړ دلائل پیش کړے شول، اُوس د قیامت په ورځ د هغه خلقو انجام بیانیږی چه هغویٔ د داسے ظاهر او ښکاره حقیقت نه انکار کوی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه کله هغه عظیم ترین آفت راښکاره شی چه د هغے نوم قیامت دے، چه ددے نه د قریشو کافران انکار کوی، نو د هر انسان مخے ته به د هغهٔ تمام اعمال پیش کړے شی، او هغه به خپل یو یو عمل رایاد کړی، او کافر ته به یقین راشی چه همدا هغه ورځ ده چه ددے نه به دهٔ انکار کولو، او جهنم به د تمام محشر والو مخامخ کړے شی، چه دا به د جهنمیانو نه یوه نوریٔ جوړولو دپاره د خپل رب د حکم په انتظار وی، او ددے په لیدلو سره به جنتیان د خپل رب د احسان شکر اداء کړی، او د جهنمیانو غم او د نجات نه نا امیدی به د حد نه تجاوز وکړی۔

اَلطَّامَّةُ الْكُبْرٰى : طامة د طَمَّ نه دے، اُوچتوالی او ډك والی ته وائی۔ او طامه په اصل کښې د اُوبو هغه سیلاب ته وائی چه کوهیان او کندے وغیره هرڅه ډك کړی۔

یعنی داسے مصیبت چه په هر څیز باندے به احاطه وکړی، او د هر مصیبت نه به اُوچت وی۔ دارنګه اَلدَّاهِيَةُ الَّتِيْ لَا تُسْتَطَاعُ۔ هغه مصیبت او آفت ته وائی چه د هغے څوك طاقت د برداشت نشی لرلے۔

دارنګه دا د طَمَّ نه دے په معنیٰ د ژبے چاړا کیدو سره، او کله چه په انسان باندے ډیر سخت مصیبت راشی، نو ژبه کار پریدی، انسان پکښې چاړا شی، ځکه چه دماغ کار پریدی۔

دلته دا یا د قیامت نوم دے۔ یا دویمے شپیلیٔ ته وائی، دواړه یو بل ته نزدے دی۔ ځکه چه طامّه چه شروع شی نو سمدست قیامت به راشی۔

يَتَذَكَّرُ : پدے ورځ به هر انسان ته د عمل پته ولے لګی ځکه چه الله تعالیٰ چه انسان سره حساب کوی نو په عمل ئے کوی، د یو عمل ښهٔ وو نو د عرش د سوری لاندے ولاړ

دے، او د بـل عـمـل خـراب وو، نـو پـه مـصـیبـتـونو اخته دے، نو هر انسان به وپیژنی چه اعتبار خو عملونو لره دے۔

پـدے وجـه انسـان ډیـر جاهل دے چه کوم شے د فائدے دے چه هغه عمل دے د هغے غم ورسره نشته او کوم شے چه بے فائدے دے د هغے ورسره ډیر فکر دے۔

سَعَی: سعی لفظ ئے ورله ولے استعمال کړو ؟ نو د سعی معنیٰ ده اَلْإِهْتِمَامُ بِالْعَمَلِ۔ د یـو عـمـل اهـتـمام کول دی۔ نو ددے نه معلومه شوه چه هغه عمل باندے به فیصله وی چه انسان په اراده سره کړے وی، او په غیر اختیاری اعمالو باندے فیصلے نۀ کیږی۔

یـو انسان غیر اختیاری یو نیك عمل وکړی، نو هغے کښې اجر نشته، او که یو بد عمل ترے غیر اختیاری وشی نو سزا پرے نشته۔

نـو ددے نـه مـعـلـومیږی چه د عمل دپاره به سعی (اهتمام) کوی۔ نو سعی مقصودی شے دے۔

وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ : اُوس د جهنـم تـذکره او د هغے دوه اسبابه، او بیا جنت او د هغے دوه اسبابه ذکر کوی۔ یعنی په دے ورځ به د حق او باطل فیصله کیږی، محشر والا مومنان او کـافـران بـه پـه دوو ډلو کښې تقسیم شی، او د جهنم او جنت نه سویٔ به بله کومه دریمه استوګنه نۀ وی۔

لِمَنْ يَرَی: هر هغه څوك چه لیدل کولے شی نو هغه به جهنم وینی۔

فَأَمَّا مَنْ طَغَی : یـعـنـی چـاچه په دے دنیا کښې د الله تعالیٰ نه سرکشی کړے وی، کبیره ګـنـاهونه ئے کړی وی، دنیوی ژوند ئے په آخرت باندے غوره کړے وی، ددۀ ټول کوشش د هـمـدے د حـاصـلـولـو دپاره وی، او آخـرت ئے هیر کړے وی، په دے ورځ به ددۀ استوګنه جهنم وی۔

وَآثَرَ : دا وروسـتـے خـکـه وائـی چـه څـوك دنیا غوره کړی په آخرت باندے نو هغۀ کښې سرکشـی راځـی، کـفـر، شـرك، دهـریـت، زنا، غلا، قتل وقتال، فساد او کبر ددے په وجه کیږی۔

د دنیا غوره کول یو په اتباع د شهواتو وی، یعنی شهواتو پسے روان شی، او د الله تعالیٰ حکمونه مات کړی۔ او د دنیا د غوره کولو اعلیٰ او ادنیٰ مرتبے هم شته۔

ادنیٰ مـرتبـه ئے دا هـم ده چـه بـعـض اوقـاتـو کـښې مستحب اعمال پریخودل په حلال

شهواتو باندے، پدے باندے اګرکه الله تعالیٰ بنده نهٔ راګیروی لیکن مرتبه ئے کمیږی لکه یو تن د الله تعالیٰ عبادت پریدی، او په مباحو کښې ولګیږی نو دا هم یو نوعه د دنیا غوره کول دی۔ او غټ غوره کول دا دی چه انسان دنیا غوره کړی، مونځ روژه، زکاة او حج وغیره ، د جمعے مونځونه پریدی، او دارنګه د الله تعالیٰ توحید او دین پریدی۔

اَلْجَحِيْمَ: دا غټ اُور ته وائی۔

وَأَمَّا مَنْ خَافَ: دا دویم فریق بیانوی۔ او چا چه د الله تعالیٰ ویرے له په خپل زړهٔ کښې ځائے ورکړے وی، او دے ایمان سره ئے په دنیا کښې ژوند تیر کړے وی چه دے به د خپل رب مخے ته د محشر په میدان کښې ودریږی، او ددے ایمان د اثر د وجے نه دهٔ خپل ځان د نفس د خواهش د تابعداریٔ نه لرے ساتلے وی، په دے ورځ به ددهٔ د اُوسیدو ځائے جنت وی، چه د هغے نعمتونه نهٔ کومے سترګے لیدلی دی، نهٔ کوم غوږ آوریدلی دی، او نهٔ د کوم انسان زړهٔ د هغے خیال او تصور کولے شی۔

مَقَامَ رَبِّهٖ: (یعنی د پیشئ د رب نه)

(۱) مقام مصدر میمی دے په معنیٰ د قیام سره، او دا مضاف دے مفعول ته، او دا په آخرت کښې مراد دے یعنی ودریدل مخامخ رب خپل ته په ورځ د حساب کښې۔

(۲) یا دا مصدر مضاف دے فاعل ته۔ او د قیام نه مراد علم دے یعنی یریږی د ودریدو او د علم د رب ددهٔ نه په دهٔ باندے۔ یعنی دے نه یریږی چه الله تعالیٰ مے په سر ولاړ دے هغه ما وینی، زهٔ ولے دا ګناه وکړم۔ نو ځکه ورپسے وائی :

وَنَهَى النَّفْسَ: یره سبب دے د منع کولو د نفس د ګناهونو او د خواهشاتو نه۔

سهل بن عبد الله التستریؒ وائی :

د خواهش پریخودل د جنت چابی ده، نو دارنګه د خواهش تابعداری د ګناهونو چابی ده۔

او خوف د انسان د زړه نه خواهشات وباسی۔

ابراهیم بن سفیانؒ وائی : مَا سَكَنَ الْخَوْفُ قَلْبًا اِلَّا اَحْرَقَ مَوَاضِعَ الشَّهَوَاتِ مِنْهُ۔

د الله تعالیٰ خوف چه کله یو زړه ته ننوزی نو د خواهشاتو ځایونه ترے وسیزی۔

ابو سلیمانؒ وائی : مَا فَارَقَ الْخَوْفُ قَلْبًا اِلَّا خَرِبَ۔

کله چه زړه نه یره د الله تعالیٰ وځی نو هغه خراب شی۔

(مدارج السالكين ١/٥١٣. واحياء علوم الدين ٤/ ١٦٢، والرسالة القشيرية)

کـه يـو تن کښې يره وي، او خواهشات نۀ پريدی، نو دا کمال نۀ دے، او يو تن خواهشات پـريـخـودل خـو د الله نۀ يريږي نو دا هم کمال نۀ دے، بعض کافران شراب نۀ څکي، زنا نۀ کـوي او غـلا نـۀ کـوي هسے د خپل سرې توب يا د صحت يا د کاروبار د وجه نه چه هغه خراب نشي، نو دا څه کمال نۀ دے، کمال دا دے چه د الله د يرے د وجه نه ګناه پريدے۔

اَلْمَاْوٰی: يعنى اسنوګنه د دوئ ده۔

يَسْأَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا ﴿٤٢﴾
تپوس کوی دوی تا نه په باره د قيامت کښې چه کله به وی اُودريدل د هغے۔
فِيْمَ أَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا ﴿٤٣﴾ إِلٰى رَبِّكَ مُنْتَهَاهَا ﴿٤٤﴾
په څه کښې ئے تۀ د ياداشت د هغے نه۔ رب ستا ته انتهاء د علم د هغے دے۔ (ګرځيدل
إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشَاهَا ﴿٤٥﴾
د علم د هغے دے) يقيناً تۀ يره ورکونکے ئے هغه چا ته چه يريږی ددے نه۔
كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا
ګويا که دوی په هغه ورځ چه وبه وينی هغے لره (ګمان به کوی)
لَمْ يَلْبَثُوْا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا ﴿٤٦﴾
چه نۀ وو ايسار شوی دوی مګر مازيګری يا څاښت وخت د هغے۔

تفسير: انسانانو له د قيامت د ورځے د ويرے او خطرناکئ زيات احساس ورکولو دپاره الله تعالىٰ نبى كريم ﷺ تـه خطاب کوی، فرمائى چه د قيامت منکرين تا نه پوښتنه کوی چـه آخـر هـغـه درنـه او ګرانه ورځ به کله راځی؟ حالانکه تۀ ددے په باره کښې هيڅ هم نۀ پيژنے، ددے د راتلو وخت خو صرف ستا رب ته معلوم دے۔

مُرْسَاهَا: اَیْ قِيَامُهَا۔ يعنى ددے قائميدل۔

فِيْمَ أَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا: اَیْ لَسْتَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا فِیْ شَیْءٍ۔

يـعـنـى تۀ د هغے د يادولو نه په هيڅ شی کښې نۀ ئے۔ يعنى تا ته هغه ياده او معلومه نۀ

ده چه تهٔ ئے دوی ته یاده کړے۔ یعنی دا ستا فن او کار نهٔ دے چه خلقو ته به د قیامت د ورځے تعیین کوے۔

إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَاهَا: جار مجرور مقدم شو د تخصیص دپاره، او منتهیٰ نه مُنتَهٰی عِلۡمِهَا مراد دے۔ یعنی خاص ستا رب ته انتهاء د علم د قیامت ده، یعنی ټول خلق علمونه الله ته واپس کوی چه په قیامت خبردار صرف او صرف الله تعالیٰ دے۔

إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرُ: الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته فرمائی چه ستا کار پیغام رسول دی، ستا ذمه داری دا نهٔ ده چه خلقو ته د قیامت د راتلو یقینی وخت وښائے، ددے علم خو صرف ستا د رب سره دے۔

د اِنذار نه مراد اخبار او اِعلام دے، یعنی تهٔ خبر او انذار هغه چا ته ورکوے چه هغه د قیامت نه یرېږی یعنی ستا انذار هغه چا ته فائده ورکوی چه د قیامت نه یره کوی۔ لکه همدا خبره په ګڼړو آیتونو کښ ذکر ده۔

﴿ فَذَكِّرۡ بِالۡقُرۡآنِ مَنۡ يَّخَافُ وَعِيۡدِ﴾ (ق : ٤٥) ﴿ اِنَّمَا تُنۡذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكۡرَ وَخَشِيَ الرَّحۡمٰنَ ﴾ (يس : ١١) ﴿ فَذَكِّرۡ اِنۡ نَفَعَتِ الذِّكۡرٰى، سَيَذَّكَّرُ مَنۡ يَّخۡشٰى﴾ (اعلیٰ : ٩/ ١٠)۔

كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ: اُوس بیا د قیامت د سختیو بار بار احساس ورکولو دپاره الله تعالیٰ وفرمایل چه د قیامت منکرین چه په خپلو سترګو دا اووینی، نو د ډیرے ویرے نه به دوئ ته داسے معلومیږی چه دوئ په دنیا کښ یا په خپلو قبرونو کښ صرف یو ماښام یا یو سهار پاتے شوی وو۔

يَوۡمَ يَرَوۡنَهَا: ضمیر ساعة (قیامت) ته راجع دے۔

لَمۡ يَلۡبَثُوٓا: دلته يَظُنُّوۡنَ فعل پټ دے۔ یعنی دوی به دا ګمان کوی۔

عَشِيَّةً: دا د ماسپښین نه تر غروب د نمر پورے وخت ته وئیلے شی۔

أَوۡ ضُحَاهَا: سهار د مازیګر۔ نو هَا ضمیر عَشِيَة ته راجع دے۔

مازیګر ته ئے اضافت وکړو ځکه چه د ضحیٰ اطلاق کله په ټوله ورځ باندے کیږی لکه په سورة الضحی کښ راځی۔ یعنی د مازیګر په مقابله کښ چه د سهار کوم وخت دے۔ او دا دواړه تقریباً په اندازه کښ برابر دی۔

یعنی دوی خو په دنیا باندے نازیږی او کبر او غرور کوی خو بیا به ورته د دنیا ژوند دومره لږ ښکاره شی، لکه په سورة احقاف (٣٥) آیت کښ ورته (سَاعَةً مِنۡ نَهَارٍ) وئیلے

شویدے۔ او هغه ساعت د ورځے عَشِيَة ته هم شامل دے او ضحیٰ ته هم۔

وبالله التوفیق. والله اعلم.

امتیازات او خصوصیات

۱– پدے سورت کښې ذکر د نازعات ملائکو وشو په قبض د ارواحو۔

۲– او د ملائکو ناشنا صفات پکښې ذکر دی۔

۳– تزکیة النفس ته پکښې دعوت ورکړے شویدے۔

٤– د نفخه ثانیه نوم ئے الطامة الکبریٰ ایخودے دے۔

٥– او د جنت او د جهنم دوه دوه اسبابه خودلے شویدی۔

ختم شو تفسیر د سورة النازعات په رمضان (۱۷) او تصحیح په ورځ د عید الاضحیٰ۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

رکوعاتها (۱)	(۸۰) سُوۡرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ	آياتها (٤٢)

سورۀ عبس مکی دے، په دے کښې دوه څلویښت آیتونه او یوه رکوع ده

تفسير سورة عبس

نوم : (۱) دے ته یو سورتِ[عَبَسَ] وائی (۲) ددے نوم [اَلسَّفَرَة] (۳) او سورة الاعمىٰ (٤) او [الصَّاخَّة] هم راغلے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نيز مکی دے۔

ابن مردويهؒ او بيهقیؒ د ابن عباس ﷺ نه روايت کړی دی چه سورۀ عبس په مکه کښې نازل شوے۔ ابن مردويهؒ د ابن زبير ﷺ نه هم دا نقل کړی دی۔

د سورت مقصد

اَلزَّجۡرُ وَالتَّوۡبِيۡخُ لِلۡمُعۡرِضِيۡنَ عَنۡ آيَاتِ اللّٰهِ سُبۡحَانَهٗ وَعَنۡ تَزۡكِيَةِ النَّفۡسِ۔

پدے سورت کښې الله تعالىٰ رټنه ورکوی هغه چا ته چه د الله تعالىٰ د آيتونو نه اعراض کوی، برابره ده آيتونه متلوّه دی، او که آيات مشهوده دی۔ او خپل ځان نۀ پاکوی۔

ځکه چه پدے آيتونو سره خو د انسان نفس پاکيږی، او يو تن ترے اعراض کوی او ځان نۀ پاکوی نو دا خو د سختے رټنے لائق دے۔

وَالۡبِشَارَةُ لِمَنۡ اَقۡبَلَ اِلَيۡهَا وَزَكّٰى نَفۡسَهٗ۔ او ددے بالمقابل چا چه د الله د آيتونو نه اعراض نۀ دے کړے بلکه دے آيتونو ته متوجه شويدے او خپل ځان ئے پاك کړيدے نو د هغوی دپاره زيرے ورکوی۔

ددے وجه نه په مينځ کښې به دوه ډلے جوړه وی، (وجوه يومئذ مستبشرة الخ) او د هغوی صفتونه او جزاء ګانے او سزاګانے۔

او د اعراض دوه شکلونه ئے خودلی دی، یو د قرآن کریم او د رسول کریم ﷺ نه اعراض کول، او بل د ادله او نعمتونو نه اعراض کول، چه دا چا راکړیدی دے ته فکر نهٔ کوی نو پدے باندے رد کوی۔

پدے کښې ئے رسول الله ﷺ ادب د تعلیم هم ورکړے دے۔ هغه ادب دا دے چه د دین په بیانولو کښې به تقدیم د منیبینو کولے شی په معاندینو (ضدیانو) باندے۔

ځوك چه انابت لری نو هغوی ته دین بیانول مخکښې دی په نسبت د هغه خلقو چه هغوی ضدیان دی۔ نو داسے مهٔ کوه چه معاندینو ته ځان نزدے نزدے کوے، او مُنیبین شا ته غورزوے۔

نو گویا که خلاصه ئے دا شوه زجر او توبیخ هغه کسانو ته چه اعراض کوی د الله تعالیٰ د آیتونو متلوه او مشهوده نه، او د تزکیه نفس نه اعراض کوی، ځان نهٔ پاکوی، او زیرے ورکوی هغه چا ته چه متوجه کیږی د الله آیتونو او د خپل نفس تزکیه ته، سره د بیان د جزاء او عقوبت د هغوی او سره د بیان د ادب د تعلیم رسول الله ﷺ ته۔

د سورت شان نزول

د رسول الله ﷺ حرص وو د مشرکانو په هدایت باندے، نو یوه ورځ څه مشران مشرکان راغلی دی لکه ابوجهل، ولید، عتبه، شیبه وغیره۔ د رسول الله ﷺ په یو مجلس کښې ناست دی، او د الله رسول ﷺ ورته خبرے کوی۔

نو هغوی په استغناء باندے ماړه ناست دی، هیڅ پرواه ئے نشته، د دین خبرے ورته هسے گپ ښکاره کیدلے، او بل طرفته د رسول الله ﷺ حرص وو چه دا خلق هدایت قبول کړی چه الله تعالیٰ ئے د اُور نه خلاص کړی ځکه چه دا خو جاهلان دی نهٔ پوهیږی۔

نو پدے کښې عبد الله بن ام مکتوم ﷺ دے مجلس ته راغے چه په سترگو ړوند وو، او د رسول الله ﷺ نه ئے د دین د مسائلو تپوس شروع کړو۔ نو رسول الله ﷺ پدے باندے خفه شو (مگر اخلاق ئے ډیر اُوچت وو نو هغه ئے منع نکړو چه غلے کینه، چپ شه) صرف رسول الله ﷺ ته خفگان ورسیدو، او دا قانون وی چه کله زړه خفه شی نو په مخ باندے اثر وشی نو د رسول الله ﷺ په مخ باندے اثر وشو تندے ئے راتریو شو

(مقصد ئے دا وو چه دا خو زمونږ خپل ملگرے دے، مؤمن دے، بل وخت به تپوس

وکړي، او بل طرفته دا مجرمان راغلي دي، دوی ته بيان پکار دے چه دویؓ الله تعالیٰ بنه کړي) دهٔ له هم مناسبه نهٔ وه چه پدے وخت کښې دا تپوس نه کوی، ليکن دا غريب معذور وو، ړوند وو، د مجلس حقيقت ورته نهٔ وو معلوم. چه ګڼے رسول الله ﷺ په داسے حالت کښې مصروف دے.

نو پدے کښې الله تعالیٰ دا سورت نازل کړو او الله تعالیٰ پکښې خپله استغناء بيان کړه چه زهٔ غني يم د خلقو د ايمان نه، نو تهٔ هم ځان د دویٔ نه مستغني کړه، صرف بيان ورته وکړه، څوك چه الله تعالیٰ طرفته انابت (رجوع) کوی نو الله تعالیٰ ورته هدايت کوی، نو هغهٔ ته دعوت ورکړه، او څوك چه نهٔ راځي او اعراض کوی نو هغه پريده، الله تعالیٰ دِے ئے هلاك کړي خپل کار به کوی. (قُتِلَ الۡاِنۡسَانُ) کښې ورته الله تعالیٰ ښيرے کړيدی.

نو په هغه باندے به رد وکړی چه دا انسان ځان ته نهٔ ګوری چه الله تعالیٰ دومره دلائل ودرولي دی او دے بيا هم عبرت نهٔ اخلي، نو ددے دلائلو باوجود تهٔ ورسره دومره خواری مهٔ کوه. که دلائل نهٔ وے بيا به دِے ورسره خواری کولے.

پدے کښې اشاره وه چه همدغه صحابي ته دين بيان کړه، او د مشرکانو نه اعراض وکړه، دومره چاپلوسي ئے مهٔ کوه. دا ادب وو رسول الله ﷺ ته او بيا هر داعي ته دے.

په روستو زمانه کښې به رسول الله ﷺ ددے عبد الله بن ام مکتوم ؓ ډير ادب کولو، کله چه به مجلس ته راغے نو داسے به ئے ورته وئيلے [مَرۡحَبًا بِمَنۡ عَاتَبَنِيۡ فِيۡهِ رَبِّيۡ].

هغه چا ته مرحبا ده چه الله تعالیٰ زهٔ د هغهٔ په باره کښې ملامته کړے يم.

(قرطبيؒ والبغویؒ)

دا وه خلاصه د رواياتو پدے باب کښې.

او دا صحابي رسول الله ﷺ په مسجد نبوی باندے ديارلس کرته امام مقرر کړے وو کله چه به جهادونو ته تللو نو دا به ئے نائب مقررولو.

ددے نه معلوميږی چه د ړوند سړی امامت بالکل جائز دے، او هيڅ کراهت پکښې نشته، او کوم علماء کرامؒ چه ورته مکروه وائي نو د هغوی قول د رسول الله ﷺ د صحيح حديث مخالف دے. رحم الله الجميع.

او دا د ټولو مفسرينو تفسير دے.

پدے وخت کښې څه مبتدعين او خوارج وائي چه دا خبره صحيح نهٔ ده چه رسول الله

ﷺ تندے تریو کړو ځکه چه دا خو د اُوچتو اخلاقو خلاف ده۔

جواب دا دے چه رسول الله ﷺ بشر وو، او هغهٔ ته به غصه ورتلله، او دا هم د الله تعالیٰ دپاره وه۔ کله نا کله ئے بنیرے کړیدی، او دائے هم وئیلی دی چه زهٔ بشر یم کله به یو تن بنیرے وکړم او هغه به لائق نهٔ وی نو اے الله ! دا به د هغه دپاره نعمت گرځوے۔ الله تعالیٰ سره ئے دا شرط لگولے وو۔ او دلته الله تعالیٰ د خپل نوم ځو مره ادب کړیدے چه مخامخ ئے ورته نهٔ دی وئیلی چه (عَبَسْتَ وَتَوَلَّيْتَ) تا تندے تریو کړو او مخ دِے واړه ولو۔

ځکه چه پدے لفظ کښې د رسول الله ﷺ خفگان راتللو۔ بلکه هغه ته ئے په ډیر ښه انداز سره تعلیم ورکړو۔

عَبَسَ وَتَوَلَّى ﴿١﴾ أَنْ
خفه شو (تندے تریو کړو نبی ﷺ) او مخ ئے اُوگرځوو۔ ددے وجه نه
جَآءَهُ الْأَعْمٰى ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكّٰى ﴿٣﴾
چه راغے ورته ړوند۔ او څه شی پو هه درکړیده تا له چه کیدیشی چه دے به پاك
أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرٰى ﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ
شی۔ یا به نصیحت واخلی نو فائده به ورکړی ورته نصیحت۔ هر چه هغه څوك دے
اسْتَغْنٰى ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُ تَصَدّٰى ﴿٦﴾
چه ځان ئے بے پروا کړیدے۔ نو تهٔ هغه ته ورمخکښې کیږے۔ (تهٔ هغه ته ځان پیش کوے)۔

تفسیر : ترمذیؒ، ابن المنذرؒ، ابن حبانؒ، حاکمؒ او ابن مردویهؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړی دی چه ﴿عَبَسَ وَتَوَلّٰى﴾ د ابن ام مکتومؓ (نابینا) په باره کښې نازل شوے وو۔ دا صحابی رسول الله ﷺ خواته راغے، او هغهٔ ته ئے اوئیل : اے د الله رسوله ! تهٔ ماته د رُشد او هدایت څهٔ خبرے اوښایه، او نبی ﷺ سره (په دے وخت کښې) د مکے د مشرکانو سرداران ناست وو، دے وجے نه نبی ﷺ د هغهٔ نه مخ واړولو، نو دا سورت نازل شو۔

عبد الرزاقؒ، عبد بن حُمیدؒ او ابو یعلیٰ د انس ﷺ نه روایت کړی دی چه کله عبد الله بن ام مکتوم ﷺ نبی ﷺ خواله راغے نو هغهٔ ذ اُبی بن خلف سره خبرے کولے، دے وجے

نه هغهٔ د هغهٔ نه مخ واړولو، نو ﴿ عَبَسَ وَتَوَلّٰى أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمٰى ﴾ نازل شو۔
نبي ﷺ به ددې نه پس د ابن ام مكتوم ﷜ عزت كولو۔ په روايتونو كښې راغلي دي چه دا نابينا صحابي د خديجې رضي الله عنها د ماما خوى وو، او د مكي دور په شروع كښې ئې اسلام راوړې وو، او په مدني دور كښې نبي ﷺ د زياتره غزواتو په وخت همدا په مدينه كښې خپل خليفه او نائب جوړ كړې وو۔
الله تعالىٰ وفرمايل چه نبي كريم ﷺ نابينا صحابي دپاره خپل تندې تريو كړو، د هغهٔ نه ئې مخ واړولو، او هغهٔ سره ئې خبرې كول برداشت نهٔ كړل، چه هسې نهٔ داسې اوشي چه دهٔ طرفته توجه كولو سره د قريشو هغه مشران بد وګنړي چه د هغوئ مخې ته نبي ﷺ د ايمان او اسلام لګيا دې تشريح كوي، د هغوئ ﷺ دا اعراض دعوتي نقطهٔ نظر سره نفعمن نهٔ وو، ځكه چه هغه په ډير إخلاص او رغبت سره د قرآن او سنت تعليم حاصلولو دپاره راغلې وو، د هغهٔ خواهش وو چه د نبي ﷺ نه علم حاصل كړي، او د خپل روح تزكيه وكړي، د بدو اخلاقو نه ډډه وكړي، او ښائسته اخلاق اختيار كړي، يا د هغهٔ نه د نصيحت خبرې حاصلې كړي، او د هغې نه فائده واخلي۔
او كوم كس چه په خپل دولت او قوم كښې د خپلې مرتبې او عزت د وجې نه ښځ كوړ كړې دې، او د ايمان او اسلام او د وحي د خبرو آوريدو دپاره تيار نهٔ دې، هغهٔ طرفته نبي ﷺ ورمائله شي او هم هغهٔ طرفته پوره توجه وكړي، حالانكه كه دغه متكبر اسلام نهٔ قبلوي، او د هغهٔ نفس نهٔ پاكيږي، نو ستا په دې كښې څهٔ نقصان دې، ستا ذمه داري خو صرف پيغام رسول دي، دې وجې نه كوم كافران چه د اسلام نه بې پروائي ښكاره كوي تهٔ د هغوئ فكر مهٔ كوه۔
امام رازيؒ د ټولو مفسرينو اتفاق نقل كړيدې پدې خبره چه په عَبَسَ او تَوَلّٰى كښې ضميرونه نبي كريم ﷺ ته راجع دي، او د اعمىٰ نه مراد ابن ام مكتوم ﷜ دې۔
او قاضي عياضؒ په شفاء كښې ليكلي دي چه عَبَسَ او تَوَلّٰى كښې ضميرونه هغه كافر ته راجع دي چه رسول الله ﷺ د هغه سره خبرې كولې، او باقي خطابات نبي كريم ﷺ ته دي۔
ليكن د مخكني حديث په وجه غوره دا ده چه دا ټول ضميرونه رسول الله ﷺ ته راجع دي۔ او دغه شان د روستو سياق نه معلوميږي۔
وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكّٰى : يعني تهٔ څه پوهه كړې ئې ددهٔ په حال باندې ترديې چه تهٔ د

هغه نه مخ اړوي۔
لَعَلَّهُ يَزَّكّٰى: دا جمله مستأنفه ده پدې کښې د ابن ام مکتوم رضی اللہ عنہ داسې شان او حالت بيانوي چه هغه د مخ اړولو مناسب نهٔ دے، او هغه دا چه دے په نيك اعمالو سره د ګناهونو نه ځان پاکول غواړي۔ او په لَعَلَّ سره راوړو کښې دا فائده ده چه د کوم شخص د تزکيه اُميد وي، نو د هغهٔ نه اعراض کول مناسب نهٔ دي۔
أَوْ يَذَّكَّرُ: يا به عبرت واخلي۔ (اَوْ) د مانعة الخلو دپاره دے۔

يزکی او يذکر ترمينځ فرقونه

١- د يَزَّكّٰى او يَذَّكَّرُ فرق دا دے چه يَزَّكّٰى دے ته وائي چه خبره واوري، نو سمدست عمل وکړي او ځان پاك کړي۔ او يَذَّكَّرُ دے ته وائي چه خبره واوري او په هغې باندې سوچ کوي، او په آرام په هغې باندې عمل شروع کړي۔ لکه سړے اول عبرت واخلي چه دا خو ډيرې ښې خبرې وشوې عمل پرې پکار دے، نو روستو ښهٔ شي۔
٢- يَزَّكّٰى : تزکيه د عمل سره لګي او يَذَّكَّرُ د عقيدې سره لګي۔ يعني نفس به ئې پاك شي نو ګناهونه به پريدي او يَذَّكَّرُ نصيحت او عبرت به واخلي نو عقيده به ئې برابره شي۔
٣- تزکيه، طهارت د نفس دے د حرامو نه، او تذکر عمل کول دي په اوامرو د الله تعالیٰ باندې۔
٤- دارنګه تزکيه ايمان راوړل دي بغير د احتياج نه وعظونو او دليلونو ته، او تذکير غوږ کيخودل دي وعظونو او دليلونو ته او بيا په هغې باندې عمل کول دي۔ بناء پدې فرق سره (اَوْ) د انفصال حقيقي دپاره دے۔ يا د مانعة الجمع دپاره دے۔ (احسن الکلام)
مَنِ اسْتَغْنٰى: يعني څوك چه په سبب د خپل مال او مشرئ سره ځان د الله تعالیٰ نه بې پرواه ګڼړي او د هغهٔ ته او د هغهٔ دين ته هيڅ احتياج نهٔ محسوس کوي۔ لکه د بعض کسانو دا مرض دے چه الله تعالیٰ ته او د هغهٔ دين ته خپل ځان محتاج نهٔ ګڼړي، بلکه په نبي ﷺ او په علماء کرامو باندې تکبر کوي۔
استغنى باب استفعال دے، استفعال ئې ددې دپاره راوړو چه انسان په اصل کښې غني نشي کيدې ځکه چه غني خو بې حاجته وي او انسان په هر څه کښې محتاج دے ليکن

دے ځان قصداً بے حاجته ښکاره کړی۔

تَصَدّٰی: تَـصَـدِّیْ (ځـان پـیـش کـول) په اصل کښ د چا خبرے ته غورږ کیخودل دی۔ او تَصَدّٰی په اصل کښ تَتَصَدَّدُ دے، د صَدٌ نـه اخستے شـویدے، یو څیز ته مخامخ کیدل او پیش کیدل دی۔

یا دا د صَدیٰ نه دے، انگئ ته وائی۔ یعنی هغه آواز چه په خالی او سختو ځایونو کښ بیرته آوریدلے شی۔ مراد ترے نه اِصغاء (غورږ کیخودل او توجه ورکول دی)۔

وَمَا عَلَیۡكَ اَلَّا یَزَّكّٰی ﴿۷﴾ وَاَمَّا مَنۡ جَآءَكَ
او نشته په تا باندے څه گناه چه دے ځان نهٔ پاکوی۔ او هرچه هغه څوك چه راغے تا ته
یَسۡعٰی ﴿۸﴾ وَهُوَ یَخۡشٰی ﴿۹﴾ فَاَنۡتَ عَنۡهُ تَلَهّٰی ﴿۱۰﴾ كَلَّاۤ
چه منډے وهی۔ او دے یریږی (د الله نه)۔ نو تهٔ د هغهٔ نه ځان غافله کوے۔ هیچرے داسے
اِنَّهَا تَذۡكِرَةٌ ﴿۱۱﴾ فَمَنۡ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿۱۲﴾
نهٔ ده پکار۔ یقیناً دا (آیتونه) نصیحت دے۔ نو د چا چه خوښه وی ددے نه دِے عبرت واخلی۔

تفسیر : وَمَا عَلَیۡكَ اَلَّا یَزَّكّٰی : یـعـنـی کـوم کـافر انسان چه د خپل نفس تزکیه نهٔ کـوی، ایـمـان نـهٔ راوړی او هـدایـت نـهٔ قبـلـوی، او د گناهونو نه ځان نهٔ بچ کوی، نو په تا باندے د هغهٔ هیڅ گناه نشتـه، تا خو خپله ذمه واری په بیان سره فارغه کړیده۔

وَاَمَّا مَنۡ جَاءَكَ: پدے کښ الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ نور ملامته کوی، فرمائی چه کوم کـس د اِلٰهی خوف او تقویٰ د وجے نه ستا خواته په منډه راغلے، دے دپاره چه تهٔ هغهٔ ته د دیـن تـعـلیم ورکړے، او په هغهٔ باندے په پیغمبرانه نصیحتونو سره پیرزو وکړے، د هغهٔ نـه تـا مـخ واړولـو، او هـغـه خـلـقـو طرفته متوجه شوے چه هغویٔ په کبر او غرور کښ مبتلا دی، او ستا په خبرو باندے غورږ نهٔ گروی۔

یَسۡعٰی : یـعـنـی کـوشش کـوی په طلب د علم او هدایت کښ، او د دین اهتمام ورسره دے۔

وَهُوَ یَخۡشٰی: یعنی دا سعی د وجه د خشیتِ اِلٰهی ده، دنیاوی غرض دپاره نهٔ ده۔

تَلَهّٰی : دا په اصل کښ تَتَلَهّٰی دے، د لَهُـو نـه دے، ځان په زوره غافل کول د وجه د شغل

نه په بل کار باندے۔

فوائد : ۱- حافظ سیوطیؒ په خپل کتاب ((الاکلیل)) کښ لیکلی دی چه په پورتنو آیتونو کښ الله تعالیٰ د فقیرانو د زړونو ساتلو، د هغوئ ضرورتونه پوره کولو او په علمی مجلسونو کښ هغوئ طرفته د متوجه کیدو ترغیب ورکړے دے۔ اهـ

((الاکلیل فی استنباط التنزیل))

۲- دے وجے نه د سفیان ثوریؒ په باره کښ راغلی دی چه دده په مجلس کښ به فقیران، امیران جوړیدل۔

۳- دا آیتونه دلیل دے چه نبی کریم ﷺ ته چه الله تعالیٰ د وحی په ذریعه د غیبو کومه خبره هم ښودلے، هغه هغهٔ د خپل امت نه نهٔ ده پټه کړے۔

د سلفو علماؤ به وئیلے چه که رسول الله ﷺ د وحی څهٔ برخه پټولے، نو د خپل ځان په باره کښ به ئے دا ملامتیا خامخا پټه کړے وے۔

٤- ابن امّ مکتوم رضی الله عنه سره د نبی کریم ﷺ پورتنے سلوك څهٔ د ګناه خبره نهٔ وه، ځکه چه هغهٔ سره د قریشو لوی لوی سرداران موجود وو، او هغهٔ په دے لالچ کښ یو مسلمان له د لږ ساعت دپاره توجه ورنهٔ کړه چه شاید دا خلق مسلمانان شی، او د دغه کس د سوال جواب به روستو ورکړو، دے دپاره چه دغه کافران پانهٔ سی۔

په ظاهره کښ د اسلامی دعوت همدا تقاضا وه، او الله تعالیٰ طرفته د عامو دُعاتو دپاره داسے کول مناسب وو، لیکن د الله تعالیٰ په نظر کښ د رسول الله ﷺ سلوك د خپلو صحابوؓ سره ددے نه اعلیٰ او اُوچت کیدل پکار وو، دے وجے نه الله تعالیٰ نبی ﷺ ملامته کړو، یعنی د ملامته کولو سبب غوره کار پریښودل وو، نهٔ ګناه کول۔

٥- یَسْعٰی نه معلومه شوه چه د علم طلب به په شوق او منډے سره کولے شی، او همدا عمل الله تعالیٰ ته ډیر محبوب دے۔

٦- دے نه دا هم معلومه شوه چه د الله تعالیٰ په نیز باندے د دین د بیان نه استغناء کول ډیر لوی بد صفت دے، ډیر خلق د جُمعے په ورځ دکانونو کښ ناست وی چه خطبه ختمه شی یا ختمیدو ته نزدے شی نو راروان شی، دا هم ډیر لوی جرم دے چه زمونږ امتِ مسلمه ورسره مخامخ دے۔

کَلَّا: دا ردعیه دے، رَدْعٌ عَمَّا وَقَعَ فِیْهِ الْعِتَابُ ۔ یعنی د کوم شی په باره کښ چه ورته

عتاب ورکړے شو نو د هغې نه منع ده۔

معنیٰ دا ده: چه اُوس هیڅ کله تاله دا نۀ دي پکار چه د مسلمانانو فقیرانو او مسکینانو نه مخ واړوے او په کبر او غرور او ضد کښې مبتلا کافرانو طرفته بیخي متوجه شې۔ یا کَلَّا په معنیٰ د حَقًّا سره دے۔

إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ: (۱) (هَا) ضمیر دے سورت ته راجع دے۔یعنی ددے سورت په مخکنو آیتونو کښې چه کوم نصیحت پروت دے، هغه دا چه الله تعالیٰ طرفته دعوت ورکونکو لره د خلقو سره په معامله کولو کښې د برابرئ خیال ساتل پکار دي۔

(۲) یا ضمیر ماقبل خصلت او واقعے ته راجع دے۔ یعنی په دے واقعه کښې د نورو دپاره عبرت دے چه هر کله په داسے سلوك باندے الله تعالیٰ خپل نبي ﷺ ملامته کړو، چه د هغۀ عظیم مقام د الله تعالیٰ په نیز هر چاته معلوم دے، نو بیا که نور څوك داسے وکړي نو د هغوئ انجام به څۀ وي۔

فَمَنْ شَاءَ: یعنی د الله تعالیٰ له اړخه دا یو ډیرے لوی نصیحت دے چه ددے نه څوك غواړي په عمل کولو سره فائده پورته کړي۔

ذَكَرَهُ: یعنی نصیحت دِے واخلي ددے قرآن نه۔ یا یاد دِے کړي قرآن لره، او ددے اوامر او نواهي او مواعظو لره او (ہٗ) ضمیر تذکره ته راجع دے، په تاویل د ذکر یا د قرآن یا د وحي سره دے۔

فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿۱۳﴾ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿۱٤﴾
(لیکلے شویدے) په پاڼو عزتمندو کښې۔ چه اُوچتے کړے شویدي، پاکے کړے شویدي۔
بِأَيْدِيْ سَفَرَةٍ ﴿۱٥﴾ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴿۱٦﴾
په لاسونو د لیکونکو ملائکو کښې دي، چه عزتمند نیکان دي۔

تفسیر: پدے آیتونو کښې د پروت نصیحت د عظمت او اهمیت بیانولو دپاره الله وفرمایل چه دا خو د هغه معززو او مکرمو ملائکو په صحیفو کښې لیکلے دے چه په دے کښې د پرتو علمونو او حکمتونو د وجے نه د الله تعالیٰ په نیز ددے ډیر اوچت مقام دے، او دے له صرف پاك ملائك ګوتے وروړي، او دا د الله تعالیٰ رسول ته داسے ملائك را

رسوی چه هغه د خپل رب نهایتے خبره منونکی او رشتینے بندګان دی۔

یعنی دغه صحیفے د لوح محفوظ نه انبیاء کرامو علیهم السلام ته د ډیرو قوی او پرهیزګاره ملائکو په ذریعه رسیږی، چه هغوئ په اِلٰهی وحی کښ د خپل طرفه هیڅ قِسم تصرف نهٔ کوی، او نهٔ شیطانان په دے کښ څهٔ تصرف کوی۔

نو پدے آیتونو کښ د صحیفو درے صفات دی او درے د هغه ملائکو چه حاملین د قرآن دی۔

فِیْ صُحُفٍ : دا متعلق دے د مقدر پورے [اَیْ اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ كَائِنَةٌ فِیْ صُحُفٍ] دا قرآن تذکره ده چه موجوده ده په صحیفو کښ الخ۔ نو فِیْ صُحُف صفت دے د تَذْكِرَةٌ دپاره۔

یا تقدیر داسے دے : (مَكْتُوْبٌ فِیْ صُحُفٍ) دا لیکلے شویدے په صحیفو د ملائکو کښ۔

یا ددے نه صحیفے د ابراهیم او موسیٰ علیهما السلام مراد دی لکه په سورة اعلی (۱۹/۱۸) کښ ذکر دی۔ (فتح البیان)

مُّكَرَّمَةٍ: عزتمنے دی۔ ددے کرامت د نازلونکی د کرامت په وجه دے، یعنی الله کریم دے نو وحی د هغهٔ هم د کرامت والا ده، او کرامت ئے دا دے چه دا صحیفے د علمونو او حکمتونو نه ډکے دی۔

❁ یا لوح محفوظ عزتمند دے نو دغه صحیفے به هم عزتمنے وی۔ ❁ یا دا په لوح محفوظ کښ عزتمنے دی۔ (واحدیؒ عن المفسرین)

مَّرْفُوْعَةٍ: ۱- مَرْفُوْعَةُ الْقَدْرِ۔ یعنی قدر او عزت او منزلت (مرتبه) ئے اُوچته ده۔

۲- یا اُوچتے په اوم آسمان کښ پرتے دی۔

۳- مَرْفُوْعَةٌ عَنِ الشُّبَهِ وَالتَّنَاقُضِ۔ د شبهاتو او تناقضاتو نه پورته دی۔

مُّطَهَّرَةٍ: ۱- مِنْ مَسِّ الشَّیْطَانِ۔ د شیطان د مسه کولو نه پاك دی۔ (المحلی)

او صرف پاك ملائك هغے له ګوتے وروړی۔

۲- مُطَهَّرَةٌ مِنَ الْاَدْنَاسِ۔ د خیرو او ګندونو نه پاك دی۔ (حسنؒ)

بِأَیْدِیْ سَفَرَةٍ: سفره جمع د سَافِرٌ ده او سفر کتابت ته وائی۔

نو ددے مطلب دا دے چه دا قرآن په اصل کښ په لوح محفوظ کښ لیکلے شویدے، نو ملائك ورځی او د هغه ځای نه لیکل کوی، او ځانله ترے قرآنونه لیکی (چهاپ کوی)

او بیا همدا قرآن ملائك هم لولی، لکه څنګه ئې چه انسانان لولی، ملائك په مانځه کښې همدا فاتحه او همدا سورتونه لولی۔ الله تعالیٰ پدے مکلف کړیدی چه د قرآن تلاوت به کوئ،

نو دلته اشاره ده چه دا دومره عظیم کتاب دے چه بره په آسمانونو کښې ئې ملائك وائی نو انسان له څه پکار دے چه ددے نه اعراض وکړی، نو یو ضعیف مخلوق چه ددهٔ دپاره دا کتاب راغلے دے، دے رالګیږی ددے عظیم کتاب نه اعراض کوی، دا څومره غټ ظالم دے۔

لکه دا خبره په سورة الصافات ﴿فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا﴾ کښې راغلے ده چه ملائك قرآن لولی۔ او په سورة الواقعه ﴿لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ﴾ کښې دی چه پاك ملائك هغے له ورځی او هغے نه راخستل کوی۔

یا سفرة د سَفَارَة نه دے، د یو قوم ترمینځ خبره وړل راوړل۔

فراءؒ وائی : دلته هغه ملائك مراد دی چه په وحی سره د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول ترمینځ سفارت کوی (د هغهٔ وحی رسول ته راوړی) ځکه چه ملائك د الله تعالیٰ سفیران دی، لکه سفیر د یو بادشاه د طرفنه تعبیرات کوی نو دغه شان ملائك هم دی۔

وهب بن منبهؒ ددے نه اصحاب د رسول الله ﷺ مراد کړیدی لیکن دا قول ضعیف دے۔

كِرَامٍ: (۱) جمع د کریم ده۔ یعنی په خپل رب باندے عزتمنے دی۔ (کلبیؒ)

(۲) كِرَامٍ عَنِ الْمَعَاصِيْ فَهُمْ يَرْفَعُوْنَ أَنْفُسَهُمْ عَنْهَا۔

عزتمنے دی د ګناهونو نه، ځانونه ددے پورته ګنړی۔ (الحسنؒ)

(۳) يَتَكَرَّمُوْنَ أَنْ يَكُوْنُوْا مَعَ ابْنِ آدَمَ إِذَا خَلَا بِزَوْجَتِهٖ أَوْ قَضٰى حَاجَتَهٗ۔

دوی عزتمنے دی چه کله بنیادم د خپلے بی بی یا قضاء حاجت دپاره یواځے شی نو دوی ورسره نهٔ وی۔

(٤) یا پدے وجه عزتمنے دی چه خپلے فائدے د مؤمنانو په فائدو باندے غوره کوی۔

(٥) دارنګه پدے وجه عزتمنے دی چه مؤمنانو له استغفار غواړی۔

اهل علم وائی : د رب په نیز عزتمن هغه څوك دے چه د ګناهونو نه ځان بچ ساتی، او د بل چا فائدے غوره کوی په خپله فائده باندے۔

بَرَرَةٍ: جمع د بَارٌ ده۔ په حدیث کښې دی :

((هغه شخص چه قرآن لولي او هغه پکښ ماهر وي هغه به د سَفَره کرام بَرَره ملائکو سره وي، او هغه شخص چه قرآن لولي او دا پرے گران وي، دهٔ لره دوهٔ اجرونه دي))۔

(البخاري في التوحيد باب ٥٢، ومسلم في المسافرين حديث :٢٤٤) ابو داود في الوتر باب ١٤) و اللفظ له)۔

دلته امام ابن كثيرؒ ليكلي دي :

[وَمِنْ هٰهُنَا يَنْبَغِي لِحَامِلِ الْقُرْآنِ اَنْ يَّكُوْنَ فِيْ اَقْوَالِهٖ وَاَفْعَالِهٖ عَلَى السَّدَادِ وَالرَّشَادِ]

ددے وجـه نه قرآن والو لره پکار ده چه هغه په خپلو خبرو او کارونو کښ په نيغه لاره او سيده او په هدايت باندے روان وي۔

يـعـنـي تشبـه بـالملائکه وکړئ۔ چه ملائك عزتمن دي نو پکار ده چه قرآن والا به هم عزتمن وي، بے وقاره، کنځل مار، فاحش او بد اخلاقه به نهٔ وي بلکه نيکان خلق وي۔

قُتِلَ الْإِنْسَانُ مَا أَكْفَرَهٗ ﴿١٧﴾
قتل دِے کړے شي انسان (لعنت دِے اُوکړے شي په انسان) څومره لوئی کفر کونکے
مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ﴿١٨﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿١٩﴾
دے۔ د څه شي نه الله پيدا کړيدے۔ د نطفے نه ئے پيدا کړو بيا ئے اندازه کړو۔
ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهٗ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهٗ فَأَقْبَرَهٗ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا
بيا ئے لاره د راوتلو ورته آسانه کړه۔ بيا ئے مړ کړو نو قبر کښ ئے ښخ کړو۔ بيا کله چه
شَآءَ أَنْشَرَهٗ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا
غواړي هغه راپورته کوي به دهٔ لره۔ هيچرے کفر نهٔ دے پکار، تراوُسه پورے
يَقْضِ مَا أَمَرَهٗ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلٰى طَعَامِهٖ ﴿٢٤﴾
نهٔ دے ادا کړے دهٔ هغه چه الله ورته حکم کړيدے۔ نو اُودِے گوری انسان خوراك خپل
أَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ
ته۔ چه يقيناً مونږ راتوی کړيدی اُوبه په تويولو سره۔ بيا څيری کړيده مونږ زمکه

شَقّاً ﴿۲۶﴾ فَأَنبَتْنَا فِيهَا حَبّاً ﴿۲۷﴾ وَعِنَباً وَقَضْباً ﴿۲۸﴾
په خيرې کولو۔ نو راززرغون کړيدي مونږ پدے کښې دانے۔ او انګور او ترکاريانے۔
وَزَيْتُوناً وَنَخْلاً ﴿۲۹﴾ وَحَدَائِقَ غُلْباً ﴿۳۰﴾ وَفَاكِهَةً وَأَبّاً ﴿۳۱﴾ مَّتَاعاً لَّكُمْ
او ښونه او کجورے۔ او باغونه ګڼړ۔ او ميوه او ګياه۔ دپاره د فائدے ستاسو
وَلِأَنْعَامِكُمْ ﴿۳۲﴾
او د چارپيانو ستاسو۔

تفسیر: ربط

مخکښې د قريشو د سردارانو کبر او غرور بيان شو چه د داسے عظيم کتاب نه ئے مخ اړولو نو اُوس الله تعالیٰ خپلو مومنانو بندګانو له دعوت ورکوی چه د دغه کافرانو په حال باندے حيرانتيا او تعجب وکړی۔

او دارنګه دا خبره ښکاره کوی لکه څنګه چه دا کافر انسان د قرآن نه مخ اړوی نو دغه شان د عقلی دلائلو نه هم انکار کوی۔ نو دا انسان د بربادئ لائق دے۔

الله تعالی وفرمايل چه کافر انسان دپاره هلاکت او بربادی ده، دے په کبر او غرور باندے کومے خبرے راپورته کړے دے، آيا دهٔ ته خپل حقيقت معلوم نهٔ دے چه دهٔ لره الله تعالیٰ د يوے سپکے قطرے نه پيدا کړے، او د مرينے نه پس به خاورے شی، او دے تول ژوند ګندګی بار کړے ګرځی۔

که چرے دهٔ په خپل حقيقت باندے غور کړے وے نو په کبر او غرور کښې به مبتلا کيدلے نهٔ، او د قادرِ مطلق خالق په وجود او په حشر او نشر باندے به ئے ايمان راوړے وے، او د عمل صالح په کولو سره به په آخرت کښې د جنت حقدار جوړ شوے وے۔

قُتِلَ: د قتل نه مراد هلاکت او لعنت دے۔ دا په معنیٰ د لُعِنَ سره دے يعنی (لعنت کړے شويدے) او دا د الله تعالیٰ د طرف نه اخبار دے چه دهٔ باندے لعنت وشو۔ او هلاك به شی۔ ❁ يا دا ښيرے دی په طريقه د تعليم سره بندګانو ته چه تاسو داسے انسان ته ښيرے وکړئ۔

الْإِنسَانُ: کښې الف لام عهدی دی، مراد ترے مُکَذِب او عنادی کافر دے۔

مَا أَكْفَرَهُ: یعنی کوم شی دهٔ لره کافر وګرزولو۔ دا صیغه د فعل تعجب ده، مګر مراد پدے سره تعجیب (بندګان په تعجب کښ اچول) دی۔

یعنی اے انسانانو! تاسو ددهٔ په کفر تعجب وکړئ سره د وجود دِ لائلو نه۔

❁ یا ما استفهامیه کښ استفهام دپاره د توبیخ او زورنے دے۔

مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ: یعنی دے په الله تعالیٰ کفر کوی او دے ته نهٔ ګوری چه زهٔ د څه نه پیدا یم او څو مره کمزورے یم۔ په خپله ماده او د هغے په حالاتو خو دِے لګ فکر وکړی چه د کفر نه خلاص شی۔

خَلَقَهُ : دا ئے دویاره راوړو پدے کښ اشاره دهٔ چه بیا روستو پیدائش ددهٔ د علقے او مضغے نه دے۔

فَقَدَّرَهُ: ددے تقدیر نه مراد د اندامونو برابرول، او د قد وقامت او تقدیر د سعید او شقی او د اجل او رزق دے لکه په سورة کهف (۳۷) او سورة الانفطار (۷) آیت کښ دی۔

السَّبِيلَ يَسَّرَهُ: ۱- ددے نه مراد لاره د راوتلو د بچی ده د مور د خیټے نه، چه هغه الله تعالیٰ آسانه کړیده۔ خطیب شربینیؒ لیکلی دی چه بچے د مور په رَحِم کښ سر بره او خپے ئے کوزے وی لیکن په وخت د پیدائش کښ سر مخکښ او خپے روستو شی، دا آسانول د الله تعالیٰ د طرفنه دی۔

دارنګه اطباء لیکی چه کله د بچی موده په رَحِم کښ پوره کیږی نو دغه وخت د رَحِم نه باران شروع شی چه په هغے سره د ماشوم هر طرف لوند شی او غوړ شی او اُوبه پیدا کړی نو بیا د بچی راوتل په ډیره آسانئ سره وشی۔

۲- دے کښ حاصل تفسیر دا هم شویدے چه [ثُمَّ سَبِيلَ مَعْرِفَةِ الْحَقِّ وَالضَّلَالِ يَسَّرَهُ] بیا لاره د حق پیژندلو او د ګمراهئ ورته الله تعالیٰ آسانه کړیده۔ لکه سورة البلد (۱۰) او سورة اللیل (۷/۱۰) آیت کښ دی۔ یا لاره د خیر مراد ده لکه په سورة الدهر (۳) آیت کښ دی۔ او دا لاره آسانول په طریقه د بیان د دلیلونو سره ده،

❁ یا په توفیق او استطاعت ورکولو سره ده۔ دلته دواړه معانی صحیح دی۔ او دواړه مراد دی۔

ثُمَّ: ثُمَّ راوړل دا دلیل دے چه د پیدائش او د مرګ په وخت کښ اکثر فاصله وی۔

او فاء په فَأَقْبَرَهُ کښ اشاره ده چه د مرګ سره دفن متصل پکار دے، یعنی د غسل،

تجهیز او تکفین او جنازے او دفن په کارونو کښې جلتي پکار ده لکه چه حدیث کښې دي :
(اَسرِعُوا بِالْجِنَازَةِ)

په جنازه باندے جلتي وکړئ۔ یعني زرئے تیاره کړئ۔ (بخاري : ۱۳۱۵) مسلم : (۲۲۲۹)۔
او فاقبرہٗ نه سیوطيؒ په ((الاکلیل)) کښې استدلال کړے چه د مړي دفن کول لازم دي۔
اَمَاتَهٗ: کښې ئے نسبت الله تعالیٰ ته وکړو، دا دلیل دے چه مرګ هم په حکم او په اختیار د الله تعالیٰ سره راځي، دا طبعي امر نهٔ دے لکه چه دهریان ئے وائي۔
مړ کول ئے نعمت وشمارلو، ځکه چه مرګ سره مؤمن همیشه ژوند او همیشه نعمتونو طرفته ورځي۔
فَأَقْبَرَهُ: اِقبار دے ته وائي چه حکم وکړي په خخولو د مړي۔ او قبر المیت معنیٰ ده په خښلو لاسونو سره مړے خخول۔
او قبر کښې خخول هم د الله تعالیٰ د طرفنه احسان دے په بنده باندے، او دا د مړي اکرام دے په نسبت ددے چه بهرئے وغورزوي او مارغان او ځناورئے وخوري۔
ثُمَّ إِذَا شَاء : پدے کښې تذکیر دے په دوباره ژوند سره۔
او شاء کښې ئے نسبت ځان ته وکړو، اشاره ده چه د بعث بعد الموت مقرر وخت د الله تعالیٰ نه سویٰ بل هیچا ته معلوم نهٔ دے۔ بلکه دا د الله تعالیٰ د مشیئت تابع دے۔
(فتح البیان)
أَنشَرَهُ: (یعنی را اُوچت به کړي دهٔ لره) نو دے کښې الله تعالیٰ قیامت ته اشاره ورکړه چه مرګ او قیامت دریاندے راروان دے اے انسانه ! څنګه د خپل ځان تزکیه نهٔ کوے، دے ته دِے فکر نشته؟!۔
كَلَّا:
ربط :
په تیرو شوو آیتونو کښې الله تعالیٰ انسانانو له د دویٔ د پیدائش او د ژوند او مرګ په باره کښې د غور او فکر کولو دعوت ورکړے، دے دپاره چه دویٔ د خپل حقیقت او د الله تعالیٰ د کامل قدرت تصور وکړي، او په هغهٔ او د آخرت په ورځ باندے ایمان راوړي۔
اوس دلته دویٔ ته د خپلے روزیٔ په باره کښې د غور او فکر کولو دعوت ورکړے کیږي چه لږ سوچ خو اوکړئ، الله تعالیٰ دا د کومو پړاوونو نه تیر کړے، او دویٔ له ئے تیار کړے دے، دے دپاره چه دویٔ د خپل رب شکر ګذار بندګان جوړ شي۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه انسان دِے د خپل خوراك په باره کښ فکر وکړی چه هغه دا هره ورځ څو ځله خوری، چه مونږ دا د کومو مراحلو (پړاوونو) نه تیروو، او ددے نه صالحه او فائده منه غِذاء جوړوو۔ رومبے مونږ په زمکه باران را اوورولو، بیا مو هغه د کروندے قابله جوړه کړه، بیا مو ددے نه قِسما قِسم دانے را زرغون کړے، لکه غنم، جوار، باجره او نورے دانے، انګور او سبزیانے مو را زرغون کړے لکه بهینډیٔ او توریٔ، زیتون مو را زرغون کړل چه ددے میوه خوړلے کیږی، او ددے تیل لګولے کیږی، کهجورے مو را زرغون کړے چه دا تازه او اوچے خوړلے کیږی، باغونه مو را زرغون کړل چه د هغے وُنے خپلو کښ یو بل سره نښتے وی۔

دارنګه نور قِسم میوے مو را زرغون کړے چه هغه انسانان خوری، او ګیاه مو را زرغون کړه چه دا د دویٔ څناور خوری۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه دا ټول څیزونه مونږ ستاسو دپاره او ستاسو د څناورو دپاره پیدا کړی دی، ددے نعمتونو تقاضا داده چه تاسو د خپل لوی رب په قدرت، او په ورځ د آخرت باندے ایمان راوړیٔ، د هغهٔ شکر ګذار بندګان جوړ شیٔ، او د نیك عمل والا ژوند اختیار کړیٔ۔

کَلَّا: دا ردع ده د کفر نه، یعنی اے انسانه ! هیڅکله تا له کفر کول نهٔ دی پکار۔

حسنؒ وائی چه دا په معنیٰ د حَقًّا سره دے۔ یعنی یقینی ده دا خبره چه دے انسان لا د الله تعالیٰ امرونه نهٔ دی پوره کړی۔ اوله معنیٰ ظاهره ده۔

لَمَّا يَقْضِ : (۱) یعنی دے څنګه کفر کوی او حال دا چه لا تر اُوسه پورے دهٔ نهٔ دے ادا کړی او پوره کړی هغه حکمونه او حقونه چه الله تعالیٰ دهٔ ته حکم کړیدے۔

مطلب دا چه تا لا د الله تعالیٰ حقونه نهٔ دی ادا کړی بیا سمدست کفرونه کوے، چه دا نهٔ منم او دا نهٔ منم، داسے غټے غټے خبرےمخو هغه څوك کوی چه هغه ټول حقونه ادا کړی وی۔

يَقْضِ: د قضاء نه دے پوره حق ادا کولو ته وئیلے شی۔

مَا أَمَرَهُ: ددے نه مراد توحید او تفصیلی ایمان دے چه په قرآن کښ ذکر دے، او دارنګه نور احکامِ اِلٰهیه چه په کتاب او سنت کښ ذکر دی۔

(۲) بعض مفسرین وائی يَقْضِ کښ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے، او د مَا اَمَرَهُ نه مراد

بعث او نشور دے۔ یعنی کفر نهٔ دے پکار لا تر اُوسه پورے الله تعالیٰ نهٔ دے پوره کړے هغه دوباره راپورته کول د انسان چه الله تعالیٰ پرے حکم کړیدے، یعنی هغه به روستو کیږی او دے انسان اُوس نه کفر شروع کړو۔ اوله معنیٰ ظاهره او غوره ده چه پدے کښی په انسان باندے رد دے۔

فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ : فاء فصیحیه ده، شرط پټ دے۔ اَیْ اِذَا کَانَ الْاَمْرُ کَذٰلِكَ اَیْ اِنْ لَمْ یَذْکُرْ اِبْتِدَائَهٗ ۔یعنی که انسان ته خپل ابتدائی ژوند نهٔ وی یاد نو بیا دِے خپل خوراك باندے سوچ وکړی، نو ددهٔ د نفس تزکیه به وشی، نو دا د تزکیهٔ نفس طریقے دی۔

یَنظُرِ : دا په زړه باندے نظر کول مراد دی یعنی فکر کول او د سترګو نظر هم ورسره مراد دے۔

وَقَضْباً: ۱– وابنهٔ/ ګیاه ګانے۔ (الحسنؒ– ابن جریرؒ)

۲–تازه کجورے ځکه چه د قضب معنیٰ ده پریکول، او دا هم بار بار پریکولے شی۔

۳– نورے ترکاریانے۔ چه د زمکے نه په مختلفو موسمونو کښی بار بار پریکولے شی۔ لکه ساګ، ګندنه، پیاز، اُوګه، بادرنګ، بینډئ، تورئ وغیره۔ (قرطبیؒ، قاسمیؒ)

وَحَدَائِقَ: دا تعمیم دے روستو د تخصیص نه، عامو باغونو ته وئیلے شی۔

غُلْباً: ۱– یعنی ګڼړ چه ونے پکښی زیاتے وی۔او لوئی دنګے وی او څانګے ئے په یو بل کښی ننوتی وی۔ ۲– اُوږدهٔ باغونه۔ غټ غټ۔ (ابن عباسؓ)

وَأَبّاً: هغه بوټی چه د میوے نه علاوه وی د زمکے نه راخیژی۔ او څاروی ئے خوری۔

دلته مفسرینو د ابوبکر صدیق ؓ نه روایت راوړیدے چه هغهٔ نه تپوس وشو چه د اب څه معنیٰ ده ؟ نو هغه وویل :

اَیُّ سَمَاءٍ تُظِلُّنِیْ وَاَیُّ اَرْضٍ تُقِلُّنِیْ اِذَا قُلْتُ فِیْ کِتَابِ اللّٰهِ مَا لَا اَعْلَمُ۔

کوم آسمان به ما ته سورے راکړی او کومه زمکه به ما پورته کړی کله چه زهٔ د الله تعالیٰ په کتاب کښی هغه څه ووایم چه ما ته پته نشته۔ نو دهٔ توقف وکړو۔

او د عمر فاروق ؓ نه نقل دی چه هغه دا آیت په منبر باندے ولوستلو او بیا ئے وویل [هٰذِهِ الْفَاکِهَةُ قَدْ عَرَفْنَاهَا فَمَا الْاَبُّ؟ ثُمَّ رَجَعَ اِلٰی نَفْسِهٖ فَقَالَ : اِنَّ هٰذَا لَهُوَ التَّکَلُّفُ یَا عُمَرُ]

چه فاکهه خو مونږ پیژنو خو دا اب پکښی څه شے دے؟ بیا ئے وفرمایل :

دے کښی ګوتے وهل تکلف دے او مونږ د تکلف نه منع شوی یو۔

(مصنف ابن ابی شیبه : ۳/۱۳٦/٦ ، ۳۰۱ ، وفضائل القرآن لابی عبید : ص (۳۷۵) حسن لغیره)

واثر عمر فی المصنف : ۵۱۲/۱۰) والبیهقی فی شعب الایمان : (۲/٤۲٤/رقم : ۲۲۸۱)

نو **سوال** دا دے چه دا دواړه خو عرب فح دی، نو آیا دوی ته ددے عربی لغت معنی نهٔ ورتلله؟ **جواب** دا دے چه دوی ته معلومه وه چه اب گیاه ته وائی. لیکن د تعیین علم ورته نهٔ وو چه کومه گیاه مراد ده. نو ځکه ئے ددے تلاش کولو ته تکلف ووئیلو.

نو اب په شد سره اَلْمَرْعٰی (یعنی گیاه) ته وائی.

او بعض وائی : اَلتِّبن. (بوسو) ته وائی.

فَإِذَا جَآءَتِ الصَّاخَّةُ ﴿۳۳﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿۳٤﴾
نو کله چه راشی غوږونه کنړونکے آفت په هغه ورځ به تختی هر سړے د وړور خپل نه.
وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿۳۵﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿۳٦﴾ لِكُلِّ
او د مور او د پلار خپل نه. او د ښځے خپلے نه او د ځامنو خپلو نه. دپاره د هر
امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿۳۷﴾
سړی د دوی نه په دغه ورځ یو فکر دے (یو حال دے) چه مشغوله کړے به ئے وی دهٔ لره. (چه بے پروا کړے به ئے وی دهٔ لره).
وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿۳۸﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿۳۹﴾
بعض مخونه به په دغه ورځ رڼړا والا وی. خندیدونکی به وی خوشحاله به وی.
وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤۰﴾
او بعض مخونه به په دغه ورځ په هغے باندے گرد وی
تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤۱﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤۲﴾
دپاسه به راغلی وی پدے باندے تور والے. دا کسان هم دوی کافران بدکاره (نافرمان) دی.

تفسیر: اُوس د قیامت تذکره کوی او مقصد دا دے چه دا خوراکونه او څکاکونه چه الله تعالیٰ تاسو ته درکوی نو یو مقصد دپاره، چه ددے په مقابله کښې الله تعالیٰ ستاسو

نـه بـندگی غواړی او د هغې نتيجه بيانيږی، يعنی اُوس انسان اُخروی ژوند او ددهٔ ښهٔ او بد انجام بيانيږی۔

الله تـعـالیٰ وفـرمـايـل : کـلـه چـه قـيامت راشی چه ددے د شپيلئ آواز به دومره تيز او کـريهه وی چه د خلقو غوږونه به کانړهٔ کيږی، نو د ډيرے ويرے له وجے به هر يو انسان په خپـل حـال کښ داسے پريشان وی، او هر چا ته به د خپل نجات داسے فکر وی چه هغه به خپل ډير نزدے رشته دار نه هم د محشر په ميدان کښ ليدلو سره تښتی،

(۱) يـا خـو بـه ددے ويـرے نـه تښتی چـه هسے نـهٔ چرته څوك ددهٔ نه د څهٔ حق مطالبه وکړی،

(۲) يا ددے وجے نه چه څوك ددهٔ پريشانی او بے آرامی ونهٔ وينی،

(۳) يـا ددے وجـے نـه چه دهٔ ته به معلومه وی چه هيڅوك به ددهٔ په كار نهٔ راځی، نو بيا هغهٔ طرفته د کتلو څهٔ ضرورت دے۔

الصَّاخَةُ : دا د قـيـامـت د دويـمـے شپـيـلـئ نـوم دے۔ او اسم فاعل دے، يعنی کنړه ونکے غوږونو لره۔ يا د قيامت نوم دے (ابن عباس ﷺ)

صاخه ورته ځکه وائی [لِاَنَّهَا لِشِدَّةِ صَوْتِهَا تَصُخُّ الآذَانَ اَیْ تُصِمُّهَا] ځکه چه دا د وجه د سخت آواز نه غوږونه چوی او کنړه وی۔

يَـوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ : دا بـه ولے تښتی ؟ نو يوه وجه دا ده لِئَلَّا يُطَالَبَ بِحَقٍّ ۔ دے دپاره چه څـوك تـرے د حقوقو مطالبه ونکړی۔ نو دا به متعلق شی د (لَمَّا يَقْضِ مَا اَمَرَهُ) پورے چه دے انسان نهٔ د الله تعالیٰ حقوق ادا کړی او نهٔ د بندگانو۔ دا هم يوه وجه ده۔

ليـکـن ظاهره وجه دا ده چه کومه روستو ذکر ده چه (لِكُلِّ امْرِئٍ) د هر سړی به داسے حـالـت جـوړ شوے وی، او دومره پريشانه به وی چه د ځان نه علاوه به ئے هيچا ته فکر نهٔ وی۔ لـکه دنيا کښ په بچی او ښځه او ورور تکليف وی، نو هغه ورله منډے وهی، هلته به نفسا نفسی وی۔ دواړه وجے صحيح او واقع دی۔ او دريمه وجه هم صحيح ده۔

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ : اُوس ډلے بيـانـيـږی يـعـنـی په دے ورځ به خلق په دوه برخو کښ تقسيم کـړے شـی، کوم چه نيك بخت وی، په دنيا کښ ئے د نفس تزکيه کړيده، او رب العالمين ورلـه د جنت فيصله کړے وی، د هغوئ مخونه به د خوشحالئ په وجه ځليږی، او کومو بـدبـخـتـو دپاره چـه الله رب الـعـالـمين د جهنم فيصله کړے وی، ځکه چه هغوی په دنيا

کښې د نفس تزکیه نهٔ وه کړې۔
د هغوئ په مخونو به د افسوس او نا امیدئ بادونه آلوزي، او په هغې به توروالے راخور شوے وي۔ او دا بدترین انجام به د هغه خلقو وي چه هغوئ د کفر او سرکشئ او د فسق او فجور ژوند تیر کړے وي۔ او به غبر د توبے نه په همدے حال مړهٔ شوے وي۔
وُجُوهٌ: او دا هر نعمت به مخ باندے راښکاره کیږي نو ځکه مخونه ذکر کوي۔ نور ټول بدنونه مراد دي۔
مُّسْفِرَةٌ : ددے ځای نه درے جزاګانے بیانوي، او دا درے واړه بیل بیل حالتونه دي۔
مُسْفِرَةٌ : روښانه او رڼرا والا به وي۔ او ددے سبب به نیک عمل وي لکه په یو حدیث کښې د مخ د رڼرا والي سبب په ښائسته طریقه سره اودس کول ذکر دي۔
ضَاحِكَةٌ: اَیْ فِی الْاَفْوَاهِ۔ یعنې په خولو کښې به ئے د ډیرے خوشحالئ نه خندا وي۔
مُّسْتَبْشِرَةٌ: اَیْ فِی الْقُلُوْبِ ۔ او زړهٔ کښې به ئے خوشحالي وي۔ کله د یو تن مخ خو په ظاهره کښې روښانه وي، خندا وغیره کوي د خلقو د رعایت د وجه نه، لیکن زړهٔ کښې خفه وي۔ نو دلته ځکه مُسْتَبْشِرَةٌ وروستو ذکر کوي چه دا خندا به د چا د وجه نه نهٔ وي۔
وَوُجُوهٌ: اُوس د بد بختو خلقو انجام بیانیږي۔
عَلَيْهَا غَبَرَةٌ: غبار/ دُوړے ته وائي۔
تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ : قترة توروالي ته وائي۔ کله یو مخ د کارونو او خدمتونو، یا د بوډا والي او کله د عاجزئ د وجه نه خړ والے پرے راغلے وي، نو هغه دومره بد نهٔ ښکاره کیږي خو کله چه دپاسه پرے تور والے راغلے وي، نو هغه انتهائي بد ښکاره کیږي۔
او کله چه مخ تور وي بیا ئے هم مخ بد نهٔ ښکاره کیږي لکه حبش لیکن کله چه پرے غبار واچولے شي بیا ډیر بد ښکاره کیږي، او دا د ذلت خړوالے او توروالے دے نو دا ډیر بد ښکاره کیږي۔
او زید بن اسلمؒ وائي : قترة هغه غبار ته وائي چه د زمکے نه آسمان ته پورته کیږي، او غبرة هغه غبار دے چه د برے نه زمکے ته راکوزیږي۔ یعنې دواړه قسمه دوړه به ورباندے پرته وي۔
الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ : دا ئے دوه سببونه دي د غبار راتللو په مخونو د دوی۔ یعنې په زړه باندے کافران دي، او په عمل سره فاجران دي۔

او لکه څنګه چه دوی د کفر سره فجور هم یو ځای کړیدے نو د دوی به سزا کښې به هم غبره د قتره سره یو ځای کړے شي او دا به معلومه خلق وي د قيامت په ميدان کښې او روستو به ئے الله تعالی اُور ته بوځي اعاذنا الله من سوء حالهم امين

فجور فسق (نافرمانی) او کذب (دروغو) ته وئيلے شي وبالله التوفيق.

امتيازات سورة عبس

۱- واقعه د عبد الله بن ام مکتوم رضی الله عنه پکښې ذکر ده.

۲- د دعوت ترتيب او طريقه پکښې ذکر ده.

۳- انسان چه خپل زړهٔ رابيداروی او د نفس تزکيه کوی نو د هغے دپاره درے طريقے دی. قرآن ته وګوره، خپل پيدائش ته وګوره او خپل خوراك ته وګوره.

ختم شو تفسير د سورة عبس په توفيق د رحمن رحيم سره. ۱۸ رمضان.

او ختمه شوه تصحيح په دويمه ورځ د عيد الاضحیٰ. (۱٤۳۷ هـ)



بسم الله الرحمن الرحیم

آیاتها (۲۹)	(۸۱) سُوْرَةُ التَّكْوِيْرِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة التکویر مکی دے، په دے کښې نهیشت آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة التکویر

نوم : په اولنی آیت کښې [كُوِّرَتْ] لفظ راغلے د همدے نه لفظ [التکویر] اخستے شوے۔ او دے ته اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ هم وائی.

د نازلیدو زمانه : ابن مردویه او بیهقی او نورو د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی چه ﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾ په مکه کښې نازل شوے، ابن مردویه د عائشے او ابن زبیر رضی الله عنهم نه هم همدا نقل کړی دی۔

فضیلت

عبد الله بن عمر رضی الله عنه **فرمائی** : رسول الله ﷺ فرمائی : [مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَّنْظُرَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْىُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ ﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾ وَ ﴿إِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ﴾ و ﴿إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾ (الترمذی فی تفسیر سورة ۸۱، باب ۱، رقم (۳۳۳۳) واحمد فی المسند ۲/۲۷، ۳۶) باسناد صحیح)

څوك چه په دے خوشحالیږی چه هغه د قیامت ورځے ته وګوری ګویا که د سترګو لیدل وی نو هغه دِے اذا الشمس کورت او اذا السماء انفطرت او اذا السماء انشقت سورتونه ولولی۔

مناسبت :

۱- مخکښې سورت کښې اثبات د بعث بعد الموت وو، نو په دے سورت کښې د هغے ډیر حالات ذکر کوی۔

۲- مخکښې سورت کښې د صاخه (قیامت) راتلل ذکر شو، نو دلته مقصد د بعث ذکر کوی چه هغه ملاقات د انسان دے د خپل عمل سره۔
۳- په هغه سورت کښې د قیامت منکرینو ته زجر وو، نو دلته د رسول ﷺ او د قرآن کریم منکرینو ته زجر ورکوی۔
٤- په هغه سورت کښې ئے وویل چه قرآن د سفیرانو ملائکو په لاسونو کښې دے نو دلته د هغوی نه لوی سفیر ذکر کوی چه هغهٔ قرآن راوړیدے یعنی جبریل علیه السلام.

د سورت مقصد

حَسْرَةُ الْإِنْسَانِ عَلٰى عَمَلِهٖ۔ قیامت په ورځ به انسان په خپل عمل باندے افسوس کوی، په کوم عمل ؟ نو یو بد عمل (د کفر نه تر وړے گناه پورے واخله)،
او بل په خپل عمل کښې په احسان پریخودو سره۔ چه ما دا عمل په ښائسته طریقے سره ولے نهٔ کولو۔ او ما ولے پدے کښې تقصیر کولو۔
دا موضوع د (عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا اَحْضَرَتْ) نه معلومه ده۔ او دا مخکښې ورله مقدمه ده۔
ددے دپاره اول الله تعالیٰ د قیامت د ورځے هیبت بیان کړیدے، او په آخره کښې ئے عظمت د قرآن ذکر کړیدے، او په مینځ کښې حسرت عَلَی الْعَمَل دے۔
نو گویا که داسے وویل شو چه د قیامت غټ هیبت راروان دے، د هغے دپاره تیارے په عمل باندے وکړه، دا عمل د قرآن مطابق وکړه، او قرآن تا ته عملونه هم رایادوی، او آخرت هم۔
نو د قرآن او د آخرت تر مینځ گهرا تعلق دے۔ پدے وجه الله تعالیٰ دلته هم جمع کړیدی۔
نو قرآن کریم څه له راغلے دے؟ نو فرمائی : ﴿اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِيْنَ﴾ دا قرآن کریم انسان ته خبره رایاده وی، ذکر ورکوی، او کله چه انسان ذکر حاصل کړی، نو بیا دا قرآن استقامت ورکوی، یعنی په نیغه لاره ئے روانوی، یعنی نیك عملونه دربنائی۔
په آخره کښې ئے مَشِيْئَةُ اللهِ الطَّلِيْقَه ذکر کړیدے چه د الله خوښه آزاده ده۔ د هغهٔ خوښه ده څوك ته قرآن او هدایت او استقامت ته راولی او څوك نهٔ راولی نو بس د هغهٔ نه غوښتنه کوئ او صرف همغهٔ ته عاجزی او زاری کوئ۔

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا
کله چه نمر راتاؤ کړے شي۔ او کله چه ستوري خړ (بے نوره) کړے شي۔ او کله چه
الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ﴿٤﴾
غرونه روان کړے شي۔ او کله چه د لسو میاشتو بلاربے اُوښے آزادے پریخودے شي۔
وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ ﴿٥﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾
او کله چه ځنګلي حیوانات راجمع کړے شي۔ او کله چه دریابونه ډك کړے شي۔ (د
وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ﴿٧﴾ وَإِذَا
اُور نه بل کړے شي) او کله چه روحونه یو ځائے کړے شي (د بدنونو سره). او کله چه
الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾
د ژوندئ خخے شوے په باره کښں تپوس اُوکړے شي۔ چه په کومه ګناه وژلے شویده۔
وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ ﴿١١﴾
او کله چه پاڼړے خورے کړے شي۔ او کله چه آسمان نه پوستکے اُوویستلے شي۔
وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾
او کله چه جهنم بَل کړے شي۔ او کله چه جنت رانزدے کړے شي۔

تفسير : د آخرت د ورځے او د جزاء او سزا عقیده هغه بنیادي عقیده ده چه په هغے باندے د ایمان راوړو نه بغیر د هیڅ یو کس یا معاشرے اصلاح کول ناممکن دي۔ دے وجے نه قرآن کریم ځای په ځای په مختلف انداز کښں ددے وضاحت کړے، او خلقو ته ئے په دے باندے د ایمان راوړو دعوت ورکړے۔

په دے سورت کښں هم الله تعالیٰ همدا حقیقت په خلقو باندے منل غواړي، او د انسانانو په زړهٔ او دماغو کښں د مرګ نه پس د دوباره ژوند همدا عقیده کوزول غواړي، دے دپاره چه په دے باندے خلق ایمان راوړي، او د خپل آخرت په فکر کښں اولګي، او د خپل ظاهر او باطن اصلاح اوکړي،

سو دلته دولس کارونه ذکر شوبدی چه خه د قیامت نه مخکښ او څه روستو کیدونکی دی. چه ددے نه روستو به یقینا هر انسان وپیژنی چه د کوم عمل دے ورځے ته حاضر کړیدے

په دے دولسو پینځو کښ شپږ کارونه به د قیامت راتلو نه مخکښ یا ددے نه فورا روستنه راښکاره کیږی :

۱ - اَلشَّمْسُ كُوِّرَتْ : نمر به د خپل ځی نه لرے کړے شی، او ددے رڼړا به ډوبه شی.

كُوِّرَتْ د تکویر نه دے، راټاوول او انغښتلو ته وئیلے شی، لکه پټکے چه څنګه ولونه ولونه کولے شی. نمر ډیر غټ او فراخه جسم دے. نو د قیامت د راتللو په وخت به دا الله تعالیٰ راټاو کړی، دا نمر به د قیامت په میدان کښ هم وی، بیا چه کله د انسانانو حساب کتاب وشی، نو الله تعالیٰ به ئے د کفارو د خړ کولو دپاره راټاو کړی، او اُور کښ به ئے واچوی.

۲ - اَلنُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ : انکدار خړ والی او رڼړا او اثر ختمیدو ته وائی. یعنی ستوری به مات شی، او په زمکه به خوارهٔ شی، او رڼړا به ئے ختمه شی.

۳ - اَلْجِبَالُ سُيِّرَتْ : د سخت لړزیدو او زلزلے په وجه به غرونه ټکړے ټکړے شی، ګټے به ئے شړے شی، او روان به کړے شی، او بیا به ګرد او غبار ترے جوړ شی چه په هواء کښ به آلوزی.

٤ - اَلْعِشَارُ عُطِّلَتْ : خلق به د سختے ویرے په وجه د لسو میاشتو امیدوارو اُوښو نه غافله شی، چه دا د عربو په نیز د تولو نه ښهٔ او قیمتی دولت وو، نو بیا د نورو څیزونو نه به د دوئ د غفلت څهٔ حال وی. یعنی خلق به انتهائی پریشان او بد حاله وی، دوئ سره به د خپلو ځانونو د بچاؤ نه سوی د بل هیڅ یو شی فکر نهٔ وی.

اَلْعِشَارُ : جمع د عُشَرَاءُ ده، هغه اُوښه چه د هغے په حمل باندے لس میاشتے تیرے شوے وی. نو دا د مَالِك په نیز ډیر محبوب مال وی، او هغه ترینه هیڅ غفلت نهٔ کوی، د هغے د بچی راوړو په انتظار کښ وی. ددے نه مفسرینو زمکه، وریځے، او کورونه هم مراد کړیدی لیکن هغه غوره نهٔ دی.

عُطِّلَتْ: (اَیْ بِلَا رَاعٍ وَّلَا حَلَبٍ) معطلے کړے شی د شپونکی او د لشلونه.

یعنی مالکان به د هغے د ساتنے او د اُوبو او د ګیاه ورکولو نه غافل شی، ځکه چه

هیبت به ډېر زیات وي۔

اشاره ده چه د قیامت په هیبت او رعب سره به د دنیا د څیزونو محبت ختمېږي۔

۵ - وَاِذَا الْوُحُوْشُ حُشِرَتْ : یعني وحشي ځناور به راجمع کړے شي۔

د صحرائي حیواناتو حشر په دوه طریقو دے :

(۱) عبد الله بن عباس ﷜ فرمائي : (حَشْرُهَا مَوْتُهَا) ددے حشر ددے مرګ دے۔

پدے جمله بعض علماء نۀ دي پو هه شوي نو ددے نه ئے غلطه فائده اخستے ده چه په قیامت کښې به د حیواناتو حشر نۀ کیږي. او د دوئ حشر ددے مرګ دے۔

مونږ وایو چه دا خبره د اولے شپیلۍ په موقعه کښې صحیح ده، او هغه دا چه کله اوله شپیلۍ شروع شي، نو په حیواناتو به هم سخت هیبت راشي، نو هغوی به د انسانانو خواته راجمع شي چه کیدے شي د دوئ په خوا کښې د مرګ نه خلاص شي، هلته چه کله راشي نو شپیلۍ به نوره سخته شي، ددے سختۍ په وجه به د انسانانو زړونه وچوي نو دغه شان د حیواناتو زړونه به هم وچوي۔

بیا دویم ځلې حشر به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ په دویمه شپیلۍ سره کوي۔ لکه سورت انعام (۳۸) آیت ﴿ثُمَّ اِلٰی رَبِّهِمْ یُحْشَرُوْنَ﴾ کښې راغلي دي، چه انسانان او حیوانات به هم د قیامت میدان ته راجمع کیږي۔

کوم علماء کرام چه د حیواناتو حشر نۀ مني نو دوی نۀ په قرآن کریم پو هه شویدي او نۀ په صحیح حدیثونو۔

او پدے حشر کښې الله تعالیٰ د خپل قدرت او د خپل عدل اظهار کوي، چه د هغوی ترمینځ به قصاص جاري کیږي۔ او بل پکښې اظهار د ذلت د بندګانو دے حیواناتو ته۔ او ددے درے فائدے مونږ په تفسیر د سورة الانعام (۳۸) آیت کښې ذکر کړیدي۔

او د ابن عباس ﷜ د قول مطلب دا دے چه په آخرت کښې کله راجمع شي، او د یو بل نه قصاص واخلي، نو بیا به ورته وئیلے شي چه (کُوْنِيْ تُرَابًا) خاورے شئ۔ یعني ددے حشر ددے دپاره دے چه بیرته ئے الله تعالیٰ وژني۔ او دا قول د ابو هریره ﷜ نه هم نقل دے لکه چه مخکښې په تفسیر د سورة النبأ کښې ذکر شو۔

(ابن جریر، والحاکم، الصحیحة : رقم ۱۹۶۶)

۶ - وَاِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ : (۱) اَيْ مُلِئَتْ : د تمامو سمندرونو اوبۀ به را اوخوټ کیږي

او د یو بل سره به یوځائے شی او یو سمندر به ترے جوړ شی. (ربیع بن خیثمؒ، کلبیؒ، مقاتلؒ، الحسنؒ، الضحاکؒ)

(۲) اُوقِدَتْ فَصَارَتْ نَارًا تَضْطَرِمُ ـ بعضِ مفسرینو لیکلی دی چه د سمندرونو اوبهٔ به غائبے شی، او ددے په ځائے به اُور بل کړے شی.

د قفالؒ وینا ده چه کیدے شی چه جهنم د سمندرونو په تل کښ وی، او کله چه د دنیا موده ختمه شی نو ددے اُور به لمبے وهلو سره پورته راشی. لکه دا په یو روایت کښ هم راغلی دی: (اِنَّ تَحْتَ الْبَحْرِ نَارًا) (وفی اسناده بشیر بن مسلم مجهول).

(۳) دریم: مونږ مخکښ په تفسیر د سورت طور کښ وئیلی وو چه د دریابونو اُوبه به جهنم ته گوزار کړے شی، او ددے زمکه به هموار میدان شی، او د جهنم سره به ملاوه شی، نو د جهنم غټ والے او د هغے فراخی دواړه به ددے په وجه راشی، او دا قول د قتادهؒ او د ابن حبانؒ نه نقل دے. او دا کار به هم په دویمه شپیلئ سره کیږی.

۷ - وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ : (۱) د نفوس نه مراد ارواح دی. یعنی الله تعالیٰ به انسانی جسمونه دوباره پیدا کړی، او د دوئ روحونه به په دوئ کښ داخل کړی.

(۲) بعضِ مفسرینو وئیلی دیٔ چه تمام نفسونه به د یو بل سره یوځای شی، اَلصَّالِحُ بِالصَّالِحِ وَ الطَّالِحُ بِالطَّالِحِ ـ یعنی نیکان به د نیکانو سره په جنت کښ، او بدان به د بدانو سره په جهنم کښ یوځائے کړے شی.

(۳) د عطاءؒ وینا ده [زُوِّجَتْ نُفُوسُ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالْحُوْرِ الْعِيْنِ وَنُفُوسُ الْكَافِرِيْنَ بِالشَّيَاطِيْنِ] چه د مومنانو نفسونه به د حُورو سره ملاؤ کړے شی، او کافران به د شیطانانو سره په جهنم کښ یو ځائے کړے شی. او دا الفاظ دے ټولو معانو ته شامل دی.

۸ - وَإِذَا الْمَوْءُوْدَةُ سُئِلَتْ : الله تعالیٰ به په قیامت کښ ډیر تپوسونه کوی لیکن چا چه ډیر ظلم کړیدے، او زړونه ئے ډیر سخت دی نو هغوی ته به الله تعالیٰ سخت په غضب کښ وی، او د هغوی د شرمولو دپاره به داسے تپوس کوی.

نو پدے کښ الله تعالیٰ دے ته اشاره کوی چه ددے مشرکانو کافرانو زړونه ډیر سخت دی.

مفسرین لیکی: د عربو د بعضِ قبائلو دا دستور وو چه د چا په کور کښ به جینئ پیدا شوه، نو د شرم نه د بچ کیدو دپاره به ئے هغه ژوندئ ښخوله.

دا يو ډير لوئے مجرمانه كار وو، چه هغوئ به دا د خپل سختے ناپوهئ او جهالت په سبب كولو۔ داسے خلقو ته به الله تعالىٰ د قيامت په ورځ سخت غصه وى او د سخت غيظ او غضب له وجے نه به د دوئ نه مخ اړوى، او دغه ژوندئ ښخو شوو جينكو نه به پوښتنه كوى چه دے ظالمانو تاسو په كوم جُرم كښ ژوندئ ښخے كړے وئ۔
يعنى تاسو خو هيڅ جرم نهٔ وو كړے، دے وجے نه نن به دے ظالمانو له مونږ سخت ترين عذاب وركوو۔
سُئِلَتْ : دا ئے غائب صيغه راوړه، پدے كښ اشاره ده چه الله تعالىٰ به ددے قاتلانو ته سخت په غضب وى تردے چه هغوى ددے مستحق نهٔ دى چه د هغوئ سره خبرے وشى۔ او پدے كښ ددے د قاتلانو غلے كول او هغوى ته سخت وعيد دے۔
حسنؒ وائى : الله تعالىٰ اراده كړيده چه ددے قاتل ته توبيخ (زورنه) وركړى چه دا ئے ولے بے گناه وژلے ده۔ بعض وائى : ددے دپاره به تپوس كوى چه هغه خپل قاتل وښائى۔
او دا آيت دليل دے چه د مشركانو اولادو ته به عذاب نهٔ وركړے كيږى۔
او دارنگه بے گناه به هيچا ته عذاب نهٔ وركړے كيږى۔
او عربو به لونړه يو د شرم د وجه نه خخولے، او دويم دا چه رزق به ځوك وركوى۔
۹ - وَاِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ : د قيامت په ورځ به د خلقو عملنامے د حساب دپاره پرانستے شى، او د دوئ مخے ته به كيښودلے شى، او هر يو كس به خپل نيك او بد عملونه په خپلو سترگو اووينى۔ نو د صُحُف نه مراد صُحُفُ الْاَعْمَال (عملنامے) دى۔
۱۰ - وَاِذَا السَّمَاءُ كُشِطَتْ : كُشْط پوستكى ويستلو ته وئيلے شى، نو د آسمان نه به ډبرے كولاوے كړے شى، نو بيا به په آسانئ سره ماتيږى نو ځكه نے دلته دا معنىٰ ده چه (نُزِعَتْ عَنْ اَمَاكِنِهَا) په دے ورځ به آسمان د خپلو ځيونو نه داسے ويستلے شى لكه څنگه چه د ذبح شوو ځناورو نه څرمنے اوښكلے كيږى۔
۱۱ - وَاِذَا الْجَحِيْمُ سُعِّرَتْ : اَىْ اُجِّجَتْ وَاُوْقِدَتْ لِاَعْدَاءِ اللّٰهِ اِيْقَادًا شَدِيْدًا۔
يعنى په دے ورځ به د جهنم اُور د الله تعالىٰ د دشمنانو دپاره به پوره توگه تيز او بَل كړے شى۔
قتادهؒ وائى : د جهنم اُور د الله تعالىٰ د غضب او د انسانانو د گناهونو په وجه تيزيږى

(فتح البيان)

۱۲ - او په دغه ورځ به جنت ایمان او تقویٰ والو ته بیخي نژدې کړے شي.
حسنؒ وائي: دوی به ورته نزدے کړے شي، نۀ دا چه هغه به د خپل ځای نه زائل کیږي۔
ابن زیدؒ د [اُزْلِفَتْ] تفسیر دا بیان کړے چه جنت به پرهیزګارو دپاره ډولی او ښائسته جوړ کړے شي۔ اوله معنیٰ د لغت سره زیاته مناسبه ده۔ ځکه چه زُلفیٰ په عربیٔ کښې قرب (نزدے والی) ته وائي۔

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ ﴿١٤﴾ فَلَا أُقْسِمُ
پو هه به شئ هر نفس په هغه عمل چه حاضر کړے ئے وی۔ نو خامخا قسم کوم زۀ
بِالْخُنَّسِ ﴿١٥﴾ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ﴿١٦﴾
په پټیدونکو ستورو باندے۔ چه روان دی، ښکاره کیږی د شپے۔ (آرام کوی د
وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَالصُّبْحِ
شپے)۔ او قسم دے په شپه کله چه شا کړی (مخ راواړوی) او قسم دے په صبا باندے
إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِي قُوَّةٍ
کله چه ساه واخلی۔ یقیناً دا خامخا وینا د رسول عزتمند ده۔ خاوند د طاقت دے،
عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُطَاعٍ
په نیز د مالك د عرش باندے مرتبے والا دے۔ خبرے ئے منلے شي
ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ
په دغه ځائے کښې امانتګر دے۔ او نۀ دے ملګرے ستاسو لیونے۔ او یقیناً
رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ
دۀ لیدلے دے هغۀ لره په کنارو (غاړو) ښکاره کښې۔ او نۀ دے دے په وحی باندے
بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾
بخل کونکے۔ او نۀ ده دا وینا د شیطان رټلے شوی۔

تفسیر : عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ : دا د مخکنو شرطونو جزاء ده. یعنی داسے لوی لوی کارونه چه وشی نو په دغه وخت کښ به هر نفس ته معلوم شی هغه عمل چه دهٔ حاضر کړیدے. کومو خلقو چه نیکی کړے وی. هغوئ ته به د خپلو نیکیو پته ولګی، او جنت ته به ولیږلے شی. او چا چه بد اعمال کړے وی، هغوئ ته به د خپلو بدو پته ولګی. او جهنم ته به ورډبکه کړے شی.

د سورۂ آل عمران په (۳۰) آیت کښ الله تعالیٰ فرمایلی دی :

﴿ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ﴾

(په کومه ورځ چه به هر کس خپلے کړے نیکئ او بدئ خپلے مخے ته بیامومی).

نفسٌ نکره ده. کله په سیاق د اثبات کښ هم د عموم معنیٰ ورکوی.

نو هرکله چه خپل عمل وګوری نو پته به ورته ولګی چه ددے عظیم جنت دپاره څومره خواری پکار وه، او ددے عظیم اُور نه د بچاؤ دپاره څومره خواری پکار وه.

نو کافر به وائی چه زهٔ خو تباه شوم، او فاسق به وائی چه ما ولے ګناهونه کول. او مؤمن غیر مُحسن به وائی چه ما په خپلو اعمالو کښ احسان ولے نهٔ پیدا کولو. خلقو مزے وکړے او مخکښ جنت ته لاړل او زهٔ روستو پاتے شوم.

فَلَآ أُقْسِمُ: اُوس د قرآن کریم حقانیت او رشتینوالے بیانوی.

ربط :

مرګ نه پس د ژوند او د قیامت د ورځے جزاء او سزا چه کومه عقیده په قرآن کریم کښ بیان شوے ده، تر څو پورے چه یو کس په قرآن کریم باندے د اِلٰهی کلام کیدو ایمان رانهٔ وړی، د مرګ نه پس د ژوند دا عقیده هم نهٔ منی. دے وجے نه الله تعالیٰ په دے آیتونو کښ په حرکت کونکو او ولاړو او په پټ او ښکاره ستورو، دارنګه په شپه او صبا باندے قسَم خوړلے دے او انسانانو ته ئے دا یقین ورکړے دے چه دا قرآن چه په هغے کښ د مرګ نه پس د ژوند عقیده بیان شوے ده، دا د کوم انسان کلام نهٔ دے بلکه د رب العالمین کلام دے چه جبریل امین په خاتم النبیین (ﷺ) باندے نازل کړے دے.

فَلَآ أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ: په هغه ستورو باندے قسَم دے چه هغه د ورځے په وخت پټیږی، (یا په هغه ستورو چه روستو کیدونکی دی په مزل کښ)

الخنس جمع د خَانِسٌ ده، د ښکاره کیدو نه روستو پټیدو ته وئیلے شی؛ یعنی چه د شپے ښکاره وی نو د ورځے پټ شی۔ (یعنی هغه ستورو باندے قسم دے چه د ورځے پټیږی)۔

مفسرین لیکی چه دا پنځه مشهور ستوری دی: زُحل، مشتری، مِریخ، زهره او عطارد۔

د فراءَ وینا ده چه دا پنځه ستوری د نمر راوتو نه پس داسے پټیږی څنګه چه سُوئ (خرګوشان) په غارونو کښ پټیږی۔ د لغت په کتاب (الصحاح) کښ [الخُنَّس] ټولو ستورو ته وئیلے شوی دی، ځکه چه د ورځے ټول پټیږی۔

خَنَسَ یَخْنُسُ (یَخْنِسُ) خُنُوْسًا اَیْ اِنْقَبَضَ وَتَأَخَّرَ وَقِیْلَ رَجَعَ۔

یعنی راغونډیدو، او روستو کیدو او بعض وائی واپس کیدو ته وائی۔

(المحکم والمحیط الاعظم ۵/۷۹)

او خنس د پوزے روستو کول دی د مخ نه سره د لړ پورته کولو د تیندونړی نه۔ او دا ستوری هم د ورځے روستو کیږی او واپس کیږی نو پټ شی۔

زمخشری وائی: ته به یو ستورے وینی چه په آخر د برج کښ به وی نو ناڅاپه به هغه اول ته راغلے وی۔

الْجَوَارِ: دا جمع د جَارِیَةٌ ده، یعنی دا ستوری د نمر او سپوږمۍ سره روان وی، او د نمر د رڼرا لاندے پټ هم وسیږی۔ ❁ یا په خپلو مدارونو کښ روان وی۔

الْکُنَّسِ: ۱- جمع د کانس او کَانِسَةٌ ده۔ اَیْ تَتَقَرَّرُ بِاللَّیْلِ۔ چه قرارے نیونکی دی د شپے۔

۲- دا د کُنُسٌ نه دے، او کنس معنیٰ ده په جاله او سوړه کښ پناهی نیول، دارنګه پټیدلو ته وائی۔ نو معنیٰ دا ده: (الکنس: پټیدونکی دی د ورځے)

نو د ستورو خنوس ددے رجوع (واپس کیدل) دی، او ددے کنوس ددے پټیدل دی لاندے د رڼرا د نمر نه۔ (فتح البیان)

۳- یا کنس معنیٰ ده: داخلیدونکی په خپل مکان کښ په داسے طریقے سره چه په هغه مکان کښ ښکاریږی یعنی ستوری د شپے په خپلو منزلونو کښ وی او ښکاریږی۔ (احسن الکلام)

پدے کښې ډیره غوره دا ده چه ددے نه ټول ستوری مراد دی ځکه چه دا درے واړه حالتونه په ټولو ستورو کښې شته. او کومو مفسرينو چه دا وئيلي دی چه دا اوه يا پنځه ستوری ګرځي، او نور په ځای ولاړ دی پدے باندے هيڅ صحيح دليل نشته.
بيا دلته بعض مفسرينو وئيلي دی چه دا الخنس او الجوار او الكنس د هوسئ يا د وحشي غواګانو صفات دی نو حافظ ابن القيمؒ په بدائع التفسير کښې پدے باندے په لسو وجو سره رد کړيدے.
وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ : دا د اضداود نه دے (مبردؒ) د اَدْبَرَ او اَقْبَلَ معنیٰ ئے ده. يعنی چه شا راواړه وی يا رامخامخ شی) معنیٰ دا ده : ((او په شپه باندے قسَم دے کله چه هغه ورځ روستو پريدی او مخکښې راځي، او په هر يو شیٔ باندے خپل تور څادر اچوی))،
وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ: ١- (اَیْ اِمْتَدَّ حَتّٰی يَصِيْرَ نَهَارًا)
او په صبا باندے قسَم دے چه د هغے رڼړا خوريږی تردے چه پوره ورځ را اوځی.
٢- اَیْ اَظْهَرَ وَاَشْرَقَ. (شنقيطیؒ) کله چه ښکاره شی او روښانه شی.
إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ: دا جواب قسم دے. يعنی قسم پدے دے چه بيشکه هغه قرآن چه هغه د انسانانو مخے ته د مرګ نه پس د ژوند عقيده پوره تشريح او وضاحت سره پيش کوی، دا د الله تعالیٰ معزز او مکرم رسول جبريل امين د خپل رب له اړخه په نبی کريم ﷺ باندے نازل کړے.

د قسم او د جواب قسم مناسبت او ارتباط دا دے

چه په ستورو، شپه او صبا باندے قسم شويدے نو د قرآن آيتونه مشابه دی د ستورو سره چه پدے کښې رڼړا ده او ډير هم دی، نو دغه شان د قرآن آيتونه رڼړا لری، او ډيرے فائدے پکښې پرتے دی. او ستوری په خپل مدار کښې په آرام آرام روان وی نو دغه شان قرآن کريم الله تعالیٰ نجماً نجما (لړ لړ) نازل کړيدے.
او په شپه کښې د کافرانو کفر ته اشاره ده چه د قرآن د نزول نه روستو د کافرانو کفر چه په هغے کښې تيارے دی شا راواړه وله او تيارے ئے په ختميدو شوے.
(پدے وجه په عَسْعَسَ کښې د (اَدْبَرَ) شا راړولو معنیٰ غوره ده چه ددے سره ئے مناسبت زيات دے) او د صبح نه مراد صبح الاسلام ده، د قرآن په وجه باندے د اسلام رڼړا وخت په

وخت روښانه کيده، خلق به لږ لږ په اسلام کښې داخليدل، تردې چه الله تعالىٰ ورله غټه ورځ ورکړه. او په عامه دنيا کښې خور شو. لکه څنګه چه صبا وخت راځي، او شپه شا راړه وي او ستوري کله پټيږي، او کله ښکاره کيږي، نو دغسې د قرآن کريم رڼړا به تاسو ته ښکاره کيږي او کله نهٔ. او يو وخت کښې به قرارې ونيسي او شپه به شا راواړه وي او د اسلام صبا به متنفس شي يعنى فراخه به شي.

حافظ شنقيطیؒ ليکي : دلته مناسبت داسې دې :

[إِنَّ الْقُرْآنَ الْمُقْسَمَ عَلَيْهِ حَالُهُ فِي الثُّبُوْتِ وَالظُّهُوْرِ وَحَالُ النَّاسِ مَعَهُ كَحَالِ هٰذِهِ الْكَوَاكِبِ الثَّوَابِتِ لَدَيْكُمْ فِيْ ظُهُوْرِهَا تَارَةً وَاخْتِفَائِهَا أُخْرٰى]

چه قرآن کريم چه په دهٔ باندې قسم کړې شويدې چه دا د رسول کريم وينا ده، ددهٔ حال په ظهور او ثبوت کښې، او د خلقو حال ددهٔ سره دا مشابه دې د حال ددې ستورو سره چه کله تاسو ته ښکاره کيږي او کله درنه پټيږي. (دغه شان دا قرآن بعضو ته د الله تعالىٰ کلام ښکاره کيږي او بعضو نه دا خبره پټيږي)

او دارنګه په شان د حال د شپې او د صبا دې. نو دا قرآن د بعض خلقو دپاره د اعتماد او هدايت ذريعه وګرځي لکه صبا چه څنګه ښکاره شي، د دوی زړونه دې ته کولاو شي، او د دوی عقلونه په دې باندې هدايت حاصل کړي، نو قرآن د هغوی دپاره روح او نور جوړ شي او د نورو خلقو د زړونو دپاره تيارهٔ وګرځي، د دوئ عقلونه ددې نه ړاندهٔ شي، او په غوږونو کښې ئې بوج راشي، او قرآن پرې ړوند والې وګرځي.

دارنګه څه کسان د ستورو په شان وګرځي، کله د دوئ په زړونو کښې رڼړا د قرآن بَله شي نو د رڼړا نخې نښانې ورته ښکاره شي نو ددې رڼړا سره روان شي. او کله د دوئ نه د قرآن نُور غائب شي، نو د دوئ عقلونه ددې نه روستو شي، او ددې مخې ته د دوی زړونه پټ شي. لکه چه الله تعالىٰ فرمايلي دي :

﴿ كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيْهِ وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ﴾ . (بقره : ۲۰)

❁ په بله طريقه : ستوری په شان د پخوانو کتابونو شمارلې کيږي چه هغه په خپل وخت کښې راښکاره شوی وو، يو وخت پورې روان وو، بيا روستو پرې پټوالې راغې. وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ نه مراد د جاهليت تيارې دي. وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ نه مراد د اسلام ښکاره والې دې. نو د اسلام رڼړا به زر راخوره شي لکه څنګه چه د ورځې رڼړا راخوريږي، او

هیڅکله به ددې په پټولو باندې هیڅ قوت غالب نشي، او دا به ټولو آفاقو ته عام شي هر څومره چه دوئ د هغه مخې ته ودریږي. ﴿ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِئُوْا نُوْرَ اللهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ﴾ انتهی.

(اضواء البیان فی ایضاح القرآن بالقرآن ٨/٤٤)

ابن عثیمینؒ فرمائي : الله تعالیٰ پدې مخلوقاتو قسم کړیدې د وجه د عظمت ددې نه نو دغه شان قرآن هم عظیم کتاب دې.

ذِیْ قُوَّةٍ: هغه جبریل امین چه هغهٔ له د هغهٔ رب داسې زبردست قوت ورکړې چه هیڅ یو انسان یا پیرې د هغهٔ سره موجوده وحی د هغهٔ نه نشي اخستې، او نهٔ په هغې کښې څهٔ کمې او زیاتې کولې شي، لکه څنګه چه د سورۀ النجم په (٥) آیت کښې راغلي دي : ﴿ عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ﴾ (نبی ﷺ ته پوره قوت والا ملائك ښودنه کړې ده).

او دا روح الامین ملائك د عرش والا په نیز ډیره اوچته مرتبه لري، او په آسمانونو کښې اوسیدونکي ټول د هغهٔ خبره مني، او هغه د خپل رب د وحی او د رسالت د رازونو ډیر امانت دار دې.

ذِیْ قُوَّةٍ: پدې کښې اشاره ده چه شیطانان دهٔ ته نزدې نشي راتللې، په راوړلو کښې ددهٔ مقابله نشي کولې.

عِنْدَ : دا د قُرب او مکانت دپاره دې. او په مَکِیْن پورې متعلق دې، او مقدم ئې راوړیدې پدې کښې اشاره ده چه دا مکانت د بل هیڅ ملائك دپاره حاصل نهٔ دې. نو هرکله چه دې د الله تعالیٰ په نیز دومره نزدې او مرتبې والا دې، نو دې دروغژن او مُفتریٰ نشي کیدې.

ذِی الْعَرْشِ: ددې نه مراد الله تعالیٰ دې.

مَكِيْنٍ : اَیْ ذُوْ مَكَانَةٍ. د مرتبې والا دې.

مُطَاعٍ ثَمَّ: دا ددهٔ مرتبه ده د ملائکو ترمینځ. یعني په آسمانونو کښې ددهٔ خبره مَنلې شي. حسن بصریؒ فرمائي : الله تعالیٰ په آسمانونو والو باندې د جبریل طاعت فرض کړیدې لکه چه په زمکې والو باندې ئې د محمد ﷺ طاعت فرض کړیدې.

او پدې کښې اشاره ده چه زر دې چه محمد ﷺ به هم په زمکه کښې مطاع وګرځي په شان د جبریل علیه السلام په آسمانونو کښې، او همدغسې وشوه. او اشاره ده چه دا نبی هم ددې دپاره راغلې دې چه ددهٔ خبره به منلې شي.

د ثَمَّ نه مراد آسمانونه دی۔ او دا د مُطاع او د امین دواړو سره لګیږي۔
أَمِينٍ: او په وحی باندے امانتدار دے۔ (په آسمانونو کښ)
وَمَا صَاحِبُكُم: دا د رسول الله ﷺ تزکیه ده۔ او پدے کښ رد دے په قول د مشرکانو چه هغوی به نبی کریم ﷺ ته لیونے یا پیریانے وئیلو حال دا چه دوئ ته ښه معلومه وه چه هغه د ټولو عقلاؤ نه زیات عاقل دے۔
رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ: یعنی رسول الله ﷺ جبریل ﷺ لره په ښکاره کنارو کښ ولیدو، ددے کنارے نه مشرقی جانب دے، نو ددے نه مشرقی اطراف مراد دی، یا ټول اطراف مراد دی، او دا لیدل په مکه کښ په محله اجیاد کښ وو، چه رسول الله ﷺ ولیدو چه پنځه سوه وزرے ئے وے چه کنارے ئے پټے کړے وے او بیا راکوز شو۔
حافظ ابن کثیرؒ لیکی: په ظاهره کښ دا سورت د معراج د واقعے نه مخکښ نازل شوے وو۔ ځکه چه په دے کښ صرف د اولنی لیدلو تذکره شوے ده۔ په دویم ځل د جبریل ﷺ لیدلو ذکر په سورتِ نجم کښ راغلے چه هغه د سورۂ إسراء نه پس نازل شوے۔ هلته الله تعالیٰ فرمایلي دی:
﴿ وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ عِندَ سِدْرَةِ الْمُنتَهَىٰ عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ﴾
(نبی ﷺ یو ځل بیا جبریل لیدلے وو، سدرةُ المنتهیٰ خواته، ددے سره جنة المأویٰ دے)۔
او دلته جبریل ﷺ لره ددهٔ په اصلی صورت کښ د لیدلو ذکر کولو نه مقصد دا بیانول دی چه نبی ﷺ هغهٔ لره په خپلو سترګو اولیدلو، او د هغهٔ نه ئے د الله تعالیٰ وحی او د هغهٔ کلام په حقیقی معنو کښ او په یقینی توګه واخستهٔ، په دے کښ د ذرے هومره د شك او شبهے ګنجائش نشته۔
وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ: او نبی ﷺ چه د الله تعالیٰ قیمتی وحی حاصله کړه، هغه ئے د زړهٔ په پوره فراخئ سره په غیر د کمی زیاتی نه امت ته رسولے ده، په دے باره کښ ئے د ذرے هومره د بخل نه کار نهٔ دے اخستے، بلکه پوره تفصیل سره ئے امت ته بیان کړه۔ که چرے هغه کاهن وے نو د کاهنانو پشان به ئے په غیر د اُجرت اخستلو نه نورو خلقو ته دا نهٔ ښودلے، دے وجے نه اے د قریشو خلقو! ستاسو دا وینا هم صحیح نهٔ ده چه محمد (ﷺ) کاهن دے، او قرآن د کوم مردود شیطان کلام دے چه هغه ئے محمد (ﷺ) ته وخت په وخت ښائی۔

عَلَى الْغَيْبِ : د غیب نه مراد وحی د قرآن کریم ده، او دے ته غیب اضافی وئیلے شی ځکه چه په حواسو او په عقل سره ددے ادراك نشی کیدے، بلکه دا قرآن په سبب د وحیِ سره نبی کریم ﷺ ته رالیږلے شویدے۔

بِضَنِيْنٍ : د ضَنٌّ، نه دے په معنیٰ د بخل سره۔ او که دا په ظاء سره شی نو په معنیٰ د مُتَّهَم (تهمتی) سره دے۔

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ : دا قرآن وینا د شیطان رجیم نهٔ ده، د درے وجو نه چه په سورة شعراء کښ تیر شویدی۔ یو دا چه شیطان د قرآن د جوړولو طاقت نهٔ لری، دویم دا چه مَا يَنْبَغِيْ لَهُمْ ۔ شیطان داسے مزیدارے خبرے چرته راوړے شی۔ دریم : او هغوی د ملائکو خوا ته نشی ورتللے نو ځنګه به قرآن راوړی۔

فائده : پدے آیتونو کښ د صحیح حدیث شرطونه ذکر شویدی لکه په سورة النجم کښ ذکر شوی وو نو ګویا که الله تعالیٰ فرمائی چه دا قرآن هم یو حدیث دے، دا د الله تعالیٰ حدیث دے، د الله رب العالمین د طرفنه پدے سند نقل دے چه جبریل عَنِ اللّٰهِ تَعَالٰى اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ۔ دا قرآن محمد ﷺ د جبریل علیه السلام نه هغهٔ د الله تعالیٰ نه راوړیدے۔

نو دا رشتینی او یقینی ثابت کتاب دے ځکه چه ټول راویان ئے ثقات بلکه اوثق الثقات دی، جبریل علیه السلام هم مُعتمد دے، او رسول الله ﷺ هم۔ کذاب او مفتری راوی پکښ نشته نو موضوع (منکړت) حدیث نهٔ دے۔ بیا کیدے شی معتمد وی لیکن دماغ به ئے کمزوری وی، او خبره به ترے خطاء شوی، یا هیره شوی وی نو وے فرمایل : ﴿ ذِىْ قُوَّةٍ ﴾ دا مضبوط ذهن والا دے۔

دا خو د جبریل علیه السلام تزکیه وشوه اُوس د رسول الله ﷺ تزکیه بیانیږی۔

وَمَا صَاحِبُكُمْ : کیدے شی چه راوی نه خبره خطاء شوی وی، او وئیل شوی ورته یو څه وی او بیانوی بل شے، نو فرمائی چه دا پیغمبر لیونے نهٔ دے۔

بیا کیدے شی چه سند به متصل نهٔ وی، مینځ کښ به انقطاع راغلی وی، شاګرد به د استاذ سره ملاقات نهٔ وی شوے نو وے فرمایل : ﴿ وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ﴾ چه دے نبی جبریل علیه السلام په ښکاره کنارو کښ ولیدو۔ بیا کیدے شی چه هغه څه آوریدلی وی هغه ئے نهٔ وی ادا کړی۔ لکه یو راوی د خپلے رائے خلاف یو روایت بیان نکړی، نو فرمائی چه ﴿ وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴾ کله په یو راوی باندے اداء د مَاسَمِعَ واجب وی نو دهٔ هم هغه

ادا کړيدے، او بخل ئے پرے نۀ دے کړے۔
وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ: يعنی پدے مينځ کوم ضعيف راوی نۀ دے راغلے بلکه متصل قوی سند دے۔ نو هرکله چه داسے يقينی او صحيح حديث ستاسو مخے ته راغے ﴿فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ﴾ نو بيا تاسو ددے نه کوم خوا منډے وهئ ځکه چه داسے حديث خو واجب العمل وی نو قرآن هم واجب العمل دے، ددے نه اوړيدل جرم دے۔ او دا د ټول عالَم دپاره نصيحت او ياداشت دے۔

فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٢٧﴾
نو کوم طرفته ځئ تاسو۔ نۀ دے دا قرآن مګر نصيحت دے دپاره د مخلوقاتو۔
لِمَنْ شَآءَ مِنكُمْ أَنْ يَّسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَاؤُوْنَ
د چا چه خوښه ویٔ ستاسو نه چه په نيغه لاره روان شي۔ او نشئ غوختے تاسو
إِلَّا أَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٩﴾
مګر چه اُوغواړی الله چه رب د مخلوقاتو دے۔

تفسير: **فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ**: اَیْ اَیْنَ تَعْدِلُوْنَ عَنْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ وَعَنْ طَاعَتِهٖ (قتادة)
تاسو چرته ځئ ددے قرآن نه يعنی ددۀ نه مخ اړوئ او ددۀ طاعت نۀ کوئ۔
٢- اَیَّ طَرِيْقٍ تَسْلُكُوْنَ اَبْيَنَ مِنْ هٰذِهِ الطَّرِيْقَةِ الَّتِیْ قَدْ بَيَّنْتُ لَكُمْ۔ (زجاج)
يعنی تاسو کومه لاره باندے روانيږئ چه هغه ددے لارے نه ډيره ښکاره وی کومه چه ما تاسو ته بيان کړه۔
إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ: پدے کښې قرآن کريم ته ترغيب دے چه دا ښکلے خبرے الله تعالیٰ راليږلی دی چه انسان ته هر خير رايادوی او د هر شر نه ئے منع کوی، او د قيامت يره ورکوی۔
لِمَنْ شَاءَ مِنكُمْ أَنْ يَّسْتَقِيمَ: اُوس وائی چه د قرآن کريم نه فائده څوك اخلی؟ نو هر هغه څوك چه جازمه (کلکه) اراده لری، يعنی څوك چه دا اراده لری چه په نيغه لاره روان شی، يعنی په قرآن باندے د عمل اراده وکړی نو دا قرآن به ورله فائده ورکړی، يعنی ستا دا اراده وی چه زۀ استقامت حاصلوم ځکه چه په قيامت کښې استقامت (په دين

باندے مضبوط عمل کول) پکار راځي.

لِمَن شَاءَ : دا بدل دے د (لِلْعَالَمِيْنَ) نه. یعنی دا قرآن خو نصیحت دے د ټول مخلوق دپاره خو فائده ترے هغه څوك اخلي چه هغه اراده د استقامت لري.

او په لِمَنْ شَاءَ کښ په جبریه ؤ باندے رد دے چه هغوی انسان مجبور محض ګنړي نو دلته وائي چه د انسان دپاره مشیت او اراده او فعل شته.

وَمَا تَشَاؤُونَ: یو تن به استقامت کوی، نو عُجُب (خود پسندی) به پکښ پیدا شي، نو پدے جمله کښ الله تعالیٰ د استقامت حاصلونکي عُجب دفع کوی چه تکبر ونکړے ځکه چه تاسو د هیڅ نیکئ اراده نشئ کولے مګر دا چه الله تعالیٰ درله اراده وکړي. نو تهٔ په هر حال کښ رب العالمین ته محتاج ئے. بنده بغیر د هغهٔ د قدرت او مشیئت نه عاجز او مانده دے.

دارنګه پدے جمله کښ تَضَرُّع اِلَی الله غرض وی، چه هرکله هرڅه د الله تعالیٰ په واك کښ دی، او د هغهٔ په توفیق سره حاصلیږی، نو بس همغه الله تعالیٰ ته عاجزی او زاری وکړئ چه هغه مو په نیغه لاره باندے روان کړی او نیکیو ته مو رهنمائی وکړي.

او پدے جمله کښ په قدریه او معتزله ؤ باندے رد دے چه هغوی د انسان اراده مستقله ګنړي. نو الله تعالیٰ فرمائي چه ستاسو اراده زما د ارادے تابع ده.

د هر چا د ارادے او فعل نه مخکښ د الله تعالیٰ اراده وی. نو هله به د بنده فعل او اراده تاثیر لری، که د الله تعالیٰ اراده نهٔ وی شوی، نو که د بنده هر څو مره اراده وشي او فعل کول غواړی نو هغے کښ به اثر نهٔ وی. وبالله التوفیق.

امتیازات سورة التکویر

۱- د قرآن په صدق باندے اُوړد قسم وشو.

۲- د رسول الله ﷺ او د جبریل امین ښکلے صفات پکښ ذکر شو.

۳- د حدیث د ثبوت او حجیت اصول پکښ ذکر شو.

٤- د الله تعالیٰ قدرتِ او مشیئتِ مطلقه پکښ ذکر شو.

ختم شو تفسیر د سورة التکویر په توفیق د رب العالمین سره په رمضان ۱۹ موافق ۲٤/جون۲۰۱٦ء

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۱۹)	(۸۲) سُوۡرَةُ الۡاِنۡفِطَارِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الانفطار مکی دے، په دے کښې نولس آیتونه او یو ه رکوع ده

تفسیر سورة الانفطار

نوم : (۱) دے ته سورة الانفطار، (۲) او سورة اِنۡفَطَرَتۡ (۳) او سورة اِذَا السَّمَاءُ انۡفَطَرَتۡ (٤) او سورة الۡمُنۡفَطِرَه هم وائی۔

د [الانفطار] نه وتے دے، چه ددے معنیٰ شلیدل دی، چونکه په دے سورت کښې د قیامت په ورځ د آسمان د شلیدلو ذکر دے، دے وجے نه [الانفطار] ددے نوم کیښودل شو۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت په اتفاق سره مکی دے۔ ابن عباس او ابن زبیر رضی الله عنهم نه همدا نقل شوی۔

مناسبت

۱- په مخکنی سورت کښې په (اَيۡنَ تَذۡهَبُوۡنَ) سره زجر ذکر وو نو پدے سورت کښې په (مَا غَرَّكَ) سره زجر دے۔

۲- په مخکښې سورت کښې د قیامت د هیبت دپاره دولس احوال ذکر شو، نو پدے سورت کښې د هغے اختصار په څلورو حالاتو سره کوی۔

۳- په هغه سورت کښې د قرآن کریم، او د رسول رشتینوالے وو، او پدے سورت کښې د هغے منکرینو ته سخته رټنه ورکوی۔

٤- مخکښې سورت کښې هم دا ذکر شو چه انسان به په خپل عمل باندے افسوس کوی، نو دلته همدغه شان خبره ده مګر په لږ فرق سره۔

مقصد د سورت

حَسْرَةُ الْإِنْسَانِ عَلٰى عَمَلِهٖ وَبِتَرْكِ الْعَمَلِ۔ انسان به په خپل عمل (گناه) باندے افسوس کوی، او دا افسوس به کوی چه نیك عمل ئے ولے پریخودو۔

یعنی دا عمل مے ولے کولو او دا عمل مے ولے پریخودو۔ په مخکښې سورت کښې عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا اَحْضَرَتْ کښې افسوس وو پدے خبره چه گناه مے ولے کوله، او په نیك عمل کښې مے تقصیر ولے کولو، ځکه چه هلته ئے عملونه حاضر کړیدی، نو په هغے باندے افسوس کوی۔ او دلته وائی (مَا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ) بعض عملونه ترمے پاتے شویدی نو په هغے باندے افسوس کوی۔

ددے دپاره الله تعالیٰ د قیامت څلور هیبتونه بیانوی، بیا دغه موضوع بیانوی، بیا زجر دے چه تۀ چه دا بد عملونه کوے او نیکئ پریدے، نو تۀ په دوه کسانو دوکه شوے ئے، یو په الله تعالیٰ باندے او بل په ملائکو باندے۔ یعنی بد عمل انسان ولے کوی؟ نو ددے دوه وجے بیانوی، بیا ددے دوه وجو نه یوه وجه بیانوی۔

هغه دا چه په الله تعالیٰ باندے غرور انسان کښې ولے راځی ؟ دا په سبب د انکار د آخرت، یعنی د آخرت نه نۀ یریږی نو ځکه ئے په الله تعالیٰ باندے پرواه نۀ وی،

او دا ټولے خبرے د یو بل سره لګیږی چه قیامت راځی، په قیامت کښې به په خپل عمل باندے افسوس کوے، دا بد عملونه انسان ولے کوی؟ د دوه وجو نه یو په بل الله دهوکه شویدے او بل په ملائکو۔

په الله تعالیٰ او په ملائکو ولے دهوکه کیږی؟ نو دا د آخرت د نۀ منلو د وجه نه ﴿كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ﴾ نو بیا د آخرت هیبت واورئ۔

او دا سورت هم د مؤمن دپاره پوره دعوت دے او هغه دپاره پوره نصیحت دے۔

إِذَا السَّمَآءُ انفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ
کله چه آسمان اُوچوی۔ او کله چه ستوری اُودوړیږی۔ او کله چه دریابونه
فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ
روان کړے شی۔ او کله چه قبرونو والا راپورته کړے شی۔ پوهه به شی هر نفس
مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿٥﴾
په هغه عمل چه مخکښ ئے لیږلے دے او روسنو ئے پریخے دے۔

تفسیر: په اول کښ الله تعالیٰ د قیامت د اثبات دپاره د هغه ورځے څلور حالات ئے ذکر کړیدی چه ددے نه درے به د قیامت ښکاره کیدو نه مخکښ د اولنئ شپیلئ نه پس کیږی، او د څلورم راښکاره کیدل – یعنی د قبرونو نه د مړو ژوندی کیدل – به د دویمے شپیلئ نه پس په آخرت کښ وی۔

او دا کارونه ئے د شرط په طریقه ذکر کړیدی، او ددے په جواب کښ ئے وئیلی دی چه کله دا کارونه راښکاره شی، په دے وخت کښ به د هر انسان یقین راشی په هغه عملونو چه کوم ئے په دنیا کښ کړی وو۔ نیك انسان ته به معلومه شی چه دهٔ دآخرت څومره ښه توښه د خپل ځان دپاره لیږلے وه، او گنهگار ته به هم ښه معلومه شی چه د کومو گناهونو د کولو په وجه دے نن د ذلت او رسوائی او هلاکت او بربادئ سره مخامخ کیږی۔

انفَطَرَتْ: اِنْفِطَار، د فَطْر نه دے، تازه چودو او شلیدو ته وائی۔ یعنی اول ځل به وچوی۔ لکه چه د اُوښ د یو بچی اول غاښ راوخیژی نو عرب وائی: فَطَرَ نَابُ الْبَعِيْرِ۔

الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ: او کله چه ستوری را پریوزی او خوارهٔ شی، لکه څنگه چه هار مات شی نو د ملغلرو دانے په زمکه خورے ورے شی۔

انتَثَرَتْ: مخکښ سورت کښ (اِنْكَدَرَتْ) خړوالے د ستورو ذکر شو چه بے نوره شی نو دلته د هغے نه ترقی ده چه د خړ والی نه پس به گډوډ راودوړیږی۔

وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ: او کله چه د ترخو اُوبو سمندر د خوږو دریابونو د اُوبو سره یو ځائے شی، یعنی زمکه به دومره سخته وخوزیږی، او داسے خطرناکه زلزله به واقع شی

چه هر یو شے به مات رامات شی، او په زمکه باندے موجودے اوبهٔ به یو بل سره ملاؤ شی۔

فُجِّرَتْ: مخکښں سورت کښں راغلل چه دریابونه به ډك کړے شی نو دلته ترقی کوی چه بیا به په مخ د زمکه روان کړے شی۔

حسن بصریؒ وائی: د فُجِّرَتْ معنیٰ دا ده چه ددے اُوبه به لاړے شی او وچے شی۔ (او ددے نه به اُور جوړ شی)۔ دارنګه ددے د سُجِّرَتْ سره منافات نشته، پدے طریقه چه دلته ابتدائی حالت ذکر دے چه اول به روان کړے شی او هلته انتهائی حالت ذکر دے چه بیا به د جهنم سره ملاؤ شی، نو ټولو نه به اُور جوړ شی۔ او دا روانیدل به جهنم طرفته وی۔ لهذا په آیتونو کښں هیڅ اشکال نشته۔

وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ: او قبرونه به التهه کړے شی، او تمام مړی به ژوندی شی، او پورته به راشی۔ لکه همدا د بعثرة معنیٰ ده، یعنی خاورے التهه کول او اړه ول، او لاندے باندے کول او نړه ول۔

الْقُبُورُ: دا په ظاهر دے او معنیٰ دا ده: چه قبرونه لاندے باندے کړے شی، او خاورے ئے واړه ولے شی۔ یا ونړه ولے شی۔ لکه عرب وائی: [بَعْثَرَ اَیْ قَلَبَ التُّرَابَ وَبَعْثَرَ الْمَتَاعَ قَلَبَهٗ ظَهْرًا لِبَطْنٍ وَبَعْثَرْتُ الْحَوْضَ إِذَا هَدَمْتُهٗ وَجَعَلْتُ اَعْلَاهُ اَسْفَلَهٗ]۔

بَعْثَرَ یعنی خاوره ئے واړه وله، بعثر المتاع یعنی سامان ئے لاندے باندے واړه ولو۔ بعثر الحوض یعنی حوض ئے ونړه ولو او لاندے باندے ئے کړو۔

یا ذکر د قبور دے او مراد ترے نه مړی دی۔ یعنی کله چه د قبرونو والا راپورته کړے شی او د قبرونو نه راویستلے شی۔

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ: ددے درے معانی په سورة القیامه کښں تیرے شوے۔

(۱) قَدَّمَتْ فِیْ اَوَّلِ عُمُرِهٖ وَاَخَّرَتْ فِیْ آخِرِ عُمُرِهٖ۔ کوم عمل ئے چه د عمر په اول او آخر کښں کړیدے۔ (۲) قَدَّمَتْ فِی الْحَیَاةِ وَاَخَّرَتْ بَعْدَ الْمَمَاتِ۔ یعنی په ژوند کښں ئے کوم عمل کړیدے، او د مرګ نه روستو ئے کوم عمل پریخے دے۔

یعنی هر هغه طور طریقه به ورته هم معلومه شی کومه چه دهٔ په دنیا کښں جاری کړے وه او په کومه باندے چه ددهٔ نه پس خلقو عمل کړے وو۔

(۳) قَدَّمَتُ اَیُ فَعَلَتُ وَاَخَّرَتُ : اَیُ تَرَکَتُ ۔ کوم عمل ئے چه کړیدے او کوم ئے چه پریخوستے دے۔
او د پته لګیدو مقصد دا دے چه پدے به افسوس کوی چه ما دا عمل ولے کولو او دا بل مے ولے پریخودو۔

يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴿٦﴾
اے انسانه ! څه شی دهوکه کړے تهٔ په رب خپل باندے چه عزتمند دے۔
الَّذِىُ خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾
هغه ذات دے چه پیدا کړے ئے تهٔ نو برابر ئے کړے نو نیغ قد والائے کړے۔
فِىُ أَيِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾
په کوم یو شکل کښ چه هغهٔ غوختل جوړ کړے ئے تهٔ۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ هغه انسان ته رټنه ورکوی چه بد عمل کوی چه کفر او شرك او زما دین ولے ورانوے؟
یَا اَیُّهَا الْاِنسَانُ : دا خطاب قرآن کریم کښ دوه ځل راغلے دے، یو دلته او بل سورة الانشقاق کښ۔ او دا خطاب اول کافر او فاسق انسان ته دے، او بیا پکښ هر انسان داخل دے ځکه چه مونږ ټول انسانان په الله تعالیٰ باندے څه نا څه دهوکه شوی یو۔ څوك ډیر دهوکه دی او څوك لږ۔ کافر ډیر دهوکه دے۔
دهوکه کیدل دا دی چه په دغه الله تعالیٰ ئے کفر وکړو، د هغه سره شریکان جوړوی، د دغه لوی ذات هیڅ پرواه نهٔ لری، هغه نعمتونه ورکوی او دے ترے مخ اړوی، الله باندے د دهوکے ډیر شکلونه او صورتونه او طریقے دی، هر غفلت د الله تعالیٰ نه په الله تعالیٰ دهوکه کیدل دی، د الله تعالیٰ نه نهٔ یریدل، عباداتو کښ سستی کول، په مانځه ولاړ وی او فکرئے په بل ځای کښ وی، شرك والا په الله تعالیٰ غټ دهوکه دے، د آخرت منکرین لوی دهوکه دی۔
بِرَبِّكَ الْكَرِيُمِ : کریم لفظ ئے راوړو اشاره ده چه (لَا يَنُبَغِیُ مُقَابَلَةُ الْكَرِيُمِ بِالْقَبِيُحِ) د شریف او عزتمن ذات مقابله په قبائحو ډیر غلط کار دے، د عزتمن نه خو ډیر شرم او

حیاء پکار ده۔

ددې سوال غوره جواب هغه دې چه عمر بن الخطاب ؓ کړيدے چه هغه فرمائی : (غَرَّهٗ وَاللّٰهِ جَهْلُهٗ) قسم په الله دې خپل جهالت دهوکه کړيدے، که دے جاهل په الله تعالیٰ نۀ وے نو دے به په داسے عظیم ذات نۀ دهوکه کیدے۔

او کومو کسانو چه دا جواب کړيدے (غَرَّنِیْ سُتُوْرُكَ الْمُرْخَاةُ / وَغَرَّنِیْ كَرَمُ الْكَرِیْمِ) زۀ ستا هغه پردو دهوکه کړم چه په ما باندے دِے رازوړندے کړيدی،/ یا زۀ دهوکه کړم د عزتمن ذات کرم۔

(مطلب دا شو چه تا په ما باندے پرده راچولے ده یا دِے ما سره احسانات کړيدی نو ځکه زۀ دهوکه یم) دا د قرآن کریم مطلب نۀ دے، بلکه دا د صوفیاؤ خبرے دی او کمزوری دی دا خو ځان له عذر کتل دی۔

قتادهٌ وائی : غَرَّهٗ شَیْطَانُهُ الْمُسَلَّطُ عَلَیْهِ۔ دے خپل هغه شیطان دهوکه کړيدے کوم چه په دۀ باندے مقرر دے۔

بِرَبِّكَ: نو دلته الله تعالیٰ فرمائی چه په الله باندے مۀ دهوکه کیږه بلکه د دغه رب صفتونه واوره، هغه ستا رب دے، هغه کریم دے، هغه ستا خالق دے، ستا مُسَوِّی (برابرونکے) دے، ستا مُعَدِّل (اندامونه برابر جوړونکے) دے، ستا مُصَوِّر دے، نو تا سره ئے دومره احسانات او انعامات کړيدی او بیا هم تۀ په هغۀ باندے دهوکه کیږے، او د هغۀ مخالفتونو کښ واقع کیږے۔

الله تعالیٰ وفرمایل : اے انسانه ! تۀ کوم یو شی په دهوکه کښ غورزولے ئے چه تۀ د خپل فطرت نه آوړیدلے ئے او د خپل هغه رب نافرمانی کوے چه هغه لوی او عزتمن او کامل او قادر دے، او کوم چه په تا باندے دا احسان کړے چه تۀ ئے کامل خِلقت والا انسان جوړ کړے، عقل او حواس او خپل بے شماره نعمتونه ئے درکړی۔ تۀ هیڅ هم نۀ وے نو هغۀ تۀ د یوے سپکے نطفے نه پیدا کړے، یو مکمل انسان ئے جوړ کړے، غوږونه، سترګے او عقل غوندے نعمت ئے درکړو، لاسونه او خپے ئے درکړے، په سینه کښ ئے درزیدونکے زړۀ درکړو، او په هره طریقه ئے یو مکمل انسان جوړ کړے۔

او د هغۀ کامل قدرت اوګوره چه هغۀ په تاسو کښ ځوك سپین ځوك تور جوړ کړو، ځوك ئے اوږد او ځوك ئے لنډ پیدا کړو، او بیا په تاسو کښ ئے ځوك نارینه او ځوك زنانه

جوړ کړل. دا هر څۀ د هغۀ د قدرت کاریګرۍ او د هغۀ کامله صناعي ده، چه ددې تقاضا داده چه تاسو د خپل رب نافرماني ونکړئ، هر وخت د هغۀ په بندګۍ کښې اولګئ، او په هیڅ حال کښې هم د هغۀ د احکامو نه سرغړونه ونکړئ.

خَلَقَكَ: یعني د نیشت نه ئې وجود ته راوستې.

فَسَوَّاكَ: اَیْ اَعْضَائَكَ. یعني ستا اندامونه ئې برابر جوړ کړل. پتون ئې درله پیړ درکړو دې دپاره چه انسان د پریوتو نه محفوظ شي، که دا نرې وې نو انسان به تینګیدې نشوې، لاندې خپې ئې درله نرئ کړې ځکه چه بیا به ئې د فیل په شان منډه نشوه وهلې او د هر څه نه به لګیدلې. که ورمیږ درله الله تعالیٰ ډیر پیړ کړې وې نو اخوا دیخوا به دې کتلې نشوې، که خیټه ئې درله ډیره غټه کړې وې، نو په خوراك څکاك سره به درنه بوساره جوړیدلې، استنجاء به دې هم نشوې کولې. نو هر اندام الله تعالیٰ د خپل مقام سره مناسب لګولې دې. په انسان کښې دوه سوه اته څلویښت هډوکي او درې سوه شپیته جوړونه دي، دې ته الله تعالیٰ تسویه ورکړې ده.

فَسَوَّاكَ: اَیْ رَجُلًا تَسْمَعُ وَتُبْصِرُ وَتَعْقِلُ. یعني تۀ ئې روغ برابر سړې جوړ کړې چه آوریدل او لیدل کوې او په خبره پوهیږې.

فَعَدَلَكَ: دې نه تعدیل الاخلاط مراد دې، په انسان کښې څلور اخلاط (مخلوط څیزونه) دي، وینه، صفراء، سوداء، بلغم. دا الله تعالیٰ په اندازه اچولي دي، وینه په انسان کښې شپاړس کیلو وي، څوارلس باندې ژوندې وي، او دوه د ستپنئ په طور وي.

دا دې دپاره چه که د انسان نه یو کیلو دوه وینه ووځي نو نۀ به مري. بیا د وینې بلډ پریشر ته وګوره چه دا په خاص انداز باندې الله تعالیٰ مقرر کړیده که دا تیزه شوه نو رګونه به وشوکیږي، او د سر رګ به وشوکیږي، فالج به راشي، او که په آرام شي نو زړه به دې رپیږي، طاقت به دې ختم شي.

دارنګه صفراء که ډیره شي نو صحت به خراب شي، خوله به دې ترخه او بدن به دې خراب وي، سوداء که ډیره شوه دماغ به دې خراب شي، لیونې او دیوانه به شې، او بلغم که ډیر شي نو هډوکي به دې درد کوي.

ددې وجه نه کله چه د انسان صحت ګډوډ وي نو بیا وائي نن مې مزاج خراب دې، یعني یو ددې څلورو مزاجونو په بل باندې غلبه کړې وي نو بدن کښې تبدیلي پیدا

شوي وي۔

فَعَدَلَكَ : عطاءؒ وائي : جَعَلَكَ قَائِمًا مُعْتَدِلًا حَسَنَ الصُّوْرَة ۔ يعني ته ئے ولاړ درميانه ښكلے شكل والا وګرځولے۔

مقاتلؒ وائي : عَدَلَ خَلْقَكَ فِي الْعَيْنَيْنِ وَالْاُذُنَيْنِ وَالْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ ۔ ستا پيدائش ئے په سترګو او غوږونو او لاسونو او خپو كښ برابر كړو۔ يعني ستا اندامونه ئے برابر مناسب پيدا كړل۔

فِيْ أَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَاءَ رَكَّبَكَ : فِيْ اَيِّ صُوْرَةٍ متعلق دے د رَكَّبَكَ پورے، او مَا زياتى ده او شَاءَ صفت دے د صُوْرَةٍ دپاره۔ (اَىْ رَكَّبَكَ فِيْ اَيِّ صُوْرَةٍ شَاءَهَا) يعني جوړ ئے كړے په هر شكل كښ چه الله تعالىٰ غوښتل۔ چه د پلار يا د مور يا د ماما يا د تره سره مشابه وى (مقاتلؒ، كلبىؒ، مجاهدؒ)

يا كه الله تعالىٰ وغواړى نو نارينه ئے پيدا كړى او كه وغواړى نو زنانه (مكحولؒ)۔

يا ئے چا له سپين، چا له تور، چا له اوږد، چا له لنډ شكل او قد وركړيدے۔

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ
هيچرے داسے نۀ ده، بلكه تاسو دروغژن ګڼرئ جزا لره۔ او يقيناً په تاسو باندے
لَحَافِظِيْنَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿١١﴾
خامخا حفاظت كونكے ملائك (مقرر) دى۔ عزتمند. ليكونكى۔
يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿١٢﴾
پوهيږى په هغه څه چه تاسو ئے كوئ۔

تفسير : **كَلَّا** : ١ - اَىْ لَا يَنْبَغِي الْغُرُوْرُ ۔ هيچرے په الله تعالىٰ باندے دهوكه كيدل نۀ دى پكار۔

٢ - لَمْ يَغُرَّهُ كَرَمُ اللهِ ۔ هيچرے دے د الله په كرم دهوكه نۀ دے۔ يعني هيڅ يو شے داسے نشته چه تاسو لره په الله باندے دهوكه كړى او تاسو د خپل فطرت نه واړه وى بلكه ستاسو د رب بيحده احسانات خو تاسو ته دا لاره ښائى چه تاسو به د مرګ نه پس خامخا را پورته كيږئ، دے دپاره چه ستاسو د نيكو او بدو اعمالو بدله تاسو له دركړے

شی،
لیکن تاسو کښې مرض موجود دے، د دهوکے وجه ئے دا ده چه د آخرت ورځ نهٔ منی او جزاء او سزا نهٔ منی، ځکه چه د آخرت منل انسان هرے نیکئ ته راکاږی.
تاسو صرف د کبر او عناد له وجے د مرګ نه پس ژوند او د قیامت په ورځ د جزاء او سزا نه انکار کوئ، او کفر او ظلم او نور ګناهونه کوئ.
وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ: یاد ساتئ چه مونږ ستاسو د عملونو شمارلو او ددے د ثبت کولو دپاره ملائك مقرر کړی دی چه هغوئ ستاسو یو یو عمل لیکی. تاسو چه پټ یا ښکاره کوم ښهٔ یا بد عملونه کوئ، ملائك دا هر څهٔ لیکی، ستاسو د هیڅ یو قول او عمل نه دوئ غافله کیږی نهٔ، او دا ټول نیك او بد عملونه به د قیامت په ورځ ناساپه ستاسو مخے ته راشی.
د سورهٔ قٓ په (۱۸/۱۷) آیتونو کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی:
﴿ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾
(یو ښی طرفته او بل ګس طرفته ناست دے. انسان چه څهٔ لفظ د خُلے نه را اوباسی، د هغهٔ خواته موجود ساتونکے ملائك هغه محفوظ کوی).
كِرَامًا كَاتِبِينَ: دلته ئے د کرام لفظ راوړو اشاره ده چه الله تعالیٰ هم کریم دے، او دا ملائك هم کرام دی، نو اے انسانه! د لوی الله تعالیٰ نه هم حیاء وکړه، او ددے ملائکو نه هم حیاء وکړه، ملائك داسے عزتمن مخلوق دے چه کله انسان غلطے خبرے کوی نو هغوی له تعجب ورځی، د دروغو وئیلو نه د یو میل په اندازه لرے ځی ځکه چه په هغوی باندے ددے بد بوئی راځی. او حدیث کښې دی:
(فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ ....فَاسْتَحْيُوهُمْ وَأَكْرِمُوهُمْ)
چه تاسو سره هغه څوك دی چه ستاسو نه نهٔ جدا کیږی (یعنی ملائك) نو ددوی نه حیاء وکړئ او د دوی عزت وکړئ.
(الترمذی: ۲۸۰۰) واسناده ضعیف فیه لیث بن ابی سلیم وحسن بن ابی جعفر ضعیفان)
كَاتِبِينَ: یعنی ښهٔ او بد عملونه په صحیفو کښې لیکی دے دپاره چه په قیامت کښې د حساب او جزاء معامله وکړے شی.
يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ: دا دلیل دے چه کوم کارونه په عمل کښې نهٔ وی راغلی لکه پټے

ارادے، او د زړه نیتونه نو د هغے نه ملائك خبر نهٔ لري۔
وَإِنَّ عَلَيْكُمْ: کښې خطاب عام دے نو معلومیږي چه دا ملائك په کافرانو او په انبیاء علیهم السلام باندے هم مقرر دي۔

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿١٤﴾
یقیناً نیکان به خامخا په نعمتونو کښې وي، او یقیناً بدکاره به خامخا په ګرم اُور کښې وي
يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا
داخلیږي به هغے ته په ورځ د جزاء۔ او نهٔ به وي دوی د هغے نه
بِغَائِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ
غائبیدونکي۔ او څه پوهه کړے ئے ته چه څه ده ورځ د جزاء۔ بیا (وایم)
مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ
څه پوهه کړے ئے ته چه څه ده ورځ د جزاء۔ هغه ورځ چه اختیار به نهٔ لري
نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا وَّالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾
هیڅ نفس د بل نفس دپاره هیڅ شے او ټول اختیار به په دغه ورځ صرف د الله وي۔

تفسیر: کله چه دا ثابته شوه چه د بندګانو تمام عملونه ریکارډ کولے شي، نو اُوس دا بیانیږي چه د قیامت په ورځ به مومن او کافر او نیك او بد هر یو ته د هغهٔ د اعمالو مطابق بدله ورکړے کیږي، یعني مخکښې د اعمالو لیکل بیان شول، نو اُوس دلته د عاملینو دوه قسمونه یو ته بشارت او دویم ته تخویف اخروی ذکر کیږي۔
الْأَبْرَارَ: هغه کسان چه د هغوی صحیفے د نیك اعمالو نه ډکے دي، یعني چه کوم خلق د الله تعالیٰ فرائض اداء کوي، د ګناهونو نه ډډه کوي، او د صلاح او تقویٰ ژوند تیروي، هغویٔ به د جنتونو حقدار جوړیږي۔
او کوم خلق چه د الله تعالیٰ د امرونو مخالفت کوي، د هغویٔ استوګنه به جهنم وي چه په دے کښې به د جزاء او سزا په ورځ غورزولے کیږي، د هغے ګرمي، د هغے عذاب او د هغے سختي به زغمي، نهٔ به مري او نهٔ به د هغے نه ویستلے کیږي۔

د سورة الشورىٰ په (۷) آیت کښې الله تعالىٰ فرمایلي دي :

﴿ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ ﴾

(یوه ډله به په جنت کښې وي، او بله ډله به په جهنم کښې وي).

وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَائِبِيْنَ: یعني هیڅکله به د اُور نه نۀ جدا کیږي او نۀ به ترې غائبیږي.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ: د قیامت د ورځې د هیبتناکئ او سختئ بیانولو دپاره الله تعالىٰ نبیٰ کریم ﷺ مخاطب کوي فرمائي چه اے زما نبي! تۀ د دغه ورځې سختی او هیبتناکي پوره طریقې سره نۀ پیژنې، حالانکه دا خو هغه شے دے چه د هغې صحیح علم حاصلول انتهائي اَهم دي.

ددے د خطرناکئ اندازه ددے نه ولګوئ چه په دے ورځ به هیڅ یو کس د بل هیچا په کار رانشي، پلار د بچي دپاره او بچے د پلار دپاره، نۀ ښځه د خاوند دپاره او نۀ خاوند د ښځې دپاره، په دے ورځ به د الله تعالىٰ نه سوىٰ د یو ے ذرے هم مالك نۀ وي، د هغۀ د اجازت نه بغیر به هیڅوك سفارش نۀ کوي، او نۀ به د چا سفارش قبلیږي.

الله تعالىٰ د سورۀ غافر په (۱٦) آیت کښې فرمایلي دي: ﴿ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴾ (نن بادشاهي د چا ده؟ صرف د یو الله چه هغه زورور دے).

يَوْمَئِذٍ: دا ورسرۀ ځکه وائي چه په دنیا کښې ډیر خلق د بادشاهئ او د تصرفاتو دعوه کوي، د قیامت په ورځ به هر څه الله تعالىٰ ته سپاري او د هیچا واك به نۀ چلیږي. د هغۀ خوښه ده چه په تا باندے هرڅنګه فیصله کوي، نو چا چه د دغه رب سره تعلق جوړ کړے وي، نو کامیاب او چه دغه رب ئے نۀ دے راضي کړے او تعلق ئے ورسره نۀ دے برابر کړے نو د هغۀ به څه حال وي؟ پدے کښې پوره عبرت پروت دے!!. الله تعالىٰ دِے زمونږ ټول احوال برابر کړي. آمین، وبالله التوفیق.

امتیازات سورة الانفطار

۱- د قیامت هیبت.

۲- د انسان په الله تعالىٰ باندے دهوکه کیدل ذکر شو.

۳- د قیامت په ورځ واك صرف الله تعالىٰ لره دے.

ختم شو تفسیر د سورة الانفطار په نصرت د رب العالمین سره.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (٣٦)	(٨٣) سُوۡرَةُ الۡمُطَفِّفِيۡنَ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة المطففین مکی دے، په دے کښې شپږ دیرش آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة المطففین

نوم : په اولنی آیت کښې [الۡمُطَفِّفِيۡنَ] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔ او دے ته سورة التطفیف هم وائی۔

د نازلیدو زمانه : د ابن مسعود ﷛، ضحاک او مقاتل په نیز دا سورت مکی دے۔ نحاسؒ او ابن مردویهؒ د ابن عباسؓ او ابن عمر رضی الله عنهم نه همدا روایت نقل کړے۔

او ابن ماجه د ابن عباس ﷛ نه روایت کړی دی [لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ الۡمَدِيۡنَةَ كَانُوۡا مِنۡ أَخۡبَثِ النَّاسِ كَيۡلًا، فَأَنۡزَلَ اللّٰهُ سُبۡحَانَهٗ : ﴿ وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِيۡنَ﴾ فَأَحۡسَنُوا الۡكَيۡلَ بَعۡدَ ذٰلِكَ] هر کله چه نبی کریم ﷺ مدینے ته هجرت اوکړو نو وے لیدل چه د هغه ځائے د خلقو حال په ناپ تول کښې ډیر خراب وو، نو الله ﴿ وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِيۡنَ ﴾ نازل کړو۔ نو ددے نه روستو خلقو پیمانه ښه کړه۔ (ابن ماجه : ٢٢٢٣ حدیث حسن).

صاحب د محاسن التنزیل لیکی چه په ظاهره کښې دا سورت مکی دے، ددے چلن او خاصکر ددے آخری آیتونه ښائی چه دا په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

١- مخکښې سورت کښې زجر وو په اغترار سره نو پدے سورت کښې زجر دے په تطفیف سره چه دا نتیجه د اغترار ده۔

٢- مخکښې ئے يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ سره د قیامت شان ذکر کړو نو دلته يَوۡمَ يَقُوۡمُ النَّاسُ لِرَبِّ

4/4 الْعَالَمِيْنَ سره د قيامت شان بيانوي.

٣- مخکښې ئې وويل چه د بندګانو عملنامې د ملائکو سره وي په دنيا کښې نو دلته وائي چه دا عملنامې به روستو د مرګ نه په عليين يا سجين کښې وي.

د سورت مقصد

اَلزَّجْرُ بِحُبِّ الدُّنْيَا وَالرَّغْبَةُ فِي الآخِرَةِ - د دنيا په محبت باندې رټنه او د آخرت سره مينه کولو باندې تيزي ورکوي. بعض خلق دومره ظالمان دي چه دنيا سره ئې دومره مينه ده چه خپله هم خوري او د بل هم خوري. بيا د قرآن کريم طريقه دا ده چه په خبره کښې ترقي کوي، نو وائي چه بعض خلق دومره ظالمان دي چه د دنيا سره ئې دومره مينه ده چه د آخرت نه منکر شويدي، قسماقسم ګناهونو کښې اخته دي،

ددې نه غټه ترقي دا ده چه بعض دومره مجرمان دي چه څوك آخرت لره تيارې کوي نو دوی د هغوی پورې توقې کوي. دا کارونه د محبت دنيا د وجه نه کيږي. ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ ﴾ دا د دنيا سره پډې طريقه لګيږي لکه سورت بقره کښې تير شويدی ﴿ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾.

دنيا سره ئې مينه ده نو د مؤمن پورې توقې کوي. لکه دا د عربو مشرکانو حال وو نو دا آيتونه اول د هغوی سره لګيږي بيا د ټولې دنيا کافرانو سره.

مکې والا هم د وزن والا وو، نو دوی به هم په سرو او سپينو اوزانو کښې تګی کوله.

مدينې ته چه کله رسول الله ﷺ راغې نو د هغه ځای خلق د کجورو او فصلونو والا وو هغوی به هم دا تګی کوله، تطفيف به ئې کولو، الله تعالیٰ په حرامو باندې ډير سخت ناراضه کيږي، کافر ته هم وائي چه دا کار مهٔ کوئ. لکه شعيب ﷺ خپل قوم ته وئيلي وو چه ډنډې مهٔ وهئ او تګی مهٔ کوئ.

څوك چه پردی مالونه خوري نو دوی په اصل کښې آخرت نهٔ مني، که دوی آخرت مني نو بيا پردی حقوق په ځان باندې څنګه راچوي. ډير انسانان د مال په باره کښې فيل دې چه نفلونو ته خو ښه تکړه وي ليکن پردی مالونه ورته خپل مالونه ښکاره کيږي. قرضونه هړپ کوي، تګی کوي، په دالو، کرخو وغيره کښې شړې اچوي د درنه ولو دپاره. د دنيا دپاره په دروغو قسمونه کوي.

نو د دنیا محبت چه د چا په زړه کښې راشي نو یو به پردے مال خوري او د آخرت به منکر کیږي به او د مؤمنانو پورے ټوقو والا جوړیږي. نو ددے برعکس د هغه مؤمنانو صفت به وکړي چه هغوی زاهدين في الدنيا او راغبين في الآخرة دي.

د هغوی طریقه دا ده چه هغوی په دنیا کښې نیکۍ کوي لګیا دي، حق قبلوي، د آخرت نه یریږي. نو د دوی دپاره د جنت نعمتونه واوره او د مخکنو خلقو جهنم. دوه ډلے جوړے شوے د مخکښې سورت په شان لیکن طرز ئے جدا دے.

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴿١﴾ الَّذِينَ إِذَا
هلاکت دے دپاره د کمي کونکو (په ناپ تول کښې). هغه کسان دي چه کله
اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴿٢﴾ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو
پیمانه اخلي د خلقو نه نو پوره ئے اخلي. او کله چه پیمانه کوي هغوی ته یا
وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴿٣﴾ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم
تول کوي هغوی له نو کموالے کوي. آیا ګمان نهٔ کوي دا کسان چه یقیناً دوی به
مَّبْعُوثُونَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥﴾ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾
راپورته کړے شي. ورځے لوئی ته. هغه ورځ چه ویه دروله شي خلق رب العالمين ته.

تفسير: پدے آیتونو کښې الله تعالیٰ د هغه خلقو د هلاکت او بربادئ خبر ورکړے چه هغوئ په ناپ تول کښې خلقو سره بے ایماني کوي، د دوئ د اخستو پیمانه جدا وي، او د خرڅولو جدا. کله چه د خلقو نه اخستل کوي نو پیمانه بنهٔ ډکوي او وائي چه د ناپ تول کولو په وخت انسان له پوره ورکول پکار دي، او کله چه خلقو ته ورکوي نو کوشش کوي چه پیمانه ډکه نهٔ وي، او وائي چه همدا صحیح پیمانه ده.

په اولني درے آیتونو کښې د تطفیف تعریف او وضاحت شویدے. لکه چه ابن عطیهٔ وئیلي دي.

وَيْلٌ: دا جمله دعائیه ده، چه الله دِے ئے هلاك کړي. یا جمله خبریه ده، الله تعالیٰ ددوی د هلاکت خبر ورکړیدے، او الله چه د چا د هلاکت خبر ورکړي هغه واقعي هلاك شو.

لـلْمُطَفِّفِينَ: دا د تـطـفـيف نـه دے، پـه لـغت كښ دے ته وائی چه د صاحبِ حق په حق كښ نقصان وكړی په پيمانه يا وزن كښ.

او تطفيف د طَفَفٌ نه دے كم شی ته وائی.

ابوعبيدهٌ او مبردٌ وائی : مُطفف هغه چا ته وائی چه په پيمانه او وزن كښ كمے كوی.

حـافـظ سيـوطیؒ په (الاكليل) كښ ليكلی دی چه په دے آيتِ كريمه كښ په ناپ تول كښ د كمئ او خيانت كولو سخته بدی راغلے، ځكه چه ددے په ذريعه د خلقو مالونه په نـاحـقـه خـوړلے كيږی، او ددے مـال مقدار اګركه لږ وی، ليكن دا كا ر كول د كونكی په رذالـت او خبـاثـت بـانـدے دلالـت كـوی، او دے خبـرے ته اشاره وركوی چه كه دهٔ ته موقع ملاويدلے نو د خلقو ډير مال هم په حرامه توګه د خوړلو نه دريغ نهٔ كوی. اهـ (القاسمی)

الله تـعـالـىٰ د قـرآن كريـم پـه نـورو ګـنـړو آيتـونـو كښ هم د پوره ناپ تول كولو حكم وركړے، د سورهٔ اسراء په (۳۵) آيت كښ راغلی دی :

﴿ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾

(او كـلـه چه ناپ كوئ نو پوره پيمانے سره ناپ كوئ، او سيده تلے سره تول كوئ، همدا بهتر دے، او د انجام په لحاظ سره هم ډير ښهٔ دے).

او د سورهٔ رحمٰن په (۹) آيت كښ راغلی دی :

﴿ وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَاتُخْسِرُوا الْمِيزَانَ ﴾ (او انـصـاف سره وزن ټيك ساتئ، او په تول كښ كمے مهٔ كوئ).

او د شعيب عليه السلام قـوم الله تـعـالـىٰ د همدے ګناه په سبب هلاك كړو چه دغه خلقو به په ناپ تول كښ د خلقو سره خيانت كولو.

فراءٌ وائی : مدينے والا ددے آيت د نازليدو نه روستو د ټولو خلقو نه ښائسته پيمانے والا دی تر نن ورځے پورے.

بيا تـطـفـيف پـه دوه قـسـمـه دے، يـو ظـاهـری تـطـفـيف دے چه دا په تول او پيمانه كښ نقصان كول دی دپاره د دهوكے وركولو او دا حرام دے او ددے آمدن هم حرام دے.

دويـم معنوی تطفيف دے لكه علامه قرطبیؒ ليكلی دی چه تطفيف په كيل او وزن او اودس او مونځ كولو او خبرو كولو كښ راځی.

او د امام مـالـكؒ نـه نقل دی چه د هر څيز دپاره وفاء او تطفيف شته او دلته دواړه قسمه

تطفیفه حرام دی۔

حافظ ابن القیمؒ په بدائع التفسیر کښ لیکی : لکه څنګه چه تطفیف په اموالو کښ حرام دے نو په مسائلو د دین کښ په طریقه اولیٰ سره حرام دے، لکه یو تن په یو مذهب روان دے نو کله چه یو حدیث ددهٔ د مذهب خلاف راشی نو دے هغه ضعیف کړی، او د جانب مقابل خبره خکته کړی او خپله خبره پرے اُوچته کړی، دا غټ تطفیف دے ځکه چه دا خو تا خیانت وکړو، د الله او د رسول او د مسلمانانو سره۔ او ډیر خلق د امتحاناتو په پرچو کښ لیکی : رَجِّحُوا مَذْهَبَ فُلَان وَفُلَان۔ د فلانی مذهب له ترجیح ورکړئ۔

یا د حدیث نه شپاړس جوابونه کوی کله چه د مذهب خلاف راشی۔ نو د داسے تطفیف نه به مؤمن ځان ساتی۔ پکار خو دا وه چه داسے ئے وئیلی وے : حق لره ترجیح ورکړئ، که د هر مذهب سره وی۔

نو کوم خلق چه په میزان د شریعت کښ نقصان کوی چه په خپلو عملونو (اودس، مونځ، زکاة، روژه وغیره) عباداتو او معاملاتو کښ د حدودِ شرعیه ؤ نه نقصان کوی او د بل چا نه پوره عمل غواړی او په بل چا باندے تنقید کوی او پخپله تنقید نشی برداشت کولے او پخپله بے دلیله خبرے کوی او د بل چا نه دلیل غواړی او د بل چا حق پوره نهٔ ادا کوی او خپل حق پوره غواړی نو دا هم سبب د هلاکت دے او پردے عیب وینی او خپل عیب ته نهٔ ګوری، پدے اعتبار سره هر مشرك، مبتدع، عنادی او باطل پرست او فاسق مطفف دے۔

او ددے تطفیف د وجه نه قرآن او حدیث شا ته ګوزار شول، تقلیدونه شروع شول، جنګ جګړے او فسادونه او حسدونه او بے محبتیانے ددے په وجه پیدا شوے او اسلامی خلافتونه ددے وجه نه ختم شو خو ډیر خلق پدے مرض باندے تر اُوسه پورے نهٔ دی پوهه شوی۔ والله المستعان۔

إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ: اکتیال بل نه پیمانه اخستو ته وئیلے شی۔ او عَلیٰ په معنیٰ د مِنْ سره دے۔ او عَلیٰ ئے استعمال کړیدے، یعنی په خلقو باندے زور کوی چه پوره ترے واخلی او د هغوی په ضرر باندے پیمانه اخلی۔

او دلته ئے پیمانه ذکر کړه نهٔ وزن د وجه د اختصار نه ځکه چه په هغه زمانه کښ کیل او وزن دواړو سره به بیع شراء کیده، نو د یو په ذکر سره دلالت په بل باندے ملاویږی۔

وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ : دا دواړه فعلونه بغیر د لام نه هم استعمالیږي، لکه دا د اهل حجازو کلام دے، او کله نا کله سره د لام نه هم استعمالیږي، (كَالُوا لَهُمْ اَوْ وَزَنُوا لَهُمْ) یعنی کله چه خلقو له پیمانه ورکوی، یا ورله تول کوی۔

يُخْسِرُونَ: یعنی کمے کوی /کم ورکوی۔

أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ : اُوس د آخرت د ورځے سره زجر او یره بیانوی۔ پدے کښ مقصد د خیانت او دهوکے ورکولو گناه نه په منع کښ مبالغه او تاکید کول دی۔

فرمائی : آیا دوئ ته ددے خبرے یقین نشته چه د خپلو قبرونو نه به ژوندی پورته کیږي، او د قیامت په خطرناکه او یرونکے ورځ کښ به د تمامو خلقو سره د رب العالمین مخے ته انتهائی ذلت او عاجزئ سره اودریږي، او د خپل ځان په باره کښ به د هغهٔ د فیصلے انتظار کوی۔

أَلَا: دا استفهام د تعجیب دپاره دے، یعنی تاسو ددهٔ په حال باندے تعجب وکړئ۔ او د ظن په نفی سره د یقین نفی په طریقه د التزام سره راغلے، یعنی یقین په بعث بعد الموت باندے خو درکنار چه گمان هم نهٔ کوی، ځکه چه که ددهٔ یقین وے نو دهٔ به هیڅکله داسے جرم نهٔ کولے، البته که گمان لري نو بیا دِے په خپل حال کښ فکر وکړی چه دے کله د الله تعالیٰ مخے ته ذلیله ولاړ وی، او تو له دنیا ددهٔ خیانت او شرم وینی نو ددهٔ به څه حال وی؟!۔

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به چه کله د شپے تلاوت کولو او په دے آیت به راتیر شو نو د ډیر هیبت او د یرے د استحضار د وجه نه به په ځای نشو ودریدے، بلکه پرے وتلو به۔ او دومره ئے وژړل چه د هغے نه روستو آیتونو نه بند شو۔ او په بازار چه به کله ورتیریدو نو په خلقو به ئے سلامونه اچول او بیا به ئے ورته ویل :

[اِتَّقِ اللّٰهَ وَاَوْفِ الْكَيْلَ فَاِنَّ الْمُطَفِّفِيْنَ يُوْقَفُوْنَ لِعَظَمَةِ الرَّحْمٰنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]

د الله تعالیٰ نه یره وکړه او پیمانه پوره ورکوه ځکه چه کمے کونکی به د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ عظمت ته ودرولے شی۔ (بیا به څه کوئ)۔

(التسهيل لعلوم التنزيل لابن جزيّ)

لِرَبِّ الْعَالَمِينَ : ۱- یعنی د رب العالمین امر او د هغه جزاء او د هغه حساب او حکم او فیصلے ته۔ ۲- بعض وائی : خلق به د رب العالمین مخے ته په خپلو خولو کښ تر

نیمائی غوږونو پورې ولاړ وي- لکه حدیث د بخاري او مسلم وغیره کښ د ابن عمر رضی الله عنه نقل دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

((په هغه ورځ چه خلق به رب العالمین ته ودریږي))
(يَقُومُ اَحَدُهُمْ فِيْ رَشْحِهِ اِلٰى اَنْصَافِ اُذُنَيْهِ)

تردې چه یو تن د دوی به په خپله خوله کښ تر نیمائی غوږونو پورې پټ ولاړ وي-
(بخاری فی الرقاق باب۴۷، (۴۹۳۸) وتفسیر سورة ۸۳ ومسلم فی الجنة حدیث ۶۰)

كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ﴿٧﴾
هیچرې داسې نهٔ ده پکار، یقیناً عملنامه د بدکارو خامخا په سجین (جیل) کښ ده.(لیکل د بدکارو په سجین کښ شویدی)-
وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّيْنٌ ﴿٨﴾ كِتَابٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿٩﴾
او څه پوهه کړې ئې تهٔ چه څه دې سجین- دفتر (رجسټر) دې لیکلې شوې-
وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ
هلاکت دې په دغه ورځ دپاره د تکذیب کونکو- هغه کسان دي چه دروغژن ګڼړي
بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيْمٍ ﴿١٢﴾
ورځ د جزاء-او دروغژن نهٔ ګڼړي هغه مګر هر زیاتے کونکے ډیر ګناهګار-
إِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيْرُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾
کله چه لوستلې شي په دهٔ باندې آیتونه زمونږ وائی دې (دا) قیصې د پخوانو دي-

تفسیر : د [کَلَّا] په ذریعه هغه خلقو ته زجر او رټنه شوې ده چه هغوئ په ناپ تول کښ خیانت کوي، او د خلقو د حقونو په اداء کولو کښ کمے کوي- دوئ ته وئیلې شوی دي چه تاسو دا ګمان مهٔ کوئ چه ستاسو دا عملونه به نهٔ لیکلې کیږي، تاسو سره به ددې حساب نهٔ کیږي، او تاسو له به د قیامت په ورځ ددې جزاء نهٔ درکړې کیږي- د قیامت ورځ به خامخا راځي، او ستاسو عملنامې به خامخا ستاسو مخې ته پیش کیږي- بیا په دنیا کښ دا قانون دې چه کله یو تن جرم وکړي نو هغه یو ځای بل ځای پټیږي

نو سرکار د هغه په باره کښې حکم وکړي چه فلانے مجرم نیول پکار دی، نو ددهٔ نوم په جیلیانو کښې ولیکي چه فلانے د فلانی ځوی په دے جرم باندے مجرم دے، او دے جیل ته راوستل غواړي، د مجرمانو نومونه په تور لست کښې لیکلے شوے وی، دویم ئے جرم لیکلے شوے وی، دریم ځل کښې هغه ونیول شي او جیل ته راوستے شي۔

نو دغه طریقه د الله تعالیٰ هم ده چه الله تعالیٰ د مجرمانو دپاره یو جیل د سجین په نوم باندے په لاندے زمکه کښې جوړ کړیدے، په هغے کښې ئے د مجرمانو نومونه هم لیکلی دی چه دا فلانی فلانی خلق به دے جیل ته راځي، دا د نیولو لائق دی، خو وخت ئے معلوم وی۔ او جرمونه ئے لیکلے شوی وی،

په بل تعبیر سره: د دوی عملونه هم هلته لیکلے شوی وی۔ او ټول بد اعمال ئے هلته روان وی، او بیا چه کله مړهٔ شي، نو د هغوی روحونه هم هلته ولیږلے شي۔ درے واړه کارونه کیږی۔ او د قیامت په ورځ ئے بیا جهنم ته بوځي۔ کله چه دِے دا قانون وپیژندو نو اُوس به په آیت باندے پو هه آسانه شي۔

الله تعالیٰ وفرمایل: د فاجرانو عملنامے به په سجین کښې وی، او د سجّین تفسیر ئے دا بیان کړو چه دا یو لیکلے شوے کتاب دے، یعنی داسے کتاب چه په هغے کښې د شیطانانو، فاسقانو او فاجرانو بد اعمال لیکلے کیږی۔

د قتادهٔ، سعید بن جبیرؒ، مقاتلؒ او کعبؒ وینا ده چه (سجین) د اُوومے زمکے لاندے یو غټ کانړے دے چه د هغے لاندے د فاجرانو عملنامے لیکلے کیږی۔ همدا وینا د مجاهدؒ هم ده۔

او دواړه خبرے صحیح دی، ځکه چه دغه سجین یو مکان هم دے (نو لَفِيْ سِجِّيْن صحیح شو) او په هغے کښې بیا رجسترے وی چه ددے فجارو نومونه پکښې لیکلے شوی وی۔ (نو کتاب الفجار) هم صحیح شو۔ لهذا هیڅ اشکال نشته۔

د دواړو معنیٰ به داسے وی: یقیناً لیکل او عملنامه د فاجرانو په جیلخانه کښې ده۔ یا په لوی کتاب کښې دی۔ او ددے ترجمو تفصیل روستو راځي۔

اخفشؒ، مبردؒ، او زجاجؒ وغیره د ﴿ إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ﴾ معنیٰ دا بیان کړے چه دا فاجران به په همیشه قید او سخته تنګئ کښې وی، یعنی د قیامت په ورځ به دوئ په انتهائی ذلت او رسوائی کښې اخته کیږی۔

الْفُجَّارِ: پدے کښې اشاره ده چه د قیامت نه انکار او تطفیف کول فجور او بد عمل دے او د بد عملو خلقو انجام دا دے چه جیل ته به ځی۔

كِتَابَ الْفُجَّارِ: د فاجرانو د اعمالو کتاب چه هغه شیطانان، کافران، فاسقان دی دا په سجین کښې دے۔ او په حدیث د مسند احمد کښې دی چه د کافر روح په سجین کښې لیکلے کیږی۔

وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ: زجاجؒ ددے معنیٰ کوی: چه تا ته او ستا قوم ته په دنیا کښې د وحی د نازلیدو نه مخکښې دا خبره نۀ وه معلومه چه سجین څه شے دے بلکه تا په وحی سره وپیژندله۔ او دا جمله د هیبت دپاره ذکر کوی۔ چه هغه ډیر سخت ځای دے، تا ته څه پته ده۔

سِجِّينٌ: د سجن نه دے، نون په کښې اصلی دے، او دا د مبالغے صیغه ده، یعنی هغه ځای چه ډیر تنګ دے، او د ټول عالَم نه خکته دے، او دے ته اسفل السافلین هم وائی۔ او ددے په باره کښې ډیر حدیثونه نقل دی۔

كِتَابٌ مَّرْقُومٌ: ابن عطیہؒ وائی: کوم علماء چه سجین د ځای نوم ګنړی نو هغوی وائی کتاب مرفوع دے خبر د اِنَّ دے۔

اَیْ اِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ كِتَابٌ مَرْقُوْمٌ فِیْ سِجِّیْن۔

(یعنی رجسټر (علمنامه) د فاجرانو یو رجسټر دے چه په سجّین کښې دے) (او واحدیؒ دا قول د اکثرو مفسرینو نه نقل کړیدے)۔

یا دلته مضاف پټ دے۔ اَیْ مَحَلُّ كِتَابٍ مَرْقُوْم۔ یعنی سجین ځای د هغه علمنامے دے چه لیکلے شویده۔

او څوك چه سجین د کتاب نه عبارت ګنړی، نو بیا به کتاب خبر د مبتداء محذوف وی، یعنی هُوَ كِتَابٌ۔ (نو کتاب به مصدر وی یعنی لیکل د فاجرانو په سجین کتاب کښې شویدی چه دا کتاب داسے کتاب دے چه لیکلے شویدے۔

او د جِمُیَر په لغت کښې مَرقوم په معنیٰ د مَخُتُوم سره راځی۔ یعنی دا کتاب تاپه شویدے، چه زیادت او کمے پکښې نۀ کیږی۔

نو که سجین د کتاب نوم شی نو بیا به نون پکښې بدل وی د لام نه، او په اصل کښې سجیل دے چه مشتق دے د سِجِلّ نه په معنیٰ د رجسټر سره۔ (فتح البیان)

اول قول غوره او ظاهر دے۔

وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ: په دے ورځ به د الله تعالیٰ، د هغهٔ د آیتونو او د قیامت د ورځے تکذیب کونکو دپاره هلاکت او بربادی وی، یا دوئ له به د جهنم په وَیل نومے کنده کښ دردناك عذاب ورکړے کیږی۔

او دا دلیل دے چه کوم خلق په ناپ تول کښ کمے کوی نو دهغوی په حقیقی معنو کښ په آخرت باندے یقین نشته، او د الله تعالیٰ او د رسول خبرے ورته دروغجنے ښکاره کیږی۔

الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ الدِّينِ: یعنی د قیامت ورځ هغه څوك دروغژنه گنړی چه هغه د الله تعالیٰ د حدودو نه تجاوز کونکے او قِسما قِسم جرمونه او گناهونه کونکے وی، او د هغهٔ یو صفت دا هم وی چه کله ددهٔ مخامخ د قرآن کریم تلاوت کیږی نو انکار کوی او داسے وائی چه دا خو د تیرو شوو خلقو قیصے دی، دا اِلٰهی وحی نهٔ ده۔

الدِّينِ: لفظ کښ هم دعوت دے چه ستاسو په سر باندے د جزاء او سزا ورځ راروانه ده۔ دا یقین وکړه۔

مُعۡتَدٍ اَثِيمٍ: ۱– یعنی په افعالو کښ تجاوز کوی چه د حلال او حرام فرق نهٔ کوی۔

اثیم دے په اقوالو کښ چه دروغ وائی، او حق پرستو ته رد بد او کنځل کوی۔

۲– شربینیؒ وئیلی دی: معتدی دے چه تجاوز کوی د نظر او فکر کولو نه، غلو کونکے دے په تقلید سره تردے پورے چه د الله تعالیٰ علم او قدرت د بعث بعد الموت نه قاصر گنړی، او اثیم: یعنی مُنهمِك دے په شهواتو کښ تردے چه مشغول دے د یقین کولو نه په قیامت باندے۔

اَسَاطِيرُ الۡاَوَّلِينَ: پدے کښ اشاره ده ددے انسان لوی جهالت ته چه دا ډیر لوی جاهل دے چه د فصیح او بلیغ کلام او د عامو قصو فرق نشی کولے۔

اَسَاطِيرُ: هغه قصے دی چه د ځان نه جوړے کړے شوی وی او د مخکنو خلقو نه رانقل شوی وی۔

كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا
هیچرې داسې نهٔ ده پکار بلکه زنګ راغلې دې په زړونو د دوی په هغه عملونو
كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٤﴾ كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ
چه دوی به کول. هیچرې داسې نهٔ ده، یقیناً دوی به د رب خپل نه په دغه ورځ
لَّمَحْجُوْبُوْنَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ﴿١٦﴾
په پرده کښې کړې شي. بیا یقیناً دوی خامخا داخلیدونکي دي جهنم ته.
ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٧﴾
بیا به وئیلې شي دا هغه شے دے چه تاسو به ددے تکذیب کولو.

تفسیر : [كَلَّا] دا ردع ده د (قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ) نه. یعني پدې لفظ سره دا باطل ګمان رد کړې شویدې چه قرآن کریم د تیرو شوو قومونو قیصې او واقعات دي، دا خو د الله تعالیٰ په حقه او واضح کتاب دے چه په دے باندې ایمان راوړل او په دے باندې عمل کول د روحاني مرضونو دپاره شِفاء ده.

بَلْ رَانَ: یعني دا قرآن د پخوانو قصې نهٔ دي بلکه دوی کښې فساد دے، چه کفر او ګناهونو د دویٔ په زړونو باندې پرده اچولې ده چه ددې په سبب دویٔ د حق د معرفت نه محروم شوي دي، او د الله تعالیٰ د لوی کتاب په باره کښې داسې غلطه خبره په خُلو باندې کوي.

رَانَ فعل دے او مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ئې فاعل دے. یعني زنګ راوستې دے په زړونو د دویٔ باندې هغه ګناهونو چه دوی ئې کوي.

ابوعبیدهٔ وائي : رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ : اَيْ غَلَبَ عَلَيْهَا رَيْنًا وَرُيُوْنًا وَكُلُّ مَا غَلَبَكَ وَعَلَاكَ فَقَدْ رَانَ بِكَ وَرَانَ عَلَيْكَ. یعني ران په معنیٰ د غلبې کولو سره دے. هر شے چه په تا باندې غالبه او پورته شي نو دے ته ران وائي. (الصحاح)

طبريٌ او فراءٌ وائي : اَيْ اَحَاطَ بِهِمْ. یعني ران دا دے چه د دوی نه ګناهونه دومره ډیر شویدي چه د دوی زړونه ئې راګیر کړیدي.

ابو معاذ النحویؒ وائی : رین دا دے چه زړه د ګناهونو په وجه تور شی، او طبع دا ده چه په زړهٔ باندے مهر ووهل شی، او دا د رین نه سخت دے، او بیا دے ته تاله لګیدل د مهر نه هم ډیر سخت دی۔

او رسول الله ﷺ ددے تفسیر داسے کړیدے : [إِذَا أَذْنَبَ الْعَبْدُ نُكِتَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ، فَإِذَا هُوَ نَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ وَتَابَ صُقِلَ قَلْبُهُ وَإِنْ عَادَ زِيدَ فِيهَا حَتّٰى تَعْلُوَ قَلْبَهُ وَهُوَ الرَّانُ الَّذِيْ ذَكَرَ اللّٰهُ : ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾] (ابن ماجه : ٤٢٤٤، صحیح)

کله چه یو بنده ګناه وکړی نو د هغهٔ په زړهٔ باندے تور داغ ولګی، که هغه بند شی او توبه او استغفار وکړی، نو زړهٔ ئے پاك شی، او که نور ګناهونه کوی، نو په هغے کښ زیاتوالے راځی تردے چه هغه ددهٔ په زړه باندے غلبه وکړی، او دا هغه ران (رین) دے چه الله تعالیٰ ذکر کړیدے پدے آیت کښ۔

كَلَّا إِنَّهُمْ : دا ردع ده د مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ نه۔ یعنی ګناهونه نهٔ دی پکار ځکه چه د دوئ د کفر او ګناهونو یوه بله سزا به دوئ ته دا ملاویږی چه دوئ به د قیامت په ورځ د خپل رب د دیدار نه محرومه کړے شی۔

د سورة القیامه په (۲۲/۲۳) آیتونو کښ الله تعالیٰ فرمایلی دی :

﴿وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾

(په دے ورځ به ډیر مخونه تروتازه او رونق والا وی، خپل رب ته به کتونکی وی)۔

لَمَحْجُوْبُوْنَ: محجوب هغه چا ته وائی چه هغهٔ ته پرده وهلے شوی وی۔ نو معلومه شوه چه د قیامت په ورځ به تول مؤمنان خپل رب لره وینی، او دا کافران مجرمان به ددے لوی نعمت نه محروم وی۔

نو دلته دوه فائدے دی :

(۱) [حَجَبُوْا قُلُوْبَهُمْ عَنِ اللّٰهِ فِي الدُّنْيَا فَحُجِبَتْ وُجُوْهُهُمْ عَنِ اللّٰهِ فِي الْقِيَامَةِ]

دوی په دنیا کښ خپل زړونه د الله تعالیٰ نه په پرده کښ کړی وو نو الله تعالیٰ د دوی مخونه په قیامت کښ د خپل ځان نه په پرده کښ کړل۔ چه تاسو ما ته نشئ کتلے۔

حسین بن الفضلؒ وائی :

كَمَا حَجَبَهُمْ فِي الدُّنْيَا عَنْ تَوْحِيدِهٖ حَجَبَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَنْ رُؤْيَتِهٖ۔

لکه په دنیا کښ ئے د خپل توحید نه په پرده کښ کړی وو، نو په آخرت کښ ئے د خپل

ليدو نه په پرده کښې کړل.

(۲) فـائده : امام مالك او شافعيّ دواړو نه نقل دي (په معتزلو به ئې رد کولو چه هغوی به په آخرت کښې د الله ليدل او ديدار نهٔ منلو) نو دوی به ورته وئيل چه که په آخرت کښې د الله ليدل حق نهٔ وے نو (لَمۡ يُعَيِّرِ اللّٰهُ الۡكُفَّارَ بِالۡحِجَابِ) الله به کفارو ته د خپل ديدار مخے ته په پرده اچولو باندے پيغور نهٔ ورکولے. نو چه مؤمن هم په پرده کښې شي نو بيا خو پدے صفت کښې کافر او مؤمن يو شے شو. بيا ددے تخصيص هيڅ فائده نشته.

دا قول د امام شافعيّ طبرانيّ راوړيدے او حافظ ابن کثيرؒ او حافظ ابن القيمؒ په بدائع التفسير کښې ذکر کړيدے. او دا استدلال زجاجؒ هم کړيدے.

❁ دلته بعضِ خلقو ددے تفسير دا بيان کړے چه ددے نه مقصد د دوئ د ذلت او رسوائی مثال بيانول دي، د هغهٔ سړي غونته چه هغه د سپکاوی په توګه د بادشاه د دربار نه بند کړے شي.

❁ قتادهٔ او ابن ابی مُلَيکهٔ دا تفسير بيان کړے چه الله تعالیٰ به دوئ د ګناهونو نه پاك نهٔ کړي، او په دوئ به د رحمت نظر نهٔ اچوي.

❁ د مجاهدؒ وينا ده چه دا خلق به د الله تعالیٰ د اعزاز او اکرام نه بيخی محرومه کړے شي. ليکن اول قول غوره دے.

ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُوا : دے مجرمانو لـه بـه د دوئ د کفر او ګناهونو دريمه سزا دا ورکړے کيږي چه دوئ بـه جهنـم تـه ګـذار کړے شي چه پـه هـغـے کښې به دوئ هميشه دپاره سوزي.

حافظ ابن قيم رحمه الله په (بدائع الفوائد) کښې ددے آيت په ضمن کښې ليکلي دي چه الله تعالیٰ به دوئ له دوه قِسمه عذاب ورکوی، عذابِ حجاب او عذابِ نار.

عـذابِ حـجـاب (يـعـنـي د الله تـعالیٰ نهٔ ليدو) سره به د دوئ زړونو او د دوئ روحونو ته انتهائی سخت تکليف رسيږي، او عذابِ نار سره به د دوئ جسمونه سوزي.

او خپلو محبوبو بندګانو له به الله تعالیٰ په دے ورځ خپل قربت او خپل ديدار ورکوی، او د جنت قيمتي نعمتونه، حُور عين او نورے شماره نعمتونه به ورکوی.

لـکـه څنګه چه د سورۂ الدهر په (۱۱) آيت کښې راغلي دي : ﴿وَلَقّٰهُمۡ نَضۡرَةً وَّسُرُوۡرًا﴾ (الله تعالیٰ به دوئ د تازګئ او خوشحالئ سره مخامخ کړي).

هَذَا الَّذِیْ: یعني تاسو تکذیب ددې عذاب کولو اُوس درته یقین راغې.
یا مضاف پټ دې اَیْ هٰذَا جَزَاءُ الَّذِیْ کُنْتُمْ آه. او دا د انسان دپاره انتهائی درجه تکلیف رسونکې خبره ده چه کله دې په یو مصیبت کښې اخته شي، او دۀ ته ځوك ووائی چه تۀ چه څه شے برداشت کوې دا ستا د کړو میوه ده.

کَلَّا إِنَّ کِتَابَ الْأَبْرَارِ لَفِیْ عِلِّیِّیْنَ ﴿۱۸﴾
هیچرې تکذیب نۀ دې پکار یقیناً عملنامه د نیکانو خامخا په علیین کښې ده.
وَمَا أَدْرَاكَ مَا عِلِّیُّوْنَ ﴿۱۹﴾ کِتَابٌ مَّرْقُوْمٌ ﴿۲۰﴾ یَشْهَدُهُ
او څه پوهه کړې ئې تۀ چه څه دې علیون. کتاب دې لیکلے شوے. حاضرېږی هغې
الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِیْ نَعِیْمٍ ﴿۲۲﴾ عَلَی الْأَرَائِكِ
ته نزدې کړې شوی (الله ته). یقیناً نیکان به په نعمتونو کښې وی. په پالنګونو به
یَنْظُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ تَعْرِفُ فِیْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِیْمِ ﴿۲۴﴾
وی، ګوری به. پیژنے به تۀ په مخونو د دوی کښې تازګی د نعمتونو.
یُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِیْقٍ مَّخْتُوْمٍ ﴿۲۵﴾ خِتَامُهٗ
څکولے به شي په دوی باندې د خالصو شرابو مهر وهلے شوو نه. مهر د هغې به
مِسْكٌ وَفِیْ ذٰلِكَ فَلْیَتَنَافَسِ
مشك وی. (په آخر ددې کښې به بوئی د مشکو وی). او پدې کښې دې مینه اُوکړی
الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِیْمٍ ﴿۲۷﴾ عَیْنًا
مینه کونکی. او ګډون د هغې به د تسنیم چینے نه وی. چینه ده
یَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿۲۸﴾
چه څکول به کوی د هغې نه نزدې بندګان (الله ته).

تفسیر :کَلَّا: دا ردع ده د تکذیب نه. یعنی تکذیب څکه مۀ کوه چه کومو خلقو

کښې کامله نیکي راغله او د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ تصدیق ئې وکړو نو هغوی خو په مزو باندې ورغلل۔

نو مخکښې د فاجرانو او د هغوی د عملنامو حالات او ځایونه وخودلې شول نو دلته د نیك عمله او د الله تعالیٰ نه د یریدونکو خلقو په باره کښې وئیلې کیږي چه بیشکه د دوئ عملنامې به په (علیین) کښې وي۔

او د علیین تفسیر دا اوشو چه دا یو لیکلې کتاب دے چه په هغې کښې د خیر والو، تقویٰ والو او نیکانو خلقو علمنامې لیکلې کیږي۔

واحدیؒ د مفسرینو وینا نقل کړې ده چه دا ځائې په اُووم آسمان کښې د عرش لاندې دے۔

نو دلته هم د مخکښې په شان قانون دے چه د نیکانو خلقو نومونه په علیین کښې (چه دا په جنت کښې اُوچت ځای دے) لیکلې کیږي، او بیا د دوی عملونه هم هلته ځي، او بیا ئې پس د مرگ نه روحونه هم ورځي۔ لکه حدیث کښې دي چه څوك فرض مونځ وکړي او د هغې نه روستو تر بل مانځه پورې ې ځایه خبرې ونکړي نو دا کتاب دے په علیین کښې۔ یعنی دا الله په علیین کښې لیکي۔

عِلِّيُّونَ : دا مفرد صیغه ده په وزن د جمع ده۔ عِلِّيِّينَ او عِلِّيُّونَ دواړه استعمالیږي۔ او چونکه وزن ئې د جمع دے، نو ځکه ورته اعراب د جمع ورکړې کیږي۔ لکه د عشرين او عشرون په شان۔ دا د علی نه دے، پورته والی ته وائي۔ او چونکه دا مقام په ډیره علو باندې مشتمل دے نو ځکه ورله لفظ د جمع کیخودلې شو۔

ضحاكؒ، مجاهدؒ او قتادهؒ وائي چه (علیین) په اووم آسمان باندې هغه ځائې دے چرته چه د مومنانو روحونه ساتلې کیږي۔ د قتادهؒ دویم قول دادے چه (علیین) د اووم آسمان دپاسه د اِلٰهي عرش د ښيئ خپې نزدې ځائې دے۔

بعض مفسرینو لیکلي دي چه ددې نه مراد (جنت) دے۔

كِتَابٌ مَّرْقُومٌ : یعنی دا حقیقي لیکل شویدي، هسې خیال نهٔ دے۔

يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ : (۱) یعنی ددې پاکیزه کتاب لیدل کتل صرف مقرب (او الله ته نزدې) ملائك کوي۔ او د هغې خوا ته شیطانان نشي ورتللې، چه د چا نوم به ترې وران کړي، یا د یو کافر نوم به پکښې ولیکي۔ بلکه ملائك ورته حاضریږي او ددې ځای او

کتاب حفاظت کوی۔ نو دا د شُهود نه دے، حاضریدو ته وائی۔
او دا مطلب هم دے چه مقربین ملائك د انسانانو عملونه دغه ځای ته پورته کوی، ځکه چه ډیر اعلیٰ مقام دے نو د عمل د ډیر قدر او عزت د وجه نه مقرب ملائك ئے هغه ځای ته وړی۔
(۲) یا معنیٰ داده چه په دے عظیم کتاب کښ صرف د الله تعالیٰ د مقرّب ملائکو، انبیاؤ، صدیقینو او د شهیدانو د روحونو تذکرے دی، یعنی د دوئ مقام د دوئ د رب په نیز ډیر زیات اوچت دے۔
(۳) یا دا د شهادت نه دے، (اَیْ یَشْهَدُوْنَ بِمَا فِیْهِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ) یعنی د قیامت په ورځ به پدے کښ د موجوده عملونو گواهی ملائك مقربین ورکوی۔
إِنَّ الْأَبْرَارَ: مخکښ د عملنامو تذکره وه نو اُوس د دغه نیکانو د حالت تذکره کوی۔
الْأَرَائِكِ: جمع د اَرِیْکَةٌ ده، د ناوے کټ او پالنگ چه ډیر ښائسته او آرام ده وی۔
یَنظُرُونَ: ۱- اَیْ اِلٰی وَجْهِ اللّٰهِ۔ د الله مخ ته به گوری۔
۲- وَاِلٰی نِعَمِ اللّٰهِ۔ د الله نعمتونو ته به گوری۔
۳- یا یو بل ته به گوری۔
٤- یا د دشمنانو حالاتو ته به گوری۔ (مقاتلؒ)
٥- یا نظر په معنیٰ د فکر سره دے، یعنی د دوی رب چه دوی ته کوم نعمتونه ورکوی او کوم عزت چه ورته وربخښی نو ددے په باره کښ به سوچ کوی او په زړه کښ به دننه انتهائی خوشحاله وی۔ نو دے کښ ډیر عموم دے۔ دے ټولو ته شامل دے۔
حافظ ابن القیمؒ لیکی : هرکله ئے چه د فجارو په احوالو کښ محجوبون ذکر کړو نو د ابرارو په احوالو کښ د تقابل دپاره ئے نظر الی الله ذکر کړو۔
تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ: یعنی ددے قیمتی نعمتونو د وجے نه چه دا به دومره زیات وی چه هیڅ مرض او غم او فکر به ورسره نهٔ وی، نو د هغے د خوشحالئ نښے نښانے او تازگی به د دوئ په مخونو باندے راښکاره کیږی۔
یُسْقَوْنَ مِن رَّحِیقٍ مَّخْتُومٍ : اُوس د دوئ دپاره د څکلو سامان ذکر کوی۔
رَّحِیقٍ: هغه شراب دی چه د خیرو، د نشے او د گډون د گیچ نه بیخی صفا وی۔ بلکه خالص شراب وی۔ نو دا د ټولو نه اعلیٰ او مزیدار شراب دی۔

مَّخۡتُومٍ: یعنی مهر به پرې وهلې شوې وي. یعني دغه خالص شراب به په داسې لوښو کښې وي چه هغه به سر بمُهر وي، یعنـي د مخکښې نه به دې له هیچا ګوتې نهٔ وي وروړې. او صرف هم دوي به ترې دغه مهر لرې کوي او څکي به ئې.

خِتَامُهُ مِسۡكٌ: او دا مُهر به د مشکو په ذریعه لګیدلې وي، د هغې خاورې پشان چه د هغې په ذریعه شیشې او لوښې سر بمُهر کیږي، یعني دغه مشك به دومره تازه او لامدهٔ وي چه هغه به د مهر اثر قبلوي.

(۲) یا ختـام پـه معنیٰ د آخر سره دې، یعني جنتي چه کله ددې پاکیزه شرابو نه خوند واخلي، نو په آخره کښې به د مشکو انتهائي عُمده خوشبوئې محسوس کړي. ځکه چه په دنیا کښې ډیر کرتـه پـه یو مشروب کښې اول کښې خو خوند وي لیکن آخره کښې په لوښي کښې ګند او خیرې او خځنړې وینې نو زړه ئې خراب شي، یا د مشروب نه روستو ئې زړه ډك شي او بد بوئي محسوس کړي. نو د جنت مشروبات داسې نهٔ دي بلکه په آخره کښې ئې نور خوند زیاتیږي.

وَفِيۡ ذَٰلِكَ: یعنـي په دغه ذکر شوې نعمتونو د جنت او آرائك او دیدن د الله تعالیٰ او مشروباتو کښې.

فَلۡيَتَنَافَسِ الۡمُتَنَافِسُونَ: تنافس د نفس نه دې، هغه شي ته وئیلې شي چه نفس د هغې د حاصلولو دپاره حرص کوي، نو تنافس دا دې چه هریو حرص کوي چه دا زما دپاره خاص شي د وجه د ډیر رغبت او مینې نه.

الۡمُتَنَافِسُونَ: یعنـي کـه څوك د یو شي سره تنافس او مینه کوي نو د مینې شې دغه مذکوره څیزونـه دي. یا متنافسون تعبیر ئې پدې وجه وکړو چه اشاره ده چه د انسانانو په طبیعت کښې خو تنافس شته لیکن دا تنافس دِې جنت طرفته متوجه کړي.

او دا تنافس به پدې طریقه کیږي چه بنده کښې اخلاص، اتباع د سنت په تمامو اعمالو او تمام ژوند کښې راشي، او همیشه د الله تعالیٰ په طاعت او د هغهٔ په بندګئ کښې مصروف شي، یو تن چه یو عمل کوي نو بل دِې د هغې نه د وړاندې والي کوشش وکړي. نو اشاره ده چه دنیا سره داسې مینه مهٔ کوئ چه د هغې په وجه تول ناپ کښې کمي وکړئ بلکه الله تعالیٰ تاسو لره داسې ښکلې نعمتونه د ایمان او د عمل صالح په وجه تیار کړیدي چه د هغې په حاصلولو کښې د یو بل نه سیالي پکار ده.

علماء کرام وائی چه دا آیت دلیل دے چه د جنت سره تنافس (مینه کول) واجب دی۔
او پدے کښې رد دے په هغه صوفیاؤ باندے چه هغوی وائی چه عمل به د الله تعالیٰ د رضا او د هغهٔ د مخ دپاره کولے شی، او د جنت په طمع او لالچ باندے عمل کول غلط گنړی۔ دا ځکه غلطه ده چه جنت د الله تعالیٰ د نعمتونو ځای دے، او انسان که هغه نهٔ طلب کوی نو دا د الله تعالیٰ نه استغناء ښکاره کوی چه اے الله! تا خو دا نعمتونه تیار کړیدی خو زما ورته هیڅ ضرورت نشته۔ سره ددے نه چه دغه نعمتونو ته محتاج هم دے۔ بله دا چه په جنت کښې د ټولو نعمتونو نه لوی نعمت د الله تعالیٰ دیدار شته نو د جنت سره مینه لرل گویا که د الله تعالیٰ سره مینه لرل دی۔
وَمِزَاجُهُ مِن تَسۡنِيمٍ : شرابو کښې ضرور د کومو اُوبو گډون کیږی، نو الله فرمائی چه دے شرابو کښې به د تسنیم چینے د اُوبو گډون وی۔
تَسۡنِيمٍ: په لغت کښې ارتفاع (پورته والی) ته وائی، لکه سَنَامُ الۡبَعِيۡر : د اُوښ قوب ته وائی چه هغه هم اُوچت وی۔ او ددے نه تسنیم القبور هم اخستے شویدے۔
یعنی قبرونه مهی پشت جوړ ول۔
تسنیم : په جنت کښې یوه چینه ده چه د بره نه خکته رابهیږی او دا د جنت د چینو نه ډیره مزیدار او اشرفه چینه ده۔
يَشۡرَبُ بِهَا الۡمُقَرَّبُونَ : باء په معنیٰ د مِنۡ دے۔ لیکن پدے کښې تضمین د معنیٰ د (یُرۡوٰی) دے، یعنی مړیږی به په هغے سره۔
الۡمُقَرَّبُونَ : ددے مطلب دا دے چه مقرب بندگان به خالص د تسنیم نه اُوبه څکی او د نورو ابرارو دپاره به د هغے نه گډون وی۔
او دارنگه د ابرارو دپاره به د کافور نه گډون وی لکه په سورة الدهر (٥) آیت کښې ذکر شو، او دارنگه گډون د زنجبیل به وی۔ لکه سورة الدهر (١٧) آیت کښې تیر شو۔

إِنَّ الَّذِينَ أَجۡرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضۡحَكُونَ ﴿٢٩﴾
یقیناً هغه کسان چه جرمونه ئے کړیدی وو دوی چه د ایمان والو پورے به ئے خندا کوله
وَإِذَا مَرُّوا بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾
او کله چه به ورتیریدل په هغوی باندے نو سترگے به ئے وهلے۔ (اشارے به ئے کولے)۔

وَإِذَا انْقَلَبُوْا إِلَىٰ أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿٣١﴾
او کله چه به واپس شول خپل کور والو ته واپس کیدل به خوشحالی کونکی۔
وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوْا إِنَّ هٰؤُلَاءِ لَضَالُّوْنَ ﴿٣٢﴾
او کله چه به دوی اُولیدل ایمان والو لره وئیل به ئے یقیناً دا کسان خامخا گمراهان
وَمَا أُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ حَافِظِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ
دی۔ او نهٔ دی رالیږلی شوی دوی په هغوی باندے څوکیٔ کونکی۔ نو نن ورځ
الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ
هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے د کافرو پورے به خندا کوی۔ په پالنګونو به وی،
يَنْظُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾
ګوری به۔ آیا بدله ورکړے شوه کافرانو ته د هغه کارونو چه دوی کول۔

تفسیر: ربط

مخکښې الله تعالیٰ د کافرانو او مجرمانو او د نیکانو او پرهیزګارانو انجام او د هریو د جزاء او سزا بیان کړه، نو اُوس هغه کسان ذکر کوی چه د دنیا سره ئے دومره محبت پیدا شویدے چه د هغے په وجه په تکبر کښې راغلی دی، او د مؤمنانو پورے توقے کوی لکه دا رد اول په ابو جهل، ولید بن مغیره، عاص بن وائل او د دوئ پشان په نورو قریشی مجرمانو دے چه دوئ کښې دا ظلم او زیاتے وو،

نو الله تعالیٰ د دوی حال ذکر کوی چه د قیامت په ورځ به د دوئ په باره کښې وئیلے کیږی چه همدا هغه مجرمان دی چه په دنیا کښې به ئے هغه مومنانو پورے توقے کولے چه هغوئ په الله سبحانه باندے ایمان راوړے وی، محمد ﷺ ئے د هغهٔ رسول منلے وو، او د خپل پلار نیکهٔ د مشرکانه طور او طریقو نه توبه ګار شوی وو۔

د الله تعالیٰ دا نیکان بندګان به چه کله د مکے په سرکونو او کوڅو کښې د هغوئ خواته تیریدل نو په کبر او غرور کښې به راغلل، او دوئ پورے به ئے توقے کولے، او په خپل مینځ کښې به ئے د هغوئ په باره کښې یو بل طرفته په سترګو او په لاسونو اشاره کوله،

او کله به چه د خپلو مجلسونو نه پورته شو او خپل بال بچ طرفته به روان شو، نو بیا به ئے هم مومنانو پورے توقے کولے، د هغوئ عیبونه به ئے تالاش کول، او بنهٔ ریشخند او توقے به ئے ورپورے کولو. لکه دا اول د صحابه کرامؓ پورے کیدے، او بیا د هر داعی د حق پورے شوی او کیږی.

او پدے آیت کښ د دوئ څلور بد صفات ذکر شویدی چه دا اسباب د وَیل او د رَیْن د زړونو دی.

مِنَ الَّذِيْنَ آمَنُوا : دا جار مجرور ئے په يَضْحَكُوْنَ باندے رامخکښ کړو دپاره د قصر، او په قصر کښ اشاره ده د دوی ددے کار زیات قباحت او بد والی ته. چه دوی د خندا او د توقو دپاره بل څوک نهٔ موندل صرف ایمان والائے د خندا مرکز جوړ کړے وو. لوی مجرمان دی.

وَإِذَا مَرُّوا: یعنی کله چه به مؤمنان په مشرکانو ورتیریدل، یا برعکس.

يَتَغَامَزُوْنَ: تغامز د غَمْزٌ نه دے، ۱- په سترګو او وروځو باندے اشاره کول دی،

۲- یا معنیٰ ده : يُعَيِّرُوْنَهُمْ بِالْإِسْلَامِ وَيَعِيْبُوْنَهُمْ بِهٖ.

یعنی په اسلام سره به ئے پیغور ورکولو او پدے سره به ئے د دوئ بدی بیانوله.

وَإِذَا انْقَلَبُوا : يعنى دا کافران به چه کله خپلو کورونو یا تابعدارو ته واپس کیدل نو ډیر خوشحاله به وو.

أَهْلِهِمُ: ددے نه مراد د دوئ تابعداران او مُقلدين دی.

فَكِهِيْنَ: يعنى خوشحالی کونکی او لوی کونکی. یعنی په دغه مسخرو سره خپلو کشرانو ته نرتوب ذکر کوی چه مونږ مؤمنانو لره ذلیل کړل.

یا مطلب دا چه دوی به د مؤمنانو پورے په مسخرو او توقو باندے مجلس ختمولو، او کورونو ته به واپس کیدل او خوشحاله به وو چه ښه دے چه مونږ د پلار نیکه دین نهٔ دے پریخے.

یعنی د مؤمنانو پورے ئے خو توقے کولے لیکن د خپل عقیدے غم ورسره نهٔ وو.

او ددے نه معلومیږی چه په دنیا کښ سرور کول اصل کښ د کافرانو فعل دے، چه عمل ئے نشته او خوشحاله خوشحالئ سره بے غمه ژوند تیروی.

وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا : د قریشو مجرمانو به چه کله مسلمانانو ته کتلے، نو دوئ طرفته

به ئے اشاره کوله، او وئیل به ئے چه همدا هغه خلق دی چه دوئ د خپل پلار نیکهٔ دین پریښے، او د محمد دین ئے قبول کړے او د حقے لارے نه آوړیدلی۔

دا فکر ئے نهٔ کولو چه دے خلقو سره حق دے راغئ چه مونږه ئے هم قبول کړو۔

وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ: دا قول د الله تعالیٰ دے۔ یعنی حالانکه دا مجرمان په دے مومنانو باندے محافظین او نګهبان جوړیدو سره نهٔ وو رالیږلے شوی چه د هغوئ په اعمالو باندے نظر لری، او د هغوئ د هدایت او ګمراهئ ګواهی ورکوی۔ او په هغوی باندے فتوے لګوی۔

مطلب دا چه تاسو د خپل ځان غم وکړئ چه آیا تاسو د الله تعالیٰ په صحیح دین روان یئ، د هغهٔ غم مهٔ کوه چه هغه ګمراه دے او که هدایت والا۔

یو تن اهل حقو ته غلط وائی ځکه چه د کتاب او سنت تابعداری ئے کړیده، او د مخلوق خبره د الله او د رسول مطابق منی، او دے د خپل ځان غم نهٔ کوی چه په کومو کندو کښ روان دے۔ او څومره ګرو (حلقو) کښ ګیر دے۔

او دا د تکفیریانو طریقه هم ده چه د خپل ځان غم نهٔ کوی خو مسلمانانو ته کافران وائی۔

یا دا هم قول د کفارو دے لکه مفسر ابو السعودؒ وئیلی دی یعنی هغوئ به وئیلے چه د ایمان دعویٰ کونکی دا خلق یقیناً ګمراه شوی دی، او دوئ په مونږ باندے نګران او ساتونکی نهٔ دی مقرر کړے شوی چه مونږ دے د شرك نه منع کړی او خپل اسلام طرفته دے دعوت راکړی۔

فَالْيَوْمَ: الله تعالیٰ وفرمایل: په دنیا کښ مومنانو پورے د توقو کولو بدله به د قیامت په ورځ کافرانو او مجرمانو ته دا ملاویږی چه مومنان چه کله د دوئ ذلت او رسوائی ووینی نو خوشحاله به شی، او په پالنګونو به ئے تکیه لګولی وی، او د الله تعالیٰ ورکړی نعمتونو ته به ګوری،

او د جهنم هغه عذاب به هم وینی چه په هغے کښ به مجرمان خلق مبتلا وی، نو مؤمنان به ورپسے وخاندی، بیا به الله رب العزت مومنان مخاطب کړی، او ورته به ووائی : آیا اُوس تاسو اولیدل چه مونږ کافرانو له د دوئ د کفر او ظلم او د دوئ د نورو بدو اعمالو څنګه بدله ورکړے ده۔

يَنظُرُونَ: کتل بیل نعمت دے ځکه دا بار بار ذکر کوی۔

ابـو صالـحؒ ددې خـنـدا او مسـخرو بدله پدې طریقه ذکر کړیده چه اُور والو ته به ووئیلې شـی چـه رابهـر شئ او د جهنم دروازې به ورته کولاوې شي، نو کله چه دوی ووینی چه د جهنـم دروازې کـولاوې دی، نـو هـغـې طرفته به رامنډه کړی، د وتلو کوشش به کوی او مؤمنان به دوی ته د خپلو پالنګونو نه ګوری خو کله چه دوی د جهنم دروازو ته رانژدې شـی نـو نـاسـاپه به هغه د دوی مخې ته بندې شي نو دا هغه وخت دې چه ﴿ فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴾ چه ایمان والا به د کفارو پورې وخاندی۔ (فتح البیان)

هَلْ ثُوِّبَ : دا یا قـول د الله تـعـالیٰ دې۔ یا قـول د مؤمنانو دې چه دوی کښې به بعض بـعـضـو تـه ووائی چه آیا کافرانو ته بدله د هغوی د عملونو ورکړې شوه، نو دا استفهام تقریری دې یعنی آؤ ورکړې شوه۔

ثُوِّبَ: ثـواب مـطـلق بدلې او عقوبت ته هم وئیلې کیږی لکه چه د خیر اجر تـه هم وئیلې شي۔

مَـا كَـانُوا يَفْعَلُونَ : یـعـنـی دا سزا د دوی عـمـلـونـو ده چه دوی به د ایمان والو پورې مسخرې او خندنئ کولې۔

الله تـعـالیٰ د سورة المومنون په (۱۰۸/۱۰۹/۱۱۰/۱۱۱) آیتـونـو کښې همدا مضمون داسې بیان کړې دې :

﴿ قَالَ اخْسَئُوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنَ ۞ إِنَّهُ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِيْنَ ۞ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا حَتّٰى أَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ۞ إِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْا أَنَّهُمْ هُمُ الْفَائِزُوْنَ ﴾

(الله بـه اووائی : کورې شئ او ما سره خبرې مهٔ کوئ زما په بندګانو کښې یو ډلې دعاء کـولـه چـه اې زمونږ ربه ! مونږ ایمان راوړې، نو تهٔ مونږ اوبخښه، او په مونږ رحم اوکړه، او تـهٔ د ټولو نه زیات رحم کونکې ئې، نو تاسو هغوئ پورې توقې کولې، تردې چه هغوئ سره ستاسو دې حرکت ستاسو د زړونو نه زما یاد اوخکلو، او تاسو به هغوئ پورې توقې کـولې، نن ما هغوئ له د هغوئ د صبر بهترینه بدله دا ورکړه چه همدا خلق به کامیاب او با مراد وی)۔ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ۔ وبالله التوفیق۔

ختم شو تفسیر د سورة المطففین په فضل د خالق وهاب سره۔

او پدې سره تمام شو دولسم جلد بمن الله وکرمه سبحانه وتعالیٰ۔

فهرست تفسير حكمة القرآن جلد (۱۲)

وقت الاخراج: ۱۴۳۸ رجب ۱۹، الموافق: ۲۰۱۷/۴/۱۴ صباح یوم الجمعة